کابل پوهنتون

ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

# د پښتو منظوم ادبي سبک څېړنه

(دوکتورا ډیزرټېشن)

څېړونکی: پوهاند محمدابراهیم همکار

لارښود استادان: پوهاند دکتور محمد رفیق رفیق او پوهاند دکتور یار محمد یزال

کال : ۱۴۰۱ ل

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پیل‌خبرې

ما د خپل ولس او د پښتو ادب ځانګوالو او مینه والو لپاره د پښتو ادب په منظومه برخه کې د سبک ستونزه حس کوله نو ځکه مې ( د پښتو منظوم ادبي سبک څېړنه) تر سرلیک لاندې څېړنیزه موضوع د پښتو ژبې او ادب ځانګې د دوکتورا کمېټې، د کابل پوهنتون د دوکتورا برنامې او درنو لارښود استادانو په لارښوونه و ټاکله چې دا دی نن مې د الله(جل جلاله) په مرسته بشپړه کړه.

د نوموړې څېړنې ارزښت دا دی چې د پښتو ادب په منظومه برخه کې د سبک په تړاو د هرې دورې د شاعرانو او دورو تر منځ په پراخه کچه د شواهدو په راوړلو سره څېړنه نه وه تر سره شوې چې په دغې څېړنې سره دغه تشه ډکه شوه.

په دغه اثر کې به د سبک او ادبي سبک په اړه څرګندونې، د سبک د ټاکلو اړوند لارښوونې او بیا د پښتو منظوم ادبي سبک توپیرونه په بېلابېلو دورو او ورسره د ادبي شخصیتونو د آثارو تر منځ و څېړل او په منطقي بڼه به مې یې تر منځ توپیرونه څرګند کړل. د موضوع اړوند چې زما قدمونه د خپلې پوهې په امسا په سم لوري روان کړل د زړه له تله ور څخه مننه کوم چې په دغه لړۍ کې لومړی د خپلو دواړو لارښوونکو پوهاند دکتور محمد رفیق رفیق او پوهاند دکتور یارمحمد یزال څخه د زړه له تله مننډوی یم چې زما د اثر ښه لارښوونه یې په ورین تندي او هیله بښوونکو مشورو وکړه، ورپسې د دکتورا د استادانو هر یو پوهاند دکتور مجاور احمد زیار، پوهاند دکتور خلیل الله اورمړ، څېړنپوه زلمي هیوادمل، پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون او پوهاند دکتور بریالي باجوړي او سبستیان زمري خورا ډېره مننه چې زموږ د دکتورا تدریس ته یې اوږه ورکړه او دادی نن موږ د دوی د زحمتونو ثمره یوو. همدا ډول د کابل پوهنتون له مشرتابه، د دکتورا د عمومي بورد له مشرتابه، د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي له ریس، د دکتورا د بورد له مشرتابه او غړو او په ځانګړې توګه د پښتو ځانګې له مشر نړۍ مننه چې زموږ د دکتورا په تړاو یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې او زموږ هیلو ته یې د عمل جامه ور واغوسته. د علومو اکاډمۍ له مشرتابه او پښتو ځانګې له غړو مننه چې په علومو اکاډمۍ کې یې تل زموږ علمي پالنه کړې ده. د ننګرهار پوهنتون له مشرتابه او د ښوونې او روزنې پوهنځي پښتو ژبې او ادب ځانګې له درنو استادانو او مشر څخه زیاته مننه چې د ځانګې دروند تدریسي پېټی یې پر اوږو واخیست او ما ته یې د دکتورا د بشپړولو موافقه راکړه، د دې تر څنګ له پوهنمل سید اصغر هاشمي څخه نړۍ مننه چې د دکتورا د بشپړېدا په بهیر کې زما د لارې ملګرى و نور نو دیزرتېشن ستاسې په لاس کې دی، انساني هڅه کمزورې وي د کمیو پر مهال مې وبښئ او که څه نوې خبره مو پکې ولیده ما له خپلو دعاګانو مه هېروئ.

په خورا ډېر درنښت

محمد ابراهیم همکار

# لنډیز

ما د پښتو منظوم ادبي سبک اړوند ستونزه له ډېرې پخوا را هیسې درک کړې وه، په دغه اثر کې به د سبک او ادبي سبک په اړه څرګندونې، د سبک د ټاکلو اړوند لاربښوونې او بیا د پښتو منظوم ادبي سبک توپیرونه په بېلابېلو دورو او ورسره د ادبي شخصیتونو د آثارو تر منځ څېړل شوي دي او په منطقي بڼه یې تر منځ توپیرونه څرګند شوي دي.

په پښتو منظوم ادب کې د سبک تر سرلیک لاندې ځینې آثار لیکل شوي وو خو څنګه چې د نن ورځې غوښتنه ده او یا د سیمې ژبو ته پام کوو، هغه هومره په ښه ډول نه ده څېړل شوې چې د نن ورځې ځواب ویونکې وي. د سبک تر سرلیک لاندې ګڼ آثار چې زموږ لاس کې دي تر یوې کمې کچې یې د سبک په اړه پېژندنه په خپله لمنه کې لري خو په عملي بڼه د پښتو ادب په منظومه برخه کې کوم اثر نه تر سترګو کېږي نو ما د دغې ستونزې د حل لپاره لومړی د سبک پېژندنې، سبک ټاکلو په اړه لاربښوونې او بیا د عملي سبک د پېژندلو لارې چارې بیان کړې او ورسره مې په پښتو منظوم ادب کې په تطبیقي ډول عملي څېړنه تر سره کړه. د موضوع ارزښت او موخې د پښتو ادب ځانګوالو او مینه والو ته د ادبي سبک د ټاکلو په اړه لاربښوونې کول، په عملي بڼه د پښتو منظوم ادب د ودې پړاوونه توپیرول، د هرې دورې د سبک ځانګړنې په عملي ډول څرګندول، د ادبي سبک او ادبي ښوونځي تر منځ توپیر کول او په پښتو ادب کې د ادبي سبک او ادبي ښوونځي د ربړې حلول وو چې دغه پکې تر سره شوی دی. زما د دغې څېړنې ډول کتابتوني او میتود یې استدلالي، توصیفي، پرتلیز او تشریحي دی.

زما د دغې څېړنې له مخې د پښتو ادب په لومړۍ دوره (۱۳۹ ــ ۱۰۰۰هـ) کې شخصي سبک نشته لامل یې دا دی چې په دغې دورې کې د شاعرانو لاسته راغلې منظومې بېلګې له دوو یا درو څخه تېرې نه کوي او ډېری شاعران پکې د یوې بېلګې څښتنان دي چې موږ یې په یو ه نظم کې د سبک څرګندول ناشوني ګڼو خو ما بیا هم د دغو شاعرانو د بېلګو ځانګړنې را برسېره کړې چې د سبک حکم پرې نشو کولای. د دغې دورې پر سبکي توکو مې رڼا اچولې ده او په ټوله کې یې دوره یې سبک ګڼلای شو.

د پښتو ادب په دویمه دوره (۱۰۰۱ــ ۱۴۰۰هـ) کې بیا موږ له څلورو بېلابېلو سبکونو (د روښاني سبک، د خوشحال خان سبک، د عبدالرحمن بابا سبک، او عبدالحمید مومند سبک چې هندي سبک هم ور ته وایي) سره مخامخ کېږو چې د پلیونو د را پیدا کېدو او پر دغو سبکونو د تلو له مخې ورته ادبي ښوونځي ویلای شو.

د روښاني ادبي ښوونځي ټوله پله پر تصوف، عرفان، دیني تبلیغ او اخلاقي موضوعګانو ولاړه ده او هر شاعر یې کوښښ کړی چې همدغه خوا په خپل شعر کې و پالي په تصوف پورې اړوند مقامونه، ګړنې او ورسره هغه مقامونه چې بایزید روښان د خپلې فلسفې لپاره ټاکلي دي په خپل شعر کې راوړي دي.

په روښاني ادبي ښوونځي پسې د خوشحال خان خټک بابا ادبي ښوونځي پیلېږي. په نوموړي ادبي ښوونځي کې پښتوادب یو نوي پرمختیایي پړاو ته داخل شو چې پکې د نظم د څېلونو له مخې ټول ختیزوال نظمي څېلونونه و پالل شول. د پښتو شعر د مضمون له مخې د بشپړېدا پر لور وغزېد او یا هم بشپړ شو، پر پخوانیو عشقي، عرفاني، تبلیغي او وعظیه اخلاقي موضوعګانو سربېره د ټولنیز ژوند بېلابېلې موضوعګانې په شعر کې

راوړل شوې، تاریخي پېښې، پر ټولنه او حکومتي سیستم نیوکې، لـه هېـواد سره د مینـې احساسـات، د پښـتون او پوښتونولۍ د موضوعگانو بیان او نور یادولای شو.

په خوشحال ادبي ښوونځی پسې بیا د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی سر را او چتوي، کومه ژبه او سادگی چې عبدالرحمن بابا د خپل شعر لپاره غوره کوي یوه ډله ساعران په شعوری او قصدي بڼه د عبـدالرحمن بابـا د شـعر پلیوني پیلوي چې د نوموړی ادبي ښوونځی د رامنځته کېدو لامل گرځي.

د عبدالرحمن بابا سبک ابهام او پېچلتیا نه لري، په دغه سبک کې د شعر د کلمو په غوراوي کـې زیـار ایسـتل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنگ لپاره یې ډېر ښکلي خو ساده او عام فهمه کلمې غوره کړي دي.

د دریېمې دورې د لومړي پړاو (روښانتیا) شعرونه چې ډېری ساده دي د ټولنې علمي کچه ټيټه وه او بل د طنز او مزاح په ژبه د نظمونو لیکل د وخت لـه قـدرت څخـه د ځـان ژغـورنې یـوه وسـیله وه نـو شـاعر اړ و چـې پـه سیمبولیکه ژبه یا د طنز او مزاح له لارې د خپل ولس فکر بیدار کړي او د خپلواکی د لاسته راوړنـې لپـاره یـې و هڅوي.

د عبدالحمید مومند په شاعرانه هڅو پښتو شعر هندی سبک خپـل کـړ، پـه پښـتوهندی سـبک کـې دوه ډلـې شاعران را مخې ته کېږي؛ یوه ډله یې شعر په ساده بڼه وړاندې کوي او بله ډله یې د پېچلتیا خوا **نیسي** چې دغه خوا کاظم خان شیدا ښه پاللې ده.

د ویښتیا د پړاو ادبي سـبک انتقـادي ریـالیزم دی چـې پـه عمـده توگـه د اداري فسـاد، بـیرو کراسي(انتصـابي حکومت، وخت ضایع کول، کاغذ پراني، سرگرداني)، اختناق، اتوکراسي لکه (مطلقه شاهي نظام چې د یو کـس حکومت وي)، ارتجاع، ظلم او زبېښاک پر ضد مبارزه پکې منعکس شوې ده.

د اوښتون ادب چې د کارگرو طبقې او زیار ایستونکې د ایډیلوژۍ غږ پورتـه کـوونکي وو د (۱۳۵۷ل) کـال د غویي میاشتې له اوومې نېټې را په دې خوا په رسمي او دولتـي ادب بـدل شـو. د دغـه وخـت دشـعرونو، کیسـو، کره‌کتنو او ادبي څېړنو محوري مفکوره د فیوډالېزم او امپریالېزم پر ضد او د ټولنیز عدالت، پرمختـگ، سـولې او انترناسیونالېزم(بین المللي کول) لپاره مبارزه وه.

د غویي له کودتا وروسته ډېری شعرونه د شعارونو بڼه خپلوي او انقلابي ترانې د شعر اصلي مضمون گرځي. د جهاد پر وخت د جهادي شاعرانو په نظمونو کې هم ډېری شعرونه د شعار بڼه لري خـو د دې تـر څنـگ داسـې شاعران هم پکې را و ټوکېدل چې نظمونو یې د شعر تومنه لره او یا د غویه له کودتا څخه مخکې ښه شاعران و.

د اوښتون تر دور وروسته خپل منځی جگړو افغانـان دومـره وځپـل چـې د شـعر سـبک یـې ور بـدل کـړ او د منځپانگې له مخې یې (سوله‌ییزسبک) منځته راوړ. هغو شاعرانو چې تل د دښمن پر وړاندې د جگړې ډگر گرم ساتلی و اوس یې د خپل هېواد د وگړو لپاره د سولې پیغامونه په خپـل شـعر کـې را ونغـاړل، د هېـواد د ابـادۍ او پرمختگ نغمې یې وغږولې، له ټوپک او توري یې کرکه پیدا شوه چې دغه غږ بیا ورپسې شاعرانو هم ښه بدرگه کړ.

# لیکلړ

سرلیـــک مخګڼـــه


سریزه ..........1
الف. د څېړنې ستونزه ..........۲
ب. د څېړنې پوښتنې..........۳
ج. د څېړنې فرضیې..........۳
د. د څېړنې موخې..........۴
د څېړنې محدودیتونه..........۴
د څېړنې بریدبندونه..........۴
ز. د څېړنې شالید ..........۵
د څېړنې طرحه..........۵
د څېړنې ډول او میتود..........۶
د فرضیو آزمېښتي میتود..........۶

**۱. سبک**

۱. ۱. د سبک پېژندنه..........۷
۱. ۱. ۱. حکمت او علوم..........۱۰
۱. ۱. ۱. ۱. د ادیانو علم..........۱۰
۱. ۱. ۱. ۲. فلسفه او عرفان..........۱۰
۱. ۱. ۱. ۳. علوم..........۱۰
۱. ۱. ۱. ۴. عمومي تاریخ..........۱۱
۱. ۱. ۲. ادبي فنون..........۱۱
۱. ۱. ۲. ۱. معاني او بیان..........۱۱
۱. ۱. ۲. ۲. قافیه پوهنه..........۱۱
۱. ۱. ۲. ۳. عروض..........۱۱
۱. ۱. ۳. د نثر او شعر کره کتنه..........۱۱
۱. ۱. ۴. ادبیاتو تاریخ..........۱۱
۱. ۱. ۵. د پښتوژبې پښویه..........۱۱
۱. ۲. د پخوانیو شاعرانو په آثارو کې د سبک مفهوم..........۱۱

۱. ۳. د سبک شالید........................................................................................... ۱۲
۱. ۴. په پښتو ادب کې د سبکپوهنې بهیر.................................................................. ۱۵
۱. ۵. د فارسي ـ دري مشهور سبکونه........................................................................ ۱۶
۱. ۵. ۱. خراساني سبک............................................................................................ ۱۶
۱. ۵. ۱. ۱. د خراساني سبک ځانګړنې..................................................................... ۱۷
۱. ۵. ۲. عراقي سبک................................................................................................. ۱۷
۱. ۵. ۱,۲. د عراقي سبک ځانګړنې......................................................................... ۱۸
۱. ۵. ۳. هندي سبک.................................................................................................. ۱۸
۱. ۵. ۳. ۱. د هندي سبک د پیدایښت لاملونه.......................................................... ۱۹
۱. ۶. د خراساني، عراقي او هندي سبک توپیرونه......................................................... ۱۹
۱. ۷. د سبک په اړه د ژبپوهانو او ادبپوهانو اختلاف.................................................... ۲۰
۱. ۸. مانا او کلمه د یوې سکې دوه مخه...................................................................... ۲۱
۱. ۹. سبک او هیئت................................................................................................... ۲۱
۱. ۱۰. د سبک په پېژندنه کې له درو خبرو سره مخامخېدل............................................ ۲۲
۱. ۱۰. ۱. ځانګړی لیدلوری........................................................................................ ۲۳
۱. ۱۰. ۲. غوراوی..................................................................................................... ۲۷
۱. ۱۰. ۳. د ژبې له عامې قاعدې څخه سرغړونه.............................................................. ۳۱
۱. ۱۰. ۴. معیاري ژبه.................................................................................................. ۳۳

۱. ۱۰. ۵. د پورتنیو درو واړو تعریفونو یووالی.................................................................... ۳۴
۱. ۱۱. د بیان علم د سبک پېژندنې یو ډول..................................................................... ۳۴
۱. ۱۲. د سبک سطحې............................................................................................... ۳۹
۱. ۱۲. ۱. دوره یي سبک.............................................................................................. ۳۹
۱. ۱۲. ۱. ۱. د کمولو خطر.......................................................................................... ۴۱
۱. ۱۲. ۱. ۲. د ډېروالي خطر........................................................................................ ۴۲
۱. ۱۲. ۲. شخصي سبک................................................................................................ ۴۲
۱. ۱۲. ۳. ډله ییز سبک.................................................................................................. ۴۳
۱. ۱۲. ۴. موضوعي سبک............................................................................................. ۴۳
۱. ۱۲. ۴. ۱. څېړنیز سبک.......................................................................................... ۴۳

۱. ۱۲. ۴. ۲. ادبي سبک........................................................................................۴۳
۱. ۱۳. د سبک د سطحو په اړه ځینې اړین مسایل.........................................................۴۴
۱. ۱۳. ۱. د سبک ځانګړنې............................................................................۴۴
۱. ۱۳. ۲. د سبک اضطراب............................................................................۴۵
۱. ۱۴. له نورو سبکونو سره د ادبي سبک توپیر.........................................................۴۶
۱. ۱۴. ۱. ادبي سبک او علمي سبک....................................................................۴۶
۱. ۱۴. ۲. ادبي سبک او تاریخي سبک..................................................................۴۷
۱. ۱۴. ۳. ادبي سبک او مذهبي سبک..................................................................۴۸
۱. ۱۵. نظم او نثر........................................................................................۴۹
۱. ۱۶. سبکپوهنه او د متونو سمونه.........................................................................۵۰
۱. ۱۷. د څو هم منځپانګیزو آثارو پرتلنه....................................................................۵۱
۱. ۱۸. د سبک پوهنې ځینې ډولونه..........................................................................۵۱
۱. ۱۸. ۱. توصیفي سبکپوهنه............................................................................۵۱
۱. ۱۸. ۲. تکویني سبکپونه...............................................................................۵۲
۱. ۱۸. ۳. وظیفوي سبکپوهنه............................................................................۵۴
۱. ۱۸. ۳. ۱. توصیفي وظیفه...........................................................................۵۴
۱. ۱۸. ۳. ۲.بیانوونکې وظیفه..........................................................................۵۵
۱. ۱۸. ۳. ۳.تولنیزه وظیفه.............................................................................۵۵
۱. ۱۸. ۴. جوړښتي سبکپوهنه............................................................................۵۶
۱. ۱۹. د متني سبک پېژندنې د څېړنې میتود.................................................................۵۸
۱. ۱۹. ۱. ژبنۍ سبکپوهنه..................................................................................۵۸
۱. ۱۹. ۱,۱. څپیزه اړخ..................................................................................۵۸
۱. ۱۹. ۱. ۲. لغوي اړخ..................................................................................۵۹
۱. ۱۹. ۱. ۳. جمله ییزه اړخ.............................................................................۶۰
۱. ۱۹. ۲. فکري سبکپوهنه...............................................................................۶۰
۱. ۱۹. ۳. ادبي سبکپوهنه.................................................................................۶۱
۱. ۲۰. د تشبیه او استعارې سبکپوهنه.........................................................................۶۲
۱. ۲۱. د سبک د رامنځته کېدو عاملونه.......................................................................۶۳
۱. ۲۱. ۱. مانایي لیدلوری.................................................................................۶۳

۱. ۲۱. ۲. ژبنی عامل (شکل)...................................................................۶۴
۱. ۲۱. ۳. د ارواپوهنې لوری.................................................................۶۴
۱. ۲۲. سبکي توکي.....................................................................۶۴
۱. ۲۳. مترادفات.......................................................................۶۵
۱. ۲۴. سبکي شاخصې....................................................................۶۶
۱. ۲۵. د یو لیکوال بېلابېل سبکونه......................................................۶۶
۱. ۲۶. سبکي طرز.......................................................................۶۷
۱. ۲۷. د سبک تحلیل....................................................................۶۷
۱. ۲۷. ۱. تشریح......................................................................۶۸
۱. ۲۷. ۲. توضیح......................................................................۶۸
۱. ۲۷. ۳. د واقعیت ارزیابي............................................................۶۸
۱. ۲۸. د سبک د تحلیل میتود............................................................۶۸
۱. ۲۹. ۱. د سبک د تحلیل اړوند بنسټیزې مرحلې...........................................۶۹
۱. ۲۹. ۱. ۱. د اثر پر بشپړ متن پوهه لرل..............................................۶۹
۱. ۲۹. ۱. ۲. د سبکي توکو پېژندنه.....................................................۶۹
۱. ۳۰. د سبک د رامنځته کېدو اغېزمن عوامل..............................................۷۰
۱. ۳۱. د شعر رغښتوال توکي.............................................................۷۱
۱. ۳۱. ۱. د شعر ماده..................................................................۷۱
۱. ۳۱. ۲. د شعر لفظ او صورت...........................................................۷۱
۱. ۳۱. ۳. د شاعر ټولنیز چاپېریال......................................................۷۲
۱. ۳۱. ۴. د شعر پېرېدونکي او پلویان...................................................۷۳
۱. ۳۱. ۵. د مدنیتونو د اوښتون سیر.....................................................۷۴
۱. ۳۱. ۶. طبیعي او جغرافیاوې چاپېریال.................................................۷۴
۱. ۳۱. ۷. فردي شخصیت.................................................................۷۵
۱. ۳۸. هنري صفت.......................................................................۷۶
۱. ۳۹. د ادبي او عادي ژبې توپیري توکي..................................................۷۶

## ۲. د پښتو لومړۍدورې منظوم ادبي سبک

۲. ۱. تر اسلام وړاندې د پښتو شعر....................................................۹۲
۲. ۲. تر اسلام روسته د پښتو ادبیاتو د لومړۍ دورې منظوم ادبي سبک......................۹۳

۲. ۳. د پښتو ادب لومړۍ دورې ځانګړي(انفرادي ) منظوم سبکونه........................۹۳
۲. ۳. ۱. امیر کروړ .................................................................................۹۳
۲. ۳. ۱. ۱. د امیر کروړ د نظم عمومي ځانګړنې..............................................۹۵
۲. ۳. ۱. ۲. د امیر کروړ د نظم شعري ځانګړنې................................................۹۶
۲. ۳. ۲. ابو محمد هاشم...............................................................................۹۷
۲. ۳. ۲. ۱. ابو محمد هاشم د شعر ځانګړنې ................................................۹۷
۲. ۳. ۳.لودیان........................................................................................۹۹
۲. ۳. ۳. ۱. شیخ رضي او نصر لودي..........................................................۹۹
۲. ۳. ۳. ۱. ۱. شیخ رضي او نصر لودي د شعر ځانګړنې...................................۱۰۰
۲. ۳. ۴. کیس یا عبدالرشید .......................................................................۱۰۱
۲. ۳. ۴. ۱. بېټ نیکه ..........................................................................۱۰۱
۲. ۳. ۴. ۱. ۱. د بېټ نیکه د شعر ځانګړنې......................................................۱۰۲
۲. ۳. ۴. ۲. اسماعیل............................................................................۱۰۲
۲. ۳. ۴. ۲. ۱. د اسماعیل د شعر شعري ځانګړنې..............................................۱۰۳
۲. ۳. ۴. ۳. شیخ خرښبون سړبنی.............................................................۱۰۴
۲. ۳. ۴. ۳. ۱. شیخ خرښبون سړبني د شعر ځانګړنې.........................................۱۰۵
۲. ۳. ۵. شیخ اسعد سوري............................................................................۱۰۵
۲. ۳. ۵. ۱. شیخ اسعد سوري د شعر ځانګړنې...................................................۱۰۷
۲. ۳. ٦. شیخ تیمن....................................................................................۱۱۰
۲. ۳. ٦. ۱. شیخ تیمن د شعر ځانګړنې.............................................................۱۱۰
۲. ۳. ۷. ښکارندوی غوري.............................................................................۱۱۱
۲. ۳. ۷. ۱. ښکارندوی غوري د شعر ځانګړنې....................................................۱۱۳
۲. ۳. ۸. ملکیار غرشین................................................................................۱۱۴
۲. ۳. ۸. ۱. ملکیار غرشین د شعر ځانګړنې.......................................................۱۱٦
۲. ۳. ۹. تایمنی.........................................................................................۱۱٦
۲. ۳. ۹. ۱. تایمنی د شعر ځانګړنې................................................................۱۱۷
۲. ۳. ۱۰. قطب الدین بختیار..........................................................................۱۱۷
۲. ۳. ۱۰. ۱. قطب الدین بختیار د شعر ځانګړنې...............................................۱۱۸
۲. ۳. ۱۱. شیخ متي......................................................................................۱۱۸

۲. ۳. ۱۱. ۱. شیخ متي د شعر ځانګړنې..........119
۲. ۳. ۱۲. بابا هوتک..........120
۲. ۳. ۱۲. ۱. بابا هوتک د شعر ځانګړنې..........121
۲. ۳. ۱۳. شیخ ملکیار..........121
۲. ۳. ۱۳. ۱. شیخ ملکیار د شعر ځانګړنې..........122
۲. ۳. ۱۴. اکبر زمینداوری..........122
۲. ۳. ۱۴. ۱. اکبر زمینداوری د شعر ځانګړنې..........125
۲. ۳. ۱۵. سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازی..........126
۲. ۳. ۱۵. ۱. د خلیل خان نیازي د شعر ځانګړنې..........126
۲. ۳. ۱۵. ۲. سلطان بهلول لودي د شعر ځانګړنې..........127
۲. ۳. ۱٦. زرغون خان نورزی..........127
۲. ۳. ۱٦. ۱. زرغون خان نورزی د شعر ځانګړنې..........129
۲. ۳. ۱۷. زرغونه کاکړ..........129
۲. ۳. ۱۷. ۱. زرغونه کاکړ د شعر ځانګړنې..........130
۲. ۳. ۱۸. رابعه..........130
۲. ۳. ۱۸. ۱. رابعه د شعر ځانګړنې..........131
۲. ۳. ۱۹. دوست محمد کاکړ..........131
۲. ۳. ۱۹. ۱. دوست محمد کاکړ د شعر ځانګړنې..........132
۲. ۳. ۲۰. شیخ عیسی مشوانی..........132
۲. ۳. ۲۰. ۱. شیخ عیسی مشوانی د شعر ځانګړنې..........132
۲. ۳. ۲۱. شیخ بستان بړیځ..........133
۲. ۳. ۲۱. ۱. شیخ بستان بړیځ د شعر ځانګړنې..........133
۲. ۳. ۲۲. علي سرور لودي..........134
۲. ۳. ۲۲. ۱. علي سرور لودي د شعر ځانګړنې..........134
۲. ۳. ۲۳. مېرمن نېکبخته..........135
۲. ۳. ۲۳. ۱. مېرمن نېکبختي د شعر ځانګړنې..........136
۲. ۳. ۲۴. شیخ محمد صالح الکوزی..........136
۲. ۳. ۲۴. ۱. شیخ محمد صالح الکوزی د شعر ځانګړنې..........137
۲. ۴. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې سبکي ځانګړنې..........137

۲. ۵. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې ژبنۍ ځانګړنې........................................۱۳۸
۲. ۶. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې موضوعي ځانګړنې ........................................۱۳۹
۲. ۷. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې ادبي ځانګړنې ........................................۱۳۹


## ۳. د پښتو دویمې دورې منظوم ادبي سبکونه او ښوونځي


۳. ۱. د پښتو ادب دویمې دورې شالید........................................۱۴۰


### ۳. ۲. روښاني ادبي ښوونځی


۳. ۲. ۱. د روښاني ادبي ښوونځي د منظوم ادب ځانګړي(انفرادي) سبکونه................۱۴۲
۳. ۲. ۱. ۱. بایزید روښان د دویمې ادبي دورې بنسټ ایښودونکی............................۱۴۲
۳. ۲. ۱. ۱. ۱. د بایزید روښان د علم رسالې ځانګړتیاوې........................................۱۴۴
۳. ۲. ۱. ۲. ملا ارزاني........................................۱۴۶
۳. ۲. ۱. ۲. ۱. ملا ارزاني د شعر ځانګړنې........................................۱۴۶
۳. ۲. ۱. ۲. ۲. د ملا ارزاني په شعر کې بلاغي توکي........................................۱۵۰
۳. ۲. ۱. ۲. ۳. د ملا ارزاني د شعر موتیفونه........................................۱۵۷
۳. ۲. ۱. ۳. مېرزاخان انصاري........................................۱۶۰
۳. ۲. ۱. ۳. ۱. مېرزا انصاري د شعر ځانګړنې یې........................................۱۶۰
۳. ۲. ۱. ۳. ۲. د مېرزا انصاري په شعر کې بلاغي توکي........................................۱۶۶
۳. ۲. ۱. ۲. ۴. مېرزا انصاري د شعر موتیفونه........................................۱۷۵
۳. ۲,۱. ۴. دولت لوانی........................................۱۷۹
۳. ۲. ۱. ۴. ۱. دولت لواني د شعر ځانګړنې........................................۱۷۹
۳. ۲. ۱. ۵. ۲. له روښاني شاعرانو سره د دولت لواني د شعر موضوعي ګډون ...........۱۸۰
۳. ۲. ۱. ۴. ۳. د دولت لواني په شعر کې بلاغي توکي........................................۱۸۵
۳. ۲. ۱. ۴. ۴. د دولت لواني منځپانګیزې ځانګړتیاوې........................................۱۹۳
۳. ۲. ۱. ۵. علي محمد مخلص روښاني........................................۲۰۰
۳. ۲. ۱. ۵. ۱. علي محمد مخلص د شعر ځانګړنې........................................۲۰۱
۳. ۲. ۱. ۵. ۲. له روښاني شاعرانو سره د علي محمد مخلص د شعر موضوعي ګډون....۲۰۱
۳. ۲. ۱. ۵. ۳. د علي محمد مخلص په شعر کې بلاغي توکي........................................۲۰۸
۳. ۲. ۱. ۶. واصل روښاني........................................۲۱۲
۳. ۲. ۱. ۶. ۱. واصل روښاني د شعر ځانګړنې........................................۲۱۲

۳. ۲. ۱. ٦. ۲. له روښاني شاعرانو سره د واصل روښاني د شعر موضوعي ګډون..........۲۱٦
۳. ۲. ۱. ٦. ۳. د واصل روښاني په شعر کې بلاغي توکي..........۲۲۰
۳. ۲. ۱. ٦. ۴. د واصل روښاني منځپانګیزې ځانګړتیاوې..........۲۲۳
۳. ۲. ۱. ۷. کریم داد بنګش..........۲۲۷
۳. ۲. ۱. ۷. ۱. کریمداد د شاعرۍ ځانګړنې..........۲۲۷
۳. ۲. ۱. ۷. ۲. له روښاني شاعرانو سره د کریمداد د شعر موضوعي ګډون..........۲۲۸
۳. ۲. ۱. ۷. ۳. د کریمداد په شعر کې بلاغي توکي..........۲۳۲
۳. ۲. ۱. ۷. ۴. د کریمداد منځپانګیزې ځانګړتیاوې..........۲۳۴
۳. ۲. ۱. ۸. قادر داد..........۲۳۷
۳. ۲. ۱. ۸. ۱. قادرداد د شعر ځانګړنې..........۲۳۷
۳. ۲. ۱. ۹. اورکزی..........۲۳۸
۳. ۲. ۱. ۹. ۱. اورکزی د شعر ځانګړنې..........۲۳۸
۳. ۲. ۱. ۱۰. اخون درویزه..........۲۳۸
۳. ۲. ۱. ۱۱. عبدالکریم یا کریمداد..........۲۳۹
۳. ۲. ۱. ۱۲. میا داد..........۲۳۹
۳. ۲. ۲. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې سبکي ځانګړنې..........۲۴۰
۳. ۲. ۳. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې..........۲۴۱
۳. ۲. ۴. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې..........۲۴۲
۳. ۲. ۵. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې ادبي سبکي ځانګړنې..........۲۴۳
۳. ۲. ٦. د روښاني ادبي ښوونځي په تړاو عمومي نظر..........۲۴۳
**۳. ۳. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځی**
۳. ۳. ۱. د خوشحال خان خټک د منظوم ادبي ښوونځي ځانګړي (انفرادي) سبکونه..........۲۴۵
۳. ۳. ۱. ۱. د خوشحال خان خټک لنډه پېژندنه..........۲۴۵
۳. ۳. ۱. ۱. ۱. د خوشحال خان خټک د شعر منځپانګیزې ځانګړنې..........۲۴۷
۳. ۳. ۱. ۱. ۲. خوشحال خان خټک د شعر ژبنۍ سبکي ځانګړنې..........۲۷۳
۳. ۳. ۱. ۱. ۳. د خوشحال خان خټک په شعر کې بلاغي توکي..........۲۷۹
۳. ۳. ۱. ۱. ۴. جغرافیوي، تبي، ښکاري، دیني سبکي ځانګړنې..........۲۸۲
۳. ۳. ۱. ۱. ۵. د خوشحال خان خټک سبکي ځانګړتیاوې..........۲۸۳
۳. ۳. ۱. ۲. اشرف خان هجري..........۲۸۴

۳. ۳. ۱. ۲. ۱. اشرف خان هجري د شعر څانگړنې.........................................۲۸۴
۳. ۳. ۱. ۳. عبدالقادر خټک..........................................................۲۸۶
۳. ۳. ۱. ۳. ۱. د عبدالقادر خټک د شعر څانگړنې........................................۲۸۷
۳. ۳. ۱. ۴. صدر خان خټک......................................................۲۹۱
۳. ۳. ۱. ۴. ۱. صدر خان د شعر څانگړنې..............................................۲۹۱
۳. ۳. ۱. ۵. سکندر خان خټک......................................................۲۹۴
۳. ۳. ۱. ۵. ۱. د سکندرخان خټک د شعر څانگړنې.........................................۲۹۵
۳. ۳. ۱. ٦.گوهر خان خټک..........................................................۲۹۹
۳. ۳. ۱. ۷. عابد خان خټک..........................................................۲۹۹
۳. ۳. ۱. ۸. عجب خان خټک........................................................۳۰۰
۳. ۳. ۱. ۹. آزاد خان..................................................................۳۰۰
۳. ۳. ۱. ۱۰. بي بي حليمه............................................................۳۰۰
۳. ۳. ۱. ۱۱. بابا سعيد خټک..........................................................۳۰۰
۳. ۳. ۱. ۱۲. افضل خان خټک.......................................................۳۰۱
۳. ۳. ۱. ۱۳. خوشحال خان شهيد.....................................................۳۰۱
۳. ۳. ۱. ۱۴. نواز خان خټک..........................................................۳۰۱
۳. ۳. ۱. ۱۵. معاذالدين خټک..........................................................۳۰۵
۳. ۳. ۱. ۱۵. ۱. معاذالدين د شعر څانگړنې...............................................۳۰۲
۳. ۳. ۱. ۱٦. قلندر.....................................................................۳۰۳
۳. ۳. ۱. ۱۷. اشرف خليل...............................................................۳۰۳
۳. ۳. ۱. ۱۸. فيض محمد...............................................................۳۰۴
۳. ۳. ۱. ۱۹. فاضل.....................................................................۳۰۴
۳. ۳. ۱. ۲۰. حسين....................................................................۳۰۴
۳. ۳. ۱. ۲۱. عليم......................................................................۳۰۴
۳. ۳. ۲. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځي گډې ژبنی سبکي څانگړنې.....................۳۰۴
۳. ۳. ۳. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځي گډې موضوعي سبکي څانگړنې.................۳۰۵
۳. ۳. ۴. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځي گډې ادبي سبکي څانگړنې.....................۳۰٦
۳. ۳. ۵. د خوشحال خان خټک د ادبی ښوونځي عمومي څانگړنې.............................۳۰٦

**۳. ۴. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی**


۳. ۴. ۱. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي د منظوم ادب ځانګړي(انفرادي) سبکونه........۳۰۷
۳. ۴. ۱. ۱. عبدالرحمن بابا..............................................................................۳۰۷
۳. ۴. ۱. ۱. ۱. عبدلارحمان بابا د شعر ځانګړنې..............................................۳۰۸
۳. ۴. ۱. ۱. ۲. عبدالرحمن بابا د شعر موضوعي ځانګړنې........................................۳۱۵
۳. ۴. ۱. ۱. ۳. د عبدالرحمن بابا د شعر موتیفونه...............................................۳۲۲
۳. ۴. ۱. ۱. ۵. د عبدالرحمن بابا په شعر کې بلاغي توکي......................................۳۲۸
۳. ۴. ۱. ۲. محمدیونس خان موسی خېل................................................................۳۳۵
۳. ۴. ۱. ۲. ۱. محمد یونس خان د شعر سبکي ځانګړنې........................................۳۳۶
۳. ۴. ۱. ۲. ۲. عبدالرحمن بابا او محمد یونس ګډې سبکي ځانګړنې..........................۳۳۷
۳. ۴. ۱. ۳. مهین خلیل......................................................................................۳۴۲
۳. ۴. ۱. ۴. معزالله مومند.....................................................................................۳۴۳
۳. ۴. ۱. ۴. ۱. د عبدالرحمن بابا او معزالله د شعر موضوعي ګډون..........................۳۴۴
۳. ۴. ۱. ۴. ۲. د معزالله خان مومند په شعر کې د عبدالرحمن بابا سبکي توکي.........۳۴۵
۳. ۴. ۱. ۵. اخون ګدا........................................................................................۳۴۶
۳. ۴. ۱. ۵. ۱. د اخون ګدا او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون..........................۳۴۷
۳. ۴. ۱. ٦. حافظ الپوري....................................................................................۳۴۸
۳. ۴. ۱. ٦. ۱. حافظ الپوري عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون............................۳۴۹
۳. ۴. ۱. ۷. نجیب سربندی..................................................................................۳۵۰
۳. ۴. ۱. ۷. ۱. نجیب سربندی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون........................۳۵۱
۳. ۴. ۱. ۸. عبدالعظیم رانیزی..............................................................................۳۵۳
۳. ۴. ۱. ۸. ۱. عبدالعظیم رانیزی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون...................۳۵۳
۳. ۴. ۱. ۹. میا نعیم متي زی................................................................................۳۵۴
۳. ۴. ۱. ۹. ۱. میا نعیم متي زی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون.....................۳۵۵
۳. ۴. ۱. ۱۰. مطیع الله.......................................................................................۳۵۸
۳. ۴. ۱. ۱۱. ثاني رحمان(عبدالرحمن اوکا).........................................................۳۵۸
۳. ۴. ۱. ۱۲. محمد عمران پېښوری.....................................................................۳۵۹
۳. ۴. ۱. ۱۳. باز محمد بنګښ..........................................................................۳٦۰
۳. ۴. ۱. ۱۴. حاجي جمعه بارکزی.....................................................................۳٦۰

۳. ۴. ۱. ۱۵. خدایداد محمدزی.......................................................................۳۶۲
۳. ۴. ۱. ۱٦. خدایداد جدید توخي.................................................................۳۶۳
۳. ۴. ۱. ۱٦. ۱. خدایداد جدید توخی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون...........۳۶۴
۳. ۴. ۱. ۱۷. حبیب الله.....................................................................................۳٦٦
۳. ۴. ۱. ۱۷. ۱. حبیب الله او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون..........................۳٦۷
۳. ۴. ۱. ۱۸. عبدالرحیم هوتک.........................................................................۳٦۸
۳. ۴. ۱. ۱۹. مصري خان ګګیانی.......................................................................۳٦۹
۳. ۴. ۱. ۲۰. ملا لتاړشلمانی.............................................................................۳۷۱
۳. ۴. ۱. ۲۱. قاسم علي اپریدی.........................................................................۳۷۲
۳. ۴. ۱. ۲۲. پیر محمد کاکړ.............................................................................۳۷۳
۳. ۴. ۱. ۲۲. ۱. پیر محمد کاکړ او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون...................۳۷۴
۳. ۴. ۱. ۲۳. قنبر علي خان اورکزی...................................................................۳۷٦
۳. ۴. ۱. ۲۳. ۱. قنبر علي خان اورکزی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون...........۳۷۸
۳. ۴. ۱. ۲۴. نواب محبت خان..........................................................................۳۷۹
۳. ۴. ۱. ۲۴. ۱. نواب محبت خان او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون...................۳۷۹
۳. ۴. ۱. ۲۵. میر علي میرا................................................................................۳۸۱
۳. ۴. ۱. ۲٦. شادمحمد خان...............................................................................۳۸۲
۳. ۴. ۱. ۲٦. ۱. شادمحمد خان او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون.....................۳۸۳
۳. ۴. ۱. ۲۷. غفور...........................................................................................۳۸۵
۳. ۴. ۱. ۲۸. جمال خان....................................................................................۳۸٦
۳. ۴. ۱. ۲۹. نیازمحمد، عبید او نصرت................................................................۳۸٦
۳. ۴. ۱. ۳۰. شیخ نامدار..................................................................................۳۸٦
۳. ۴. ۲. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي ګډې ژبنی سبکي ځانګړنې.........................۳۸۷
۳. ۴. ۳. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې.....................۳۸۷
۳. ۴. ۴. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي ګډې ادبي سبکي ځانګړنې.........................۳۸۸
۳. ۴. ۵. د عبدارحمن بابا د ادبي ښوونځي عمومي ځانګړنې....................................۳۸۸

**۳. ۵. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځی**

۳. ۵. ۱. هندي سبک...................................................................................۳۹۰
۳. ۵. ۱. ۱. په پښتو ادب کې د هندي سبک دودېدل................................................۳۹۰

۳. ۵. ۱. ۲. د هندي ادبي ښوونځي ځانګړنې........................................۳۹۱
۳. ۵. ۱. ۳. د هندي سبک شعري پېچلتيا...............................................۳۹۵
۳. ۵. ۱. ۴. د هندي سبک د بيت جوړښت...............................................۳۹۵
۳. ۵. ۱. ۵. لوی شاعر.............................................................................۳۹۶
۳. ۵. ۱. ٦. مخکې مسره او برجسته مسره.............................................۳۹۷
۳. ۵. ۱. ۷. په هندي سبک کې د پېچلتيا لامل.......................................۳۹۸
۳. ۵. ۱. ۸. د هندی سبک دوه ډلې شاعران............................................۳۹۸
۳. ۵. ۲. د عبدالحميد مومند ادبي ښوونځي د منظوم ادب ځانګړي(انفرادي) سبکونه..۳۹۹
۳. ۵. ۲. ۱. عبدالحميد مومند..................................................................۳۹۹
۳. ۵. ۲. ۱. ۱. د عبدالحميد مومند د شعر موضوع....................................۴۰۱
۳. ۵. ۲. ۱. ۲. د عبدالحميد مومند شعري ترکيبونه...................................۴۰۲
۳. ۵. ۲. ۱. ۳. د عبدالحميد مومند شعری موتيفونه...................................۴۰۳
۳. ۵. ۲. ۲. کامګارخټک .........................................................................۴۰۷
۳. ۵. ۲. ۲. ۱. د کامګارخان او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون................۴۰۸
۳. ۵. ۲. ۳. قلندر اپرېدی.......................................................................۴۰۹
۳. ۵. ۲. ۳. ۱. قلندر اپرېدی او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون...............۴۱۰
۳. ۵. ۲. ۳. ۲.د قلندر اپريدی په شعر کې مخکې مسره او برجسته مسره..........۴۱۱
۳. ۵. ۲. ۴. محمدي صاحبزاده.................................................................۴۱۲
۳. ۵. ۲. ۴. ۱. محمدي صاحبزاده او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون..........۴۱۲
۳. ۵. ۲. ۵. خانګل خليل........................................................................۴۱۴
۳. ۵. ۲. ۵. ۱. خانګل خليل او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون..................۴۱۴
۳. ۵. ۲. ٦. بېدل اشنغری.......................................................................۴۱٦
۳. ۵. ۲. ٦. ۱. بېدل اشنغری او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون................۴۱٦
۳. ۵. ۲. ٦. ۲. د بېدل شعري موتيفونه.......................................................۴۱۹
۳. ۵. ۲. ۷. مېرزا حنان بارکزی...............................................................۴۲۰
۳. ۵. ۲. ۷. ۱. مېرزا حنان بارکزی او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون.........۴۲۰
۳. ۵. ۲. ۸. علي خان..............................................................................۴۲۲
۳. ۵. ۲. ۸. ۱. علي خان او عبدالحميد مومند د شعر سبکي تړون......................۴۲۳
۳. ۵. ۲. ۹. کاظم خان شيدا....................................................................۴۲۴

۳. ۵. ۲. ۹. ۱. له کورنۍ څخه بېزاري.................................................۴۲۴
۳. ۵. ۲. ۹. ۲. د کاظم خان شیدا شعري پېچلتیا.......................................۴۲۵
۳. ۵. ۲. ۹. ۳. د کاظم خان شیدا ساده شعر..........................................۴۲۶
۳. ۵. ۲. ۹. ۴. د تشبېه له مخې د کاظم خان شیدا شعري پېچلتیا.....................۴۲۶
۳. ۵. ۲. ۹. ۵. د حمید او شیدا د شعرونو موضوعي تړاو..............................۴۳۱
۳. ۵. ۲. ۹. ۵. د کاظم خان شیدا شعري موتیفونه......................................۴۳۲
۳. ۵. ۳. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځي ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې.....................۴۳۹
۳. ۵. ۴. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې..................۴۳۹
۳. ۵. ۵. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځي ګډې ادبي سبکي ځانګړنې......................۴۴۰

## ۴. د پښتو ادبیاتو د درېیمې دورې منظوم ادبي سبک

۴. ۱. د پښتو ادب د درېیم دور پیل.......................................................۴۴۱
۴. ۲. روښانتیا پړاو منظوم ادبي سبک....................................................۴۴۲
۴. ۲. ۱. د روښانتیا پړاو شالید..........................................................۴۴۲
۴. ۲. ۲. د روښانتیا پړاو د منظوم ادب ځانګړي (انفرادي) سبکونه..........................۴۴۵
۴. ۲. ۲. ۱. مولوي صالح محمد کندهاری.................................................۴۴۵
۴. ۲. ۲. ۲. غلام محی الدین افغان.......................................................۴۵۰
۴. ۲. ۲. ۳. عبدالعلي مستغني.............................................................۴۵۱
۴. ۲. ۲. ۴. عبدالهادي داوي..............................................................۴۵۳
۴. ۲. ۲. ۵. مولوي عبدالواسع کندهاری....................................................۴۵۵
۴. ۲. ۲. ٦. فضل محمود مخفي...........................................................۴۵٦
۴. ۲. ۲. ۷. سید راحت الله زاخېلي........................................................۴۵۹
۴. ۲. ۲. ۸. فضل اکبر بېنوم...............................................................۴٦۱
۴. ۲. ۲. ۹. محمد اکبر خان خادم.........................................................۴٦۱
۴. ۳. د روښانتیا پړاو ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې.............................................۴٦۳
۴. ۴. د روښانتیا پړاو ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې..........................................۴٦۳
۴. ۵. د روښانتیا پړاو ګډې ادبي سبکي ځانګړنې..............................................۴٦۴
۴. ٦. د درېیمې دورې د روښانتیاپړاو عمومي سبکي ځانګړتیاوې...............................۴٦۴
۴. ۳. د ویښتیا پړاومنظوم ادبي سبک...........................................................۴٦۵

۴. ۳. ۱. د ویښتیا پړاو تاریخي شالید........................................................۴۶۵
۴. ۳. ۲. د ویښتیا پړاو شاعران............................................................................۴۶۸
۴. ۳. ۳. د ویښتیا پړاو د منظوم ادب ځانګړي (انفرادي) سبکونه.................................۴۶۹
۴. ۳. ۳. ۱. ګل پاچا الفت...............................................................................۴۶۹
۴. ۳. ۳. ۲. عبدالروف بېنوا.............................................................................۴۷۲
۴. ۳. ۳. ۳. قیام الدین خادم...........................................................................۴۷۷
۴. ۳. ۳. ۴. عبدالحی حبیبي............................................................................۴۸۰
۴. ۳,۳,۵. موسی شفیق..................................................................................۴۸۲
۴. ۳. ۳. ٦. سلیمان لایق................................................................................۴۸۴
۴. ۳. ۳. ۷. عبدالله بختانی خدمتګار...............................................................۴۸۷
۴. ۳. ۳. ۸. عبدالروف قتیل خوږیانی...............................................................۴۸۹
۴. ۳. ۳. ۹. محمد امین ملنګ جان....................................................................۴۹۳
۴. ۳. ۳. ۹. ۱. د ملنګ جان شاعري.....................................................................۴۹۴
۴. ۳. ۳. ۹. ۲. د ملنګ جان د شعر ژبنۍ خوا........................................................۴۹۴
۴. ۳. ۳. ۹. ۳. د ملنګ جان د شعر بدیعي وړتیا......................................................۴۹۴
۴. ۳. ۳. ۹. ۴. د ملنګ جان د شعر ځیلونه...........................................................۴۹۵
۴. ۳. ۳. ۹. ۵. د ملنګ جان د شعر مضمون...........................................................۴۹۶
۴. ۳. ۴. د ویښتیا پړاو د شعر جولیز او مانیز ځرنګوالی.................................................۵۰۱
۴. ۳. ۵. د ویښتیا پړاو ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې.........................................................۵۰۲
۴. ۳. ٦.د ویښتیا پړاو ګډې موضوعي او ادبي سبکي ځانګړنې..............................................۵۰۲

۴. ۴. د اوښتون پړاو منظوم ادبي سبک.......................................................................۵۰۳
۴. ۴. ۱. تاریخي شالید..............................................................................................۵۰۳
۴. ۴. ۲. د اوښتون پړاو د منظوم ادب ځانګړي (انفرادي) سبکونه.....................................۵۰۵
۴. ۴. ۲. ۱. صدیق کاوون..............................................................................۵۰۵
۴. ۴. ۲. ۲. اسحاق ننګیال...............................................................................۵۰۷
۴. ۴. ۲. ۳. عارف خزان..................................................................................۵۱۰
۴. ۴. ۲. ۴. فضل ولي ناګار.............................................................................۵۱۱
۴. ۴. ۲. ۵. محمد صدیق پسرلی.........................................................................۵۱٦

۴. ۴. ۲. ٦. پیر محمد کاروان..................................................................................۵۱۹
۴. ۴. ۲. ۷. نورالحبیب نثار.......................................................................................۵۲۳
۴. ۴. ۲. ۸. عیسی محمد عصمت قانع...........................................................................۵۲۵
۴. ۴. ۳. د اوښتون پړاو سبکي ځانګړنې...................................................................۵۲۷
۵. سوله ییز سبک..................................................................................................۵۲۹
٦. په پښتو ادب کې د ادبي سبک او ادبي ښوونځي رېږه............................................۵۳۸
۷. پر پښتو ادب د لویدیځ ادبي ښوونځیو اغېز.............................................................۵۳۸
پایله.......................................................................................................................۵۳۹
مناقشه....................................................................................................................۵۴۳
پایلنیونه..................................................................................................................۵۴۴
وړاندیزونه...............................................................................................................۵۴۴
ماخذونه..................................................................................................................۵۴۵

# سریزه

و هر چا وته یې خپله پوهه کښېښوه        د هـر چـا لیـده د فهـم پـه مقـدار دي

(میرزا خان انصاري)

هر لیکوال ته ښایي په داسې موضوع څېړنه تر سره کړي چې د ټولنې اړتیا او د الله (جل جلا له) رضا په خپـل بـر کـې ونیسي، که په دغه لاره کې ستړې ستومانۍ هم مخې ته ورشي په ورین تندي یې قبولې کـړي، مـا هـم د خپـل ولـس او د پښـتو ادب څـانګوالو او مینــه والــو ســتونزه د پښـتو ادب پــه منظومــه برخــه کــې حــس کولــه نــو ځکــه مــې د (**دپښتومنظومادبيسبکڅېړنه**) تر سرلیک لاندې څېړنیزه موضوع خوښه کړه د پښـتو ژبـې او ادب څـانګې د دوکتـورا کمېټې، د کابل پوهنتون د دوکتورا برنامې او درنو لارښود استادانو پـه لارښـوونه و ټاکلـه چـې دا دی نـن مـې د الله(جل جلاله) په مرسته بشپړه کړه.

په دغه اثر کې د سبک او ادبي سبک په اړه څرګندونې، د سبک د ټاکلو اړوند لارښوونې او بیا د پښتو منظوم ادبي سبک توپیرونه په بېلابېلو دورو او ورسره د ادبي شخصیتونو د آثارو تر منځ څېړل شوي دي او پـه منطقـي بڼه یې تر منځ توپیرونه څرګند شوي دي چې د دغې څېړنې په پای کې د کـره معلومـاتو لـه مخـې د پښـتو ادب منظوم ادبي ښوونځي هم و ټاکل شول.

په پښتو منظوم ادب کې د سبک تر سرلیک لاندې ځینې آثار لیکل شوي وو خـو څنګـه چـې د نـن ورځـې غوښتنه ده او یا د سیمې ژبو ته پام کوو، نومړې موضوع پکې هغه هومره په ښه ډول نه وه څېړل شوې چې د نـن ورځې ځواب ویونکې وي. د سبک تر سرلیک لاندې ګڼ آثار چې زموږ لاس کې دي تر یوې کمې کچې یـې د سبک په اړه پېژندنه را مخې ته کړې ده خو په عملي بڼه د پښتو ادب په منظومه برخه کې کوم اثر نه تر سـترګو کېږي نو ما د دغې ستونزې د حل لپاره لومړی د سبک پېژندنې، سبک ټـاکلو پـه اړه لارښـوونې او بیـا د عمـلي سبک د پېژندلو لارې چارې بیان کړې او ورسره مې په پښتو منظوم ادب کې په تطبیقي ډول عملي څېړنه تر سره کړه.

په دغې څېړنه کې کوښښ شوی دی چې د هر نظر لپاره دلیل راوړل شي، ما که د کوم شاعر پـه تـړاو سـبکي توکی څرګند کړی دی نو د هماغه شاعر له شعري ټولګې څخه مې ورته داخلي شهادت د دلیل په موخه راوړی دی چې دغه کار زما څېړنې ته نوی رنګ او نوښت ورکړی دی.

په نوموړې څېړنه کې لومړی د شاعر اثر لوستل شوی دی، بیا د هغه اثر په رڼا کې یې شعري ځانګړنې په نښه شوې دي، وروسته بیا د شاعر سبکي توکي او موتیفونه له شعری بېلګو سره راوړل شوي دي، دغه کاري میتود د شاعرانو د سبک تر منځ توپیروونکي او ګډ سبکي توکي په لاس راکړل چې د فردي سبک، دوره یې سبک او په ټوله کې د پښتو ادبي ښوونځیو په بېلوالي او توپیر کې یې زما ډېره مرسته وکړه. په دې کار سره به لوستونکي او ځانګوال په دغه برخه کې په څرګند ډول ډېر مواد تر لاسه کړي.

د سبکي توکو په تړاو ځینې کلمې چې د یو شاعر لپاره سبکي توکی ګرځېدلی دی، تر دغه شاعر مخکینو شاعرانو به هم کارولی وي خو موږ په دې لامل د هغوی سبکي توکی نه دی ګڼلي چې پرلپسې ینه یې پرې نه ده کړې او ورپسې شاعر د پرلپسې کارونې له مخې چې په بېلابېلو ځاینو کې یې په نویو ماناوو او یا هم عین مانا او نوي طرز کارولی دی، سبکي توکی ګڼل شوی دی.

په پښتو دویمه ادبي دوره کې هغه لوی شاعران چې د خپل ځانګړي سبک پر درلودلو یې سربېره نورو شاعرانو ور څخه پلیوني کړې ده، ادبي ښوونځي را مخې ته شوي دي. ما کوښښ وکړ چې د هر ادبي ښوونځي د شاعرانو تر منځ هغه ګډ سبکي توکي د بېلګو په راوړو سره مشخص کړم چې دوی یې په یوه ادبي ښوونځي کې سره غاړه کړي دي.

تر ځینو بیتونو لاندې یا خوا کې د لومړي لاس ماخذ د دې لپاره نه دی ورکړل شوی چې د دویم لاس ماخذ په استناد راخیستل شوی دی او د دویم لاس ماخذ بیا د موضوع په پای کې راوړل شوی دی نو لوستونکي هلته ور ګرځېدلای شي.

هغو آثارو چې د چاپ نېټه نه لرله په متن کې د ماخذ په توګه یوازې د لیکوال تخلص او د اثر مخ لیکل شوی دی، د ځینو  آثارو د چاپ نېټه په خپل ځای کې نشته، د دې ستونزې د حل لپاره بیا د اثر سریزې ته مې مراجعه کړې ده او د اثر د چاپ نېټه مې له هغه ځایه اخیستې ده، لکه د حافظ الپوري دیوان، د (لار د اور په څنګ) اثر د چاپ نېټه بیا د شعري ټولګې د وروستي شعر په نېټې قیاس شوې ده.

د کومو آثارو چې لیکوال او د چاپ نېټه یو شان ده او یا څو لیکوال په یو تخلص ثبت شوي دي چې بیا یې د آثارو د چاپ نېټې هم یو شان دي، لکه د (خټک) تخلص، د دغې ستونزې د حل لپاره د متن په داخل کې د شاعر د تخلص تر څنګ د اثر د نوم لومړی توری ورسره لیکل شوی دی.

ځینې آثار چې د بېلابېلو لیکوالو د مقالو ټولګه ده، لکه (نابغه خوشحال) په ماخذ ښوودنه کې د مقالې د لیکوال نوم او تخلص راغلی دی،

د ځینو شاعرانو په تړاو چې پرلپسې له یو ماخذ څخه ګټه اخیستل شوې ده، بیا د وروستي بیت په پای کې یو ځل ماخذ ورکړل شوی دی، لکه د هېوادمل (پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړنۍ او دویمه دوره، لومړی ټوک) چې د شاعرانو سوانح او بیتونه ترې را خیستل شوي دي. نور نو اثر ستاسې په لاس کې دی، همدا ډول په ټول اثر کې د

نېټو د راوړو پر وخت (هـ ق) کال په پام کې نیول شوی دی او ځای ځای ورسره (هـ ش او زېږدیـزه) نېټـه هـم د اړتیا له مخې په پام کې نیول شوې ده. انسان له تېروتنو سره مل دی که له ما کومه تېروتنـه شـوې وي مخکـې تـر مخکې ښښنه غواړم.

## الف. د څېړنې ستونزه

په پښتو منظوم ادب کې د سبک تر سرلیک لاندې ځینې آثار لیکل شوي دي خو څنگـه چـې د نـن ورځـې غوښتنه ده او یا د سیمې ژبو ته پام کوو نوموړې موضوع هغه هومره پـه ښـه ډول نـه ده څېـړل شـوې چـې د نـن ورځې محصلانو ته ځواب ویونکې وي. د سبک تر سرلیک لاندې کُن آثار چې زمـوږ لاس کـې دي تـر یـوې کمې کچې یې د سبک په اړه پېژندنه را مخې ته کړې ده خو په عملي بڼه د پښتو ادب په منظومه برخه کې کـوم اثر نه تر سترگو کېږي نو ما و پتېیله چې د دغې ستونزې د حل لپاره لومړی د ادبي سبک ټاکلو په اړه لارښـوونې او بیا د عملي سبک د پېژندلو لارې چارې راوړم او ورسره یې په پښتو منظوم ادب کـې پـه تطبیقـي ډول عمـلي څېړنه د مستندو دلایلو او شواهدو په رڼا کې تر سره کړم.

## ب. د څېړنې پوښتنې

۱. ولې د سبک ټاکلو په اړه لارښوونې د کره کتونکو لپاره گټورې دي؟

۲. په پښتو منظوم ادب کې ځانگړي (انفرادي) سبکونه شته؟

۳. په پښتو منظوم ادب کې دوره یي سبکونه شته؟

٤. د ټولنې پرمختگ، سیاست او پېښې د سبک په بدلون اغېز لري؟

۵. د لویدیز او پښتو ادبي ښوونځیو ترمنځ اړیکې او توپیرونه شته؟

## ج. د څېړنې فرضیې

کېدای شي

۱. د سبک د ټاکلو په اړه د کره کتونکو لپاره د سبک اړوند لارښوونې ډېرې اړینې وي.

۲. د پښتو منظوم ادب له مطالعې به دا جوته شي چې ځانگړي (انفرادي) سبکونه پکې را منځته شوي دي.

۳. کېدای شي د پښتو منظوم ادب د دورو ترمنځ سبکونه شتون ولري.

٤. د ټولنې پرمختگ، سیاست او پېښې د سبک په بدلون اغېز لري.

۵. دا چې لویدیزه ټولنه او ختیزه ټولنه یو له بله ډېرې توپیرونه لري نو د دغو ښوونځیو ترمنځ بـه تـوپیر شـتون لري، ځکه د هرې ټولنې ادب د هغې ټولنې له کولتور، اقتصادي پرمختګونو او سیاست څخه اغېـزمن دی او پـه همدې بنسټ رامنځته کېږي.

## د. د څېړنې موخې

۱. د پښتو ادب څانګوالو او مینه والو ته د ادبي سبک په اړه لارښوونې کول.

۲. په عملي بڼه د پښتو منظوم ادب د ودې پړاوونه توپیرول.

۳.د هرې دورې سبکي ځانګړنې په عملي ډول څرګندول.

٤.په پښتو ادب کې د لویدیزو ادبي ښوونځیو اغېز څرګندول

## د څېړنې محدودیتونه

۱. د سرلیک پراخوالی، ولې ما سرلیک پراخه و ټاکه؟
۲. د قلمي نسخو نه شتون یا نه لاس رسی
۲. اقتصادي ستونزې
۳. ډېرى سبکي اضطراب: (الف) د موضوعګانو ګډون (ب) د نظمي ځیلونو یوشانوالی (ت) د کاتبانو لاسوهنه.
۴. د سیاسي ثبات نه شتون او د ننګرهار پوهنتون په پښتو څانګه کې د استادانو دکمبود له امله د وخت کمښت
۵. د سبک د تیورۍ په تړاو په پښتو ژبه کې د کافي موادو نه شتون
٦. په عملي بڼه په پښتو منظوم ادب کې د آثارو نه شتون
۷. د هرې دورې د شاعران د تشریحي ګرامر نه شتون
۸. د پښتو منظوم ادب د لومړۍ دورې د شاعرانو د شعرونو کمښت

## د څېړنې بریدبندونه

موږ په ټوله کې له لاندې درو څېړنیزو بریدبندونو سره مخ کېږو:

### موضوعي برید بند

د موضوع له مخې ما هغه پښتو منظوم ادبي آثار ټاکلي دي چې په ادب پورې تړاو لري او سبکي توکي پکې تر سترګو کېږي، کوم منظوم آثار چې په ادب پورې تړاو نه لري او یا هم سبکي ځانګړي توکي پکې نشـته چې د سبک څرکونه پکې وي له پامه غورځولي دي. نوموړې موضوع د پښتو منظـوم ادب پـه لـومړۍ دورې، دویمـې دورې او د دریمې دورې په روښانتیا، ویښتیا او اوښـتون پـړاو پـورې تـړاو لـري. د دریمـې دورې پـه درو واړو پړاوونو کې د موضوع د مهار کولو لپاره د محدودو نوموتو شاعرانو په آثارو را څرخي.

## چاپېريالي بريدبند

نوموړې څېړنه تر ډېره بريده د پښتو ادب د مسلکي کادرونو لپاره تر سره شوې ده، په ټوله کې د پښتو ادب مينه وال او شاعران ور څخه ګټه اخيستلای شي.

۲. د مخکينۍ پوهې تر څنګ زما لپاره هم پکې نوې خبرې را مخې ته شوې چې په دغه کار سره نويو څېړونکو ته په دغه برخه کې نوې لارې پرانستل شوې.

## مهالي بريدبند

د سکالر لپاره د نوموړې څېړنې د تر سراوي په موخه د دوکتورا د لايحې له مخې ډېر وخت يې تر تدريسي بهير وروسته څلور او لږ يې دوه کاله ټاکل شوی دی خو د ټولنيزو او اقتصادي ستونزو له مخې ما غوره و بلله چې په دوو کالونو کې نوموړې څېړنه بشپړه کړم.

## ز. د څېړنې شاليد

کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي په (ادبي څېړنې،۱۳٦۰ل) اثر کې د سبک پرلغوي او اصطلاحي مانـاوو يوڅه څرګندونې لري او د ګډو ځانګړنو له مخې يې د سبک اووه ډولونه را پېژندلي دي خو په عملي بڼه پکې څه نه ليدل کېږي، پوهاند صديق الله رشتين (د پښتو ادبي مکتبونه، ۱۹۸۸ز) تر سرليک لاندې اثـر کـې پـه ډېـره لنډه توګه نوموړې موضوع څېړلې چې د اثر ټولې پاڼې يـې (٥٦) کـېږي، محمـد حکـيم تنيـوال ( د پښـتو شـعر سبکونه، ۱۳۸۲ل) تر سرليک لاندې اثر کې نوموړې موضوع څېړلې چې د روهي څرګندونې يـې را اخيسـتي او نوره موضوع يې د سبک پر ځای د شاعرانو په لنډه تذکره پای ته رسولې ده، اجمل ښکلي په خپل (سـبکپوهنه، ۱۳۹۰ل) اثر کې د موضوع اړوند لارښوونې راوړي او د پښتو منظوم ادب په اړه پراخه عملي څېړنـه پکـې نـه تـر سترګو کېږي، د پوهنوال رفيق رفيق ( په افغانستان کې د پښتو معاصر شـعر سـبکونه، ۱۳۹۱ل) اثـر کـې يـوازې د معاصرې دورې اړوند په خپله لمنه کې د سبک تر سرليک لاندې يو څه لري او له مخکينيو دورو سره څه پرتليز څرک پکې نشته چې د پښتو منظوم ادب د ودې بهير پکې راوړل شوی وي، همدا رنګه پوهاند دوکتـور مجـاور احمد زيار (د پښتوسبکپوهنه، ۱۳۹٦ل) تر سرليک لاندې اثر خپور کړ چې د سبک په اړه ډېرې کمې لارښوونې لري او هغه هم ډېری ژبنی سبک په خپل بر کې نيسي.

## د څېړنې طرحه

د څېړنې طرحه مې په درو عمده برخو کې ترتيب کړه:

**الف**. لومړۍ برخه يې لنډيز، پيل خبرې، سريزې، تېرو ماخذونو ته کتنه يا شاليد، د څېړنې د طرحې او د څېړنـې کړنلار او د څېړنې ازمېښتي ميتود ته ځانګړې شوې وه.

**ب**. دويمه برخه يې آرې موضوع ته ځانګړې شوې چې بيا دغه برخه په خپل منځ کې پر اوو برخو وېشل شـوې ده: (۱) سبک او د سبک په تړاو اړين مسايل(۲) د پښتو ادبياتو لومړۍ دوره (۳) د پښتو ادبياتو دويمه دوره چـې روښاني ادبي ښوونځی، خوشحال خان ختک ادبي ښـوونځی، عبـدالرحمن بابـا ادبي ښـوونځی او هنـدي يـا د عبدالحميد مومند ادبي ښوونځی پکې شامل دي(۴) دريېمې دورې روښانتيا، ويښتيا او اوښتون پړاو(۵) سـوله‌ييز

سبک(٦) په پښتو منظوم ادب کې د ادبي سبک او ادبي ښوونځي په تړاو پرېکړې (٧) پر پښتو ادب د لودیز ادب د ادبي ښوونځیو اغېز

پورتنۍ هره برخه لوی او واړه سرلیکونه لري چې د موضوع په ښه وضاحت او د څېړنې په بشپړوالي کې یې کارنده دنده تر سره کړې ده او هم یې مطلوبې پایلې ته موضوع رسولې ده چې لوستونکي به په ښه بڼه تر خپله علمي خوا پیاوړې کړي.

**ج.** دریمه برخه بیا پایلې، مناقشې، وړاندیزونو او ماخذونو ته ځانګړې شوې ده.

## د څېړنې ډول او میتود

زما د څېړنې ډول کتابتوني دی. میتود یې په ټوله کې پرتلیز دی چې موخې ته د رسېدو په بار ورسره له توصیفي میتود څخه هم کار اخیستل شوی دی.

## د فرضیو آزمېښتي میتود

کله چې نوموړې موضوع د دوکتورا برنامې د بورد او پوهنځي د کمېټې او لارښود استاد په مشوره راته وټاکل شوه بیا مې یې د څېړنې پر ډول فکر وکړ چې کتابتوني دی نو د موضوع په تړاو مې د ګڼو کتابونو، مجلو او ورځپاڼو نومونه په یادداښت کتابچه کې ولیکل او خپله مطالعه مې پیل کړه، لومړی مې د سبک پرتړاو تیوري برابره کړه چې د همدې تیورۍ پر مټ مې خپل څېړنیز کار پیل کړ. په دغه کار پسې مې د هر منظوم اثر د لوستو پر وخت هغه بیتونه په نښه کول چې د سبکي توکي تومنه مې پکې لیده، تر دې کار ورسته مې هغه چې زما په څېړنه کې کارنده تمامېدل کتابچې ته انتقال کړل، د پرتلیز او توصیفي میتودونو په رڼا کې مې ډلبندی کړل او مطلوبه پایله مې تر لاسه راوړه.

# ۱. سبک

## ۱.۱.د سبک پېژندنه

سبک ته په عربي ژبه کې اُسلوب، په یوناني کې ستېلاز stylos ، په لاتیني کې ستائیلسstaylu او په هنـدي کې شیلي کلمه کاروي.(سعید، ۱۹۹۰ز، ۱۶۳).

سبک په لغت کې د سرو او سپینو زرو د ویـلي کولـو او پـه قالـب کـې د تویولـو پـه مانـا کـارول کېـږي، پـه اصطلاح کې د ویلو او لیکلو خاص ډول او طرز ته ویل کېږي، د عربي اسلوب پـر وړانـدې اروپایـان د(Style) کلمه کاروي، که څه هم چې د ستایل ویی د اسلوب په نسبت زیات پراخوالی لري، غربیان (Style) دټولو کړو وړو، لکه (نڅا، رسم، دجامو، خبرو، خوراک) لپاره چې په یو خاص او ممتاز ډول سره وي، کاروي. د دري ژبې پخوانیو ادیبانو د سبک پرځای د فن، طرز، سیاق، طریقه، شیوه، اسلوب او داسې نورې کلمې کارولې مگر اوس په پښتو او فارسي ژبو کې د سبک کلمې ډېر تعمیم موندلی دی.(روهي،۱۳٦ل،۷۱).

د یو لیکوال او شاعر په کلام کې د کلمو ترکیب، د کلمو غوره والی، طرز همدارنگه د خپل خیال څرگندول او د خپل خیال په واسطه دبیانولو ځانگړی ډول له سبک څخه عبارت دی.

په ادب کې باید نوع او سبک سره گډ نه شي؛ نوع د ادبي اثر له جـولې څخـه عبـارت دی چې لیکـوال یـې خپلې لیکنې ته ټاکي نو د ادبي اثر څرگندې جولې ته نوع وایي، مگر په سبک کې د شاعر یا لیکوال د اثر ټولې خواوې د موضوع په تړاو او هم د چاپېریال د ازانگو له مخې تر بحث لاندې نیول کېږي. په دې توگـه سـبک د یو لیکوال او شاعر فکر او د هغه ممتازه خوا او هم د تعبیر (سپړنې) طرز په پـام کـې نیسـي، حـال داچـې (نـوع) یوازې د انشاء طرز بیانوي. (برزین مهر، ۱۳۸۲ل، ۱٦ او ۱۷).

سیروس شمیسا بیا په خپل اثر(انواع ادبي) کې نوع د (مانا او جهان بینی) په مانا کاروي او سبک د ( صورت، کلمې او د بیان طرز) ته وایي، که چېرته موږ کوم اثر را ژباړو د هغه نوع (مانا او جهان بیني) پرځای پـاتې کېـږي او د سبک ( صورت، لفظ او د بیان طرز) تغییر کوي. (شمیسا، ۱۳۸۳ل، ۵۰).

نوع، سبک او سبک، نوع ته اړتیا لري، بلکې دواړه سره لازم او ملزوم دي، ځکه هر ادبي اثر د ادب له (نوعو) څخه یوه نوع ګڼل کېږي او په عین حال کې سبک هم لري، لکه د ښکارندوی غوري او د خوشحال خان خټک ځینې بوللې چې په نوع کې یوشان دي، مګر سبک یې بېل دی، په سبک کې دوې موضوعګانې شاملې دي ؛ فکر یا مانا او صورت یا جوله نو د هر ادبي اثر ځانګړنې د هغه سبک منځ ته راوړي او هغه له ورته آثارو څخه غوره او بېلوي.

هر ادیب د خپل فکر د بیان لپاره د خپلو هنري اسلوبو پواسطه هنري مواد کاروي او ځانګړي انځورونه د حس په ځانګړي قالب سره پنځوي. د هر چا تجربې، فکر او کړنه د بل چا له تجربې، فکر او کړنې سره بیخي یوشان نه وي، په دې وجه هر پنځوونکی د خپلې پنځونې لپاره ځانګړې لارې چارې لري. په بله وینا د هر ادیب سبک په خپله په ادیب پورې ځانګړی دی ا و د هغه له شخصیت سره متناسب دی، له دې کبله دسبک مسایل شخصیت دی. د (لون ګېزس) په نظر د هر چا سبک پخپله هماغه شخص دی. (برزین مهر، ۱۳۸۲ل، ۱۷او ۱۸).

فردونګ پېټر peter verdonk د سبک د تعریف په تړاو لیکي: (( د متمایزې ژبې بیان ته سبک وایي خو دې نکتې ته باید پاملرنه ولرو چې څه شی د دې سبب کېږي چې بیان متمایز شي، ولې داسې بیان په کار وړل شوی دی او د هغه اغېز څه شی دی؟ ( البته دغه نکته یوازې په ژبې پورې منحصره ده. ) په دغه ترتیب کولای شو د سبک پېژندنې اړوند تعریف په دغه محدوده کې لاسته راوړو.(فردونک، ۱۳۸۹ل، ۱۸).

سبک د ادبي اثر د وجود هغه لازمي برخه ده چې د ادیب له ارادې سره سم په پنځونه کې د موضوع او موادو په وجود کې سا اخلي. د موضوع او موادو د ښې څرګندتیا په موخه د خپل پنځوونکي ځواک په را څرګندېدو سره د موضوع، موادو او بیان په ترڅ کې د ادیب شخصیت او انفرادیت هم ورسره د را ښکاره کېدو یا ځلېدو لار خپله کړي. په همدې سبب سبک ته شخصیت وایي.

له سبک څخه موخه عموماً د لیکلو طرز موخه وي. له دغه عمومي خیال څخه سبک یوازې د خیال څرګندولو یوې ذریعې یا د بیان زور یا د کلام د زېور په سترګه ورته کتل کېږي، حال دا چې سبک له دغو پوړونو څخه ډېر لوړ دی.

عثماني زیاتوي: ((په اصل کې سبک له څلورو څیزونو څخه عبارت دی؛ (۱) شخصیت (۲) انفرادیت (۳) پنځولتوب (۴) څرګندتیا. ))(عثماني، ۲۰۱۷ز، ۱۱).

پورته له څلورو توکو پرته د سبک بحث نه بشپړ وي او نه هم پرېکنده. په دوی کې څرګند توکی پنځونه ده ( تخلیقي کړنه او تخلیقي رویه ) پر دغه بنسټ د سبک کار له عمومي یا کارو باري یا معمولي لیکنو سره نه دی، یوازې له پنځول شوو لیکنو سره یې کار دی. له پنځوونو څخه پرته ( د شخصیت او انفرادیت په شتون کې ) سبک خپل تشخص نشي را منځته کولای.

سبک یوازې د لیکنې طرز او د څرګندولو طریقه نه ده، د لیکنې روش د هر لوستي یا لیکونکي شخص په صلاحیت کې دی، ښه یا معمولي، له روڼ او شفاف روش څخه کوم محرر، منشي، عریضه لیکوال، وکیل، افسر یا د هر پوړ دفتري کس له ورځنۍ غوښتنې سره سم په خپل کار و بار کې لیکنې کوي. دغه کارو باري، دفتري، یا عمومي لیکنې (غوښتنلیک، خطونه، معاهدې یا نور ) که څه هم د ښې، پخې یا انفرادیت خوا ته هم حرکت کوي، مګر دغه ټولې لیکنې بیاهم د سبک له بحث څخه لرې یا بهر دي.

د هنر او ادب په نړۍ کې چې کوم سبک تر بحث لاندې نیول کېږي هغه بې له پنځونې (تخلیقي ځواک، تخلیقي کړنه او تخلیقي رویه ) سره په تړاو منځته نه راځي.

سبک د پنځګر د پنځونې په منځ منځ کې را پیدا کېږي خو دې خبرې ته پام په کار دی چې سبک د مصنف د تمدني شخصیت ( روایت، اکتساب، ریاضت، ژوند او کره‌کتنیزې پوهې ) په رڼا کې رامنځته کېږي. سبک له دغو تهذیبي پوړونو څخه تېرېږي اوادبي روایت ته ځانګړنه ور ښښي.

سبک د پنځونې، شخصیت، انفرادیت او روایت لاسته راوړنه ضرور ده خو که لږ مخکې لاړ شو سبک د ادبي روایت، د ادیب شخصیت او انفرادیت په خپل عهد کې پنځونه، چاپېریال او ژوند، ځمکه او ژبه کې د ټولو ځانګړنو او ښکلاوو عکاس، وارث او امین ثابتېږي؛ روایت، شخصیت او ښکلا د نویو امکاناتو تلاش او د دغو تلاشونو په صورت کې پنځونه همېشه زړه راکښونکی وي. (عثماني، ۲۰۱۷ز، ۱۱ او ۱۲).

عبادیان هم په دې نظر دی چې سبک یو ادبي اثر ته په یوه ځانګړې وجهه خپل ځان د صورت او مانا له محې القاء کوي چې دا هم د ویناوال او لیکوال د فکري طرز له مخې د حقیقت په اړه وي لنډه دا چې (( سبک په خپله عامه مانا د نړۍ پېژندنې یو ډول ادبي حقیقت دی چې د نوموړي حقیقت د لاسته راوړنو ځانګړنې ( که منظوم یا منثور وي ) مشخصوي.))(عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۱۵).

یا ویلای شو سبکپوهنه هغه پوهه ده چې په لوستو او یادولو یې موږ د ګڼو لیکوالو تر منځ د هغوی د لیک پر توپیرونو خورا پوهېدلي شو. یا په بله مانا دا هغه پوهه ده چې د سبک په اړه بېلابېل بحثونه په خپله غېږه کې لري. په دې اړه محمد تقي بهار لیکي: (( دانشي که از مجموع جریان سبکهای مختلف یک زبان بحث میکند (( سبک شناسي )) نامیده مېشود. ( بهار، ۱۳۸۲ل: بیست ).

له پورته تعریفونوڅخه چې څه لاسته راځي دا دي چې سبک د لیکوال او ویناوال له فکر او ذهن څخه تومنه اخلي او هغه چې بیا سبک ته ځانګړی یا فردي رنګ ورکوي هنري لید او کتل، عیني واقعیتونه او د ژوند کونې فکري طرز دی، که دا عمل وي چې د انسان له پنځوونکي ځواک څخه را منځته کېږي چې د هغه له نظري او عملي فعالیتونو څخه جدا نه دي، بلکې هماغه ډله ییز اغېز دی چې له بهرنۍ نړۍ څخه یې قبلوي او هغه د فکري لید په رنګ یا عاطفي رنګ ور اچوي. ( عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۱٦).

د سبک په تړاو ځینې نور تعریفونه راوړو، فرانسوي پوه بفون لیکي:(( سبک پـه خپلـه د ادیـب ذات دی.))، انګریزي نثر لیکوال او تاریخ پوه ګبن لیکي:(( سبک د کردار یا شخصیت انځور دی.))، همـدا ډول امریکـایي شاعر ایمرسن لیکي:(( د انسان سبک د هغه د ذهن لوړوالی دی.))(بېګ، ۲۰۰۴ز).

پورتني تعریفونه هم یو څه د تأمل وړ دي.

د هغه ادیب په تړاو چې د سبک څښتن دی ځینې په دې نظر دي چې سبک د یو ادیب له شخصیت څخه زېږي، سبک او شخصیت یو د بل لازم او ملزوم دي. د ستر والتر پېټر په خیال یـو عـام یـا رویـاتي لیکـوال هـیڅ تصور نه لري، د تصور ځانګړنه د هغه لیکوال په برخه وي چې د خپل سبک څښتن وي، سبک لرونکی ادیب د بصیرت خاوند وی، نوموړی د کلمو د کارونې سمه پوهه لري، دغسې ادیب کلام او بیـان یـا د لیـک څرګندونـه عادي څیز نه ګڼي. په خپله لیکنه او پنځونه کې د تکرار، کلیشه یي کلمو، جملو او خیالونو لـه راوړلـو او یـا هـم پخپله پنځونه کې له تصنع څخه ځان ساتي. نومـوړی د ژبـې د سـمې کـارونې پـه تـړاو ځانسـاتې او منځنـی لار خپلوي چې ادبي اثر یې د هر چا لپاره په زړه پورې وي. (ایاز، ۲۰۰۶ز، ۱۶۷ او ۲۶۸).

سبکپوهنه نه شو کولای ځانګړې پوهه و بولو، بلکې دا د علومو او فنونو ګډه بنه ګـڼلای شـو چـې د بېلابېلـو پوهنو په رڼا کې را څرګندېدلای شي نو هغه څوک چې په سبکپوهنه کار کوي باید له لاندې پوهنو سره اشنا وي:

**۱. ۱. ۱. حکمت او علوم:** د هر لیکوال یا ویناوال سبک له بهرنی نړۍ څخـه د هغـه د پـوهې او لیـدلوري د طرز زېږنده ده. دا چې هر څوک نړۍ د خپلو سترګو له کولکونو څخه ګوري. موږ هم باید د لیکوال د سـبک د مطالعې پر وخت هماغه معنوي چاپېریال ځانته جوړ کړو، دې موخې ته د رسېدو لپـاره بایـد پـه لانـدې علومـو برلاسي ولرو:

**۱. ۱. ۱. ۱. د ادیانو علم:** لیکوال یا ویناوال په یو ډول نه یو ډول د مذهبي افکارو تر اغېز لاندې راځي یـا تـرې اغېزمند وي موږ د روښانیانو، خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا، حافظ الپوري یا نـورو شـاعرانو د سـبک د څېړنې پر وخت باید له اسلامیاتو څخه خبر و اوسو.

**۱. ۱. ۱. ۲. فلسفه او عرفان:** فلسفي چاپېریال د لیکوال یا ویناوال پر روحیه اغېز ښندي د بېلګې په ډول د میرزا خان انصاري د دیوان د سبک د څرګندتیا پر وخت د وحدة الوجود له فلسفې سره اشنایي اړینه ده او له عرفـاني مسایلو سره هم باید اشنا و اوسو.

**۱. ۱. ۱. ۳. علوم:** هر پنځوونکی د لیکلو پر وخت د خپلو معلوماتو تر اغېز لاندې واقع کېږي، دا بـدیهي خـبره ده چې د یو منظوم یا منثور اثر د ځینو رموزو د پیداکولو لپاره لومړی له هغو علمو سره اشنایي حاصله کـړو چـې شاعر له هغو سره اشنایي لري. د بېلګې لپاره د خوشحال بابا د سـبک د پېژنـدلو لپـاره بایـد د یوولسـمې هجـري پېړۍ له طبابت، نجوم، ریاضي، ټولنپوهنې سره باید بلد و اوسو.

۱. ۱. ۱. ۴. **عمومي تاریخ**: د یو شاعر یا نثر لیکوال د معنوي چاپېریال د پېژندنې لپاره باید د هغه لیکوال یا شاعر د وخت له سیاسي، اجتماعي او علمي تاریخ څخه خبر و اوسو.

۱. ۱. ۲. **ادبي فنون:** لرغوني او اوسني کره کتونکي د ادبي فنونو په اړه اختلاف لري خو هغه څه چې په سبک کې ډېر اړین دي لاندې یې راوړو:

۱. ۱. ۲. ۱. **معاني او بیان:** د نورو شاعرانو پر وړاندې د شاعرانو او لیکوالو ځینې سبکي ځانګړنې د لفظي او معنوي صنایعو د کارونې له مخې را څرګندېږي.

۱. ۱. ۲. ۲. **قافیه پوهنه**: د قافیې د سمې یا نا سمې کارونې او بدلونونو په اړه پوهه لرل اړینه مسئله ده چې یو سبکپوه پرې پوه شي.

۱. ۱. ۲. ۳. **عروض:** د شعرونو د وزنونو او د سم او ناسم شعر د تشخیص او اصلاح لپاره پر عروضو پوهه لرل.

۱. ۱. ۳. **د نثر او شعر کره کتنه:** د نظم او نثر د سمې او ناسمې تشخیصونې لپاره باید د شاعر د وخت له سبکي جریانونو سره اشنایي ولرو.

۱. ۱. ۴. **ادبیاتو تاریخ:** د ادبیاتو تاریخ او سبکپوهنې تر منځ نږدې اړیکه ده او هر یو داسې فکر کېږي چې یو بل دي.

۱. ۱. ۵. **د پښتوژبې پښویه:** د ا څرګنده خبره ده چې د یو شاعر د سبک د څېړلو پر وخت ځینې ځانګړنې د ژبنیو قواعدو د کارونې له مخې را څرګندېږي. (بهار، ۱۳۸۲ل، شلم او یو ویشتم ).

## ۱. ۲. د پخوانیو شاعرانو په اثارو کې د سبک مفهوم

د پښتو ادب په دویمه دوره کې د سبک لپاره بېلابېلې کلمې (ساز، طرز، څېر ، طور او اسلوب) د ګڼو په ډول کارول شوي دي، د (طور) کلمه بیا څو شاعرانو د ( سبک) معادل راوړې ده چې دلته یې د بیتونو په راوړو بېلګې راوړوو. عبدالحمید مومند د سبک لپاره د (ساز) کلمه کاروي.

چې هېچرې په فارسي کې مونده نه شي　　　هسې ساز دی حمید ایښی په پښتو کې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱).

قلندر چې د خوشحال خان هممهالی شاعر دی، د سبک لپاره د (طرز) کلمه راوړې:

نوی طرز مې په پښتو شعر کې وکړ　　　د افغان په شاعرانو کې سلطان یم
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۶۸).

نجیب د سبک لپاره (طور) کلمه راوړې ده:

ما نجیب هم په دا طور غزل و وې　　　که ویلی دوېزي عبدالرحمن دی
(نجیب، ۱۹۷۲ز، ۲۷۳).

کاظم خان شیدا د سبک لپاره بیا په خپلو شعرونو کې د (طرز او طور) دواړه کلمې راوړې دي:

بې سوختنه یې مردن وي لکه شمع د شیدا طور یو څه مشکل پسند دی
(رفیع، ۱۳۷۰ل، ۷).

ما چې دا کلام ادا کړ نوی طرز مې را پیدا کړ
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۸۸).

میرعلي میرا بیا د سبک لپاره (څېر) کلمه کارولې ده:

چې مې شعر د رحمان د شعر په څېر شه په شعارو کې په هسې دباب خوښ یم
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۴۵).

د یونس خیبري په دیوان کې تر ټولو شاعرانو سبک ته نژدې کلمه (اسلوب) چې ریښه یې له سبک سره یوه ده او همدا ډول په عربي او اردو ژبه کې همدا د (اسلوب) ګڼه د سبک لپاره کارول کېږي راوړې ده:

ډېر ګویي څه بداېي نه ده یونسه لر کلام بویه په فهم په اسلوب
(یونس، ۱۳۵۶ل، ۳۱).

### ۱. ۳. د سبک شالید

د سبک اړیکه د انسان له وینا او لیکنې، د تفکر له طرز او د ژوند له تجربې څخه یو شی دی چې له لرغونو څخه د لیکوال او د لیکنې هنر اړوند د نظر د درلودونکو د پام وړ ګرځېدلی دی.

سینکا رومي لیکوال سبک د انسان د ختې او روح څرګندوونکی ګڼلای دی او خبرې یې د انسان د ژوند له حرکت سره ورته کړې دي.

لومړني کسان چې د سبک او خبرې سنجونې په اړه یې فکر کړی دی رومیان دي. هغوی سبک د خبرو د پوړ ټاکلو لپاره کاراوه. ( سیسرون ) او د روم نور ګڼ ژبور تل د بیان او وینا والی پر څرنګوالي پاملرنه لرله او د وینا والی هنر اړوند پر اغېزمنتیاوو یې ښه رسا خبر ول. دوی سبک یو له بل څخه په درو ( لوړ )، ( منځنی ) او ولسي (عامیانه) بېلول او د لوړ سبک لپاره یې د کلاسیکې دورې لیکوالو ( سوفوکلس) او ( افلاتون ) لیکنې بېلګه کولې. هغه څه چې په هغه مهال کې ډېر د دوی د پاملرنې وړ و د لیکوال او ویناوال د سبک ځانګړتوب (فردیت) و.

په منځنیو مېلادي پېړیو کې د سبک مفهوم د حقوقي دفترونو په منځ کې کارېده. د نقاشۍ او مجسمې جوړونې هنرونو له پرمختګ سره یې د کارېدا نور ځایونه پیدا کړل او د ادبي ( طرز ) معادل یا مترادف شوه.

د اوولسمې پېړۍ فرانسوي انځورګر ( پوسن ) سبک د ( هنري جلوې ) په نامه پېژانده.

لومړنی څېړونکی چې سبک يې د اندازه کوونې په بڼه د هنر د تفکيک لپاره په مختلفو تاريخي دورو کې پـه کار وېووړ د اتلسمې زېږديزې پېړۍ الماني ليکوال او څېړونکی ( وينکلمن ) و چې د لرغوني يونان د هنر تاريخ اثر يې وليکه. نوموړي په دغه اثر کې هڅه کړې د لرغوني يونان د هنر سبکونه سره څرگند کړي او هنري آثار پر دغې لار سره ډلبندي کړي، هغه د خپلو څېړنو په پای کې دې پايلې ته ورسېد چې د لرغـوني يونـان د هنرونـو ځانگړنې ( سادگي، شکوه او لوړ آرام ورکوونکې) دي. د هغه په باور په هنر کـې د ښـه سـبک د کـارونو لاسـته راوړنه د هنري ارمان تجسم او ښکلا پېژندنه ده، لکه څنگه چې اوبه زلال دی چې لـه چينـې څخـه خـوټکېږي. دغه شان اوبه که ککړې نه وي او بې مزې وي خورا سالمې وي، ځکه لـه هـر ډول بهرنـۍ ککړتيـا څخـه سـاتل شوې وي. دغه ډول سبک چې د لوړې کچې له سبک څخه را زېږېدلی وي ( وينکلمن ) ورته د کلاسيک نـوم ورکوي.

د اتلسمې پېړۍ را په دې خوا په هنر کې کلاسيک طرز تر پوښتنې لاندې راغی او په پايله کې ( لوړ سـبک ) د رومانتسيزم ښوونځي استازو تر نيوکو لاندې و نيوه. دوی د هنر (نبوغ) او (طبيعي وړتيا) ښکاره کړه او د هـنر د موازينو او د کلاسيک سبک د کليشو پر وړاندې يې راوړل. د ( بوفـون) مشـهوره خـبره ( سـبک پخپلـه ليکـوال دی.) د دغې دورې يادگار دی. دغسې خبرې د هنرمندانو د درک د بدلون سبب شوې او په هنري سبک کې د نوي والي د فکر بنسټ وگرځېدې. په دغه ډله کې يو هم الماني شاعر (گويته) و چې د لومړيـو کسـانو پـه ليکـه کې راځي. هغه په خپله رساله ( د طبيعت ساده تقليد، د سبک طرز او ارابـه ) درې پړاوونـه يـې د هـنري اثـر پـه پنځونه کې تشخيص کړي:

۱. د موادو او مصالحو اړوند ذهن او سترگې پټول، بيا په دغو موادو اومصالحو کې باريک او ژور سوچ کول، د مطالعو د کار په منظور د لاس او احساس پالل.

۲. دويم پړاو په نوي ډول د ( ارايې طرز) په کار وړل دي. په دغه پړاو کې هنرمند ځـان لـه تقليـد څخـه لـرې باسي او هڅه کوي هغه څه و پنځوي چې ذهني او احساسي لوري کې را څرگند شي، د دغه کار لپاره ځـانگړې ژبه (چې په خپل فکر کې يې لري.) په کار وړي چې خپل ادبي او هنري فکر او تصور ته داسې لـوری ورکـړي چې پخپله هغه مناسب اثر گڼي چې په خپل لاس کې يې لري. په دې ډول کومه موضوع چې پـه لاس کـې يـې لري ځانگړې بڼه ور ببښي.

۳. په درېيم پړاو کې هغه اثر چې په کوم سبک کې مناسب او وړ گڼي او زمينه يې ورتـه برابـره کـړې ده پيـل کوي ، هغه صيقلوي او وروستۍ ځلا ور ببښي.

گويته په دې گروهه و چې د طبيعت تقليد د موضوع له د ننه چې شاعر هغه خوښوي(ټاکي) او غـواړي هغـې ته هنري لوړاوی ورکړي، سرچينه نيسي. د هغه په نظر ( د ارايې طرز ) ډېری وخت د موضوع او مصالحو په برنامه جوړونه کې په کار راځي او سبک د ژور ليد او پېژندنې بيانوونکی دی چې هنر مند يې د پديدو له ماهيت څخه زده کوي او له هغه څخه د هنري موضوع په را منځته کونه او د هنري منځپانگې په ملتيا مخته ځي. گويته په دې

فکر و چې د دغو درو پړاوونو د لاسته راوړنو پر بنسټ دا امکان را پیدا کېږي. د موادو، موضوع او ادبي برنامې مناسب سبک د خوښولو په واسطه کولای شو ادبي اثر ته متناسبه بڼه او جوړښت ورکړو. د سبک ګډون له موادو او موضوع سره هغې ته اصالت، روح او شخصیت ورکوي.

د المان په کلاسیکه فلسفه کې بل کس چې د سبک په اړه یې نظر ورکړی دی ( هګل ) دی. نوموړي د (هنر فلسفه) تر سرلیک لاندې سبک مطرح کړ. هګل سبک د (ارایې طرز) او ( ادبي اثر اصالت ) په نومونو و څېړه. د هغه په خبره د ادبي اثر اصالت هغه دی چې په سبک پورې تړاو لري. سبک د پنځوونکي ادبي اثر ته ژوند، تلپاتې والی او ارزښت ورکوي.

هګل سبک داسې را پېژني: (( سبک په بشپړ ډول د انسان د خپل ذهن ځانګړنه ده چې د بیان طرز او د ژبې د امکاناتو په رڼا کې د کار وړنې لاره ده او په ښه ډول د هغو پېژندل دي. پر دغه بنسټ سبک تجسمي طرز دی چې هم د هنري موادو له شرایطو سره برابر دی او هم د هنر له غوښتنو سره یاري لري او هم له هغو قوانینو سره چې د یوې خبرې د مفهوم له غوښتنو سره چې په دوی کې لیدل کېږي مناسبت لري.))

د سبک پېژندنې اصطلاح د نولسمې میلادي پېړۍ له وروستیو څخه ارزښت پیدا کړی دی او بېلابېل اړخونه یې را خپل کړي دي. په دغې برخه کې څېړونکو او د نظر څښتنانو نویو نظرونو ته لار پیدا کړه چې له دغو څېړونکو څخه یې یو هم ( ولفین ) دی چې ادبي هنري او ادبي ښکلا ته په پاملرنه په عیني واقعیت سره څېړنه کوي. هغه د ادبي موضوع د مانایي توکي لپاره په ځانګړي ارزښت قایل دی او په دې باور دی چې سبک د لیکوال یا شاعر د ربښتینې نړۍ د واقعیت توکی دی چې د هغه په موادو کې راټوکېدلی او هم فکر ورکوونکی دی.

بل کس ( پانوفسکي ) دی، دی ګروهمن دی چې د یو ادبي یا هنري اثر سبک کولای شو د هنري او ادبي ارزښت په وړاندې را څرګند کړو. پانوفسکی د سبک تاریخي پاتېکېدل د هنري او هنري فرهنګي عینیت سبک ګڼي او د سبک په څېړنه کې په دې ګروهمن دی چې کولای شو د هنري اثر د موضوع او موادو له څېړنې څخه یې پیل کړو او تر دې وروسته د ادبي اثر د لوړو ارزښتونه چې دغه سرلیک ته ( بنسټیزه مانا ) ورکوي، لار پیدا کړو.

پورتنی بحث د دې لپاره و چې د سبک او سبک پېژندنه د شلمې زېږدیزې پېړۍ له لومړیو لسیزو څخه د ځینو معاصرو علومو د رشتو، لکه د بېلګې په دول ژبپوهنې، ټولنپوهنې او ارواپوهنې په ملتیا را مخته شوې ده.(عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۱۴ـ۱۹).

## ۱. ۴. په پښتو ادب کې د سبکپوهنې بهیر

کاندید اکادمیسن محمد صدیق روهي په (ادبي څېړنې، ۱۳۶۰ل) اثر کې د سبک پر لغوي او اصطلاحي ماناوو یوڅه څرګندونې لري او د ګډو ځانګړنو له مخې یې د سبک اووه ډولونه را پېژندلي دي خو په عملي بڼه پکې څه نه لیدل کېږي، پوهاند صدیق الله رشتین (د پښتو ادبي مکتبونه، ۱۹۸۸ز) تر سرلیک لاندې په ډېره لنډه توګه نوموړې موضوع څېړلې چې د اثر ټولې پاڼې یې (۵٦) کېږي، محمد حکیم تنیوال هم (د پښتو شعر

سبکونه، ۱۳۸۲ل) تر سرلیک لاندې نوموړې موضوع څېړلې چې د روهي څرګندونې یې را اخیستي او نوره موضوع یې د سبک پر ځای د شاعرانو په لنډه تذکره پای ته رسولې ده، پوهنوال دکتوراجمل ښکلي (سبکپوهنه، ۱۳۹۰ل) تر سرلیک لاندې یو اثر خپور کړی چې د موضوع اړوند لارښوونې پکې راوړل شوي او د پښتو منظوم ادب په اړه پراخه عملي څېړنه پکې نه تر سترګو کېږي، پوهاند محمد رفیق رفیق ( په افغانستان کې د پښتو معاصر شعر سبکونه، ۱۳۹۱ل) تر نامه لاندې اثر خپور شوی دی چې یوازې د وروستی دورې اړوند په خپله لمنه کې د سبک تر سرلیک لاندې یو څه لري او له مخکینیو دورو سره څه پرتلیز څرک پکې نشته چې د پښتو منظوم ادب د ودې بهیر پکې راوړل شوی وي، همدا رنګه پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار (د پښتوسبکپوهنه، ۱۳۹۶ل) تر سرلیک لاندې اثر خپور کړ چې د سبک په اړه ډېرې کمې لارښوونې لري او هغه هم ډېری ژبنی سبک په خپل بر کې نیسي.

د (ادبي څېړنې) لیکوال د سبک اووه ډوله وېشنې ته اشاره کړې چې دلته یې په لنډون سره راوړو:

**۱- دمصنف په نوم:** ځینې سبکونه د مصنف، شاعر یا لیکوال په نوم شهرت لري، لکه د هومر سبک، د ملټن سبک، د شکسپیرسبک، د دانته سبک، د خوشحال خان خټک سبک، د عبدالرحمن بابا سبک، د عبدالحمید مومند سبک، د منشي احمدجان سبک او داسې نور.

**۲- دوخت په نوم:** ځینې سبکونه د وخت په نوم یادېږي، لکه معاصر سبک، ترشکسپیر د مخه سبک، د لاتین ادبیاتو د طلایي دورې سبک.

**۳- له واسطې څخه متاثره شوې سبک**

**٤- موضوعي سبک:** چې د خپل موضوع په نوم یادیږي، لکه قانوني، تاریخي، علمي، فلسفي، کومیډیک یا تراجیک، تعلیمي او داسې نور.

**۵- د مخاطبینو سبک**: هغه دی چې خپل نوم د مخاطبینو له (طبقې) څخه اخلي، لکه ساده اولسي یا عامیانه سبک، مؤدب یا اشرافي سبک او کورنی سبک.

**٦- د ټاکلي هدف او مقصد سبک:** لکه احساساتي سبک، کنایه لرونکی سبک، ډیپلوماتیک سبک او مجلل سبک.

**۷- جغرافیوي سبک:** دا هغه سبک دی چې د یوه جغرافیوي موقعیت په نوم یادېږي. لکه کلیوال، ولایتي، منځني لویدیځ سبکونه او داسې نور، په لرغونو ا دبي مطالعاتو کې ډېري سبکونه په همدې ډول صنف بندي شوي، لکه (Attic)، (Rhodian) اسیایي په تېره بیا د پاړسو پخواني سبکونه معمولاً د جغرافیوي محیطونو په نوم شهرت لري، لکه خراساني سبک، عراقي سبک او هندي سبک. (روهي، ۱۳۶۰ل، ۷۷-۸۳).

اوس به خراساني او عراقي سبک په لنډون سره تر بحث لاندې ونیسو او هندي سبک به لږ په مفصل ډول معرفي کړو:

### ۱. ۵. د فارسي ـ دري مشهور سبکونه

فارسي ـ دري دري مشهور سبکونه د (خراساني، عراقي او هندي) په نومونو سره لري چې هندي سبک يې بيا د نورو ژبو شاعرانو هم په خپلو شعرونو کې دود کړی دی.

### ۱. ۵. ۱. خراساني سبک

نوموړی سبک په دري ـ فارسي ژبه کې د دريېمې پېړۍ له دويمې نيمايي څخه د پنځمې پېړۍ تر پايه پورې دوام کوي. د دې سبک ويناوال په پيل کې له لوی خراسان (اوسني خراسان، افغانستان، اوسني تاجکستان، دماوراء النهرځمکې، ترکستان...) څخه ول نو ځکه د ادبياتو په تاريخ او سبک پېژندنه کې نيمه پېړۍ وړاندې نوموړي سبک ته ترکستاني سبک هم ويل شوی دی. (شميسا،۱۳۸۲ل،۲۰).

نوموړی سبک په تدريجي ډول د نورو د پام وړ وگرځېد او په تقليد يې ورڅخه په خپلو پنځونو کې کار واخيست نو له دې کبله ورته خراساني سبک وايي.

د تاريخ له مخې خراساني سبک د طاهري، صفاري، ساماني غزنوي او سلجوقي دورې په بر کې نيسي. البته اصلي بحث د سامانيانو او غزنويانو په دورو پورې اړوند دی نه په طاهريانو او صفاريانو پورې. دا ځکه چې د طاهريانو او صفاريانو د دور له اتو (۸) شاعرانو څخه (۵۸) بيته په لاس کې لرو چې ډېر ناچيزه شي دی او دا لږ بيتونه نشي کولای د وروستيو شاعرانو د سبک په حيث ځانته ځای پيداکړي. د دري شعر له لرغوني څخه تر اوسه دري يا څلورو سبکونو ته قايل شوی دی:

خراساني سبک، عراقي سبک، هندي سبک او دبيرته گرځېدنې خوځښت (بازگشت ادبي) دا چې موږ سبکونه دري يا څلور گڼو خبره داسې نه ده، بلکې د بيرته راگرځېدنې ادبي نهضت ځانته سبک نه دی، بلکې دخراساني او عراقي سبک تقليد دی.

د نوموړو سبکونو نومونه په خاصو ځايونو (خراسان، عراق او هند) پورې تړاو لري، مگر نوموړو ځايونو ته د شعر په تحول کې کوم دخالت نشته او سبکونه په ټاکلو وختونو پورې اړوند دي. دا بايد څرگنده کړو چې هر سبک په يوځای کې منځته راغلی او په هماغه ځای کې پرمخ تللی او ځوان شوی دی نو ځکه يې د هماغه ځای نوم ځانته غوره کړی دی. (برزين مهر ، ۱۳۸۲ل، ۱۹ او ۲۰).

#### ۱. ۵. ۱. ۱. د خراساني سبک ځانگړنې

۱- ساده گي او سليس والی: په دې سبک کې بديعي صنايع او د کلام نور توکي په ډېره ساده گۍ کارول شوي دي، لکه: تشبيه، بديعي صنعتونه او نور... ، حتی دا هم ويلای شو چې استعاره او کنايه پکې ډېره لږه يا د نشت برابره ده.

۲- په نوموړي سبک کې د کلمو او فعلونو تکرار عيب نه گڼل کېده.

۳- د دې سبک شاعرانو له درنو اوزانو څخه کار اخیسته. د کلام د موزونولو لپاره به یې یو حرف (توری) کشاوه یابه یې مشدد راوړ.

٤- (بر، در، اندر) د تاکید غرض د مصدرونو او ماضي صیغو لپاره کارول کېدل.

د فارسي او دري مصدرونه (شدن، کردن، نمودن، گشتن، گرفتن، ساختن او گردیدن) په خپله اصلي مانا کارول کېدل.

٦- د خراساني سبک ډېرکیو ویناوالو په خپلو نظمونو او قصیدو کې ستاینه راوړله او د خیالي څیزونو پرځای یې واقعیتونو ته پاملرنه کوله.

۷- په دې سبک کې په زړه پورې حماسې، لکه د گشتاسپنامه او شاهنامې په نوم منځته راغلې دي. (برزین مهر، ۱۳۸۲ل، ۲۰او ۲۲).

## ۱. ۵. ۲. عراقي سبک

د سبکونو د بدلون اصلي تحریکوونکي ټولنیز بدلونونه دي. د سلجوقیانو راتگ حالات دې ته برابر کړي و چې خراساني سبک دې پر عراقي سبک بدل شي.

د تاریخ له مخې عراقي سبک د مغلو، ایلخانیانو او تیموریانو په مهال پورې تړلی دی چې په فارسي -دري ژبه کې د اوومې پېړۍ له پیل څخه یې د نهمې پېړۍ تر پایه دوام وکړ.

د نوموړي سبک د نومونې وجه داده چې تر مغلو وروسته فرهنگي هڅې له خراسان څخه عراق ته لېږدول شوې وې (دا کارونه د سلجوقیانو له وخت څخه پیل شوي وو خو خراساني لا له منځه نه و تللی.) لوی شاعران او لیکوال غالباً دعراق له عجمي ښارونو څخه وو. (سمیسا، ۱۳۸۲ل، ۱۹۲ او ۱۹۳).

د مغلو ترحملې وروسته د خراسانیانو روحیې ماتې وخوړه دوی د سولې خبرو ته او همدارنگه د اخروي کارونو د سمون او پر قضا او قدر ایمان لرلو یا هرڅه چې له دوست څخه رسېږي ښه دي د تصوف په لیکو کې دود شول.

په دې دوره کې ځانگړې توجه عرفان او غزل ته ورکړل شوه چې خپلو لوړو پوړیو ته ورسېدل. د دې سبک مشهور کسان سنایي، نظامي، انوري، جمال الدین، ظهیر فاریابي، عطار، مولوي، سعدي اوحافظ دي. (برزین مهر ، ۱۳۸۲ل، ۲۲او ۲۳).

### ۱. ۵. ۲. ۱. د عراقي سبک ځانگړنې

۱- په دې دوره کې لفظي ادبي صنعتونه وکارېدل او همدارنگه استعاره او کنایه هم شاعرانو دود کړه.

۲- دسلجوقیانو تر دورې وروسته د عربي لغتونو کارولو دود وموند، دري ژبو شاعرانو د عربۍ او دیني علومو په زده کړه پیل وکړ او د ځینو لپاره په خپل کلام کې د عربي لغتونو کارول د ویاړ لامل و.

۳- له شپږمې پېړۍ راپه دیخوا د اولیاوو مدحې، همدارنګه مذهبي ګړنې په شعر کې دود ومونډ.

۵- د عراقي سبک په محتوا کې هجوې لار پیدا کړه.

٦- د خراساني سبک خلاف په دې سبک کې د بوللو ځای غزل ونیوه. هر شاعر به د خپل ذوق او احساس څرګندونه په غزل کې کوله. دا چې د ملي احساس ځای ملوک الطوایفی ونیوه په غزل کې د حماسي مضامینو ځای یوازې عشقي او عارفانه مضامینو ته پاتې شو.

مثنوي د صوفیانه شاعرانو لپاره یوه غوره منظوم ځېل شو او ځلوریزې هم په دې دور کې وځلېدې.(برزین‌مهر،۱۳۸۲ل، ۲۳ او ۲٤).

## ۱. ۵. ۳. هندي سبک

د لسمې هجري پېړۍ په جریان کې د پارسي ژبې ځینې شاعران د پارسي شاعرۍ له زړو دودونو څخه و وتل او په خپل شعر کې یې نوې لاره غوره کړه. د یوولسمې هجري پېړۍ په وروستیو او د دولسمې هجري پېړۍ په لومړیو کې دغه نوې شعري لاره خپل لوړ پوړ ته ورسېده، په هند کې اوسېدلو ځینو پارسي ژبو شاعرانو هم دغې نوې لارې ته مخه کړه نو ځکه دغې ادبي لارې د هندي سبک په نامه شهرت پیدا کړ. (هېوادمل،۱۳۷۹ل،۲۱۴).

په دې سبک کې د اشعارو مضامین دقیق شول. د ماناوو باریکۍ او شاعرانه تخیلات په ساده او معمولي کلمو کې دود ومونډ، همدارنګه په ادب کې کنایې پېچلې استعارې، لغز او نور راڅرګند شول چې په لنډه توګه د هندي سبک عمده ځانګړنې ډېرې کنایې او استعارې کارول، د نویو او باریکو مضمونونو راوړل او ورسره خیالي انځورونه په خپل کلام کې ځای په ځای کول، د ګړنو کارول، د متلونو راوړل، تمثیل ته زیاته مخه کول، له ذهن څخه لرې کنایې او استعارې کارول، زیاته مبالغه، د تخیل ډېره ژورتیا، په قصدي توګه بدیع او بیان ته توجه نه کول، بازاري او عامیانه کلمې په خپل کلام کې راوړل، ابهام او پېچلتیا، ایجاز یا لنډون، د بیت د مسرو ترمنځ انډول او تناسب ساتل او غزلیزه شاعري یې زیاتره د مینې پرخواوشا چورلول ښودلای شو.

په دري ادب کې د دې لارې په سرلارو کې صایب تبریزي، بېدل، کلیم او نور دي.(برزین‌مهر،۱۳۸۲ل،۲٤او۲۵).

## ۱. ۵. ۳. ۱. د هندي سبک د پیدایښت لاملونه

د صفوي حکومت په راتلو سره د فارسي ادب په بهیر کې څرګند اوښتون راغی چې بېلابېل لاملونه لري، لومړی لامل یې دا دی چې صفوي حکومت د شعیه مذهب ایدیولوژۍ پر مخ یوړه چې په دې سره یې مدحې او درباري شاعرۍ ته پاملرنه، نه لرله نو په دې سره د بوللې ټغر ور ټول شو. پر مدحې سربېره یې عشقي شعر ته هم کوم ارزښت نه ور کاوه، همدا ډول د دودیزو عرفاني زده‌کړو سره په ټکر کې ول،پبه دې وجه شاعرانو نویو

موضوعګانو ته مخه کړه. له دربار سره د شاعر او شعر د مخه ښې په لامل د هر پوړ وګړو شعر ويلو ته مخه کړه. دغو وګړو بيا د عربي شعر او همدا ډول له هغو باريکيو سره اشنايي نه لرله چې په درباري شعر کې به په پام کې نيول کېدل نو د مختلفو کسبونو له شاعرانو سره، لکه قصاب قاشاني چې کسب يې قصابي و، شاهپور تهراني تجار و، زکي همداني نعل وهونکی و. شاردن په خپل يونليک کې وايي چې شاعرانو به خپل شعر په قهوه خانو کې وايه او ځينې شاعران ، لکه ملاشکوهي او مير الهي همداني پخپله قهوه پخوونکي ول.

کله چې په صفوي دربار کې مدحي شعر خپل ارزښت له لاسه ورکړ نو شاعرانو د پيسو د لاسته راوړلو لپاره د هند دربارونو ته مخه کړه، هلته لا د بوللو بازار ګرم و. کله چې شاعران هند ته راغلل، په دربارونو کې د شتمنۍ او شهرت څښتنان شول نو ورسره د هندوانو له تفکراتو او معارف سره هم لړ او ډېر اشنا شول چې د سبک په بدلون کې دا هم يو لامل کېدلای شي.

د اصفهان پراخېدل او ډول ډول کارخونې جوړېدل او بيا د دغو کارخونو د څښتنانو له ورځنۍ ژبې سره اشنايي هم د دې لامل شوه چې درباري پرمختللې شاعري خپل ځای پرېږدي. (شميسا، ۱۳۸۲ل، ۲۸۴ ــ ۲۸۷).

د پښتو شاعرۍ د هندي سبک سرلارى، پيروان او د ځانګړنو بشپړ بحث به د عبدالرحمن بابا تر سبک وروسته راوړل شي.

## ۱. ٦. د خراساني، عراقي او هندي سبک توپيرونه

خراساني سبک د جولې له مخې بوللـه و پاللـه، په عراقي سبک کې غزل لوړ مقام ته ورسيد او په هندي سبک کې غزلې نوی رنګ واخيست اوله ډېرو باريکو نکتو سره مخې ته راغله.

په خراساني سبک کې ساده والی او د خپلې ژبې کلمو کارولو دود درلود، په عراقي سبک کې ادبي فنونو زور واخيست او عربي ژبه هم په ادب واکمنه شوه، په هندي سبک کې بيا د مانا باريکيو او د نويو مضامينو راوړلو ته ډېره پاملرنه وشوه.

په خراساني سبک کې په اشعارو کې دکلمو تکرار ليدل کېږي چې په عراقي او هندي سبک کې دا څيز په سترګو نه ليدل کېږي.

په خراساني سبک کې د قصيدو موضوع ستاينه وه چې بيا په عراقي او هندي سبک کې د قصيدو بازار سړېږي او غزل ته مخه کېږي.

په عراقي سبک کې د بادشاهانو پرځای د اولياوو ستاينو شعر ته لار پيدا کړه.

د خراساني او عراقي سبکونو پر وړاندې په هندي سبک کې ډېرې کنايې او استعارې، د نويو او باريکو مضامينو راوړل، دګړنو او متلونو کارول، شعرته تمثيلي بڼه ورکول، زياتې مبالغې او ژور تخيل ته شاعرانو مخه کړه.

### ۱. ۷. د سبک په اړه د ژبپوهانو او ادبپوهانو اختلاف

د سبک په اړه چې کله هم فکر کېږي باید د لیکوال دواړه خواوې ( ژبه او ادب ) په پام کې ونیـول شي. کـه چېرته موږ یوازې پر ژبه تکیه وکړو نو بیا ځنگه کولای شو د عبدالرحمن بابا، میرزاخان انصاري یا نورو شـاعرانو تصوفي او عرفاني خوا له پامه وغورځوو. یا که د خوشحال بابا په کلام خبره کوو د هغه حماسي اړخ هېر کړو.

له بله پلوه د مانا لپاره لوښي همدا کلمې دي چې په ژبپوهنه کې پرې بحث کېږي. د همدغو په وسیله مفاهیم لېږدول کېږي، د دوی کارول او خپل فکر یې په واسطه نورو ته انتقالول بیا د ژبپوهنې بحث دی.

ښه یا روغه خبره داده چې د چا پر سبک نظر ورکوو، موږ باید کلمو او ماناوو دواړو تـه ارزښـت ورکـړوو. د دې خبرې مانا داده چې یوازې د یو لیکوال د سبک لپاره د کلمو، ترکیبونو او د جملو د یووالي مسئله مطرح نـه ده، بلکې په دې اړه د لیکوال یا شاعر د لیدلوري او تفکر یووالی هم په پام کې نیول په کار دي.

که موږ د کاظم خان شیدا په سبک خبره کوو نو په دغه صورت کې د کلمو غوراوی او یووالی همدا ډول د هغه د وړاندې کولو طرز او فکري یووالی هـم د ده د سـبک پـه ټـاکلو کـې کارنـده نقـش لـري او لـه پامـه یـې غورځولی نشو.

موږ کېدای شي تر ډېرې څېړنې وروسته دې پایلې ته ورسېږو چې د تفکر او ژبې تر منځ نېغ پـه نېغـه اړیکـه شتون لري. په هر حال د سبک د جوړښت او رامنځته کېدو بحث ډېر ساده هـم نـه دی. دا هـم رښـتیا دي، هغـه کسان چې له ادبیاتو سره سروکار لري، د ځینو هغو لیکوالو او شاعرانو د اشعارو له یو بل څخه د بېلوالي تشخیص په اورېدو سره کوي. په هر صورت سبک هم د ژبې مسئله ده او هم د فکر. موږ ځانگړې ژبـه او فکـر هـم لـرو چې یوازې په ادبي آثارو کې لیدل کېږي نو له دغې مخې د سبک مسئله یوازې د ادبي څېړونکو او کره کتونکو د پام وړ نه ده، بلکې کلونه کېږي چې د ژبپوهانو پام یې هم ځان ته اړولي او د ادبي سبک پوهنې پر وړانـدې د ژبپوهنیزسبک اصطلاح هم رامنځته شوې ده.

ژبپوهنیزسبکپوه یوازې او یوازې په ژبني سیستم پسې گرځي چې سبک په همدوي کـې رانغښـتی دی. هغـه غواړي یوازې ژبې ته په پاملرنه د سبک څرگنداوی وکړي او منځپانگې ته پاملرنه نه کوي. ټول ځیزونه پـه ژبـه کې لټوي.

### ۱. ۸. مانا او کلمه د یوې سکې دوه مخه

په دې اړه کروچې وایي: ((په جمالیاتي تجربې کې مانا او صورت یا مواد او هیئت په داسې ډول شیر او شکر وي چې د دوی بېلول ناشوني دی.))

سید عابد علي عابد زیاتوي؛ اقبال هم د مانا او لفظ تر منځ دغه گډونویني، اقبال وایي:

اخـتلاط لفـظ و معنـی ارتبـاط جـان و تـن      جس طرح اخگر قبا پوش اپنی خاکستر سی هـی

(عابد، ۲۰۱۱ز، ۱۳).

علي محمد مخلص په دې ډول وايي:

هـر کـلام دی پيمانــه معنــی دانــه ده    پکــې تــولي څــوک غــنم څنــې خمســه

(مخلص، ۴۴۸).

په اصطلاحي بڼه چې سبک په ادبياتو کې کارېږي نو زموږ مراد دا وي چې د يو اديب د ادراک ځانګړی روش او د هغه د افکارو بيان په اړه پوهه ده چې د هغه ترکيبونه، د کلمو غوره والی او جوړښتونو په را منځته کولو غور پکې کېږي، سبک په ادبي اثر کې د صورت او مانا په اعتبار مطرح کېږي او کره‌کتونکي دا ويني چې د اديب د نظر طرز، د حقيقت په څرګندونه کې څه ډول دی نو ويلای شو چې ( سبک ) يوه ادبي ځېړنه ده چې پکې د يو نظم ليکونکي يا نثر ليکونکي د هغو ادراکاتو او د پنځونې پر محرکاتو پوهېږو چې د هغه پنځونه مشخص او ممتازې کچې ته رسوي. (عابد، ۲۰۱۱ز، ۳۴).

عابد علي په خپل اثر کې د پروفيسر مري نظر را اخلي:" که د سبک لپاره د ساينټفيک تعريف کوښښ کوو نو ښکلاييز او کره‌کتنيز اصول به له منځه ولاړ شي. "(عابد، ۲۰۱۱ز، ۴۱).

بل ځای د بفن Buffon نظر د سبک په اړه راوړي: "سبک د اديب دويم نوم دی. "(عابد، ۲۰۱۱، ۶۲).

## ۱. ۹. سبک او هيئت(د کلمو او ماناوو اړيکه)

په دې اړه مو مخکې هم و ويل چې سبک په حقيقت کې له معاني او هيئت يا منځپانګې او پيکر له امتزاج څخه را منځته کېږي. په دې کې هم شک نشته چې ځينې کره‌کتونکي داسې هم شته چې سبک له معاني يا منځپانګې څخه په نظري ډول را بېلوي. د بېلګې په ډول ايس -اليګزنډر په خپله ليکنه (حسن اور دوسرې اصناف اقدار) کې د دې خبرې دعوه کوي چې سبک هيئت، پيکر، شکل يا صورت په فن کې يو ځانګړی حيثيت را پيدا کوي. که موږ د چا په ادبي اثر کې عظمت پلټو نو د اثر منځپانګه، مغز، معاني او مفهوم به په پام کې نيسو، که چېرته د ادبي اثر ښکلا را سپړو نو د هغه اثر هيئت، پيکر يا صورت به زموږ په نظر کې وي.(عابد،۲۰۱۱ز، ۷٦).

شمس العلما حافظ عبدالرحمن د دغې مسئلې په اړه يو حل وړاندې کړی، دی وايي: (( اوربدلي به مو وي چې د معاني عاشقان د الفاظو ښکلا په پام کې نه نيسي او هغو چې د الفاظو په ښکلا يې زړه بايللی معاني يې له پامه غورځولې ده خو دا دواړه ډلې په افراط او تفريط کې لوېدلې دي، که نه مانا بې له الفاظو له کومه شوه او که په الفاظو او ترکيبونو کې مانا نه وي نو د کوم کار لپاره راوړل شول. کار په زړه کې کېږي او ژبه او له ژبې څخه را وتلې کلمې پر هغو دلالت کوي.))( عابد، ۲۰۱۱ز، ۸۰ ).

په ژبه کې د نويو نويو کلمو کارونه د ادبياتو او شاعرانو برخه، بلکې منصب دی. دغه ترکيبونه او کلمې همدوی ولس ته ور رسوي او نامانوس د مانوس خواته وړي.

ابن رشیق په دې عقیده دی چې سبک ډېری پر کلمو تړلی دی د مانا په اخیستنه کې عام سړی او عالم یو شان دی، موږ چې کله هم په شعر کره‌کتنه کوو نو د هغو پر الفاظو یې کوو، د بېلګې په ډول په مانا کې ښوییدنه نه وي بلکې په کلموکې لغزش وي. یا دا چې فلانۍ کلمه بدرنګي راوړي یا فلانۍ کلمې ښکلا را منځته کړې ده یا دغه کلمه بې ځایه راوړل شوې ده، الفاظو په سمه توګه مانا نه ده لېږدول، دا ترکیب سست دی، دا ترکیب چست دی. که چېرته شاعر مانا په ښو کلمو ، ترکیبونو کې وړاندې نه کړي د مانا به هیڅ قدر او منزلت نه وي. (عابد، ۲۰۱۱ز، ۸۱ ـ ۸۵).

د ابن رشیق د نظر په اړه یوازې د حافظ عبدالرحمن نظر بسنه کوي، زه هم په همدې نظر یم چې د لیکنې مانا او بڼه یو له بل څخه نه شلېدونکی توکي دي، که موږ د چا د آثارو له مخې د هغه سبک را برسېره کوو ناچاري یو چې په دغو دواړو خواوو کې یو اړخ له پامه و غورځوو.

که چېر ته موږ په خوږو ساده ترکیبونو کې د پند او نصیحت خبره په منظومه بڼه اورو زموږ فکر د حضرت‌عبدالرحمن‌بابا خوا ته ور ګرځي او فکر کوو چې دا به د هغه شعر وي او یا به د هغه کوم پلیوني ویلای وي یا که په کوم بیت کې د تورې او مېړانې خبره راشي نو فکر کوو چې دا د خان علیین مکان خوشحال خان خټک بابا کلام دی. یوه غزل چې د خوشحال بابا او حضرت عبدالرحمن بابا په دیوانونو کې په یوه بڼه او منځپانګه راغلې وه کره‌کتونکو د خوشحال بابا و ګڼله، لامل یې دا و چې د کلمو غوراوي او منځپانګې دواړو د خوشحال بابا د سبک استازي کوله. نوموړې غزل اوس یوازې د خوشحال بابا په کلیاتو کې شته او د عبدالرحمن بابا له شعري کلیاتو څخه لرې کړل شوه. د نوموړې غزل مطلع ده:

اورنګزېب چې ارایش د تخت و تاج کا    تخت و تاج به یې مرګی تاخت و تاراج کا
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۳).

## ۱. ۱۰. د سبک په پېژندنه کې له درو خبرو سره مخامخېدل

ادبي څېړونکو، لیکوالو او شاعرانو په بېلابېلو وختونو کې د سبک بېلابېل تعریفونه کړي دي او یا یې د سبک په باره کې خپل نظرونه څرګند کړي دي چې کولای شو د دوی دغه تعریفونه په لاندې درو سرلیکونو کې کټګوري کړو: (۱) ځانګړی لیدل لوري (۲) غوراوی (۳) له عامې قاعدې څخه سرغړونه.

### ۱. ۱۰. ۱. ځانګړی لیدلوری

سبک د هنرمند د داخلي او بهرنۍ نړۍ د ځانګړي لید لوري لاسته راوړنه ده چې دا به لازمي د بیان په یو ځانګړي طرز کې ځان ښکاره کوي. د دغه تعریف له مخې که څوک دغې نړۍ ته په نوي نظر ګوري اړ دی د خپل ځانګړي او نوي ذهني انځور د لېږد ( خپل ځانګړي مافي الضمیر ) لپاره باید له نوې ژبې څخه استفاده وکړي، دی به نوي ترکیبونه، جملې او ګړنې په کار راوړي، له ناچارۍ څخه به داسې ګړنې او نومونه وضع کوي یا به کلمو ته د نویو ماناو بار پر اوږو ور اچوي. په دې ډول سره شاعر یا خو د کلام په اړیکو کې تصرف کوي

او یا هم د مجاز، تشبیه، استعارې او سمبول خوا ته مخه کوي چې په نوي لیدلوري ځان د ټولنې په منځ کې راڅرگند کړي.(شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۴-۱۷).

عبدالحمید مومند چې له عبدالرحمن بابا سره یې په یوه سیمه کې ژوند کړی او د هغه له شاعرانه فکر څخه اغېزمن دی او کلونه وړاندې یې بېتونه د عبدالرحمن بابا د دېوان پر حاشیو کښل کېدل، عبدالحمید مومند همدې خبرې ته پخپله شاعرۍ کې اشاره هم کوي:

د حمید شعر دیوان کړ سخندانو — گنه نه به و چا کښلی په حاشو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۶).

عبدالرحمن بابا د دنیا په اړه خپل لیدلوری لري او عبدالحمید مومند هم عبدالرحمن بابا ته ورته لیدل لوری لري خو د جملو، ترکیبونو او بیانپوهنې له مخې یې د سبک توپیر کولای شو. دلته یې زه د (دنیا) اړوند څو بیتونه په پرتلیز ډول راوړم:

عبدالرحمن بابا

هوښیار مه گڼه هوښیار د دې دنیا — بېوقوف دی وقوفدار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۵٦).

عبدالحمید مومند

نه زما ده نه د تا ده دا دنیا — پاتې شوې له هر چا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳).

نور بېتونه یې چې تقریباً یو فکر لېږدوي خو په بېلو بېلو طرزونو:

د طفلانو په څېر واړه خاکبازي کا — هر چې کاندي کاروبار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۵٦).

مناسب نه دي ورتله د لویو خلقو — د هلکو تماشا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴).

زامن لوڼه یتیمان که ځنې درومي — بې وفا دي مور و پلار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا،۱۹۸۷ز، ۵۷).

بېهوده یې زړه تړې په ډنگ ډنگ پورې — د گړۍ مېلمنه ورا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴).

اشنایان یې همه واړه مکاران دي — څه ویسا ده په مکار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا،۱۹۸۷ز، ۵۸).

مروت د اشنایۍ پکې نشته — که اشنا ده نا اشنا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴).

هر سړي لره چې ورشي ځنې درومي — ما لیدلی دی رفتار د دې دنیا

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۵۸).

د یوه غېږ کې پرته و بل ته خاندي — څه لـولۍ او بې حیا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳).

په یوه ګړۍ بهار وي بیا خزان شي — بقا نه لري بهار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا،۱۹۸۷ز، ۵۸).

که ظاهر ښکلي زیبا لیده شي څه شو — په باطن توره بلا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳).

لکه سیوری د افتاب په مخ کې ګرځي — نشته هېچرې قرار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا،۱۹۸۷ز، ۵۸).

په یوه ځای یې ټیکاو هېچیرې نشي — لکه سیوری خوا و شا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴).

هېڅ ګمان د بهترۍ وربانـدې مه کړه — کمتري ده وار په وار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۵۸).

زر په زر به یې خوا ولي له کمره — له هر چا چې خوا په خوا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴).

بې مقراضه غوڅوي د سړي عمر — هم دا لیل او هم نهار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا،۱۹۸۷ز، ۵۸).

په رڼا یې د چا کار نه پوره کېږي — د اسمان برق و برېښنا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳).

لاندې د عبدالحمید مومند او علي خان دوې غزلې راوړم چې وزن او قافیه یې یو شان خو لیدلوری یې توپیر کوي:

خط پر مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې — دا یې غابښ په خوله کې زېب کا که ژاله شوه په لاله کې
هسې رنګ سحر و جادو کا په نظر د شهلا سترګو — نه یې سیال په هند کې شته دی نه ثاني په بنګاله کې
لکه ونښلي مرغۍ په سست دام د سلو لومو — هسې زه پرېشانو زلفو کېستم په کشاله کې
دا زما له غمه شین زړه پکې خیال د یار د شونډو — هسې رنګ زېب و زینت کا لکه مي په شنه پیاله کې
ما ویل عین ګڼه ګل دی د غونچې په لمن نغښتی — که مې کوت یو ګل اندام و پروت په سبزه دوشاله کې
خال و خط په ګلګون مخ کې د دلبرو دا مثال دی — لکه پروت وي غزېدلی خرقه پوش په دوشاله کې
ښکلي مخ کا ولې ناسته په مجلس د ناکسانو — په جوار د سپیو نه وي هېڅ ارام په غزاله کې
سر تر پایه غم د هجر لکه نی سوری سوری کړم — ځکه یم مدام دا هسې په فریاد و په ناله کې
که یار غواړې هومره ژاړه څو درځي عبدالحمیده — دا په دا چې در مونده شي په دریاب نه په ناله کې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱-۳۰۲).

د علي خان غزل

خط پر مخ د صنم راغي که میاشت ګیره شوه هاله کې — که سنبل دي اوس ټوکېږي په اطرافو د لاله کې

سور د خيال په تُند توسن شي د سم قد نېزه ورځخه — د خط شنه زغره اغوستې ځي د جنګ په سنباله کې
که خواږه پاسته ويل کا پرې ډوب نه شې غولول کا — تېګان زهر ورکول کا د حلوا په نواله کې
دا تراخه ويل د ښکلو په تلخئ کې هسې خوند کا — لکه مرچ چې مزه دار دي په دا نوره مساله کې
مدعي د حسن راوړ خط سند په دعوه خپله — د وفا ګواهان نشته د ښايست په قباله کې
شېخ سعدي ويلي حق دي چې ناکس تربيت ناخلي — نېکي ځکه اثر نه کا په ناکس سپي رزاله کې
نن مې يار په شان د تېوقو رانژدې اتفاقي شه — لېونی بخت مې سودمن شه زيات له وېشه په تاله کې
دا په توره شپه کې لمر دی چې راوخوت حيرانېږم — که جبين د يار جلوه کا په مشکينه کلاله کې
که ناسازې زمانه کا اوس به زه ورسره ساز کړم — دا مې ښه روايت بيامونه د هجران په رساله کې
سيند خوني ځلور خيګونه بيا هر يو سره جوړ نه دي — څه به جوړ علي خان ناست وي په دغه ورانه جاله کې

(علي خان، ۱۹۸۸ز، ۸۸-۸۹).

د پورته دواړو غزلو له پرتلې څخه يوه بله نکته چې د کره کتونکو پاملرنه يې ځان ته اړولې ده هغه د شاعر يا ليکوال اروايي اړخ او شخصيت دی.

د ليکوال يا شاعر د ځانګړي ليدلوري لپاره د هغه اروايي اړخ هم بايد په پام کې ونيول شي. د ارواپوهنې په اصطلاح د هر انسان په شخصيت جوړونه کې ټولنه او د هغې اغېز رغنده نقش لري، نو طبيعي خبره ده چې ليکوال او شاعر څه وايي د هغه د معنوي شخصيت او هم څرګند شخصيت زېږندنه به وي.

د فروغ په قول که د ليکوال يا شاعر ليدنه په نننئ ټولنه تکيه ولري، نو ژبه هم خپلې کلمې ځان ته پيدا کوي او هم به د دغو کلمو تر منځ يوه همغږي وي. که څوک نړئ توره تياره ويني په هغه ژبه يې بيانوي چې کرکه او غم به پکې نغښتي وي.

کاظم خان شيدا وايي:

هر مضمون مې طبع زاد دی — کل زما د رای ايجاد دی

(شيدا، ۱۳۸۴ل،۹۰).

يا خوشحال بابا وايي:

په تازه تازه مضمون د پښتو شعر — په معنی مې د شيراز او د خجند کړ

(ختک، ۱۹۶۰ز، ۵۴۳).

دا سمه خبره ده چې کلمه او مانا د يوې سېکې دوه مخه دي او موږ نشو کولای دا يو له بله جدا فکر کړو يا په بله وينا: د ذهن او ژبې تر منځ نېغ په نېغه اړيکه ده.

که موږ د بېلابېلو دورو ادبيات مطالعه کړو د دوی تر منځ به ډېرې توپيرونه راپيدا کړو نو په دغه نسبت د سبک د بدلون يا تغيير مسئله يوازې د قافيو د وړاندې وروسته کولو او په مسرو کې د لنډون او اوږدېدا مسئله نه ده، بلکې د پوهو، ليدنو او ليکنو د تفسير مسئله هم ده. ډېرې سبکپوهان د سبک بدلون د ټولنې سياسي، اقتصادي بدلونونه ګڼي.

پورتنۍ نظر هم پر ځای خبره ده، که د پښتو ادبي تاریخ د ټولنې لـه سیاسي، اقتصـادي او نـورو خـواو څخـه مطالعه شي، ډېرې بدلونونه به پکې ولیدل شي.

یو وخت د مغولو تاړاکونه پر پښتنو سیمو زیات وو، هر ځای پر پښتنو ظلم او زیاتی روان و نـو (مغـل) د ظلـم سمبول شو، څکه خو عبدالحمید مومند وایي:

یوبــه نســم مغلوالــه د رقیــب ســتا　　پــه رښــتیا کــه زېړولــی پښــتنې یــم
کــه پــه نــورو بانــدې ظلــم د مغــل دی　　خــدای غمونــه کــړل دا ســتا مغـل زمـا

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۳۸).

د سبک ډېرې تعریفونه د (ځانګړي لیدلوري) تر سرلیک لاندې راځي:

۱. سبک پخپله شخص دي (بوفن د فرانسې د ۱۹ پېړۍ لیکوال ).
۲. سبک د لیدنې طرز دي ( د فرانسې د لنډو کیسو لیکوال فلوبردی).
۳. سبک د لیکوال د ذهني قیافې پېژندنه ده( شوپنهاور، الماني فیلسوف ۱۸۶۰ز).
۴. سبک د لیکوال د ذهن غږ دي ( د لرګیو مغزونه د لرګیو غړونه لري. ).

پورتنۍ تعریف د امرسون دی یعنې لیکوال چې څنګه فکر او احساس کـوي پـه هماغـه ډول یـې لیکـي. کـه افکار یې ګونګ وي، که افکار یې زاړه او تقلیدي وي نـو ژبـه یـې هـم خنثـی، سـنتي او تکـراري ده. (شمیسـا، ۱۳۸۰ل، ۱۸-۹).

هغه شاعران یا لیکوالان چې نوی فکر لري د هغوی په لیکنو کې هم نوي جوړښتونه رامنځتـه کېـږي. دا هـم ویل شوي دي چې هر څوک د خپل فکر په کچه کلمې لري او په هغو پسې ګرځي، هغه چې فکر نه لري نوي جوړښتونه نه شي رامنځته کولای.

پورتنۍ خبرې موږ د خوشحال بابا، عبدالرحمن بابا، عبدالحمید مومند، کاظم خان شیدا او پـه ځـانګړي ډول په هندي سبک کې لیدلی شو.

د مولانا په قول: له قرآن څخه د الله (ج) بوی راځي، له حدیث څخه د حضرت محمد (ص) بـوی راځـي او زموږ له کلام څخه زموږ بوی راځي. ( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۹).

## ۱. ۱۰. ۲. غوراوی

سبک د کلمو، تعبیرونو او عبارتونو د ځانګړي غوراوي لاسته راوړنه ده. بېلابېل لیکوال د یوې واحدې مانا د بیان لپاره بېلابېل تعبیرونه لري او له بېلابېلو کلمو او عبارتونو څخه استفاده کوي. پر دغه بنسټ د دوي د سبکونو تر منځ توپیر لیدل کېږي، د بېلګې په ډول په پښتو ژبه کې د دې مفهوم په څرګندونه کې ( فلانی مړ شوی ) د ژبنیو له ګڼو امکاناتو څخه استفاده وکړو. ( فلانی مړ شوی، فلانی لاړ، له خپل روح سره یې خدای پاماني وکړه، د فلاني روح والوت، فلاني خپل پور پرې کړ، له دې نړۍ سره یې مخه ښه وکړه، فلانی بلې نړۍ ته لاړ، فلانی له موږ جدا شو، فلاني موږ بېنوا پرېښودو، د فلاني د ژوند شمعه مړه شوه، فلانی ورژېده، فلانی له حق سره پیوست شو، د حق بلنې ته یې لبیک وواېه، خپل روح یې الله تعالی ته وسپاره، په تلپاتې خوب ویده شو.)

یا د داسې کس په اړه خبرې کول چې له خطر ناکې ناروغۍ راګرځېدلي وي،( فلانی روغ شو، فلاني کفن وشلاوه، فلاني کفن څیرې کړ، فلاني قبر په لغته وواهه، فلانی د نوي ژوند څښتن شو، الله(ج) پرې ورحمېده نوی ژوند یې ورکړ.)

پورتني عبارت د احساس د ځوښ ( شدت )، عاطفې، د مانا د څرګندوالي او پټوالي، اغېز، القا او د بیان د غښتلتیا له مخې یو له بل سره توپیر لري. د بېلګې په ډول (فلانی مړ شو) عامه خبري جمله ده او (فلانی لاړ) یو څه صمیمانه برېښي. همدا رنګه ( فلاني خپل پور ادا کړ) او ( د حق بلنې ته یې لبیک وواېه) مذهبي بنسټ لري. همدا رنګه (د فلاني د ژوند شمعه مړه شوه) یا( فلانی ورژېد) ادبي بنسټ لري.

د ژبپوهنې له نظره لیکوال خپلواک دی، چې موخه لرونکې کلمې وټاکي. په دې جمله کې ( پر ما خپل هېواد ګران دی) د (هېواد) پر ځای وطن، ټاټوبی، ملک) راوړلای شوو. که څه هم په سبکپوهنه کې هممانیزې کلمې نشته، بلکې هره کلمه یوه له بلې سره په مانا لېږدونه کې توپیر لري. هر غوراوی باید څرګنده موخه یا د سبک ښودونکې وي.

په ځینو اصولي کتابونو کې راغلي دي، چې په قرآن کریم کې د انسان کلمه ملکوتي او (بشر) چې په څرګنده د انسان مترادف او هممانیز دی د اشرف المخلوقات په بنسټ حیواني اړخ لري نو په دې وجه د (خَلَقَ الْاِنْسَانَ ٥ عَلَّمَهُ الْبَیَانَ ٥ ) (د الرحمن سورت ۳ او ۴ ایتونه).

ژباړه:(( پیداکړی یې دی انسان، بیا یې ور ښوولی دی بیان (د خبرې چې د زړه مقصدونه یې پرې اداء کېږي.) ))(القرانالکریم، ۱۳۹۷ل، ۱۶۴۷).

په پورته ایت شریف کې انسان د ستاینې په مقام کې دی چې موږ نشو کولای دلته د ( بشر ) کلمه د ( انسان ) پر ځای راوړوو او د دې پر عکس په (قُلْ اِنَّمَا اَنَابَشَرٌ مِثْلُکُمْ ٥)( الکهف سورت ۱۱۰ ایت) .

ژباړه:(( و وایه ای(محمّدّ!) بېشکه همدا خبره ده چې زه یو بشر(سړی) یم په شان ستاسې چې وحې راځي ما ته.))(القران الکریم، ۱۳۹۷ل، ۹۲۲).

په پورته ایت شریف کې بشر د تحقیر په مقام کې دی، موږ نشو کولای د ( بشر ) کلمې پر ځای د (انسان) کلمه ـ چې د کلام بلاغت ټکنی کوي ـ راوړو. ( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۲۳-۲۴).

ځکه خو حمزه بابا وایي:

د مذهب دعوه دې پرېږده سړیخوره / ستا دعوه هله صحیح ده چې انسان شې
( شینواری، ۱۱۹۵۶ز، ۱۹٦).

ته که ښه پښتون شوې نو انسان به شې / بیا که ښه انسان شوې مسلمان به شې
(شینواری، ۱۳۹۲ل،۵۰۰).

حمزه ډېر مسلمان شته هم کافر شته په دنیا کې / زه اشنا د هغه کس یم چې روش یې د انسان وي
(شینواری، ۱۳۹۷ز، ۱۱۹).

رحمت الله درد هم د ( انسان ) کلمه په هغه مانا چې الله (ج) په قرانکریم کې راوړې راوړې او هم یې په ننني مانا کاروي:

د انسان مقام خو دا دی چې ځاریږي له انسان نه / دا چې وینې د انسان ځښي دا لا څرنګه انسان دی
(درد، ۲۰۱۳ز، ۲۳۷).

دپورته بحث د ښه و ضاحت لپاره د علي خان بیت راوړو چې د (بشر) کلمه یې په دوو برخو (ب) او (شر) وېشلې ده، دی وا یي د بشر کلمې (ب) یعنې (بد) او (شر) خو هسې هم پېژنئ:

چې د بدو سر او شر وي علیخانه / وکړی مه شه بېهوده د بشر مینه
( علي خان، ۱۹۸۷ز،۱۳۰)

د پورته بحث په اړه موږ د ( رقیب )کلمه د عبدالرحمن بابا، عبدالحمید مومند او حمزه بابا د دیده او غوراوي له مخې په یو یو بیت کې د بېلګې په موخه راوړوو.

مدحه او هجوه د حبیب او د رقیب کړم / د رحمان نه زده بل هجوه بل اوصاف
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۳).

د رقیب طمع مې نه وه ستا په در کې / په جنت کې دې راوښود د بلا مخ
زه به څه رنګ د رقیب و مخ ته ګورم / کله اهل سنت ګوري د ترسا مخ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱٦۳).

لکه ته هسې رقیب په ما غالب دي / که دی سپي دی ستا د در زما صاحب دی
که رقیب هزار بدي کړي زه به نه کړم / ستا له مخه یې ادب په ما واجب دی
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲٦٦).

دا چې ته په هسې راز یې د رقیب / ځکه وړمه زه نا سازې د رقیب
( مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۴).

رامې شي لېمو ته د دیدن په وخت / اوښکې څه ناپوهه رقیبانې دي
(شینواری، ۱۹۵٦ز، ۱۰۰).

هر کله چې د دکتور پوهاند مجاور احمد زیار په مخکې د پوهنوال فضل ولي ناګار خبره وشي نو سم له لاسه وایي (ناګار چې عربي کلمې پیدا کوي پښتو کلمې نه لیکي. ) که ناګار صاحب د ځېنو پښتو کلمو پر ځای عربي کلمې لیکي لامل به یې د کلمې فصاحت وي چې په پښتو  کلمه کې یې هغه ځواک نه ویني.

په هر صورت هر غوراوی هغه که د کلمې، ترکیب یا جملې وي، د عواطفو او احساساتو د ځوښ ( شدت ) له مخې او همدا ډول د اغېز له مخې په ځانګړي ډول په ادبیاتو کې یو له بله توپیر لري.

زه هغه

ډېر
د لېونتوب تر کچې
بې کچې
تر مرګه پورې
د یو ې نړۍ په کچه
د زړه له  تله
تر وروستۍ سلګۍ پورې

خوښوم.

له پورتنیو غوراویو څخه یې یوه نیمه د بلې پر وړاندې خورا ادبي، ځواکمنه او صمیمانه ده. په ادبي متونو کې د غوراوي کړۍ تشبېه، استعاره، تلمیح، متلونه او په بشپړ ډول بدیعي او بیاني نکتې په خپل بر کې نیسي او بیا توپیرونه خورا ښه ښکاره او مانا لرونکي شي. (شمیسا، ۱۳۸۰، ۲۵).

د مشرانو لیکوالو په آثارو کې معمولاً خورا له ښکلو، پر ځای راوړل شویو او اغېزمنو غوراویو سره مخامخ کېږو او د هغوی ټاکنې هنري او سبک رامنځته کوونکی اړخ لري. د بېلګې په ډول مونږ د عبدالرحمن بابا په کلام کې په ډېر زحمت سره هم د یوې غوره کړل شوې کلمې پر ځای بله کلمه نه شو غوره کولای.

زه دې پېژنم په اصل کې خاکي یې          ځان به څو ځنډې په ګوته له تراب
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۴).

په پورته بیت کې که د (تراب) پر ځای (خاورې) راوړوو، موسیقي او فصاحت یې له منځه ځي. یا د خاکي پر ځای د خاورین کلمه راوړو نو هغه خوند چې د (تراب او خاکي) په کلمو کې دی بیا به پکې دا خوند نه وي او ورسره د کبر کوم انځور چې له ځانه سره لېږدوي له منځه به لاړ شي.

ډېرې سبکپوهان خپلسرې غوراوې، تر هغه چې په فکر کولو سره یوه کلمه یا جمله غوره شوې وي ښه ګڼي. د دوی استدلال دا دی چې خپلسرې غوراوې ډېر ځله ښه څرګندوونکې، له مانا ډک، رسا او ټولنیز او اروایي اړخونه راپېژني او په فکر سره غوره شوې کلمې او جملې ډېرې اغېزمنوونکې وي، ښوونیز او بلاغي اړخونه بیانوي.

د سبک د دغو پېژندنو له مخې هغه لیکونه چې مضمونونه یې یو ډول دي، که د دوی جوړښتونه سره وسنجوو باید د کلمو او عبارتونو له توپیر څخه ــ په ادبیاتو کې معمولاً استعارې او تشبیه ګاڼي ــ د دوی د سبک اختلاف ته پاملرنه وکړو نو د دوی د بېلابېلو عبارتونو له مخې د احساس لېږد، عاطفه، څوښ ( شدت )، کمزوري او اغېزمنتیاوې یعنې ( ادبي ماناوې نه مصطلحه مانا ) یو له بله سره توپیر لري. د بېلګې په توګه خوشحال خان خټک د خپل زړښت په اړه وایي:

| | |
|---|---|
| که ښه وایم و چا ته هم یې بد نیسي په زړه کې | یا بخت دی د مغلو یا زما څه عقل کم دی |
| نه بخت دی د مغلو نه زما څه عقل کم دی | دا کل واړه پیري ده چې مې کار درهم برهم دی |
| | (خټک ک، ۱۳۵۸ل، ۲۱۵ او ۲۱۶). |
| نشته هغه در دسرو یاقوتو په دبلي کې | نه هغه نرګس دي نه د باغ هغه نسرین |
| | (خټک ک، ۱۳۵۸ل، ۱۶۵). |

( در ) له غاښونو، یاقوت له شونډو، نرګس او نسرین له سترګو څخه کنایه ده. د ( در ) صفت سپینوالی ګردوالی، یاقوتو صفت سوروالی دنرګس او نسرین صفت خماروالی دی چې غاښونه له درو سره، شونډې له یاقوتو سره او سترګې له نرګس او نسرین سره په دې صفتونو کې شریک دي. کله چې هم د دوی ذکر وشي دا نور نومونه او ذوات ترې ذهن ته لېږدي او د خوشحال خان خټک د زوړوالي انځور ترې را جوتېږي.

عبدالحمید مومند وایي:

| | |
|---|---|
| سپینې ږیرې زما عشق کوټه پیسه کړه | هېڅ یې نه قبلوي ښکلي په سودا کې |
| | (مومند در، ۱۳۸۳ل، ۱۲۴). |

معاصر شاعر ایوب صابر وایي:

| | |
|---|---|
| دا خبرې کیږي اوس زما د کلي جونو کې | سپین وېښته زرغون شو د صابر غریب برېتونو کې |
| | (خټک، ۲۰۰۰ز، ۱۶۱). |

پورته خوشحال بابا د زړښت څرګنداوي د درو په کلمه وکړ چې له غاښونو څخه استعاره ده، عبدالحمید مومند د تشبیه په بڼه د عشق او کوټه پیسې په نسبت د سپینې ږیرې څرګنداوی وکړ او ایوب صابر په ساده بڼه او منظومه ژبه د خپل زړښت پیلامه راوپېژندله.

له پورته بحث څخه دې پايلې ته رسېدی شو چې هر کله ليکوالان د واحدې مانا د بيان لپاره له بېلې بېلې ژبې څخه استفاده وکړي د هغوی د آثارو تر منځ کېداي شي همدا سبکي توپيرونه وي.

د غرب په ادبياتو کې دغه مسئله مشهور ژبپوه هاکت (C. F Hocket) ته منسوبه ده چې ويلي يې وو: « دوې ويناوې په يوه ژبه کې چې تقريباً يوه مانا رسوي خو د جوړښت له مخې سره توپير ولري سبکي افتراق (بېلوالي) لري. »

د هاکټ له دغې نظريې سره مونستانو (Monists) ( هغه کسان چې د کلمې او مانـا پـه تسـاوي معتقـد دي.) اتفاق و نه کړ، دوی ويل چې عبارت توپير پيدا کړ، مانا هم توپير پيدا کوي. دا کېدای نشي چې دوه هممانيـزې ويناوې پيدا کړو چې کلمې يې سره توپير ولري نو پر دغه بنسټ له متحد المضمونه عبارتونو څخه منکر شول.

په هر صورت دغه بحث زموږ په ادبياتو کې کوم نوی والی نه لري، بلکـې د بيـان موضـوع ده. پـه بلـه وينـا د سبک دغه تعريف د بيان له علم سره ورته والی لري، د يوې واحدې مانا ادا کول په بېلابېلو طريقو سره. د دغـې ليکنې لنډيز دا دی چې سبک هماغه د بيان طرز دی او هغه پوهنه چې د واحدې مانا د ادا کولـو بېلابېـل لـوري څېړي، د بيان علم دی. د بيان علم ته د پاملرنې په صورت کې بايد ووايو چې ځينې شاعران اسـتعاره کـاروونکي او ځينې تشبيه کاروونکي دي او پـه بنسـتيزه توگـه د ځينـو شـاعرانو ژبـه د انځـوريز شـدت ( د بيـاني او بـديعي صنعتونو په لرلو سره) ده.

د نوې سبکپوهنې پلار شارل بالي چې د سبکپوهانو په کړۍ کې مشهور دی د لومړي ځل لپاره دا مطلب خپل سرليک وټاکه چې متحد المضمونه عبارتونه د عواطفو او احساساتو د ځوښ ( شـدت ) لـه پلـوه لـه يـو بـل سره توپير لري او دغه توپير سبکي دی. (شميسا، ۱۳۸۰ل، ۲۷ او ۳۱).

### ۱. ۱۰. ۳. د ژبې له عامې قاعدې څخه سرغړونه

يوه بله خبره چې په سبک کې مخې ته راځي، هغه د ژبې له عامې قاعدې څخه سرغړونه ده. که موږ مـذهبي آثار او يا هم د لوړې کچې ادبي آثار مطالعه کړو ډېری به پکې له داسې ځايونو سره مخامخ شو چې د ژبـې لـه عامې قاعدې څخه پکې ليکوال سرغړونه کړې وي او همدا کار يې د دې لامل گرځېدلی دی چې اديب په دغه برخه کې لوړو پوړيو ته ورسوي، يعنې د دغو ليکوالو بلاغي اغېز ته ځوښ ( شدت ) وربښي او په دغو کړنو سره د ليکوالو تر منځ د سبک ځانگړتياوې ټاکل کېږي.

د معاني او بيان د کتابونو له مخې ډېری ځايونه په قرآنکريم کې له دغو مسايلو سره مخامخ کېږوو يـا پـه بلـه وينا د قرآنکريم په متن کې همدغو مسايلو عربان اړ کړل، چې معاني او بيانپوهنه رامنځته کړي او د قـرآن کـريم کلمې په مانا رسونه کې د بلاغت په لوړو معيارونو شرحه کړي.

د معاني او بيان په واسطه عربانو ثابته کړه چې له دغسې گرامري قاعدو څخه وتل يوازې دا نه چې تېروتنه نـه ده، بلکې فصاحت او بلاغت په همدې کې نغښتی دی.

د قرآن کریم  د النحل سورت په (۱۱۲) آیت شریف کې فرمايي: فَاَ ذَا قَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوْعِ وَ الْخَوْفِ ط

ژباړه: « الله جل جلاله هغې ( قريې ) ته د لوږې او وېرې لباس وڅاکه. »

د بيان پوهانو د دې په حکمت کې چې ولې دلته د ( اغوستلو ) پر ځای له څکل (اذاقه) څخه استفاده شوې ده، پراخه بحثونه کړي دي. يا د يس شريف په (۳۷) آيت شريف کې : و ايةٌ لَّهُمُ الَّيْلُ نَسْلَخُ مِنْهُ النَّهَارَط

ژباړه: ((د هغوي لپاره شپه نښانه ده چې له هغې څخه ورځ د پوټکي په شان راوباسوو)) (يعنې راوباسو يې).

د بلاغت پوهانو د دغو مواردو ښکلا او رساوالی د استعارې د بحث په مرسته را څرگند کړ.

سيرويس شمسيا ليکي: « تر هغه ځايه چې زه پوهېږم دغه تعريف د روسيې د فرماليستانو او وروسته د پراگ ښوونځي له تعريفونو څخه دی خو د اولمن له خبرې څرگندېږي چې د ژبې له عامې قاعدې څخه د گرځېدلو سبک د لومړي ځل لپاره د ( بارېل اټري ) کارونه ده. وروسته بيا نورو دغه عقيده څرگنده کړې ده، څرنگه چې شارل بالي او د ده پليوني هم د ژبې له معيار څخه د سرغړونې په کولو پسې روان وو، د ژبې له معيار څخه د سرغړوونکو په ډله کې انکويسټ N E. Enkvist معاصر ژبپوه په دغه اړه بشپړ بحث کړی دی. په المان کې د دغې لارې په استازو کې لئواسپيتز او په فرانسه کې گروډ Gruiyoud ول. اسپيتز په دې عقيده و چې ( ذهني هيجانات چې زموږ د ذهن له عادي چلند څخه سرغړونه لري طبيعي ده چې يوه معادله ژبنۍ سرغړونه زموږ په عادي ژبه کې رامنځته کړي.)»(شميسا، ۱۳۸۰ل، ۳۳).

د معانيو په کتابونو کې يوه گړنه د (څرگندې غوښتنې پر خلاف د کلام اخراج) دا په دې مانا په کار وړي چې د کلام غوښتنه د مخاطب د څرگند حال خلاف وي. د بېلگې په ډول مخاطب بالکل تش ذهنه دی او انکار هم نه کوي نو په دې موقع خبره د تأکيد اړمنه نه ده.

کله ـ کله اسلوب الحکيم ( د حکمت چار ) هم په همدې ښکلاوو کې ځان رابرسېره کوي. د بېلگې په ډول يو چا چا ته وويل: « تاسې څو خوينديې وروڼه ياست؟ » هغه په ځواب کې ورته وويل: ((زه پېغله خور نه لرم.))

مطلب دا که ته غواړې چې له موږ سره خپلوي وکړې نو له دې کاره دې لاس واخله، دغه ډول ځواب د مخاطب د حال له غوښتنې سره په اوښتې بڼه ورکړل شو. د مخاطب طمع کېده چې دی به راته د خويندو وروڼو شمېر وښيي بيا به د مشرانو او کشرانو له عمرونو څخه خپلې موخې ته ورسېږم نو دغه  د پوښتونکي طمع قطع شوه.

په پښتو شاعرۍ کې به يې د کلمې معياري ليکنۍ بڼه کې لاسوهنه او د يوې کلمې پر ځای د بلې کلمې راړل بېلگه کړوو:

| | |
|---|---|
| مـا وي زه بـه د مغـل پـه نـوکرۍ کـې | رکيبونـــه کـــړم د سرو د ســـپينو نـــال |
| پـه نـاحق يـې څنځيرونـه راپـه پښـو کـړل | واه واه هســـې نـــوازش هســـې امـــال |

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۲۳).

په پورته بیت کې د ژبې عادي کلمه (رکابونه) یې (رکیبونه) کړې ده چې د خوشحال د سبک یوه بېلگه ده.

دا زمـا پـه ژړا خـط د یـار زرغـون شـو          چـې بـاران د سـپرلي اوري گیـا پـاخي
(همکار، ۱۳۹۲ل، ۱۴۳).

په پورته بیت کې د مرسل مجاز له مخې (پاخي) کلمه د (ټوکېدو) په بدل کې راغلې ده.

ډبـوي پخپلــه ځــان حــاکم د عقــل          چې د عشق د ملک خراج ته لـري شـوق
(همکار، ۱۳۹۱ل، ۲۰۲).

په دغه بیت کې (ډبول) استعاره ده له هلاکت څخه چې شاعر د بربادۍ او هلاکت پر ځای د تبعیه استعارې په بڼه راوړې ده. د ژبې د عامې قاعدې د مشهورو سرغړونو لمنه ډېره پراخه ده، هم د کلمې په جمله کې تر لیدلو وروسته مانا او هم په عامه ژبه کې یې مانا زموږ تر سترگو کیږي خو د ژبپوهنې په کتابونو کې یې یوازې د ژبې له پلوه تر بحث لاندې نیسي. پر دې بنسټ چې د ژبې او مانا تر منځ نېغ په نېغه اړیکه ده.

په پورته ډول د کلمو تر منځ ادلی بدلی ډېر تر سترگو کیږي او زموږ مشرانو دغه خبرې د استعارې او مرسل مجاز تر سرلیکونو لاندې ځای پر ځای کولې او په استعاره کې نوم، فعل او حرف ته قایل ول.

که چېرته یو لیکوال پر ژبه د نه لاسبرې له مخې دغه کار کوي بیا یې موږ تر پورته بحث لاندې نشو راوړی او د هغه سبک ورته نشو ویلای.

د هجرت په ورځو شپو کې به کله داسې پېښه شوه چې پاکستاني پولیسو به افغانان ونیول یو نیم به ځان پاکستانی معرفي کاوه یا به یې د پاکستان شناختي کارډ جوړ کړی و نو بیا به چې شک پرې راغی، پاکستاني پولیسو به ترېنه د ځینو کلمو پوښتنه کوله، د بېلگې په ډول خپل چپ لاس به یې ورته وښوده: دا کوم لاس دی؟ هغه به وویل (چپ لاس.) یا به یې جامو ته لاس و نیوه: دا څه شی دی؟ هغه به ورته وویل (کالي) نو پوه به شول چې دغه کس پاکستانی نه دی، ځکه پاکستانیان (چپ لاس) ته (گس لاس) او کالیو ته (کپړې) وایي.

## ۱. ۱۰. ۴. معیاري ژبه

څرنگه چې موږ وکتل سبک له عامې معیاري ژبې څخه گرځېدل دي خو پوښتنه دا ده چې د هرې دورې معیاري ژبه کومه یوه ده؟ باید موږ د هرې دورې آثار په ډېر غور سره ولولوو او د هغې دورې د ژبې (فکري او ادبي) ځانگړنې په ښه توگه وپېژنو خو دا کار اسانه او ساده هم نه دی. که د هرې دورې د ژبې عامې معیاري قاعدې وپېژندل شي یا مشخصې شي نو کولای شو دا تشخیص کړوو چې د هرې دورې شاعرۍ د خپل وخت د معیاري ژبې له قاعدو څخه څومره سرغړونه کړې ده. دا چې اوس د هغو دورو بشپړ معیاري اسناد په لاس نه لرو نو کولای شو د اوسنۍ معیاري ژبې د قاعدو په رڼا کې د هغو شاعرانو سرغړونه را څرگند کړو.(شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۳٦ او ۳۷).

که موږ د امیر کروړ لاندې بیت وسنجوو:

غشي د من مې ځي همېش په میرځمنو باندې په ژوبله یو نم یرغالم پر تښتېدونو باندې

پـه ماتېـدونو بانـدې لـه مـا اتـل نشـته
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۳۴).

په پورته بیت کې د (ژوبله، یو نم، یرغالم، ماتیدونو) کلمې په اوسنی پښتو معیـاري ژبـه کـې د ( جگـړه، یـون کوم، یرغل کوم او ماتې خوړنکي) په ډول کارېږي. په دې ډول دغه پورته کلمې د معیاري ژبې یوه ځانگړنه ده. البته د متونو سبکپوه باید پوه شي چې دغه ځانگړنې په کومه ژبنۍ دوره کـې دود وې او د دوره یـې سبک پـه راسپړنه کې کارنده تمامېږي.

د ژبې هره ځانگړنه سبک نه دی نو په دې سره دوره یې سبک ټاکلی شو نه فردي سبک. وروسته کېدای شي وواېو فردي سبک د سبکپوهنې په خورا عالي یا لوړو دورو پورې اړونـد دی او پـه مقـدماتي پړاونـو کـې زمـوږ موخه دوره یې سبک دی. ډېری د ژبې ځانگړنې د سبک پېژندنې ارزښت پیـدا کـوي او د دوره یـې سبک پـه څېړنه کې له موږ سره مرسته کوي. ( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۳۷).

## ۱. ۱۰. ۵. د پورتنیو درو واړو تعریفونو یووالی

لومړنی تعریف یعنې (ځانگړی لید لوری) په اراپوهنې او په ادبیاتو کې له ادبي کره کتنې سره متناسـب دی او دویم تعریف د (غوراوي) او په ځانگړي ډول درېیم تعریف (د معیاري ژبې له عامې قاعدې څخه سرغړونه) ډېر په ژبپوهنې پورې اړیکه پیدا کوي. البته دویم تعریف چې د بیانپوهنې لـه تعریـف سره ورتـه والـی لـري د ادبي څېړونکیو د پاملرنې وړ هم وي. پټه دې پاتې نـه وي چـې درې واړه تعریفونـه پـه ځـانگړې توگـه د( لـومړي او دویـم) یو د بل بشپړونکي دي. نه دا چې درې واړه یو له بل سره په ټوپیر کې وي.

## ۱. ۱۱. د بیان علم د سبک پېژندنې یو ډول

هغه وخت چې قرآن کریم نازل شو د مکې کفارو د قرآن کریم په اعجاز کې تردید لاره نو مسلمانانو دا حس کړه، چې د قرآن کریم د لغوي او مانیز اعجاز د ثابتولو لپاره د قرآنکریم هنري اړخ راسپړل اړین دي. د دې کـار لپاره دوی د ارسطو آثر ( رطوریقا) په پله د معاني او بیان په نامه علم را منځته کړ. دغې پـوهنې لـومړی کوښـښ کاوه د قرآنکریم هنري سبک څرگند کړي. په ځانگړې توگه تشبیه گانې، استعارې او مرسل مجاز ( چې همدا د بیان هنري برخې دي ) څرگندوي. ( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۵۳).

د پورته خبرې د پخلي لپاره په قرآنکریم کې ډېرې داسې جملې او کلمې راوړل شوي کـه چېرتـه څـوک پـه ادبي فنونو کې لاس و نه لري په سمه بڼه یې نشي تفسیرولی. لاندې آیت شریف ولولئ:

وَاعْتَصِمُوْ بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيْعاً وَلاَ تَفَرَّ قُوْا ج (العمران، ۱۰۳ ایت).

ژباړه: (( او منګولې ولګوئ ( ای مومنانو ) پر رسۍ د الله (چې قرآن دی ) ټول او مه سره مختلف کېږئ (وروسته له اسلامه ) )).(القران الکریم، ۱۳۹۷ل، ۱۷۹).

په پورته آیت شریف کې (حبل) رسۍ ته وایي، که څېرته موږ همدا وضعي مانا په پام کې ونیسو د آیت شریف په سمه مانا راویستنه کې به مو لویه تېروتنه کړې وي، دلته له حبل څخه مقصود قرآن کریم دی چې د استعارې په بڼه راغلی دی.

په یو آیت شریف کې د تشبیه بېلګه راوړم: وَاتَّبَعَ هَواهُ ج فَمَثَلُهُ كَمَثَلِ الْكَلْبِ ج. (الاعراف، ۱۷۶ ایت).

ژباړه: (( او متابعت یې وکړ د هوا خپلې نو مثال د ده (په خساست کې ) په شان د سپي دی.))(القران‌الکریم،۱۳۹۷ل، ۵۱٦).

په پورته آیت شریف کې هغه څوک چې د خپل نفس پیروي کوي (مشبه)، سپی (مشبه به)، څېر یا کمثل ( د تشبیه وییکی ) دی او په حلالو او حرامو کې توپیر نه کول یې ( د تشبیه وجه ) ده.

په پښتو ژبه کې وایي: (( د فلاني لاس سوری دی )) له دغې جملې څخه خپله حقیقي یا وضعي مانا هم مرادېدای شي او ورسره یوه بله مانا ( سخاوت ) د بیانپوهنې د کنایې څانګې پر مټ مرادېدلای شي.(همکار،۱۳۹۱ل، ۲۵۰).

دغو پوهانو د هنري غوراوي لپاره یا د ژبې له عامې قاعدې څخه د سرغړونې په مسئله هم رڼا واچوله، لکه د (ایاک نعبدو و ایاک نستعین) په آیاتونو کې د نومځري مخکې کول پر فعل باندې د معاني د **حصر** او **قصر** په دلیل سره شوي دي. په دې اړه د معاني او بیان د علم د ښې څرګندونې لپاره یې د عربو له شعرونو څخه بېلګې راوړې دي چې ډېر وخت وروسته بیا د قرآن کریم د اعجاز مسئله ټولو ته څرګنده شوه او ټول تردیدونه له منځه لاړل او د بیان علم بیا د شعر هنر ته ځانګړې شو. ( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۵۴).

د بیان د علم په تعریف کې ویل شوي دي چې د یوې واحدې مانا په بېلابېلو طریقو وړاندې کول دي په دې شرط چې د کلام بېلابېل صورتونه د څرګندتیا، پټوالي او تخیل له مخې په مانا کې یو له بل سره توپیر ولري، که موږ د یو چا په اړه ووایو: ( د فلاني د نغري ایرې ډېرې دي)، ( د فلاني دسترخوان پراخه دی.) ( د فلاني لاس سوری دی) دغه جملې هره یوه د څرګندتیا، پټوالي او تخیل له مخې یو له بله سره توپیر لري.

په سبکپوهنه کې کولای شو، متحد المضمونه لیکنې غوره کړو او بیا پرې غور وکړو چې بېلابېلو لیکوالو یا شاعرانو یو مطلب په څه ډول پنځولی دي. یا موږ کولای شو داسې مضمونونه یا پېښې خوښې کړو چې د لیکوال یا شاعر د اروایي اغېز له مخې سره توپیر ولري، دلته زه د ګل خان او جمال خان کیسه، چې عبدالرحمن بابا، عبدالقادر خټک او عبدالحمید مومند د خپلو اروایي اغېزمنتیاوو له مخې منظوم کړې ده راوړم:

ډېر یاران وو د گل خان او جمال خان
په کار نه شه یو په وخت د زارستان

د همه واړو یارانو مخ دې تور شي
که به څوک وبله یاري کا په دا شان

چې یو یار په سوري پروت وي بل په اور کې
و هغو ته به څوک څه وایي یاران

هیڅ تعریف یې په دا ژبه وایه نه شي
صد رحمت شه په یارۍ هم د گل خان

په دا هورته د یارۍ شرطونه څه دي
چې په اور کې دواړه و سوزي یکسان

چې له اله له اولاده سره وسول
خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان

چې په اور کې یو د بل لپاره سوزي
ما لیدلي نه وو هسې مخلصان

څه رنگ شوخ وو هغه اور او هغه خلک
چې یې مړ نه کړو د اوښکو په باران

الغیاث دی الغیاث دی الغیاث
چې انسان کا هسې ظلم به انسان

د نمرود چارې مې و لیدې په سترگو
چې یې اچول و اور وته نبیان

هم دې ځمکې دې اسمان ته تعجب کړم
چې نه ځمکه په نارو شوه نه اسمان

هم دې لویو لویو غرونو ته حیران یم
چې اونه لوښته له وېخه سر غلطان

له دې خپله سپیه نفسه مې زړه بد شو
چې اوبه څښي یا خواړه خوري په جهان

عالم وایي چې قیامت به په جمعه وي
ولید ما په یکشنبه په دا دوران

هزار حیف دی چې دا هسې رنگې چارې
واقع کېږي د دنیا په سود و زیان

په عیسی او په دجال کې گناه نشته
دا مکرونه دي د نفس و د شیطان

عزیزان یې خپله وژل په خپله
دا همه واړه تقدیر دی د سبحان

هسې نه چې دا یې وکړه نور به نه کړي
چې یې زړه شي هسې کاندي بادشاهان

شاه عالم اعظم و گوره چې یې څخا کړه
په خونونو واړه ملک د هندوستان

و دارا او اورنگزېب و ته حیران یم
چې یې څه چارې واقع شوې تر میان

د حسن حسین غزا دې څوک په زړه کا
چې همه واړه په تېغ شو شهیدان

د دوی غوښې اوښکو وینو رغړولې
بې حسابه هسې خلک شو طوفان

هر چې اهل د دنیا دی حال یې دا دی
که سړی دی که پیری دی که حیوان

ادم زاد په ځمکه یو بل سره وژني
په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان

لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې
په هوا کې هم دغه کاندي مارغان

خزنده او پرنده دی د دې دهر
همه واړه یو تر بل مشت و گرېوان

مرداري د دې دنیا خو هم دغه ده
ځکه بیرته ځني گرځي درویشان

مکاري د زماني څه هومره نه ده
چې رحمن یې چا ته و کاندي بیان

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۵ ــ ۱۳۸).

د عبدالرحمان بابا د منظومې فورم بولله ده او د پېښې په دواړو خواوو د زړه خواله او خفگان ښکاره کوي.

د عبدالقادر خټک نظم

دا کارونه چې نن گانده عياني دي هيڅ په خوا په خاطر نه وو اسماني دي
چې به وهم فهم نه هغه ښکارېږي هوښيار ځکه همېشه په حيراني دي
گهې هسې کار ښکاره شي چې غمجن شي گاه کارونه په سبب د شادماني دي
ساقي راوړه پياله چې را ته يو شي غم ښادي ثبات هيڅ نه لري آني دی
نن نسيم د پېښور له لوريه راغی څو وينا يې راته کړی زباني دي
چې نن شپه مومندو و وهلې تورې چې وهلې نه افغان نه توراني دي
ليندو غر په غشيو وکړه کشاد کانې په سر تور توري وهي جمال خاني دي
گوی له ميانه د جمال سپاهيانو يووړ چې په ننگ توره وهي جانفشاني دي
چې لښکرې د مظلومو اعانت کا خدای يې مل شه دا لښکرې رحماني دي
لاله زار يې شگفته کړ په اهاړ کې هر چې دا بهار نه گوري زنداني دي
د باړې اوبه يې سرې لکه شراب کړې د سربند کانې همه ارغواني دي
يگانه زلميو غر و بله وکړ چې وهه فلانی وهه هندوستاني دي
توره شپه په توره ورځ لکه سبا شوه ځلېدل يې لکه برق نيساني دي
همېشه پښتون مومندو دی دروند کړی که سبب يې خِفَّت مير افغاني دي
چې په طمع د دنيا کاندي جنگونه رنگ يې ورک شه که رستم دستاني دي
يوسفزي چې زر و ويني ننگ پرېږدي حريصان دي طامعان دی نفساني دي
په خوله هر پښتون د ننگ خبرې کاندي ننگ هغه کا چې ناني نه دي جاني دي
زر ناني شه صدقه تر جاني ځوانه پښتون ډېر دی اما څه په کار ناني دي
دا متل دی تېغ په اصل غوڅول کا د مومندو توري اوس نه دي کاني دي
افريدي شينواري جنگ په غرونو کاندي غورياخېل په ميدان جنگ کا مېداني دي
مخ يې نه دی د کتو رنخ دې پرې ښايي چې نفاق کا همېشه په پښېماني دي
فريفته يې په ويل مه شه نفاق دی هغه څوک چې د لښکر په ويراني دي
د مغل له دې لښکرو پروا مه کړه اتفاق يې سره نشته ځان ځاني دي
په قسم يې مبا دا چې باور وکړې سوگندونه يې دامونه شيطاني دي
له بادشاه له شهزادگانو چې وسواس وي اخته شوي دوی په جنگ سلطاني دي
د سرونو نردبان ساز کړه باندې خېژه مرتبې ته ختل نه په اساني دي
نه له چا يې طمع شي نه له چا وېره څو خبرې رښتيا کړي کرلاني دي
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۵۷ او ۲۵۸).

د عبدالحميد مومند نظم

هر سردار چې د خپل قام د بدو خيال کا ايينه دي د خپل ځان حال د جمال کا
پرې کوي تر خپلو پښو لاندې ښاخونه چې بدي د عزيزانو په زړه نهال کا

عاقبـــت هغـــه سردار شي سردار پـــاتې
چـې یـې نـس و خپلـو بـدو تـه لېـوال کـا

چـې د بـل و سر ومـال و تـه و هـوس کـا
تر هغه پخوا بـه ورک خپـل سر و مـال کـا

هـم هغـه بـه پکـې پرېـوځي دا متـل دی
چـې و بـل و تـه کـوهي کینـي وبـال کـا

د هغـو پـه خونـه پـېښ جنـګ و قتـال کـا
چـې هـوس د چـا د جنـګ و د قتـال کـا

چې لـه خپلـو لاس و پښـو شي بې مجالـه
له غلیم سره بـه جنـګ پـه کـوم مجـال کـا

پـه پـردو مېرانـه نـه کېـږي بـې خپلـو
لـــه لحـــده دا آواز جـــمال جـــلال کـــا

کـه باښـه د بـاز و ښـکار پـه ډکـه واخلـي
هیڅ به و نه کا ځان سترې پـوچ کشـال کـا

لـه زرګونـو بـرى نـه شي وړای سـل ګونـه
مګر خواه نـا خـواه یـې فـتح ذوالجـلال کـا

چې تـر خپلـه حـده پښـې غـزوي وړانـدې
زمانـه بـه یـې جـمال غونـدې پـیمال کـا

چې پـه زور د بـل جامـه اغونـدي ځـان تـه
نا شسته بـه یـې د خپـل زخـم دسـتمال کـا

پـردۍ برخـې هیڅـا نـه دي خپلـې کـړی
بلکې خپلې به پرې بایلي چې دا خیـال کـا

د جمال په ځېر بـه و سـبزي پـرې خپـل سر
چـې پـرواز هـر پروانـه پـه دا مشـال کـا

نـالایق چـې لایقـت پـه نسـب غـواړي
د برېښـنا پـه رڼـا سـتن پېـې جنجـال کـا

هـم دا هسـې نتیجـه پـه لاس ور درومـي
چې د ښو په بدلـه کـې څـوک نـاخوال کـا

نـــه نېکـــي لـــه ناکســـانو څرګنـــدېږی
نـــه پـــه بـــټ بانـــدې اثـــر آب زلال کـــا

لکه لـوی کـړي لېـو بچـه در بانـدې تـرپلي
حـال زمـونږه د جـمال هـم دا مثـال کـا

لکـه ګـرم چـې پـه حسـن حسـین یزیـد و
هسې ګرم په مونږ جمال و که څوک سوال کا

دا چـې شـوي دي لـه هسـې ناچـاریي
لکـه سـویه پـه سـپي تـرپلي انفعـال کـا

نـا خـبر لـه حالـه هـر چې وایـي ښـایي
خـبردار مـدام پـه عـذر قیـل و قـال کـا

د هغـو پـه سـبب تـل سـوزي نـور خلـک
چـې د تـوري اسره ورکـه پـه دېـوال کـا

خو بدنام په دا جمال خدای خـدرېزي کـړه
ګنـه هـره چـار پـه خلکـو خپـل اعـمال کـا

پـه ازل د سـود و زیـان سـودا دې وشي
ملامـت څـه لـره خلـک پـه دلال کـا

دا دودونـــــه د دې دور دي حمیـــــده
یو د بل په مرګ ملال کا بـل خوشـحال کـا

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۲ ــ ۲۴).

د شعر د کره کولو لپاره د کره کتونکي په اړه متحد مضمون د خوشحال خټک، عبدالحمید مومنـد او کـاظم خان شیدا راوړو. تاسې وګورئ چې دوی په څه ډول د ناکره کره‌کتونکي ځانګړنې بیـانوي او لـه ارواییـي اړخـه مسئله څنګه مطرح کوي:

خوشحال خان خټک وایي:

د هیچـــا غـــرض پـــه دا خـــبرو نشـــته
کلـــپ سره چـــې سره پېـــژني صراف وي

جوهري بـه یـې خـود کـار سره ښـکاره کـا
تـر یـاقوتو کـه شـبه پـه رنـګ شـفاف وي

د بخملـــو پـــه اودل بـــه خـــبر نـــه شي
پـه شـماره کـه اتیـا زره بریـا بـاف وي

(همکار، ۱۳۹۵ل، ۳۷).

په پورته بیت کې د ( کلپ او سره ) د ښه او بد شعر، ( صراف او جوهري) د ادبي کره‌کتونکي لپار ه، ( بریا باف ) د ناکره شاعرانو لپاره او ( بخمل) د ښه شعر لپاره استعاره شوي دي.

د حمید لـه فکره مـه پوښتـه عـام خلـک　　　　د زربفتـــو قـــدر څـــه زده بوریابـــاف
( مومند، ۱۳۸۳ل، ۹۹).

د عبدالحمید مومند په بیت کې همدا مطلب د تشبیه په بڼه راغلی دی.

کاظم خان شیدا وایي:

پــه هــراس یــم لــه ناپوهــه　　　　قــوي طبعــه کــا ســتوهه
چــې نظـر یـې پـه اشـعار شي　　　　هـر یـو شـعر خـوار و زار شي
نــامرغوب یــې هــر هــنر کــا　　　　پــه عیــوب یــې معتــبر کــا
چــې مــذاق یــې د واښــه وي　　　　ور تـه خـس تـر حلـوا ښـه وي
( شیدا، ۱۳۸۴ل، ۹۱).

کاظم خان شیدا دلته د ناکره کره کتونکي لپاره د ( ناپوه) کلمه وکاروله او خپل نظر یې په عادي بڼه وړانـدې کړ دی. په هر صورت مجازي ژبه د څلورو موخو لپاره کارول کېږي: (۱) د وینا سینګار (۲) د پیغام رڼـاوي یـا تصریح (۳) د خبرې خوند (۴) د مخاطب اغېزمنول. (ښکلی، ۱۳۹۰ل، ۶۰).

ادب په ټوله کې مجازي ژبه ده یعنې کله چې کلام له عادي حالته وواته او هنري ارزښت یې پیدا کړ نو ادب رامنځته شي. د مجاز درې ګونې څانګې ( تشبیه، استعاره ــ مرسل مجاز او کنایه) بیـا د بیـان پـه کـړی کـې ځـان څرګندوي او ورسره معاني هم خپل ځان ملګری کړي او ژبنی هنر رامنځته شي.

دا چې د کتاب د پنډېدو مخه مو نیولې وي نو کولای شئ په دې اړه بحثونه په بیانپوهنه او معاني پوهنه کې ولولئ!

## ۱. ۱۲. د سبک سطحې

کله چې موږ د سبک ذکر کوو کېدای شي له لاندې څلورو سطحو څخه په یوې پورې تړاو ولري:

### ۱. ۱۲. ۱. دوره یي سبک

په دې ډول سبک کې د یوې دورې د شاعرانو یا لیکوالو د آثارو پر سبک خبره کېږي. د بېلګې په توګه مـوږ په پښتو ادبیاتو کې د ( لرغونې دورې سبک، د منځنۍ دورې سبک او د معاصرې دورې سبک) اصطلاح وضع کوو. یا په بله وینا د لومړۍ دورې سبک، د دویمې دورې سبک او د درېیمې دورې سبک، په دغه سبک کې په یوې ټاکلې تاریخي دورې کې د کلمو، ماناوو او ادبي مزایاوو یو شانوالی په پام کې نیـول کېـږي چې پـه نـورو دورو کې نشته یا هم ډېر کم تر سترګو کېږي.

کله چې موږ د یوې ځانګړې دورې آثار د مانا، ژبې او بلاغي مسایلو له مخې څېړو، د دوی تر منځ ګډو وجوهاتو ته مو پام اوړي چې په ټوله کې د هغې دورې آثار د بلې دورې له آثارو څخه بېلوي یا په بله وینا دغه توپیرونکي عوامل د هغې دورې ځانګړنې او نورمونه په اصطلاح د هغې دورې سبک ټاکي. په دغه ترتیب ادبي متون په ټاکلو دورو کې د ګډو وجوهاتو لرونکي دي. په ورپسې دورو کې دغه ځانګړنې له بدلون سره مخ کېږي او د نورو پرلپسې ځانګړنو څرګندوی کېږي.( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ٦۹ او ۷۰).

له پورته خبرو څخه دې پایلې ته رسېږو چې درې څیزه ( مانا، ژبه او د بلاغت مسایل) د یوې دورې په سبک پېژندنه کې ډېر اړین دي.

که موږ د پښتو لرغونې دورې آثار د امیر کروړ له پېر څخه تر سبکي څېړنې لاندې ونیسو ډېرې ګډې وجهې به د دغې دورې د لیکوالو او شاعرانو تر منځ پیدا کړو. یا لکه په دري کې چې د درېیمې، څلورمې او پنځمې پېړۍ د ګډو وجوهاتو له مخې خراساني سبک، په اوومه، اتمه او نهمه پېړۍ کې عراقي سبک او په یوولسمه او دولسمه پېړۍ کې بیا هندي سبک مشهور دي.

په نوې دوره کې د شعر لفظي ، معنوي او ادبي ځانګړنو تغییر کړی دی چې د دغې دورې سبک ته نوی سبک وایي، په دې سبک کې نوي افکار او احساسات مطرح شوي دي او د شعر په ژانرونو کې هم بدلونونه راغلي دي.

د سبکونو د بدلون خورا عمده عاملونه ټولنیز تحولات او بدلونونه دي چې دغه لاملونه د ژوند او لید لوري د بدلون تر څنګ د ادبیاتو د بدلون سبب هم ګرځي. د بېلګې په ډول د مغلو، انګرېزانو، روسانو او نورو ځواکمنو هېوادونو تېری او لاسوهنې پر پښتنو او په ټوله کې پر افغانانو د سبکونو د بدلون لامل ګرځېدلي دي.

د دورو د سبکونو د بدلون تر منځ داسې سبکي حالات راځي چې د مخکینۍ او ورپسې دورې تر منځ یې ځینې سبکي ګډې ځانګړنې د پل یا پیوستون کړۍ جوړوي، لکه د دري ادبیاتو په استناد په شپږمه پېړۍ کې ډېری شاعران هم غزل لري او هم یې قصیدې ویلې دي، چې دغه کار لږ تر لږه نیمه پېړۍ په بر کې نیسي.

د سبک اړوند په نثري آثارو کې هم همدا پورته څرګندونې صدق کوي. د بېلګې له مخې د اوومې پېړۍ د پیل پښتو نثر مرسل یا ساده دی چې دلته یې د سلیمان ماکو له نثر څخه یوه ټوټه راوړم: (( په سن دوولس او شپږ سوه د هجري تللی وم او د پښتونخوا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیاوو او واصلینو مې پلټل او په هر لوري مې کاملان موندل او د دوی په خدمت کې خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ چې له دې سفره په کور کښېنستم او تناکې مې وچاودلې د پښنو بیا پاڅېدلم او له څښتنه مې مرستون سوم چې احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چې هغه ویناوې پاته کړې دي او پښتانه یې لولي اوس.))( ماکو،۱۳٦۱ل، ۵).

د پورته نثر جملې ساده پرېکړې او رواني دي. په دغې دورې پسې بیا دویمه (منځنۍ دوره یا کلاسیکه) دوره رامخې ته کېږي چې په دې کې بیا د بایزید روښان او د ده د پیروانو نثرونه دي.

د بایزید روښان ژوند د لسمې هجري پېړۍ د درېیمې لسیزې له پیل څخه شروع کېږي. د ده آثر خیرالبیان بیا له ساده څخه مسجع یا فني نثر ته اوښتی دی. بیلګه یې: ((او بایزید: څما ډېر ستر صفت وکښه، خوښـي مِ پیـدا شي چه څما ډېر ستر صفت وائی ادمیان. ګوره! څما په مزکه کښِ دی [یا] په اسمان. نشته هیڅ بیرون چه څما تسبیح وائی ته باور وکړه په دا بیان)) (روښان، ۱۹۸۸ز، ۱۴۰).

بیا کله چې د بایزید دوره یو څه تېرېږي د خوشحال خان خټک دوره راځـي، نومـوړي کوښـښ کـړی چـې مسجع نثر په ساده نثر راواړوي نو ځکه د ده نثر کله د مسجع نثر استازیتوب کوي او کله هم د ساده نثر استازي وي.

د خوشـحال خټـک د دسـتارنامې بېلګـه: "پـس د خـدای د حمـد و د ثنـا، درود پـه مصـطفی او د ده پـه آل او اصحاب او په جمیع اهل هدا، زمره اتقیا وایم زه پیرو د نس و د هوا، محبوس د عنا، ګرفتار د دام بلا، بـاني د دې انشاء، مؤلف د دې املا، چې باعث د دې تصنیف و دا. " (خټک، ۱۳۹۷ل، ۷۹او ۸۰).

په پورته جملو کې (ثنا، مصطفی او هدا) د سجعې کلمې دي. اوس د همدې آثر د (ځان پېژنـدنې لـه هـنر) څخه څو جملې راوړو، چې سجع پکې نشته او ساده نثر دي: "شناخت د ځان په دوه رنګه دی، یو په ظاهر بـل په باطن ظاهر دا چې په ظاهر نعمتونه چې وتا ته یې درکړي دي نظر وکړې چې له عدمـه یـې موجـود کـړې. نـه وې، وشوې. نېست شوې هست شوې، که ډېر وایم کتاب اوږدېږي. "(خټک، ۱۳۹۴ل، ۱۱٦).

تاسې د خوشحال خان خټک بابا له یوه کتاب څخه دوه اقتباسه ولیدل چې په یوه کې مسجع نثر او په بل کې مرسل نثر ته میلان شوی و.

د سبک په ټاکلو کې یوازې ژبني نورمونه بسـنه نـه کـوي، بلکـې لـه دوی سره جوخـت بایـد فکـري او ادبي نورمونه هم په پام کې ونیول شي.

یوې خبرې ته پاملرنه په کار ده چې د دوره یې سبک یا هم فردي سبک په اړوند که موږ څه لیکو باید په یوه تویه نظم یا نثر قناعت ونه کړو، د دې لپاره د هماغې دورې ګڼ آثار یا د یو لیکوال په فردي سـبک کـې د هغـه ګڼو آثارو ته اړتیا لیدل کېږي او تر دې وروسته به موږ یوې مثبتې پایلې ته رسېږو. که موږ د یـوې دورې نـورم (قاعدې) ته پاملرنه ونه کړو له دوو تېروتنو سره مخامخ کېږو:

## ۱. ۱۲. ۱. ۱. د کمولو خطر

که موږ د دورې نورمونه (قاعدې) په پام کې ونه نیسو ډېرو سبکي ارزښتونو ته به متوجه نشو. کېدای شي هغه اسـتعارې او تشـبېه ګـانې چـې اوس مـوږ تـه کلیشـه ښـکاري، پیـدا نـه کـړو او د کلمـو نـوي والي او تـازه والي (نیولګویزم) او بدلونونو ته متوجه نشو. لکه د (اغوستن) کلمه چې عبدالحمید مومند د جامو لپاره کارولې اوس د فعل په بڼه کارېږي.

که ور سر کړې ښه خوراک ښـه اغوسـتن    خـلاص بـه نـه کـړې د دوزخ لـه اوره تـن
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱٦۵).

### ۱. ۱۲. ۱. ۲. د ډېروالي خطر

کېدای شي داسې یوه کلمه د ځینو ماناوو لپاره راوړو چې په هغه دوره کې په اوسنۍ مانا دود نه وه( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۷۱او ۷۴). ، لکه د همدې (اغوستن) له کلمې څخه موږ د جامو مانا واخلوو.

په لاندې بیت کې عبدالحمید مومند د (هلک) کلمه د (کم) په مانا کارولې او موږ ورځنۍ د (ماشوم) مانا واخلو:

د خوبانو هلک غم به یې زور زوم کا
که رستم د زمانې وي په خپل زور کې
( مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۹۸ ).

یا د خوشحال خان خټک یو بیت د:

چې راښکاره شوه یوه سړې
زړه مې پرې بایلو هغه ګړې
د زړه ښندنه اسانه نه ده
بې ځایه څوک ښندي یوه د مړې
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۴۷).

په پورته بیت کې د (سړې) کلمه د ښځینه جنس لپاره کارېدلې ده چې اوس دغه کلمه په ژبه کې یوازې د نارینه جنس لپاره دود ده او د ښځو لپاره نه کارول کېږي.

### ۱. ۱۲. ۲. ځانګړی(انفرادي) سبک

د یوې دورې د آثارو د مطالعې (دوره یي سبک) په ضمن کې کېدای شي له داسې یو شاعر یا لیکوال سره مخامخ شو چې د هغه آثار د ده د دورې د نورو لیکوالو یا شاعرانو پر وړاندې یوڅه سبکي امتیازات ولري او په دې سره د هغه د لیک توپیر له نورو څخه څرګندېږي. د داسې شاعر یا لیکوال په آثارو کې هغه ځانګړنې چې د ده په دورې پورې تړلي، ځینې یې داسې ځانګړنې وي چې یوازې او یوازې د همدغه شاعر یا لیکوال په آثارو پورې تړلې وي او د ده ادبي آثار له نورو ادبي آثارو څخه ځانګړي کوي چې همدې ته شخصي سبک وایي.

د سبک حقیقي مانا په رښتیا سره همدا شخصي سبک دی. شخصي سبک د رنګ په څېر د یو هنرمند په ټولو آثارو کې خور وور پورت وي. د تشبېه له مخې کېدای شي د یو مور او پلار اولاد بېلګه کړو، کېدای شي څېرې، رنګونه او قدونه یې سره یو شان وي یا د مور او پلار ډېرې نښانې د دوی ترمنځ ګډې وي او دا هم کېدای شي چې بالکل سره بدل وي کېدای شي بیا هم د خوی یا عادت له مخې یا څرګندې قیافې له مخې یو څه سره یو شان وي خو سره له دې هم دغه خویندې او ورونه له آره د یوه مور او پلار اولاد دی. کېدای شي د دوی ترمنځ ګډې پولې په ډېرې اسانۍ او یا هم ډېر غور سره تر سترګو شي خو داخبره به بشپړه منفي نه وي چې د دوی ترمنځ به ګډې ځانګړنې نه وي. البته شخصي سبک پوړونه لري. په ځینو ځایونو کې څرګند او په ځینو ځایونو کې یو څه ناڅرګند رامخې ته کېږي. هر لیکوال لږ او ډېر خپل سبک لري دا چې وایوو د ډېرى لیکوالو او شاعرانو آثار په یوه دوره کې یو له بل سره ورته دي د (دوره یي سبک) مانا لري.( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۷۴ او۷۵).

موږ وایوو د عبدالحمید مومند او کاظم خان شیدا سبک هندي سبک دی نو د عبدالحمید مومند او کاظم خان شیدا د سبک ترمنځ توپیرونه نشته؟ دا د شخصي سبک لپاره یوه خورا پراخه مانا ده چې زموږ په نظر کې نشته. دا هم شونې ده چې د یو لیکوال یا شاعر آثار به د خپلې دورې دآثارو پر وړاندې توپیري بڼه ولري او په ټوله کې به د پښتو له ادبیاتو سره توپیر، ونه لري. دبېلګې په ډول د عبدالرحمن بابا شعرونه د پرتلې له مخې د خپلو هم مهالو شاعرانو خوشحال خان خټک، عبدالحمید مومند، عبدالقادر خټک او داسې نورو پر وړاندې د ساده والي په لامل ډېر مشهور دي. په دغه باور ډېر لږ شاعران یا لیکوال دي چې دوی په خپلو شخصي سبکونو مشهور شوي دي، په پښتو ادبیاتو کې یې د روښاني سبک، د خوشحال سبک، د عبدالرحمن بابا سبک، او عبدالحمید مومند سبک نومونه یادولی شو چې په دې اړه به بیا په همدې اثر کې بشپړه لیکنه ولولئ.

## ۱. ۱۲. ۳. ډله ییز سبک

که موږ د ځینو کره کتونکو لیکنو ته پام وکړو یا د ویناوالو خبروته ځیر شو، کله کله ترې داسې جملې را و وځي: (فلانی د فلاني پلیونی دی.) د دې جملې مانا داده چې د هغه په سبک کې شامل دی نو پر دغه بنسټ ډله‌ییزسبک را منځته کېږي، د بېلګې په ډول یې خوشحال بابا، عبدالرحمن بابا او عبدالحمید مومند یادولای شو چې په لومړي سرکې د شخصي سبک په نوم نومول کېږي او بیا چې د دوی فکر نور پالي او د دوی پلیوني شي نو په ډله‌ییزسبک(ادبي ښوونځیو) خبره پای و مومي.

## ۱. ۱۲. ۴. موضوعي سبک

نوموړی سبک په دوو ډولو وېشلای شو: څېړنیز سبک او تخلیقي یا ادبي سبک.

## ۱. ۱۲. ۴. ۱. څېړنیز سبک

دغه سبک په هغو آثارو کې لټول کېږي چې لیکوال د یوې مسئلې په اړه څېړنه کړې وي. د هر لیکوال د خبرو سبک چې یو له بل سره توپیر کوي، په همدې ډول یې د لیک سبک هم توپیر کوي، تاسې که د کوم لیکوال داسې څېړنیز اثر مطالعه کړئ چې د نورو لیکوالو له آثارو څخه پکې نیغ په نیغه اخېسته شوې وي نو د څېړنیزسبک په توپیرونو به پوه شئ. پر هماغه یوه موضوع به خپل نظر لیکي خو د دواړو د لیک ترمنځ به توپیر وي.

په څېړنیزسبک کې هم د کلمو، جملو او ترکیبونو غوراوی د سبک د توپیر یو اصل ګڼل کېدای شي. د موضوع په فصاحت او بلاغت تَلل یوه بله کنډه ده چې د دوو لیکوالو د لیکنو ترمنځ توپیر پرې کېدالای شي.

## ۱. ۱۲ . ۴. ۲. ادبي سبک

داچې د ادبي سبکوپوهنې یادونه کېږي نو په ذهن کې بلا پوښتنې د دې په اړه چې ادب څه شی دی؟ ادبیات څه ته وایي؟ او کومو آثاروته موږ ادبي ویلای شو؟ د دغو پوښتنو ځواب ستونزمن دی. دغه پوښتنه که ووایم د ادبیاتو له پیدایښت سره مطرح شوې ده خو تر اوسه پورې جامع او مانع یا په بله وینا کانکرېټي تعریف لا د دې

هنر د پوهانو له خوا نه دی رامنځته شوی. د ادب او ادبیاتو هر تعریف په خپل ځان کې ډېرې پېچلتیاوې لري. کله خو یې په تعریف کې داسې کلمې هم راشي چې د هغو پېژندنه یا تعریف تر نه پورې چا نه دی کړی او په نیمه خوا روان دي. د ادب لپاره اوسنی تعریف چې پر خولو گرځي دادی: ((هره هغه وینا شفاهي وي که تحریري، منظومه وي که منثوره چې هنري ارزښت ولري ادب دي.))

په پورته تعریف کې د (هنر) کلمه راغلې چې دا په خپل ذات کې تعریف غواړي: (که پر یوه طبیعي پدیده یو څه ور زیات یا کم شي چې د ښکلا مرحلې ته یې ورسوي، هنر دی.)

په دغه تعریف کې بیا د (ښکلا) کلمه راغله چې تر نن ورځې پورې یې هر انسان په هر ځای کې تر اغېز لاندې دی خو په تعریفولو کې یې پاتې راغلی دی.

په پورته ډول د ادب یا ادبیاتو تعریف یو مجهول په بل مجهول تعریف شوی او جامع او مانع تعریف زموږ په لاس کې نشته. د ادب کلمه په فلسفه، سبکپوهنه، ادبي کره کتنه کې او ادب تیوری کې تربحث لاندې راغلې ده.

د دې لپاره چې یوې پایلې ته رسېدلي و باید موږ په هغو څېزونو فکر وکړو چې یو ادبي کلام له عادي کلام څخه بېلوي. په دې اړه ویلای شو ځینې په دې اند دي چې دغه اثر ادبي دی که نه دي؟ د بېلگې په ډول د خوشحال خان ختک طب نامه، فضل نامه. آیا ادب دی که نه دی؟ نو په دغه سبب د ادبیاتو د جوړښت توکي پېژندنه په سبکپوهنه کې یو اړین کار دی او باید په دغه برخه کې په کلي بڼه پېژندگلو ولرو. دلته به موږ د ادبي آثارو گډ وجوهات او ځانگړنو ته اشاره کوو چې په ځینو آثارو کې به ډېر او په ځینو کې به کم رنگه په نظر راشي خو بیا هم یو ادبي اثر څه ناڅه له دغو ځانگړنو څخه په خپله لمن کې باید ولري.

## ۱. ۱۳. د سبک د سطحو په اړه ځینې اړین مسایل

تر دغه سرلیک لاندې د سبک ځانگړنې او د سبک اظطراب مطالعه کولای شو.

### ۱. ۱۳ . ۱. د سبک ځانگړنې

په یوه متن کې د اختصاصي ځانگړنو له جملې څخه یې ځینې سبکي ارزښتونه لري، یعنې د سبک په رامنځته کولو کې ونډه لري چې دغو ته د سبک د رامنځته کولو ځانگړنې وایي. کېدای شي دغه ځانگړنې لفظي او یا هم فکري وي او یاهم ادبي وي باید په پرلپسې ډول په یو اثر کې شتون ولري. د بېلگې په ډول د کاظم خان شیدا په شعرونو کې له خپلو خپلوانو څخه زړه بدوالی او بیا د ده په شاعرانه طبع کې ځان ښودل د ده د سبک ځانگړنه گڼوو.

| | |
|---|---|
| د اشفاق طمع به څه کړې له اخوانه | نتیجه یې ورکېده دي له کنعانه (شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱٦). |
| شیدا څه کړې ددې وخت رشته داری | د سوزن زخم په زړه د هر انځور دی (شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲٦۲). |

د دریاب له سرد جوشی د حباب زړه چوي شیدا قطع دې امید بویه له خپلو
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۹).

د فردي سبک په څېر په دوره يي سبک کې هم ځینې ځانګړنې سره تکرارېږي. (شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۹۹).

دا چې سبک د بدلون او زوال په حالت کې وي، سبکي ځانګړنې هم خپل تکراري اړخ او ثبات له لاسه ورکوي. د بېلګې په ډول د عبدالحمید مومند شعرونه ولولئ چې په ځینو ځایونو کې له عبدالرحمن بابا څخه اغیزمن دی او په ټوله کې په پښتو کې د هندي سبک سرلاری دی. کله یې شعر په ساده او روان او کله پکې بیا ابهام یا شعري پېچلتیا رامنځته کېږي.

لکه سپي چې په مرداره سره جنګ کا هسې جنګ کا په دنیا بې حیا خلک
(مومند در، ۱۳۸۳ل، ۵۰).

هغه بیت چې تر پورته بیت لږ پېچلی دی:

ډبوي پخپله ځان حاکم د عقل چې د عشق د ملک خراج ته لري شوق
(مومند، ۱۳۸۳، ۱۲۵).

## ۱. ۱۳. ۲. د سبک اضطراب

په یو متن کې د بېلابېلو دورو له ژبنیو ځانګړنو (حتی فکري او ادبي) څخه ګټه اخېستل سبکي ضد ارزښتونه دي او د سبکي اضطراب لامل ګرځي. (شمیسا، ۱۳۸۰، ۱۰۰).

د بېلګې په ډول د ګوهر رحمن ګوهر له (ډیوټ) څخه دوه بیته رااخلوو چې پکې (اوربلکه، بویه، پېلوځی، تپونه او اپو) هغه کلمې دي چې په معاصر ادب یا ژبه کې په عامه بڼه نه کارېږي نو که د ده پر سبک خبره کېږي دلته د سبک د اضطراب مسئله رامنځته کېږي چې دی په کومې دورې پورې وتړي.

دا توره شپه ګورئ رڼا نه شوله په اور بځرکو اوربلکو باندې
بویه چې لمر هسې پېلوځ راوړي واخلي تپونه تور، په اپو باندې
(ګوهر، ۱۳۷٦ل، ۱۸).

پورته د (اوربلک د اور ورکي، بویه د لازم، پېلوځی د ډړوکي یا چراغ چوب او اپو د چغه یا په مخه) مانا وې لري چې اوس نه کارېږي؛ که کارېږي هم ډېر شاذ او نادر یا د هغو لیکوالو او شاعرانو په کلام کې چې د کلمو په ټاکنه کې په تېرمهال تکیه ولري.

د سبکي اضطراب مسئله یوازې په ژبنیو مسایلو پورې محدوده نه ده، بلکې په روایتي بڼه د تېرو دورو سمبولونه که څوک په خپله لیکنه کې کاروي دغه هم په سبکي اضطراب کې راځي. لکه د تشبیه او استعارې په بڼه لیندی، غشي او داسې نورې کلمې کارول.

## ۱. ۱۴. له نورو سبکونو سره د ادبي سبک توپير

په تېرو ليکنو کې د ادبي سبک په توپير له نورو سبکونو څخه په ځانګړي ډول د ادبي ژبې له عادي مستعملې ژبې سره په توپير يو څه خبرې وشوې دلته هم يو څو نکتو ته نغوته کوو:

### ۱. ۱۴. ۱. ادبي سبک او علمي سبک

د علمي‌سبک ژبه دقيقه او لنډه وي، هر دال بايد په دقيق ډول په خپل مدلول روښانه دلالت وکړي په دغه ژبه کې د تشبېه او استعارې اړتيا نه پېښېږي. د مفکورې د لېږونکي او اخېستونکي ترمنځ يې رويبار ته اړتيا نشته. ولې د تخيل او فکر بهير په لويو اديبانو او پوهانو کې ځينې وخت ډېر ورته والی لري. د دواړو ذهنونه څرګندتيا، نرمي او خيال انديشي لري، په فضا کې د نور سرعت په اړه د انشتين نظر د شاعر له هغه خيال سره ورته کېدای شي چې د کهکشان په ژورو کې يې خپلې وزرې غوړولې دي. همدا لامل دی چې په ادبياتو کې ځينې علمي او تخيلي داستانونه رامنځته شوي دي چې په دې سره پخپله هنرمند يا اديب په علمي افق کې ور داخل شوی دی خو په ساينسي يا تجربي علومو کې د استدلال لاره په ملموسو تجربو ولاړه ده، يعنې تخيل بايد په عملي او ازمايښتي بڼه په دروغو او رښتياوو صدق وکړي. په داسې حال کې چې ادبي تخيل د عيني او عملي تجربې وړ نه دی. د ادبي تخيل استدلال د بدوي انسانانو اساطيري توجيهاتو ته ورته دی او پرخيال ولاړ دی.(شميسا، ۱۳۸۰ل، ۱۰۲ او ۱۰۳).

موږ دوه ډوله حقيقت لرو؛ يو يې ادبي حقيقت او بل يې تاريخي حقيقت، د ادبي حقيقت مانا دا ده که يو اديب په خپله پنځونه کې يو نظر راوړ، کېدای شي شوی وي، کېدای شي وشي او يا هم کېدای شي د يو ښه منظر غوندې چې لوستونکی ترې خوند واخلي او نور يې په ظاهري نړۍ کې په حقيقت پسې نه ګرځي. ولې تاريخي حقيقت يا هم ساينسي حقيقت بايد په تجربه ولاړ وي. زه تاسې ته څو بيتونه راوړم چې يوازې پکې ادبي حقيقت موندلای شئ نه تاريخي او ساينسي حقيقت.

لاندې لنډۍ ولولئ!

اسمان ته لار د ختو نشته     ليلا مجنون په عاشقی ختلي دينه

عبدالرحمن بابا وايي:

عشق عاشق لره يو هسې ګلستان دی     چې وباغ وته يې لار د خزان نشته
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۶۶).

عبدالحميد مومند وايي:

تللې اوبه بيا په بېرته ودري ستا له شوقه     چېرې چې واقع شي شست و شوی په جوی د ستا
(مومند در، ۱۳۸۳ل، ۱۲).

عبدالقادر خټک وايي:

په قد خم په تن ضعیف گوښه نیولې　　　په مثال لکه آبرو د دلربا یم
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۸۹).

په ادبي سبک کې تشبیه، استعاره او کنایه ورسره بدیع د دغه سبک د ملا شمزۍ جوړوي:

تشبیه د احمد شاه بابا په شعر کې:

دا یاران لکه گلونه د بهار دی　　　د خزان په تاو رژېږي دریغه دریغه
(احمد شاه بابا، ۱۰۴).

استعاره د کاظم خان شیدا:

ستا چشمان کا له جهان سره جنگونه　　　چې همیش یې په کمان کړل خدنگونه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۴ ).

کنایه د عبدالرحمن بابا په شعر کې:

کر د گلو کړه چې سیمه دې گلزارشي　　　اغزي مه کره په پښو کې به دې خارشي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۳).

چې صفت د نوم یا ذات له یوه غړي سره راوړل شي او پخپله هماغه نوم یا ذات ترې مراد وي:

ازاد تر سینه درومي د ځیگر دننه کښېني　　　چې غشي لینده دواړه مه جبین سره پیوند کا
(خټک ک، ۱۳۵۸ل، ۱۷).

په ادبي سبک کې کله د مخاطب او متکلم ترمنځ واسطې رامنځته کېږي، لکه:

ماته له ورایه په خندا شه　　　چې خطرې مې د زړه لې شې مینه

په پورته لنډۍ کې (له ورایه په خندا کېدل) د زړه د خطر د لرې کېدو واسطه ده.

په دا خوی دې اور زما په گوگل بل کړ　　　زه د شمعې غوندې ژاړم ته خندا کړې
(خټک ک، ۱۳۵۸ل، ۴۴۶).

د (محبوب یا مخاطب خندا) دمتکلم په زړه کې د اور د لگېدو او د شمعې غوندې په ژړا کېدو واسطه ده.

کله ـ کله ادبي سبک د ساینسپوهانو لپاره نوی فکر رامنځته کوي او همدا ډول د ساینسپوهانو د لاسته راوړنو پواسطه د ادبي سبک لارې بدلېږي.

## ۱. ۱۴. ۲. ادبي سبک او تاریخي سبک

په تاریخي سبک کې اتلان چې څنگه دي په هماغه بڼه راوړل کېږي، په دغه لامل تاریخي اتلان په ټولیز ډول عادي، طبیعي، د تصور وړ او هم د لاسته راوړو وړ دي. لکه احمد شاه بابا، بي بي مبارکه، بابر او داسې نور،

که موږ د (بي بي مبارکه) تاریخي ناول ولولو په هغه کې ډېرې اتلان ریښتوني دي، په همدې نړۍ کې اوسېدلي دي او د همدې ټولنې د انسانانو د لړۍ یوه کړۍ ده چې د هېواد یا نړۍ په تاریخ کې هم ورڅخه یادونه شوې او هم یې کارنامې ثبت دي خو په ادبي سبک کې که همدا ریښتوني اتلان انځورېږي، کېدای شي د لیکوال او ادیب د اروایي، سیاسي او ټولنیز حالت په رڼا کې څه ورباندې زیات شي او یا هم څه ورڅخه کم شي چې لیکنه هنري شي او د لوستونکي لپاره د طنز او مزاح یوه موقع هم براره شي او ورسره یې خبره پر زړه کښېني او د کیسه ییز ژانر تلوسه هم پرې غښتلې شي.

په دغه ادبي سبک کې لوستونکی یا کتونکی د ځینو کرکټرونو ملګری شي، د هغه (خوښي او خفګان) د ده (خوښي او خفګان) شي او د ځینو کرکټرونو پر ضد او مخالفت کې واقع شي بیا د هغوی خوښي دی خفه کوي او د هغوی خفګان دی خوشحالوي. په همدې ترتیب لیکنه تربیوي بڼه خپله کړي او د ټولنې ژورې مسئلې پرې حل شي. پر پورته څرګندونو سربېره په ادبي سبک کې ځینې اتلان خیالي وي په دې نړۍ کې لکه تاریخي اتلان نه دي اوسېدلي خو کله چې لیکوال په کیسه‌ییز ژانر کې لوبولي دي، د عام انسان په بڼه ټولې انساني ځانګړنې ورکړل شوي او لوستونکی بیا له دغسې کرکټرونو څخه دومره اغېزمن وي چې په دې نه پوهېږیو چې ګنې لیکوال دا له خپل تخیل څخه راپیداکړي دي، لکه سیف الملوک، ګل اندامه یا داسې نور.

## ۱. ۱۴. ۳. ادبي سبک او مذهبي سبک

ادبي سبک په ځینو برخو کې یو څه اندازه مذهبي سبک ته نږدې دی خو په مذهب کې پند، اخلاق او قوانین اصلي موخه ده، په داسې حال کې چې له دغو مطالبو څخه یې یو یا ټول ادبي موضوع ګرځول کېدای شي. په مذهبي سبک کې هم موږ له داسې کړنو سره چې حېرانوونکې بڼه ولري او یا هم له اساطیري څېرو سره مخامخ یوو. مذهبي روایات د تفسیر او لاسوهنې وړ نه دي په داسې حال کې چې دغه روایات په ادبیاتو کې کله د جرحې او تعدیل په حال کې راځي. (شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۰۳ او ۱۰۴).

کامګار وایي:

رنګ د غنم رنګ که ښایسته تر حورو نه دی — پرېښې په غنم پسې جنت ولې د ادم (خټک کام، ۱۳۵۸ل، ۱۱۲).

په مذهبي روایاتو کې ابلیس بي بي حوا ته دوکه ورکړه او ادم (ع) د بي بي حوا په غوښتنه د غنم دانه وخوړه او دواړه له جنت څخه بهر کړل شول.

په مذهب کې ډېرې ایاتونه او احادیث راغلي دي چې حکم یې مطلق دی خو په ادبیاتو کې بیا همدا د ایت یا حدیث مطلب په ادبي ژبه د ټولنې د سالمې روزنې لپاره راوړل شوی دی. حدیث شریف دی: عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمْ قَالَ: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ. (سنن الترمذي).

ژباړه:((له انس (رض) څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي(ستاسې یو کس [هم] د پوره ایمان څښتن نه دی تر هغې چې څه د ځان لپاره خوښوي، د [بل] مسلمان ورور لپاره [یې] هم خوښ نه کړي.))). (فاروقي، ۱۴۰۰ل، ۸۸).

دغه مطلب د عبدالحمید مومند په لاندې بیتونوکې ولولئ:

| | |
|---|---|
| هغه مه پسنده په بل باندې انصاف کړه | چې یې نه پسندې په ځان باندې ماتم |
| چې په خپل صورت اغزی منلی نشې | بل ته ولې رسوي د تېغ الم (مومند، ۱۳۸۳ل،۱۴۷). |
| هرچې شرعه فرمایي په هغه کار کړه | مه عمل کوه په رسم په دودونه (ختک، ۲۰۰۱ز، ۷۵). |

## ۱. ۱۵. نظم او نثر

د نثر، نظم او شعر ترمنځ توپیر په اړه زما مقاله گومان کوم د (۱۳۷۱ ل) کال خوا او شا په وحدت ورځپاڼه کې خپره شوې وه. نثر، نظم او شعر درې بېلې بېلې گڼنې دي او هره یوه یې له بلې څخه توپیر کوي. نثر په لغت کې پاشلو ته وایي، اوسنی تعریف یې دادی: ( هره هغه وینا یا لیکنه چې وزن ونه لري نثر بلل کېږي.)

نظم چې د عادي منظوم کلام نوم دی په لغت کې په مزي کې د مرغلرو پېلو ته وایي او په اصطلاح کې ( هغه وینا یا لیکنه چې وزن ولري.) پخوانیو پکې قافیه هم شرط کړې وه چې اوسمهال هم ډېری نظمونه قافیه وال دي او لږ یې بې قافیې دي، دا هم باید هېر نه کړو چې نظم د شعر په پالنه او رامنځته کونه کې لوی لاس لري.

شعر د شعور له کلمې څخه اخېستل شوی دی چې د پوهې په مانا دی خو اوس ( هغه ویناوې یا لیکنې نثر وي که نظم چې احساسات او عواطف پکې رانغښتل شوي وي، شعر دی.) کېدای شي دغه احساسات او عواطف د نثر په بڼه او هم کېدای شي د نظم په بڼه راشي.

له پخوا راهیسې شعر یوازې په نظم پورې تړل شوی دی چې دغه کار ته (غلط مشهور) ویلی شوو. له هر چا چې غوښتنه وکړې یو شعر راته ووایه بې فکره نظم ته مخه کوي او په نثر هیڅ فکر هم نه کوي. یو خبره باید په پام کې ولرو چې نظم د شعر لپاره پراخه لمن لري او په نثر کې د شعر راوړل ډېرې تجربې او خوارۍ ته اړتیا لري. د الفت صاحب نثرونه ولولئ. ډېری داسې څه پکې پیدا کړئ چې د شعر تومنه پکې د پخوالي مورگو ته رسېدلې وي. لاندې یې د نثر څو جملې د بېلگې په ډول راوړم چې د (ښه گټه) تر سرلیک لاندې یې لیکلې دي: ((د مېږو او پسونو له غوښو نه د غرو لېوان او پړانگان استفاده کوي او شپانه ترېنه یوازې پې او وړۍ اخلي. د وحشي او مدني انسان فرق همدغه دی چې هغه د ونې ښاخ راماتوي او مېوه یې خوري، دی ترېنه یوازې مېوه ټولوي او ونې ته زیان نه رسوي.))(الفت، ۱۳۸۷ل،۹۷).

په پورته نثر کې د بلاغت له علومو معاني او بیان څخه پوره کار اخیستل شوی دی او بدیع چې د بلاغت له توابعو څخه دی، هم پکې ښکاري نو ځکه نثر شعري ځانګړنه خپله کړې او د احساساتو او عواطفو د راپېدارولو ښه هنداره ده. اوس به د نظم یوه بېلګه د خوشحال خټک له ارمغان څخه راوړم چې د شعر تومنه نه لري یوازې وزن او قافیه یې پرځای ده او بس:

**د روژې کفارت**

کفارت چې په چا واوړي / دي دې خلاص ګردن په دا کړي
یادې یو بنده ازاد کړي / چې آزاد شي زړه دې ښاد کړي
که دا نه وي دي دوه میاشتې / پیاپې روژې دوه میاشتې
یا شپېته وږي ماړه کا / چاشت و شام هسې خواړه کا
آزادي د بنده ښه ده / تر روژې مسئله ده
روژه ښه ده تر طعامه / مسئله زده کړه ته عامه

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۸۷۴).

نو ویلای شو چې منظوم ادبي کلام شعر ګڼل کېږي. په بله وینا نظم معمولاً ادبي سبک نه لري. شعر انځوریزه ژبه ده او په ده کې له بدیع او بیان چې د کلام د مخیل کولو لوازم دي، ګټه اخیستل کېږي.(شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۰۱).

## ۱. ۱۶. سبکپوهنه او د متونو سمونه

د متن په سمونه کې د متن د دورې له سبکي ځانګړتیاوو څخه خبرېدل اړین امر دی. که چېرته سموونکی له دغه اصل سره نا اشنا وي نو ډېری تېروتنې به رامنځته شي. د لرغونې دورې په لیک کې آر کړ او مرستیال کړ ګډ سره لیکل شوي.

زه یم زمری پردې نړۍ له ما اتل نسته
بل په کابل نسته * له ما اتل نسته
غشي د من مې ځي برېښنا پر میرڅمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې
له ما اتل نشته
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۳۴).

په پورته نظم کې (یونم او یرغالم) له آرو او مرستیالو فعلونو سره یوځای په ترکیبي بڼه راغلي دي چې اوسنۍ بڼه یې (یون کوم او یرغل کوم) دي. یا د خیرالبیان په آره املا کې (له ← لَ ) په بڼه لیکل (خپل سر ← خپسر) په بڼه لیکل او داسې نور چې دا د هغې دورې د متونو سبکي ځانګړتیاوې راښیي. یا په یوه دوره کې د پښتو ژبې سوچه کلمې کارېدل او په بله دوره کې بیا د عربي او فارسي کلمې پښتو ژبې او ادب ته مخه کوي. د یوې دورې د متونو په سمونه او د هغې دورې په سبک معلومونه کې کارنده تمامېږي.

## ۱. ۱۷. د څو هم منځپانګيزو آثارو پرتلنه

لاندې دوه بيتونه چې د مضمون له مخې د ژوند له ستونزو د تېښتې مخالفت پکې څرګند شوی دی او په خپل ځان د باور موضوع را په زړه کوي. خوشحال خان ختک يې د خپل چاپېريالي اغېز له مخې يو ډول راوړي او عبدالرحمن بابا يې د خپل چاپېريال د اغېز له مخې بل ډول تعبيروي:

د عالم ډېرې خبرې لور په لور تورې لښکرې
زړه مې نه خوځي له ځايه غر خو هسې وي که نه (ختک، ۱۹۶۰ز، ۳۰۸).

لکه ونه مستقيم په خپل مقام يم
که خزان را باندې راشي که بهار (عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۲).

د پېښې يا عمل د تر سراوي نسبت محبوب يا مخاطب ته کول متحد مضمون دی چې د خوشحال خان ختک، عبدالرحمن بابا او عبدالحميد مومند په لاندې بيتونو کې يې په بېلابېلو سبکې ځانګړنو کې محسوسوو:

ته چې ماته وايې وايه څوک دې وژني
ته له خپلو سترګو غواړه دا ځواب (همکار، ۱۳۹۱، ۲۴۹).

ته چې ماته وايې چې په څه کوې ژړا
نه درمعلومېږي دغه خپل جور و جفا (عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۵۷).

مړاوی رنګ زما پوښته له مړاوو سترګو
داچې وي خبرداری د خوار په خوار (مومند، ۱۳۸۳ل، ۶۰).

ارزاني په پښتو وې
نن يې غاړه کړه ادا (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴۵۰).

فارسي شعر مې هم زده سليقه لرم د دواړو
پښتو شعر مې خوښ دی هر څوک خپل ګڼي ښاغلي (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴۵۰).

## ۱. ۱۸. د سبک پوهنې ځينې ډولونه

سبک پوهنه ځينې نور ډولونه هم لري چې ادبي کره‌کتونکو پر (توصيفي، تکويني، وظيفوي او جوړښتي) نومولي دي.

### ۱. ۱۸. ۱. توصيفي سبکپوهنه(Descriptive Stylistics)

د نوموړې سبکپوهنې بنسټګر شارل بالي دی، هېواد يې سويس دی او د (۱۸۶۹ ز – ۱۹۴۶ ز) په کلونو کې يې ژوند کاوه. نوموړی د نوې سبکپوهنې بنسټګر ګڼي. شارل بالي د فردينان‌دوسوسور ( Ferdinand De Saussur) چې په (۱۹۱۳ ز – ۱۸۵۷ ز) يې د ژوند زمانه ده او د نوې ژبپوهنې پلار يې ګڼي شاګرد و.

د توصيفي سبکپوهنې د پليوني کار دادی  چې متحد المضمونه عبارتونه، جملې او کلمې يـو لـه بلـه سره پـه پرتليز ډول سنجوي او پايله ترې اخلي چې د غه جملې او عبارتونـه، د منځپـانګې لـه مخـې سره يوشـان دي، د عواطفو او احساساتو له مخې سره توپير لري.

بالي وايي دغه احساسات او عواطف د سبکوپوهنې منځپانګه ده چې د ژبپوهنې پر منځپانګه ور اضافه کـړل شوې ده. په دغه ترتيب د ده مېتود (روش) د (بيان) روش ته نژدې دی چې يوه مانا په بېلابېلو بڼو وړاندې شي.

بالي د متحدالمضمونو عبارتونو واحده منځپانګه په (Unite Penste) نوموي چې په فـارسي کـې پـه (کمېتـه محتوا يا واحد فکری) ژباړل شوې او په پښتو کې يې په (فکري واحد) ژباړلای شو. لاندې عبارتونه ولولئ!

په مخه دې ښه، په مخه دې زېړي ګلونه، الله (ج) دې مل شه، په خير راشې، په خير لاړشې.

يا: کار يې پيل کړ، په کار يې لاس پورې کړ، کارته يې ملتې بډ وهلې، کار ته يې ملا وتړله.

يا: زه د هغې مين يم، زه له هغې سره مينه لرم، زه له هغې سره علاقـه لـرم، زه هغـه غـواړم، زه د زړه لـه تلـه هغـه خوښوم، زه هغه د ټولې نړۍ په کچه خوښوم، زما مينه له هغې سره ازلي او تلپاتې ده.

په پورتنيو درو بېلابېلو پيغامونو رسولو کې ګڼې جملې راغلـې دي چـې د احساسـاتو او عواطفـو د ځـوښ ( شدت ) او کمزورۍ له مخې توپير لري، په دغه لامل توصيفي سبکپوهنې ته بياني سبکپوهنه هم وايي.

د متحدالمضمونه بيتونو بېلګې پورته راوړل شوي چې تاسې ترېنه د توصيفي سـبکپوهنې پـه برخـه کـې ګټـه اخيستلی شئ.

په دغې سبکپوهنه کې دغه دويم عامل (احساسات او عواطف) اضافه کېږي چې همدغې ته سبک وايـي او د سبکپوهنې کار همدغه ثانوي عوامل يا عاطفي زياتونې دي.

د شارل بالي د کار نيمګړتيا داده چې د ادبي ژبې څېړنې يا پلټنې ته يې پاملرنه نه ده کـړې او ژبـې تـه يـې پـه کلي ډول پاملرنه کړې ده. دغه ډول سبکپوهنه کولای شو په ادبي آثارو کې په ښه توګه په کـار يوسـو او د ادبي آثارو د احساساتو او عواطفو د ځوښ (شدت) او کمزورۍ د لېږد په برخه کې ښه پلټنه وکړو.( شميسا، ۱۳۸۰ل، ۱۱۸ - ۱۲۰).

### ۱. ۱۸. ۲. تکويني سبکپونه(Genetic Stylistics)

د تکوين لغوي مانا پيدايښت او ايجاد دی، په تکويني سبکپوهنه کې د سبکپوه پاملرنـه د اثـر پـر تکـوين يـا ايجاد باندې وي. تکويني سبکپوهنه د توصيفي سبکپوهنې پر خلاف د سبک د رامنځته کېدو په علتونـو بحـث کوي چې د ويناوال په نفسياتو يا اروايي پلو کې نغښتي وي.

تکویني سبک ته د فردي سبکپوهنې ډول یا ښوونځی هم وایي، ځکه په دغه سبک کې ټولې دعوې یا پلټنې پر شخصي سبک ولاړې وي.

د سبک دغه ډول الماني پوه لیوا سپېتزر (۱۸۸۷ ز – ۱۹۶۰ ز) ته منسوب دی، نوموړي په فلالوژي (ژبپوهنه) کې تخصص درلود. د سیاسي حالاتو د بدلون په لامل نوموړی له المان څخه ترکیې او بیا له ترکیې څخه امریکاته لاړ او هلته په امریکایي پوهنتونونو کې په تدریس بوخت شو او ورسره یې ښه شهرت پیداکړ. په دغه موده کې لیواسپیتزر د فروید، کروچه، او فوسلر د نظریو تر اغېز لاندې راغی. کروچه او فوسلر گروهمن وو چې ژبه هنري او تخلیقي جنبه لري او له سبک او ښکلا سره په یو مزي تړل شوې ده.

د فوسلر په وینا ژبه د هنر او تخلیق یوه نوعه ده او کولای شو په ژبه کې د سبک او ښکلا په لټه کې شو. دی گروهمن و چې د هرې دورې ادبیات د ټولنیزو او سیاسي لېوالتیاوو په تحلیل، څارنه او شننه مشخص کېږي.

د لیواسپېتزر د مشهور کتاب (ژبپوهنه او د ادبیاتو تاریخ) ځینې جملې د سبکپوهانو ترمنځ مشهورې شوې دي چې لیکي: (سبکپوهنه د استعداد، تجربې او ایمان زېږنده ده. یا سبکپوهنه د ژبپوهنې او ادبیاتو تاریخ ترمنځ پل دی.)

د لیواسپېتزر په وینا سبکپوه باید د پنځگر د فلسفې او سبک ترمنځ تړاو پیداکړي. د ده د سبکپوهنې دود پر ویيپوهنه ولاړ دی. د ده د ویيپوهنې په دایره کې دغه نومونه پر دې ولاړه ده چې دی د یو اثر پر سطح او مرکز گروهمن دی او په متن کې د اثر هره کلمه د عاطفې او احساس ښکاروندویه گڼي، د دې لپاره چې د اثر له سطحې (دال) څخه (مدلول) چې د ننه حیاتي مرکز (د اثر د تکوین یا پیدایښت زړی) ته لار پیداکړو نو د دې لپاره له درو پړاوونو څخه تېرېږوو:

۱. باید د اثر په سطحي ځانگړنو کې غور وکړو.

۲. دغه سطحي ځانگړنې باید راټولې او کټگوري کړو او زیار وباسو چې د دوی او د ادیب د نفسیاتو تر منځ اړیکې پیدا کړو.

۳. په پای کې باید د دویم ځل لپاره له د ننه څخه بهر ته راشو او د خپلو ادعاوو د ثبوت لپاره پر دغو ځانگړنو بیا کتنه وکړو.

په پورته ډول باید په لومړي پړاو کې له اثر سره دومره بلد شو ترڅو یوه یا خورا ډېره مشهوره سبکي ځانگړنه یې زموږ پاملرنه ځانته واړوي، موږ ته ټکان راکړي او زموږ په ذهن کې جرقه رامنځته کړي، بیا دغه ځانگړنه د ادیب له نفسیاتو سره په اړیکه کې کړو او په دریم پړاو کې د نورو شواهدو په پلټنه کې شوو چې زموږ د نظر د ثبوت لپاره زموږ په ذهن کې پیدا شوي دي.(شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۲۰ او ۱۲۱).

خوشحال بابا وایي:

که په توره یې څواب ورکړې مردي ده
که وجود دې څوک ازار کاندي په چوب
(پښتوټولنه، ۱۳۴۵ل، ۱۸).

چې دې وکنځي مرد نه یې
نامرد فخر په نسب کا
که له تا نشي په ډار
مرد نه مور لري نه پلار
(ختک، ۲۰۰۱ز، ۳۷۹).

طبعیت مې په مثال د باتور باز دی
که یې گوري د هرڅه وښکار ته ساز دی
( ختک، ۱۳٦۲ل، ۱٦).

اجمل ښکلی په خپل اثر سبکپوهنه کې لیکي: (( د سپیتزر په اند د پنځګر د غریدا او لیکنې ژبې سبک ترمنځ توپیر وي او د دې دویم کشف تر لومړي هغه گران دی. په کار ده چې له عادي ژبې څخه راغلو کلمو او اصطلاحاتو ته ارزښت ورکړل شي. سپیتزر د پنځونې ژبنی اړخ د عاطفي اړخ لپاره دال بولي نو ژبه له یو کول څخه په بل کول کې توپیر لري. په دې توگه نوي ټولنیز سیاسي مسایل نوي اروایي او عاطفي هیجانات پیداکوي.))(ښکلی، ۱۳۹۰ل، ٦٦).

تکویني سبکپوهنه تر سپیتزر وروسته د ژبپوهانو او ادبپوهانو په نزد له یاده وتلو پر لور لاړه او اوس ځینې اروایپوهان نوموړې سبکپوهنې ته پاملرنه کوي.

### ۱. ۱۸. ۳. وظیفوي سبکپوهنه(Functional Stylistics)

تر وظیفوي سبکپوهنې وړاندې به د وظیفوي ژبپوهنې په اړه یو څه څرگندونې وړاندې کړو چې وظیفوي سبکپوهنې ته لار اواره شي.

وظیفوي ژبپوهنه، ژبه ټولنیزه وسیله گڼي چې په محدود حالت کې وي یعنې په ژبپوهنه کې هره کلمه خپله ځانګړې دنده لري چې د هماغې دندې (مانا) لپاره په کار وړل کیږي. مانا دا چې په ژبپوهنه کې د کلمو په وضعي مانا وو بحث کیږي. د ټولنې هر وگړی ژبه له نورو سره د اړیکې جوړولو له مخې په کار وړي او وظیفوي ژبپوهنه په همدې برخه کې خپلې څېړنې کوي.

د ژبې د نقشونو (دندو) په اړه هر چا خبرې کړې دي اود ډېری ژبپو هانو په نزد د ژبې نقشونه په درو برخو وېشل شوي دي:

#### ۱. ۱۸. ۳. ۱. توصیفي وظیفه

دغه ډول کلمې یا جملې یوازې خبري بڼه لري، کېدای شي ریښتیا او هم کېدای شي دروغ وي، یعنې د درغو او ریښتیاوو وړتیا لري.

#### ۱. ۱۸. ۳. ۲. بیانوونکې وظیفه

د ويناوال حال (عواطف او احساسات) راڅرګندوي.

**۱. ۱۸. ۳. ۳. ټولنيزه وظيفه**

ژبه د ټولنې د وګړو ترمنځ د اړيکو جوړولو په چوپړ کې ده.

د وظيفوي سبکپوهنې بحث په سبکپوهنه کې په ځانګړي ډول د ادبي متونو په سبکپوهنې کې ځانګړی نوم لري. په لنډ ډول بايد وويل شي، لکه څنګه چې په جوړښتي سبکپوهنه کې د ژبې جوړښت په لوړه کچه په پام کې نيول کيږي. په وظيفوي سبکپوهنه کې په متن کې د ژبې دندې تر څارنې لاندې وي. پخپله ادبي ژبه د ژبې له ډولونو څخه ځانګړې دنده لري چې دغه دنده به د ښکلا رامنځته کونې يا د اغېز او نفوذ په برخه کې وي. لـه هغه ځايه چې ادبي ژبه په عمده ډول له تشبيه، مرسل مجاز، استعارې يا بديعي جوړښتونو څخه رغول کيږي نو د بديعي او بياني وسيلو رول د وظيفوي سبکپوهنې د پاملرنې وړ دی. پخپله د ادبياتو دنده (ادبي ژبه) حتی سبک بايد روښانه شي.

رمان يا کويس چې کله د ژبې په دندو کې د اړيکو (Communication) نظريې په اړه نـوې نظريـې مطـرح کړې او د عادي او ادبي ژبې په دنده کې يې پلټنې پيل کړې يـو د دغـه ډول کـره کتنـې لـه مشـرانو څخـه ګڼـل کيږي.(شميسا، ۱۳۸۰ل، ۱۲۴ او ۱۲۵).

په وظيفوي سبکپوهنه کې د يو ادبي اثر د کلمو، جملو، ترکيبونو دندې په پام کې نيول کيږي چې آيا شاعر يا اديب دغه کلمه يا جمله کارولې، هغه دنده چې اديب و رسپارلې آيا په سمه توګه يې تـرسره کـړې کـه نـه ده؟ د بېلګې په ډول زه د عبدالقادر ختټک د يوې بوللې څو بيته راوړم چې د ژبې د دندې له پلوه د بهار او ګل کلمـې پکې وضعي دنده پر غاړه لري:

شـګفته پـه بـاغ و راغ شـول د بهـار ګـل — هم په بام هم په کوخـه هـم پـه ديـوار ګـل
نـــه يـــوازې ګـــل دګلـــو بـــوټي وينـــو — بـــادام ګـــل شـــفتالو ګـــل وينـــو انارګـــل
(ختټک، ۲۰۰۲ز، ۲۳۸).

لاندې دګل پاچا الفت دوه بيتونه راوړم چې د (بهار، ګل، خزان او چمن) کلمـو تـه د عـادي ژبـې پـر دنـدې سربېره ادبي يا مجازي دنده هم ور په غاړه شوې ده:

تـــل دې بهـــار وي زمـــوږ وطـــن کـــې — لکـــه چـــې روح وي ښايســـته بـــدن کـــې
څـــانګې د ګلـــو دې تـــل تـــازه وي — خـــزان دې نـــه وي زمـــوږ چمـــن کـــې
(الفت، ۱۳۷۵ل، ۴۲).

د عبدالحميد مومند په لاندې بيتونو کې ډېری کلمې د تصوف د سمبولونو د ندې لري. کـه چېرتـه آره دنـده (وضعي مانا) يې مراد شي، د شعر ښکلا او مانا دواړو ته زيان پېښوي. دا چې عبدالحميد مومنـد د خپـل شـعر د مانا په اړه پوهانو ته ترجيح ورکوي او ناپوهانو غندي لامل يې همدا دی چې ناپوهان ډېره نژدې او سـطحي مانـا

په پام کې نیسي او د شعرونو تعبیر غلطوي او پوهان بیا له سطحي مانا څخه د کلمو او ترکیبونو پواسطه د شعر تل ته کوزېږي او د شاعر د نفسیاتو په رڼا کې حقیقي مانا ووته ځان رسوي.

د حمید له فکره مه پوښته عام خلک
د زربفتو قدر څه زده بور یا باف
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۱۹).

غیر فکر پکې هیڅ نشته بې مینې
درست له دې هوسه پور دی زما دل
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۳۵).

د حمید بوالهوسي ناکسي نه ده
لټوي په خپله ورکه پسې هر مخ
(مومند، ۱۳۸۳ل،۵۹).

ږدم په هسې شونډو شونډې نن ساعات
چې مې نه دي پوچ په کار مصري نبات

که یې خضر د حیوان په چشمه مومي
موم زه د یار له خولې آب حیات

په پرده کې د اسلام بت پرستي کړم
خدای دې نه کاندي داستر زما مات

پاک د نفس له مقتضی په محبت کې
یم ولاړ لکه عاصي په عرصات
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۶).

### ۱. ۱۸. ۴. جوړښتي سبکپوهنه(Structural Stylistics)

په جوړښتي سبکپوهنه کې بنسټیز بحث پر دې دی چې د ژبې یو توک هم په یوازې ځان څه مانا نه لري، بلکې د اثر هر توک باید د اثر له نورو توکونو سره او په ټولیز ډول په ټول سیستم کې په نظر کې ونیول شي. په بله وینا د یو متن یا پیغام عناصر یا توکي باید په یوازې ځان تر پلټنې لاندې ونه نیول شي، د بېلګې په ځان د یو شعر په پلټنه او څارنه کې باید یوازې قافیه او وزن په یوازې ډول په پام کې ونه نیول شي، بلکې قافیه او وزن د یو ټولنیز نظام ـ چې هماغه د شعر موسیقي ده ـ سره یو ځای په پام کې ونیول شي. په دغه صورت کې به د شعر د پیغام او موسیقۍ ترمنځ اړیکه څرګنده شي. سجع او قافیه به د موسیقۍ په پالنه کې کارنده نقش ولري.

د جوړښتي سبکپوهنې پر وخت سبکپوهنیزه کړنه ارزښت لري نه دا چې د بلاغي توکو لیکلړ لکه: سجع، تجنیس... او نور برابر کړوو.

موږ په دې کار سره د یو شعر یا ادبي کلام جوړښت نه خرابوو، بلکې دا څرګندوو چې د وخت غوښتنې څنګه په یو شعري نظام کې راوړل کېږي چې بیا د یو هنري اثر د پنځونې لامل ګرځي. یو ادبي اثر کولای شو په درو سطحو (ځپه، کلمه او نحوه) کې تر پلټنې، شننې او تحلیل لاندې ونیسو.

په ځپیزه پلټنه کې د شعر د وزن، قافیې، ردیف او دې ته ورته مثالونو اړیکه د موسیقۍ او مانا په تړاو څېړنه کېږي. آیا دغه وزن یا ژانر د متن د پیغام رسونې لپاره مناسب دی که نه دی؟

په لغوي پلټنه کې د کلمو د غوراوي له مخې د پرځای کارونې په اړه فکر کېږي، دغه کلمې چې شاعر غوره کړې دي کوم ځانګړی امتیاز لري؟ یا څه ورته والی یا بېلوالی د نورو کلمو له غوراوي سره لري؟(شمیسا، ۱۳۸۰ل،۲۹).

په لاندې بيت کې عبدالحميد مومند په عامه محاوره کې د (سر) کلمې پر ځای (لاس) غوره کوي:

چې نازل شته د عشق تندر له اسمانه　　　ما حميد د غم لايق ورته لاس ونيو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۷).

په بل بيت کې د لاروي پر ځای (ستړی ستومان) کلمه غوره کوي بيت ته موسيقي او ښکلا وربښي. بيا د عبدالحميد مومند بيت:

چې راحت در څخه *ستړی ستومان* مومي　　　خپل صورت دې لکه سيوری د بيديا کړه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۵).

که د لومړی مسرې (ستړی ستومان) په (هر لاروی) ترکيب واړوو (چې راحت د رڅخه هر لاروی مومي) د شعر په کيفيت او ښکلا دواړو کې څرګند توپير ليدلای شو.

په لاندې بيت کې کاظم خان شيداد (فرهاد) کلمه خوښوي؛ که څه هم د دغې کلمې پر ځای (وامق، مجنون او نور) عاشقانه کرکټرونه هم راتلای شول نو ولې شيدا د (فرهاد) عاشقانه کرکټر راوړی؟

بې تابي يې په ماتم کې د فرهاد وي　　　چې راولوېږي د غره توروې نمرې
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۷۹).

په نحوي پلټنو کې يو له بل سره د کلمو په اړيکه او د جملو د کيفيت په اړه بحث کېږي. د عبدالحميد مومند بيت دی چې يوه مسره يې بيا علي خان د تضمين په بڼه راوړې ده، دلته د کلمو نحوي اړيکه د مانا او موسيقی په رامنځته کونه کې ښه ليدلی شئ.

عبدالحميد مومند:

د حميد بولهوسي ناکسي نه ده　　　لټوي په خپله ورکه پسې هر مخ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۵۹).

علي خان:

لټوم په خپله ورکه پسې هر مخ　　　کوم غواص به راښکاره که د ګوهر مخ
(علي خان، ۱۹۸۸ز، ۵۸).

د دغو پراوونو تر پلټنې او څارنې وروسته بايد څرګنده کړو چې د دغو توکو په خپل منځ کې څه اړيکه ده؟ د څپو، کلمو، ترکيبونو او نحوي ترمنځ څه ډول نظام د سبک په څرګندونه کې راڅرګند شوی دی چې په غور سره د اثر د پيغام او د هغې له مانا سره متناسب واقع شوی دی.

ځينو سبکپوهانو د يو هنري اثر تر تحليل وروسته کوښښ کړی دی چې د هغه اثر اړيکه د شاعر يا ليکوال له نورو آثارو سره تر څېړنې لاندې و نيسي او کله د هغو آثارو ادبي نوع مشخصوي په دې بنسټ ګورو چې د

جوړښتي سبکپوهنې لمنه ډېره پراخېږي او د سبکپوه په پوهه او ځواک پورې تړاو پیداکوي. څومره چې د سبکپوه د پوهې کچه لوړه وي په هماغه کچه د ادیب د سبک ځانګړنې په دغه برخه کې په ګوته کولای شي.

په پایله کې ویلی شو چې توصیفي سبکپوهنه که هرڅو ژبنۍ دعوه لري خو دا چې د آثارو په عاطفي خوا څرخېږي ډېره ادبي جنبه لري او په همدې ډول تکویني سبکپوهنه د ادیب د نفسیاتو پلټنه کوي او جوړښتي سبکپوهنه په حقیقت کې د وظیفوي سبکپوهنې بشپړ شکل دی چې د ژبې پر دنده لکه: بدیعي جوړښتونو او د خیال په انځور تکیه لري.( شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۲۹ – ۱۳۱).

## ۱. ۱۹. د متني سبک پېژندنې د څېړنې میتود

د دې لپاره چې وکولای شو متن د سبکپوهنې له مخې تجزیه، تحلیل او وڅېړو باید موږ یو مېتود ولرو. په دغه برخه کې ترټولو اسانه او په عملي بڼه د کارولو لار داده چې متن له درو لیدلورو (ژبه، فکر او ادبیات) تر غور لاندې ونیول شي چې پر دغې وسیلې وکولای شو د متن جوړښتي توکو ته لارښود پیدا کړو او د متن جوړښت د متن د توکو په خپل منځ کې له اړیکو څخه پیداکړو.

### ۱. ۱۹. ۱. ژبنۍ سبکپوهنه(Literally Level)

ژبنۍ سطحه پراخه ګڼه ده له دغې مخې دغه ګڼه په درو نورو وړو سطحو څپیز (Phonological)، لغوي (Lyrical) او نحوي (Syntactical) وېشو.

#### ۱. ۱۹. ۱. ۱. څپیزه اړخ(Phonostylistics)

څپیزې سطحې ته کولای شو د متن موسیقیزه سطحه (Musical) ووایو. په دغه پړاو کې متن د موسیقۍ پیدا کوونکو ابزارو له مخې څېړو.

بهرنۍ موسیقي د وزن، قافیې او ردیف له څېړنې څخه څرګندېږي. د متن د ننۍ موسیقي د لفظي صنعتونو د سجع له ډولو لکه: (متوازي، متوازنې او مطرفې سجعې او ترصیع)، د تجنیس له ډولونو (تام، ناقص) د تکرار ډولونو (یو ډول توري، یوډول غږونه) په وسیله منځته راځي. پر دې سربېره په دغه بحث کې د تلفظ اړوند ټولیز مسایل لکه: د اطلاق الف، د ابدال ډولونه ( لکه د ف او په تبدیلېدل پر ل او ر)، اما له (کتاب /کتیب / شیطانته، شیطنیه)، معدوله واو، د صوت نوم (چف، چف ) د لغتونو لنډون ( نګاه، نګه / خپل سر، خپسر)، د مخفف مشدد کول او د دې برعکس (له پاره)، پخواني تلفظونه (یونم) هم په دغه برخه کې تر غور لاندې نیول کېږي.

ځینې سبکپوهان د څپو ډولونه او د هغوی د اتصال ډولونه (واز، تړلې) او څو څپیزو کلمو ته هم پاملرنه کوي.(شمیسا، ۱۳۸۰، ۱۰۳ او ۱۰۴).

په کلمه کې لنډون کول، د بېلګې لپاره یې د کامګار خټک بیت راوړو چې د (ټولولو) پر ځای یې (ټولول) راوړي او د کلمې متغایره (واو) یې غورځولی دی.

د دنیـا و ټولــول تــه هــوس مــه کــړه          چې ډېرېـږي هـومره لا غمونـه پـېش کـه
(ختک، ۱۹۵۵ز، ۲۷).

**۱. ۱۹. ۱. ۲. لغوي اړخ(Lexical)**

په دغه برخه کې موږ په پښتو ژبه کې د عربي، دري، ترکي، انګلیسي او نورو ګڼو ژبو د لغتونو کارول ترڅېړنې لاندې نیسو. د بېلګې په ډول د پښتو ژبې او ادب په کومه دوره کې پښتو سوچه ده، یا د نوروکومو ژبـو تـر بریـد لاندې راغلې ده، د کومې ژبې ونډه په دغه برخه کې ډېره ده. همدا ډول هر ژبه خپل قانون لري آیا دغـه کلمـې په خپله آره ژبه راوړل شوي، یا مفغن شوي. کلمه له خپلې وضعي مانا سره بې له لاسوهنې په اره بڼه راغلـې وي، کله یې په بڼه کې لاسوهنه شوې وي خو مانایې هماغه وضعي وي، کله یې بڼه هماغه آره وي خو مانا یې بدلون کړی وي.

پخپله د پښتو ژبې لغتونه په لرغوني بڼه رغلي دي، لیکنی بڼې یې بدلون کړی، همدا ډول د مانا له مخې یـې بدلون کړی، صفتونه، نومځري، نومونه، قیدونه، فعلونه او وییکي پکـې پـه څـه ډول کـارول شـوي دي. بڼـه یـې لرغونې ده؟ که نه په اوسنۍ معیاري بڼه لیکل شوي. کومې کلمې چـې د څـه مانـا لپـاره کـارول شـوي، پرځـای کارونه ده که نه کمې پکې شته.

همماتیزې کلمې پکې ډېرې دي، د کلمو زېرمه یې ډېره ده که کمه ده؟ تکراري کلمې کاروي که نـه؟ ادلـون بدلون پکې شته؟ همداډول کلمې په وضعي مانا ډېرې کاروي که نـه پـه مجـازي مانـا وو کـې یـې هـم کـارولي دي؟(شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۵۴).

کله د چا په اثر کې له ځینو کلمو څخه لاسته راوړنې د پاملرنې وړ دي چې په همدې لامل د یو چـا شخصـي سبک را پېژندلای شي. کله یو ادیب د ځینو کلمو اړوند ځانګړی ذهني چلند لـري یعنـې یـوه ځـانګړې مانـا یـا احساس پر هغو باندې لېږدوي. لکه: بلبل، ګل، تـوتي، پیرمغـان، د کـاروان چنـار، دکـاظم خـان شـیدا سـبزان، د عبدالحمید مومند نوخطي، دخوشحال بابا باز نو په ټوله کې ویلای شو چې ځینې لیکوال او شاعران له ځـانګړو کلمو سره علاقه لري او په بېلابېلو بهانو هغه تکراروي.

**۱. ۱۹. ۱. ۳. جمله ییزه اړخ(Syntactical)**

د جملو په اړه څېړنه کېږي چې ورسپارل شوې مانا یې سمه رسولې ده که نه ده/ په نامشـهور جوړښـتونو کـې کارېدلې دي، جملې لنډې دي که اوږدې؟ د زاړه ګرامر له مخې یې جملې کارولي، که نوی ګرامر یې په پام کې نیولی دی؟ کله د جملو راوړل او یو په بل پورې تړل د لوستونکي یا سبکپوه پاملرنه ځانته را اړوي او همدا کار په یو ډول لیکنې ته سبکي لوری ټاکي. د بېلګې په ډول د اسدالله غضنفر په جملو کـې (ممکـن، کېـدای شي، پـه غالـب ګمان) او دې ته ورته کلمو کارونه د ده یوه سبکي ځانګړنه کېدای شي.

موږ نشو کولای چې ځينې سبکي ځانګړنې مخکې تر مخکې لست کړو او بيا په يوه متن کې د هغو په پلټنې پسې متې بډ وهو، بلکې دا د وخت په غوښتنه او د ادبي اثر په نوع پورې اړه لري. کومې لاړښوونې چې په تېرو ليکنو کې راوړل شوې د هغو په رڼا کې سبکپوه د يو ليکوال يا دور په سبک پسې څېړنه کوي او هغه نکتې ترې راټولي چې د دوره يي او يا هم شخصي سبک په پېژندلو کې کارنده تماميږي.(شميسا، ۱۳۸۰ل، ۱۵۵ او ۱۵۶).

### ۱. ۱۹. ۲. فکري سبکپوهنه(Philosophical Level)

دغه سطحه د اثر له نفسياتي او ذهني (Subjective ) خوا او يا هم افاقي او عيني (Objective)، يا هم په بهر کې د هغو څيزونو چې لمس کېږي سره تماس لري او يا هم په دننه او ژورو مسئلو څرخي. دغه اثر د خوښۍ يا د غم پر بنسټ ليکل شوی يعنې په لوستو يې لوستونکي خوشحالېږي که خفه کېږي؟ د پوهې او هوښيارۍ پيغام لري او که د عرفاني عشق؟ کوم ځانګړی فکر لېږدوي؟ آيا ليکوال کوم ځانګړی احساس لکه ملي احساس، مذهبي احساس لري که نه؟ د اتلانو د وضعې څېړل، لکه په لرغونې يا پښتو شاعرۍ کې د معشوقې ذکر چې ډېری په نارينه بڼه راوړل کېده؟ ليکوال بدبينه دی که خوشبينه؟ د مرګ، ژوند، مينې، سولې، جګړې په اړه څه فکر کوي؟ عارفان له مرګ څخه نه وېرېږي آيا عبدالرحمن بابا او حمزه هم له مرګ نه وېرېدل؟ آيا ليکوال فلسفي ليدلوری لري؟ که اثر عرفاني وي څه ډول عرفان يا تصوف يې مخته وړی دی او د عرفان په جزياتو څنګه فکر کوي؟

عبدالرحمن بابا چې پر صوفي شاعر مشهور دی بيا يې هم په ځينو شعرونو کې عام مجازي فکر وړاندې کړی دی. په ځينو ادبي آثارو کې هيڅ ډول فکر مطرح نه دی يوازې لفظي او انځورګري ترې مراد وي، لکه د علي خان لاندې بيت:

سور دخيال په تند توسن شي د سم قد نېزه ورڅخه       د خط شنه زغره اغوستې ځي د جنګ په سنباله کې

( علي خان، ۱۰۸۸ز، ۸۸ ).

د پورته خبرې خلاف په ځينو آثارو کې نوي فکرونه او نظرونه مطرح شوي دي چې اصلاً بې مخينې وي.

په فکري سطحه کې هم د جزوياتو اړوند غور په متن پورې اړه لري، په کلاسيکو ادبياتو کې مذهبي خواوو ته لېوالتيا ښودل ارزښتمن دي، کېدای شي ځينې ليکوال خپله عقيده پکې په يو ډول نه يو ډول مطرح کړي، په معاصر ادب کې د سياسي مفکورې څښتنان ډېری خپله مفکوره په شعر او ادب کې مطرح کوي چې دا خوا هم بايد له پامه ونه غورځول شي. د ځينو ليکوالو په يوه اثر ( که بشپړ کتاب وي يا يوه کيسه يا نظم ) کې د هغه د فکر ي سطحې خبره نه مطرح کېږي. دې ته وړه سبکپوهنه (Micro- Stylistic) وايي خو په لويه سبکپوهنه (Macro- Stylistic) چې د جملې پر لپسېينه په کافي حد کې وي کېدای شي چې فکري ځانګړنو ته هم پاملرنه وکړو. په وړه سبکپوهنه کې يعنې د يو شعر يا داستان په څېړنه کې هم بايد فکري ځانګړنو ته پاملرنه وکړو خو په لويه سبکپوهنه کې د غه د فکري ځانګړنو پيداکول د يو ليکوال يا دورې په اړه د ادبي ځېلونو په پام کې نيولو

سره له واجبي کړنو څخه ګڼل کېږي. د بېلګې په ډول د خراساني او عراقي سبک په پرتلنه کې عمده توپیر په ژبه کې نه دی، بلکې په همدې ادبي او فکري سطحو کې دی.

کله کله پخپله لیکوال ځینې فکري ځانګړنې په ځان پسې لیکلي وي. موږ باید په هغو پسې لاړ نه شو یا هم خپل اثر پخپله توضیح او تفسیروي کېدای شي د دوی دغه کار سم نه وي. په هر صورت هغه خبره موږ ته ارزښتمنه ده چې له متن څخه لاس ته راشي. د لیکوال رښتینولي، د اثر ښه او باطني مانا باید پیداکړو.

ځینې شاعران د عرفان لافې وهي خو د ده د کلام له جزیاتو څخه پوهېږو چې عرفاني تفکر نه لري خو عرفان د هغه د کار ماده وي. څنګه کېدلای شي یو عارف له مرګ ووېرېږي یا په ښکلي نظام اعتراض وکړي؟ (شمیسا، ۱۳۸۰ل، ۱۵۶ – ۱۵۸).

کېدای شي یو څوک اګاهانه یا په شعوري ډول د داسې فکر په تړلو کوښښ وکړي چې د هغه اثر حقیقي مانا نه وي او دغه نکته د فرمالیستانو دکره کتونکو له خوا د لوړ کمال ارزښت لري.

### ۱. ۱۹. ۳. ادبي سبکپوهنه(Literary Level)

د داسې لغتونو د مانا وو په لاسته راوړنه چې په دویمه مانا (مجاز) کې په کار وړل شوې وي، لکه د بیان له مخې د تشبېه، استعارې، سمبول او کنایې په کار وړنه، د معنوي بدیع له مخې لکه ابهام، تناسب او په ټولیزه توګه په ادبي اثر کې هنري سرغړاوی او ادبي پنځونه په ژبه کې په کار وړنه په برکې نیسي. دټولو فرمالیستانو خبرهمدا ده چې په ادبیاتو کې آره مسئله، ادبیت (Literariness) ده، یعنې د بیان طرز او د موضوع د وړاندې کولو لارې چارې، هرڅومره چې د یو اثر ادبیت خورا مشخص وي، اثر خورا ادبي دی. د دې ترڅنګ د ادبي څېلونو، د ادبي قراردادونو اړوند د لیکوال وفاداري او یا پکې لاسوهنه، د شعر څېلونه د معاني علم مسایلو، لکه ایجاز، اطناب، قصر، حصر دا ټول د سبک د پېژندنې لپاره لار ښوونکي دي.

په دغه سطحه کې هم کېدای شي په هر متن کې ځانګړو مسایلو ته پاملرنه وشي. هغه مسایل چې اوس په نویو ادبیاتو کې مطرح دي چې له لرغونو یا کلاسیکو منظومو اومنثورو ادبي متونو سره توپیر لري. په ټوله کې د فصاحت او بلاغت مسایل په هر سبک کې د مطرح کېدو وړ دي. د یونس خیبري په دیوان کې د نورو بدیعي صنعتونو ترڅنګ معمی ته ډېره پاملرنه شوې ده چې اوس هیڅ دود نه لري، که څوک یې کاروي هم خپل ځانګړی ذوق به یې وي.

په ټوله کې باید ووایو چې کومې درې ګونې سطحې چې په تېرو کرښو کې څرګندې شوې د مثال او بېلګې اړخ لري، په بېلابېلو متنونو، سبکي دورو او ادبي څېلونو کې سره توپیر کوي. دا څرګنده ده چې که موږ په اوسنیو ادبیاتو کې د سبک په اړه څېړنه کوو نو بدیعي ځانګړنو ته پاملرنه کول ارزښتمنه خبره نه ده، په هر حال پخپله متن تجربه لرونکي سبکپوه ته لارښوونه کوي چې پر مسایلو پسې ولاړ شي یا وګرځي.

يوه بله خبره چې بايد څرګنده شي د ادبياتو د تيوری او سبک ترمنځ کوم دقيق بريد نشته او ټول ادبي مسايل (ادبي کره کتنه) او حتی فلسفي (فکري) کولای شو په سبک پېژندنه ــ که د سبکي فايدې لپاره وي ــ د پاملرنې وړ دي.

مخکې هم دې خبرې ته اشاره وشوه چې ټولې ځانګړنې سبکي ارزښت نه لري، يوازې د اثر د جوړښت په پوهېدنه کې ګټور دي. سبکي ځاګړنه هغه تکراري ځانګړنه يا غير متعارف په يو فرد پورې **منحصره** ده چې يا جالبه (په زړه پورې) ده چې د دقيق لوستونکي پام ځانته را اړوي او يا د اثر د بېلابېلو اجزاوو په د ننه کې پټه ده او يوازې حس کېږي او سبکپوه د دغې ځانګړنې په کشف کې دی.

همدا دليل دی چې سبکپوهنه علم نه ګڼي، بلکې صناعت ورته وايي. يعنې د يو ځانګړي مېتود په تعقيب د اړتيا له مخې نشو کولای سبک ته ورسېږو. يعنې (علم السبک) کافي نه دی، بلکې (شم السبک) هم بايد ولرو، لکه څنګه چې د ځينو محدثينو په اړه (مثلاً حاج شيخ عباس قمي) ويل شوي چې ده يوازې علم الحديث نه لاره، بلکې شم الحديث يې هم لاره نو د دغه شم د لاسته راوړنې لپاره د ځينو علومو، لکه د ادبياتو تاريخ، ژبپوهنه او داسې نورو ته اړتيا لرو.( شميسا، ۱۳۸۰، ۱۵۸- ۱۶۰).

د پښتو ادبياتو په تاريخ کې ځينې ساده فکره څېړونکو چې د خوشحال بابا يا حمزه شينواري په آثارو کې د اهل بيتو ستاينې لوستي نو فکر يې کړی دی چې دا به شيعه مذهبي وي او په خوشحال خان خويې د رافضي ګمان کړی دی چې بيا خوشحال بابا او حمزه شينواري په خپلو آثارو کې د دغې خبرې څرګندونه کړې ده چې دوی سني مذهبه دي. په داسې حال کې چې په سبکپوهنه کې ځانګړې لاسته راوړنې، بنسټيزې ځانګړنې او ژبنی او فکري ادبي ريښې د پاملرنې وړ دي.

## ۱. ۲۰. د تشبېه او استعارې سبکپوهنه

د سبک ارزښتمنه څېړنه په شعر کې د تشبېه او استعارې په اړه غور کول دي. هغه شاعران چې د سبک څښتنان دي نوې تشبېه ګانې او استعارې رامنځته کوي چې د خپلې کتنې، فکر او کشف لاسته راوړنه يې ده. هغه شاعران چې کمزوري دي د دوی له دغو تشبېه ګانو او استعارو څخه ګټه اخلي او په خپلو بيتونو کې يې په مبتذل ډول راوړي. يعنې د دوی ليد او ژبه د هماغو نوښتګرو ليکوالو او شاعرانو ژبه او ليد وي. په تشبېه او استعاره کې ډېره ارزښتمنه مسئله د تشبېه وجه ده چې نوښتګر شاعران او ليکوال د همدې وجه‌شبه په وسيله يا نوې تشبېه ګانې او استعارې رامنځته کوي او يا هم خپل خيال ته نوی رنګ ورکوي.

په سبکپوهنه کې يوه لويه ستونزه همدا ده چې موږ له لرغونې دورې څخه تر ننه پورې دا نه ده څرګنده کړې چې کومه تشبېه يا استعاره چا د لومړي ځل لپاره وکاروله. د دې ترڅنګ ځينې تشبېه ګانې او استعارې له عربي ادب څخه راغلې دي، ځينې بيا له فارسي – دري ادب څخه پښتو ژبې ته راننوتې دي چې په دې سره شاعر نوښتګر نشي ګڼل کېدای خو دا چې په پښتو ادب کې يې د لومړي ځل لپاره کارولې نو يو څه ورته نو ښت ويلی شو.

له دې څخه دا پایله لاسته راځي چې د سبکپوهنې په عالي مطالعاتو کې یوازې د یوې دورې په نورم کې څېړیي، لغوي او نحوي مسایل مطرح نه دي، بلکې د دې ترڅنګ یوه بله ارزښتمنه خبره دا ده چې د ادبي ژبې له نورم سره سم تشبیه او استعارې هم باید په پام کې ونیول شي او په دې اړوند د فردي یا دوره‌یي سبک ځانګړنې پکې له پامه ونه غورځېږي چې دغه کار باید په پوره سوچ او غور سره بې له تېروتنو ترسره شي. که داسې نه وي بیا به د کاظم خان شیدا د دې بیت ځواب څوک ووایي:

د شانې په دود پیدا کړه رسا فکر — باریکي لري زما د اشعار زلفې
(شیدا، ۱۹۹۱ز، ۱۳۶).

باریک تر موی دی د شیدا شعر — هله یې لوله که موشګاف یې
(شیدا، ۱۹۹۱ز، ۲۵).

## ۱. ۲۱. د سبک د رامنځته کېدو عاملونه

درې عامله دي چې د بېلابېلو سبکونو په رامنځته کولو کې نقش لري:

### ۱. ۲۱. ۱. مانايي لیدلوری

ډېری لیکوال د یومطلب د بیان د طرز اړوند د مترادفاتو خبره کوي. په هره ژبه کې یوه شمېر کلمې شته چې ماناوې یې د یو څیز اړوند یو له بل سره مشابه یا نژدې وي، همدا نکته لیکوال یا شاعر ته دا موقع په لاس ورکوي چې خپل مطلب په بېلابېلو بڼو و کاروي. د ژبنیو مترادفاتو اړوند بېلابېل نظرونه وړاندې شوي دي، په دې مانا چې مترادفې کلمې د مانا ګډون لري که نه یې لري. خبره پر دې ده چې ځینې کلمې دي چې د مانا له مخې سره بېلې بېلې دي، له دې سره سره بیا هم له یو واحد څیز سره د مناسبت له مخې د ژبې له چاپېریال څخه د باندې وي، د بېلګې له مخې ( سر ) ، ( رأس) او (کله) چې په کلي ډول سره د څیزونو په یوې واحدې نوعې دلالت کوي بې له دې چې یوه مانا دې ولري. د ګډې وجهې پوسیله د مترادف ځانګړنه خپلوي.(عبادیان،۱۳۷۲ل،۳۴او ۳۵).

کله چې کلمې په ادبي اثر کې په کار یوړل شي هلته د دوی هغه ځانګړې ماناوې چې د لیکوال موخه ده د سبک ځانګړنه خپلوي، کېدای شي یوه کلمه د طنز، تلمیح او یا هم بلې موخې لپاره و کارول شي.

### ۱. ۲۱. ۲. ژبنی عامل (شکل)

ژبپوهنه د ژبني متن څرګنده سبکي ځانګړنه د ځانګړې ژبې په وسايلو او بڼه کې پلټي چې د هغه متن په محدوده او د نوع په اوډنه کې ځانګړی ځای لري او د متن د خبرې د جوړښت په برخه کې څرګند نقش و لوبوي نو په دغه ترتيب د سبک تومنه هغه ځانګړنه کې ليدل کېږي چې دغه يا هغه د کلام نوع (نوم، کړ، ستاينوم او. . . ) يا د نحوي ځينو ځانګړنو ( ساده جملې، پايه، پيرو، لنډې، اوږدې او د دوی ) ته ورکړل شوې وي او په شعر کې په ځانګړو عروضي وزنونو او بحرونو کې بايد و وايو چې دغه پېژندل شوې ځانګړنې د سبکي توکو برخې دي.

## ۱. ۲۱. ۳. د اروا پوهنې لوری

د هرې دورې د شاعرانو چاپېريال بيل وي، د هغه وخت ټولنيز مسايل، سياسي او اقتصادی مسايل، ساينسي پرمختګونه او دې ته ورته نورې خواوې چې د شاعر پر روان باندې اغېز کوي او هغه د يو څه په ويلو اړ باسي، هماغه ارواييي اړخ دی. د بوللو پېر تېرېدل او د شاعر غزل ته مخه کول يا د غزل ځېل منځته راوړل په خپله د شاعر ارواييي اړه دی. همدا ډول د ژبې ورو تغيير يعنې څه کلمې آن د مرګ تر بريده رسول او بيا ژبې ته د نويو کلمو راتلل يا د شاعر له خوا نوي ترکيبونه را منځته کول د هر دور د ټولنې چاپېريالي اغېز دی چې د شعر يا په ټوله کې د ادب د نويو ځېلونو د رامخې ته کېدو لامل ګرځي. پخپله د شاعر د ژوند اقتصادي او چاپېريالي سطحه د سبک په بدلون کې خورا ډېر نقش لري.

په پښتو کې که د هغو شاعرانو شعر و څېړو چې د اقتصاد له مخې يې ژوند لوړ دی، هيڅ کله نه وايي چې يا الله (ج) ما کعبې ته در وغواړه خو د هغو شاعرانو په حمد او نعت کې به دغه برخه ډېره تر سترګو شي چې اقتصادي خوا يې کمزورې وي. په همدې ډول د خوارانو ژوند ته د پاملرنې برخه هم د هغو شاعرانو او اديبانو په شعر کې کېدای شي ډېره تر سترګو شي چې د اقتصاد له مخې يې د ژوند سطحه ټيټه وي. يا هم کېدای شي د سياسي ليدلورې په لامل شاعر د خوارانو غږ د وخت د حاکمانو تر غوږ ورسوي.

په ټوله کې د سبک جوړونکي لاملونه(نړۍ ليد، تاريخي شرايط، ټولنيز لاملونه، ژبه، ژمنتيا او مېنود، مهال، مکان، مطالعه او زده کړه) ښودلای شو.

## ۱. ۲۲. سبکي توکي

ژبنۍ ټولې وسيلې هغه وخت سبکي څرنګوالی خپلوي چې په متن کې کلمې يا ترکيب په نوې بڼه په خپلواک ډول راشي. يا په بله وينا د خبرو يا ليکنې پر وخت هغه توکي سبکي ځانګړنې خپلوي چې ليکوال يې په ټاکنه او کاروړنه کې خپلواک وي. دغه توکي ژبني عوامل دي چې د يوې خبرې د متن سبک جوړوي او سبکي توکي يې ګڼي.

دا بايد په ياد ولرو چې سبکي توکي له ژبني عبارت او مترادفاتو سره يو شان و نه ګڼو. داسې عبارتونه ( ځان سختۍ ته ورکول ) يا ( د ژوند ستونزې پر غاړه اخيستل ) په بل ډول کارول دي، ولې سبکي توکي نه دي ، ځکه

چې شاعر د کلمو په خوښونه کې خپلواک دی او ضمناً خبره عاطفي او اخلاقي اړخ لري. هغه وخت په خبرو کې د خپلواک توک د سبکي توکي په بڼه یادونه کوو چې و کولای شو اړین او گرامري توکي په هغه ځای راوړو چې په مانا او کلام کې خبري لوري په بڼه د مانا ځرنگیز توپیر را ځرگند کړي. هر کله چې دغسې ځای ناستې کلمې د لیکوال لاس کې وي، هغه وخت ځای ناست غوښتونکی توکی د ویناوال په خبرو کې یو متغیر توکی او له خبرې څخه خپلواک دی نو په دغه وخت کې سبکي توکی گڼل کېږي.(عبادیان، ۱۳۷۲ل،۴۰او ۴۱).

په دې تړاو روسي فارمالېست یوري تینیانوف (۱۸۹۲ــ ۱۹۲۲ز) لیکي: ((کېدای شي یو شی په یوه ادبي دوره کې سبکي توکی وي، ولې په بله ادبي دوره کې یوازې یوه گرامري ساده پدیده ورته ویلای شو.))(یمین: ۷۳).

د پښتو ادب د شاعرانو د ادبي سبکي توکو په ځرگندولو کې پورته خبره ډېره پرځای ثابتېدلای شي. زه به کوښښ وکړم چې دغه توپیرونه را برسېره کړم.

### ۱. ۲۳. مترادفات

مترادفې کلمې یا عبارتونه په ژبه کې ډول ډول سطحې لري، یوازې کلمې نه دی چې د مترادفاتو نقش ولوبوي، همدا ډول بېلابېل متردفات شته چې په بېلابېلو بڼو په کار وړل کېږي، له دغې مخې په بېلابېلو ډلبندیو توپیرېږي. له دغې ډلبندۍ څخه یوه یې په لاندې ډول ده:

**بشپړ مترادفات:** (نویسنده، کاتب، لیکوال) ـ (اغاز، شروع، پیل).

**نابشپړ مترادفات**: (سر، رأس) ـ (چمن، سبزه) ـ (ساحل، کنار).

**ادبي (سبکي ) متردفات:** (روی، چهره، سیما، مخ) ـ (گلستان، بوستان).

**د عبارتونو بېلگې:**

د نن لاسته راوړنې، د سباورځې د ژوند د سطحې ښکارندوی دی.

د راتلونکي ژوند سطحه، له نننیو لاسته راوړنو سره تړلې ده.

د متشابه سبکي مترادفاتو بېلگې:

څه چې کرې، هغه به رېبې. / څه چې دې پاخه کړل هغه دې وخوړل. / کرل او رېبل دي. / چې بد گرځې بد به پرځې.

د سبکي څېړنې پر وخت یوازې هغه مترادفات د سبکي ځانگړنو ارزښت لري چې ویناوال یې په ټاکلو کې واکمن (مختار) وي او وکولای شي د یو مطلب د هنري پنځونې لپاره یې و کاروي. په دې شرط چې گرامري قواعد یې تر پښو لاندې کړي نه وي او ورسره بدرنگي و نه زېږوي.(عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۳۸او ۳۹).

## ۱. ۲۴. سبکي شاخصې

سبکي توکي چې له هغو مو یادونه وکړه د سبک د تشکیل وړې ټوټې دي او د هغو ذراتو حکم لري چې د سبک په بنسټ کې په کار وړل کېږي. دغه توکي په خپل وړکوالي او د ترکیب د وړتیا له مخې د دې شونتیا پیدا کوي چې د هر ډول خبري جوړښت لپاره ملګري شي چې لیکوال له هغو څخه په ځانګړي ځای کې ګټه واخلي، یو ډول جوړښت د خبرو قالب ته ورکړي چې د ژبنیو بنسټونو له مخې د سبک د بنسټ خښتې یې ګڼلای شو. د دغو عمده وو توکو په لاس کې په لرلو سره امکان لري بارزو بنسټونو ته لار پیدا کړو چې د یوې خبرې په متن کې د مختلفو سبکي توکو په ډول په کار وړل شوي دي.

د متن د سبکي توکو په لړ کې له دوو اړخونو سره مخامخ کېږو: (۱) ښکلی لوری (۲) د په کاروړلو لوری.

هغه څرګنده ځانګړنه چې د سبک پېژندنې د خبرې د متن د بېلابېلو سبکي توکو د متقابل اغېز له څېړنې څخه لاسته راځي (سبکی شاخصه) نومول کېږي. (عبادیان، ۱۳۷۲، ۴۲ ــ ۴۴).

کله چې هم موږ سبکي توکي ټاکو باید لاندې شاخصو ته زموږ پام وي:

۱. شاخصه باید په متن کې په پرلپسې ډول تکرار شوې وي.

۲. شاخصه باید ناعادي وي او یا هم باید د عامې قاعدې خلاف څیز وي.

۳. شاخصه باید پر لوستونکي او ټول متن د مانا اغېز ولري.

سبکي توکي ممکن دی د ژبې د ټولو امکاناتو په رڼا کې د ژبې له پنځو (غږیزو، وییزو، غونډله‌ییزو، مانییزو اوجوړښتیزو) سطحو څخه غوره کړل شوي وي، د دې تر څنګ مجازي ژبه چې ادبي سبک ډېری برخه له دغو امکاناتو څخه لاسته راوړي.(فتوحي، ۱۳۹۵ل، ۲۰۱ او ۲۱۱).

## ۱. ۲۵. د یو لیکوال بېلابېل سبکونه

د سبک په څېړنه کې موږ کولای شو د یو لیکوال اړوند بېلابېل سبکونه و څېړو یا د بېلابېلو دورو په اړه په دغه برخه کې بحث وکړو او د دوی سبکي توپیرونه را برسېره کړو.

کله د وخت او حالاتو په تېرېدو او بدلېدو هم د یوه مشخص لیکوال په سبک کې بدلون راځي او یا هم کېدای شي د دوی ادبي ژانرونه سره توپیر وکړي او د هر ژانر سبکي توپیرونه او شاخصې یې و څېړل شي. که موږ د خوشحال خان خټک په غزل، بولله، قطعو ، څلوریزو او نورو ځېلونو سبکي څېړنه تر سره کوو نو بیا اړ یو چې د دغه هر ژانر ځانګړي سبکي توکي پیدا کړو او له دغو توکو څخه یې بیا سبکي شاخصې و ټاکو او په پایله کې مو د ده د سبک بشپړه خوا تر پوښښ لاندې نیولې وي.

په دغه ډول سبکي څېړنه کې تکراري شاخصې را څرګندېږي او مو‌ږ کولای شو چې له تکرار څخه ځان و ژغورو. بله خبره دا ده چې د بېلابېلو لیکوالو یا دورو ترمنځ یو شان شاخصونه او یا هم مختلف شاخصونه را څرګندولای شو.

یوه خبره باید په یاد ولرو چې د یو لیکوال یا دورې د بېلابېلو لیکنو تر منځ سبکي توپیرونه را څرګندول هم دومره ساده خبره نه ده، په دغه برخه کې به ډېری کوښښ کېږي چې له ادبي منطق او حساب څخه کار واخیستل شي. د ژبې د ډېری امکاناتو او بېلابېلو بڼو کارونه، همدا ډول د ادب پراخه لمنه، د سبکي ځانګړو ډولونه او یا د لیکنې سبکي توپیرونه د سبک پېژندنې لار نوره هم ډېره پېچلې کوي.

په دغو ټولو توپیرونو بیا هم د ادب ډولونو ( حماسه، بولله، ځلوریزه، غزل، داستان، کیسې، رمان او نور) په یو ډول نه یو ډول د سبکونو ترمنځ د توپیر زمینه برابروي او له بل پلوه د معاصرې ژبپوهنې د لاسته راوړنو په رڼا کې د حسابي رشتې په رڼا کې هغه تحلیل او تجزیه کولای شو او ځانګړې پایلې ترې اخیستلای شو.

په پورته برخه کې له موږ سره ځینې توپیروونکې ځانګړنې، لکه بې واسطې او د کلام واسطه لرل، ساده‌والی او انځوریز، لنډوالی او تفصیل، ایجاز او اطناب، مجرد او مشخص، جدیت او طنز او په دغه ډول ډېری سبکي توپیرونه له موږ سره مرسته کولای شي. سبکي ډول پېژندنه امکان لري د څېړنې د موادو او مصالحو د ژبې د ټولنیزې کارونې له پلوه ډلبندي او تفکیک کړو او ورسره د هغوی سبکي ډولونه څرګند او مشخص کړو، لکه: (۱) د رسمي لیک سبک (۲) د علمي لیکنې او وینا سبک (۳) د ورځپاڼه لیکنې سبک (۴) د محاوره یي ژبې سبک (۵) د ښکلي ادب سبک.(عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۴۵ ــ ۴۸).

## ۱. ۲٦. سبکي طرز (نُرم )

په دغه برخه کې د وینا یا لیک پر طرز څېړنه کېږي چې آیا لیکوال کلمې په کومه بڼه کارولي دي، ساده دي، که ادبي یا تشبیهي بڼه لري، یا هم استعاریي، کنایي یا سېمبولیکه بڼه لري. همدا ډول د کلمې طنزي بڼه لري که په دقیقه بڼه کارول شوې دي چې دا هم د سبکي ځانګړنو په څرګندېدا کې کارنده تمامېدلای شي.

## ۱. ۲۷. د سبک تحلیل

په دغه برخه کې موږ په متن کې د سبکي توکو یو له بل سره په اړیکه او یو پر بل د اغېز له مخې څېړو او دغه خوا ځانته روښانه کوو. خبره که د لیکنې وي یا د وینا په بڼه د سبک له پلوه هماغه د سبک تحلیل پکې مطرح کېږي.

د سبک تحلیلونکی له هغه متن سره سرو کار لري چې په هغه کې د سبکي ځانګړنو د پلټلو یا د سبکي توکو د څرګندولو لپاره په کار وړو.

د سبک تحلیل په درو سرلیکونو کې سره تر سره کېږي: (۱) تشریح(تجزیه) (۲) توضیح (۳) د واقعیت ارزیابي

### ۱. ۲۷. ۱. تشریح (تجزیه)

د سبکي توکو اړوند د پیوستون د بشپړوالي ( تمامت ) عیني کېدنه.

### ۱. ۲۷. ۲. توضیح

د سبک توضیح د دې پوښتنې ځواب دی چې د کومې انګیزې پر لامل تشریح شوی وي؟ د سبکي توکي تشریح په کار وړلی شو؟ دغې پوښتنې ته ځواب یوازې د ښکلا پېژندنې مسئله نه ده، د دغو توضیح د ژبې پر چوکاټ سربېره د ټولنپوهنې، ارواپوهنې او ښکلا پېژندنې پر بنسټ تر سره کېږي.

### ۱. ۲۷. ۳. د واقعیت ارزیابي

د خبرو د سبک په ارزیابۍ کې هڅه کوو د متن د سبکپوهنې ارزښت د بڼې او منځپانګې ( معاني او بیان ) د مقولو په مرسته یا د ارزښتمنو ستاینومونو لکه( بد او ښه، قوي، ضعیف، ساده او انځوریز ) په کار وړنې سره ټاکو. دلته ښایي چې د ( هنري ) صفت او ( هنري ) مقولې په اړه یو څه څرګندونې وړاندې شي.

## ۱. ۲۸. د سبک د تحلیل میتود

کوم متن چې غواړو سبکي څېړنه یې تر سره کړو، لومړی یې باید ولولو او لومړني سبکي توکي چې د بڼې او منځپانګې له مخې پکې شتون ولري را برسېره کړو، بیا پوهېږو چې یو ځانګړی جوړښت په یوې خاصې طریقې توصیف شوی دی. دا طبیعي خبره ده چې ادبي متن د بیان او معاني تر سیوري لاندې راټوکېږي او په دغو کې امکان لري ځینې د خوښې او ناخوښې څیزونه را څرګند شي. کله چې ذهن منځپانګې ته متوجه وي ورسره جوخت یې سبکي توکو ته هم پام ور ګرځي. دغه مرحله سبکي شواهدو د لاسته راوړنې په نوم نومولی شو.

دغه لاسته راوړنې د سبک په تحلیل کې مثبت نقش لري. دغه کار موږ په دغه برخه کې له ذهني لاسته راوړنې څخه لرې کوي او له موږ سره د سبکي توکو په پلټنه کې د هغوی د داخلي اړیکو اړوند مرسته کوي. کېدای شي دغه لومړني بشپړونه د سبکي توکو د سطحي عواملو په پېژندنه کې کارنده تمام شي. هغه څه چې په دغه برخه کې زموږ لاس ته راغلي دي د علمي څېړنې له مخې سبکي توکي د کره‌کتنې له چاڼ څخه وځي او په پایله کې تایید یا تصحیح کېږي. تر دې وروسته لاسته راغلې پایلې په عیني او منطقي بڼه د سبکي شاخصو په بڼه بدلېږي او د ژبې د جوړښت د سبک مختلف توکي په متن کې را څرګندوي. ( عبادیان، ۱۳۷۲، ۵۷ او ۵۸).

پورتنی بحث په لاندې ډول را لنډوو:

۱. د ادبي اثر پر ټول متن ځان پوهول

۲. سبکی توکي یې په نښه کول

۳. سبکي شاخصونه یې معلومول

۴. د سبک توضیح، تحلیل او د پایلې د ترکیب مرحله

## ۱. ۲۹. د سبک د تحلیل اړوند بنسټیزې مرحلې

د سبک د تحلیل په تړاو دوې بنسټیزې مرحلې لرو:

### ۱. ۲۹. ۱. د اثر پر بشپړ متن پوهه لرل

په دغه تړاو موږ په لومړۍ مرحله کې د اثر په منځپانګه او بڼه ځان پوهوو. د اثر په لومړي ځل لوستلو موږ نشو کولای د اثر ټولو باریکیو ته ځان ورسوو، بلکې یوازې موږ ورسره اشنایي پیدا کوو چې بیا په بیاځلي لوستنه او وړو او غټو باریکیو ته یې په پاملرنه موږ هغو ځانګړنو ته لار پیدا کوو چې د سبکي توکو او بالاخره یې سبکي شاخصې ګڼو.

دا چې کومه برخه، جزونه، خواوې او مناسبات لومړی د لوستونکي پام ځانته را اړوي توپیر سره لري او په فردي تجربې، له متن سره پخوانی اشنایي او هغې انګېزې پورې چې انسان یې د متن څېړنې ته اړ ایستلی دی. له دې هر څه سره دا اړینه ده چې څېړونکی د منځپانګې جوړښتي توکي و پېژني څکه چې د متن د اطلاعاتي او بلاغي خوا استازولي کوي. د منځپانګې درک یا پر منځپانګه پوهه لرل د سبک د څېړنې بنسټیز شرط دی. د متن تر بشپړې پوهې وروسته د تفکیکي کار مرحله پر متن اجرا کېږي. ( عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۵۸ او ۵۹).

### ۱. ۲۹. ۲. د سبکي توکو پېژندنه

هر متن د یو شمېر سبکي توکو متضمن دی؛ د کار پر وخت دغه ټول که څه هم نه شي په نښه کېدای او اړتیا هم ورته نشته چې داسې دې وشي. ډېری سبکي توکي مخې ته راځي چې له پورته تکرار څخه برخمن دي او ځواکمن بشپړوونکی نقش ولري. دغه توپیر په متن کې تر ژور فکر وروسته را مخې ته کېږي. د سبکي توکو د پېژندنې لپاره لاندې خواوې په پام کې نیسو:

الف ـ (۱) صرفي توکي (۲) مانایي خواوې (۳) بنسټیز ځای (۴) ټولنیز بار (۵) تخصصي خوا (٦) پردۍ کلمې (۷) نوې کلمې (۸) نوي ترکیبونه (۹) ګړنې

ب ـ (۱) ګرامري توکي (۲) د جملو د ډولونو ډلبندي (۳) ناملزم صفات (۴) په جمله کې د کلمو د ډولونو تناسب (۵) د جملو یو له بل سره تړاوو

ج ـ (۱) غږیز توکي (۲) د کلمو غږیز ترکیب (۳) د غږونو تکرار

اړینه دا ده چې د امکاناتو له یوشانوالي سره اشنایي پیداکړو چې و کولای شي د سبکي توکو په توپیر او پېژندنه کې مرسته وکړي.( عبادیان، ۱۳۷۲ل، ٦۰).

## ۱. ۳۰. د سبک د رامنځته کېدو اغېزمن عوامل

د ادبیاتو له مخې په دغې برخه کې څو عوامل اغېزمن دي:

۱. د لیکوال خوی، سرشت یا طبیعت، تمایلات، نژاد او قوم.

۲. د ژبې څرنګوالی چې شاعر یا لیکوال یې په خپل واک کې لري، هغه ژبه چې په هغې شعر وایي، لیکنه کوي یا خبرې کوي.

۳. هغه مضامین او مطالب چې غواړي بیان یې کړي او د بحث وړ یې بولي.

۴. هغه خلک چې د ده مخاطبان دي او دی له هغو سره خبرې کوي او خپل رازونه ورته را برسېره کوي.

۵. ټولنیز چاپېریال چې خبل افکار او ارادې پکې خوروي.

د لومړۍ شمېرې اړوند باید و وایم؛ د شعر په پنځونه کې د شاعر فردي یا شخصي ځانګړتیا، ذوق او قریحه خورا ځواکمن عامل شمېرل کېږي. په دې اړوند موږ باید لږ څه له ادب څخه هم خبر شو چې آیا ادب څه شی دی؟ کوم حالت او د بیان فکر چې د ویناوال په ذهن کې پنځول شوی او د ویناوال په ذهن کې د دغو حالاتو او فکر تجسم ، ننداره او رسونه د کلمو پر غاړه ده خو څه چې بیانېږي او نورو ته لېږدول کېږي څه شی دی؟

د ژوند د بېلابېلو څرګنتیاوو ځانښودنه د شاعر ذهن ځان ته راکاږي او هم یې روح په خپل واک کې راولي او د نوموړي پر ټولو احساساتو او عواطفو غلبه کوي، په داسې حال کې چې په دغه وخت کې غیر له دغو احساساتو او عواطفو څخه بل هیڅ شی د شاعر په ذهن کې نه وي په دغه موقع شاعر دغو توکو ته ځانګړی رنګ او ځواک ور ببښي او دغه توکي د عادي جهان پر خلاف په لوړ او ځانګړي فکري جهان کې ځای پر ځای کوي هغه ډول چې پخپله شاعر یې غواړي او هیله یې لري، نه دا چې بهرنۍ نړۍ کې وجود لري.

دغه هیجان او انقلاب چې د شاعر په روح کې راغلی د هغه د ذوق محرک ګرځي نو د دغه حالت د بیان لپاره اړ دی چې کلمې او ترکیبونه پیدا کړي چې نورو ته یې ورسوي.

په دغه ترتیب شعر او ادب په هغه څه چې بیانېږي او لېږدي بل څه نه (نفساني) ښودنه وي.(شجیعي، ۱۳۴۰ل،۴ او ۵).

## ۱. ۳۱. د شعر رغښتوال توکي

د شعر په رغښتوالو توکو کې اووه داسې څیزونه دي چې لاندې یې راوړلای شو.

### ۱. ۳۱. ۱. د شعر ماده

شعر صورت او ماده دواړه لري، ماده له هغې مانا او مفهوم څخه عبارت دی چې د شعر بنسټ پرې درېدلای وي. صورت هغه قالب دی چې ماده په هغه کې ځای پر ځای کېږي او د مادې او صورت ترکیب شعر را منځته کوي.

د شعر ماده، لکه څنګه چې افلاتون فکر کاوه یوازې د طبیعت تقلید نه دی او نه هم کوم بې ګټې څیز دی، بلکې د یو ذهني صورت تقلید دی چې د شاعر د تخیل او ادراک پواسطه جوړ شوی وی او د شاعر

محرکوونکی د مادي د بیان او ننداري لپاره هغه حالت دی چې په (جذبه) او (الهام) تعبیریږي، یعنې هغه عالَم چې د سړي تعین، تشخیص او پېژندګلو په هغه کې له منځه ځي او بې له هغې څرګندې ښکلا او هغه څه چې نوموړی یې ځان ته را کښلی، نهویني. دغه ځای دی چې الهام اخلي او پنځونه هغه په هیجان راولي، وجود یې له یو ډول خوښۍ او کیفیت (چې ځانګړنې راوړل یې ناشوني دي) څخه مالامال کوي چې بیا همدا مخیله یې پرې حکومت کوي او د ده مالک کېږي.

په هر حال داسې مبهم نفساني حالات چې ځانګړنی راوړل یې ناشوني دي. د شعر په پنځونه کې د شاعر فاعلي علت او محرک وي چې همدغه د سبک د رامنځته کونې له ارزښتمنو لاملونو څخه شمېرل کېږي.(شجیعي، ۱۳۴۰ل،۵ او ۸).

**۱. ۳۱. ۲. د شعر لفظ او صورت**

د شاعر هغه تجربې یا الهام چې په نړۍ کې ځان ښکاره کوي د ژبې او کلمو پواسطه لېږدول کېږي نو کلمه د هر ادبي اثر د بنې او رامنځته کېدنې بنسټ دی. په دې لامل د شعر له ارزښتمنو توکو څخه ګڼل کېږي. د کلمې غوره والی پر مانا یا د مانا غوره والی پر کلمې موضوع اړوند پوهان بېلابېل نظرونه لري ځینې کلمه پر مانا غوره ګڼي او د هر ادبي اثر د سنجش په اړه کلمې ته اعتبار ورکوي او ځینې د فیشر (Visher) او هګل (Hegal) نفسیاتي برخه یا د شعر اصل او جوهر مهم ګڼي، یعنې هغه څه چې د شاعر په ضمیر کې شتون لري موږ یې د کلمې پواسطه د تعبیر څرګندونه وکړه.

ځینې فارسي ژبي شاعران، لکه عنصري مانا او مضمون د شعر لپاره بنسټیز توکي ګڼي، وایي: (( چون معاني جمع ګردد شاعري اسان بود.) حافظ او فرخي بیا مانا ته توجه ور کوي. (شجیعي، ۱۳۴۰ل، ۸ او ۹).

په پښتو ادب کې خوشحال خان خټک او کاظم خان شیدا هم، مانا او مضمون د شعر لپاره بنسټیز توکي ګڼي. کاظم خان شیدا وایي:

مضمون د شعر لکه پیکر وي رنګین الفاظ یې رخت و زېور وي
ورته ضرور دي دا دواړه توکه پیکر که هر څو دلرباتر وي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۳۸۹).

دا چې د شاعرانو افکار، ارادې، ذوق او عواطف د ژوند په بېلابېلو پړاوونو یا دورونو کې په رنګارنګ ډول څرګندېږي او یو له بل سره توپیر لري نو د شعر ژبه هم د وخت په بدلون او تېرېدو سره بدلون مومي او په هر پېر کې د ادبي او ټولنیز چاپېریال له غوښتنې سره سم ځانګړی رنګ او بڼه پیدا کوي. د روم تکړه لیکوال هراس په دغه تړاو لاندې ښکلې تشبیه راوړې: (( ژبه د ونې او کلمې یې د پاڼو په څېر دي، څومره وخت چې پر دغې ونې تېرېږي د هغې زړې پاڼې وچېږي او رژېږي او نوې پاڼې د هغې ونې پر څانګو کې را پیدا کېږي په داسې حال کې چې اصل ونه په خپل ځای پاتې وي او تغییر نه کوي، په ادبي ژبه کې هم همدا کار دود دی، په هر دور کې د وخت له غوښتنې سره سم په ادب کې نوې کلمې ور داخلېږي او زړې کلمې متروکېږي.)) (شجیعي، ۱۳۴۰ل، ۱۱ او ۱۲).

که موږ پښتو ادب ته پام وکړو ځینې کلمې چې په لرغونې دوره یا دویمې دورې کې د شاعرانو په شعرونو کې کارېدې اوس نه کارېږي، حتی نوی کهول د هغو د مانا او مفهوم لپاره قاموسونو ته ور ګرځي.

### ۱. ۳۱. ۳. د شاعر ټولنیز چاپېریال

شخصي محسوسات او لیدنې د شاعر لپاره د الهام ارزښتمنې سرچینې دي. شاعران د ټولنیز چاپېریال پواسطه رامنځته شوي او د همدې ټولنیز چاپېریال پایلې او وسیلې دي نو ځکه ویلای شو چې ادبي چاپېریال له ټولنیز چاپېریال څخه نشو کولای بیل کړو. د شاعر احساسات او عواطف چې شعر د هغو رسوونکی دی نه یوازې دا چې د ټولنیز چاپېریال زېږنده ده، بلکې په دې کې کورنۍ او جعرافیایي چاپېریال هم ونډه لري.

د هغه وخت سیاسي، ټولنیزې او دیني غوښتنې هم باید په پام کې ونیسو چې آیا شاعر د خپلو ویناوو یا پنځونو د منځپانګې په راوړنه کې خپلواک دی؟ کولای شي چې څه یې زړه و غواړي او څه یې چې په زړه کې وي په خپلواکه بڼه و وایي؟ (شجیعي، ۱۳۴۰ل، ۱۲ او ۱۳).

په دې اړه د ملنګ جان د شعر لاندې بیت راوړم:

مه وایه رښتیا رابانـدې سر بـه مې پـه دار شي
څـوک بـه پـه رښـتیا کـې د رښـتیني طرفـدار شي
مه وایه رښتیا را بانـدې دې کـې مې تـاوان دی
مرګ نه نـه وېرېږم لاکـن خـوف مې د زنـدان دی
نه به مې بازخواست وي نـه خرڅې دا مې ارمان دی
بیرتـــه بـــه واړه مـــې بـــه کـــور پـــاتې نهـــارشي

نومونه که یې ښکاره کړم سمدستي به مې قصاص کي
د خدای لپاره څوک به مې بیا دې لانجې نـه خـلاص کـي
د وینو مې زړه ډک شو ترېنه ولوېـده څـو ځـاځکي
مجـرم شـو ملنـګ جـان نـن یـا سـبا بـه ګرفتـار شي
(ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ۲۵۱).

یا دا خبره چې شاعر اصولاً مزدور دی او د څو روپیو یا سوغات لپاره مداحي کوي. په دواړو حالاتو کې دغه مسئله د شاعر لپاره د الهام او په یو ډول د سبک په رامنځته کونه کې خورا ډېر اغېز لري، لکه د غزنوي دور د دربار شاعران او یا هم د اوسني پېر ځینې شاعران چې د ټولنې د خامو احساساتو راپارونې پر بنسټ سطحي شعرونه وایي.

### ۱. ۳۱. ۴. د شعر پېرېدونکي او پلویان

د دغه سرلیک په رڼا کې موږ له (۱۳۵۷ل) کال څخه را وروسته شاعري که په پام کې و نیسو، ګورو چې شاعران په درو ډلو وېشل کېږي، هغه چې په افغانستان کې د حکومت تر ولکې لاندې د خلق او پرچم د موخو لپاره یې شاعري کوله:

و سربـازه یـاره خپـژه پـه مرچـل بانـدې
بیا به دې ویده کړمه سوري د اوربل لانـدې
که په دار باندې شم ځوړنـد لـه ویښـتو نـه
خاینین مې مېز را کـش کانـدی لـه پښـو نـه

بیـا بـه هـم دغـه اقـرار پـه زوره وکـړم          چـې د خلـق وینـه مـې نـه وځـی رګونـه

بله ډله شاعران هغه دي چې له هیواد څخه لرې په جلاوطنۍ (هجرت) کې یې د جهاد لیکـې ګرمـې سـاتلې، دوی د خپلو موخو لپاره شاعري کوله. دلته یې (د پلوشو ډالۍ) څخه د (زیری) تر سرلیک لاندې بېلګه راوړم:

د پولادو په محبس کې ځنکدن د اسارت دی          دا زندان به ویجاړېږي پرې ګـذار د لـوی قـوت دی

د ختیځ په هدېره کې جنـازه د سره کمـون ده          نـوره ختمـه پـه لوېـدیځ کـې ډرامـه د تمـدن ده
د اسلام د حکومت وار دی زمانه د اوښتون ده          ترګمۍ بـه رڼـا کېـږي مشـال روڼ د سـباوون ده

استضعاف دی لتېدلی د بېوزلو حرکـت دی          دا زندان به ویجاړېږي پرې ګذار د لوی قـوت دی
(قانع، ۱۳۶۲ل، ۹۲).

دغو دوو ډلو شعر تر هغې درېیمې ډلې چې د چا په پلـوی یـې شـعر نـه دی استخدام کـړی ډېـر ژور فکـر، احساس، عاطفه او مفکوره نه لري، بلکې د وخت په تېرېدو خپل ځای له لاسه ورکوي او د یوې تـاریخي پـاڼې په توګه له ارزښت پرته به نور څه و نه لري، دا ځکه چې که شعر چېرتـه د تبلیغ او سـتاینې لپـاره و ویـل شي پـه څرګند ډول رښتینولي و نه لري، هیڅ وخت د بشر د پراخو افکارو، عواطفو او تمایلاتو متضمن نه دی. د دې پـر عکس هغه شاعران چې په کومې ځانګړې ډلې پورې تړلي نه دي د دوی د الهام سرچینه طبیعي نړۍ، د کـون او مکان عالم او بالاخره ټولنیز ژوند دی نو ځکـه تـل پـه هـر دور کـې د هـر پـوړ د خلکـو د منلـو وړ وي، لکـه د عبدلحمید مومند، خوشحال خان خټک او د دوی د پیروانو شعرونه چې تلپـاتې ژونـد یـې تـر لاسـه کـړی دی. خوشحال بابا وایي:

د هغـــه شـــاعر دانـــې وشـــه پـــه ژبـــه          چـــې د شـــعر در دانـــې پلـــوري پـــه مـــال
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۵۴۰).

یا لکه عبدالرحمن بابا چې وایي:

چـــې کشـــور د افغانـــانو معطـــر شي          د هـر بیـت مسره مـې زلفـې د خوبـان کـړې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۹۶).

نو ویلای شو چې د شعر او ادب د پلویـانو یـا حامیـانو ذوق د ادبیـاتو پـه څرنګـوالي او سبک کـې اغېـزمن دی.(شجیعي، ۱۳۴۰ل، ۱۵).

### ۱. ۳۱. ۵. د مدنیتونو د اوښتون سیر

د شعر پر پېرېدونکو او پلویانو سربېره د مدنیتونو د اوښتون او د مدنیتونو بدلونونه د سبک له اغېزمنو عواملو څخه شمېرل کېږی. موږ که د امیر کروړ د وخت شعر ته پام وکړو یا د محمد سوري په تړاو د شیخ اسعد سوري بولله یا د شهاب الدین غوري په تړاو د ښکارندوی بولله د نن ورځې له شعرونو سره پرتله کړو د مدنیتونو د ورځ تر بلې بدلون سره به پکې جوت توپیرونه وګورو، کلمې، اصطلاحګانې، تشبېه ګانې، استعارې او نور توکي به یې څرګند توپیرونه را په ګوته کړو.

### ۱. ۳۱. ٦. طبیعي او جغرافیاوې چاپېریال

د ارواپوهنې له نظره چاپېریال هغه عوامل دي چې پر ژوندي جسم اغېز کوي او هغه د یو عکس العمل لپاره اماده کوي. هر هغه شی چې د شاعر یا ادیب پر شا او خوا کې وي او یا تر سترګو یې پناه وي چې دی یې تر اغېز لاندې دی، د نوموړي چاپېریال دی. په چاپېریال کې جغرافیوي موقعیت او د طبیعت رنګارنګي، د ځینو عملونو ترسره کول هغه څه دي چې د شاعر ذهن او روان ته لوری ټاکي او پر ادب یې اغېز ښندي نو که هغه جغرافیه او طبیعت وي او که بل څه، د کوم شاعر د اوسېدو سیمه که غریزه وي زیات تشبیهات یې په غرني چاپېریال پورې تړلي وي، د محبوب مخ به له غرني ګل سره تشبېه کوي. سترګې به یې د زرکې، باز او عقاب له سترګو سره په غټوالي کې او زلفې یې له سکرو سره په توروالي کې تشبېه کوي، همدا راز به د زمریو، ځنګلونو، کاڼو او نورو غرنیو ځیزونو ذکر پکې ډېر وي. د غرني ادیب په پنځونه کې هماغه ځواک شتون لري چې په هغه ځای کې موجود وي.

کـه نیـولې زرکـه بـاز پرېـږدي لـه چنګـه　　　　زه بـه هـم لـه لاسـه پرېـږدم شـوخ و شـنګه

(ختیک، ۱۳۸۴ل، ۱٤۹).

د سمندر د غاړې په ادب کې تشبېه ګانې او استعارې له کبنتیو، څپو، توپانونو او ډوبېدو سره اړیکه لري. په هند، پاکستان او افغانستان کې به غنمرنګه ستایل کېږي او د انګلستان په ادب کې به سره سپین ستایل کېږي.

رنګ د غنمرنګ که ښایسته تر حورو نه دی　　　　پرېښـــــــــی په غنم پســـــــې جنت ولې ادم

(ختیک، ۱۹۵۵ز، ۱۱۲).

د انګلستان په ادب کې به شین اسمان او سور لمر ستایل کېږي او زموږ په ادب کې د یخې ولې ګور سوری ستایل کېږي.

ګـــــل د ګــــلاب بــــوی د ســــنځلې　　　　ســـوری د ولـــې غېـږ د یـــار مـــزه کوینـــه

یوه ورځ مې د یوه استاد له خولې د یوه چیني سیلاني او اروپايي سیلاني نظرونه واورېدل، چینایي سیلانی چې کله اروپا ته تللی و د هغه ځای د خلکو د ښکلا ستاینه یې کړې وه، مګر په مخ کې یې یوازې د لوړې پوزې په اړه ویلي و : " د اروپا خلک ښکلي و خو پوزې یې لوړې وې چې ښکلا یې یو څه کمه کړې وه. "

همدارنګه یو غربي سیلانی چین ته تلی و هغه د سیمې د خلکو د ښکلا په اړه ویلي و : (( د چین خلک ښکلي و خو یوازې د پوزې پیتوالي یې ښکلا ته یو څه زیان رسولی و. )) (همکار ، ۱۳۹۵ل، ۱۲۵ ــ ۱۲۷).

له تېرو څرګندونو څخه دا پایله لاس ته راځي چې په هره ټولنه کې د ښکلا معیار توپیر کوي چې په دغه کار سره د ټولنو ترمنځ د ادب او سبکي توکو ترمنځ توپیر را ښکاره کېږي.

### ۱. ۳۱. ۷. فردي شخصیت

پورتنۍ کومې ځانګړنې چې موږ راوړې له دې سره دا هم باید څرګنده شي چې له دغو عواملو څخه د علت یوه برخه کېدلای شي نه په بشپړ ډول علت. جغرافیوي او طبیعي چاپېریال یا زمانه او مدنیت یو هم بې له ډېری نورو عواملو څخه څرګند اغېز نه لري او په یوازې ځان د اثر سرچینه نه شي کېدای. له بله پلوه دا سمه ده چې وګړي د ټولنې د ژوند پیداوار دي خو دا هم باید هېره نه کړو چې د پنځونې او ابداع ځواک د افرادو په باره کې له پامه و غورځوو، په دې مانا چې ډېر لوی خلک شته چې د هغوی د نبوغ تفکر یا د هغوی الهام د ټولنې او چاپېریال له نفوذ او ځواک څخه ډېر اوچت دی. (شجیعي، ۱۳۴۰ل، ۱۹ او ۲۰).

دغه ډله شاعران چې د ټولنې او چاپېریال له نفوذ او ځواک څخه په لوړه کچه دي له چاپېریال سره مبارزه کوي، کوښښ کوي چې نوې او تازه نړۍ را منځته کړي چې په هغې کې د حاضر وخت بې نظمۍ او ورانۍ وجود نه لري، دوی د ټولنې ذوق او خوښونې په پام کې نه نیسي او د خپل دور د وګړو د ذوق برابر شعرونه نه وايي. خوشحال‌خان‌ختک په خپل شعر کې ستغې سپورې خبرې د ټولنې د تربیې لپاره اړینې بولي چې د ټولنې اخلاقي بڼه پرې بدله کړي. د ارواښاد ګل پاچا الفت نظمونه چې د (بدحاکم) او نورو پر وړاندې یې ویلي دي، د ټولنې د ځینو وګړو لپاره د منلو وړ نه وې خو همدغې کړنې هغه ته په ادب کې لوی مقام ور په برخه کړ.

### ۱. ۳۸. هنري صفت

هنر په ټوله کې د ژبې له مخې ټولې هغه خواوې چې د انسان په فعالیت پورې اړه لري، را نغاړي، لکه: معماري، نقاشي، موسیقي او د دوی اجزاوې. له دغې مخې د ادبي اثر پنځول هم یو هنري فعالیت دی او ادبیات د هنر تر ټولګې لاندې راځي. ( هنري صفت ) له ( هنري سبک ) یا ( هنري ــ ادبي سبک ) سره په اړیکه کې کېدای شي په کار یووړل شي. د دغه صفت په کار وړل له سبک سره د هغه مانایي خوا غښتلې کوي. کله چې سبک په ( هنري صفت ) متصف کېږي یوازې ادبي ارزښتونه په پام کې نه نیول کېږي، بلکې ضمناً د دې تر څنګ فني اړخونه او عوامل، لکه: سوژه، انشاء، شخصیت راوړنې او د ژبنیو وسایلو د خوښونې څرنګوالی هم په

پام کې نیول کېږي. په بله وینا نه یوازې د وینا سبک بلکې پر دې سربېره د اثر د پنځونې روش هم په پام کې نیول کېږي.

دې ته هم پاملرنه په کار ده چې وایو د ادبي اثر هنري ارزښتونه په ژبني بلاغت پورې تړلي دي. ادبي اثر له ژبنیو موادو سره او د ژبې پواسطه بڼه خپلوي او ښکلا را منځته کوي خو د ادبي اثر د ښکلا د درک او تحلیل لپاره په کار ده د ژبپوهنې او ښکلا پوهنې له ګړنو څخه مرسته وغواړي.

دا به نامناسبه وي هغه نکته چې په ادبیاتو کې ډېرې وخت پرې بحث شوی یعنې د ( صورخیال ) پر ځای ادبي توصیف او انځور ته هم اشاره وکړو. په دې کې کومه منفي نظریه نشته چې صور خیال د ادبي توصیف د آرو توکو له جملې څخه دی خو ادبي تصویر په ژبني صور خیال پورې نه محدودېږي.( عبادیان، ۱۳۷۲ل، ۵۵ ـ ۵۷).

## ۱. ۳۹. د ادبي او عادي ژبې توپیري توکي

۱. د عادي او ورځنۍ ژبې آره دنده پوهونه راپوهونه ده په داسې حال کې چې د ادبي ژبې آره او لومړنۍ دنده پوهونه راپوهونه نه ده. له دغې مخې په ادبي ژبه کې د پیغام لېږد د دود له مخې غیر عادي او نا مستقیم دی او د پیغام لاسته راوړنه یکې په سختۍ لاسته راځي. کاظم خان شیدا د دې پرځای چې ووایي ( د ټولنې هغه وګړي چې د دردونو او کړاوونو پر وخت صبر ونه لري باور پرې مه کوئ، داسې کس چې د دنیا د ستونزو پر وړاندې خپل تندی ګونځې کړي او په خپل درد ټول وګړي خبر کړي، د کار سړی نه دی. ) په استعارې سره یې خلکو ته وړاندې کوي چې آر مفهوم ته د وګړو ذهن زر نه ورځي او خبره ادبي کوي:

د جبین ترشي یې نښه د خامۍ ده　　　　چې کباب وخوري په زړه تېره سیخونه
(همکار، ۱۳۹۲ل، ۷۳).

د پورته بیت د پیغام په لېږد کې د ویناوال یا لېږدونکي او لوستوال یا اخېستونکي له تشبیه، استعارې، کنایې او بدیعي صفتونو څخه خبره خالي نه وي.

۲. د آ. ریچاردز وایي موږ دوه ډوله ژبې لرو، احساسي ژبه چې په دننۍ، انشایي او عاطفي یې هم تعبیرولای شو او اشاري ژبه چې په اطلاعي، خبري، باندنۍ یا ارجاعي یې هم تعبیرولای شو.

عاطفي ژبه د ادبیاتو ژبه ده او د دغې په وسیله احساسات او عواطف لېږدول کېږي یا بیانېږي، علمي ژبه ارجاعي ژبه ده چې د نړۍ د باندنیو څیزونو د مانا په اړه اشارې او رجوع کوي. دغه ژبه خبري ده او د ربښتیا او دروغو وړتیا لري. حال دا چې عاطفي ژبه انشایي ده او د ربښتیا او دروغو وړتیا نه لري، عاطفي ژبه اغېزمنه ده او پر زړونو کښېنې په داسې حال کې چې ارجاعي ژبه پوهه ده او زموږ په عقل پورې سرو کار لري. لنډه ده:

مینې دې اور را باندې بل کړ　　　　ځکه لمدې جامې له ځانه تاوومه

دلته د مينې اور او لمدې جامې تاوول احساسي او عاطفي لورى لري چې مخاطب پرې باور كـوي، گنـې پـه حقيقي نړۍ کې د دې انځور څرک نشي لګېدلای.

۳. په علمي او عاي ژبه کې د دې لپاره چې پوهونه راپوهونه په سمه او روښانه توګه ترسره شي هر دال يوازې پـه اړوند مدلول دلالت کوي په داسې حال کې چې په ادبي ژبه کـې د ډېـرو مـدلولونو لپـاره کېـدای شي يـو دليـل راووړل شي. د بديع پوهنې له مخې د ايهام په ادبي صنعت کې د يوې کلمې لپاره تريوې ډېرې ماناوې په پام کې نيول کېږي او مراد ترې يوه وي. لکه د عبدالحميد مومند په لانـدې بيـت کـې چـې د ( سـمندر ) د کلمـې دوې ماناوې دي او لرې مانا يې مطلوب ده:

الهـــي د محبـــت ســـوز او گـــداز را پـه دا اور کـې د سـهي سـمندر سـاز را

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱).

پورته ( سمندر ) د بحر په مانا او هم د اور د چينجي په مانا دی چې دلته همدا دويمه مانا مراد ده.

يا د پير محمد کاکړ په لاندې بيت کې د پرېشان کلمه چې هم د (خفگان) په مانا راغلې او هم د (خورېدلو) په مانا راغلې ده.

پرېشـاني مـې د خـاطر ورځنـې پـاځي چې سنبل شي ستا پرمخ باندې پرېشان ستا

(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۳۲).

يا د کلمو پر بنسټ داسې انځورونه راوړل چې د نقاشۍ اروا هم ورته نشي رسېدلای.

زه بـه درسـته شـپه ژړا لکـه شـبنم کـړم خانده تـه د گـل پـه څېـر تـازه خوشـحاله

(مومند در، ۱۳۸۳ل، ۹۴).

۴. په عادي ژبه کې د لغتونو له لومړيو ماناوو څخه استفاده کېږي په داسې حال کې چې په ادبي ژبه کې ډېری د کلمو مجازي ماناوې مراد وي او کله خو داسې وشي چې له کلمې څخه د ليکوال يا شاعر ځانګړې مانا مراد وي چې لوستونکي په اسانۍ سره هغه مانا نشي ترلاسه کولای، دا کار په سمبول هم نومولای شو او د بديع پوهنې لـه مخې ځينې ادبي جوړښتونه هم همدا کار ترسره کوي.

تصوفي سمبول په بڼه به (روزي) راوړو چې دلته ترې غيبي اشارې مقصود دي:

روزي د خوبانو که يې وليدې پـه سـترگو زر به مشايخ پسې محراب او منبر مـات کـا

(علي خان، ۱۹۸۸ز،۲۲).

د ځانګړي سمبول په بڼه د غني خان لاندې شعر ولولئ:

بلبل په هـيضه مړشو ډېر يې خوښ وو شاتوتان لا لامې سالار نشو اوس يې بـدې شي هنـدوان

(غني خان، ۲۰۰۵ز، ۱۲۰).

د بديع پوهنې له مخې لاندې بيت د معمى له ادبي جوړښتونو څخه راوړو:

د مېلمه عکس تش په کور کې څه عزت نه لري چې څښتن مل شي قدر يې ډېر شي نور ذلت نـه لـري

(همکار، ۱۳۹۷ل، ۸۰).

د بیت څرګند مانا د عادي ژبې پر بنسټ يو شی دی خو کله چې ادبي ژبې ته لاړشو نو لاندې شرحه به راڅرګنده شي: مېلمه ته په عربي ژبه کې (ضیف) وایي او بیا به يې عکس يا سرچپه کړو نو (فیض) به شي همدارنګه ښښتن ته په عربي ژبه کې (الله) وایي چې له (فیض) سره يې مل کړئ نو (فیض الله) به لاسته راشي، چې دلته همدا ترې مراد دی.

۵. په عادي ژبه کې (دال) ارزښت نه لري، بلکې (مدلول) ارزښت لري. یوه ورځ يو محصل له خپل استاد څخه وپوښتل: ((استاده! نومرې دې کتلي؟)) زه په فکر کې شوم، چې د محصل له دغې جملې څخه بشپړه جمله ( زموږ د پارچو ځوابونه دې کتلي؟) چې مدلول دی، مراد ده؛ ځکه چې استاد نومرې نه ګوري بلکې د پوښتنو د ځوابونو په کتلو هرې پوښتنې ته نومرې ورکوي.

د پورته څرګندونې مطلب دا شو چې په عادي ژبه کې د منځپانګې (چې مدلول ورته وایو) مخاطب ته رسول مقصود دي، نه هغه کلمې او جملې چې د (دال) حیثیت لري، هوبهو ولېږدوو.

کېدای شي يو څو ک ووایي: (( ستاپه راتګ خوشحاله شوم.)) بل ووایي: ((ستا راتګ خوښې راوښله.)) ممکن بل څوک ووایي: (( ستا په راتګ زموږ ناسته نوره هم شانداره شوه. )) بل کېدای شي ووایي: (( ښه شو چې راغلې ستا ځای زموږ ترمنځ تش و.))

په پورته ډول ډېرې جملې په عادي ژبه کې د يو مطلب د رسولو لپاره په کار وړلای شو او کلمې او جملې ورته بدلولای شو خو چې هماغه يوه (منځپانګه) چې مدلول ده ورسوي. په ادبي ژبه کې موږ (دال) چې کلمې او جملې دي نشو بدلولای، که چېرته د چا د شاعرۍ يا ادبي ژبې په اړه موږ دا کار وکړ نو د مانا په رسونه کې چې (مدلول) دی، تېروتنه کوو او بیايې مشخص ويناوال نشو پېژندلای. که چېرته دا کار وشي د شعر انځور، موسيقي او بدیعي ښکلاووته به موتاوان رسولي شو. د بېلګې په ډول د علي خان د يوې غزلې څو بيته:

کله زه يم کله يار کله ريبارسست — ځکه شو زما د مينې کار و بار سست
اشنايي لکه سرود په اتفاق شي — نغمه کله که چې وي په کې يو تار سست
چې يې ونښتم په دام د تورو زلفو — تند خويونه يې زما کړه وار په وار سست
نخره ناز قينج و مکېز ځکه خوبان کا — جلتوي په ځان د مينې خريدار سست
ناصحانو وې سستي عجب هنر دی — پورته يې راکاږي چې کړي د سوړې مارسست
ماوې ورکه شه سستي راستي په کار ده — نه رسيږي و مطلب ته طلبګار سست
دوی وې نه سستي کمال دی که پوهيږې — همېشه به وي کارونه د هوښيار سست
ماوې سرپه نقصانونو کې سستي ده — ځکه غل وهي دکان د پيره دار سست
دوی وې رزق هم په تېره لمبه خمسوز شي — مزه ډېره کا چې پوخ شي په انګار سست
ماوې ډېر ارمان به کا په وخت د درمند — چې د کار په موسم خوځي زمیندار سست

دوی وې چست رسي مطلب ته هغه خلق
چې کارونه په هنر کا په مدار سست

ماوې ښه د مصلحت په وخت سستي ده
ولې مه بویه سړی په وخت د کار سست

که سستي په ډېرو چارو کې هنر دی
خو یار مه شه غوَرونو کې د یار سست

لافې شافې صادقان عاشقان نه کا
علیخان دې کردار ټینگ کوي گفتار سست
(علي خان، ۱۹۸۸ز، ۴۷ او ۴۸).

د پورته منظوم کلام یوه کلمه چې (دال) ده له پامه نه غورځوو که چېرته مو دا کار وکړ کلام کېدای شي خپله ادبي ژبه، موسیقي او یا د شعر نور څه مزا یا چې پکې راغلي هغه له لاسه ورکړي. د بېلگې له مخې که د (سست) کلمه په (ورو ورو) بدله کړو، په مانا رسونه کې تغییر نه راځي خو وزن او موسیقي یې کمزورې یا تر گواښ لاندې راځي.

لاندې د عبدالحمید مومند څو بیتونه راوړم، که په دغو بیتونو کې د (ورو ورو) کلمې په (سست) بدلې شي پورتنی توپیر رامنځته کوي:

درد د مینې کړم و مرگ ته قریب ورو ورو
له علاجه مې لاس و کېښ طبیب ورو ورو

پو کوي را باندې دم د مینې زر زر
چې کوي را ته خبرې حبیب ورو ورو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۱).

تاسې به اوس د محمد امین ملنگ جان هغه چاربیته چې د (پښتونستان) پر ځای د سیاسي ځانساتنې له مخې (افغانستان) پکې وایي، د کوم هنرمند له خولې اورېدلې وي چې هنري، ټولنیز او سیاسي ارمان پکې قرباني شوی دی. زه ټولو هنرمندانو ته وایم لومړی دغه چاربیته وایئ مه، که بیا هم په زړه مو ارمان وي یا د چا په غوښتنه یې وایئ نو په آره بڼه یې ووایئ چې د ملنگ جان روح هم درځخه خفه نه شي او په دغې چاربیتې پورې تړلي ارمانونه هم پر خپل ځای پاتې شي. د ملنگ جان د دغې چاربیتې ار کسر:

خاوره یې د سرو ده هره گټه یې مرجان دی
زه چې پرې مین یم دا هغه پښتونستان دی
(ملنگ جان، ۱۳۴۸ل، ۱۱٦).

د اوسنیو ځانساتو یا نا خبرو هنرمندانو په لاسوهنې سره دغه کسر لاندې بڼه خپله کړې ده:

خاوره یې د سرو ده هره گټه یې مرجان دی
زه چې پرې مین یم دا هغه افغانســــتان دی

٦. په ادبیاتو کې د بیان یا اداء ځرنگوالی یا کیفیت له آر مطلب څخه ارزښتمن دی. موږ چې ځینې ناولونه یا کیسه‌ییز ژانرونه لولو کله ـ کله داسې پېښه شي چې څو څو ځله یې لولو یا که د چا شعر لولو بیا بیا یې لولو، د بېلگې په ډول د نسیم حجازي ژباړل شوي ناولونه یا هم د عبدالرحمن بابا شعرونه. په دغو آثارو کې هماغه یوه

خبره په تکرار سره زموږ مخې ته راځي خو د هغو د بیان د کیفیت له وجهې یې په تکراري ډول لولو او زړه مو هم ورته نه تنګېږي. د عبدالرحمن بابا لاندې بیتونه د متلونو په څېر ګرځېدلي دي:

کـر د ګلـو کـړه چـې سیمه دې ګلـزارشي | اغزي مه کره په پښـو کـې بـه دې خـارشي
ته چـې بـل پـه غشـو ولـې هسـې پـوه شـه | چې همدا غشي به ستا پـه لـور ګـوزار شي
کـوهي مـه کنـه د بـل سـړي پـه لار کـې | چېـرې سـتا بـه د کـوهي پـه غـاړه لار شي

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۳).

تـر ورخ تېـرې اوبـه بېرتـه نـه جـاورځي | نـه جـاروځي تېـر سـاعت پـه بېرتـه بيـا
تېـر سـاعت پـه مثـال مـړی د لحـد دی | مـړی چـا دی ژونـدی کـړی پـه ژړا

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱٦۸).

د درویش دراني بیت دي:

لمن مې ډکه ده له کاڼو خو څوک نه پرې ولم | پـه عـادتونو کـې دا یـو عـادت دغـره لرمـه

( درانی، ۲۰۱۸، ۲۱۲).

الفت صاحب وایي:

فرق د شپانه او د قصاب پسـونه کلـه کـوي | چې شنه ګیاه یې لاس کې ویني قاتل پسې ځي

( الفت، ۱۳۷۵ل، ۳۲۷).

په هر صورت د بیان د کیفیت تر څنګ موضوع هم له پامه نه شو غورځولی، بلکې د موضوع د بیان کیفیت او موضوع دواړه لوستونکي په خپل جادوګر هنرکې له ځانه بلې نړۍ یعنې نفسیاتي نړۍ ته وړي.

دغو پورته خبرو ته ارسطو هم په خپلو آثارو کې اشاره کړې او نویو غربي لیکوالو هم پکې خپل نظر څرګند کړی دی.

۷. په ادبي سبک کې کلمې د لفظي او معنوي موسیقی له مخې یعنې د ډول ډول ماناوو د تناسب او اړیکـو لـه مخې په دقیق ډول یو په بل پورې تړلې دي او په یو هنري جال کې منسجم شوي وي. ژبه د هنري پېيلو په بڼه راڅرګنده شوې وي او کلمې د بېلابېلو اړیکو له مخې سره یو ځای شوې وي، څکـه خـو پـه ډېـر تکلیـف سره کولای شو د یوې کلمې یا عبارت ځای تغییر کړو او یا یې په بله کلمه یا عبارت عوض کړو.

د پورته خبرې د ثبوت لپاره د عبدالقادر ختک د اثر ( حدیقه ختک، ۱۹٦٦ز) سریزې ته ورځو او د ښاغلي انورالحق له نظر څخه په ګټې اخیستنې یې بېلګې راوړو:"... د شاغلي حبیبي هغه اصل کتاب چه ده دې خپلې چاپي نسخې د اېډتنګ د پاره په طور د اساس غوره کړی وو، په هغې کښې د عبدالقادر ژبـه تقریبـاً ټولـه بدلـه کړی شوې ده. خدای به پر شه خبر وي، چه اُورته په افغانستان کښې به دا مهرباني کُم یو مهربان کړې وي او په څه نیت خو الفاظ په ډېرو ځایونو کې شه په زړه ورتیا او بې دریغه بدل کړی شوي دي او کوشش دا شوی دی

چه د پېشور د علاقې په ځای د افغانستان مروجه پښتو دې پکښې راوستی شي. لکه د صاحب په ځای څښتن ـ د هو به ځای هوکې ـ د نه به ځای یه ـ د زېردستانو په ځای بې وزلانو ـ د سنگ یا کاڼی پر ځا ډبر او داسې په سوونو نور. " (خټک، ۱۹٦٦ز،۲٦او۲۷).

دلته یې څو بیتونه د بېلگې په توگه راوړو چې زیارگالونکي یا هم خطاط د عبدالقادر خټک د آرو فصیحو کلمو پر ځای خپلې شډلې کلمې کارولي دي چې ډېری معنوي کمزوری یې را منځته کړې دي او ور سره یې فصاحت ته هم زیان رسولی دی :

د بیت اره بڼه

په خواری مونده شي کام له سنگدلانو — په محنت سره سره زر خېژي له گاړه
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۱۲۵).

د بیت اړولې بڼه

په خواری مونده شي کام له [ډبر زړونو] — په محنت سره سره زر خېژي له گاړه
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۲۷).

د بیت اره بڼه

شفقت مهرباني کا په خوارنو — د بزرگانو په خدمت حاصل وقار کا
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۴۴).

د بیت اړولې بڼه

شفقت مهرباني کا په [کوچینو] — د [لویانو] په خدمت حاصل وقار کا
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۲۷).

د بیت اره بڼه

په خاکونو به یې دا گل صد برگ شي — چا چې زړه پاره پاره و گور ته یوړو
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۲۷).

اړولې بڼه

په خاکونو به یې دا [سل پاڼې] گل شي — چا چې زړه [توکړې توکړې] و گور ته یوړو
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۲۷).

۸. ادبي ژبه انځوریزه ده، یعنې په دودیز ډول د وینا او روایت پرځای تخیل او انځورگری ته مخه کوي. عبدالحمیدمومند د دې پرځای چې ووایي: ( محبوب زما په ژړلو له ډېرې خوشحالی په خندا شي ) د تمثیلي تشبیه پواسطه دغه انځور زمونږ ذهن ته لېږدوي:

په ژړا مې هسې خور په خندا لاړ شي — لکه پاڼې د گل ماتې کړي باران شوخ

(مومند در، ۱۳۸۳ل،۲٦).

کاظم خان شیدا وایي:

توري سترګې دې شوې ترې په خندا کې — که هندوې د هند لامبې په ګنګا کې
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۹٤).

په ادبي ژبه کې د انځور او تمثیل لپاره ارزښتمنې وسیلې همدا تشبیه او استعاره ده.

۹. ادبي ژبه د منحرفو نا اشنا جوړښتونو لرونکې وي او معمولاً په هغې کې د ژبې عامې قاعدې په پام کې نه نیول کېږي. په ادبي ژبه کې له داسې جملو سره مخامخ کېږو چې د نحوې له مخې یې کلمې له خپله ځایه بل ځای ته د موسیقۍ او وزن د منځه راوړو په موخه تللې راغلې وي. لاندې بیت ولولئ:

زلفې چې هرې خوا ته پرېوتې د یار له مخې — لکه د شپې تیارې خورې شوې د سهار له مخې
(کمین، ۱۳ :۷۸).

پورته کلام که په عامه ژبه ولیکو: ((د یار له مخې چې زلفې هرې خواته پرېوتې، لکه د سهار له مخې چې د شپې تیارې خورې شي. ))

په پورته ډول د بیت وزن او موسیقي له منځه لاړه.

په ادبي تخلیقي ژبه کې له داسې کلمو او ترکیبونو سره مخامخ کېږو چې په ژبه کې مخینه (سابقه) نه لري او د ادیب خپله لاسته راوړنه وي چې د اورېدونکو یا لوستونکو د پاملرنې وړګرځي او یو ادبي ځوبښ ( شدت ) پکې رامنځته شي. لکه د اجمل اند لاندې بیت:

ټپې په شونډو ګلتې ټوپک په ولي کې پورت — د غرونو ژېی دی او جنګ ته په خندا راون دي
(اند، ۱۳۸۵ل، ۷۳).

په پورته بیت کې (د غرونو ژېي) نوې ګڼه ده.

د بشیر احمد پرهر بیت دی:

زار شـــمه مــــلا دا غـــږ بـــه کلـــه وي — راشـــئ د ټوپـــک د ابـــی مـــړي دي
(پرهر، ۱۳۸۵ل، ۹۹).

په پورته بیت کې (د ټوپک د ادبی مړي) بالکل د عادي ژبې په جوړښت کې نشته چې دلته په ادبي ژبې کې د پاملرنې وړ ترکیب دی. په عادي ژبه کې څوک دومره کلمو ته نه تم کېږي او نه یې په دغه بڼه ارزوي.

۱۰. په ادبي سبک کې د سالرونکي او بې سا ترمنځ توپیر نشته. همدا ډول د انسان او ناطق حیوان ترمنځ هم توپیر چنداني نشته. که موږ لرغونو کیسوته پام وکړو په هغو کې جادویي فکرونه شته او د هغه وخت هرڅیز یو

ځانګړې اروايي حالت لاره. ته به وايې چې شاعر تراوسه پورې د هغه بدوي انسان ميراث خور دی. په دغې مخې موږ په ادبياتوکې کولای شو بې روحه څيز مخاطب کړو او له هغه سره خبرې وکړو او يا هم له دغو بې سا څيزونو څخه خبرې واورو:

ترقيامته يې خلل د تمکين نه وي — چې حاصل کا لکه نمر وقار له ځانه
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱۷).

(وقار) کلمه اروايي اړخ لري. غر که څه هم په طبيعت کې الله (ج) همداسې پيداکړی چې د کانيو يو نا شنا ډېری دی خو دلته شاعر ورته د وقار صفت ځانګړی کړی دی، چې همدا وقار دی چې ده ته يې ترقيامت پورې ژوند وباښه. که په ټولنه کې يو کس خپل وقار، لکه د غره په څېر وساتي نو دی به هم د ټولنې په ذهن کې همداسې روغ او ژوندی پاتې وي او هغه چاچې په ټولنه کې خپل وقار ونه ساته له دې جهانه ډېر زر سپک لاړل او اوس يې د چا په زړه کې ځای نشته.

همدا ډول ډېرې داسې ادبي کيسې لرو چې په هغو کې ونه، ګټه، سيند غړېږي او هر يو د خپل اروايي حالت څرګندونه کوي. ډېر غير ناطق حيوانات دي چې په شعر او شاعرۍ يا ادبياتو کې غړېږي او خپل رواني حالت لري او پر دغه بنسټ ټولنه د خير خواته وړي، يا هم د چاپېريال په ښه ساتنه کې ګټور تمامېږي او يا هم په تفريحي ښه ذهن ته سکون ورکوي. په همدې اړه زه د ګل پاچا الفت د (الفت مرغلرې، ۱۳۷۵ل) له اثر څخه څو بېلګې راوړم:

سبايي چې غوټۍ باغ کې وخندل — د سحر نسيم ته وويل بلبل
(ترپايه ).

علت او سبب

هسې وايي سوي سوي پتنګان — چې مونږ پېژنو سېزونکي د خپل ځان
مونږ له شمعې شمعې اور له تيلي واخېست — تيلي واخېست اور له لاسه د انسان
(الفت، ۱۳۷۵ل، ۲۳۲).

مات کودړی

د ګودر په غاړه پورت و مات کودړی — ويلې زه وم روغ منګی کلال جوړ کړی
دلته لوبوکې زه مات يوه ځلمي کړم — يوې پېغلې په اوږو ومه راوړی
د جهان هره ذره کې عشق عيان دي — مات کودړې سره هم د عشق داستان دی
ډېر مين په دې ګودر دي يوځای شوي — ډېر منګي دلته مات شوي لنډ بيان دی
(الفت، ۱۳۷۵ل، ۲۳۳ او ۲۳۴).

په پورته شعرونو کې تاسې د سالرونکو غیرې ناطقو او بې سا څیزونو نفسیات او خبرې ولوستې او د ادبي ژبې پر بنسټ مو زړه ته ولوېدې. د مجازي اسنادو بحثونه د بیان پوهنې له مخې په مکنیه استعاره او تشخیص ادبي صنعت پورې ډېر تړاو لري.

۱۱. د ادبي ژبې سرغړاوی له عادي ژبې څخه دا هم دی چې نومځری یا اصل نوم یا هم صفت او موصوف له خپلو ځایونو څخه وړاندې وروسته شي، یا هم ډېر لرې واقع شي او یا هم نومځري رانه وړل شي چې په دې سره هم ځینې وخت ابهام رامنځته کېږي. خوشحال بابا د عمر په وروستیو کلونو کې وایي:

| | |
|---|---|
| د بې ننګه پښتنو له غمه ما | لوېي پرېښوه ونیوله کمه ما |
| هغه درمې په لاس نه راغی بېړیه | استاده کړه په ساحل له یمه ما |
| | (خټک، ۱۹۶۰ز، ۱۸ او ۱۹). |

په پورته بیت کې (ما) نومځری دی چې د جملې په پای کې راغلی دی او شعري پېچلتیا یا ابهام یې رامنځته کړی دی، که په عادي ژبه یې ولیکو نو (ما کښتۍ له یمه پر ساحل استاده کړه.).

| | |
|---|---|
| ستا تر لالو لبو هیڅ لال او مرجان دي | مات قیمت غاښونه ستا درنایاب کا |
| | (همکار، ۱۳۹۷ل، ۲۸). |

په پورته بیت کې د کلمو د ځای په بدلون ابهام رامنځته شوی، که کلمې په خپلو ځایونو ولیکل شي ابهام له منځه ځي: (ستاغاښونه د در نایاب قیمت ماتوي.).

۱۲. د ادبي ژبې ژباړه ناشونې ده، ځکه په ادبي ژبه کې موخه یوازې(منځپانګه) نه وي، بلکې پخپله کلمه او ترکیب ارزښتمن دي او د کلمو تغییر د کلام د هنروالي خوا کمزورې کوي. په دې ترتیب د خیال انځور چې په دري کې ورته (صور خیال) وایي، کله انډولیز برابری ورته ګران او کله ناشونی شي نو ویلای شو، ادبي ژبه او سبک یو له بل سره په یوه مزي تړلي دي او په ژباړه کې سبک زیانویني.

۱۳. ادبیات له اغراق سره ملګري وي، کله وړه مانا لویه او کله لویه مانا وړه څرګندوي. د اصولو له مخې د هرې تشبیه او استعارې پایله اغراق وي. وایي:

| | |
|---|---|
| در شعر مه پیچ و در فن او | چون اکذب اوست احسن او |
| | (قویم، ۱۳۸۹ل، ۱۴۸). |

یا لکه د عبدالحمید مومند لاندې بیت:

| | |
|---|---|
| ځکه شوه تر زنګانه په وینو ډوبه | چې یې زرکه سمبله په یانه |
| | (مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۵۴). |

۱۴. په ادبیاتو کې دې خبرې ته چې د دوو ورته څیزونو ترمنځ اشتباه رامنځته کړي او د یو نوم پر بل کښېږدي یعنې د یو څیز پر ځای بل څیز وکاروي چې دغه بحث ډېری په استعارې پورې تړلی ښکاري، په استعاره کې یوه کلمه د ورته والي له مخې د خپلې وضعي مانا پر ځای په بله نا وضعي مانا کې کارېږي چې دا کار په عادي ژبه کې نشته، لکه ګوهر یا مرغلره چې د اوښکو پر ځای کارېدلې ده:

د یــار خیــال چــې راولــې د زړه ترکــوره
پـه قدم کې يې گوهر لـه سـترگو تـوی کـړه
(بارکزي، ۱۳۸۸ل، ۱۲۶).

۱۵. شاعران تل په ځیزونو نوي نومونه ږدي، په دغه لامل نړی او ژبې ته پراختيا ورکوي. هـره اسـتعاره يـو نـوی نوم دی. ډېر کم لوی شاعران ليدل شوي چې له دوديزو نومونو څخه گټه واخلي نو په دې سره يې دا ثابته کړې ده چې دوی د نوې ليدنې څښتنان دي. بېدل وايي:

در گوهر زما په منونو د خوږ زړه له خوږ داغونه
په مژگانو شفته کېږي هيڅ پرې نه پوهېږم زه
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۹۴).

۱۶- د عادي ژبې منطق يا ميتودولوژي گرامر دی يعنې عادي ژبه په گرامر سره کـچ مـېچ کـوي. حـال دا چـې د ادبي ژبې منطق يا ميتودولوژي بلاغي علوم لکه (بيان) دي.

چې غيرت يې پېچ وتاب د هر مو کښېښي
شـانې ولـې لاس د تـا پـه گيسـو کښـېښي
(اپريدی، ۱۳۵۶ل، ۵۷).

شانه يا ږمنځ په پورته بيت کې فاعلي حالت لري چې په عادي ژبه کې هيڅکله په دغسـې حالـت کـې فاعـل نشي واقع کېداي.

۱۷- د ادبي ژبې يوه ځانگړنه تکرار دی، دغه تکرار د ژبې له مخې يعنې د (غږ، څپې، کلمې، ترکيب او جملـې) او هـم د ( منځپـانگې، وزن، قـافيې، رديـف او بـديعي لفظـي جوړښـتونو ) لـه مخـې وي چـې د دغسـې تکـرار څرگندونکي دي.

په بېلابيلو بڼو د يوې منځپانگې د انځورونې يا د اړونې بېلگې ډېرې دي. په قرانکريم کې هم د سوره الرحمن دا ايت شريف (فَبِاَیِّ اَلاٰءِ رَبِّکُمَاتُکَذِّبَانْ) تکرار راغلی دی.

د عبدالرحمن بابا په کلام کې د يوې کلمې تکرار:

اي زمـــا د زړه ارامـــه ***واشـــه واشـــه***
سروې قـــده گـــل اندامـــه ***واشـه واشـه***
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۵).

د خوشحال خان خټک په شعر کې د (ش) توري تکرار:

هيچـرې د ***شـولـ***و د سـړي برکـت نـه وي
***شل شي شول*** شي ***شوم شي*** چې ***همښ شولې*** کرينه
(خټک، ۱۰۶۰ز، ۲۳۳).

د يو ترکيب تکرار د حبيب الله زړه سواند په شعر کې:

ما کرلي دي گلونه ***دا ځل ډېرو شپو ته راشه***
جـوړوه تـرې امېلونـه ***دا ځـل ډېـرو شـپو تـه راشـه***
بېرته راشه بېرته مه ځه چې زه وگـورم پـه مينـه
ستا په سپين مخ شنه خالونه ***دا ځل ډېرو شپو ته راشه***
(شينواری، ۱۳۸۶ل، ۸۰).

د يوې منځپانگې رسونې لپاره د بېلا بېلو خيالي انځورونو ( صورخيال ) په رڼا کـې د عبـدالرحمن بابـا د يـوې غزلې څو بيتونه راوړو چې د ( وخت ارزښت ) منځپانگه په خپله غېږه کې پالي:

دوبـــاره دې راتلـــه نشـــته پـــه دنيـــا
نن دې وار دی کـه دروغ کـړې کـه رښتيا

هره چـار چـې تـر ورخ تېـره شي عنقـا شي
عنقـــا نـــه دی پـــه دام نښـــتی د هيچـــا

تـــر ورخ تېـــرې اوبـــه بيرتـــه نـــه جـــاروځي
نـــه جـــار وځـــي تېـــر ســـاعت پـــه بيرتـــه بيـــا

تېـــر ســـاعت پـــه مثـــال مـــړی د لحـــد دی
مـــړی چـــا دی ژونـــدی کـــړی پـــه ژړا

که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتـاه دی
غـــره مـــه شـــه د دې عمـــر پـــه بقـــا

چې د مرګ په تمانچه دې شي خوله ماته
نـــو پـــه ماتـــه خولـــه بـــه څـــه کـــوې ثنـــا

ويـــر ژړلـــې ارتينـــې چـــې ژړا وايـــي
تاتـــه وايـــي کـــه پـــوهېږې دا وينـــا

چې د مرګ سختۍ خوارۍ دا ستا پـه خـوا دي
اي رحمانـــه ولـــې نـــه مـــرې لا پخـــوا

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۶۸-۱۶۹).

۱۸- ادبي ژبه اهنګينه ده.

۱۹- د ادبياتو په نړۍ کې د داسې څيزونو په اړه خبرې کېږي چې وهمي، خيالي او جعلي دي او په حقيقي نړۍ کې وجود نه لري، د بحر پر سر د خلو پل، د سوسن ژبه، د نرګس سترګې، ديوان او داسې نور. له دغې مخې په ادبياتو کې ځينې حقيقتونه دي چې يوازې په ادبياتو کې حقيقت دی. دبهرنۍ نړۍ ډېرې حقايق هم په ادبياتو کې ځانګړې جوړښت لري. (د خلو پل) او هغه هم د درياب پر سر د خوشحال خان خټک بابا په بيت کې:

محبـت بـې خدايـه واړه کـه يـې ګـورې
د دريـــاب پـــه مـــخ د خليـــو پـــل تـــړی
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۳۸۰).

(سوسن ژبه) د عبدالحميد مومند په لاندې بيت کې:

ژبـــه وختـــه تـــر څټـــه
د سوســـن ســـتا پـــه جـــواب
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۰).

پـه ادايـې د رمـوز کلـه څـوک پـوه شـو
وايـــي ښـــه د سوســـن ژبـــه تـــر سوســـنه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۱۳).

د (نرګس سترګې) د عبدالحميد مومند په لاندې بيت کې:

نـــرګس کـــوز ګـــوري لـــه شرمـــه
ســـــتا د ســـــترګو پـــــه جـــــواب
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۱).

(دېو) راوړل عبدالحميد مومند په لاندې بيت کې:

چـې د وسـپنې زنځـير شـلوي پـه ګوتـو
هغـه ديـو پـه اومـه تـار د احسـان نښـلي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۳).

۲۰- د ادبي ژبې خورا ارزښتمنه ځانګړنه له پخوا څخه تخييل بلل شوی دی، ادبيات مخيل کلام دی. حاج ملا هادي په خپل بيت کې وايي:

عــــلي المخــــيّلات الشــــعر احتــــوا　　　بالســـــــــجع والقافيـــــــــة زاد روى

يعنې د شعر دايره پر مخيلو قولونو ده، قافيه او وزن يوازې د شعر اب او رنګ زياتوي. (شميسا، ۱۳۸۰ل، ۸۴-۹۲).

۲۱- ادبي ژبه د ادبي جوړښت له مخې نشي کولای پېښې په عادي يا مستقيم ډول وړاندې کړي، ادبي ژبه دغه پېښې په بشپړ ډول يا هم په نا بشپړ ډول، همدا رانګ خورا ښکلې يا هم خورا په بدرنګه ډول انځور کړي، که هيڅ هم نه وي په يو ډول نه يو ډول د شاعر يا ليکوال د خپلو عواطفو او احساساتو په لامل پکې کمی او زياتی پېښېدای شي، شاعر يا ليکوال فکر کوي کومه پېښه يا موضوع څنګه او په کوم ژانر کې وړاندې کړي، همدا ډول د پېښو د وړاندې کولو پر وخت د نورو احساسات راپارول ځانګړې ادبي ژبه غواړي، بل له هر څه سره دومره وخت نشته چې د پېښې ټول جزيات وليکي او يا يې واوري نو ځکه ليکوال اړ کېږي چې په کلمو، جملو او ترکيبونو کې غوراوی وکړي او په دې سره په پېښه يا موضوع کې کمی زياتی راپېښيږي. د دغه بحث د ښه څرګنداوي لپاره موږ تراژيدي ( الميه ) او کاميډي (مزاحيه) ډرامې، فلمونه يا خاکې د بېلګې په بڼه وړاندې کولای شو.

تراژيدي ليکوال اړدی خپل کرکټرونه د انساني ټولنې له عام حالت څخه لږ څه په لوړه کچه ولوبوي او د کاميډي ليکوال مجبور دی خپل کرکټرونه د انساني ټولنې له عام حالت څخه لږ په ټيټه سطحه ولوبوي چې دا په خپله د کمي او زياتي لپاره يو دليل کېدلای شي.

په شعرونو کې شاعرانو محبوب څومره لوړ انځور کړی دی او رقيب يې څومره په سپکو ياد کړی دی دا ټول هغه دليلونه دي چې د پورته ادعا د ثبوت لپاره وړاندې کېدلای شي. د عبدالقادر خټک د غزل څو بيتونه:

تــورې زلفــې د نګــارې بــې څــه نــه دي　　　په سپين مخ يې تار په تارې بې څه نه دي
په ليدو يې روغ ناروغ شي بيمار روغ شي　　　دواړه سترګې يې بيمارې بې څه نه دي
ډېــر هوښــيار بــه ليــوني کانــدي پــوهېږم　　　کرشــمې د پــري وارې بــې څــه نــه دي
د هجــران پــه اور يــې ننــه زړه ورتېــرې　　　د عاشق سترګې خونبارې بې څه نه دي
درســته شــپه زمــا د آه لــوګي ور درومــي　　　د فلـک ســترګې بيدارې بې څه نه دي
په جهان کې هيڅ تراخه نشته بې ګټې　　　د دنيـا ګرانـې دشـوارې بـې څـه نـه دي
څـــو بــــه مينــــه پټـــوې عبـــدالقادره　　　ستا دا تـل نـارې چيغـارې بې څه نه دي
(خټک، ۱۹٦٦ز، ۱۵۱).

رقيب د حمزه شينواري په بيتونو کې:

اشنا چې ستا د مينې پـه مـا تـور ولګيـده　　　په دې هـم د رقيـب پـه خونـه اور ولګيـده
ستا کم وو تغافل چې لا رقيب ته هم شوې مسک　　　پـــه زړه زمـــا د اور د پاســـه اور ولګيـــده
(خټک، ۲۰۰۰ز، ۳۳).

د ادبي ژبې په داستانونو کې ډېرې خطرناکې صحنې انځورېږي خو د دغو صحنو په لوستو یا لیدو څوک نه ورخطا کېږي، بلکې خوند ترې اخلي او یا هم د خپل زړه غوټه پرې اواروي.

۲۲. په عادي ژبه کې که د چا په اړه د غم یا غوسې خبرې واورو نیغ په نیغه اغېزمنېږو، ځکه چې دغه جملې خبري بڼه لري خو په ادبي ژبه کې ورځخه خوند اخلو ځکه چې انشایي اړخ لري.

غـم د تبسـم پـه جامـه نغاړم لـه وگـړي
تل لکه گلاب په پرېشانۍ کې په خندا یـم
(علي خان، ۱۹۸۸ز، ۱۲۱).

د دنیـا د مـال پـه تللـو دلگـیر مـه شـه
مات اغزی دې له پښو خېژي زهیرمه شه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۸۸).

ښـادي هـر چېـرې د غـم پـه انـدازه وي
د هغو به څه ښادي وي چې بې غـم شي
( عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ز، ۳۷۳).

۲۳. ادبي گزارشونه لزوماً د شخصي تجربې پر بنسټ نه وي، بلکې پر تخیيل او تصور بنا وي، ولې عادي ویناوې یا خبرې پر شخصي تجربې ولاړې وي نو له دې مخې د یو چا خبرې یا راپورونه چې موږ د هغو له تجربو څخه خبر یو ورسره یوشان نه وي، دروغ گڼو. په ادبي نړۍ کې څوک د چا د ادعاوو پر وړاندې د صحت او سمون په څېړنه کې سر نه خوږوي. تاسې به د ځینو لیکوالو داستانونه او یا د شاعرانو نظمونه لوستي وي چې کله اور پرې بل وي، کله له گړنگه غورځېدلي وي او کله هم د یو چا پـر وړانـدې گواښـونه وي خـو بیـا هـم خلـک یـې پـه ریښتینوالی پسې څېړنه نه کوي. پښتو لنډۍ دي:

زمـــا دې څـــه نصـــیب کـــړ خدایـــه
د اوښ پــه شــا بانــدې لېوانــو و خوړمــه

زړه مــې پــه شــمار څلــور ټــوټې شــو
هـره ټوټـه یـې د بـې کسـۍ نـارې وهینـه

دا خـــو د ســـتا د یـــارۍ ټـــس دی
ځکـه مـې کـله پـه زېـړې مـازیگر ځینـه

یا د عبدالقادر خان ختټک لاندې بیت:

چــې مــین پــه پــري وشــه جانانــه یــم
ځکـه سر لکـه مجنـون پـه ویرانـه یـم
(ختټک، ۱۹۶۶ز، ۱۰۱).

۲۴. په ادبي ژبه کې د کلام له لنډون، اطناب او تکرار څخه نه ستړي کېږو، بلکې خوند ترې اخلو:

د کلام لنډون د عبدالرحمن بابا په بیت کې:

ستا په مخ کې څه حساب د جمال نشته
ځکــه مــا څخــه د صــبر مجــال نشــته

ستا په یادوکې رحمان هسې مشغول دی
چې په زړه کې یې هیڅ غم د وصال نشته
عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۶۴ او ۲۶۵).

اطناب د خوشحال بابا په لاندې بیت کې:

دوه سړي په باغ کې گډ شي یو گل گوري
دویـم گرځـي پـه طلـب د خـارو خـس

(ختېک، ۲۰۰۱ز، ۴۰۷).

تکرار د مولینا قیام الدین خادم د لاندې غزل په څو بیتونوکې:

سهي لاره به ښایم که وم وم که نه وم نه وم — رښتیا رښتیا به وایم که وم وم که نه وم نه وم

خدمت د خپلې ژبې قام وطن زما مسلک دی — په دې مینه به پایم که وم وم که نه وم نه وم

په ماته کښتۍ ناست یم توپانونه دي په مخ کې — په دې لاره یې بیایم که وم وم که نه وم نه وم

د ناز په خوب ویدې غونچې به ورو ورو ویښومه — (خادم) باد سبایم که وم وم که نه وم نه وم

(خادم، ۱۳۹۱، ۱۵۱).

۲۵. په ادبي ژبه کې کېدای شي لیکوال یا شاعر خپل ځان ځانګړی شخص معرفي کړي یعنې کولای شي ځان مخاطب کړي او له خپل ځان سره خبرې یا جملې تبادله کړي خو په عادي ژبه کې که څوک دا کار وکړي نو کېدای شي د لېوني ګمان پرې وکړي. موږ په ادبي فنونو کې د بدیع په برخه کې د (تجرید) ادبي جوړښت یا صنعت لرو چې د دغې خبرې بېلګه کولای یې شو:

چې تر تا پر یار مین و پیرمحمده! — د زړه راز دې عبث و وې و ریبار ته

(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل ۱۲۱).

غیر حق مینې همه واړه حجاب دي — مه کړه نورعبدالقادره غیره مینه

(ختېک، ۱۰٦٦ز، ۱۴۳).

۲٦. په عادي ژبه کې هر څوک له خپله اړخه خبرې کوي حتا له (موږ) څخه هم غرض معمولاً (زه) وي. په ادبیاتو کې ډېری څرګندې بېلګې مطرح وي او حتا له (زه) څخه معمولاً (موږ) غرض وي. په لاندې بیت کې د مفرد مخاطب لپاره (ې) نومځری او کمزوری نومځری (دې) راغلی دی چې دلته په دواړو ځایونو کې ترې ټول مخاطبان د (جمع) په بڼه مراد دي:

که رستم د زمانې شې ګمان مه کړه — زمانه به دې پرې نهږدي په خپل زورکې

(ختېک ک، ۱۳۵۸ل، ۴۷٦).

۲۷. په عادي ژبه کې که موږ د چا په خبره پوه نه شو خفه کېږو او دغه خفګان زموږ د سترږیا لامل ګرځي خو که د ادبي ژبې پر مانا پوه نه شو نو د ځان پوهونې هڅه کوو او کله چې تر ډېرې هڅې وورسته په مانا پوه شو خوند راکوي او د خوښۍ احساس کوو چې دا کار ډېری په شعري پېچلتیا (ابهام) پورې اړه لري. د کاظم خان شیدا بیت ولولئ:

د فتنو په احداث وخوږ اسمان څرخ — که وهي زرین لباسه سبزان څرخ

(همکار، ۱۳۹۲ل،۷۳).

۲۸. په عادي ژبه کې له ادبي ژبې څخه د دلیل په ډول له شعر یا ادبي اقوالو څخه استفاده دود لري خو په ادبي ژبه کې له عادي ژبې څخه په دغه ډول ګټه اخېستنه دود نه ده، د بېلګې په ډول یې ډېری تقریرونه او په عادي ژبه لیکل شوې مقالې لیدلای شئ.

۲۹. په عادي ژبه کې خبري، پوښتنيزې او امري جملې په خپله لومړنۍ مانا کې په کار وړل کېږي خو د ادبي ژبې په جملو کې معمولاً پخپله دويمه مانا کې کارېږي، د بېلګې په ډول له (امر) څخه په ادبياتو کې معمولاً د کار اجرا موخه نه وي. د ناشناس له خولې به مو لاندې بيت اورېدلی وي:

باد سبا يار له مې ورشه! سلام پرې وايه چې له حاله مې خبرشه

لاندې بيتونه د پيرمحمد کاکړ دي چې ډېری پوښتنې پکې راغلې دي خو دا پوښتنې ځواب ته اړتيا نه لري، بلکې هر اورېدونکی او لوستونکی پکې خپل ځان لټوي او د خپلو ورته خاطرو د ور يادېدو له مخې خوند ترې اخلي:

زه به هير کړم له خاطره خوبان څه رنګ؟ بې خوبانو به کوم صبر و توان څه رنګ؟
د خپل زړه په سترګو ګوره که ړوند نه يې ښه نيازمن له دنيا ځي په ارمان څه رنګ؟
چې په درد د جدايي يې رب درد من کړم روغ به ما کړي طبيبان په درمان څه رنګ؟
مخ چې ماته نه جارباسي نه پوهېږم بېلتانه له ما روان کړ جانان څه رنګ؟
روغ عالم زما له حاله څه خبر دی چې تېرېږي پر ما شپه د هجران څه رنګ؟
زه په دا و خپلو سترګو ته حيران يم چې مدام ځنې ورېږي باران څه رنګ؟
دنيا ځای دی د عبرت که نظر وګړې په هوس راغلی درومي جهان څه رنګ؟
پرون ښاد چې د وصال په نوبهار و نن غمجن هغه بلبل کړ خزان څه رنګ؟
خوږ ژوندون که يې نګاره زهر نه شوای پروانه به پر څراغ سيځه ځان څه رنګ؟
پاس په زړه باندې مې ځای د غشو نه شته يو پر بله ګوره نښلي پيکان څه رنګ؟
چې نه مخ د يار ليده شي نه هېرېږي پيرمحمد غريب به نوي ګريان څه رنګ؟
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۹۱ او ۹۲).

خبري جملې د عبدالقادر له شعر څخه:

چې څوک بد راسره کا ورسره ښه يم هم په دا د ښو د بدو تورليمه يم
چې و ماته زما عيب پيشکش راوړي د دې هسې يار له خدايه په غوښته يم
(ختک، ۱۹٦٦ز، ۱۰۰).

دغه بحث په معانی پورې تړلی دی.

۳۰. په عادي ژبه کې د شرط او ځواب ترمنځ شرط منطقي اړيکه ده، ولې په ادبي ژبه کې دغه اړيکه معمولاً پر اغراق ولاړه وي. (شميسا، ۱۳۸۰ل، ۹۲ – ۹۴).

خوشحال خان ختک بابا وايي:

په چارم اسمان به ناست لکه عيسی وم که اسمان ته الواته شو په خبرو
(ختک ک، ۱۳۵۸ل، ۱۷۹).

۳۱. په عادي ژبه کې مخاطب معمولاً مشخص وي او په ادبي ژبه کې مخاطب هر هرڅوک کېدلای شي او د آینې په ډول هرڅوک خپل ځان پکې گوري. په بېلگه کې یې د عبدالقادر خټک څو بیتونه:

| | |
|---|---|
| مه شه خوښ د بادشاهۍ په تخت ختلو | همېشه یې غم کوه د پرېوتلو |
| چې یې اوس کړې پر مظلومو رډې رډې | غافل مه شه د دیو سترگو له وتلو |
| چې پېشه یې همېشه دل ازاري وي | د هغو مخونه نه دي د کتلو |
| ځکه تل کړې په زر دوزو جامو کبر | چې غافل یې د کفن له اغوستلو |
| د اجل د سورو تافت نگهاني دی | چې هیڅ کور یې نه خلاصېږي له نتلو |
| چې د باز وزر دې جوړ وو ښکار دې نه کړه | د کور پر نه وي قوت د الوتلو |
| هغه زړه عبدالقادره چې مرده وي | په گوگل دننه نه دی د ساتلو |

(خټک، ۱۹۶۶ز، ۱۰۸).

د ادبي ژبې او عادي ژبې ترمنځ بلا نور توپیرونه هم شته او په کلي ډول ویلای شو چې ادبي ژبه د متعارفې عادي ژبې برخه نه ده.

## ۲. د پښتو لومړۍ‌دورې منظوم ادبي سبک

مخکې تر دې چې د پښتو منظوم سبک و څېړو ښه به وي چې په دغه تړاو د پښتو شعر پر مخینه یو څه رڼا واچوو.

### ۲. ۱. تر اسلام وړاندې د پښتو شعر

هره ژبه له پیدایښت سره ځینې داسې توکي لري چې موږ ورته د نظم خطاب کولای شو خو کله چې بیا د سبک خبره راشي نو په یوه ټوټه نظم د هغه سبک معلومول گران شي. تر اسلام د مخه ډېرې ژبې موجودې وې په هغو کې خورا ښه نظمونه وو چې ډېر به له شعریت څخه خالي نه وو. کله چې د اسلام مبارک دین راغی، نړۍ ته یې پر عقایدو سربېره عربي لیک (چې د ارامي لیک له لارې د فنیقي الفباء څخه په یوه نوې بڼه د اسلامي هېوادونو لپاره د لیک سرچینه وگرځېده.) او عربي ژبه ډالۍ کړه. دا چې د قران ژبه او بیا د جنت ژبه عربي شوه ورسره دیني زده کړې پیل شوې، هغه ژبې چې په نورو لیکدودونو کې لیکل کېدې د عربي لیکدود او علم لار خپله کړه چې په دغو ژبو کې له دغه اغېز څخه پښتو ژبه هم گوښه پاتې نه شوه. د اسلام تر مخه ځینې ډېرلیکونه موندل شوي چې ښاغلي پوهاند عبدالحی حبیبي په خپل اثر ( د ادبیاتو تاریخ، ۱۳۸۴ل) کې ورته اشاره کړې او څه سپړنه یې هم کړې ده: (( لوی داریوش د ایراند هخامنشي کورنۍ یو مشهور پاچا و چې د (۵۲۲ مز) څخه تر (۴۸٦ مز) پورې یې سلطنت کړی دی، د ده په امر د بغستان (بېستون) پر غره یو ډېرلیکدکیندل شوی او په څلورم ستون او (٦۳/ ٦۴) بند کې یې داسې یوه اخلاقي حماسه لیکلې ده چې د دکتور معین د تهران پوهنتون استاد په حواله وایي چې په دغې اخلاقي حماسې کې یو درې مسریز شعر شته:

نـــــــې ارې کـــــــه آهـــــــم
نـــــې در رو جـــــه نـــــه آهـــــم
نـــــــې زوره کـــــــه ره آهـــــــم
(حبیبـــــي، ۱۳۸۴ل، ۳۴۱او ۳۴۲).

چې بیا د دغو درو مسرو ساده بڼه داسې راوړې:

نـــــــــــې اړیکـــــــــــه اوم
نـــــــــــې دروه جنـــــــــــه اوم
نـــــــې څـــــــور کـــــــړه اوم
(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۳۴۲).

د ښاغلي پوهاند حبیبي په حواله سرڅېړونکي زلمي هېوادمل د غزني د لویکانو د کورنۍ یو پښتو بیت راوړی دی:

په زمی غزنه ښخېد لویک لویانو بایله لویا
کښه تور به براغلوم (بلوم) ممله تازیو به ملا
(هیوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۶).

د پورته بیت په تحلیل کې هیوادمل لیکي: (( څنگه چې د غزني خانان لویک په جبري ډول مسلمان شوی و نو له کابله یو بل لویک دغه پورته بیت ور واستاوه چې مفهوم یې لاندې راوړو: ( های افسوس، لویک بت د غزني په ځمکه کې ښخ شو، لویا خو خپله لویي بایلوده، زه به لښکر درواستوم ته د تازیانو ( عربانو ) ملگري مه کوه.)) د بیت له ژبني تحلیل څخه داسې پایله اخیستل شوې ده چې د اسلامي پېر په لومړیو پېړیو کې پښتو په شرقي خواوو کې پهلوي ژبې ته نزدې وه.))(هیوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۷).

د پورته لنډې یادونې په رڼا کې موږ نه شو کولای چې په یو بیت یا دوو بیتونو په رڼا کې د هغه سبک معلوم کړو خو د تاریخي زنځیر د کړۍ پر بنسټ یې یوازې یادونه وشوه. اوس د پښتو ادبیاتو د رامنځته کېدو لومړۍ دورې ته را گرځو.

## ۲. ۲. تر اسلام روسته د پښتو ادبیاتو د لومړۍ دورې منظوم ادبي سبک

تر اسلام روسته په لومړۍ دوره (۱۳۹ ــ ۹۵۰ هـ) کې موږ د پښتو ادبیاتو د منظوم سبک په موخه درې بېلابېل مرکزونه تر څېړنې لاندې نیسو چې له غور، کسي یا سلیمان غر او ملتان څخه عبارت دي.

## ۲. ۳. د پښتو ادب لومړۍ دورې ځانگړي(انفرادي) منظوم سبکونه

د پښتو ادب د لومړۍ دورې له شاعرانو یو یو نظم یا ډېر کم نظمونه را پاتې دي چې دلته د هر نظم ځانگړنې راوړو او بیا په ټوله کې یې پر سبکي توکو رڼا اچوو.

### ۲. ۳. ۱. امیر کروړ

سوریان چې د شنسب په کهول مشهور دي، شنسب د خرنک زوی و چې د اسلام په پیل کې یې ژوند کاوه، د ده زوی امیر پولاد ډېر مشهور شو د خپلو پلرونو نوم یې بیرته را ژوندی کړ. کله چې ابومسلم مروزي د بني امیه امیران له خراسانه و شړل او د بني عباس په پلوۍ کلک و درېد نو امیر پولاد د غور لښکر د ابومسلم مرستې ته یووړ او آل عباس د باچاهۍ لپاره یې ډېر کارونه وکړل. د ده مرکز په غور کې مندېش و او پر ټول غور یې حکومت کاوه. په دغې کورنۍ کې د سلطان محمود تر وخته ښه شاهان تېر شوي دي خو تاریخ پوهانو یې ذکر نه دی کړی.(حبیبي،۱۳۸۴ل، ۴۳۶ او ۴۳۷).

د پټې خزانې په حواله دغو شاهانو په ځانگړي توگه امیرپولاد او امیر کروړ د ابو مسلم په پلوۍ د عباسیانو خلافت رامنځته کړ. ابوالعباس علي بن عبدالله بن عباس (رض) د ابو مسلم او امیر پولاد په مرسته پر (۱۳۲هـ) کال د بني امیه وروستی پاچا مروان ته ماتې ورکړه او نوموړی یې د خلافت پر گدۍ کښېناوه. پټه خزانه د شیخ

کتبه متي زي د (لرغوني پښتانه) په حواله ليکي چې اميرکروړ جهان پهلوان د امير پولاد سوري زوی و، نوموړی امير په جګړو کې د ابومسلم خراساني کلک ملګری و.

امير کروړ ډېر غښتلی او پهلوان و چې په (۱۳۹هـ) کال د غور په منديش کې امير شو او پـه (۱۵۴هـ) کـال د پوشنج په جګړو کې مړ شوی دی. نوموړی په يوه تن له سلو جنګياليو سره جنګېده نو په دغـه لامـل يـې کـروړ وباله چې مانا يې سخت ده. امير کروړ به په اوړي کې زمينداور کې و هلته يې د منديش په شان مـاڼۍ درلـوده، دلته يې ښکار او عشرت کاوه. په سوري تاريخ کې زياتوي چې نوموړي اميران له پېړيو راهيسې په غور، بالشتان او بست کې اوسېدل او د هغه سور نومي له اولاده و چې د سـهاک لـه پښته و. کلـه چې د عبـاسي دعـوت پـه جنګونـو کـې امـير کـروړ ډېـرې سـوبې وکـړې نـو يـې لانـدې بيتونـه د (ويـاړنې) تـر سرليـک لانـدې و ويل.(هوتک،۱۳۳۹ل، ۳۰او ۳۲).

د پښتو ادبياتو په لمن کې لومړی لاسته راغلی نظم د اميرکروړ سوري دی، دلته يې راوړو:

زه يم زمری پـر دې نـړۍ لـه مـا اتـل نسته
پـه هند و سند و پر تخـار او پـر کابـل نسته
بـــل پـــه زابـــل نســـته
لـــه مـــا اتـــل نســـته

غشي د من مې ځي بريښنا په ميرځمنـو بانـدې
په ژوبله يونم يارغالم پـر تښـتېدونو بانـدې
پـــه ماتېـــدونو بانـــدې
لـــه مـــا اتـــل نســـته

زما د بريو پر خول تاوېږي هسک په نمنځ و پـه ويـاړ
د اس له سو مې مځکه رېږدي غرونـه کانـدم لتـاړ
کـــړم ايوادونـــه اوجـــاړ
لـــه مـــا اتـــل نســـته

زما د تورې تـر شـپول لانـدې دي هـرات و جـروم
غرج و باميان و تخار بـولي نـوم زمـا پـه اودوم
زه پېژنـــدو يـــم پـــه روم
لـــه مـــا اتـــل نســـته

پر مرو زما غشـي لوني ډاري دښـن را ځخـه
د هريوا د رود پر څنډو ځم تښتي پلن را ځخه
رپـــــي زړن را ځخـــــه
لـــه مـــا اتـــل نســـته

د زرنج سوبه مې د تورې پـه مخسـور وکـړه
په باداری مې لواړاوی د کول د سور وکـړه
ســـتر مـــې تربـــور وکـــړه
لـــه مـــا اتـــل نســـته

خپلـو وګـړو لـره لـور پېرزوينـه کـوم
دوی په ډاډينه ښه بامم ښه يې روزنـه کـوم

تـــــــل يــــــــې ودنــــــــه کــــــوم		لــــــــه مــــــــا اتــــــــل نســــــــته

پر لويو غرو مې وينا درومي نه په ځنډ و په تـال		نړۍ زما ده نوم مې بولي پر دريځ سـتايوال
پــــه ورځــــو شــــپو مياشــــتو کــــال		لــــــــه مــــــــا اتــــــــل نســــــــته
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۳۴ ــ۳۶).

**۲. ۳. ۱. ۱. د امير کروړ د نظم عمومي ځانګړنې**

۱. د پښتو ژبې دغه لومړنی لاسته راغلی نظم د جوړښت له مخې ځانګړې بڼه لري، داسې پښتو لغتونه په خپله لمنه کې لري چې اوس نامانوس او متروک دي، لکه لوني، پلن، بامم، ودنه، مخسور، اودوم او نور.

۲. د شعر له جوړښت، ترکيبونو او کلمو څخه دا جوتيږي چې د دويمې هجري پېړۍ تر پايه پورې پر پښتو ژبه د نورو کورنيو او بهرنيو ژبو اغېز نشته.

۳. د ځينو کلمو ګرامري څرنګوالی او بېلښتي ډول دا راښيي چې پښتو ژبې د اوس په پرتله پخوا غښتلی بنسټ درلود او د ايتمالوژۍ (تاريخي ژبپوهنې) له مخې يې ډېرې ځانګړنې لرلې چې اوس له منځه تللې دي، د بېلګې لپاره يې ځينې کلمې راوړو:

**الف**. پخوا ډېر مصدرونه له خپلو مشتقاتو سره په ژبه کې وو چې اوس يوازې له هغو څخه يـو وړوکی مونډه پاتې دی او نور له منځه تللي دي، لکه: يون (تګ يا کوچ)، يرغل (هجوم)، رپ (تپش) چې اوس يې مصدري او فعلي بنې ورکې دي خو په دغه شعر کې د يونم (ځم)، يرغالم (هجوم کوم)، رپي (رېږدي) په بڼه شته دی، دا چې بېلښتي کړونه يې شته نو بايد چې دغو مادو ته په ژبه کې د (يونل، يرغالل او رپل) مصدرونه هم و کارول شي يا لږ تر لږه دغه مصدرونه و منو چې اوس نه کارېږي.

**ب**. زړن (دلاور)، دښن (دښمن)، پلن (پياده) اوس نه کارېږي او مړه دي خو د پوهاند حبيبي په وينا داسې څرګندېږي چې (ن) د نسبت يا فاعليت وييکی په پای کې لري او لومړۍ کلمه له زړه او دويمه له (دښ) يعنې (عيب او زشتي) او دريمه له پل(قدم) څخه جوړې شوې دي چې اوسنی بڼې يې (زړور، دښمن او پلی) دي.

**ج**. په نوموړي نظم کې ډېرې پخوانۍ کلمې خوندي دي چې د پښتو ژبې لرغونی پراخوالی څرګندوي او دا ترې ښکاره کېږي چې پښتو ژبې د تاريخ په اوږدو کې ډېرې کلمې له لاسه ورکړي چې د تاريخي ژبپوهنې لپاره يو څه مواد پکې پيدا کېږي.

د (من) کلمه خورا لرغونې ده چې په سنسکريت کې هم شته، اوس موږ په پښتو ژبه کې د (منل) مصدر لرو، مشتقات يې (منم، منو، منې، منئ، مني) اوس هم په ژبه کې شته خو ريښه يا مونډه يې معلوم نه دی.

د اوسني تشريحي گرامر له مخې يې موندۀ (من) دی چې پـه سنسگريت کـې د زړه، روح او ارادې مانـاوې لري. ښاغلی پوهاند حبيبي د دې کلمې په شرحه کې د ابو ريحان البيروني قول را اخلي: (( من اصلاً زړه ته وايي دا چې د ارادې محل او ځای زړه دی نو په خپله اراده هم من بـولي او پـه دغـه شعر کـې هـم مـن د ارادې مانـا ورکوي او له دغې مادې څخه د اريايانو د يوه پخواني پلار او مشهور مقنن (مانو) نوم هم جوړ شوی دی چې د منونکي او فکر کوونکي مانا لري او دا ټول اسناد په دې دلالت کوی چې (من) پخوانۍ اريايي کلمه ده چې پـه پښتو کې وه.))(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۴۴۴ ـ ۴۴۶).

په پورته نظم کې بله کلمه ( دريغ ) ده چې اوس بيرته د ( سټېج او موقف) لپـاره کـارول کېـږي. دغـه کلمـه کېدای شي له ( درېدل او ځای) څخه ترکيب شوې وي يعنې د درېدو هغه لوړ ځای چې د تبليغ، اعلان او نورو موخو لپاره کارول کېده. اوس هم موږ د پښتو په نيولوږيزم کې د دغه ترکيب له مخې ( ښـوونځی، پـوهنځی) او نورې کلمې جوړې کړې دي. په دغه نظم کې هممانيز يا مترادفات هم راوړل شوي دي، لکه ( ځنۀ او ټال ، لور او پرزوينه).

۴. د منځپانگې له مخې دغه نظم حماسي رنگ لری، لومړی يې خپل برم او جلال پکې رانغاړلی دی او بيا يې د خپل ټبر د خير ښېگڼې خبرې را اخيستي دي، همدا ډول د سياسي پلوه دښمن ډارول او خپل ټبر او قـوم تـه ډاډ ورکول د نني سياست اصل دی چې اميرکروړ يې په هغه وخت کې پلی کوي.

۵. نوموړی نظم د يوې ژبې تر اغېز لاندې نه دی راغلی بلکې د پښتو ژبې سوچه والی له ورايه پکې ښکاري.

**۲. ۳. ۱. ۲. د امير کروړ د نظم شعري ځانگړنې**

۱. د وزن له مخې نوموړی نظم ځانگړی وزن لري چې اوس نشته.

۲. د پښتو لومړي لاسته راغلي شعر پيل په تشبيه سره شوی دی چې حسي-لـه حسي-سره تشـبيه راښـيي ( زه يـم زمری) زه ( مشبه) او زمری ( مشبه به)، همدا ډول بله تشبيه پکې معقوله لـه محسوسـې سره راغلـې ( غشـي د مـن مې) من ( عقلي مشبه) او غشي ( حسي مشبه به) دی. په دغه تشبيه کې مشبه مقيد راغلی دی ( د مـن مـې) دغـه ترکيب مقيد دی.

۳. په دغه نظم کې مصرحه استعاره راغلې ده، (شپول) په دغه نظم کې له (ځـواک او قـدرت) څخـه اسـتعاره ده، توره يې قرينه ده، شپول ( مستعارمنه) او قدرت ( مستعارله) دی چې د عنادیې استعارې ښه بېلگه ده.

۴. د مرسل مجاز له مخې پکې د کليت علاقه راغلې ده، لکه ( نړۍ زما ده) چې مراد ترې هماغه سيمې دي چې د ده تر واک لاندې دي.

۵. د بديع له مخې پکې تشخيص ادبي جوړښت راغلې دی( زما د بريو پر خول تاوېږي هسـک پـر نمـنځ او پـه ويار) دلته (هسک) چې د وخت او اسمان په مانـاوو راغلـی دی انسـاني ځـانگړنې ( ويـار، نمنځـل او تاوېـدل)

ورکړل شوي دي. همدا ډول بل بديعي جوړښت په ( د اس له سو مې مځکه رېږدي) ترکيب کې (حسن تعليل) راغلی دی، د مځکې رېږدېدل طبيعي خبره ده خو ده د خپل اس د سو له وېرې په دليل راوړو سره حسن تعليل رامنځته کړی دی، همداډول د ( هند او سند) کلمو ترمنځ د (ازدواج) په نامه بديعي جوړښت او د ( مخسور او سور) ترمنځ د مرفوع مرکب تجنيس په نامه بديعي جوړښت راغلی دی.

٦. په دغه نظم کې جغرافيوي برخه هم په پام کېنيول شوې ده، لکه د ځينو ځاينو نومونه راول د بېلگې لپاره يې (هند، سند، تخار، کابل، زابل، هرات، جرم، عرج، باميان) او نور يادولای شو.

٧. د قافيې له مخې يې هر بند ځانگړې قافيه لري، ځينې بندونو کې داسې همغږې کلمې راوړي چې د شعر موسيقي لا زياتوي.

### ٢. ٣. ٢. ابو محمد هاشم

ابو محمد هاشم سرواني د ابن زيد سرواني زوی په (٢٢٣هـ) کال زېږېدلی دی. لومړنی زده کړې يې په بست کې له علماوو او فصحاوو وکړې، بيا د نورو زده کړو لپاره عراق ته لاړ، د عراق له عالمانو څخه يې زده کړې تر لاسه کړې. د عربي ژبې شعرونه او بلاغت يې د عراق له پياوړي عالم ابن خلاد څخه زده کړل. په (٢٩۴هـ) کال له عراق څخه راستون شو، تر راستنېدو درې کاله وروسته په (٢٩٧هـ) کال وفات شو.

ابو محمد هاشم سرواني د عربي شعرونو د فصاحت او بلاغت په تړاو يو کتاب (سالو وږمه) په نامه په پښتو کې ليکلی دی. نوموړی په عربي، فارسي او پښتو شعرونه ويل، کله چې د ده استاد ابن خلاد په سترگو ړوند شو، ده يې خدمت کاوه او له هغه څخه يې عربي خواږه شعرونه اورېدل. ابو محمد هاشم سرواني د ابن خلاد ډېر شعرونه پښتو ته را ژباړلي وو چې يو يې د درهمو يا پيسو د ستايلو په اړه دی، نوموړي په خوږه او فصيحه پښتو را ژباړلی دی.

ژبه هم ښه وينا کاندي چې يې وينه — د خاوند په لاس کې زر او درهمونه
ژبور ورله ورځې وينا يې اوري — د درهم خاوندان تل وي په وياړونه
که درهم يې ځنې ورک سو سي نتلی — پر نړی يې وي په خړو پېژندونه
که بډای سونې و بولي خلق وايي — دا وينا ده رښتيانيه له رښتونه
که بې وزلی و وايي رښتيا خبره — نور و وايي دا خو سونې دي تيرونه
درهم ژبه ده که څوک ژبور کېږي — ده وسله که څوک په کاندي قتالونه

(هوتک، ١٣٣٩ل، ٥٨ ــ ٦٠).

### ٢. ٣. ٢. ١. ابو محمد هاشم د شعر ځانگړنې

دغه پورته اووه بيته چې په درېيمه هجري پېړۍ کې زموږ لاسته راغلي دي، د نوموړې پېړۍ رنگ او بڼه موږ ته راښيي يعنې يو څه سبکي توپيرونه د امير کروړ له نظم سره لري:

۱. په دویمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبه او شعر د نورو ژبو له اغېز څخه سوچه و چې په درېیمه پېړۍ کې دغه سوچه والی د ( درهم، خلق او قتال) درو عربي کلمو چې د هاشم په نظم کې راغلي دي له منځه لاړ دی. د دغه اغېز لامل څرګند هم دی او هغه د محمد هاشم سرواني په عراق کې اوسېدل او په عربي ژبه کې د فصاحت او بلاغت د علومو زده‌کړه او ورسره د عربي ژبې د شعرونو ژباړه ده.

۲. په درېیمه هجري پېړۍ کې پښتو ژبې په خپله لمن کې د ځینو تعبیرونو لپاره داسې کلمې لرلې چې اوس نشته او مړې کلمې ورته ویلای شو، لکه ( ویاړونه ) چې (ونه) دجمعې د ورستاړی په بڼه ورسره شوی دی، (ویاړ) اوس د جمع او مفرد دواړو لپاره کارېږي او (ویاړل) یې مصدر دی. نورې کلمې ( خړې) د (بدي) په مانا، (ژبور) د (فصیح) په مانا، البته په ژبه کې اوس ژبور او ژبوره د جنګېرک په مانا کارېږي او په لیکنه کې یې بیا هماغه د ( فصاحت ) مانا له دویم ځل ژوندي کېدو څخه وروسته اخیستې ده. (نتلی) د درېمې دورې په ادبیاتو کې لیدل کېږي خو نن سبا که یې څوک کاروي په روایتي بڼه به وي. ( پېژندونه) اوس په خپل ترکیب کې (و) نه لري، بلکې د (پېژندنه) په بڼه لیکل کېږي. (سونې) د درغو په مانا اوس نه کارېږي، یعنې متروک دی، (وبولي) د خبرو په مانا یعنې (و وایي) چې د ( بول، بولتا او بولیګا) په بڼو په اردو ژبه کې شته. ( رښتونیه) په کلمه کې اوس ( و) پر (ي) بدل شوی دی د (رښتیني، رښتینی) په بڼو شته. د ( تیرونه) کلمه اوس د ( تیري، تېری او تېری کول ) په بڼو په پښتو کې کارېږي. (ښندي او پرتم ) اوس بیا را ژوندي شوي اولیکوال یې په خپلو لیکنو کې کاروي.

۳. د ابو محمد هاشم سرواني دغه نظم عربي بڼې ته نږدې دی، ځینو د حبیبي صاحب د یوې جملې له مخې (د هاشم دغه قطعه شعر) ځینو داسې تعبیر کړی دی چې ګنې حبیبي قطعه بللای او د نوموړي دغه کلمه د ابن خلاد د شعر جوړښت چې د قطعې بڼه لري نو دا هم قطعه بلل شوی دی خو د حبیبي صاحب له قطعې څخه موخه ( ټوټه شعر) دی نه دا چې دغه فورم ته قطعه و وایوو، بلکې فورم یې د غزل دی. زه ابو محمد هاشم په پښتو نظم کې د غزل سرلاری ګڼم، که څه هم منځپانګه او فکر یې د عربي ژبې ژباړه ده.

۴. د ابو محمد هاشم دغه نظم په پښتو ژبه کې لومړۍ منظومه ژباړه ده چې دا هم د ده لپاره په پښتو ادب کې یو ځانګړی امتیاز دی.

۵. د نوموړي نظم قافیه سسته ده.

٦. یوه تشبیه پکې راغلې ده چې (درهم) یې له ( ژبې او وسلې ) سره تشبیه کړي او د (جمع تشبیه) لومړۍ بېلګه یې ګڼلای شو.

۷. منځپانګه یې پر پند را څرخي او ټولنیز نقد پکې نغښتل شوی دی.

### ۲. ۳. ۳. لودیان (۳۵۰ ــ ۴۰۰هـ)

لودیان هم لکه سوریان د پښتنو یوه مشهوره کورنۍ ده چې د سلطنت او مشرتابه مرکز وه او وروسته له (۳۰۰هـ) په ختیزه پښتونخوا کې د دې کورنۍ د پاچاهانو نومونه اورېدل کېږي، نوموړې کورنۍ هم له پښتو ادب سره تړلې ده او په همدې لامل د پښتنو په زړه کې ځای لري.

حمید، نصر او داوود د لودي قبیلې یوه کورنۍ وه، د غزني د لومړیو پاچاهانو الپتګین او سبګتګین (۳۵۱ــ۳۹۰هـ) په پېر کې شیخ حمید لودي پر ننګرهار، پېښور او ملتان حکمراني درلوده، تر ده وروسته د ده زوی نصر پاچا شو او ملتان یې د خپل سلطنت مرکز و ټاکه. شیخ حمید لودي د (۳۵۰ هـ) په شا او خوا کې د راجه جیپاله له خوا له لغمانه تر ملتانه حکمران و. د (۳۵۱ هـ) په شا او خوا کې چې له غربي خوا پر جیپاله کومې حملې کېدې شیخ حمید د جیپاله په مرسته خپل ځواک کاراوه او د خپلې حکمرانۍ په حدودو کې یې خپلواکي لرله. کله چې سبګتګین پاچا شو شیخ حمید ورسره روغه وکړه او کله چې په (۳۹۵ ــ ۳۹۶ هـ) کال سلطان محمود پر ملتان حمله وکړه چې په دې وخت کې د شیخ حمید لمسی ابوالفتوح داوود له دغې کورنۍ څخه پاچا و نو یې قلنګ (باج) و مانه خو تر (۴۰۲ هـ) کال تر مخه سلطان محمود نوموړی په غزني کې بندي کړ او بیا هماغلته مړ شو. ځینې تاریخ لیکوال د شیخ حمید د کورنۍ افغانیت ته اشاره کوي خو د فرشتې لیکوال په څرګند ډول لیکي چې دوی پښتانه وو او تر ده وروسته نور تاریخ لیکوال لکه حیات خان په حیات افغاني، شېر محمد خان په خورشید جهان او ملیسن انګرېز په تاریخ افغانستان کې دوی پښتانه بولي. د پټې خزانې لیکوال دوی پښتانه بللي او پښتو اشعار یې ور څخه را لېږدولي دي.

پټه خزانه خپل سند هم ښيي او دا څرګندونه له (کلید کامراني) څخه را اخلي او کلید کامراني هم له (اعلام‌اللوذعي في اخبار اللودي) څخه اقتباس کوي. نوموړی کتاب په (۶۸۶ هـ) لودي لیکوال له خوا لیکل شوی دی چې تر ټولو ډېر باوري دی.

له دې کورنۍ څخه پخوانو تاریخ لیکوالو درې کسه (حمید، نصر او داوود) ذکر کړي دي چې پاچاهان وو خو (پټه خزانه) د شیخ حمید یو وراره شیخ رضي هم په خپلو پاڼو کې خوندي کړی دی چې نوموړي خپل تربور ته یو شعر د لیک په بڼه لېږلی دی. (حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۴۵۷ ــ ۴۵۹).

د دغې کورنۍ له دوو کسانو (نصر لودي او شیخ رضي) څخه دوه پارکي د سوال او ځواب په بڼه پټې خزانې خوندي کړي دي چې د دغو پاچاهانو د پښتو ادب په لړۍ کې یوه کړۍ ده اوله خپلې ژبې سره یې مینه ترې څرګندېږي.

#### ۲. ۳. ۳. ۱. شیخ رضي او نصر لودي

کامران خان د سدو زوی پر (۱۰۳۸ هـ) کال په صفا ښار کې یو کتاب ولیکه چې (کلید افغاني) یې نوم و. په دې کتاب کې کامران د شیخ احمد ابن سعید اللودي له (اعلام اللوذعي في اخباراللودي) له کتاب څخه چې

په (۶۸۶هـ) يې کښلې و اقتباس کوي چې شيخ رضي لودي د شيخ حميد لودي وراره د خپلې پاچاهۍ پر وخت پښتونخوا ته د اسلام د تبليغ په موخه ولېږه، شيخ رضي دوه کاله د کسي په غرو کې دېرې خلکو ته د اسلام تبليغ وکړ او مسلمانان يې کړل.

نصر لودي د شيخ حميد زوی په ملتان کې د ملحدانو له استازو سره ناسته پاسته پيل کړه، له دوی څخه يې د الحاد او اسماعيلي فرقې عقايد زده کړل او په همدې عقيده شو ـ د سنيانو په عقيده کافر شو ـ کله چې شيخ حميد مړ شو پر ځای يې نصر پاچا شو او د الحاد تبليغ يې غوره کړ، قرامطه يې راوستل. شيخ رضي چې له دې حاله خبر شو نو نصر ته يې خپل نظر په لاندې پارکي کې راولېږه:

د الحاد په لور دې ترپلل ـــ گروه دې زمور و کوراوه
مور رونلی په زيارونه ـــ تا په تور و توراوه
لرغون ولې گروهېدلې ـــ چې دې گوښې اړاوه
هغه گروه دې اوس آړه کړ ـــ چې پلرو دې رڼاوه
لودي ستا په نامه سپک سو ـــ که هر څو مو درناوه
نصره نه مو يې له کهاله ـــ لودي نه يې په کاوه
زمور رغا ده ستا له گروهه ـــ د ورځلوي په رغاوه
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۶۸ ـ ۷۲).

د پورته پارکي په ځواب او د ځان په سپيناوي کې نصر لاندې پارکی ورته ولېږه:

د الحاد په تور تورن سوم ـــ زه لرغون خو ملحد نه يم
زما دښنه هسې تورا کړي ـــ که ملحد يم د دښنه يم
له اسلامه نه ترپلمه ـــ تورانو څخه په ترپله يم
گروه مې هغه لرغونی دی ـــ اوس هم کرور په لرغونه يم
د اسلام پر هسک به ځلم ـــ و تورانو ته تياره يم
د لودي زوی سنتي يم ـــ د حميد له لور کهاله يم
تورانې دښن چې وايي ـــ زه له گروهه په آړه يم
دايې تور تاسې دروهوي ـــ زه مومن ستاسې په تله يم
د دښنو وينا وې مغبزه ـــ زه لودی يمه څو زه يم
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۷۲ ـ ۷۴).

### ۲. ۳. ۳. ۱. ۱. شيخ رضي او نصر لودي دشعر ځانگړنې

۱. د (۳۵۰ هـ) کال تر وخته د پښتونخوا په ختيزه برخه کې د عربي ژبې اغېز لږ و، د ژبې سوچه والی يې بې له ديني گړنو نور نه و.

۲. په دغو دوو پاڼکو کې ځینې مړې او متروکې کلمې لیدل کېږي، لکه ترپلل، گروه، کوراوه، روڼلی، زیارنه، توراوه، گروهېدلې، گوښې، اړاوه، لړه، لرغون، دښنه، ترپلمه، تورانو، کروړ، لرغونه، هسک، اړه، دروهوي او مغبزه.

۳. یوازې په دیني برخه کې د عربي ژبې اغېز له دغو دوو (الحاد او سنتي) کلمو څخه څرگندېږي.

۴. دغه پاڼکي د مشترکو نظمونو د قطعو بڼه لري چې بیا وروسته په دغه فورم کې ډېر منظوم داستانونه لیکل شوي دي.

۵. دغه پاڼکي د پښتو ژبې د نظم په تاریخچه کې د منظومو لیکونو پیل راښیي.

٦. (د اسلام پر هسک) پکې اضافي مؤکده تشبیه د لومړی ځل لپاره راښیي.

**۲. ۳. ۴. ۱. کیس یا عبدالرشید**

د پښتنو په تاریخ کې یوه کورنۍ ډېره مشهوره ده چې شتون یې له (۳۰۰هـ) را په دېخوا اټکلولای شو، د دغې کورنۍ په تړاو ډول ډول نظریې شته خو د نوموړې کورنۍ په اړه د پښتنو له ملي راویاتو او تاریخي لیکنو څخه یوه پایله را څرگندېدلای شي.

د دې کورنۍ لومړی کس پټان بابا دی چې نوم یې کیس و، د کسي (سلیمان) غره ته منسوب او عربي نوم یې تاریخ لیکوالو عبدالرشید لیکلی دی چې د ده درو زامنو (بېټ یا بېټنی، سړبن او غرغښت) نومونه یې خوندي کړي دي. د تاریخ له مخې داسې برېښي چې نوموړې کورنۍ له غور څخه د کسي غره ته کوچېدلې وه چې په دغه ځای کې ډېره مشهوره شوه، د کیس درو زامنو ته د پښتنو ډېرې کورنۍ منسوبې دي.

تر ټولو مورخانو لومړی کس سلیمان ماکو دی چې په خپل اثر (تذکرة الاولیا، ٦۱۲هـ) کې د دوی په اړه څرگندونې لري. ورسره یې د بېټ نیکه یو نظم خوندي ساتلی دی. (حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۴٦۷ ــ ۴٦۹).

**۲. ۳. ۴. ۱. بېټ نیکه**

د پښتنو شاعرانو په لړ کې د بېټ نیکه نوم او منظومه د مناجاتو له مخې لوړ ځای لري، د بېټ نیکه په اړه څرگندونې ابوالفضل په خپلو لیکنو کې کړې دي، همدارنگه نعمت الله هروي نورزي په مخزن افغاني کې یاد کړی دی او سلیمان ماکو په خپل اثر تذکرة الاولیا کې د ده پېژندنه او یو نظم راوړی دی.

| | |
|---|---|
| لویه خدایه لویه خدایه | ستا په مینه په هر ځایه |
| غر ولاړ دی درناوي کې | ټوله ژوي په زاري کې |
| دلته دي د غرو لمنې | زموږ کړدی دي پکې پلنې |
| دا وگړي ډېر کړې خدایه | لویه خدایه لویه خدایه |
| دلته لر زموږ اور بل دی | ووړ کورگی دی ووړ بورجل دی |
| مینه ستا کې موږ مېشته یو | بل د چا په مله تله نه یو |

هسک او مزکه نغښته ستا ده　　د مړو وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدایه　　لویه خدایه لویه خدایه
(ماکو، ۱۳۶۱ل، ۴۰).

**۲. ۳. ۳. ۴. ۱. د بیټ نیکه د شعر ځانګړنې**

۱. په دغه نظم کې مړې او متروکې کلمې شته، لکه بورجل، هسک او ژوی د ځای، اسمان او د حیوان په ماناوو.

۲. نوموړی نظم د پردیو ژبو له اغېز څخه پاک دی یوازې د خدای کلمه چې له فارسي سره مشترکه ده دا هم کېدای شي پښتو ریښه ولري.

۳. د نظم جوړښت د پښتو ملي نظمونو ته نږدې دی، هر بند یې ځانګړې قافیه لري او یو تکرارېدونکی کسر یې په پای کې راځي.

۴. دغه نظم د منځپانګې له مخې پخوانیو اریایي سندرو ته ورته دی چې د اولادونو د ډېرښت مفکوره پکې ځای په ځای شوې ده.

**۲. ۳. ۴. ۲. اسماعیل**

پښتانه تاریخ لیکوال لیکي چې اسماعیل په اصل کې د بیټ نیکه زوی و، دا چې د خپل تره سړبن په کور کې را لوی شوی دی نو نوموړی په سړبني مشهور شوی دی. سلیمان ماکو هم دغه خبر لیکي چې اسماعیل د بیټ نیکه په کور کې را لوی شوی و او د سلیمان په غره کې مېشته او هم هغلته وفات شو. سلیمان ماکو او خواجه نعمت الله هروي دواړه وایي چې د اسماعیل هستوګنه په سلیمان غره کې وه، نعمت الله هروي زیاتوي چې د نوموړي قبر په (وازه خوا) ــ چې د سلیمان غره پر لمنو کې یو ځای دی ــ دی.

اسماعیل د خپل وخت مشهور عابد د هروي په وینا نوموړي د تصوف تول سخت پړاوونه تېر کړي و، د لدوني علم له مخې د حقیقت او طریقت د رمزونو کاشف و د خواجه مقام یې خپل کړی و او له لرې ځایونو څخه به خلک ور ته راتلل. (حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۴۷۴ او ۴۷۵ ).

د شیخ اسماعیل دوه نظمونه موږ ته د دوو لیکوالو سلیمان ماکو له تذکرة الاولیاء او د محمد هوتک د پټې خزانې پر مټ رارسېدلي دي. سلیمان ماکو لیکي: ((نقل کاوه شي چې شیخ ملکیار ستانه به تل تر تله د شیخ اسماعیل ستر ستانه پاړکي ویل او بږغ به یې کاوه، دا شیخ د سړبن زوی دی.

تېښته وکړه له ابلیسه
چې ابلیس لعین ښکاره شي
هلته ورکه پلوشه شي
سړی وران شي له ابلیسه

غوخ د پس په کتاره شي
که هر چا ابلیس خرخ کړ
نو یې هله نن‌داره شي
که سړی ابلیس ته پړ شو
نو پر کور د ویر ناره شي
(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۴۷۶).

د شعر بله بېگه یې محمد هوتک په پټه خزانه کې خوندي کړې ده چې په پیل کې یې دغه سریزه ږدي: (( هسې واي چې یو وقت خربښون بابا او اسماعیل د سړبن او بېټني نیکه په مخ کې ناست وو، د دوی کور و د کسي پر غره نو خربښون د پلار او تره له خوا په تگ او رخصت مأذون سو، اسماعیل نیکه داسې ناري وکړلې:

| | |
|---|---|
| که یون دی یون دی | مخکې بېلتون دی |
| له کسي غره څخه | ځي خربښون دی |
| که وروره وروره | خربښونه وروره |
| ته چې بېلتون کړې | زما ویر ته گوره |
| چه ځې مرغې له | توري کرغې له |
| همزولي پاته | ځې څه برغې له |
| د خدای د پاره | خربښون یاره |
| چه هېر مو نه کړې | زمور کهول واړه |
| زړه مې ربړي | یار مې بېلېږي |
| بېلتون یې اور دی | ځان په سوزېږي |

( هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۸ ــ ۲۰).

**۲. ۳. ۴. ۲. ۱. د اسماعیل د نظم شعري ځانگړنې**

۱. شیخ اسماعیل په تصوف کې د لوړ مقام خاوند و، څرنگه چې د ده دنده د اسلام دین نورو ته رسول و او په دې اړه به یې نورو مریدانو ته ریاضتونه ورکول نوځکه یې په لومړي نظم کې دیني رنگ څرگند دی.

۲. بله خبره دا چې دی د تصوف د لارې لاربښود و، تصوف او دین دواړه په عربي ژبه تر پښتنو رارسېدلي و نو ځکه یې په نظم کې ( ابلیس او لعین ) دوی عربي کلمې راغلې دي.

۳. دا چې دوی د کسي په غره کې اوسېدل او بې له اسلام څخه بل اغېز لا په پښتو ژبه نه و شوی نو ځکه تر ډېره بریده یې ژبه سوچه ده.

۴. د نظمونو د فورم له مخې لومړی نظم قطعه یا پاړکی بللی شو او د منځپانګې له مخې پند پکې راغلی دی.

۵. د نوموړي دویم نظم چې د ولسي ادب نارو ته پاتې کېږي د بلې ژبې هیڅ اغېز نه لري، په دغه وخت کې هم لا پښتو ژبه په خپل ولس کې د دوی د ذهني او مادي تعبیرونو لپاره بشپړه وه.

۶. په دغو نظمونو کې داسې کلمې شته چې اوس ډېرې کمرنګې دي او یا هم مړې شوې دی، لکه: پس، کټاره، یون، کرغه، برغه او کهول.

۷. په دغو نظمونو کې ځینې کلمې شته چې اوس یې لږ په بدلون سره لیکو، لکه د (تښته) چې اوس یې (تېښته) لیکو. د (خرخ) کلمه چې د پلورلو مانا ورکوي خو په نوموړي بیت کې د (شړل) په مانا راغلی دی.

۸. د نوموړي دویم نظم د ځلوریزو په بڼه د دري ژبې د چارپاره نظم استازولي کولی شي، ځکه داخلي جوړښت یې د ځلوریزو دی او موضوع پکې پرلپسې یوه راغلې ده.

۹. د دویم نظم منځپانګه یې د یوې کورنۍ د غړیو د بیلتون درد را ښیي خو بیا هم دا چې خلکو ته یې موخه د اسلام رسول دي نو دغه درد په خوشحالۍ تېروي.

۱۰. په دغو نظمونو کې هم تشبېه تر سترګو کېږي، لکه (سړی وران شي له ابلیسه) یې له (غوڅ د پس په کټاره شي) سره تشبېه کړی او (بېلتون) یې له (اور) سره د لومړي ځل لپاره تشبېه کړی دی.

### ۲. ۳. ۴. ۳. شیخ خرښبون سړبنی

خرښبون د سړبن زوی، د عبدالرشید (کیس) لمسی دی چې د (۴۰۰ هـ) خواو شا په کسي غره کې زېږېدلی دی. د پلار په ژوند له خپلو اولادونو سره له کسي غره څخه غوړې مرغی ته راغی، کله ـ کله به د غونډان غره ته هم تله، هلته به یې د الله (ج) عبادت او ستاینه کوله. نوموړی به په کال کې یو ځل د خپل تره بیټني نیکه لیدو لپاره کسي غره ته ته، د بیټني نیکه تر وفات وروسته به هم د نوموړي زیارته ته ورتلو. خرښبون له شیخ اسماعیل سره یو ځای د بیټني نیکه کره را لوی شوی و. (هوتک. ۱۳۳۹ل، ۱۸).

د شیخ خرښبون زامن کند، زمند او کاسي نومېدل چې دوی هم په خپل وخت کې ډېر شهرت درلود. نوموړی پر (۴۱۱ هـ) کال په مرغه کې وفات شو اولاد یې هم هماغلته اوسېده خو د ده د زوی کاسي زامن بیرته کسي غره او پښین ته تللي وو او د کند زمند اولاد په ننګرهار او خیبر پېښور کې خپاره شول. (حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۴۷۸ـ۴۸۰).

کله چې خرښبون د غوړې مرغی او غونډان په لور و خوځېد شیخ اسماعیل ورپسې ډېر وژړل او خپل احساسات یې په نظم کې ورته وړاندې کړل چې بیا شیخ خرښبون هم خپل احساسات ورته په لاندې نظم کې وړاندې کړل:

بېلتانــه نــاره مــې وشــوه پــه کــور بانــدې
نه پوهېږم چې به څه وي پېښې پـه وړانـدې

لــه خپلوانــو بــه بېلېــږم پــه سرو ســترګو
دواړه ســترګې مــې پــه وينــو دي ژړانــدې

اسـماعيله ستا نـارو مې زړګـی سُری کـی
بېلتانــه خرښــبون بيــا لــه تــا پــردی کــی

نه هېريږي کـه مې بيا نـه ستا يـادی کـی
په چړو د ويـر بـه پـرې سي د زړه مرانـدې

څمه څمه چه اوږد يون مې دی و مخ تـه
د يانــه څــوری بــه اچــوم و تــرخ تــه

ستاسې ياد به مې وي بس د زړه و سخ تـه
که دا مځکه غرونه تول سي لاندې بانـدې

(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۲۰).

**۲. ۳. ۴. ۳. ۱. شيخ خرښبون سرېښي د نظم ځانګړنې**

۱. پورتنی نظم د جوړښت له مخې د څلوريز (مربع) فورم لري.

۲. د منځپانګې له مخې له خپلوانو په ځانګړي ډول د شيخ اسماعيل د نظم د اغېـز لـه مخې لـه کـورنۍ څخـه د بېلتون په پار ويل شوی دی.

۳. د شيخ خرښبون په دغه څلوريز کې هم د پرديو ژبو اغېز نه ليدل کېږي.

۴. په وينو ژړاندې، يادی، زړه سوری کېدل او سرو سترګو پکې نوي ترکيبونه دي.

۵. يون، څوری او سخ اوسمهال په پښتو ژبه کې نامانوسې کلمې دي، کېدای شي ځينې ليکوال يې د بيا را ژوندي کولو په پار په خپلو ليکنو کې و کاروي.

۶. (د زړه مراندې او په چړو د وير) يې اضافي مؤکدتشبيهي ترکيبونه دي چې د لومړي ځل لپاره کارول شوي دي.

**۲. ۳. ۵. شيخ اسعد سوري**

د سوري کورنۍ شاليد مو مخکې وليکه او په دې پوه شو چې په دغه کورنۍ کې ستر شاعران پالل شوي دي او د پښتو ادب لمنه يې تر ډېرې لرغونې پورې غزولې ده. شيخ اسعد سوري د نوموړې کورنۍ بل پياوړی شاعر دی نوموړی د محمد زوی دی او د ژوند پېر يې (۴۰۰هـ) شا او خوا اټکل شوی دی، پر (۴۲۵هـ) کال پـه بغنـين کې وفات شوی دی. د نوموړي په تړاو پټې خزانې په خپله ځولۍ کې څرګندونې راوړې دي.

شيخ اسعد سوري د محمد زوی په غور کې استوګنه درلوده او د سوري کورنۍ په پادشاهۍ کې يې ډېر عزت لاره. نوموړي ډېر ښه شعرونه لرل، کله چې سلطان محمود غزنوي پر غور حمله وکړه او امير محمد سوري ته يې د اهنګران په کلا کې تر محاصرې وروسته ماتې ورکړه او له ځان سره يې بندي د غزني په لور ووړ، نوموړی چې ډېر زړور، عادل او ضابط امير و له خپل غيرته د لارې په اوږدو کې وفات شو. شيخ اسعد سوري چې د ده

کلک ملگری و د اهنگران په کلا کې له امیر محمد سوری سره یو ځای و، د نوموړي پر مرگ یې د یوې بوللې په فورم کې ویرنه په نظم کړه.

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر گل چې خاندي په بهار

هر غټول چې په بېدیا غوړېده و کا
رېژوي یې پاڼې کاندي تار په تار

ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندې زار

د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي
د بې وزلو وینې توی کاندي خونخوار

چه له برمه ئې زمری رېږي زنگلو کې
له اوکوبه ئې ډاري تېرو جبار

هم ئې غشی سکڼي ډال د ژوبلورو
رستمان ځنې ځغلا کاندي په ډار

چه ئې ملاوې نه کرېږي په غښتلیو
دا فلک پر وکا څه کاري گذار

په یوه گردښت ئې پرېباسي له برمه
نه ئې غشی نه لیندۍ وي نه ئې سپار

څه تېری څه ظلم کاندي اې فلکه
ستا له لاسه ندی هیڅ گل بې له خار

په ویرژلو لور نکړې په زړه کراړیه
پر نتلیو اوروې د غم ناتار

هیڅ روغی مې په زړه نسته ستا له څوره
بېلوې په ژړا ژړ مین له یار

له تېریو دې اوښې څاڅي له اوریځو
چینې ژاړي په ورتې ورتې ستا له شنار

نه به لاس واخلې له څوره نه به لورې
نه به ملا کړې له بې وزلو له ترار

نه به زړه و سوځوې په هیچا باندې
نه به درملې ټپونه د افگار

ستا له لاسه دي پراته ژوبل زگیروي کا
هر پلو ته ټپي زړونه په څار څار

کله غوڅې کاندې مراندې د زړگیو
کله تېرباسې وگړي هوښیار

کله غورځوې واکمن له پلازونو
کله کښېنوې په خاورو کې بادار

زمور پر زړونو دې نن بیا یو غشی و ویشت
ودې ژوبلله په دې غشي هزار

پر سوریو باندې ویر پرېوت له پاسه
محمد واکمن چه ولاړی په بل دار

یو وار سو اسیر په لاس د میرځمنو
انتقال ئې وکړ قبر له بل وار

په سماؤ ئې ودان آهنگران و
په ټیکنه و پر درست جهان اوځار

د محمود د ژوبلورو په لاس کښېوت
چه غزنه ته ئې باتلی په تلوار

ننگیالیو له قید مړینه ده ځکه
سه ئې والوتله هسک ته پر دې لار

تر نړۍ ئې غوره خاورې هدیره کا
د زمریو په بېړیو کله وي څوار

په دې ویر د غور وگړي تور نمري سول
په دې ویر رڼا تیاره سوله د ښار

گوره څاڅي رڼې اوښې له دې غرونو
دا کړونگې ساندې لي په شورهار

نه هغه زرغا د غرونو د بېدیا ده
نه د زرکیو په مسا دی کټهار

نه غټول بیا زرغونېږي په لاښونو
نه بامي بیا مسېده کا په کهسار

نه له غرجه بیا راځي کاروان د مشکو
نه را درومي غور ته بیا جوپې د شار

د پسرلي اوره تودې اوښې تویونه
مرغلرې به نیسان نکړي نثار

دا په څه چه محمد ولاړ له نړیه
په ویرنه ئې سو غور تول سوگوار

نه ښکارېږي هغه سور د سور په لتو نه ځلېږي هغه لمر پر دې ديار
چه به نجليو په نڅا پکې خندله چه به پېغلو کا اتڼ قطار قطار
هغه غور په وير ناتار د واکمن کښېوت هغه غور سو د جاندم غندې سور اړ
لاس دې مات سه اې فلکه چه دې و کا محمد غندې زمری د مړينې ښکار
شين زړګی فلکه ولې لا ولاړ ئې اې د غور غرونو په څه نسوځ غبار
مځکې ولې په رپېږدلو نه پرېوزې لاندې باندې سه چه ورک سي دا شعار
چه زمری غندې واکمن ځي له جهانه چه څوک نکړي په نړۍ باندې قرار
سخ په تا اې محمده د غور لمر وې په نړۍ به نه وي ستا د عدل سار
ته پر ننګه وې ولاړ په ننګ کې مړ سوې هم پر ننګه دې په ننګه کا ځان جار
که سوري دې په تګ وير کاندي ويرمن سول هم به وياړي ستا په نوم ستا په تبار
په جنت کې دې وه تون زموږ واکمنه هم په تا دې وي ډېر لور د غفار
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۳۸ ــ ۴۸).

## ۲. ۳. ۵. ۱. شيخ اسعد سوري د شعر ځانګړنې

د (۴۰۰هـ) کال په خوا او شا کې بولله د ساماني او غزنوي پاچاهانو په دربار کې ښه روزل شوې وه او د خپل پرمختګ په لوړ پړاو کې يې ځای لاره. د غزني او غور د وګړو ترمنځ حتماً اړيکې او راشه درشه وه نو څرګنده خبره ده چې د ادب او پنځونو پر وخت د عربي او فارسي د بوللو اغېز پر پښتو ادب هم ښکاره دی.

دغه پېر چې اسعد سوري پکې ژوند کاوه د بوللې يا قصيدې د څوانۍ و. د سلطان محمود غزنوي دربار له قصيده ويونکو شاعرانو ډک و چې عنصري ملک الشعرا پکې د خپلو قصيدو په ويلو ښې لاسته راوړنې لرلې.

د دغه دور بوللو ډېری پنځه برخې ( تشبيب، ګريز، اصل مطلب، حسن طلب او دعاييه ) لرلې، د پښتنو د طبيعت له مخې د دوی په بوللو کې دا څلورمه برخه (حسن طلب ) نشته خو پاتې څلور برخې لري.

دلته به هغه ښېګنې او سبکي توکي راوړو چې د اسعد سوري په بولله کې تر سترګو کېږي:

۱. د بوللې منځپانګه د محمد سوري د مړينې ساندې برابروي.

۲. د عروضي جوړښت له مخې د اسعد سوري دغه نظم د ګډو نظمونو له جملې څخه دی. يعنې بولله د عربي، دري، پښتو، اردو او نورو ژبو ترمنځ مشترک فورم دی.

۳. دغه بولله څلور برخې ( تشبيب، ګريز، اصل مطلب او دعاييه ) په خپله منځپانګه کې لري.

۴. په دغه بولله کې د عربي او دري کلمې تر سترګو کېږي، دا په دې مانا چې د غور او نورو ولايتونو او همدا ډول د اسلام په راتګ سره د پښتو ژبې جغرافيوي سوچه والی تر اغېز لاندې راغلی دی.

دري کلمې: بهار، خونخوار، اکوب، افګار، بادار، هزار ، اسير ، جهان ، نيسان ، سوګوار اوغبار.

عربي کلمې: فلک، جبار، ظلم، غم، مدار، وصل، شعار، عدل، جنت، غفار، دار، انتقال، قبر، محمود، محمد، قطار، جاندم، قید او نثار.

۵. دغه بولله په سلاست، بلاغت او ادبي ښېګڼو کې د پښتو له لومړي پوړ له شعرونو څخه ده. دلته د شیخ اسعد سوري د شعر پوخوالی او ادبي ځواک ښه ترا معلومېږي.

٦. دغه بولله د دري له بوللو سره په ځانګړنو کې ډېره ورته ده، بلکې فرخي چې په (۴۲۱هـ) د سلطان محمود پر مړینه کومه بولله ویلې د پرتلې له مخې د اسعد سوري بولله د مرثیې له مخې ډېره قوي ده.

۷. په دغه بولله کې هم داسې پښتو کلمې راغلي دي چې ځینې یې مړې، ځینې یې نامانوسه او یوه نیمه یې اوسنیو لیکوالو بېرته را ژوندۍ کړې ده.

۸. په دغه بولله کې طبیعت ډېر ښه راوړل شوی دی، ډېری یې انساني ځانګړنې ورکړې دي.

۹. تور نمري ګڼه اسعدسوري د لومړي ځل لپاره په شعر کې د خفګان د څرګندولو لپاره کارولې ده.

۱۰. تشبېه د امیر کروړ له نظم څخه په پښتو ادبیاتو کې را غلې ده خو د اسعد سوري په قصیده کې پر تشبېه سربېره استعاره، کنایه. مکنیه استعاره او اطناب هم کارېدلي دي.

کنایه

د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر ګل چې خاندي په بهار

په دویمه مصره کې کنایه موجوده ده.
مکنیه استعاره

ډېر مخونه د فلک څېېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندې زار

اطناب

ډېر مخونه د فلک څېېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندې زار
د واکمن له سره خول پربباسي مړ سي
د بې وزلو وینې توی کاندي خونخوار
چه له برمه ئې زمری رپي زنګلو کې

له اوکوبه ئې ډاري تېرو جبار
هم ئې غشي سکني ډال د ژوبلورو
رستمان ځنې ځغلا کاندي په ډار
چه ئې ملاوې نه کړېږي په غښتليو
دا فلک پر وکا څه کاري ګذار
په يوه ګردښت ئې پرېباسي له برمه
نه ئې غشی نه ليندۍ وي نه ئې سپار
څه تېری څه ظلم کاندې اې فلکه
ستا له لاسه ندی هيڅ ګل بې له خار
په ويرژلو لور نکړې په زړه کراړيه
پر نتليو اوروې د غم ناتار

حسن تعليل

په دې وير د غور وګړي تور نمري سول
په دې وير رڼا تياره سوله د ښار
ګوره څاخي رڼې اوښې له دې غرونو
دا کړونګی ساندې لي په شورهار

تشخيص

شين زړګی فلکه ولې لا ولاړ ئې
ای د غور غرونو په څه نسوځ غبار
مځکې ولې په رېږدلو نه پرېوزې
لاندې باندې سه چه ورک سي دا شعار

تلميح

هم ئې غشي سکني ډال د ژوبلورو
رستمان ځنې ځغلا کاندي په ډار

مراعات النظير

په يوه گردښت ئې پرېباسې له برمه
نه ئې غشي نه ليندۍ وي نه ئې سپار

### ۲. ۳. ٦. شيخ تيمن

د محمد هوتک پلار د شيخ المشايخ بستان بړيڅ له اثر (بستان الاولياء، ۹۵٦هـ) په حواله وايي چې شيخ تيمن د شيخ کاکړ زوی دی. شيخ تيمن د غور برې خواته لاړ او هلته استوګن شو نو خلک يې اوس اولاد په کاکړو کې نه شمېري خو له آره دوی کاکړ دی. پخپله شيخ تيمن زاهد، عابد او ولي و.

شيخ تيمن له غور څخه ږوب ته د شيخ کاکړ بابا ليدو ته راغی، هغه يې وليد، تر دې وروسته ګجران ته لاړ او هلته مېشت شو. نوموړی د علاء الدين خان حسين سام (۵۵۰هـ) په دور کې وفات شو. (هوتک، ۱۳۳۹ل، ٦۲).

ګجران د غور جنوبي برخه ده چې د زميداور شمال ختيځ خواته پرته ده. تاريخ ليکوالو کجوران او کجران په بڼو ليکلې ده.(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۴۹٦).

ګهيځ رڼا د لمر خپره سوه — زما پر کور د وير ناره سوه
د بېلتون ورځ توره تياره سوه — ږغ سو ناڅاپه چې بېلتون راغی

زړه مې له دې ويرنې شين دی — په ژړا ژاړم څه ناورين دی
زرغون له اوښو مې سادين دی — په نول نولېږم چې تاخون راغی

نه به بيا يم نه به بيا راسي — نه به تياره شپه زما رڼا سي
نه به شهۍ راته پخلا سي — بېلېږي پېر ئې اوس د يون راغی

د ښښتن پار دی هېر مې نه کړې — آغليه مخ چه په يانه کړې
اوربل دې پرېښو وی واته کړې — پر ما د بل اور کړوون راغی
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ٦۳ او ٦۴).

### ۲. ۳. ٦. ۱. شيخ تيمن د شعر ځانګړنې

۱. د وزن او جوړښت له مخې پورته نظم ولسي بدل ده، د هيوادمل په قول په کندهار کې دغه ډول سندرې د سپرې په نوم يادېږي.

۲. د بېلتون او شهۍ له کلمو څخه دا برېښي چې لېريک يا عشقي سندره و بلل شي.

۳. ژبه يې سوچه پښتو ده خو د شهی کلمه په دري کې هم د (شه، شها او شاه) چې د لوی او معزز مانا ښندي شته.

۴. ( د زړه شین کېدل، تیاره شپه او ورځ تیاره کېدل ) پکې پښتو ګړنې راغلې دي.

۵. بل اور پکې له ستونزو او کړاوونو څخه استعاره ده.

### ۲. ۳. ۷. ښکارندوی غوري

ښکارندوی د احمد زوی د غور اوسېدونکی و. پلار یې د فېروز کوه کوتوال و. ښکارندوی سربېره پر غور په غزني او بست کې هم اوسېدلی دی. د ژوند پېر یې شپږمه هجري پېړۍ (۵۸۰هـ) ښودل شوې ده. د دوی کورنۍ په غور کې خورا معتبره وه نو ځکه یې د وخت د پاچاهانو په ځانګړې توګه د سلطان شهاب الدین محمد سام شنسباني په دربار کې ځانګړی ځای لاره. دا چې له یوې خوا یې کورنۍ عزت لاره او له بله خوا داسې ګرځنده طبعه یې لرله نو په شعر او شاعرۍ کې یې د غزني د شاعرانو اغېز څرګند دی او په خورا لوړه کچه یې خپل شعر پاله. د پټې خزانې له مخې چې کومه خبره د محمد ابن علي په حواله راخیستې چې په بست کې ما د ده د بوللو غټ کتاب لیدلی و، دا څرګندېږي چې په دغه فن کې ښه عالم او استاد و.(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۴۹۸او ۴۹۹).

کله چې سلطان شهاب الدین پر هند یرغل کاوه ښکارندوی هم ور سره و، ښکارندوی د محمد سام او سلطان غیاث الدین غوري په ستاینه کې بوللې لرلې چې دغه یوه بولله چې د محمد سام ستاینه پکې ده را لېږدولې ده.(هوتک، ۱۳۳۹ل،۴۹او ۵۰).

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه
بیا یې ولونل په غرونو کې لالونه

مځکه شنه، لاښونه شنه، لمنې شنې سوې
طیلسان زمردي واغوسته غرونه

د نیسان مشاطې لاس د مچېدو دی
مرغلرو باندې و ښکلل بڼونه

د غټولو جنډی خاندي و ریدي ته
زرغونه بڼو کې ناڅي زلمي جونه

لکه ناوې چې سور ټیک په تندي و کا
هسې و ګاڼل غټولو سره پسولونه

مرغلرې چې اورو و خونولیه
په څلا ئې سوه راڼه خپاره دښتونه

زرغونو مځکو کې څل کا لکه ستوریه
چه پر هسک باندې ځلېږي سپین ګلونه

سپینې واورې ویلېده کاندي بهېږي
لکه اوښې د مین په ګرېوانونه

هر پلو رڼې والې بهاندې خاندي
له خوښیه سر وهي له سینګړونه

هر پلو د ګلو ورم دی لونلی
ته وا راغله له ختنه کاروانونه

د مسیح په پو به مړو ژوندون بیاموند
پسرلی مګر مسیح شو په پو کړنه

له مړو خاورو یې اغلی ګل را ویوست
وچ بیدیا او غر ئې کړله جنتونه

سړی جاجي چه رامشت کړو رامشتګرو
ګهیځ چونې چه په بڼ و کا ږغونه

په بر بڼ چه ږغ د چونیو نغوړېده سي
ته واچندي سره پېودي اشلکونه

د زلما ټاپی راغلی [دی؟] پر جنډیو
لکه پېغله غوټی کاندي مکېزونه

د پوپلو مخ سور کړی پسرلي دی
یو د بل په غاړه اچوي لاسونه

د هندارو په څېر غرونه سپین ورنګن دي چه پر واورو باندې ځل و کا لمرونه
په غورځنګ غورځنګ له خولې ځګونه باسي لکه شنې هاتي شنا کاندي سیندونه
نه به چونې په ستایه د جنډیو موړ سي نه به موړ سم د سلطان په صفتونه
د شنسب د کهاله ختلی لمر دی د پسرلي په دود ودان له ده رغونه
د ښندو اورو یې درست ایواد زرغون کړ له قصداره تر دېبله ئې یونونه
په زابل چې د بري پر نیلي سپور سي په لاهور ئې د مېړاني ګزارونه
نه ئې څوک مخ ته دري د میرځمنو نه ئې توري ته ټینګېږي کلک ډالونه
د اسلام د دین شهاب د نړۍ لمر دی تورستهان ئې کړ رڼا په جهادونه
هر پلا چه دی پر هند و سند یرغل کا رڼوي توره نړۍ په شهابونه
په پسرلي چه ئې تېرون په اټک و کا غاړه غاړه یې تری سولله زړونه
نه به ده غندې روڼ ستوری په هسک ځلي که څه پورته سي له غوره ډېر مېړونه
نه به راولي جګړن د سیند په لوري نه به بري څوک د هند چنار ښهرونه
نه به څوک زلمی د غور سره را غونډ کا د داور توري به چېرې کا ځلونه
یو خاوند شهاب الدین دی چه ئې و کا په هر لوري هر ایواد ته یرغلونه
په جوپو جوپو جګړن ئې هند ته یون کا چه د غور بادار همت و کا زغلونه
نن په سیند باندې تېرېږي یرغل کاندی په پرتم ئې زمری رېږدي په زنګلونه
څپان سیند ئې هم له ډاره ایلائې کا پر اورو وړي د غوریانو ښه اېرونه
په هرکال اټک د ده ښه راغلی کاندي غوړوي په څنډو خپل پاسته سالونه
پښتونخوا ښکلي ځلمي چه زغلي هند ته نو آغلیه پېغلې کاندي اتڼونه
زرغونې ختې اغوستي وي دې غرونو پټ بېدیا هم پسوللي وي ځانونه
هر ګهیځ چه لمر څرکېږي له خاتیځه څو چې یون کا د لویدیځه په څنډونه
که برېځر وي که غرمه وي که برمل وي که لرمل که لمر لوېده که ترملونه
د شهاب جګړن به نه کښېني له زغلو نه به پرېږدي دا زلمي خپل بهیرونه
زمری کله کاږي ځان له یرغلګریو څو ئې نکا مات متونه ورمېږونه
یا به جګ کا د بریو رپی په هند کې یا به پرېږدي هم په دې چاره سرونه
یا به وران کا بودتونونه د بمبڼو یا به سره کاندي په وینو ایوادونه
په رڼا اوسي ته تل د دین شهابه نوم دې تل وه پر دریځ په نمزدکونه
څو رانه سي ستا په توره د هند لوریه څو په نست کړې له نړیه بودتونونه
ستا په زېرمه دې خاونده لوی څښتن وي موږ خو ستا په مرسته یونه څو چې یونه
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۵۰ ـ ۵۸).

**۲. ۳. ۷. ۱. ښکارندوی غوري د شعر ځانګړنې**

۱. د بوللې جوړښت د وخت له غوښتنو سره سم د فن له مخې څه کمی نه لري، د هغه وخت بوللې چې په دري ژبه کې ویل کېدې پنځه برخې لري، پښتو بوللې د خپل دود له مخې څلورمه برخه ( حسن طلب ) نه لري، یعنې د سلطان محمود د وخت درباري شاعرانو به له سلطان محمود څخه د څه د ترلاسه کولو لپاره د نوموړي په ستاینه کې اوږدې بوللې ویلې خو څرنګه چې ښکارندوی هم له شهاب الدین سره په دربار کې و ولې په بولله کې یې داسې کوم بیت نشته چې له خپل پاچا څخه دې د طمعې بوی ترې راشي.

۲. د اسعد سوري د بوللې په څېر د ښکارندوی په بولله کې هم د نورو ژبو ډېر کم اغېز شته او سبب یې هم د شاعر ګرځند شخصیت دی.

۳. نوموړې بوللې هم د پښتو زړه پانګه خوندي ساتلې ده.

۴. په دغې بوللې کې مړې، نامانوسه او ژوندی کلمې تر سترګو کېږي.

۵. د بوللې منځپانګه ډېری پر طبیعت ولاړه ده، د خپلې سیمې پسرلی، سیندونه، غرونه او نور پکې په مناسب ډول ستایل شوي دي.

٦. تشبیه ګانې، استعارې او نور بلاغي توکي پکې د غلو تر بریده نه دي رسېدلي.

۷. په کلمو کې ځینې جمعې (زغلونه، څنډونه، لمرونه، ځلونه) راغلي دي چې اوس یې دغه بڼه نه کارېږي.

۸. ځینې کړونه پکې داسې ګردان شوي چې اوسنی ژبپوهنه یې په بل ډول ګردانوي، لکه ( و ښکلل) یعنې ښکلي یې کړل په مانا، ( وګاڼل) اوس د کړ په بڼه نشته، بلکې د نوم په بڼه ( ګاڼه ) پاتې ده. (جاجي) فکر کوي، جاج په ژبه کې شته او د کارونې له مخې هم یو څه توپیر کوي.

۹. د هېواد پر ځای ایواد کاروي.

۱۰. د قافیې د کلمو په تړاو دوه ډوله کلمې راوړي کله همغږې برخه په( ونه) وروستاړي تړي او کله هم د کلمې ریښه پکې شامله وي، یعنې د اصلي او معمولي قافیې ګډون پکې تر سترګو کېږي.

۱۱. په نوموړې بولله کې ښکلې تشبیه ګانې، استعارې او بلاغي نور توکي په ښه مناسب ډول راغلي دي.

استعاره

د پسرلي ښکلونکي بیا کړه سینګارونه　　　　بیا یې و لونل په غرونو کې لالونه

تبعیه استعاره

هــر پلــو رڼــې والــې بهانــدې خانــدي          لــه خوښــیه سر وهــي لــه ســینګړونه

مرکبه تشبیه ډېره زیاته کاروي اوبله خبره دا ده چې استعارې او تشبیه ګانې یې نادرې دي، ځینې یې وروسته بیا شاعرانو تکرار کړي دي خو ځینې یې لا تر اوسه بیا چا نه دي کارولې.

لکـه نـاوې چـې سـور ټیـک پـه تنـدي وکـا          هســې و ګانــل غټولــو سره پســولونه

متحرک انځوررونو کارول

ســپینې واورې ویلېــده کانــدي بهېــږي          لکــه اوښــې د مــین پــه ګرېوانونــه

طباق

هـر ګهـیځ چـې لمـر څرکېـږي لـه خاتیځـه          څـو چـې یـون کـا د لویدیځیـه پـه څنډونـه

۱۲. رېي د بیرغ لپاره، ختیځ د شرق لپاره او لویدیځ د غرب لپاره پر ځای نومونې پکې راغلې دي.

۱۳. دریځ کلمه امیر کروړ او ده کارولې ده.

**۲. ۳. ۸. ملکیار غرشین**

غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دی چې پخوا یې یو وچ غر د ونو او بوټو په کرنه شین او اباد کړی و. همدا لامل دی چې دوی ته غرشین وایي، نوموړی قوم د کندهار پر خواوو کې اوسي چې د وګړو شمېر یې ډېر لږ دی.

ملکیار د دغه قوم خورا ستانه او مشهور سړی و، د پښتنو تاریخ لیکوالو د ده یادونه په خپلو مشاهیروکې راوړې ده. نعمت الله هروي لیکي: ((ملکیار د شیخ ابوبکر طوسي هم مهالی و په ډیلي کې یې ځای درلود چې سلطان شهاب الدین غوري د ملتان یرغل پر وخت ده ته ښنلی و چې هاغلته یې قبر هم دی.))

پورته روایت سلیمان ماکو څو سوه کاله مخکې لیکلی و، د سلطان معزالدین غوري په (۵۷۱هـ) کال پر ملتان یرغل کړی و نو د نوموړي د ژوند مهال هم همدا اټکلولای شو.(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۵۱۰).

د ملکیار غرشین په تړاو سلیمان ماکو په تذکرة الاولیاء کې لیکي: ((نقل کاوه شي چې په روزګار د غازي شهاب الدین چې پر کفر یرغل و شیخ ملکیار چې غرشین ستانه و هم ملګری و د شهاب الدین چې په ډیلي کې هغه ستر واکمن ټاټوبی ور وښانده او هم هورې مړ سو. نقل کاوه شي چې په جوبله کې مسلمانان تر شا ولاړه او کفارو بری وکړ، لېږې نه وه چې مسلمانان شي د کفارو په کټارو پوپنا او دښنه بری وکړي، ناڅاپه شیخ ملکیار راغی او پر دښمن یې یرغل وکاوه او ډېر زښت یې ووژل، نورو مسلمانانو هم د ملکیار تر اړخ توري

وکښې او سره مروړل يې دښنه، ستر ځښتن دوی ته په مېړانه د شيخ ورکړه لو سوبه او برى چې پخوا هم نـه و پـه برخه شوی د چا، هيڅکله په هيڅ ځای کې. (ماکو، ۱۳۶۱ل، ۳۰).

ځښـــتن مـــو مـــل دی
اوس مـــو يرغـــل دی
هيـــــواد د بـــــل دی
غازيـــــانو گـــــورئ
ځښـــتن مـــو مـــل دی

***

تـــورې تېـــرې کـــړئ
دښـــن مـــو پـــرې کـــړئ
منگـــولې سرې کـــړئ
ځلـــه بـــه تښـــتو
ځښـــتن مـــو مـــل دی

***

کـه ټينـگ کـړو زړونـه
پـــر بـــري يونـــه
چـــې زمـــري يونـــه
اســـلام راڅخـــه دی
ځښـــتن مـــو مـــل دی

***

غازيـــــانو راشـــــئ
ټـول شـا او خـوا شـئ
د شـهاب پـه مـلا شـئ
دښـن مـو غـوڅ کـړئ
ځښـــتن مـــو مـــل دی
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۵۰).

### ۲. ۳. ۸. ۱. ملکيار غرشين د شعر ځانگړنې

۱. دغه نظم حماسي بڼه لري.

۲. جوړښت يې د پښتو ولسي نظمونو په بڼه دی.

۳. د ملا کلمه يې د اسعد سوري په قصيده کې هم په يوه مانا راغلې ده.

۴. د نظم له منځپانگې څخه دا جوتېږي چې پخپله شيخ ملکيار هم د ښې تورې او ځوانی څښتن و.

۵. د نظم موخه يې د دښمن پر وړاندې د مسلمانانو را پارول او حوصله ورکول و چې په دغه موخه کې بريالی شوی هم دی او په دغه ځانگړنه د امير کروړ له نظم سره تړاو پيدا کوي.

٦. دښن، پکې په پخواني ډول راغلې ده.

٧. غازيان يې له زمري سره تشبيه کړي دي.

٨. د شهاب الدين، اسلام او غازيانو کلمې د عربي ژبې اغېز ښيي، څرنگه چې دی شيخ دی نو بايد د ده پر نظم د عربي اغېز ډېر وای خو داسې نه خپله ژبه يې بيا هم سوچه ساتلې ده.

**۲. ۳. ۹. تايمنی**

د تيمني په نامه موږ د پښتنو يو پخوانی شاعر پېژنو، مگر دا نه ده څرگنده چې دغه تايمنی يې نوم دی که تايمني قوم ته منسوب و چې نوموړې قبيله په غور کې اوسېده.

د تايمني کوم نظم چې لاسته راغلی دی د سلطان غياث الدين غوري په ستاينه کې ويل شوی دی، له دې خبرې برېښي چې دی د نوموړي سلطان(۵۸۰هـ) هم مهالی و.

نن زه رغېږم په صفت د سلطان
چې دی بادار غازي ملک د جهان
د فېروز کوه او غور رڼا له ده ده
هم د تېرو تورو برېښنا له ده ده
چې توره وکاږي چرتون کې خالي
غليم يې کله کړي په توره سيالي
غياث الدين د غور زمری عاليشان
د اسلام دين د ده په توره روښان
ما د داور په مځکه وليد ارم
دا د جنت په څېر و بڼ ښه خورم
د فېروز کوه په دود ودان دی نا
ښکلی هر گل څه ښه خندان دی نا
دلته کړونگي دي رغونه کوي
اوبه بهېږي سرودونه کوي
هر سړی گوري چې ولاړ وي اريان
کړي ننداري د خداوند د بستان
غياث الدين د جهان لمر دی نا
عالم له ده ډېر بهره ور دی نا
هند يې روښانه په اسلام کی نا
له ځانې خوښ خيرالانام کی نا
چې يې په غور کې نيلی زين کی نا
پر کافرانو يې ناورين کی نا
تل دې بری وي د غازي پر ميدان
زه تايمني ستاينه کړم د سلطان
(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۵۱۴ ــ ۵۱٦).

**۲. ۳. ۹. ۱. تايمني د شعر ځانگړنې**

۱. د تايمني نظم د ساده پښتو چاربيتو له ډلې څخه دی.

۲. د تايمني نظم د پښتو چاربيتو په تاريخ کې لومړۍ لاسته راغلې چاربيته ده.

۳. د چارپیتې منځپانگه د سلطان غیاث الدین په ستاینه را څرخي.

۴. د غه او د ملکیار غرشین نظم موږ ته له اسلام سره د پښتنو مینه او پالنه ښیي.

۵. تر پخوانیو نظمونو د تایمني په نظم کې د نورو ژبو اغېز ډېر لیدل کېږي، لکه ( صفت، سلطان، جهان، غلیم، عالیشان، اسلام، دین، جنت، خورم، سرود، خداوند، دبستان، عالم، بهره، خیرالانام، کافرانو او غازي) کلمې چې ډېری په عربي ژبه پورې اړه لري راوړې دي.

٦. تر تایمني وروسته د پښتو ژبه سوچه نه ده پاتې شوې، بلکې د نورو گاونډیو او دیني ژبې بشپړ اغېز یې څرگند دی.

۷. په دغه نظم کې عربي کلمې په مفغنه بڼه راغلې دي، لکه د (حیران) کلمه د (اریان) په بڼه راوړل.

۸. اوسني (کړ) مرستیال فعل د (کی) په بڼه راوړل.

۹. د داور د ارم تشبیه له جنت سره د لومړي ځل لپاره مخ ته راغلې ده.

۱۰. غیاث الدین ته د غور زمری گڼنه هم د ده په شعر کې تر سترگو شوه.

**۲. ۳. ۱۰. قطب الدین بختیار**

قطب الدین د احمد زوی د موسی لمسی په قوم پښتون بختیار او د خپل مهال له نومیالیو عارفانو څخه و. نوموړی پر ( ۶۳۳ یا ۶۳۴هـ) کال د (۵۸) کالو په عمر په ډیلي کې وفات شوی دی.

ویر مې زړه سوری سوری کړ — راته و گوره ملوکې
په بېلتون کې دې وباسم — له خوږمنه زړگي کوکې
راته وگوره ملوکې — راته وگوره ملوکې
د بېلتون اورونه بل دي — هر گړی مې زړگی سوځي
لېونی یمه د مینې — سوځم زه لکه پېلوځی
راته وگوره ملوکې — راته وگوره ملوکې
غوړولی دې وربل دی — اور زما په زړگي بل دی
زه بختیار خاورې ایرې سوم — په اور سوی مې گوگل دی
راته وگوره ملوکې — راته وگوره ملوکې

(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۵۱۸ ـ ۵۲۱).

**۲. ۳. ۱۰. ۱. قطب الدین بختیار د شعر ځانگړنې**

۱. د نظم جوړښت پخوانو پښتو ولسي پیلیزو فورمونو ته ورته دی او یوه خوږه نغمه ده.

۲. د جوړښت، منځپانگې او کلمو د راوړو له مخې خپل سوچه والی یې ساتلی دی.

۳. ژبه یې روانه او ساده ده.

۴. شاعر له پېلوځي سره ځان تشبیه کړی دی.

### ۲. ۳. ۱۱. شیخ متي

شیخ متي د عباس زوی د عمر لمسی د خلیل کړوسی د غوریا کودی د کند پردی چې کند بیا د خرښبون زوی و. شیخ متي عارف او متقي شاعر و، ده دوه نور ورونه د حسن او امران په نامه درلودل. تر خرښبون وروسته د دوی کورنۍ په ارغستان، پښین او پښنور کې سره خپره شوه.

شیخ متي پر (۶۲۳هـ) زېږېدلی دی او د (۶۹) کالو په عمر پر (۶۸۸هـ) کال د ترنک پر غاړه وفات شوی دی. قبر یې د کندهار شمال ختیځ خواته تقریباً (۵۰) میله لېرې پر یوه غونډۍ واقع دی او په کلات بابا مشهور دی.

پر لویو غرو هم په دښتو کې — په لوی سهار په نیمو شپو کې
په غاړه رغ او په شپېلکو کې — یا د ویرژلیو په شپېلو کې
ټول ستا د یاد ناري سوري دي — دا ستا د میني ننداري دي
جنډی زرغون که په بېدیا دی — د بر بڼ خوا ته په خندا دی
ترنک چې خړ دی په ژړا دی — دا ټول اغېز د میني ستا دی
ټوله ښکال دی ستا له لاسه — ای د پاسوالو پاسه پاسه
که لمر روښانه مخ یې سپین دی — بیا د سپوږمیه تندی ورین دی
که غر دې ښکلی پرتمین دی — لکه هنداره مخ د سین دی
ستا د ښکلا دا پلوشه ده — دا یې یو سپکه ننداره ده
دلته لوی غرونه زرغونېږي — د ژوند ورمې پکې چلېږی
بوراوې خوا و شا کړېږي — سترګې لیدو ته یې هېښېږي
لویه خاونده ټوله ته یې — تل د نړی په ښکلېده یې
خاونده ښکلی ستا جمال دی — ښکاره یې لور په لور کمال دی
که ورځ که شپه که پېړی کال دی — ستا د قدرت کمکی مثال دی
ستا د لورونو یوه رڼا ده — دلته چې جوړه تماشا ده
زړه مې دا ستا د میني کور دی — سوی د عشق په سوځند اور دی
رپ یې و تاته ستا پر لور دی — بې له دې هیڅ دی ورک یې پلور دی
ستا جمال په لیدو ښاد دی — که نه وي دغه نور برباد دی
په غرو کې ستا د عشق شپېلکی دی — د دې نړی په عشق سمی دی
که غټ که ووړ که پنډ نری دی — ستا د جمال ځری هر شی دی
چې پر دنیا مې سترګې پرې سوې — ستا د جمال په ننداري سوې
نه هسک نه مځکه وه تور تم و — تیاره خپره وه ټول عدم و
نه دا ابلیس نه یې ادم و — ستا د جمال سوچه پرتم و

چې سو ښکاره ښکلې دنیا سوه
د پنځ پر لوري يې رڼا سوه

زه چې څرګند پر دې دنيا سوم
د ښکلي مخ په تماشا سوم

ستا پر جمال باندې شيدا سوم
له خپلې ستې را جلا سوم

په ژړا ژاړم چې بېلتون دی
يمه پردېسی بل مې تون دی

وګړيو ولې متې ژاړي
سورې يې اورئ غاړې غاړې

څه غواړي څه وايي څه باړي
خپل تون او کور و کلی غواړي

چونې چې بېل سي نيمه خوا سي
تل يې د بڼ په لور ژړا سي

(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۵۳۳ ـ ۵۳۹).

**۲. ۳. ۱۱. ۱. شيخ متي د شعر ځانګړنې**

۱. د عرفاني او تصوفي فکر لومړی لاسته راغلی نظم دی.

۲. په دغه نظم کې ښکلاييز نظر څرګندوي.

۳. د دغه نظم منځپانه پر فلسفه ولاړه ده نو د پښتو نظم د فلسفي افکارو له مخې يې لومړی نظم بللی شو.

۴. شيخ متي له ماديت څخه مانا پلو ته پکې سير کوي.

۵. ژبه يې روانه ده فلسفي افکار يې په خورا ساده بڼه په نظم کړي دي.

۶. د شيخ متي د دغه نظم جوړښت ( ترکيب بند ) دی او په ډاده ويلی شو چې پښتو ادب ته د لاسته راغلو اثارو له مخې دغه فورم نوموړي پاللی دی.

۷. د دغه ترکيب بند هر بند بيا په خپل منځ کې مصرع يا غبرګه قافيه لري چې دا يې په منظوم ادب کې يو بل امتياز دی.

۸. د دغه نظم کلمې، ترکيبونه او تعبيرونه په ساده ژبه راوړل شوي دي خو له دې سره بيا هم داسې کلمې پکې شته چې په عامه ژبه کې نشته او د قلم خاوندان يې کله ـ کله کاروي، لکه ( ويـرژل، جنـډی، ښکال، پاسوال، هيښېدل، ځری، پنځ او باړی).

۸. يوه نيمه د نورو ژبو کلمه هم لري، لکه ( جمال، کمال، قدرت، مثال، برباد، عدم، ابليس، شيدا او پردېس).

۹. عشق ته له سوځنده اور سره د لومړی ځل لپاره تشبيه ورکړل شوې ده.

۱۰. د ( پنځ ) کلمه په لومړي ځل د ده په نظم کې مخې ته راځي.

۱۱. له پرتم څخه پرتمين ستاينوم د ده په نظم کې راغلی دی.

**۲. ۳. ۱۲. بابا هوتک**

بابا هوتک د بارو زوی د تولر لمسی چې سلسله يې د بابا غلجي په تړاو بېټ نيکه ته رسېږي. بابا هوتک د ترنک پر غاړ د اتغر په سيمه کې پر (۶۶۱هـ) مال زېږېدلی دی. نوموړی دعرفان او مشرولۍ دواړه ځانګړنې لري. د ده د ژلميتوب پېر د (۷۰۰هـ) خوا اوشا دی چې د مغلو د يرغل په جوش کې و او بابا هوتک هم عملاً له مغلو

سره په جګړو کې ښکېل و او نور پښتانه يې هم په خپلو شعرونو د هيواد ساتنې ته رابلل. نوموړی پر (۷۴۰هـ) کال د ژوند په نهه اويا کلنۍ کې وفات شوی دی.

پـر سـور غـر بـل راتـه نـن اور دی
وګړيـه جـوړ راتـه پېغـور دی
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی
هـم پـه غـزني هـم پـه کابـل راغـی

غښـتليو ننـګ کـړئ دا مـو وار دی
مغـل راغلـی پـه تلـوار دی
پـه پښـتونخوا کـې يـې ناتـار دی
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی

آ د مرغـی غښـتليو راسـئ
پـر ننـګ ولاړ د پښـتونخوا سـئ
تـورې تېـرې غشـي تـر مـلا سـئ
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی

زلمـو پـه غشـيو کـړئ وارونـه
د تېـرو تـورو ګزارونـه
ور وړانـدې کـړئ خپـل ټټرونـه
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی

زمـا د زلمـو وينـې بهېـږي
مځکـه او غرونـه پـه سره کېـږي
ميرخـي زغـلي او ترهېـږي
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی

پښـتنو هلـئ پـر غـر جنـګ دی
سـور غـر پـه وينـو د دوی رنـګ دی
مهـال د تـورې دئ د ننـګ دی
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی

زلمـو پـر ننـګ ځانونـه مـړه کـړئ
دښـن پـه غشـيو مـو پېيـه کـړئ
د پښـتونخوا مځکـې سـاته کـړئ
پـر کـلي کـور بانـدې مغـل راغـی
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۸ ــ ۱۲).

**۲. ۳. ۱۲. ۱. بابا هوتک د شعر ځانګړنې**

۱. د نظم جوړښت د ملي بدلو په څېر دی. د لومړي بند دويمه مسره (پر کلي کور باندې مغل راغی) د هر بند په پای کې په تکراري بڼه راوړي او غالباً موخه يې هم د مغلو پر وړاندې د غازيانو لمسول دي.

۲. د نظم منځپانګه حماسي ده.

۳. په نظم کې د مانوسو کلمو تر څنګ نامانوسې او مړې کلمې هم پکې خوندي دي، لکه ( ميرخي او دښن ).

۴. د پښتو ژبې په نظمونو کې نېغ په نېغه د مغلو یادول د لومړي ځل لپاره د بابا هوتک په شعر کې راغلی دی.

۵. د پښتونخوا ترکیب د نوموړی په نظم کې د لومړي ځل لپاره راغلی دی.

**۲. ۳. ۱۳. شیخ ملکیار**

ملکیار د بابا هوتک زوی دی، د پلار د مړینې (۷۴۰هـ) پر وخت (۲۵) کلن و. د پلار ترمړینې وروسته دی د خپلې کورنۍ مشر شو په یوه ځان له لسو جنګیالیو سره جنګېده. ده هم د مغلو پر وړاندې د پښتنو د ساتنې د لښکر مشري کړې او مغلو ته یې په خیله سیمه کې تل ماتې ورکړې ده. دی هم لکه د خپل پلار بزرګ او عارف سړی و او تل به د الله ج په ذکر او عبادت بوخت و.

پر (۷۴۹هـ) کال په پسرلي کې چې د ترنک رود ډېر ډک بهېده، کله چې ملکیار د ترنک غاړې ته راغی نو لاندې نظم یې و وایه چې بیا یو لرګی ترنګ له ځانه سره راوړي او د الله ج په قدرت او د ملکیار بابا په کرامت د پل به شان کېږي او ملکیار بابا د خپلې موخې لپاره له ترنک څخه پرې اوړي.

ترنـــک بهېـــږي　　ترنـــک بهېـــږي　　غـــاړې تـــر غـــاړې

زمـــا زړګـــی خـــو　　خپـــل لالـــی غـــواړي

کـــــه روده روده　　د ترنـــــــــک روده　　خاونـــد دې وچ کـــا

چـــه زړګـــی مـــومې　　زمـــا خپلـــه ســـوده

کــه نیــز دی نیــزدی　　نیــز دې ببلتــون دی　　زړه نېـــــــــزه وړی

پـــه ویـــــر ژلـــی　　پـــه غـــم زبـــون دی

کــه اور دی اور دی　　پــه زړه مــې اور دی　　دا اور بـــه وچ کـــا

د ویـــــر نېزونـــــه　　بـــل ډېـــر پـــه زور دی

نمنځنـــه یوســـه　　ســـپینې ســـپوږمیه　　ورتـــــه و وایـــــه

چــه ترنـــک تــال کـــړم　　　ســــــتا لــــــه خولگيـــــــه

کـــه خـــړو خـــړو　　　اوبـــو ســـوان کـــړئ　　　بيـــــل ملکيـــــار دی

پاتـــــه لـــــــه يــــــار دی　　　ســـوب يـــې جانـــان کـــړئ
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۲ ــ ۱۶).

**۲. ۳. ۱۳. ۱. شيخ ملکيار د شعر ځانګړنې**

۱. د ملکيار دغه نظم ولسي جوړښت لري چې په خواږه لحن سره ويل کېږي.

۲. د منځپانګې له مخې د مينې يو تأثر دی چې د خپلو نفسياتو له مخې له ترنک رود سره غږېږي.

۳. (نيز او سوان) پکې ډېرې مانوسې کلمې نه دي.

۴. په دغه نظم کې زړه له نيزوړي سره او بېلتون له نيز سره د لومړي ځل لپاره تشبيه شوی دی.

۵. د سپوږمۍ په خوله خپل محبوب ته احوال لېږل که له يوې مخې تشخيص ادبي جوړښت دی له بلې خوا په دغه نظم کې د لومړي ځل لپاره له سپوږمۍ سره خبرې شوې دي.

**۲. ۳. ۱۴. اکبر زمينداوری**

اکبر د زمينداور اوسېدونکی دی چې د ده په تړاو ځرګندونې لږې دي، د ده له تخلص څخه دا ځرګنده شوه چې د زمينداور دی، د يوه بيت له منځپانګې يې دا اټکل کېږي چې د ګوډ تېمور پر وخت يې ژوند کاوه.

د مغلـــو تمـــر هســـې پـــه اور وســـوم　　　چې به هېر په دا مـاتم زمينـداور کـړم

تمر هماغه ګوډ تېمور دی چې په (۷۷۱هـ) کال په ماورالنهر کې پاچا شو او پر (۸۰۷هـ) کال لـه آمـو راتېـر او زموږ د هيواد ځينې برخې يې يو په بل پسې ونيولې او تر (۸۰۷هـ) پورې يې سلطنت وکړ. لـه همـدې ويلـی شـو چې د ده د ژوند زمانه به (۷۸۰هـ) کال خوا او شا وي.

د ده د شعر څو بېلګې ارواښاد پوهاند عبدالحی حبيبي د هلمند په زمينداور کې موندلې وې چې دلته يې راوړم:

**د اکبر زمينداوري دوه‌يزې**

زه عاشـــق يـــم يـــار هـــم نيـــز　　　نـــور څـــه نـــه لـــرو تميـــز
يـــو پـــر بلـــه عاشـــقان يـــو　　　پـــه خپـــل عشـــق کـــې صـــادقان يـــو

یو په بل پسې رنځور یو  چې نه بردې نه یو مهجور یو
عشق که ښه دی که بلا دی  پیدا کړی زمونږ مولا دی
که بېغ نه کا عاشقان څوک  مړه شي دوی پر دا جهان څوک
خو به دواړه شهیدان وي  که رښتیني مسلمان وي
زه که مخ په اوښو سور کړم  زړه کباب صورت تنورګړم
لایق دا چې دا زه وکړم  څه تهمت به پر یار نه کړم
ولې هر ځای زه بېلتون کړم  بیا د سرو اوښو رژون کړ
هم اشنا خوار کړم هم ځان  بیا تهمت کړم پر دوران
که نژدې که پر هېواد یم  زه د ده په خیال و یاد یم
چې غه ښه دیدن یې یاد کړم  په تش خیال یې خاطر ښاد کړم
زه چې ژاړم مراد مې دا دی  چې اشنا له ما جلا دی
که مونږ بیا سره خوشحال سو  چې محکوم زمونږ وصال سو
زه د یار سم یار مې خپل سي  زه بلبل سم یار مې ګل سي
په سپین مخ باندې تپېړم  چې دی خاندي ترې جارېږم
د لیدو شربت یې نوش کړم  غم د هجر فراموش کړم
سره کښېنو په خندا سو  په دا تېر احوال ګویا سو
چې تېر سوي په هجران دي  خوشحال شوي غمازان دي
له غه پسه به صحبت کړو  زده زړونه به راحت کړو
چې غماز پاڅي له میانه  همنشین شم له جانانه
چې غماز له میانه دور سي  نور که شپه وي هم به نور سي
ولې یار زما خواهان دی  بیا په عشق کې پهلوان دی
ډېر نفرت کا له غمازه  رب دې دی کا سرفرازه
زه هر څو چې باندې چور یم  خو د ده په پند مامور یم
که زلمی دی خو عاقل دی  بیا د عشق په کار کامل دی
تر ما زیات د عشق په کار دی  هم معشوق هم مینه دار دی
خو پخپله ترې جلا شوم  مدام سر په واوېلا شوم

## د اکبر زمینداوري چارپیته

زه چې په مینه معشوقو د بنګړو شرنګ لره ځم  زه د هجران د بېلتانه د تورو جنګ لره ځم

زه اېوته یم په هجران سره قرار نه لرم  هجر مې اوړد شو د وصال د امید کار نه لرم
بېلتون په خوله را کړې خاپېړې زه لا عار نه لرم  وام د معشوق پر سینه پروت زه تور لونګ لره ځم

ځيني يې ولې عاشق څورنګ په تورې کانـدي
بې نيـازه نکـا چې پلو لـه مخـه لېـرې کانـدي

پر خوار مين د شها هـومره هـورې زورې کانـدي
چې را و پاڅي په اخلاص چې خپـل څورنـګ لرمـه

او ل خو ته نجلی په عشق باندې اقـراره سـولې
هيڅ ګفتګوی له عشـقه نـه کـوې بېـزاره سـولې

اور دې راپورې کی نـور کښېنسـتې قـراره سـولې
يو وار خو و وايه قرار چې د يار څنـګ لـره ځـم

**د اکبر زمينداوري غزلې**

د خپـل ځـان لـه حيرانـی څـه ويـل کـړم
مـا مـدام لکـه بـورا پـه ګلـو ګشـت کـړ
د غـماز لړمـون بـه زه پـر لمبـه کښېـږدم
زما د يـار د مينـې اور پـه زړه کـې بـل دی
د بيلتــون لــه ويــره ژاړم اوښــکې وينــې

د عشـق ويـر بـه تـل پخپلـه پټـول کـړم
اوس به ځم په سر تور سر فراق د ګل کړم
ځينـې هېـر بـه د يـار بـزم ګـل و مـل کـړم
زه به سر او مال ښندم ديد به حاصـل کـړم
زه اکـبر پـه خپـل اشـنا د سر ښـندل کـړم

**دويم غزل**

چـې مـدام زه سـتا و مـخ وتـه نظـر وړم
که په مـا دې حکـم وشي چـې خـادم شـه
چې جـمال پـه مهـر و مينـه راښـکاره کـې
چـې ګفتـار دې پـه ښـه مينـه راتـه وسي
که مې وژنـې کـه مې پېـرې رضـا ستا ده
چې جمال دې په هجران کې را په ياد شي
ستا د تـورو څڼـو خيـال هسـې طويـل دی

د بېلتــون لــه بيــرې زړه زېــر و زبــر وړم
دغـه سـتا د نغـري سـوز انګـار پـر سر وړم
شـين تـوتي شـم پـه هـوا د مينـې پـر وړم
نو بلای سـم کـوتې کـوتې در ګـوهر وړم
سـتا و غشـي تـه مـدام موخـه ځيګـر وړم
هغــه دم پــه تصــور شــمس و قمــر وړم
تــل پــه زړه کــې دغــه فکــر زه اکــبر وړم
(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۵۵۲ ــ ۵۶۰).

**۲. ۳. ۱۴. ۱. اکبر زمينداوری د شعر ځانګړنې**

۱. په کره ډول مثنوي د اکبر له نظم څخه را پيل شوې ده.

په کوم پېر کې چې اکبر اوسي په دغه وخت کې د درباروڼو خوند پيکه شوی و پـه دري کـې هـم د بـوللې د تشبيب برخه پر غزل اوښتې وه او اکبر هم کېدای شي له عربي او پاړسي ژبو د نژدې والي او يو پر بل يې د اغېـز له مخې غزل ته مخه کړې ده، د پښتو دوديز سيستم هم غزل تـه جـوړ و، ځکـه پښـتنو شـاعرانو شـعر د دربـار او

منصب د ترلاسه کولو لپاره نه وایه نو د اوږدو بوللو اړتیا یې هم نه لیدله او په غزل کې غم جانان او غم دوران دواړه د خوښې مضامین و نوځکه اکبر ورته مخه کړې ده.

۲. د اکبر غزلې د فورم او منځپانګې له مخې په تول پوره دي او دی د پښتو ادب په شالید کې د دغې برخې سرلاری دی.

۳. د اکبر غزل، مثنوي او ولسي چاربیته اوس نو سوچه پښتو نه دي، بلکې د ګاونډیو او عربي ژبو اغېز پرې ښندل شوی دی، لکه( سرفراز، غماز، عشق، خواهان، همنشین، میان، راحت، صحبت، هجران، فراموش او نور.).

۴. د مغلو د ظلمونو لومړی غبږ د ده په شعر کې ګورو.

۵. د ټوانیزو نورمونو خلاف نجلی په خپل شعر کې مخاطب کوي.

٦. د بلاغي علومو یو څه پالنه یې په ښه شان کړې ده:

**الف**. صورت له تنور، ځان له بلبل، یار له ګل، لیده له شربت ، ځان له بورا، مینه له اور، ځان له شین توتي، په ښه مینه ګفتار له در ــ ګوهر، جمال له شمس او قمر سره د لومړي ځل لپاره د ده په لاسته راغلو نظمونو کې تشبیه شوي دي.

غشي له باڼو څخه د لومړي ځل لپاره استعاره شوي دي.

**ب**. ( چې جمال په مهرو مینه را ښکاره کې ــ شین توتي شم په هوا د مینې پر وړم ) بیت کې جمال له موصوف (مخ) څخه کنایه ده چې د لومړي ځل لپاره مخې ته راغله.

**ج**. ( چې جمال دې په هجران کې را ښکاره شي ــ هغه دم په تصور شمس و قمر وړم ) لومړی (جمال) له مخ څخه توصیفي کنایه ده او بیا هم دغه جمال له شمس او قمر سره استعاره جوړوي.

**د**. (چې ګفتار دې په ښه مینه راته وسي  نو بڼای سم کوټې کوټې در ګوهر وړم) په وروستی مسره کې (در ګوهر ) د خوښی له اوښکو څخه استعاره ده چې د لومړي ځل لپاره یې په  پښتو ادب کې تر لاسه کوو.

### ۲. ۳. ۱۵. سلطان بهلول لودي او خلیل خان نیازی

سلطان بهلول د ملک کالا زوی او د بهرام لمسی دی مور او پلار یې په وړکوالي کې مړه شوي وو، دی له خپل تره اسلام خان سره رالوی شو او په ختیځ کې یې له وړکوالي څخه د پاچاهی نښې وې هماغه و چې پر (۸۵۵هـ) کال یې حمید خان پاچاهي ړنګه او د ډیلي پرتخت کښېناست او د پادشاهی سکه او خطبه یې د ځان په نامه کړه.

نوموړي پښتانه ښه وپالل، په دیلي کې تر (۳۸) کاله پاچاهی وروسته پر (۸۹۴هـ) د اتیا کالو په عمر وفات شو.

بهلول یو نیاوگر، متواضع، او نرم مزاجه انسان و، سوالگر یې نه دی بې نوا کړی، تل د غریبو په لټه کې و او د هغوی اړتیاوې به یې پوره کولې، یو مهربان دوست او متحمل دښمن و، هیڅ وخت پر تخت نه دی ناست تل به له خپلو عزیزانو سره پر فرش کښېناسته، د پښتنو امیرانو سره یې د وروروالی او عزیزولی چلند کاوه، هغه هیڅ کله هم په خپله ناسته ولاړه کې خپلو پښتنو ته دا احساس نه دی ورکړی چې دی پاچا دی او پر نورو پښتنو څه امتیاز لري، که کوم امیر په ترې ناراضه شو د هغه دېرې ته ورته او هغه یې پخلا کاوه او دا به یې ورته ویل کـه زه خیلـه دنده سرته نشم رسولی بله دنده راکړی او را پخلا به یې کړ، دغو خوینو پر هغه ټول پښتانه راټول کړي وو او دی یې یو مهربان مشر ګاڼه.

د ده د پاچاهی پر وخت خلیل خان نیازي چې د دربار شاعر یې و یوه څلوریزه د بهلول په ستاینه کې و ویله چې بیا بهلو پاچا د هغه د څلوریزې په تړاو خپله څلوریزه و ویله نو له دې څخه دا څرګندېږي چې دی یـو ښـه شاعر هم و.

د خلیل خان نیازي څلوریزه

| | |
|---|---|
| خـــــړې وربځـــــې ژاړي لــــه پاســــه | کویلــــه برغ کــــړ بېلتــــون لــــه لاســــه |
| یــه هغــه لــوني ګــوهر پــه خــول ستا | دا مرحبـــا کـــا ســـتا زمـــونږ مواســـه |

په ځواب کې بهلول لاندې څلوریزه و ویله:

| | |
|---|---|
| ملـک بـه زرغـون کـړم پـه ورکـړه راسـه | ګـــوره وربځـــې د داد لــــه پاســــه |
| خــول مـــې د عـــدل پـــه درو روڼ دی | جهـان بـه زېـب مـومي زمـا لـه لاسـه |

(کاکاخېل، ۲۰۱۲ز، ۳۶۵ ـ ۳۷۳).

**۲. ۳. ۱۵. ۱. د خلیل خان نیازي د شعر ځانګړنې**

۱. د مشترکو نظمونو د څلوریزې په زړه پورې لومړی بېلګه ده.

۲. د ادبي فنونو په تړاو د بدیع پوهنې په جوړښتونو کې لومړی (رجوع) ادبي صنعت دی.

۳. د بلاغي علومو له مخې پکې استعاره راغلې ده.

۴. ګوهر، مرحبا، مواس او کوېله پکې پردی کلمې دي.

**۲. ۳. ۱۵. ۲. سلطان بهلول لودي د شعر ځانګړنې**

۱. د شعر ځواب پر شعر ورکول.

۲، داد، عدل، در، جهان او زېب پکې پردی کلمې دي.

۳. فورم یې څلوریزه ده.

۴. مراعات النظیر ادبي جوړښت پکې راغلی دی.

**۲. ۳. ۱٦. زرغون خان نورزی**

زرغون خان نورزی د زمینداور (نوزاد) و، دی د خپل وخت مشر و، کله چې د ماوراء النهر شیباني پر هرات او سیستان یرغل وکړ، زرغون خان د خپل قوم پر ملاتړ ورسره جنگېدلی دی. نوموړي پر (۸۹۱هـ) د هرات، خراسان او عراق سفرونه هم کړي دي.

زرغون خان د پښتو ژبې ښه شاعر او د دیوان څښتن و چې د ده دیوان په کجران کې په (۹۱۲هـ) کال له ملا ایوب تیمني سره و. په دغه کال چې دوست محمد کاکړ هرات ته ته، هلته یې نوموړی دیوان کتلی و چې (۳۰۰) پاڼې یې درلودې او نوموړي په خپل اثر (غربښت نامه) کې له هغه دیوان څخه دوې مثنویانې را نقل کړي دي چې بیا د پټې خزانې لیکوال له غرغښت نامې څخه را نقل کړي دي.

د دوست محمد کاکړ په روایت نورزی د عمر په پای کې ډېر کمزوری و او په (۹۲۱هـ) کال په دېراوت کې وفات شو. په غرغښت نامه کې لاندې دوې دوه‌ییزې راغلې دي:

ساقي پاڅه پیاله راکړه — مرور یار مې پخلا کړه
اوبه توئې په لنبو کړه — اور مې مړ په دې اوبو کړه
پسرلی سو غنچه گل کا — زلفې تاوې د سنبل کا
بلبلان شور و فغان کا — کړېدن په گلستان کا
زاهد وزي صومعې څخه — شراب پېري میخانې څخه
هر سړی په میو مست دی — دې بهار کې گل پرست دی
په راغو کې سرې لمبې دي — د غټولو ننداري دي
جهان ټول سور او زرغون شو — وچ راغه ښکلی گلگون شو
سړي ټول شور و شعب کا — یارانې کاندي طلب کا
بهار وقت د یارانې دی — ښه موسم د پیمانې دی
نو ساقي پاڅه بهار دی — نن ژوندون سبا رفتار دی
دنیا پاته موږ به ځو نه — تورو خاورو کې به یونه
پیمانه ډکه له مې کړه — بزم تود په پیاپی کړه
چه یو دم سمه آزاد — ناښاد زړه مې سینه ښاد
ساقي پاڅه وخت د گل دی — په جوش کې خم د مل دی
وقت د میو د وښو دی — د پیالو د ډکېدو دی
هغه څوک اوس د پېغور دی — چه ئې جام تش و نسکور دی
مستان گرځي په باغو کې — مستي کاندي به راغو کې

لاس پــــه لاس دی یـــــارانې کـــــا
یـــو پـــه بـــل نـــاز و نخـــرې کـــا

مجنـــــون وصـــــل لــــه لـــیلا دی
د جـــــمال پـــــه تماشـــــا دی

نـــه غمجـــن ســـته نـــه بېلتـــون ســـته
نـــه مهجـــور نـــه ځګـــر خـــون ســـته

تـــــر تـــــا وګرځمــــــه راســــــه
ســـاقي یـــو ګـــړی پخـــلا ســـه

مـــا تـــه جـــام د ربـــل و لـــور را
چـــه یـــو تـــش سي ډک ئـــې نـــور را

اور مـــې بـــل د زړه پـــه کـــور کـــړه
لـــه هـــر چـــا هـــر څـــه ئـــې تـــور کـــړه

چـــه بـــل څـــه نـــه وي الفـــت وي
ټولـــــه مهـــــر و محبـــــت وي

ټـــــول اخـــــلاص وي او صـــــفا وي
تيـــــاره ورکــــه سي رڼــــا وي

لـــه زړه کـــم غـــش او دغـــل سي
جهـــان ټولـــه ګـــل و مـــل سي

ســـاقي ســـتا مهـــر مطلـــوب دی
نوبهــــار ځکــــه مرغـــوب دی

کــــه ســــتا لــــور پېــــرزو نــــه وي
نوبهــــار بـــه پـــه څـــه ښـــه وي

خونــد بـــه نـــه کـــا رنـــګ د ګلـــو
بــــې مســـتیو بـــې لــــه ملـــو

نـــه بـــه بـــزم پـــه شـــور تـــود سي
نـــه نغمـــې نـــه بـــه سرود سي

جـــــام بــــــه تــــــش د آرزو سي
ورک بـــه مهـــــر او پېــــرزو سي

نـــو ســـاقي پاځــه بهـــار دی
بـــزم تـــا لـــه امیـــدوار دی

یـــاران ناســـت ســـترګې څلـــور دي
ســـتا د جـــام پـــه امیـــد نـــور دي

تـــه هـــم راســـه عنایـــت کـــړه
بـــزم تـــود د محبـــت کـــړه

لـــه سرو ملـــو څخـــه ډک جـــام کـــړه
د یـــــارانو بـــــې انعـــــام کـــــړه

چـــه ســـوړ بـــزم پـــه مـــی تـــود سي
د رنـــــــدانو غـــــــوړ سرود سي

د جهـــان ویـــر و غـــم هېـــر کـــا
یـــو دم ښـــه پـــه عشرت تېـــر کـــا

چـــه پـــه مـــخ کـــې مـــو بېلتـــون دی
لـــــه جهانـــــه ســـــبا یـــــون دی

(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۸۲ ــ ۸۸).

**۲. ۳. ۱٦. ۱. زرغون خان نورزی د شعر ځانګړنې**

۱. دغه مثنوي په نهمه هجري پېړۍ کې د پښتو ژبې او پارسي اړیکه سره څرګندوي.

۲. ښاري پښتانه د پارسي تر اغېز لاندې دي.

۳. د مثنوي د کلماتو په څېر د ادا طرز یې هم پارسي او عربي ته ورته دی.

۴. په پارسي کې هم په دغه پېړۍ کې ساقي نامې دود وې او عرفاني رازونه پکې نغښتي وو.

۵. د عرفان کیفیت د خمریه شعرونو پر سا بدلېږي.

٦. له ساقي څخه د میو ارزو د ساقي نامو یوه ځانګړنه ده چې دلته شته.

۷. په ساقي نامه کې د مستۍ خبرې او مستانه کلمې راوړل کيږي چې نورزي په ډېر ښه ډول دغه دود ساتلی دی.

۸. حسن طلب، حسن تعليل او ښکلي عبارتونه او روان بيتونه د ساقي نامو په ځانګړنو کې راځي چې دلته ورته پاملرنه شوې ده.

۹. د عربو د خمريه شعرونو تقليد عجمي شاعرانو وکړ، بيا په پارسي کې دود شو او له پارسي څخه پښتو ته يې هم لار پيدا کړه.

۱۰. مستي او مستانه خبرې، وجد او له ذوقه ډکې خبرې د ساقي نامو مزاياوې دي چې نورزي پکې مراعت کړي دي.

۱۱. حبيبي صاحب نوموړی د ساقي نامې يو ښه استاد او ليکوال ګڼي.(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۵۷۲).

۱۲. ساقي، زلفې، سنبل، فغان، ګلستان، زاهد، صومعه، شراب، ميخانه، مى، بهار، پرست، ګلګون، جهان، شغب، طلب، وقت، پيمانه، رفتار، دنيا، بزم، خم، مل، مستان، مجنون، ليلا، مهجور، الفت، مهر، محبت، اخلاص، صفا، غش، دغل، مطلوب، مرغوب، آرزو، اميدوار، عنايت، انعام، رندان، او عشرت پکې عربي او پارسي کلمې دي.

۱۳. په نهمه پېړۍ کې (وقت) کلمه د عربي په بڼه ليکل کيږي چې اوس يې مفغنه بڼه ( وخت) دی.

۱۴. غټول پکې له سرو لمبو سره تشبيه شوي دي.

۱۵. د څلورو سترګو ګڼه د ده په نظم کې د لومړي ځل لپاره تر ستر ګو شوه.

**۲. ۳. ۱۷. زرغونه کاکړ**

زرغونه کاکړ د ملا دين محمد لور وه، په پنجوايي کې اوسېده، علم يې له خپل پلار څخه زده کړ، نوموړې د سعدالله جان نورزي ښځه وه. زرغونې کاکړ د شيخ مصلح الدين سعدي د (بوستان) اثر په پښتو ژبه منظوم و ژباړه او نوم يې ورته ( بوستان د پښتو) کېښود، د پارسي بوستان پر ژباړه سربېره يې نور شعرونه هم لرل. د محمد هوتک د پلار په خبره پر (۱۱۰۲هـ) يې د زرغونې پر خط د نوموړې بوستان د پښتو ليدلی و او لاندې مثنوي يې ترې ليکلې ده:

| | |
|---|---|
| اوريـــــدلي مــــــې قصـــــــه ده | چـــې لــــه شـــاتو هـــم خـــوږه ده |
| د اخــــتر پــــه ورځ ســــهار | بايزيـــــد چـــــې و رويـــــدار |
| لــــه حمامـــــه راو تلـــــی | پــــه کوڅـــه کـــې تېرېــــدلی |
| ايـــرې خـــاورې چـــا لــــه بامــــه | را چپــــه کړلـــــې نــــا پامـــــه |
| مــــخ او سر يـــې شـــو ککـــړ | پــــه ايـــرو پـــه خـــاورو خـــړ |
| بايزيــد پـــه شـــکر کښېـــو ســـو | د خپـــل مـــخ پـــه پاکېـــدو ســـو |
| چــــې زه ور يـــــم د بــــل اور | چــې پـــه اور کـــې ســم نســکور |
| لــــه ايــرو بـــه څـــه بـــد وړمـــه | يـــا بـــه لــــېر شـــکوه کومــــه |

هــو پوهـــانو ځـــان ايـــرې کـــړ | لـــه لـــويني ئـــې ځـــان پـــرې کـــړ
ځـوک چــې ځــان تــه گــوري تــل | خــدای تـــه نـــه سي کـــړای کتـــل
لـــويي تـــل پـــه گفتـــار نـــه ده | لـــو خـــبره پـــه کـــار نـــه ده
تواضـــع بـــه دې سر لـــوړ کـــا | تکـــبر بـــه دې سر ځـــوړ کـــا

(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۹۲ ـ ۱۹۴).

**۲. ۳. ۱۷. ۱. زرغونې کاکړ د شعر ځانگړنې**

۱. له پارسي ادب څخه لومړنۍ منظومه ژباړه ده چې لاسته راغلې ده.

۲. ژبه يې ډېره عادي له اوسنۍ بڼې سره برابره ده.

۳. عربي او پارسي اغېز پکې جوت معلوم دی، لکـه ( حـمام، شـکوه، گفتـار، تواضـع او تکـبر ) پکـې عـربي او پارسي کلمې دي.

۴. موضوع يې پند ده.

۵. قصه يې تر شاتو خوږه گڼلې چې تفضيلي تشبېه يې را منځته کړې ده.

**۲. ۳. ۱۸. رابعه**

د دې شاعرې په اړه ډېرې څرگندونې نشته يوازې پټه خزانه دومره وايي چې د کنـدهار وه، د محمـد بـابر پـه دوران کې يې ژوند کاوه، ډېر شعرونه يې لرل چې د ديوان څښتنه وه. پټې خزانې دغه لاندې څلوريزه د صـديق او رفيق محمد طاهر جمرياني له خولې را ليږدوي:

آدم ئې مځکې و تـه راسـتون کـا | په اور د غم ئې سـوی لړمـون کـا
دوزخ ئې روغ کا پر مخ د مځکې | نـوم ئـې د هغـه دلتـه بېلتـون کـا

(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۹۴ ـ ۱۹۶).

**۲. ۳. ۱۸. ۱. رابعه د شعر ځانگړنې**

۱. ژبه يې سوچه ده يوازې د آدم او دوزخ کلمه پکې ديني اغېز دی.

۲. په دغې څلوريزه کې غم له اور سره او بېلتون له دوزخ سره د لومړي ځل لپاره تشبېه شوي دي.

**۲. ۳. ۱۹. دوست محمد کاکړ**

دوست محمد د بابړ زوی و، په ړوپ کې اوسېده د ( غرغښت نامه ) په نامه يو اثر لري چې پر (۹۲۹هـ) يې په نظم کړی دی. په دغه منظوم اثر کې يوه منظومه د غرغښت بابا په تړاو کښل شوې ده چې لاندې يې راوړم:

لـــه نېکـــانو روايـــت دی | هســـې توگـــه حکايـــت دی
نـــور محمـــد کـــاکړ راوي دی | چـې ئـې فـيض تـل جـاري دی

د نیکونـو لـه خـولې وائي — چـه منښت ئې راتـه ښایي
تـل تـر تـل بـې عبـادت کـا — پـر دې لیـار ئـې ریاضـت کـا
شپې ئې روڼې پـه لمانځو وې — پـه ژړا و پـه نـارو وې
نـه ئې خوب نـه ئې خوراک و — عبـادت ئـې ژونـد و ژواک و
چـه بـه کښېنوست پـه لمانځنـه — یـا بـه کښېوت پـه ستاینه
ورځ ئـې ټولـه پـه قعـده وه — شپه ئـې هـم یـوه سجده وه
تـل ئـې سیر د لاهـوت کـا — پـه یـوه گولـه ئـې قـوت کـا
غـرق بـه تـل پـه ذکرالله و — هـر سـبا او هـر بېگـاه و
یـوه شـپه ئـې عبـادت کـا — پـر گنـاه ئـې نـدامت کـا
سترگې پټې سوې لـه خوبـه — پـه شپو شپو ئـې و ویښتوبه
هسې خـوب یـې ولیـد گرانـه — چـه غرغښت ښیي ښهانه
وایـي ای کـاکړه زویـه — لـه تـا خوښ یمـه نېـک خویـه
ستا قـدم زمـا پـر لار دی — مـا سـوا کـې دې قـرار دی
شـپه او ورځ دې ده لمانځنـه — د ښتن عبـادت کړنـه
ولـې پاتـه لـه تـا نـور دي — شپې او ورځې دې په کور دي
ځه جهاد کړه پر تا فرض دی — دا هـم ستا د غـاړې قـرض دی
یـوه ورځ جهـاد افضـل — تـر کلـو کلـو لمانځـل
څوک چې تـل لمنځ او روژه کا — پـه جهـاد بـه ئـې پـوره کـا
لمړی شرط د دیـن همـدا دی — بیـا خـدمت د خلـق اللـه دی
لـه تـا پاتـه دواړه دینـه — ځـان خبر کـړه ښـه لـه دینـه
تـوره واخلـه مجاهـد شـه — د لوی خـدای د دیـن قاصـد شـه
د خدای نور پر جهان خپور کړه — دا خدمت ئې پـه ځـان پـور کړه
چـه دې بشپړ عبـادت سي — ځان دې خلاص له معصیت سي
چـه لـه خوبـه ویښ کـاکړ سو — د غـزا پـر خـوا نـومړ سـو
زغـره خـول ئـې آراسته کړل — د غـزا غشـي تېـره کـړل
هـرات خـوا تـه پـه تلو تلو سو — د سلطان غیـاث لـه ملـو سـو
وی کـړه هـورې جهـادون — د سلطان مـل سـو پـه ملونـه
څـو هـورې تـر دنیـا تېـر سو — د غازیـانو پـه ټـول شمېر سـو
چـې ئې هلتـه هـم وفـات سو — ښخ پـر خـاورو د هـرات سـو
مېـړه هسـې ژونـدون کانـدي — مـري د خـدای پـه رضـا بانـدې
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۸۸ ــ ۹۲).

**۲. ۳. ۱۹. ۱. دوست محمد کاکړ د شعر ځانګړنې**

۱. د عربي صلوة پر ځای پښتو دیني ګړنه لمونځ او د صوم پر ځای ( روژه ) کارول د لومړي ځل لپاره په دغه نظم کې راغلي دي.

۲. د دغه نظم مرکزي نقطه جهاد کول دي.

۳. دغه نظم هم لکه د پارسي ژبو شاعرانو په څېر یو اخلاقي شعر دی.

۴. ژبه یې روانه ده نامانوسې کلمې پکې نشته.

۵. لمانځنه، لمونځ د صلوة لپاره کارول شوي دی.

۶. خوب لیدل د لومړی ځل لپاره په دغې منظومې کې راوړل شوي دي چې د حماسې ځانګړنه ده.

**۲. ۳. ۲۰. شیخ عیسی مشوانی**

شیخ عیسی په قوم مشوانی و، په دامله کې اوسېده، د ژوند پېر یې له شېرشاه سوري سره برابر دی. پټه خزانه د نعمت الله هروي په حواله لیکي چې شیخ عیسی لوی ولي و، د الله (ج) د یووالي په اړه یې په پښتو پارسي او هندي شعرونه ویل. موږ ته د پټې خزانې له پاڼو لاندې بیتونه رارسېدلي دي:

پخپله کار کړې پخپل انکار کړې    کله بادار یم کله مې خوار کړې
تـه خـو قـادر یـې پـه صـفتونو    کله مې نور کړې کله مې نار کړې
عیسی حیران دی پـه دې شـېونو    کله مې یار کړې کله اغیـار کـړې
(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۵۸۱ او ۵۸۲).

**۲. ۳. ۲۰. ۱. شیخ عیسی مشوانی د شعر ځانګړنې**

۱. له الله (ج) سره د خبرو اترو لومړی نظم دی.

۲. ژبه یې سوچه نه ده، بلکې د نورو ژبو اغېز پرې پروت دی.

۳. نور د ښو ځانګړنو او نار د بدو ځانګړنو لپاره سمبولونه دي.

۴. په یار او اغیار کلمو کې طباق الاضداد بدیعي جوړښت راغلی دی.

**۲. ۳. ۲۱. شیخ بستان بړیځ**

شیخ بستان بړیځ د محمد اکرم زوی و د کندهار په ښوراوک کې زېږېدلی دی. څه وخت یې د هلمند پر غاړه درویشانه ژوندتېراوه، په ځوانی کې هند ته لاړ او عمر یې پر سیاحت تېر کړ. نوموړی د (۱۰۰۲هـ) کال د ربیع الثاني پر (۱۱مه) د جمعې په ورځ د ماسپخین تر لمانځه وروسته وفات شو.(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۵۸۳ او ۵۸۴).

د شیخ بستان بړېخ نظم

د مینې اور دې زما زړګی وریت په انګار کی نا
ښې تار و نار کی نا
خود به وېلېږم چې مې زړه پر تا مفتون کی نا
ځان مې زبون کی نا
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که بر ما

و که نظر زما پر حال چې پروت رنځور یمه تل
په ویر ناسور یمه تل
له زړه مې څاڅي وینې سور په وینو خپل یمه تل
په اور جلبل یمه تل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که بر ما

له درده سوزه تل نارې او غلبلې وهمه
کرږې سورې وهمه
یو آن مې چېرې نه آرام نه ټیکاونه وینم
نه راحت کړنه وینم
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که پر ما

د خوږو زړو له حاله ته یې ای باداره اګاه
یې د بېوزلو همراه
د خپل عزت په روی بستان ته کړه د مهر ښندل
کړې له ګناهه ګواښل
اوښکې مې څاڅي پر ګرېوان یو وار نظر که پر ما
راسه ګذر که بر ما
(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۵۸۳-۵۸۵).

**۲. ۳. ۲۱. ۱. شیخ بستان بړېخ د شعر ځانګړنې**

۱. دغه نظم د پښتو په ملي وزن ویل شوی دی.

۲. د ترنم لپاره یو (نا) ور زیات شوی دی.

۳. په دغه نظم کې هم د نورو ژبو اغېز لیدل کېږي.

۴. د نظم ژبه سلیسه ده نامانوسې کلمې نه لري.

۵. د ( تار او نار ) کلمو په راوړنه دلومړي ځل لپاره خطي تجنیس پکې لیدل کېږي.

۶. د (ټیکاو) کلمه د ( ارام) په مانا د لومړي ځل لپاره بستان بړېخ په نظم کې تر سترګو شوه.

۷. د شعري ځېلونو له مخې مستزاد نظم دی.

### ۲. ۳. ۲۲. علي سرور لودي

علي سرور په قوم شاهو خېل لودي و. نوموړی د هندوستاني لودي اديبانو او عارفانو له جملې څخه دی چې د (۹۶۰هـ) خوا او شا په ملتان کې اوسېده. علي سرور د ارشاد او تدريس حلقه درلوده او ډېر خلک يې مريدان وو. د نوموړی عمر په وعظ او لارښوونو کې تېر شوی دی او د لسمې هجري پېړۍ په پای کې يې ژوند کاوه.

غزل

محبت پياله مې نوش کړه په مجاز کې
د حق نور وينم په سترګو د اياز کې

درست وطن راته درياب شو بې ديدنه
ديد مې نه شي مګر خدای مې سبب ساز کې

که زه مړ شم هم له ګوره کړم سر پورته
ناګهان چې مې دلبر پورته آواز کې

که مې سر غوڅ د رقيب په تېره تېغ سي
هم به ځم که دلبر غوښت په مهر و ناز کې

زه ويار مداماً ناست يو يو له بله
پر غماز دې بارې کاڼي د غم ساز کې

ګران بېلتون به د هغو مينو وينه
چې تل ناست وي په خلوت کې سره نياز کې

ای سروره غمازان شوه بې حسابه
پاک الله دې صورت تش بې مغزه پياز کې

(حبيبي، ۱۳۸۴ل، ۵۸۶ ـ ۵۹۰).

### ۲. ۳. ۲۲. ۱. علي سرور لودي د شعر ځانګړنې

۱. د علي سرور لودي پورته نظم د غزل پوخوالی را ښيي يعنې په دغه وخت کې د پښتو غزل خپل پوخوالي ته رسېدلی دی.

۲. عرفاني فکر له همدې غزلې څخه يو څه په سيستماتيکه بڼه پيل شوی دی، د حقيقت د پلټنې لپاره مجازي مينه اړينه ده.

۳. رديف لرونکې غزل ده.

۴. اوس نو پښتو ژبه په ادبي لحاظ له نورو ژبو څخه اغېزمنه ده.

۵. په پښتو ادب کې د اياز د مينې داستان لومړی له همدې غزلې څخه پيلېږي.

۶. غم له کاڼي سره د لومړی ځل لپاره دلته تشبېه شوی دی.

۷. اياز د مجازي مينې د سمبول لپاره په لومړي ځل علي سرور لودي کارولی دی.

### ۲. ۳. ۲۳. مېرمن نېکبخته

بي بي نېکبخته د شيخ الله داد لور وه، په قوم مموزۍ او په اشنغر کې اوسېده، د خاوند نوم يې شيخ قدم قدس الله و چې پر (۹۰۱هـ) کال يې ورسره واده وکړ. نوموړې هم د خپل پلار په ډول عارفه او زاهده ښځه وه. د

نوموړې د شعرونو کتاب (ارشادالفقراء) و، په دغه اثر کې نوموړې ډېر نصیحتونه او پندونه کښلي و، دغه کتاب پر (۹٦۹هـ) بشپړ شوی و. د نظم بېلګې يې:

دوه بيزه

په زړه ښاد شې ای مؤمنه  په ظاهر په باطن سپينه
ظاهر زهد په اخلاص کړه  په زړه ټينګ شه له يقينه
شکر صبر پر هر حال کړه  خود نمای مشه خود بينه
شپه و ورځ به په ژړا يې  که خبر شې له سجينه
سجين ځای دی د خودنمايه  د بې نمازو او بې دينه
له هغه ځا امان را کې  يا الله العالمينه

غزل

د خدای حق ته غاړه کېږده  نورې نورې وينا پرېږده
دنيا پاته له هر چا ده  په اخلاص کې ځنې لېږده
څو قوت لرې په ځان کې  سر د يار په رضا کښېږده
ځان له بده خويه ژغوره  زړه په ذکر د يار بلېږده
کل دنيا به دې دښنه شي  اوس له بېرې ځنې رېږده
ټوله غواړی حسابونه  که دې اوښې که مېږ ده
دنيا ترک وهه که پوه يې  د بقا پر لورې پښې ږده

غزل

په طلب ئې و درېږه  په خدمت ئې هوسېږه
له جمله بدو نفرت کړه  و نېکۍ ته ولاړېږه
په نېکۍ کې ئې اخلاص کړه  بدې مکړه و پوهېږه
پر ګناه له دواړو سترګو  د باران په دود ورېږه
چه يا رب العالمينه  له ګناهه را تېرېږه
خدای به رحم په تا و کا  په زاريو ته ژړېږه
بې پروا و خدای ته مشه  له غضبه و وېرېږه
هر غه فعل چه ئې حق دی  په طلب ئې و ښورېږه
(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۸۲ ـ ۱۸٦).

### ۲. ۳. ۲۳. ۱. مېرمن نېکبختې د شعر ځانګړنې

۱. د مېرمن نېکبختې نظمونو موضوع پند او نصیحت دی.

۲. دغه ډول نظمونه د صوفیانو لپاره د شریعت پر مقام د عمل کولو لارښوونه کوي.

۳. ژبه یې روانه او ساده ده.

۴، ځینې نامانوسې کلمې، لکه (بلبېرده) پکې لیدل کېږي.

۵. د عربي او پارسي ژبې اغېز یې پر ژبه څرګند دی.

### ۲. ۳. ۲۴. شیخ محمد صالح الکوزی

شیخ محمدصالح په قوم الکوزی او د کندهار په جلدک کې اوسېده. نوموړی عالم او متقي سړی و په خلکو کې په همدې نامه مشهور و. داسې برېښي چې شیخ صالح تر (۱۰۰۰هـ) کال د مخه زېږېدلی و، پر دغه وخت نوموړی په خپل علمیتوب او متقي والي شهرت ته رسېدلی و. لاندې یې نظم راوړو:

غزل

د لیلی د مینې فیض هر سبا وړم — بېهوده منت به ولې د نور چا وړم
چې اشنا د شپې ناڅاپه [په] لاس کښېوت — روښان زړه په ګوګل پټ لمر په سما وړم
پر دنیا که تجارت څوک د دنیا کړي — زه د زړه په بازار بار د عشق سودا کړم
د لیلی لیدل دې رب په بهانه کې — خزانې که د دې کل جهان په شا وړم
که پر تخت مې د سلیمان سپور کړې سړیه — عاقبت خاورو ته ښه عمل پېشوا وړم
بې له عشقه خوشحالي پر ما حرامه — زه صالح که په خوله خوښ په زړه ژړا وړم

غزل

چې په زړه یې غشي څرخ شي د چشمانو — روغ به نه سي په دارو د طبیبانو
چې نور تن له رنځه خلاص په زړه رنځور وي — دا د زړه دارو جوړ نه کړل حکیمانو
مګر الله چې حبیب دی هم طبیب دی — کار سازي کا د خوارانو رنځورانو
هیڅ اثر رابانـدې نه کاندې عالمه — ښه ویل در و ګوهر د ناصحانو
نصیحت زړه غواړي زړه نسته ګوګل کې — زړه مې وړی په منګلو خوبرویانو
که صالح غوندې د زړه په وینو پایي — نور دولت پر دنیا نسته طالبانو

(حبیبي، ۱۳۸۴ل، ۵۹۳ ــ ۵۹۶).

**۲. ۳. ۲۴. ۱. شیخ محمد صالح الکوزی د شعر ځانګړنې**

۱. شیخ محمد صالح متقي او عابد سړی و، د نظم منځپانګه یې په همدغو موضوعګانو را څرخي.

۲. غزل یې ساده دی، پیچلتیا نه لري.

۳. د عربي او پارسي ژبې اغېز یې پر ژبه پروت دی.

۴. پر دغه وخت تصوفي او عرفاني افکار په ادب کې را ننوتي و نو دغه غزلې هم په همدې رنګ کې رنګ دي.

۵. تشبیه ګانې یې ( د لیلی د مینې فیض، روښانه زړه له لمر سره، د زړه بازار، د چشمانو غشي، ویل له در او ګوهر سره ) دي چې په ساده بڼه راوړل شوي دي.

۶. د سلیمان (ع) تخت ته اشاره پکې تلمیح ده.

**۲. ۴. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې سبکي ځانګړنې**

۱. په نوموړې دوره کې د وزن له مخې ولسي، مړه ولسي او ګډ فورمونه په کار وړل شوي دي. مړه ولسي فورمونه مو ځکه ورته و ویل چې تر دغو شاعرانو وروسته چا نه دي پاللي یا یې بېلګې زموږ سره نشته.

۲. د بلاغي علومو له مخې تشبیه او څو ډولونه یې، استعاره او څو ډولونه یې، مرسل مجاز او څو ډولونه یې، کنایه، اطناب، سمبول، او د بدیعی جوړښتونو څو بېلګې راغلې دي.

۳. جغرافیوي خوا هم په دغه دوره کې د امیر کروړ څخه نیولې بیا تر راورستو پورې راوړل شوې ده، همدا ډول طبیعت پکې په ډېر ښه ډول انځور شوی دی.

۴. په دغې دوره کې منظومې ژباړې په ډېره ښه بڼه رامنځته شوي دي، همدا ډول منظوم لیکونه د دغې دورې یوه بله ځانګړنه ده.

۵. د نورو ژبو اغېز په دغه دوره کې ډېر کم لیدل کېږي هغه هم دیني او عرفاني ګړنې دي چې د اړتیا له مخې پکې راوړل شوي دي خو دا هم باید په یاد ولرو چې د ممبر لپاره دریځ، د شرق لپاره ختیځ، د غرب لپاره لویدیځ، د صلوة لپاره لمونځ او داسې ډېرې دیني ګړنې پښتو شوې دي.

۶. د موضوع له مخې په دغه دوره کې حماسي نظمونه، دیني موضوعګانې، پندونه، د کورنیو تر منځ د ټینګښت خبرې، پر هیواد او اسلام د قربانۍ موضوعګانې، عرفاني او تصوفي لوړینې، ناتاوترېخوالی، له ځان څخه ساتنه کول او د مینې برخې شاملې دي.

۷. د دغې دورې په ادبیاتو کې پنځه ډوله کلمې ( مړې، مړژواندې، پردۍ، بیا را ژوندۍ شوې او ژوندۍ ) تر سترګو کېږي.

۸. د قافیو له مخې سستې او عادي قافیې پکې کار شوې دي، د ترنم لپاره پکې کله (نا) هم ور زیاتوي. غبرګې قافیې هم په دغې دورې کې کارول شوې دي.

۹. په دغې دوره کې تصوفي فلسفي افکار را منځته شوي دي خو پراخوالی یې نه دی موندلی.

۱۰. د مغلو په اړه څرګندونې او د ځان ساتنې فکر او همدا ډول د مغلو له ظلمونو څخه سر ټکول په دغې دوره کې رامخې ته شوي دي.
۱۱. ساقي نامه د دغې دورې يو بل امتياز دی چې د ساقي نامې هغه ټولې خواوې چې اړتيا ورته ليدل کېږي او يا هم کره‌کتونکو په نښه کړي، په دغه ساقي نامه کې زرغون خان نورزي په پام کې نيولي دي.
۱۲. په دغې دوره کې دوې منظومې ژباړې يوه له عربي او بله له پارسي ژبې څخه لرو.
۱۳. د دغې دورې بل امتياز دا دی چې پر نارينه وو سربېره ښځينه شاعرانې او ليکوالانې پکې راغلې دي.
۱۴. په دغې دوره کې داسې شاعران هم شته چې له الله (ج) سره نېغ په نېغه خبرې کوي.
۱۵. په مجازي مينه کې نېغ په نېغه د (نجلی) کلمه راوړل شوې ده.
۱۶. ين د نسبي ستاينوم د جوړولو لپاره پکې کار شوی دی.

## ۲. ۵. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې ژبنۍ ځانګړنې

د دغې دورې په ادبياتو کې پنځه ډوله کلمې ( مړې، مړژواندې، پردۍ، بيا را ژوندۍ شوې او ژوندۍ ) تر سترګو کېږي.

د نورو ژبو اغېز په دغه دوره کې ډېر کم ليدل کېږي هغه هم ديني او عرفاني ګړنې دي چې د اړتيا له مخې پکې راوړل شوي دي خو دا هم بايد په ياد ولرو چې د منمبر لپاره دريځ، د شرق لپاره ختيځ، د غرب لپاره لويديځ، د صلوة لپاره لمونځ او داسې ډېرې ديني ګړنې پښتو شوې دي.

په دغې دوره کې منظومې ژباړې په ډېره ښه بڼه رامنځته شوې دي، همدا ډول منظوم ليکونه د دغې دورې يوه بله ځانګړنه ده.

## ۲.۶. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې موضوعي ځانګړنې

د موضوع له مخې په دغه دوره کې حماسي نظمونه، ديني موضوعګانې، پندونه، د کورنيو تر منځ د ټينګښت خبرې، پر هيواد او اسلام د قربانۍ موضوعګانې، عرفاني او تصوفي لورينې، ناتاوتريخوالی، له ځان څخه ساتنه کول او د مينې برخې شاملې دي. په نوموړې دوره کې تصوفي فلسفي افکار را منځته شوي دي خو پراخوالی يې نه دی موندلی. د مغلو په اړه څرګندونې او د ځان ساتنې فکر او همدا ډول د مغلو له ظلمونو څخه سر ټکول په دغې دوره کې رامخې ته شوي دي.

## ۲.۷. د لومړۍ دورې د شاعرانو ګډې ادبي ځانګړنې

د قافيو له مخې سستې او عادي قافيې پکې کار شوی دی، د ترنم لپاره پکې کله (نا) هم ور زياتوي. غبرګې قافيې هم په دغې دورې کې کارول شوې دي.

په نوموړې دوره کې د وزن له مخې ولسي، مړه ولسي او ګډ فورمونه راغلي دي. مړه ولسي فورمونه مـو ځکـه ورته و ویل چې تر دغو شاعرانو وروسته چا نه دي پاللي یا یې بېلګې زموږ سره نشته.

د بلاغي علومو له مخې تشبېه او څو ډولونه یې، استعاره او څو ډولونه یـې، مرسـل مجـاز او څـو ډولونـه یـې، کنایه، اطناب، سمبول، او د بدیعي جوړښتونو څو بېلګې راغلي دي. د طبیعت انځورګري پکې هم په ډېر جوش سره ښکارندوی راوړې ده.

# ۳. د پښتو دويمې دورې منظوم ادبي سبکونه او ښوونځي

## ۳. ۱. د پښتو ادب دويمې دورې شاليد

د پښتو ادبياتو دويمه دوره د بابر د تېري پر وړاندې د پښتنو له مقاومته را زېږېدلې ده چې بيا يې تر خوشحال خان خټک پورې او له هغه څخه راوروسته پېر پورې دوام کړی دی.

د هند بابري لښکر په څو څو ځلې يرغل کولو سره افغانانو ته لوی اقتصادي، فرهنگي او ځاني تاوانونه ور واړول. بابر تيموري شهزاده و، د ماوراالنهر د انديجان د حکمران عمر شيخ زوی او د نامتو امير تېمور لمسی و، بابر چې اصلي نوم يې ظهرالدين محمد و پر (۸۸۷ هـ / ۱۴۸۳ز) د يوولسو کالو پر عمر په انديجان کې د خپل پلار ځايناستی شو او پر (۹۰۲هـ / ۱۴۹۷ز) يې له خپل تره سلطان احمد څخه سمرقند ونيوه او د يرغلونو لړۍ يې پيل شوه. (غبار، ۱۳۹۳ل، ۳۴۳).

بابر چې د خپلو خوا اوشا د سيمو له فتحه کولو څخه بې وسې شو نو د کابل په لور يې مخه کړه پر (۹۱۰هـ / ۱۵۰۴ز) کال يې کابل بې له جنگه ونيوه، هلته يې شل کاله پاچاهي وکړه دا چې کابل د غلو او دانو ځای نه و بابر اړ شو چې نورو سيمو ته د تالان لپاره لاس اوږد کړي، همدا لامل و چې پر (۱۵۰۵ز) يې د خيبر پر دره تر اباسيند پورې تگ وکړ، جم کې پاتې شو بيا پېښور ته راکوز شو، ترديې وروسته يې د کوهاټ د لوټلو پلان د ملگرو د مشورو په مرسته وتاړه خو په کوهاټ کې غير له غلې دانې او څارويو نقدې پيسې او طلا په لاس ورنه رغله، تر دې وروسته د بنگښو پښتنو د لوټلو او وهلو پلان و تړل شو او هم د برمل پر لار غزني ته د تلو اراده وشوه. د بنگښو او بابر ترمنځ جگړه وشوه بنگشو ماتې وخوړه او د مړو له سرونو څخه يې منار جوړ کړل شو، په هنگو کې بيا د بابر او پښتنو تر منځ جگړه وشوه خو بابر بريالی شو او د پښتنو له کوپړيو څخه يې منار جوړ کړ، دغه له کوپړيو څخه د منار جوړول د چنگېز خان له وخته دود شوي دي. په ټل کې بابر خپله پرېکړه بدله کړه د بنو لار يې و نيوله. د بنو او اباسين ترمنځ کرلاڼي، کيوي، سوراني، عيسی خېل او نيازي پښتنو ژوند کاوه چې له کيوي او سوراني څخه بنوڅي پښتانه او له کرلاڼي څخه خټک مراد دي.

په بنو کې بابر د کيوي قبيلې سنگر مات کړ او د دغو خپلواکې غوښتونکو له کوپړيو څخه يې هم منار جوړ کړ. په بنو کې د دشت يعنې ډېره جاتو د وهلو پرېکړه وشوه، بابر له خپلې ډلې سره عيسی خېلو ته لاړ د هغوی

شته او مالونه يې ولوټل، په دشت کې د ټانک خوا او شا کې د رخت سوداګران ولوټل شول او يو معتبر سوداګر خواجه‌خضرلوهانی و وژل شو. همدا شان يې د وزيرو پښتنو څخه هم درې سوه ګډې د خراج په نامه واخيستې.

پر (۹۱۳هـ / ۱۵۰۷ز) کال يې د غلجي پښتنو د لوټلو اراده وکړه او له هغو څخه يې اويازره ګډې ولجه کړې، تر دې وروسته د کندهار د تلو اراده وشوه. هلته شاه‌بېګ ارغنون حاکم و، شاه‌بېګ ته بابر سوال او ځواب لېږلی و خو شاه‌بېګ سپور ځواب ورکړی و، بابر په قهر شو او د جنګ اراده يې و کړه، که څه هم د شاه‌بېګ کسان ډېر وو خو بابر پرې بريالی شو او ډېر زيات مالونه سره زر، سپين زر او نور لاس ته ورغلل، هلته يې خپل ورور ناصر مرزا مقرر کړ.

د بابر بله پرېکړه هندوستان ته د تلو وه؛ پر (۹۲۴هـ / ۱۵۱۸ز) يې د جنوبي پښتنو پر لار د تګ اراده لرله او په دې هم پوه و چې هندوستان ته پر هر غزېدلې لار پښتانه پراته دي او د دې ټولو ايل کول ګران کار دی. د جنوب پر لار يوسفزي پراته و، بابر پر يوسفزو بريد وکړ او د هغو فصلونه يې تالا کړه خو د يوسفزيو سنګر يې فتحه نه کړ. بيا په منځ کې د ملک احمد شاه منصور د لور بي بي مبارکې او بابر د واده پرېکړه کېږي، له دې وروسته بابر د باجوړ پر قلا بريد وکړ او درې زره باجوړيان پښتانه يې و وژل.

پر (۹۲۵هـ / ۱۵۱۹ز) بابر يوځل بيا د درېيم ځل لپاره د پښتنو پر ټکولو پسې را و واته هشتنغر يې لوټ کړ، بيا د شينوارو او اپرېديو د لوټلو په نيت روان شو او دا کار يې وکړ.

پر (۹۲۸هـ / ۱۵۲۲ز) کال د هندوستان د نيولو په نيت يو ځل بيا د پښتنو له سيمو څخه په تېرېدو پښتانه يې د ظلمونو ښکار شول او پر (۹۳۲هـ / ۱۵۲۶ز) کال يې په پاني پت ميدان کې ابراهيم لودي ته ماتې ورکړه او د پښتنو د سلونو کالو پاچاهی ته يې په هندوستان کې د پای ټکی کېښود.

تر دې فتحې وروسته د هند پر بېلابېلو سيمو کې تاوتريخوالي را مخې ته شول خو ده پر خپل تدبر هغه له منځه يوړل چې په دې لړ کې هم پر پښتنو ډېر ظلمونه وشول او په پای کې بابر ناروغ شو، پر (۹۳۷هـ / ۱۵۳۰ز) کال د (۴۸) کالو په عمر وفات شو، مړی يې لومړی نهه کاله د اګرې په يو باغ کې ښخ و او بيا بي‌بي مبارکې د نوموړي جسد کابل ته ولېرداوه او د بابر په تاريخي باغ کې يې ښخ کړ. ( کاکاخېل، ۲۰۱۲ز، ۳۹۸ ــ ۴۲۰).

د بابر د ظلمونو په بهير کې غبار ليکي: (( بايزيد کندهار ته د يوه سفر په وخت وليدل چې د هند د دولت والي بيرام خان سپاهيانو يو ه ښځه له کمڅو څخه په ژرندې پورې تړلې وه او همداسې يې څرخوله د دغې پېښې په ليدو سره ډېر زيات اغېزمن شو تر څو چې ژوندی و دغه ترخه پېښه يې هېره نه شوه، بايزيد د افغانستان په ختيځ کې پاڅېد او لومړي تشکيلات يې جوړ کړل.))( غبار، ۱۳۹۳ل، ۳٦٦).

پر پښتنو د بابر د ظلم او زياتي څپې له افغانستان څخه هند ته ورسېدې او هلته هم پښتانه د بابر د لښکرو ښکار شول، عبدالله چې له امينې سره په جالندر کې نکاح وکړه د څه وخت تر تېرېدو وروسته نوموړی کانيګرام ته ستون شو، په دې اړه حافظ محمد عبدالقدوس قاسمي د خيرلبيان په سريزه کې ليکي: ((. . . خو چه قاضي

عبدالله کاڼي ګرام ته ورسېد نو د هند حالات نور شول بابر بادشاه اول د پښتنو په علاقه حملې وکړې او پښتانه يې زېروزبر کړل بيايې ورو ورو هند ته مخه کړه او د پښتون د لاسه يې دا علاقه يو مخ تروړله. قاضي عبدالله په دې انقلابي ورځو کې جالندر ته نه شو راتلی، ښځه او زوی يې د خدای په اسره پرېښودل، د ده يو بل ورور شيخ خدا داد په بيره (خوشاب) کې دېره وو چه د بابر حملې هلته ورسېدې نو د هغه ځايه هغه په تېښته جالندر ته لاړو او د بي‌بي امېنې سره دېره شو خو لږو ورځو کښې د بابر فوځونه په جالندر ورغلل، پښتانه د هغه ځايه په تېښته بهار ته لاړل بيا د مغلو سره ځای ځای په جنګونه او معرکې و شوې، کله مغل کامياب او کله پښتانه. . . . ))(روښان، ۱۹۸۸ز، ۴۰).

## ۳. ۲. روښاني ادبي ښوونځی

په روښاني ادبي ښوونځي کې به لومړی پر ځانګړو(انفرادي) سبکونو خپله څېړنه تر سره کوو او بيا به يې د پلیونو په رڼا کې د ادبي ښوونځي ځانګړنې راوړوو.

## ۳. ۲. ۱. د روښاني ادبي ښوونځي د منظوم ادب ځانګړي(انفرادي) سبکونه

د پښتو ادبياتو لومړی دوره له (۱۳۹هـ) کال څخه پيلېږي چې د لسمې پېړۍ تر درېيمځمې لسيزې پورې دوام کوي، کله چې بايزيد روښان ځوانۍ ته رسېږي، د مغلو ظلمونه يې پر ذهن پراته وي نوموړی پر هر څه د پيرې لاره غوره ګڼي، دېرې پښتانه پر ځان راټولوي او د مغلو پر وړاندې قلمي او عملي جهاد پيلوي چې په پايله کې د پښتو ادب دويمه دوره پيلېږي. په دويمه پښتو ادبي دوره کې څلور ارزښتمند سبکونه را منځته کېږي چې بيا د پښتو ادب د دغې دورې په څلورو پښتو ادبي ښوونځيو اوړي.

### ۳. ۲. ۱. ۱. بايزيد روښان د دويمې ادبي دورې بنسټ ايښودونکی

بايزيد روښان چې په انصاري هم ملقب دی د قاضي عبدالله او بي بي امينې زوی دی، دا چې مور يې د هند په جالندر کې د خپل پلار کره اوسېده نو بايزيد هم په جالندر کې پر (۹۳۱ هـ) کال پيدا شوی دی. (خټک،۱۹۸۹ز، ۵۹ او ۶۰).

د ده پلار او ميره مور په کاڼي ګرم کې اوسېدل، کله چې د بابر ظلمونه هند ته ورسېدل نوموړی له خپلې مور او تره خدا داد سره پر (۹۳۷هـ) کال چې دی به د اوو اتو کالو و کاڼي ګرام ته راغلل، مور يې د عبدالله او بن له لاسه ور پېښې دردونه و نه شو زغملای تر طلاق وروسته بيرته جالندر ته لاړه او هلته وفات شوه او بايزيد د پلار او ميرې مور په روزنه کې پاتې شو. نوموړي په لومړيو اوو اتو کالو کې د پلار له مينې محروم و او اوس د مور له مينې محروم شو چې له رواني اړخه يې د ده پر سلوک منفي اغېز پرېباسه او ورسره له جالندره تر کاڼي ګرامه د لارې په اوږدو کې پر پښتنو د بابر د عسکرو ظلمونه و ليدل او دی يې له ماشومالي په رواني جنګ کې ښکېل کړ چې دا هم د ده لپاره د مغلو پر وړاندې د پاڅون سبب شوی دی. (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۱۱۵ ــ ۱۱۷).

د پورته پېښو په پام کې نيولو سره د مغلو پر وړاندې د بايزيد د غچ اخيستنې جګړه ييز شخصيت وده کوي او له بل پلوه د پښتنو بې علمي دا دوه هغه څيزونه دي چې نوموړي ته يې په يو لاس کې توره او په بل لاس کې قلم ورکړ، نوموړی د دغه دور تورزن او قلموال شو او د پښتنو پر سياسي او پوهنيز اړخ يې خورا براخ اغېز و ښنده.

د توري اغېز يې تر خوشحال خان خټک او لا تر هغه راوروسته هم خپل نقش ښه ترا لوبولی دی خو پوهنيز شخصيت يې لا تر اوسه په پښتنو کې خپلې ډيوې بلې ساتي.

نوموړي د پښتنو د پوهې لپاره ګڼ آثار وليکل چې په سر کې يې خيرلبيان دی او ورسره يې د پوهې د رسولو لپاره د تصوف فلسفه په علمي او عملي بڼه پښتنو ته وړاندې کړه او ډېرې پښتانه د ده له فکر څخه اګاه شول، آن تردې چې خپل ځايناستي يې بېلابېلو سيمو ته ولېږل چې هلته پوهه خپره کړي نو همدا سبب دی چې د ده هغه پيروان چې د شاعرۍ تومنه يې په خټه کې اخښل شوې وه، لکه ارزاني، ميرزا خان انصاري، دولت لوانی او نور چې د تصوف فلسفه او پوهنيز فکر يې په نظمونو کې د شعر په خوږه ژبه ټولنې ته وړاندې کړ. ځينې به و وايي چې ژبه يې له عامې پوهې څخه يو څه لرې ده، دا سمه خبره ده خو په هغه وخت کې د ولس ژبه همدا وه او ډېرې خلک د دوی په خبرو، ليکنو، ويناوو او فکر پوهېدل، دا چې موږ د هغه وخت اوسېدونکي نه يو نو زموږ لپاره يې نااشنايي يا نامانوسوالی له دغه سببه دی.

نوموړي د پښتو د سمې املا لپاره د پښتو اوازونو توري (ګرافيمونه) جوړ کړل، خيرلبيان يې په څلورو ژبو وليکه چې خپل ولس له سمې او الهي لارې څخه خبر کړي، دا د دې لپاره وو چې هيوادوال يې پوهه لاسته راوړي او د جهل پر وړاندې مبارزه پيل کړي، دی پوهېده چې هر جابر د پښتنو له ناپوهۍ څخه په ګټې اخيستنې پر دوی د ظلم مېچنې چلولې دي.

تر پورته بحث وروسته به او س د پير روښان (د علم رساله) تر سبکي څېړنې لاندې ونيسو او بيا به يې پليونو ته راشو چې منظوم شعري ديوانونه لري او و به ګورو چې په دويمه پښتو ادبي دوره کې د دوی منظوم سبک کومې ځانګړنې لري. ارواښاد داکټر راج ولي شاه خټک ليکي: ((د بايزيد ژوند او فلسفې د هغه ادبي مکتب فکر ته يو انداز ورکړو. په دغه انداز کښې تصوف، قاميت او فن درې واړه يو ځای شول. د تصوف فلسفه، د قاميت فلسفه او د فن فلسفه د روښاني ادبي تحريک په وجه په راتلونکي ادب کې ور ګډ شول.)) (خټک،۱۹۸۹ز، ۱۵۰).

راج ولي شاه خټک د پورته خبرې په تړاو زياتوي: ((... د پښتو ادب په دې صباؤن کښې چه کوم ادب راپيدا شوی دی. د هغې منبع روښاني ادبي تحريک دی. روښاني ادبي تحريک د بايزيد روښان د اعلی تربيت په نتيجه کښې پيدا شوی دی او په خپل مکتب کې يې د پښتو ژبې د ښېرازۍ د پاره هر ممکن زيار کړی دی، که د نورو ژبو نه د استفادې په صورت کښې دی، که د ترجمې په رنګه کښې دی، ورسره يې دا پام هم لرلی دی چه په فن کښې يو پښتون فني تشخيص پيدا کړي او ادب د مليت سره ملګری کړي. پښتو د ژبې په حيث د آيين او ثقافت په حيث يوې نقطې ته راولي او د دې نقطې نه وروستو د پښتونولۍ دائره جوړه شوه، په هغه دائره کښې

تصوف، فلسفه، فن، ادب او ثقافت هر څه راګیر کړی شو او دا هغه اصلي بنیاد چه وروستو پـرې د پښـتو د ادب منفرد عمارات استوار کړی شو. د دې عمارت بېلې بېلې برخې د جدا جـدا مکتـبِ فکـر اسـالیب دي او تـر دې وختـه پـورې پکـې فنـي ریاضـت کـولی شي. خوشـحال، رحمـن، حمیـد د دغـه اسـالیبو سـتنې دي.))(خټک،۱۹۸۹ز،۱۵۲).

**۳. ۲. ۱. ۱. ۲. د بایزید روښان د علم رسالې ځانګړتیاوې**

۱. د علم رساله د جوړښت له مخې ډېره ابتدایي منظومه ده، لکه یو عالم چې پر منبر ناست وی او پـه نیمـه تـرنم وعظ کوي.

۲. ټول بیتونه یې د (ینه) همغږې برخه لري چې سسته قافیه ورته ویلی شو.

۳. وزن یې هم ځای ځای مات دی.

۴. نوموړې رساله د موضوع له مخې ډېری فقهي مسایل دي چې هغه هم د اسلام پر پنځو بناوو باندې څرخي او موخه یې د پنځو بناوو په تړاو ټولني ته معلومات لېږدول دي او ورسره د وحدت د منزلونو بیان دی.

۵. د بیتونو ترمنځ د خپلې خبرې د ثبوت لپاره ایت شریف او احادیث راوړي چې کله د بیت برخه هـم وي او د بدیع فن له مخې ورته اقتباس ادبي صنعت ویلی شو.

۶. (کانې) د (کاندي) پر ځای کاروي. د ( محتاج) (ج) په (ځ) لیکي، بلکې په ډېری کلمو کې د (ج) پـر ځـای (ځ) کاروي.

د خدای استاوځی مې یـو مـرګ دی　　　بـاور کـانې ناګاهانـه بـه در شـینه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۲).

هـــر خـــوک محتـــاځ د ده دي　　　دی محتـــاځي د هیچـــا نـــه لرینـــه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۴).

لفظ، لوز لیکي:

دی بـــې ژبـــې ګویـــا دی　　　هم له هره لوزه اګاه دی هر څو دینه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۴).

اسانې هسانې لیکي:

لـوی غالـب پـه خپلـه چـار دی　　　د خدای چارې په خدای هسانې دینه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ٦).

توری د سیاهي په مانا کاروي:

کـــــه دریابونـــــه شي تـــــوری
او ونـــــــــېي او بـــــــــوټي قلمونـــــــــه

ســـړي پـــيري فرښـــتې کاتبـــان شي
تـــرو د خـــدای صـــفت بـــه واړه کښـــينه

واړه صــفت بــه يــې وکښــای نــه شي
که توري په کښل وچ شي قلمونه يې مات شـينه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۸او ۹).

عورته اورته د مانديني يا مېرمن لپاره کاروي:

د ايمان عمل پنځه بينا ده د اسلام دي
چې به اورته په مېړه فرض شوي دينه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۲۳).

وړمی د لومړي لپاره کاروي:

وړمـــــی کلمـــــه د شـــــهادت دی
چې په تقليد صحي وايي مسـلمان شـينه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۲۳).

ژوی د ژوندي يا انسان لپاره کاروي:

کـــــافر بـــــه شي هغـــــه ژوی
هـر چـې بـه منکـر لـه نمانځـه شـينه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۲۸).

نمونځ کړونی د لمونځ کوونکي لپاره اصطلاح راوړي:

د نمـــونځ کـــړوني کـــړای بويـــه
چې نمونځ هسې گذاري چې روا وينـه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۲۸).

پرېښون د خوراک د پاتوشوني لپاره کاروي:

د سړيو پرېښون او د حلال څيز پاک دی
د نالت د سپي او د نور لېوه دې پليت گڼينه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۳۸).

څښتن تښتن ليکي:

نــه مېــړه و اروتــې نــه اورتــه و مېــړه
نه تښتن و هغه بنده چې په مال ازاد کړی وينه

(روښان، ۱۳٦۴ل، ۷۱).

۷. د علم په رساله کې لومړی حمد، بيا نعت، بيا منقبت راغلی دی چې وروستيو شاعرانو هـم همـدا لاره تعقيـب کړې ده.

۸. په دغه رساله کې توحيد مقام گڼل شوی دی. شريعت، طريقـت، حقيقـت، معرفـت، قربـت او وصـلت يـې د وحدت د مقام منزلونه نومولي دي:

توحیـــد مقـــام دی د یگـــانگی          چـــې شـــــپږمنزله دینـــــه
نومونـــــه بـــــه یـــــې وایـــــم          کـــه د چـــا پـــه رضـــا وینـــه
شریعـــت طریقـــت حقیقـــت دي          معرفـت قربـت وصـلت دې گڼینـه
(روښان، ۱۳٦۴ل، ۱۲).

۹. تر مرگ مخکې مړینه یې د لومړي ځل لپاره ذکر کړې ده:

چـــې لـــه مرگـــه پخـــوا و مـــري          بېشـکه تـل حیـات بـه بیـا مومینـه
(روښان، ۱۳٦۴ل، ۱۹).

۱۰. د خبرې پیل پر خدای ویلي دینه او یا هم مسکین ویلي دینه یا مصنف ویلي دینه پیلوي.

۱۱. د کره کتنې پیل له همدې رسالې شوی دی:

دا تصـــنیف د میـــا روښـــان دی          ســـړي دې یـــې و نغوږینـــه
خـداې د پـاره دې یـې سـاز کـا          چـــې غلطـــي پکـــې مومینـــه
هـــر چـــې غلطـــي کـــا ســـازه          ډېـــر ثـــواب بـــه حاصـــلوینه
(روښان، ۱۳٦۴ل، ۸۰).

### ۳. ۲. ۱. ۲. ملا ارزاني

ملا ارزاني د برهان زوی د خیشکو له عزیز سره تړاو لري:

دی په خویشکي خیشکی کې عزیز          د والـــد نـــوم یـــې برهـــان دی

د نوموړي د زیږېدو نېټه او ځای نه دی څرگند یـوازې دومـره پتـه لگېـدلې ده چـې د پنجاب پـه قصـور کـې اوسېدلی دی. د بایزید روښان له تکړه پیروانو څخه دی، د شعر دیوان یې په پښتو کې لومړنی لاسته راغلی شعري کلیات دي چې په پېښور کې چاپ شوی دی. په نوموړي کلیاتو کې بوللې، غزلې او څلوریزې تر سترگو کېږي.

له داخلي شهادت څخه یې د ژوند پېر د لسمې پېړۍ وروستۍ او د یوولسمې پېړۍ لومړۍ (۱۰۱۰هـ) ټاکل شوی دی.

دا غـــزل پـــه تـــاریخ کښـــلې          پـــه حســـاب د دوســـت (دغـــو) دي

(دغو) د ابجدو په شمېر (۱۰۱۰) کېږي چې تر دغې نېټې یې ژوند یقیني دی. د شعرونو د دیوان تر څنگ یې په نثر کې هم لیکل کړې دي. (زېور، ۱۳۸٦ل، ۵۳ ـ ۷۳).

### ۳. ۲. ۱. ۲. ۱. ملا ارزاني د شعر ځانگړنې

۱. ډېری شعرونه یې له مذهبي او تصوفي موضوگانو سره تړاو لري.

۲، وحدت الوجود یې د افکارو ځانګړې موضوع ده.

۳. د پښتو ادب په تاریخ کې لومړی شاعر دی چې دیوان یې لاس ته راغلی دی.

۴. ارزاني په خپل دیوان کې په څرګند ډول خپل مرشد (پیر روښان) نه دی یاد کړی. (؟)

پورتنی نظر د مغموم صاحب دی خو په دیوان کې یې لاندې بیتونه راغلي دي چې د (بایزید) نوم پکې راغلی خو دا وضاحت نشته چې نوموړی کوم بایزید یادوي.

د الـــف دغـــه بـــازي ده لـــه منصـــور لـــه بایزیـــده

لـــه هـــر چـــا محـــیط هـــمان دی لـــه بایزیـــده تـــر بازیـــده

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۸۱۲).

۵. ارزاني د خپل مرشد لپاره لقبونه راوړي چې پیر روښان ترې مراد وي، لکه کامل پیر، مهدي، فقیر، هادي، حضر او داسې نور.

٦. د ارزاني دیوان د پیر روښان د تعلیماتو شرحه، تبلیغ او تلقین دی.

۷. په دیوان کې یې د هندي، فارسي او عربۍ ژبو پرېمانه کلمې راوړې دي.

ارزاني افغـــاني دیـــوان دی پـــه څلـــور ژبـــې ویلـــی

۸. لومړی شاعر دی چې د روښان تصوفي فلسفه یې په شعرونو کې بیان کړې ده.

۹. د تصوفي شاعرۍ ټولې موضوعګانې یې د (وحدت الوجود) په فلسفه بنا دي.

۱۰. د بایزید د خیرالبیان فلسفه تر ټولو روښاني شاعرانو مخکې ده په خپلو شعرونو کې راوړې ده.

۱۱. د ارزاني د شعرونو لیکدود د خیرالبیان لیکدود دی.

۱۲. ارزاني د پښتو ژبې ، پښتون کلتور او پښتون قومیت د ودې لپاره د خلکو پاملرنه را ګرځولې ده او په دغه برخه کې یې شعوري هڅه کړې ده.

۱۳. د ارزاني په شاعرۍ کې د پښتو، پښتون او افغان کلمې پر لغوي مانـاوو سربېره پـه سیاسي مانـاوو کـې هـم کارول شوې دي.

د فقـــیر پښـــتو خـــبره لکـــه ســـپینه مرغلـــره

ارزاني افغـــــان و کښـــلې د خپـــل زړه لـــه تصـــوره

دا پښـــتو وینـــا رمـــوز ده پوشـــیده لـــه کـــور و کـــره

یا

| | |
|---|---|
| د فقـــــیر دیـــــوان پښــــتو دی | د ســـــعدي دی لـــــه شـــېرازه |
| ارزاني پـــــه پښـــتو وکښـــل | لـــــدني پـــټ حقـــــایق |
| دا پښـــــــتو خـــــــبرې واوره | لـــــــه دې ارزاني افغــــــان |

| | |
|---|---|
| څــوک چـــې دا افغـــاني تـــوري | هـــم یـــې لـــولي هـــم یـــې گـــوري |
| خـــدای بـــه لار کـــا ور څرگنـــده | د حـــق رحـــم بـــه پـــرې اوري |

۱۴. ارزاني خپل شعر په واړه بحر (اووه یا اته سیلابه) په ښه ویلی دی.

۱۵. د پښتو، پښتون او افغان کلمه لومړی د ده په دیوان کې راوړل شوې ده.

۱۶. د میا روښان د تصوف اته مقامونه او شرحه یې لومړی ده په خپل دیوان کې راوړې دي.

۱۷. په پښتو ژبه کې لومړی ځل ارزاني د احد (خالق ذات) او احمد (رسول پاک) د بېلگو پـه راوړلـو د وحـدت او کثرت فلسفه واضح کړې ده.

| | |
|---|---|
| دا احـــد پـــه مـــیم احمـــد شـــه | احـــد یـــو دی لـــه احمـــده |
| دا دمـــیم برقعـــه کـــثرت شـــه | لـــه احـــد شـــه پـــه عـــدده |
| | (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴۳۳ ـ ۴۵۸). |

۱۸. اغېزمنتیاوې

ملا ارزاني له عربي، دري او هندی ژبو څخه اغېزمن دی او لامل یې هم د ده چاپېریال دی:

د فارسي او عربي اغېز

| | |
|---|---|
| پـــه هـــر بـــرگ د حـــق صـــفت شي | بـــې لســـانه بـــې شـــفت شي |
| د هوښـــیار تـــر نظـــر پـــورې | کـــل دفـــتر د معرفـــت شي |
| | (خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۹۰۲). |

| | |
|---|---|
| د فقـــــیر دیـــــوان پښــــتو دی | د ســـــعدي دی لـــــه شـــېرازه |

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲٦٥).

له منطق الطير څخه اغېزمنېدل

دا شـــــعر دی ده لوســـــتی پــــه خپـــل منطـــق الطـــير
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲٦۳).

چــې يــې منطــق الطــير ولوســت (هـــم) د دغ طــير پـــروازي ده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۹).

د هندي ژبې اغېز

پـــير کامــــل لــــره ور درومـــه بـــې کامـــل بـــه شـــې اوداســـه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۷۱).

۱۹. ديوان يې په ژوند بشپړ کړی

د فقـــير پښـــتو ديـــوان دی دا ديـــوان حقـــاني خـــوان دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۵۲).

۲۰. د مجازي مينې پر حقيقت د بدلون لپاره د سلطان محمود او اياز د مينې کيسه راوړي:

پـــټ پـــه زړه ور سره راز کـــا لـــک محمـــود کـــا لـــه ايـــازه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲٦٥).

۲۱. د لومړي ځل لپاره په شعر کې مخففات کاروي، زما په نظر تر غربي نړۍ وړاندې په پښتو ادب کې دغه کار تر سره شوی دی. په لاندې بيت کې (کنرزح) له ( کلمه طيبه، نمونځ، روژه، زکات او حج) څخه جوړه شوې کلمه ده:

کـــــنرزح دی پنځـــــه حرفـــــه دا پنځـــــه واړه لـــــه شرفـــــه
دا خـــــبرې دي لـــــه دلـــــه نـــه لـــه نحـــوې نـــه لـــه صرفـــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۷۵۲).

۲۲. د پښتو ژبې د پرمختګ د مخالفانو پر وړاندې لومړی غبر پورته کول د ارزانی په کلام کې ليدلای شو:

دا خـــــبره کـــــه پښـــــتو ده خـــوک دې نـــه کـــا ځنـــې کرکـــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۹۳).

۲۳. د ملا مخالفت د ملا ارزاني په ديوان کې په لومړي ځل تر سترګو کېږي:

د مـــــــلا حـــــــرص د روي تـــل دی بنـــد پـــه شـــير پيـــروي

تر سپینې ږیرې پورې　　　ملا پروت دی ادې روي
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۷۶).

۲۴. فلسفي پوښتنه

دا کلام دی فقیر کړی　　　دی پرنا یې زړګی وړی
چې اول وه ونه شوې　　　که پیدا و وړومبی زړی؟
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۴۷۲).

۲۵. شعر یې اوس متل دی

که ته زر کاله زنده یې　　　عاقبت د ګور بنده یې
د دین غم دې پسې شا که　　　د دنیاګۍ به دهنده یې
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۹۰۹).

۲۶. د پرلپسې نظمونو بنسټ د نوموړی په دیوان کې راغلی دی.

۲۷. د عرف خلاف  د تناسلي الې نوم راوړل یا تایو راوړل

و دا خپل اصل ته ګوره　　　چې ته یې له دې څلوره
په ابا کې یې مني وې　　　غڼ یې ور وستې تر موره
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۲۶).

په پورته ځانګړنو سربېره نورو داسې ځانګړنې دي چې د ملا ارزاني سبک مور ته راپېژندلی شي، لکه په ابتدايي ډول یې د بلاغي فنونو مراعت کړی:

**۳. ۲. ۱. ۲. ۲. د ملا ارزاني په شعر کې بلاغي توکي**

**۳. ۲. ۱. ۲. ۲. ۱. بیان**

بیان د بلاغي علومو څخه دی چې د خبرې د ښې څرګندتیا په موخه کلام په بېلابېلو بڼو اړوي. دلته ارزاني هم تشبېه، استعاره، کنایه او سمبولونه په لومړۍ بڼه راوړې دي.

۱. تشبېه ساده کاروي

حق نزدې ته ځنې لرې　　　ستا یقین لکه کلخه
د یقین سپنهسي کړه مزي　　　ځنې واخله دشک نخه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۴).

۲. استعاره

که دې نوس دیوث هوس کا　　　وایه کړې مه غېبره

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۲۵۲).

که نوسک درته وغاپي ورته و وایه کړې شه

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۲۷۴).

۳. مرسل مجاز

عام د خاص لپاره

دا کلام دی له کتبه زر به درشي د مرگ تبه

د کتاب خبرې راوړې ارزاني په پښتو ژبه

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۵۹۸).

جزیت علاقه

دا فقیر نه دی خود رایه نه دې طمع کا بې خدایه

هر چې بې خدایه کا طمع مخ یې تور دی په دوه سرایه

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ٦۲۷).

تېرې زمانې له مخې یې انسان یادول د نومونو ځانگړنه ده، ادم (ع) له خاورې پیدا دی نو ځکه دلته خاوره یاده شوې او مراد ترې انسان دی.

چې دا خاوره کمینه شوه د ابلیس په دا کینه شوه

دا کینه د ابلیس اور شو په کمی خاک نگینه شوه

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۷۲۲).

سیمرغ د تصوفي قراردادي سمبول په بڼه

دا سیمرغ مرغه نن غواړه د خپل زړه له کوه قافه

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۲۸۷).

فصاحت او بلاغت

نامانوسې کلمې کارول: (غوله) نامانوسه کلمه ده.

د کثرت په میدان راغی د دیو دېرش حرفو له غوله

(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۰۵).

**۳. ۲. ۱. ۲. ۲. ۲. بدیع**

بدیع د بلاغي علومو له فروعاتو څخه دی چې ملا ارزاني په خپلو شعرونو کې په ابتدایي بڼه پاللی دی، زه یې دلته یو څو ادبي جوړښتونه د بېلګې لپاره راوړم:

۱. **تلمیح**: په لغت کې لیدو او اشارې کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح که شاعر په خپل کلام کې یوې مشهورې پېښې یا کیسې ته په لنډه توګه اشاره وکړي یا د یو آیت یا حدیث ژباړه په خپل کلام کې راوړي.

لکــه اســماعیل عیــد قربــان شــه　　　خـــودي کـــړه خپلـــه ذبَحـــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۳).

دویم ډول تلمیح (د ایت ژباړه): لاندې یې د سوره اخلاص ژباړه راوړې ده.

مـــولی پـــاک دی بـــې شریکـــه　　　منـــــزه لـــــه وروره خـــــوره
نـــه لـــه ده دی څـــوک زوولي　　　نـــه دی شـــوی دی لـــه مـــوره
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۵۵).

۲. ګړنه: که چېرته شاعر په خپل کلام کې مشهوره ګړنه یا اصطلاح راوړي نوموړی ادبي صنعت ورته وایي. په لاندې بیتونو کې (ادې بوره، ږیره کله او خور او ورور ) ګړنې دي.

چـــې موجـــوده شـــه یـــې پرېښـــود　　　پـــر هیغـــو شـــوه ادې بـــوره
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۵۴).

هـــر چـــې بـــې مـــولا بـــل ســـتایي　　　د هیغـــــو ده ږیـــــره کلـــــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۰۷).

فلـــک پـــلار زمـــین یـــې مـــور دی　　　غـــم ښـــادي د فلـــک وور دی
پـــه دا وور یـــې بـــاور نشـــته　　　غـــم ښـــادي یـــې خـــور او ورور دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۸۴۰).

۳. تجنیس: تجنیس په لغت کې همجنس کولو ته وایي، د ادبي فنونو په اصطلاح که په یو بیت یا نیم بیتي کې دوې یا زیاتې داسې کلمې راشي، چې په بڼه ، وزن د تورو شمېر ، لیک او لوست کې یو شان یا څه سره ورته وي او په معنی کې سره توپیر ولري.

ای زمـــــا دلـــــه کاواکـــــه　　　د تـــا څـــه لـــه دېغـــه واکـــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۹۰).

چـــې یـــې میـــل لـــه دینـــار دی　　　دا دینـــار یـــې د دیـــن نـــار دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۸۲).

پــه قـــدرت غیبـــي ترخځـــه          رغوینــــــه نـــــــر او ښـــــخه
پـــه هـــر کـــس یـــې امـــر کـــړی          بـدي مــه کـړه تــه پــه ښــه ځــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۱۴).

ځــو وي پـــټ د مـــور پـــه خونـــه          ســتا خـــوراک د مـــور لـــه خونـــه
ســـتا یـــې رزق د نـــاف لار کـــړه          چـــې دی پـــاک دی لـــه رخونـــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۱۵).

۴. تخفیف

د مرګـــــي تېـــــره شمشـــــېر دی          پـــه دا غـــوځ روبـــه هـــم شـــېر دی
کـــــل نبـــــي ولي یـــــې وهـــــلي          هـــــر بادشـــــاه لکـــــه نوشـــــېر دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۹۴).

۵. افراد: افراد د (الف) په زبر په لغت کې جدا کولو بېلولو اوهم یو ځای کولو ته وایي. د بدیع په اصطلاح هغه ادبي صنعت دی که شاعر یا ناظم د قافیې په کلمه یا کلمو کې د الفباء د ځو تورو نومونه راوړي چې د هغو له یو ځای کولو څخه هغه کلمه یا کلمې جوړې شي چې د شاعر مراد وي.

دا فقـــــیر د فقـــــیر شـــــمعه          دی لـــه غیـــرو نـــه کـــا طمعـــه
دا ط مـــیم او عـــین بـــه نشـــي          د فقـــیر پـــه زړه کـــې جمعـــه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۶۲۷).

۶. جمل له مخې معمی: جُمل په لغت کې حساب یا د تورو حساب ته وایي او په اصطلاح که شاعر کوم نوم، نېټه یا بل مطلب د ابجد و د حساب پواسطه په رمز سره راوړی وي. د جُمل (حساب) په ډول معمی ورته وایي.

ارزاني وینـــــا کـــــړه عـــــرض          اشـــــنایي د حـــــق ده فـــــرض
د دې عـــــرض تـــــاریخ و غـــــواړه          په حساب له حرفه یـرض (۱۰۱۰هـ).
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۶۷۴).

۷. تشخیص: کله لیکوالان او شاعران هغه ځانګړنې او صفتونه چې پـه انسان پـورې خـاص دي ځینـو شـیانو او حیواناتو ته ورکوي.

اړ پـــــه دا بـــــه څـــــه پـــــوهېږي          چـــې د فکـــر پښـــې یـــې شـــلې
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۶۲).

۸. طباق الاضداد: طباق په لغت کې یو ځای کولو ته وایي. په اصطلاح کې طباق الاضداد هغه ادبي صنعت دی چې شاعر په خپل کلام کې دوې مخالفې معناوې راوړي، نوموړي صنعت ته تضاد، تناقض، تقابل او مطابقت هم وایي.

هغـــه لـــوی شي چـــې هلـــک شي | چـــې هلـــک شي لـــوی ملـــک شي

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۹۱).

۹. شاعرانه تعلی: تعالی په لغت کې اوچتوالي ته وایي. په ادبي اصطلاح که چېرته شاعر پخپله په خپل کلام کې د شعر جوړونې په اړوند ځان وستایي شاعرانه تعلی ورته وایي.

ارزاني خپـــل زړه ځرخـــه کـــړ | دا غـــزل یـــې پـــرې ورتلـــی
د خپـــل عقـــل پـــه میـــزان کـــې | دا غـــزل یـــې دی تللـــی
کـــل چیـــده چیـــده گلونـــه | پـــه پښـــتو هـــار یـــې پېیلـــی

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۴۰۲).

۱۰. ذوالقافیتین: که چېرته شاعر په خپل کلام کې دوې قافیې راوړي، ذوالقافیتین ورته وایي.

زړه مـــې وړی د حـــق ســـور دی | حـــق خـــالق د ســـپین او تـــور دی
چـــې د نـــوس بـــه ټټـــو ســـور دی | رنـــگ د سړي پـــه خـــوی ســـتور دی

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۲۵).

۱۱. مذهب کلامي: هغه ادبي صنعت دی چې شاعر د خپل مطلب د اثبات لپاره یوځرگند دلیل د اورېدونکي له طبعې سره برابر راوړي او شاعر د استدلال او تفسیر له لارې خپله خبره مخکې کړي.

هـــر چـــې خپـــل دښـــمن زبـــون کـــا | دا دښـــمن بـــه خپـــل مغبـــون کـــا
د هغـــــه نمـــــونځ روا نـــــه دی | چـــې اوبـــه وي دی تیـــون کـــا

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۲۷).

**۳. ۲. ۱. ۲. ۲. ۳. قافیه**

د تورو بدلول: دلته گورو چې د ( ستغه او کاغذ ) پر ځای (ستخه او کاغز) راوړل شوی دی.

ارزاني وینـــــا رښـــــتیا ده | دا رښـــــتیا وینـــــا ده ســـــتخه

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۴).

د دویـــی حـــرف کـــړه تـــه محـــوه | د دې خپـــل زړه لـــه کـــاغزه

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۶۷).

د اصلي او معمولی قافیې ګډون: لاندې بیت کې (دوده). کلمه کې (ده) د کلمې اصلي برخه ده او په (جادو ده) کې (جادو) بېله او (ده) بېله کلمه ده چې دلته یې له (دوده) سره (جادوده) همقافیه کړې ده. همدا ډول (نقده، حقده او ورقده) درواخلئ.

د دې محبت له دوده — مولی کړې ځه جادوده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۶).

دا پښتو وینا ده نقده — کل ثنا صفت د حقده
ارزاني فقیر راوړې — د دې خپل دل له ورقده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۷۰۳).

(س او ص ) توري د غږ له مخې توپیر لري چې ژبپوهان پرې پوهېږي خو دلته د قافیې په کلمو کې د (روي) بڼه خپلوي.

هر چې دا دیوان په لاس کا — دی دې زړه له زنګه خلاص کا
هر طالب چې دا ګل بوی کا — تل صفت دې د لباس کا
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۴۵۴).

همدا ډول (ف او پ) یو اواز ګڼي:

چې راغلی په هر روپ دی — دی عارف د لوی معروف دی
ګهې خوږ نی شکر دی — ګهې سیر و پیاز و تروپ دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۴۹).

موسسه قافیه ډېر کم شاعران کاروي چې په دغو پښتو سرلارو کې ملا ارزاني ته د دغې قافیې راوړل ځانګړې دي او بیا نورو شاعرانو کارولې ده.

که کاذب سبح سارق دی — دا رښتیا صبح صادق دی؟
د صادق پسرو چې تور شي — دغه وخت د ده لایق دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۷۸).

سختې قافیې کارول

د رعیت بادشاه راعي دی — رعیت د شه راعي دی
چې رعیت ازاروینه — دی خپل زه خوري افاعي دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۶۲۰).

د مضاعف ردف قافیې ډېرې کمې کارېږي چې د ملا ارزانی په دیوان کې د لومړی ځل لپاره راغلې ده.

حق محیط په گوشت و پوست دی　　غیر نشته همه اوست دی
کل اشیاء په ده ښیوه کا　　که دښمن دی که یې دوست دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۸۹۶).

کله تخلص د غزل په پای کې دوه بیته پایمخته راوړي:

ارزانی په پښتو ژبه　　ښه صفت کا له هر بوله
و طالب به یې پېش کش کا　　چونه برگ کت له تنبوله
د عارفو پرې خوښي ده　　د احولو پرې ملوله
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۰۵).

**۳. ۲. ۱. ۲. ۲. ۴. وزن**

د وزن لپاره کلمه ماتول یا هم یوځه ترې کمول چې دلته د (مباحه) له کلمې څخه (الف) یې د قافیې د سمون لپاره غورځولای دی.

له سروده درود خېژي　　پر طالبو ده مبحه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۳).

**۳. ۲. ۱. ۲. ۳. گرامر**

د ارزاني په دیوان کې گرامري باریکی هم شته چې دلته یې د بېلگې له مخې ځینې راوړم:

۱. هلک د ورکوټي په مانا کاروي چې نن سبا یوازې د نرینه ماشوم لپاره کارېږي:

له خناس سره مه نښله　　بې تېرې تورې بې سپره
نور جنگونه دې هلک دي　　ستا دغه غزا ده ستره
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۵۸).

۲. ورختل، ورختن لیکي:

بیا به ورشي تر بلوغه　　ته غافل مه شه ای شوغه
د غافل به ورختن وي　　د شیطان له توره توغه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۱۷).

۳. استاو، د استول شوي یا لېږل شوی په مانا کاروي چې اوس نه کارېږي.

دا مرگی د حق استاو دی　　تر اور گرم د ده تاو دی
هر تیر په زمکه راشي　　چې پاس تللی په اړتاو دی
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۳۲).

۴. هلکې کلمه د نجونو لپاره کاروي:

دا دنیا د غم موجونه          پر هر دل یې ساز فوجونه
زن و مرد یې دی نیولی          هم هلک هلکې نجونه
(خوږشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۳۴).

۵. مرستیال فعل د ښځینه او نرینه دواړو لپاره د نرینه په بڼه راوړي:

دغه کدب توره شپه دی          په تیاره یې لوگ خفه دی
د دې شپې چې مخ تور شوی          د دوزخ د اور څپه دی
(خوږشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۷۹).

٦. ویی د کلمې لپاره د لومړي ځل لپاره کاروي:

ارزاني دا ویي غښتي          د خپل دل له باغ اوښتي
هغه کور دې نن په گور دی          چې له کوره دې اوښتي
(خوږشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۸٦).

۷. د مغغنو کلمو کارول د ارزاني په دیوان کې لیدل کېږي، دلته یې عورته د (مېرمن) لپاره راوړې ده، بله نکته چې پکې گورود (طالاکا) ترکیب دی (طالاقه) چې هماغه د اصلي او معمولی قافیې گډون هم ترې څرگندېږي او هم (ق) پر (ک) اوښتی دی:

د کور سړي به دې غوغا کا          څوک به وي څوک به وېلا کا
هغه ستا مهري عورته          دا پر تا به شي طالا کا
(خوږشکی، ۲۰۰۵ز، ۹۲۴).

**۳. ۲. ۱. ۲. ۳. د ملا ارزاني د شعر موتیفونه**

د فکر، کلمو او ترکیبونو تکرار چې په موتیفونو اوښتي دي. د نوموړي په دیوان کې ( ارسي او زنگ، دوبین، یقین، گمان، پټ شرک، سپېره، کامل، احول، لا، ځان ته فقیر ویل، غین او عین، نوس، خفي او جلي ذکر، پنځه حسه، چار عنصر، دنیا، پنځو حواسو ته پنځه غلگي ویل، د کامل پیر پر لور بلنه، خودي له منځه وړل، د معجزو بیان، مجاز او حقیقت، د وحدت تصور، په الف کې، احد او احمد کلمې د وحدت او کثرت لپاره کارول، اوتاد، قطب، غوث، لاهوت، جبروت، ملکوت، او ناسوت یادول، د انسان پر خلقت نظم ویل، د اتو مقامو ذکر کول او بیا د هر مقام د تورو شرحه راوړي، همه اوست نظریه او د قران او حدیثو زده‌کول ) په تکرار سره لیدل کېږي چې بیا همدا فکر د ټولو روښاني شاعرانو په شعرونو کې یوډول تکرار راغلی دی او روښاني ادبي ښوونځی یې را منځته کړی دی:

ستا د زړه ارسي ده زنگه   په پټ ذکر يې کړه صافه
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۲۸۷).

دا رښتيا وينا لاشه ده   د دوبين په زړه ده لکه
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۲۹۲).

د کامل تلقين بياتي کړه   د گمان لنگی پرې سکوله
د گمان تياره کړه لرې   د يقين ډيوه کړه بله
د لويی اسم شانه کړه   د پټ شرک سپږه کړه بيله
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۲۹٦).

يو چراغ دی چې بلېږي   پوشيده دی له احوله
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۰٦).

دا د لا توره در واخله   دا خودي کړه پرې دوه نيمه
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۰۸).

چې فقير وايي حرفونه   يو اقوال ئې شريعت دی
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۲۱).

په دې غين کې دې دا عين هم   که نقطه دې نن وکو وه
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۳۳).

که دې نوس درته و غاپي   ورته و وايه چې کيږې
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۴۴).

که خفيه ذکر هر دم دی   د جلي وخت پر سحر دی
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۳۵۹).

پنځه حسه پنځه غله دي   تل د نوس د شيطان مله دي
خناس جلاس د شيطان زويي   زويي تل د پلار پر پله دي
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۸۸۹).

چې دا کاف له نونه کن شه   چار عنصر د ده کارکن شه
ماشاء يې واړه وکښول   لم يشاء يې لم يکن شه
(خوښکی، ۲۰۰۵ز، ۸۹۵).

دا دنيا فاني ده لاله   دا دنيا ده بکره زاله

که صبا یې زړګی ښه کړي ،، دا بېګاه له تا ملاله
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۹۰۸).

که مقصود غواړې ته بند کړه ،، دا پنځه خمسه حواسه
که دغه غلګي دې بند کړه ،، به عاجز کړې کل مواسه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۷۲).

تر مقصوده به ور نشې ،، بې کامل پیر و رهبره
د نفې توره در واخله ،، پرې خودي کړه زېر زبره
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۶۰).

حق په کاني کښې ورکړی ،، سبزه پانه و چمچې ده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۷).

حقیقت یوه معنی ده ،، په صورت کې مجازي ده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۸).

دا احد په میم احمد شه ،، احد یو دی له احمده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۵).

دا شماري تر کروړه لکه ،، کل پیدا دینه له یکه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۹۱).

څوک ابلیس خناس جلاس شو ،، څوک پلیت کافر ملوث
څوک نبي ولي پاکان شو ،، څوک اوتاد قطب شو غوث
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۲۴۰).

ستا اول مقام مني ده ،، دا مني دې ګنده ګونه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۳۱۸).

د دې علم ښه ډېوه ده ،، دا عمل د دې مېوه ده
هم دا علم عمل دواړه ،، د اخلاص مېوه ښېوه ده
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵۷۰).

څوک بادشاه سواره شو پلي ،، څوک یې رخ فیلان شو نښلي
چې تمامې شوې مختلفې ،، پر شطرنج وبله ولي
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۸۱۰).

| | |
|---|---|
| حق محیط په گوشت و پوست دی | غیر نشته همه اوست دی |
| کل اشیاء په ده ښوه کا | که دښمن دی که یې دوست دی |

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۸۹٦).

| | |
|---|---|
| ارزاني پښتو ابیات | په دا لار درومه هتیات |
| په دوه لاس وړه دوه چراغه | یو حدیث بل له ایات |

(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۵٦۸).

### ۳. ۲. ۱. ۳. مېرزاخان انصاري

مېرزا خان انصاري د پښتو مشهور صوفي شاعر و، نوموړی د نورالدین زوی او د بایزید انصاري لمسی و. واده یې د خپل تره جلال الدین له لور بي بي نور خاتون سره شوی و. د پیدایښت کال یې د عبدالاکبر خان اکبر په وینا (۹۷۵ او ۹۷۰هـ ق) ترمنځ دی او د همېش خلیل په وینا (۹۸۸هـ ق) را لېږدول شوی دی. (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴٦۷).

مړینه یې پر (۱۰۴۰هـ ق) د دولت لوانې د لاندې بیت پر بنسټ لاسته راغلې ده:

| | |
|---|---|
| د دکن په جنگ شهید شه خوشنود اوسه | په تاریخ د زر څلوېښت د ده گذر و |

نوموړی د شاه جهان بادشاه د تخت نشینۍ پر څلورم کال (۱۰۴۰هـ ق) چې د زیږدیز کال له (۱٦۳۰ ـ ۱٦۳۱) سره سمون خوري د دولت اباد په جنگ کې شهید شوی دی. (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴۷۵).

#### ۳. ۲. ۱. ۳. ۱. مېرزا انصاري د شعر ځانگړنې یې

۱. مېرزا خان لومړنی شاعر دی چې شعر ته یې هنری ښکلا ورکړه.

۲. مېرزا خان لومړنی شاعر دی چې په بشپړ دیوان کې یې د وزن، بحر او عروضو په تله تللی غزل وړاندې کړ.

۳. د نوموړي د شعر سرچینه هم د وحدت الوجود فلسفه ده. د نورو روښاني شاعرانو په پرتله د ده په شعر کې د وحدت الجود پر فلسفه سربېره روماني توکي هم شته چې وروستو شاعرانو ښه پاللي دي.

۴. مېرزا خان انصاري په خپله شاعرۍ کې د عربي، فارسي، سنسکریت او هندي ژبو کلمې ښې ډېرې کارولي دي.

۵. په پښتنو شاعرانو کې لومړنی شاعر دی چې دیوان یې د شعر په ټولو هنري خواوو بشپړ دی.

٦. مېرزا خان انصاري لومړنی کس دی چې د وحدت الوجود تصوفي فلسفه یې د غزل په نازک بدن کې په شاعرانه نزاکتونو ځای پر ځای کړه.

۷. د ده په شعرونو کې هم د پښتون قوم د ودې څرکونه شته:

څو د جهل په خوبونو کې محکم یې　　　د مرزا وینا به څه اروي پټان

۸. په شعر کې د کامل پیر ذکر کوي:

د کامل د صحبت هسې رنګ تاثیر دی　　　چې دلې شي له هغه جهان خبر

۹. دی هم د وحدت الوجود فلسفه د احد او احمد په کلمو کې توپیروي:

احمد یو دی له احدَ　　　که د میم رشته کړې پورته

۱۰. د پیر روښان د ستاینو په تړاو په دیوان کې ډېرې بیتونه راوړي، لکه:

د مرزا په خوله وییږم　　　یو روښان بې مثله زه یم

د روښان ثنا په کومه ژبه وایم　　　هر اواز یې دلالت دی له تعریفه
ذمیمه یې په نظر حمیده کېږي　　　د صحبت اثر یې تل وي له توصیفه

۱۱. نوموړی هم د ارزاني په څېر د بایزید روښان د تصوفي فلسفې اته مقامونه په خپل دیوان کې سره له تشریح وړاندې کوي. (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴۶۸ ــ ۴۹۲).

۱۲. مرزا خان انصاري د بایزید روښان د وحدت الوجود فلسفې پر اتو مقامونو سربېره په عمومي ډول د وحدت الوجود د فلسفې ټول مقامونه ذکر کړي دي.

**د مېرزاخان انصاري پر شعر د عربي، فارسي او هندي ژبو اغېز**

که شیر خور وي طعام خور شي　　　اخر زده لا و نعم کا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۷).

اتفاق په یګانګی دی باور وکړه　　　په یوه وجود کې زید و عمر مه شه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۵۳).

دغه بخت د بختور په حساب نه دی　　　زنار دار که ورته ډېر وایي ګلیانه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۳).

دا څـــه وخـــت شـــو د هـــولی هنـــــدوان ټولـــــه شـــــو لـــــولی
زه و تاســـــې و تـــــه وايـــــم ای د بـــــــــرهمن تـــــــــولی
عقـــل کـــل درخخـــه والـــوت چـــه ايـــام شـــو د هـــولی
نارينـــه چـــه ديوانـــه شـــوه هســـــې ښـــــځې دي بهـــــولی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۵۱).

**د ارزاني فکر پالل**

ســنگريزي پــه مېــوه دارو ونــو ووری د دې غـم لـه بـاره خلاصـه ده دا ولـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۰).

نـا تمـامو غـين د عـين پـه دود وکـېښ د گومـان نقطـه يـې واچـوه لـه قياسـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۴۹).

هر عالم چه پـه خپـل علم عمل نـه کـا پــه تحقيــق لــه جــاهلانو دی ســوا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۴).

محمـــود چـــې بادشـــاهي کـــه دی عاشـــق پـــه خپـــل ايـــاز دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦).

ســتا پــه کــور کــې پنځــه غلــه دي واړه ځـــای پـــه ځـــای اســـير کـــړه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱).

ا لــــــــولاک د ده وگــــــــوره پـــر کتـــاب بانـــدې تحريـــر دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ١٦).

**د حافظ فکر پالل**

دا خطيب چه کرشـمه کانـدي پـه وعـظ دی په کـوم هـنر شيوه کانـدي پـه وعـظ
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٧٦).

**خپله وينا ميا روښان ته منسوبول**

د مـــيرزا گومـــان فـــاني شـــو هـــر چـــې وايـــي ميـــا روښـــان دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵).

**د ميا روښان کرامت ته اشاره ده**

پــه اوبــو بانــدې د ده څـراغ بلېـږي شرک گومان يې په کې سوځي لکه خلی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۷).

**پرېشان په وضعي مانا کارول**

هغـــه زړه بـــه جمعـــه نـــه شي چـــه بـــه هـــيڅ پســـې پرېشـــان دی

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۰).

**د طبيعت يادول**

که يـو ځـل د محبـت عجـب بـاران شي دغه پټ ښايست به رنګ په رنګ عيـان شي

بـاد بـه بـوی د دغـه زړه وړي لـون لـون هغـه زوړ عـالم بـه سر لـه سره ځـوان شي

ارغـوان بـه عقيـق جـام و سـمن ورکـه چـه نـرګس و شـقايق تـه نګـران شي

بنفشـه بـه تفـرح کـا پـه خـاطر کـې او د بـوی پـه عمـل مينـه د ريحـان شي

پـر بلبـل چـه د هجـران غمونـه تېـر شي پـه ديـدن بـه د ګلونـو پـر فغـان شي

دا چـه زه پـه ګـل و مـل کـړم ډېـره مينـه سر لـه سره انديښـنه مـې د خـزان شي

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲۴).

**د زړه راز پټ ساتل**

يـو زمـان کـه د زړه حـال پـه ژبـه راوړم هر يو حرف به يې د هـر ديـوان دفـتر شي

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱۷).

د خـودبين لـه وېـرې حـال ويـلای نشـم دا دخـولې خـبرې نـه دی زړه مـې چـوي

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۴۰).

**عشق ته پر عقل غوره والی**

معرفـــت ځنـــې پيـــدا شـــو عشـــق د عقـــل پـــلار و مـــور دی

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۰۱).

محبـت بـه دې د عقـل پـيروي کـا که دا عقـل تـه دعشـق پـه رضـا بنـد کـړې

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲۷).

**د ځان قدر کول**

د مـيرزا قـدر بـه هالـه در ځرګنـد شي کـه اشـنا تـه د اشـنا پـه نظـر ګـورې

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲۵).

**جبر او اختيار يا تقدير**

کل اختيار د نېکو بـدو دې پـه لاس دی هـر چـه اوس در سره وړې هغـه بـه راوړې

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲٦).

**صورت ته کفر ویل**

د آزاد نامه پر ده بانـدې صحیح شوه
د صـورت لـه کفـره ووت و اسـلام تـه (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۳).

**ښېراوې**

پسو خوښ په حیوانی کې فراغت یې
خـدای دې واخلـه د پنجـاب نادانـه جټـه (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۵).

**غوث ته خطاب**

په هستی کې مې گومان و بیا مېنه مونده ای غوثه
واړه بود زما نابود و اوس مې بود مونده ای غوثه (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۸).

**تېر ارمان**

تـرو بـه څه لـره د تېـر عمـر ارمـان کـړم
چـه اول مـې فکـر ونـه کـړ شـوه تېـره (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۳۸).

نن ساعت چه دې په لاس دی ښه یې گوره
بېهـوده بـه دې بـر تېـر سـاعت ارمـان شي (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲۴).

**شمس تبریزي یاد**

ای میرزا روښان پـر هـر لـوري جلوه کـا
تبریـزي آفتـاب را وخـوت لـه بنېـره (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۳۸).

**د شیطان مکالمې**

پـه اسـمان کـې معلـم د ملکـوت وم
او د ځمکـې مـخ مـې درمنـد د طاعـت و

چه تښتن زمـا بـه لار کـې لومـه کښېښـوه
چـه دانـه یـې د دغـه آدم خلقـت و

د آدم صـورت لـه خـاورو زه لـه اوره
دا د حلـم نـور د خـاورو لایقـت و (انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹۴).

**ماضي له حال سره نښلول او مرگ به یاد لرل**

لـه اولـه بـه کـلام کـړم
زه بـه یـاد د مـولا نـام کـړم

او فرقـان مـې دی منلـی
زه بـه خپـل پېشـوا امـام کـړم

امتي د پیغمبر یم     او خدمت د پیر تمام کړم
پردیسي یم په جهان کې     نن به سیل پر دا گرام کړم
نوشېروان تر جهان تېر شو     څو خبرې د بهرام کړم
د جمشید حکمت فاني شو     ډېر تعریف به یې له جام کړم
د سکندر آیینه څه شوه     چه ډېر پټ پکې اعلام کړم
د دارا له حاله وایم     که یاد کرد د سیتا رام کړم
چه سلیمان له تخته پرېووت     څه امید به به ایام کړم
د امواتو حال مې را وړ     پر حیاتو به پیغام کړم
دنیا ټگه ده طراره     محبت به یې حرام کړم
دا زړه ده خیال یې مه کړه     هتیاتي به یې له دام کړم
عجب گنج مې قناعت دی     پرې پرېشان خاطر آرام کړم
له تیرا یمه راغلی     نن صفت پر کړیوام کړم
خپل اختیار مې دی پخپله     میرزا څه لره بدنام کړم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸۹).

**د قران ظاهري جوړښت ښيي.**

نن به وکړم څو صفته     د مولا له ارادته
هر یو فعل چه یې وینې     خالي نه دی له حکمته
پر احمد نزول قران شو     چې سل څورلس یې صورته
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱).

**د روښان يادول او اغېز مني.**

د میرزا کلام شرین شو     د روښان له برکته
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲).

د میرزا په خوله وییږم     د روښان بې مثله زړه یم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸۴).

**پښتو يادول**

نن میرزا په پښتو کړی     د یوه مولا صفت دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲).

د ادم ع کيسه يې ترپايه په نظم کړې.

### ۳. ۲. ۱. ۳. ۲. د مېرزا انصاري په شعر کې بلاغي توکي

میرزا خان انصاري هم ډېری بلاغي علوم په خپل دیوان کې په پام کې نیولي دي چې دلته يې بېلگې راوړم:

مـــیرزا ډېـــر وايـــي پـــه لـــږ کـــې ‏ ‏ ‏ ډېـــر پـــه لـــږ کـــې انتخـــاب دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۹).

### ۳. ۲. ۱. ۳. ۲. ۱. بيان

د مېرزا خان انصاری په دیوان کې د بیان په تړاو ډېری بېلگې په پام کې نیول شوي دي چې ځینې یـې دلتـه د بېلگې په بڼه راوړم:

کنايه

صفت د موصوف لپاره په کنايي بڼه راړل:

ای میرزا محیط لـه هیچا لـیرې نـه دی ‏ ‏ ‏ وهـر چـا وتـه نـژدې دی لـه ښـارگه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۷).

کـه اشـنا شـې لـه سـاده سـاقي مهوشـه ‏ ‏ ‏ د توحید پیالـه بـه در کانـدي بـې غشـه
(خوېشکی، ۲۰۰۵ز، ۱۵۲).

مرکبه تشبيه

پر بانهو یـې لـویې لـویې اوښـې درومـي ‏ ‏ ‏ لکــه در چــه و پېیــې پــه تــور تارونــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸٦).

د هجران له دوکه تاو هسې پـه زړه ځـی ‏ ‏ ‏ لکه باد لـه مخـه اور پـه وچ واښـه ځـي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۷).

تلميحي تشبيه

پر مشتاق بانـدې دې هسـې زېـری وکـړ ‏ ‏ ‏ چه هدهـد پـر سـلیمان کـړ لـه بلقیسـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۵۱).

قبيحه تشبيه

د گومان بلغم دې کلک په زړگي و نښت ‏ ‏ ‏ تـه یـو ځلـه د بـاور پـه زور و ټوخـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۴).

تـه گـــــدای د ولایـــــــت یـــــې ‏ ‏ ‏ شــــاه د دوو کونـــــو مېرمنـــــده
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۵).

جمع تشبیه

په غفلت دې خاطر څرنګه ځنګل شو　　　شیطاني وسوسې کنې سپېره رچه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۰).

مفروقه تشبیه

تن تاریک زړه یې لحد روح یې مرده شو　　　آراسته صورت یې ګور باندې دربلی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴٦).

روح عیسی شیطان دجال دی　　　زړه مهدي او نفس یې خر دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۸).

نادره تشبیه

چه له اصله خبر نه وي　　　د هغوی خوی د کچر دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷).

زه مدام د یار په مینه شایسته وم　　　اوس نیمګړې کښیده یم بې انځوره
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۳۵).

د دې مستې شها زلفې تار په تار دي　　　غوړېدلی لکه سیوري په رخسار دي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۹).

تفضیلي تشبیه

د جمال جلوه یې زیاته ده له ورځې　　　او دا زلفې یې رواج وړي له دې جوره
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۳۷).

**مرسل مجاز**

خاکي د انسان لپاره د ماضي علاقې له مخې کارول:

پر خاکي باندې کرم چه د کریم شو　　　په کریم یې مقدم تر کل قدیم شو
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۳).

د زمان علاقه

پټنګ پټ په رموز و ویل و شام ته　　　چه زه ستا کرشمو در وستم و دام ته
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۳).

جزیت علاقه

لـه فـاني سرايـه لېـږدې پـر بـاقي ملـې		له نقصانه په کمال پورې بند دی لکه شمعه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۰).

ظرفيت علاقه

د کامــل مکمــل وي حميــد اوصــافه		په تلقين يې زنـګ زده سينه شي صافه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۳).

**۳. ۲. ۱. ۳. ۲. ۲. ۲. بديع**

خطي تجنيس

پــه بــار بــار بــه مــې د يــار ثنــا ويلــه		په ادب مې لـه شرطونـو ډېـر احتيـاط شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱٦).

اغراق

په تحمل زمـا خـراب خـاطر ور رسـېږي		او کـه آه کـړم ډېـر عـالم بـه وسـوزينه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۱).

سوال او ځواب

مـا ويـل نفسـک بـه پـه څـه ارام شي		ويـل يـې منګـر ورکـړې څـو ګوشـماله
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۸).

مقابله

سل سل کم همته هيڅ دي که باور کړې		يـو تنهـا بـاور يـې زيـات لـه سـله سـله
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۹).

تصدير: دبيت وروستی کلمه د ورپسې بيت په سرکې راوړل

ای مســــــکينه دل هلاکــــــــه		پــــه دا درک لــــه غـــيرو پاکـــه
هــر چــې غــير يــې فــاني کــړه		دا فــــاني نــــوم بــــه بقــــا کــــه
بــاقي يــو دی پــه هــر څــه کــې		لــــــون لــــــون تماشــــــا کــــــه
تماشـــا کانـــدی پـــه خپلـــه		دا عنصرــــ پـــــر مــــخ ردا کــــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۱).

هممانيز

لکه تا چې غنچـه زلفـې کـړې پرېشـانې		د عاشـق خـاطر هسـې پسـې خپـور کـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۲).

گړنه

مخلصان يې تر ابد حلقه بگوش دي          ښه وينا يې تل تر تله دی منيفه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦٦).

تکرار حسن

محبوبا له غافلانو بې نيازي کا          پر مشتاقو تر مشتاقو ده مشتاقه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۷).

تعلی

په ميرزا د کاملانو عنايت شو          چه کلام يې مختصر معنا رفيعه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۱).

مدعا مثل

مردگانو څخه عقل علم نشته          پر اودو باندې غبر وکړه ته ناڅاپه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۰۹).

د ميرزا خبرې لبر معنا يې ډېره          بينايي چه ده په کسي کې مکتومه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۳).

انځور

د فراق له حاله هيڅ ويلی نه شم          مدام اوښي اوېزاندې پر بانه وړم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹۳).

توريه

دا ستا زلفو مې دا جمع زړه پرېشان کړ          څه مجال دی چه يې يو په يو تقرير کړم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸۸).

د ميرزا په څېر به حقه گواهی ولې          د توحيد څراغ روښان دی که رڼا وړې
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲٦).

متل راوړل

د هر چا تر فهمه خپل وطن کشمير دی          ځان په ځان په خپله بخره دی مشعوف
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۷۸).

په هسې سفر تله شي له ضروره          عاقبت د هر چا خپل وطن کشمير دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۰۲).

تاریخ گویي

په تـاریخ د زر څلوېښـت وایـم دا خـبر		چـه لیـده شـوه پـر دکـن گجـرات جـبر
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۷۲).

ردالقافیه

نـــــن نـــــاره وکـــــړه حبیـــــب		ښـــــه اواز یـــــې دی عجیـــــب
د زړه مهـــــر یـــــې پیـــــدا شـــــو		کـــــه مـــــې ولیـــــده حبیـــــب
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦۴).

توری غورځول

چه مې هسې رنگ نژدې فتحه روزي شوه		ښـادنامه بـه پـه یسـار او پـه یمـن کـړم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸۱).

بد خارښت یې په نادانو باندې خور که		دانایـان خپسر سـاتي لـه هسـې پومـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۵).

توری زیاتول

یو عجب خـال دی د ورځیـو پـه پیونـدر		بیـا پـه څـو دی و عاشـق و تـه څرگنـدر
دواړه سترگې دې همېش د زړونو ښاکار کا		د نظـر غشـی دې لگـي لکـه تنـدر
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦۷ او ٦۸).

زه دې هـــر څـــو پورتـــه بـــولم		تـــه بـــدتر درومـــې پـــه کښـــاته
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۱).

نا مشدد مشدد کول

کـه مـې زړه بـه دا فکـرت شي متحـیّر		چـه دا کـل اشـیا پـه ذات وینـم یـا غـیر
د یکتا دستور چه دی هسې به تـل وي		د بـې رنـگ رنگونـه نـه شـی متغیّـر
د مولا طلب لـه فرضو پخوا فـرض دی		په حجاب یې ډېر گناه دی حضـور خیر
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦۹).

تجرید

ای مـیرزا پـه مـرد و زن امـر دغـه دی		چــه پــه قصــد د نهــې نــه شي تقربــا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۷).

مراعات النظير

گــه اوره برېښـــنا تـﺌـا چــه بـارانووري　　　گـــــه اوړی منــــی ژمــــی او بهــــار شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۸).

د صفات اسـتوگنه چېرې شي بې ذاتـه　　　يــخ بړلــی واوره نـــه پـــايي بـــې تېنـــده
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۷).

لـــه قســـمته لا چـــاري ده عـــلاج نشـــته　　　پـــه ناكـــام لكـــه تنـــا برېښـــنا اوره ځـــي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۷).

تسميط

حياتی زما د ځان يې ای تر ځان پر ما لذيذه　　　ته هستی د كل جهان يې تر جهان پر ما لذيذه
و هر چا يې رسېدلی هر چا نـه يـې پېژنـدلی　　　د ايمان ځای دې نيولی تر ايمان پر مـا لذيـذه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۸).

تلمېح

مشهورې پېښې ته اشاره

د ســــــليمان حالــــــت دې نشــــــته　　　څــــه حاصـــــل دی لــــــه نگينــــــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸).

ژباړه

له اورو يې ښه باران پر ځمكه كښې كړ　　　ځای په ځـای يـې نباتـات بانـدې كـرلي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۴).

طباق

لــــه فردوســــه بــــه توبــــه كــــړې　　　بــــې پــــروا بــــه لــــه ســــقر شــــې
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۴).

لكـه تانـد د نـو لـه زوره تـازه كېـږي　　　هســې وچ نتيجــه مــومي لــه چقماقــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۶۷).

شبه اشتقاق

د ذاكـر چــه محبـت شـو لــه مـذكوره　　　پــه دا ذكــر يــې پــرده شـوه لـه زړه دوره
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۳۶).

اقتباس

خلاقــت یــې د خاصــانو و ده ور کــه | دا خــاکي آدم في احســن تقــویم شــو
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۳).

**۳. ۲. ۱. ۳. ۲. ۳. قافیه**

د روي بدلون

لکــــه ابــــر پــــه بهــــار شي | چــــه را یــــاد د یــــار دیــــدار شي
د فقــیر مــیرزا صــورت د بــڼ تــوتي دی | که هر څو یې ښه ساتي له تـا بـه ولاړ شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱۵).

چسته قافیه

بلــه مــه وای د هجــران تېــره خارونــه | چه همېش پـه خـوږو زړو کـا پرهارونـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۵).

سخته قافیه راوړل

الــف یــو یــوازې ســم دی بــې نقــط | د گومــان خویونــه کــل ځنــې ســقط
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۷۵).

حرف غورځول

پـه رضـا یـې واړه چـارې پـوره کېږي | هــر صــورت یــې نــوی نــوی اختــرا
دغه اسـم چـه اعظـم جـامع الاسـما دی | کــه دانــا یــې دا لــوی مصــدر درا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۸).

د قافیو تکرار

یو عجب خال دی د ورځیـو پـه پیونـدر | بیـا پـه څـو دی و عاشـق و تـه څرگنـدر
په دې هسې تـیر گایـل شي نـه رغېږي | دا یــو حــال دی طبیبــانو تــه څرگنــدر
یــو مــې خواســت بلــه زاري دی | د سرو نتــه و تــر داوڼ کــا را څرگنــدر
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦۷ او ٦۸).

دوه مقطعې

چــه دا هســې برابــر پــه نښــانه ځــي | د میــرزا غشــی د پــیر کامــل لــه لــوزه
عنایـت د لـوی پادشـاه را بانـدې وشـو | د مــیرزا پــه خــاطر نــوی شــوې نــوروزه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۴٦).

د فورم له مخې غزل، خطابیه قصیده، الفنامه، مخمس، شمعه او پتنگ نظم او یو بل ډول ترانه ډوله کاروي.

پــه هســتۍ کــې مــې گومــان و / بیـــامې نـــه مونـــده ای غوثـــه
واړه بـــود زمـــا نـــابود و / اوس مـــې بـــود مونـــده ای غوثـــه
دا وینـــا بـــه څـــوک بـــاور کـــا / چـــه د زړه بـــه پښـــې ســـفر کـــا
چـــه پـــه دا لارې روان شـــو / ده مقصـــود مونـــده ای غوثـــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۸).

ماته غزل

نــن مــې ولیــده ولاړه محبوبــا پــه پښــو باریکــه / په اخلاص یې خپسر جوړ کړ اوس و جنگ ته تیاري کـه
یو عجب یې سپین جمال دی پرې یې دام د زلف ایښی / خال یـې لـون لـون زېـب کـا پـيو ډېـر ډېـر مکـاري کـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۵).

### ۳. ۲. ۱. ۳. ۲. ۲. ۴. وزن

وزن یې اووه څپیز، اته څپیز، دولس څپیز او شپاړلس څپیز دی.

د مفتوح توري فتحه د همغه توري په زېر بدلول او ساکن ته فتحه ورکول

الــف یــو یــوازې ســم دی بــې نقــط / د گومــان خویونــه کــل ځنــې سِــقَط
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۷۵).

(بهر) کې لومړی څپه خجنه شوې ده

زه بـــه څـــه وایـــم پـــه جهـــر / لـــه وفـــا د وفـــا دهـــر
مـــیرزا خـــلاص دی لـــه نفاقـــه / خـــدای درون وینـــي هـــم بهـــر
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦۸).

بندگي په یو څپه لولې

چـــه دیـــدن دې روزي نـــه شي / کـــل بنـــدگي دې بـــې حاصـــله
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹).

وزن مات دی

د عارف ښان څرګند دی لکه شمعه
رهنمای او سربلند دی لکه شمعه
هر زمان یې نوی نوی سر پرېکېږی
بیا یې په د نوي سر لا انند دی لکه شمعه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۰).

لکه په ابر په بهار شي
چه را یاد د یار دیدار شي
یوه نریه پرخه اوري
څه عجیبه ننداره د مرغزار شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱۵).

وزن یادول

ثابتي به یې و ژبې وته ورشي
چه کلام به له معنا سره موزون کا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۴).

**۳. ۲. ۱. ۳. ۳. ګرامر**

(محمودات) د عربي په قاعده جمع راوړل

ترو هاله به په اخلاص قبول په حق شی
ذمیمه به دې بدل په محمودات شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱٦).

ښتن ته تبښتن ویل

چه موحود ته ثریا دی له ثرا
د تبښتن له حکمه نه دی ما ورا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۷).

(کا، کوي) د (که) په بڼه راوړي.

محمود چې بادشاهي که
دی عاشق په خپل ایاز دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ٦).

د نرینه او ښځینه لپاره (دی) مرستیال فعل کارول

حقیقي جرعه ور څخه
په خمار کې یې نفاع دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷).

احتیاط په مفغنه بڼه هتیات لیکل

ترو له شرکه د هتیات شي
هر کلام دې سلامت کا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۴).

مفغن

چه د دې در په رڼا ځي
لار به نه کاندی غلته
چه له شاه یې اشنایي شوه
زړه یې خلاص کړ له غفلته
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۰).

سزا په اصل مانا کارول

هــر چــه کــړي هغــه بــه مــومي د هـــــر چـــــا عمـــــل ســـــزا ده
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۲).

نوی ترکیب

ای مســــــــکینه دل هلاکـــــــــــه پـــــه دا درک لــــــه غـــــیرو پاکــــــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۱).

د مشــرکو د بــاور ســترګي ړنــدې دي چـه د فهـم دیـدن بیـل کـا لـه موهومـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۳).

پــه کــثرت کــې تــار پــه تــار شــوه اور اوبـــــه بـــــاد و تـــــراب دی
وییـــــــــــدونی اروېـــــــــــدونی ګـــــــه سرود ګهـــــې مضـــراب دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۹).

**۳. ۲. ۱. ۳. ۳. مېرزا انصاري د شعر موتیفونه**

د مېرزا خان انصاري په شعر کې ځینې خیالونه، فکرونه، ترکیبونه او کلمې په تکرارسره کارول کېږي چې په عین وخت کې یې د نوموړي موتیفونه بللای شو، لکه: ( الله ج د نژدېوالي فکر، متواتر ذکر، زنـار او تسبېح، لام الف، اصل، بدیع، د روح پالنه، ایاز او محمود، د حق احاطه، ځانته فقیر ویـل، اخـلاص، عـارف، نفـس، دوبـین، ګومان، اب حیات، له شیطان څخه ځان ساتل، له مرګه پخوا مړه کېدل، پر شریعت عمل، حقیقت او مجاز، شش جهت، کم دلیل، الف، حباب او یخ، کامل، وحدت او کثرت، څلور عنصره، د وحدت نظریه په بېلابېلو بڼو، ل + ا او په منځ کې یې ن راتلل، سکونت، زورور، زړه ته عرش ویل، ځان ته مسکین ویل، د الله لـه لـوري غړېـدل، فساد د جنګ په مانا کارول، مجذوب، شریعت ته ژمنتیا، شریعت، طریقت او حقیقت، پنځه ډوله عارفان بیـانول، هادي د میا روښان لپاره کاروي، ( او) تړوییکی د بیت په پیل کې راوړل، ځانتـه طالـب، سـالک، ذاکـر، عـارف، اشهاد، قطب، غوث، ابدال او اوتاد ویل، د انسان خلقت، پنځه حواسو ته پنځه غله ویل، د خلیل کعبـه، شـطرنج، دین او دنیا، د کلام موضوع یې یو الله (ج) ته د خلکو رابلل دي، شاه د الله لپاره کاروي چې ارزاني یې هم راوړي.

د پورته هر فکر، خیال، ترکیب او کلمې لپاره لاندې خپلې بېلګې راوړم چې دلوستونکو او کره‌کتونکـو لپـاره موضوع ښه روښانه شي. یوه بله خبره کېدای شي داسې نور څه هم وي چې د نوموړي موتیف شي البته زمـا پـه نظر به نه وي راغلي.

غافــل ځـــان پـــه خپلـــه هېـــر کـــړ د یـــــار یـــــاد پـــــه هـــــر انفـــــاس دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۰۴).

چه د دې محبوب پـه مینـه دیوانـه شـوه اوس وتلـی لـه تسبېح و لـه زنـار دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹۹).

نـــــن مـــــیرزا پـــــه پښـــــتو و وې کـــــل صـــــفت لـــــه الـــــف لامـــــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۱).

هر یو اصل به خپل اصل ته راستون کـا پــه دا ورځ خطـــایي نشــته لــه صرافـــه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۶۳).

د هـر چـا رجـوع و اصـل و تـه کېـږي کـل مـزه لـه خپلـه تخـم شي بدیعـه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۱).

نن د روح و روښـنايي و تـه پـرواز کـړه د صورت پـه بنـد بـه څـو اوسـې خسيسـه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۵۲).

د ميرزا چه د اخلاص حلقه په غوږ شوه د اياز پـه دود يـې ذوق دی لـه محمـوده

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۷).

حق محيط لـه تـا سره تـر تـا چاپېر دی په دريـاب کـې پـه گومـان وچـه کلوخـه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۲۴).

پـر مسـکين د مستحق حکـم نـه وينـې دا فقـير مـيرزا يـې خـلاص کـړ لـه زکاتـه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۱).

هـر چـه مغـز د اخـلاص ور سره نـه وي د تـــش رســـم چـــارې واړه دي تبـــا

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۷).

د عـارف زړگـی بـې مثلـه آيينـه شـو تـــل د بـــد گـــمان لـــه زنگـــه مصـــفا

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۵).

چـــه د نفـــس ورمونـــه نغـــوړې ولهـــــم عـــــذاب الـــــيم دی

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹).

د دوبـــين نظـــر پرېشـــان شـــو پرېشـــان څـــه ليـــدل احـــول و

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۷).

ض ـــــ ضـــلل د ظلـــمات دی او ظلـــــمات آب حيـــــات دی

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹).

د ميـــرزا گومـــان فـــاني شـــو خـــدای بـــاقي دی تـــل تـــر تلـــه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۰).

لـــه خنّاســـه خـــاطر ژغـــوره د خـــدای يـــاد بانـــدې تحريـــر کـــړه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱).

چـــه لـــه مرگـــه پخـــوا ومـــرې دا ژونـــدون يـــې اخـــرين دی

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۴).

اول امـــر يـــې همـــدا دی چـــه عمـــل پـــه شريعـــت کـــا

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱).

د شريعـــت مقـــام بهـــتر دی د جملـــه مقامـــه بـــر دی

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۷).

دا مجـاز بـه يـې بـدل پـه حقيقـت شي چـه دايـم يـوازې يـو بانـدې زرغـون کـا

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۵).

د مجـاز محبـت پـول د حقيقـت دی د يقـين پـه ديـدن و وځـه لـه لباسـه

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۴۹).

زورور له شش جهته منزه دی
د بې چون تعریف به څرنګه چګون کا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۵).

کم دلیل عالم یې نه اروي له لیرې
د خپل راز خبرې واړه د مقرون کا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲٦)

که په ځیر یې و معنا و ته وګورې
له یوه الفه څو علمه تحصیل کا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۹)

که د یخ مایه ساړه دي
د حباب هستی هوا ده
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۳)

د پاکانو زړه پرې پاک شو
د کامل تلقین صیقل و
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۷)

د وحدت ونه یوه ده تل تر تله
او کثرت یې په ښاخونو تار په تار شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۹)

له یوه اصلهاوبه له یوه خاورې
له یوه اصله مط باد له یوه نار شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳۹)

یو بې حد به د بې حد په سترګه ګورې
هم و ده ته کاته به هم په ده که
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۷۳)

دغه تار له سادګۍ نا پدید دی
او مرئ یې رنګارنګ نوم یې هار شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۲)

او میرزا چه به دا حال راسره پوه شو
بې ګومانه دی مې ځان دی ځان به یې تن کړم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸۲)

د میرزا ګومان فاني شو
اوس په ما ګوري و ما ته
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۲)

چه رضا د زورور په رضا کښېږدي
په جهان کې واړه کړه د ده اختیار شي
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۳)

چه طالب تر سکونته پورې راغی
د شاګرد په خوله خبره د استاد کړم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸٦)

هر یو زړه د مولا عرش دی بې ګومانه
که له غیرو پاکیزه دغه حرم کړې
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۸)

که میرزا کا د مسکین په نامه فخر
جمعیت یې د کثرت په تفرقه در
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۷۱)

په وحدت کې له وجوده یګانه یم
په کثرت کې د میرزا په خوله وییرم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۸۲)

تل توبه مې د ګناه په مخ نیولې
اوس به صلح جاروتلی له فساد یم

(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹۰)

گه طالب گهې سالک گهې ذاکر شم
گه عـارف پـه معرفـت بانـدې اشـهاد یـم

گهې قطب قـراري کـړم پـه ځـای اوسـم
گهې غـوث گهـې ابـدال گهـې اوتـاد یـم
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹۰)

مجذوبان لـه سـود و زیانـه خـبر نـه دي
د هر چا دانش راحت دی هم عذاب شـو
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹٦)

اول امـــــر یـــــې همـــــدا دی
چـــه عمـــل پـــه شریعـــت کـــا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۱)

چـــه ثابـــت پـــه طریقـــت شي
او طلـــب د حقیقـــت کـــا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۲)

عارفـــان دی پنځـــه لونـــه
چـــه مـــیرزا یـــې عبـــارت کـــا

او (۱) واجد، (۲) سامع، (۳) واصـل دی
(۴) موحـــد چـــه (۵) مســـکنت کـــا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۳)

او توبــه دې د پرهیــز ور سره واخــلي
تـرو هـادي دې د دې لارې رهنمـون کـا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۴)

او د کفــر لــه تیــارې دې را روان شي
د زړه رخت دې و اسلام و تـه بـیرون کـا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۴)

چـــه یـــوه قطـــره اوبـــه وي
ځنـــې روغ تمـــام صـــورت کـــا

ځینـــې غوښـــې ځینـــې هـــډ شي
جـوړ بـه جـوړ یـې پـه حکمـت کـا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۹)

طریقــت لــره بــه ور یــه شي پخپلــه
چـه پنځـه غلگـي پنځـه ځایـه زبـون کـا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۵)

چه سجده څـوک و بنـا تـه د خلیـل کـا
په اخلاص سجده به ذات ته د جلیـل کـا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۹)

بې حسـابه مخلوقـات چـه لیـده کېـږي
د دې لـوی شـطرنج لښـکر دی بـو لـولی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۴۵)

دین دنیا دي په مثال سره دوې خویندې
چـه یـوه پـه عقـد کښـې بلـه طلاقـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱٦۸)

شـــاه تـــر تـــا و تـــا نـــژدې دی
بـــل روخ مـــه درومـــه بعیـــده
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۳)

### ۳. ۲. ۱. ۴. دولت لوانی

دولت لوانی چې پوره نوم یې دولت الله دی، نوموړی د داوود یا دادو زوی دی چې پر (۱۰۰۰هـ ق) کال پیداشوی دی او تر (۱۰۶۹هـ ق) یې ژوند یقیني دی، د لوانو یا لوهانو له قبیلې سره تړاو لري، د مرزا خان انصاری او علي محمد مخلص هم پېري دی، د دولت له ځینو شعرونو څخه څرګندېږي چې دی د مرزا په واسطه د بایزید او نېغ په نېغه د مرزا خان انصاري مرید و. (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۴۹۲ او ۴۹۸).

### ۳. ۲. ۱. ۴. ۱. دولت لواني د شعر ځانګړنې

۱. د دولت لواني شاعري تر مېرزا خان انصاری ډېره پېچلې نه ده، بلکې اسانه ده.

۲. په شاعری کې یې ګرانې کلمې او ګړنې نه دي کارولي.

۳. د تصوف ګرانې مسئلې یې په ساده ژبه بیان کړي دي.

۴. نوموړی په صوفیانه تجربو کې کامل پیر ته ډېر ارزښت ورکوي:

روحاني باچا مې بیاموند په خپل کور کې
دی زما د خولې کلام کا زه یې لب شوم (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۷).
پیر کامل رښتیا رحمت اللعالمین دی
ترېنه به نېک خوا به نه مومي هیڅ ناس نور (لوانی، ۱۳۹۱، ۱۴۳).

۵. نوموړی هم د بایزید د وحدت الوجود د اتو مقامونو ذکر کوي.

۶. دولت لوانی د سکونت په مقام کې سالک له عبادت څخه معاف ګڼي:

سکونت د روح خصلت شي
په صورت یې عمل ګران شي (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۰۶).

۷. د خپل شعر سبب الهام ګڼي:

چې الهام را باندې اوشه ګوینده شوم
یو بیت هم جوړاوه نه شی بې الهامه (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۰۷).
ظاهري علم مې هیڅ ډېر نه دی کړی
د معنا په قوت و وایه کلام ما (لوانی، ۱۳۹۱، ۱۹۴).

۸. دولت هم د میم توری د کثرت سبب ګڼي:

یو د میم مرات یې روغ که
ځان یې ولید عمدا
چې احمد له میمه پاک شه په توحید کې
په رضا یې په آسمان میاشت شوه دوه نیمه (مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۰۳ ـ ۵۰۸).

**۳. ۲. ۱. ۴. ۲. له روښاني شاعرانو سره د دولت لواڼي د شعر موضوعي ګډون**

د دولت لواڼي په شعرونو کې هم د تصوف ګړنې، لکه (مجذوب، شاهد، لاهوت، مخلص، پیر کامل، بایزید، کبر، نس، حریص، لا اله، آیینه او ارسي، بې خماره مې، د مسکینانو صف غوښتل، د ځان په اړه لـه الله څخه د څه غوښتلو سوال کول، کون فیکون، کنت کنزا، تلقین، توبه، موت، عارف، غیر ګمان، بخیل او لئیم غندل، سپین وېښته، کم همت، ذکر، شهرګ، اته مقامونه یادول، د دنیا بدي ویل، اخلاص، خناس، ناصبور، په علم عمل کول، د الله [ج] نزدېوالی، وحدت، کثرت، ریاضت، کم دلیل، نفس رټل، د نَفَسْ ارزښت، یـزدان، مسکین، دوبین، د توحید شراب، د دنیا بدي ویل، د الله رضا حاصلول نه عبادت د جنت لپاره، زه او تـه، مجاز او حقیقت، کامـل، مرده دل، سماع، یقین، اَحْوَلْ، سبب او مسبب، شش جهت، قناعت، حبل الورید، الف، عابد، متواتر ذکر یا پـاس انفاس، خوف او رجا، بدن د سلوک د لارې خنډ ګڼل، احد او احمد، نقبا، ابدال، غوث، قطب او عماد یادول) د ارزاني او میرزا خان په تکرار لیدل کېږي، دلته یې بېلګې له بیتونو سره یو ځای راوړو:

| | |
|---|---|
| دای و خپل مجذوب ته ګوښي طریـق وښود | پر هغه لارې تګ نه که چې هوښیار ځي (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۴۰۴). |
| مـا د دل پـه بـاغ کـې ولیـده بلبـل یـو | ورسره لـه څنګـه ناسـت و شـاهد ګـل یـو (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۳۷۸). |
| د لاهوت په ملک یـم روح مـن امـر ربي | د ناسـت پـه مقـام یـاد فقیـر دولـت یـم (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۳۶۳ ). |
| مخلصـان لـه ریـایي طاعتـه خـلاص دي | هـره چار پـه محبـت پـه شـوق رنـدي کـه (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۳۴۴). |
| زه چـې پـیر کامـل خـبر کـړم لـه نفسـه | د بـد حـرص ولـې مـې وختـې لـه نسـه (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۳۱۴). |
| چې مې حال د معرفت څنې حاصـل شـو | پـر مسکین بایزیـد بـه تـل وایـم سـلام زه (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۳۰۷). |
| دوزخـي هـغ سـړی دی پـه دنیـا کـې | چـې پـه کـبر راوانېـږي پـه بـازار کـوږ (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۲۷۷). |
| د مـولی طلـب بـه کلـه کـړې حریصـه | شب و روز په انـدوه لښـلی یـې د نـس تـه (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۲۳۴). |
| د هغه حریص عذاب خواري نصیب شي | چې د بل مال و ته ګـوري خپـل خونـدي کـه (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۳۴۵). |
| تېـز شمشـېر د لا الـه یـې و مـا را کـه | پـه یـوه ګـوزار کـړه کـل غـیر قاتـل مـا (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۱۹۳). |
| معـین د اشـنا مـخ راتـه ښـکاره شـو | چـې د زړه ارسي صـفا کـړه لـه زنګـار مـا (لواڼي، ۱۳۹۱ل، ۱۹۲). |

یا رب ما لره د زړه د رنځ دوا را
هغه مې چې خمار نه لري بیا بیا را
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۸۵).

دا فقیر دولت دایم دغه دعا کړم
یا رب صف د مسکینانو د توفیق را
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۸۳).

را په تندرست صورت یو ځو ورځې قربت یا الله
چې کوم حمد ذکر ستا په محبت یا الله
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۶۸).

په رضا دې چارې کن فیکون کېږي
تنگ تاریک زړه مې روښان بې حد یم کړه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۶۲).

ده به خپله وو ویلي
د کنت کنزا ندا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۷۲).

د تلقین توره در واخله که عارف یې
اشنایي له هیچا مه کړه په لباس نور
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۲).

همېشه په توبه اوسه
له گناه پښېماني کړه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۲).

چې توبه مې په اخلاص وکړه تایب شوم
د خنّاس له چوړگۍ بیامونده فرصت ما
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۹۵).

د فنا غشی به هیڅ پرې اثر نه کا
چې په خپل اختیار تېر شوی دی له ځانه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۲).

عارفان دې پاک دیدن ته ننندارچي دي
نا تمام زاهدان مینه پر جنان کا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۸).

د مقصود خبره به و وینې عیانه
چې په لا اله نفې غیر گومان کا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۹).

د یقین په نظر یو راته ښکاره شو
چې اول مې د گومان په سترگو سل کوت
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۳۰).

هر بخیل لیم سخي کریم مه بوله
دغه نوم لایق پر محمد خاتم ږده
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۳).

محبت د غم لښکر راباندې ساز کړ
سي ساله لا شوی نه وم موی مې سپین شه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۴).

کم همت نادان په رزق پسې پرېشان دی
په رازق اعتقاد نه که بې یقین شه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۵).

د مولی ذکر د زړه صیقل یاد شوی
پرې خلاصېږی له کینې له غیرتونه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۶۲).

د باطن په سترگو هر وختې لیده شي
د عارف مقصود نزدو تر شهرگونه

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦٣).

چـار مقـام څلـور سـيرونه مـې بيـان كـړه
د هــر هــر يـــوه صــفت دوه دوه بيتونـــه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦٣).

هغه كس چې بلند همـت بلنـد پـرواز دی
د وفـــا طمـــع بـــه نـــه كـــا لـــه گردونـــه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦۴).

عبادت د زړه صافي صـدق اخـلاص دی
نه چې ډېر د كوم سجود فضـل لمونځونـه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦۵).

په خپل حكم يې په هر لـوري جارباسي
چې په خوله يې كړه خناس د طمع ملونـه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦۵).

نـا صــبور بـې قناعتـه خـوار گـدای دی
پـه دنيـا كـه زيـات تـوانگر وي لـه قارونـه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦۵).

چې عمل پـه علـم نـه كـوي زيانكـار دی
بــل بــه چېــرې بهــره مــومي لــه مغبونــه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦٧).

نَحْــــــــنُ اَقْـــــــــرَبُ اِلَيْــــــــهِ
را نـــــزدې و ځـــــان تـــــر ځـــــان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦٨).

په توحيد كې پاک وجود بې شريک يـو يـم
د صفات جامه مې واغوسته دولـت شـوم
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۷۰).

اوس لـه يـار سره ځـان يـو يگانـه ويـنم
په گومان چې له ده گوشي ليـده ځـان مـا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۹۷).

روحاني باچا مې بيامونـد په خپل كور كې
دی زما په خولې كـلام كـا زه يـې لـب يـم
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۷).

پـــه هـــر غـــوږ اواز خپـــل اوري
هـــم پـــه هـــره خولـــه گويـــان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦۹).

مـــخ په مـــخ دې ځـــان ته گـــوري
ځـــان و ځـــان وتـــه نمايـــان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٧٦).

پـــر وحـــدت كـــې زه و تـــه چېـــرې
شـــاه گـــدای گـــدای خاقـــان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٧٨).

كل عالم د ده پـه ځـان كـې هسې غرق دی
لكــه ســتوري غيــب شي پــه لمــر كــې
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۴).

مـــخ څرگنـــد كـــه پـــه كـــثرت كـــې
يـــو پـــه څـــو لونـــه څـــو شـــان تـــا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱٧٦).

چـې مـدام د رياضـت پـه اور كـې ايشـي
د قلبـي نخښـه بـه چېـرې وي پـه زر كـې
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۵).

كـــم دليـــل لـــه نـــاپوهی يـــې
پـــه صـــورت پـــورې چســـپان دی

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۷۲).

نفس ناقص د روح دښمن دی
د ده حب له شقاوته
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۷۹).

د هوی په نغوته پورته کښته مه ځه
د مولی په طرف جهد کړه نادانه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۲).

هر نفس په مثال در گرانبها دی
په غفلت را څخه څه شکل ارزان ولاړ
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۹۷).

ښه صفت د پاک یزدان دی
چې حضور په هر مکان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦۸).

د یقین سترگې کړه روښې که دانا یې
په ظاهر باطن څوک نشته بې یزدانه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۲).

د مسکین په رضا کیږي
چاري واړه بې ظنته
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۹۱).

د خوشبو ی بد بوی چې فرق پرې وکړی نه شي
د خودبین دماغ خلاص نه وي له زکامه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۲).

پاک دیدن به لور په لور ورته ښکاره شي
د توحید شراب که و څکي یو څو جامه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۲).

چې دنیا د بدی سر ده یاده شوې
ته په خپل کرم حب کم د دې له راس را
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۸٦).

دا دنیا جیفه نوموړې
پر جیفه محبت سپی کا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۷).

په غفلت مې مزدوري کړله مزدور وم
اوس د کل جهان پاچا بنده د رب شم
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۷).

د ظاهر باطن څښتن دی غیر نشته
ولې زه و ته شمېرل په کوم سبب شوم
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۷).

چې مې زړه د شک له زنگه پاکیزه شو
حقیقت راته څرگند که د مجاز تا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۸۸).

چې د خدای دلبستگی پر هیڅ څیز نه کا
دغه هسې مرتبه د کامل مرده
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۸).

مرده دل نه نغوړي اواز د سرود
زنده دل که سماع په ساز د قوال
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۵۲).

د سماع څښتن هر گز بې حالت نه وي
همېشه له ذوقه کاندي د دیدار څرخ
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۵۳).

چې پـه زړه مـې د يقـين ډيـوه شـوه بلـه
د مخلوق له در مې شوه د خواست پښه شله
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۹).

هر سړی چې يو څيز دوهويني احول دی
يګانــه احــد مخفــي دی لــه احولــه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۹).

عارفــان هغــه احــول بــولي دولتــه
چې د زړه په سترګو ويني بې جانان څه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۶).

ســبب پربــږده لــوی حجــاب دی
توکـــل پـــر مســـبب کـــړه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۳).

د هغه بې حد ديدن به څوک پـه څو کـه
چې په شپږ لوري مونده نه شي پايان هيڅ
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۸).

دا شپږ خويه دي بد شوم ځنې حذر کړه
کبر حرص غضب شـهوت طمع کينـه ده
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۴۰۶).

کـه مـې ګـنج د قناعـت مونـدلی نـه وی
سر ګـردان بـه جـاروتم تـر هنـد تـر بلخـه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۵۰).

ستا صفت پـه کـوم زبـان وايـم حميـده
ای زمـا تـر ځـان نـږدې حبـل الوريـده
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۵۵).

کـه يقـين دې پـه توحيـد وشي عارفـه
دواړه کونــه بــه پــرې وينــې لــه الفــه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۳۳۳).

هـــر عابـــد بهـــره مونـــدلې
پـــه طاعـــت کـــې لـــه حضـــوعه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۸).

ای زړه تل مشغولی کړه پاس لـه انفاسه نـور
اشـنايي لـه هيڅـا مـه کـړه پـه لبـاس نـور
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۲).

و طاعـت ګنـاه تـه مـه ګـوره دولتـه
پـه اميـد پـه وېـره اوسـه لـه وهابـه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۰۵).

لـه بدنـه سره تـګ پـه دا لار ګـران دی
چې بې ځانه قـدم ږدي مشـکل يـې نشته
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۱۷).

کـل عـالم احـد احمـد پـه يـو نـور وينـي
چـــې خـــبر لـــه مارميـــت اذا رميتـــه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۲۴).

دا جهـان هرګـز خـالي نـه دی دولتـه
لـه نقبـا ابـدال و غـوث قطـب عـماده
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۵۹).

**۳. ۲. ۱. ۴. ۴. د دولت لواڼي په شعر کې بلاغي توکي**

دولت لواڼی د بلاغي توکو (معاني، بیان، بدیع، قافیې او عروضو ) ته پاملرنه کوي چې په دې تړاو یې ځینې غزلې د عربي عروضو په چوکاټ کې ویلې دي، د دې تر څنګ یې ځینې بدیعي، تشبیهي، استعاریيز او سیمبولیکي توکي په پښتو ادب کې نوښتیز دي:

**۳. ۲. ۱. ۴. ۲. ۱. بیان**

صوت د ځیز لپاره کارول

که نن ورخ توبه و نه کړې له ګناهه لکه سپی فردا په سخت عذاب کې کړونجه
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۲).

مرسل مجاز

سببیت علاقه

چې د یار بڼلتون مې ولیدو په سترګو پر خاطر مې د دنیا مینه شوه سرده
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۱۲٦).

عام د خاص لپاره

د فقیر دولت خبرې له کتابه دي مسموعه
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۸).

قاتل د مقتول پر ځای کارول

تېز شمشېر د لا اله یې و ما را که په یوه ګوزار کړه کل غیر قاتل ما
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۱۹۳).

د خپلوۍ علاقه

څوک خمول شي په عالم کې څوک منصور غوندې په دار کا
(لواڼی، ۱۳۹۱ل،۱۲۱).

استعاره

دغه ګل چې نن په خپل حسن غره دی د خزان باد به یې ژر ورق ګردان کا
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۹).

کنایه

صفت د موصوف لپاره کنایه کول

مهربان که حجاب لرې کا له مخه د دولت په دود به ډېر ګدای سلطان کا

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۰).

سیمبول

لاندې سیمبولونه په تصوفي قراردادي سیمبولونو پورې تړاو لري چې د هر یو خپله ځانګړې مانا ده.

لعل لب

چې لعل لب یې دي ځکلي د ده ... څه چې حاجت غرض په آب حیات
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۰۹).

مې

چې لذت د مې بیامومي ... ژر به ګرو د سر دستار کا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۰).

زاغ او بلبل

زاغ نجس منګول الود پر جیفه ګرځي ... دلداده بلبل دی مست پر ګلزار نن ورځ
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۵۸).

سیمرغ، عنقا او کرګس

د سیمرغ عنقا په شان صبر اختیار کړه ... د هوی په نغوته مه ځه د کرګس ته
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۳۵).

تشبیه

تفضیلي تشبیه

له افتاب یې د جمال روښنایي زیاته ... د ښایست مخی یې نه شته په کشور کې
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۴).

لکه دی پر خپل بنده باندې مین دی ... هسې حب پر فرزند نه که مور او پلار هیڅ
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۴).

موزون قد یې د بوستان سروه خجل که ... شیرین لب یې لذت زیات لري له قنده
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲٦۸).

مرګ بېلتون په سترګو ګوري نه نرمېږي ... غافل زړه له سنګه سخت هم له حدیده
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۰۷).

مرکبه تشبیه

دا فقیر دولت په مرګ هسې هوس که          لکه سترړی مسافر و خپل وطن ته

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۱۵).

قبیحه تشبیه

هر چې زړه یې د دنیا په غم الود وي          تحقیق سنګ د استنجا دی دل یې نشته

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۱۷).

له مار سره د زلفو تشبیه لومړی ځل

لکه مار زلفې د یار عاشق چیچي سخت          هسې سخت خوږول نه کاندي بل مار هیڅ

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۵).

**۳. ۲. ۱. ۴. ۲. ۲. بدیع**

تعلی

په دا هومره ډېر افغان کې          خدای که شعر د دولت به

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۳۸۵).

تصدیر او هم قلب

ژاژ ځایي سړی د خپل خپسر دښمن دی          د دوزخ عذاب لایق شي په بیان ژاژ

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۳۱۲).

توریه

یا کریمه زما جمع کړه پریشان زړه          د دارو علاج مې تا زده د ویران زړه

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۹۹).

اقتباس

ته کریم را د شک له اوره امان          وقنا ربنا عذاب النار

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۸۵).

تنسیق الصفات

د فقیر دولت پر زړه چې څه تېرېږي          خدای قادر کریم قدیم رحیم دانا زده

(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۶۱).

مقابله

په همت صبر تر کل عالم عزیز یې
په ډېر حرص په طمه يې تر هر چا خوار
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۳۶).

و نادان ته هر څه وایم پوه به نه شي
د هوښیار لپاره لر خبره بسه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۱۵).

د حالت پرلپسېینه

آه فریاد زاري به کړې پر بله ښورې
نماست و ناست ولاړ به نه مومې قرار ته
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۳۶).

د کلمې تکرار

چې گفتگو له تا په تا که له تا
نظر په غیر که که خطا که له تا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۷۹).

وای افسوس چې بې له یاره همه عمر عزیز
که فراغت که فراغت که فراغت نه لري
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۹۵).

مجنح طباق

د کفار نعمت مې هېڅ خوړلی نه دی
پرورده قوي توانا یم په اسلام زه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۷).

تلمیح

د قبطیانو لښکر ډوب شو سبطي خلاص شو
په اخلاص چې موسی یاد کړې رودنیل ته
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۳۷).

پیغمبر وې ښه امور امر اوسط دی
و بلند مقام ته زیات تر حد مه غزه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۸).

له یوه سوراخ مار نه چیچي څوک دوه ځل
ته یې څو ځله خوړ شوی له ناکسه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۱۵).

غلو

په قلم کاغذ سیاهي به شي اور پورې
که د زړه له حاله و وایم کلام زه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۸).

تجرید

هغه کس به ډېر پښېمان شي ای دولته
چې نن نه که پر دربار د خپل دلدار څرخ
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۵۳).

پایمخی بیت مقطع راوړل

و مقصـود تـه بـه پـه څـو رسـې دولتـه چې هادي د وړاندې نه کړې خپل دلیل ته
د خلیـل کوټـه بـه مخـې لـره درشي که اشنا په ترک وجود شې لـه خلیـل تـه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۳۷).

تسمیط

زه یم بسیار سرگردان حوا آدم غونـدې نـادان ته یې قادر قوي یزدان بې حد هوښیار یا الله
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۶۴).

سالم زړه د مولی تخت دی ذکر فکر پکې رخت دی چې دا رخت ورک که بدبخت دی ترس دې کاندی له غضبه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۰۳).

ازدواج

که د خدای توفیق رفیق در سره مل شي هـیڅ گنـاه تقصـیر بـه نـه کېـږي لـه تـا
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۴۳۳).

حسـب نسـب بـه پـس لـه مرگـه نـه وي وي د هـر چـا قـدر قیمـت پـه خصـال
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۵۱).

جمع

همـه تسـبیح کـه سـنگ شـجر وحیـوان ابـر دریـا فلـک زمـین و جبـال
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۵۲).

ردالمقطع

د فقـیر وینـا ربښـتیا ده وه یـې مـه باسـه لـه یـاده
دانایـان بـه پـرې پـوهېږي د دولـت وینـا ربښـتیاده
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۵).

د فعلونو پرلپسېینه

چې بې امر ځي کښېني پـاڅي څـه وایـي پـرې لـه غیبـه شي هـزار بـلا اتیتـه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۲۳).

گړنه

په خاورو مړېدل گړنه یې د لومړي ځل لپاره کار کړې ده، په نظر او ږیره کلېدل یې نورې گړنې دي.

د سـړي سـترگې بـې خـاورو نـه مړېـږي که لـه سره و سپین وي ږکې څو لگـېږي
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۷۳).

په نظر د صاحب دل انسان دولته ښه کلام له دره به دی له یاقوته
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۲۲).

چې د جنګ پر وخت میدان پرېږدي و تښتي کم همت سړی که خپله ږیره کله
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۰).

ابداع

د دانا په نظر ډېر نادان لیده شي چې په سرای کې محلونه رغوینه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۳).

طباق

غم ښادي سود زیان د تا له لاس دی واړه شکایت و چا ته که غمګین حیران زړه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۹۹).

ارسال المثل

هېڅ فایده به د چا نه رسي و بل ته خوله د هر یوه لمده پخپله لاړه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۳).

انځور

معرفت به بې اخلاصه حاصل نه کا که په ډېر نمانځه لغړ کا زنګنونه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ٦۴).

د اعدادو راوړل

که دانا یې هر زمان په دعا غواړه خلاصیدن له نه اووه له شش و پنجه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۱).

په عدم کې یې په خپل قدرت موجود کړ عرش کرسي څمکه اسمان دوولس جوسقه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۳۳۸).

دا شپږ خویه دي بد شوم ځنې حذر کړه کبر حرص غضب شهوت طمع کینه ده
دا پنځه خصلته ونیسه ډېر ښه دي که دي چېرې د دین نغوتې افسانه ده
سخاوت شجاعت علم حلم ذکر د رښتیني مؤمن قسم پیشینه ده
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۴۰٦).

**۳. ۲. ۱. ۴. ۲. ۳. قافیه**

سخته قافیه کارول

خدایه امان را له هغه بدبخت غولیچ پر کم زور باندې چې ظلم که په لیچ
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۴).

د ردیف بدلون

ډېـــر درود زمـــا زمـــا لـــه لوریـــه | پـــــر جملـــــه پیغمـــــبران دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۷۴).

نمـــونځ زکـــات کلمـــه حـــج شـــو | بـــــــل روزه د رمضـــــــان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۷۵).

موسسه قافیه

په اخلاص چې پاک لاس و نیو د کامل ما | لـه اتـه بهشـته زیـات مونـده حاصـل مـا
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۹۳).

پـر خپـل یـار یـم زیـات عاشـق زه | تـــر مجنـــون فرهـــاد وامـــق زه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۹).

اصلي او معمولي

لـه دنیـا وفـایي مـه غـواړه ځـوانمرده | دا وفـا لـه هیچـا نـه کانـدي روی زرده
د اجـل قاصـد بـه هـر چـا لـره ور شي | دا فرمـان د مـوت راغلـی پـر اکـثر ده
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۵ او ۱۲٦).

د دولت لوانې په شاعرۍ کې د قافیو تکرارلیدل کېږي.

**۳. ۲. ۱. ۴. ۲. ۴. وزن**

د جاهـل شـعر بـه څـه زېـب کـه دولتـه | چـې نـه وزن عبـارت نـه یـې ترتیـب زده
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲٦۳).

۱. دولت لوانې د قصیدې، غزل، څلوریزې، مثنوي او قطعې په جولو کې شاعري کړې ده.

۲. د څپو له مخې یې وزن ۱٦، ۱۵، ۱۳، ۱۲، ۸ او ۷ دی.

۳. دیوان یې مردف نه دی، پروفي تېروتنې هم لري.

۴. نوموړي د عربي عرضو په اوزانو د شعر ویلو هڅه کړې ده.

| | | |
|---|---|---|
| فَاعِلاَتُنْ | مَفَاعِلُنْ | فَعِلاَنْ |
| دا جهان دی | عَجَبْ پَ مِثْ | لِ بَهَارْ |
| مَرْ گِ بِلْ تُنْ | پَسِېْ خزَ ا | لَکَ خَارْ |

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۸)

د دلـــبر بـــا ثنـــا شي کـــل هیهـــات | چـې لـب یـې هـر دو دی لذیـذ لـه نبـات

دا وزن دی صـحیح پـرې وکـړه نظـر	فعـــــلات مفـــــاعلن فعـــــلات
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۱۰).

خج بدلول

ای پـــه مـــال منصـــب مغـــروره	د دني دنیـــــــا مـــــــــزدوره
رب د دې شراب ســــــــاقي دی	د مقصــــود پیالـــه کـــړه پـــوره
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۵۳ ـ ۱۵٦).

د کلمو موسیقۍ ته پاملرنه

پر سر یې نه دی خواری محنـت مشـکل تـل	نه راحت دولت صحت ښادي خندل تل

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۳۵۱).

**۳. ۲٫۱. ۴. ۳. گرامر**

۱. ترکیب

سالکان دې ډېر ډېر غواړي مونده نه شې	د صفات جامې اغوستې دي بـې شـمار تـا
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۸۹).

۲. دروغجن، دروغ زن لیکي:

ای پـــه مـــال منصـــب مغـــروره	د دني دنیـــــــا مـــــــــزدوره
نـــه حاصـــلېږي پـــه غـــیر وي	دروغ زنـــــــــــــــــه ده زوره
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۵۳).

مخلوقات، مخلوقان لیکلي:

پـــه قـــدرت یـــې رســـولی	رزق د واړو مخلوقـــــــــــان دی
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۷۲).

۳. څښتن (تښتن) لیکلي:

د قـدیم تښـتن لـه دره یـې مـخ واوښـت	دل بسـتي پـه مـال فرزنـد کـه پـه اورتـه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۲۰).

۴. مفغنې کلمې کاروي کله لا د غږونو بدلون هم پکې لیدل کېږي، لکه د (عورت) کلمه چې هم یې لیکدودیزه بڼه وربدله کړې ده او هم یې ورته مانایي بڼه بدله کړې ده:

نـــه بـــه شـــاه ولي بـــاقي وي	نـــه یـــې زوی نـــه لـــور اورتـــه

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۸۳).

بنـــی آدم طیـــور و جـــن و ملـــک
کـــل لـــه تـــا تمـــه کـــه عطـــا یـــا رب
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۰۲).

۵. فاعل او مفعول ذکر کول

ځای په ځای الله حضور گوره دولته
د فاعـــل جـــدایي نشـــته لـــه مفعولـــه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۸).

٦. په مصدر کې د (ل) پر ځای (ن) راوړي.

کـه دانـا یـې هـر زمـان پـه دعـا غـواړه
خلاصـېدن لـه نـه اووه لـه شـش جهتـه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۱

## ۳. ۲. ۱. ۴. ۴. د دولت لواڼي منځپانگیزې ځانگړتیاوې

د دولت لواڼي په شعر کې ډېری داسې منځپانگه راوړل شوې ده چې په اسلامي عقایدو او هم ټولنیزې روزنې پورې تړاو لري، دلته یې څو بېلگې د ثبوت لپاره راوړوو:

پر څلور واړو مذهبونو گروهه لرل:

په اختیـار یـې تـر حضـوره پـورې راغلـم
اوس مخ روښی په څلور واړه مـذهب شـوم
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۷).

د حسین بن منصور حلاج د وژنې په تړاو یو نظر دا دی چې وژنه یـې سیاسي اړخ لـري، پـه دې تـړاو دولـت لواښی لیکي:

پر منصـور عالمـانو څـه سیاسـت تېـر کـړ
چې هر تقلید یې فاش نـه کـه انـالحق نـور
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۱).

د تېرو عاشقانو یادول

د دیـدن خوښـي تـر کـل خـوارږه فایقـه
دا پایـــه نـــه ده د هـــر خســـیس لایقـــه
د لیلی ښایست مجنـون و تـه ښـکاره دی
د عـــذرا لـــه قـــدره چـــا زده بـــې وامقـــه
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۳۳۷).

زلیخـا یوسـف فرهـاد شـېرین نشـان دی
د قـدرت عـذرا وامـق لیلـی مجنـون سـتا
(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۴۲٦).

له مور پلار سره تشبیه راوړل

دا فقـیر دولـت بـه تـل ثنـا د ده کـړم
تـر مـادر پـدر مشـفق داور مـې بیامونـد

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۷۰).

د هغـه فرزنـد بـه څـه برخـورداري وي
چې د نفس په نغوړه سم دی د مور پلار کوړ
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۷۷).

راز پټ ساتل

د زړه حـال پـه ژبـه هـيڅ ويلـی نـه شـم
دا خـراب خـاطر مـې خـوږ دی لـه بيلتونـه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦٦).

حکايـــت پـــه انـــدازه وايـــه دولتـــه
په وحدت کې څه مجال د قيل و قال شته
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۲۰).

د معراج د شپې ذکر

د معراج په شپه د عشق پر براق سور شه
پـه يـوه نفـس يـې پرېښـوه طبقونـه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۵۹).

معجزې بيان

په انگشت يې اشارت که ماه دونيم شوه
د عظمــت نامــه يــې لاړه پــه ملکونــه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦١).

د څلور واړو يارانو ذکر

چهار يـار يې خليفه وو گوښې گوښې
د څلـــور واړو بـــه و وايـــم خويونـــه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٦١).

ځان ته فقير ويل

پـــر فقـــير دولـــت تـــل شـــپه ورځ
ډېـــر کـــرم کـــه مهربـــان دی
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۷۸).

د منافق او مؤمن توپير کول

مـــؤمن رحـــم دل ســـخي وي
منـــافق وی کـــم همتـــه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۸۴).

د بايزيد روښان ذکر په تکرار سره کوي.

ميا روښان د خدای هـادی کامـل رهـبر و
مـــيراثي صـــادق پـــيرو د پيغمـــبر و
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ٩٦).

چې مې حال د معرفت څنې حاصـل شـو
پـر مسـکين بايزيـد بـه تـل وايـم سـلام زه
(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳۰۷).

لـه توحيـده بـه خـبر شـې بـې گمانـه
چې په نغوته د روښان مسکين بايزيـد دی

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۴۰۷).

د میرزا خان انصاري د شعر ستاینه

د هادي په زړه چې پټ و په ډېر کاله
د میرزا خوله د هغه علم مظهر و

هیڅ افغان ده غوندې شعر کړی نه دی
دی په خپل زمان تر هر شاعر بهتر و

د دکن به جنګ شهید شو خوشنود اوسه
په تاریخ د زر څلوېښت کې یې ګذر و

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۹۸).

الهام

راست اواز الهام په هر اولیا کېږي
هیڅ ولي په خپل وخت نه دی بې الهامه

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۰۱).

د مور او پلار خدمت

چې د مور و پلار زړه بد نه کا خادم شي
لوی نعمت عزت بیامومي ولد اوړد

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۰).

عامو وګړو لپاره پند ویل

مه پر چا غیبت تهمت وایه مه نښله
مه د بد نامه په هیڅ یو بنیادم ږده

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۱۲).

څلور واړه مذهبه منل

په اختیار یې تر حضوره پورې راغلم
اوس مخروښی په څلور واړه مذهب یم

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۲۷).

زه دولت سني مسلم چار یار منمه
هم په خدای رسول راوړی دی ایمان ما

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۹۷).

د دولت وینا ثابته
په څلور واړه مذهبه

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۹۸).

هندوستان یادول

د رحمت باران پرې راستوه خو زېری
د ګلزار په دود رنګین درست هندوستان کړه

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۰).

د اسلام پنځه بنا یادول

د اسلام پنځه بنا ده
او سر یې کلمه ده

(لواښی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۴).

شطرنج

دا جهـــــان ســــــترنج بـــــازي ده　　　　گونـــــدې ســــــتا بـــــازي شي وړه (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۳٦).

دا دنیـــا شـــطرنج بـــازي وګڼـــه دولتـــه　　　　متقیـــان محبـــت نـــه کـــه لـــه شـــطرنجه (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۲).

بدیع کلمه کارول

د مقصـــود پـــه لار روان شـــه پـــه سریعـــه　　　　لـــه کریمـــه کـــرم مـــه ګڼـــه بدیعـــه (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۳۷).

له نسیه ځان ساتل

لـه نسـیه خریـده و فروختـه بېـزاري کـړه　　　　له دې پسه تل سودا کړه لاس پـه لاس نـور (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۲).

د مېوو یادول

خربـــوزه خرمـــا انجـــیر نـــارنج کتـــل ام　　　　سـېب انـار انگـور بـه مـومي اننـاس نـور (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۳).

ځان ته شیخ ویل

چې یې مخ تر لمر تابان ورته څرګنـد کـه　　　　شیخ دولت به تل کوي د حق سـباس نـور (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۴).

د حلول نظریه ردول

د توحیـد وینـا مـې شـوه پـه زړه نزولـه　　　　مـــبرا ده لـــه الحـــاد هـــم لـــه حلولـــه (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴٦).

په نظم کې کله کله له مجاز څخه حقیقت ته تلل

دلربـــا ښایســـته پـــه حـــد د کـــمال　　　　ســــتا د ښایســــت د دور نشــــته زوال
دلـبري کـړې پـه قـد پـه زلفـو پـه مـخ　　　　په ښه خندا پـه غـاښ پـه شونډو پـه خـال

په اتلسم بیت کې د حقیقي مینې څرګند راوړل جوتېږي:

چـــې پـــه دنیـــا یـــې اخـــرت ورکـــه　　　　وګڼـــه زر یـــې بـــدل کـــړل پـــه ســـفال (لوانی، ۱۳۹۱ل، ۱۴۹ او ۱۵۰).

د دوو عدد د ضدینو فلسفه

وکـه خـالق همـه عـالم جفـت جفـت　　　　مرغـــه حیـــوان پـــري انســـان و رجـــال
غـم ښـادي زیـان سـود ژونـد مـرګ　　　　نېـک بـد کفـر دیـن جـمال و جـلال

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۱۵۱).

د طیفور له خولې د (سبحاني ما اعظم شأني) ویل او د منصور له خولې څخه د (اناالحق) ویلو ته اشاره کول:

سـبحاني مـا أعظـم شـأني		یادگـاري دی لـه طیفـوره
أنـاالحق گـواهي ده پـاتې		لـه بـېکس شـهید منصـوره

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۱۵۵).

د ځان لپاره دعا

یـا الـه العـالمین پـر مـا احسـان کـړه		مرگ قیامت د گور عذاب پر ما اسان کړه

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۱٦۰).

مات غزل

زه عاصي یم مسکین ته یې غفـار یـا اللـه		زه سر تر پایه عیب یم بینا ته یـې ستار یـا اللـه

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۱٦۴).

الهام د شعر ویلو سبب گڼي:

چې الهـام را بانـدې وشـو گوینـده شـوم		یو بیت هـم جـوړاوه نـه شـو بې الهـام مـا

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۱۹۴).

د آدم یا د انسان د بندگۍ کیسه

د معنـی پیالـه چـې پـر شـوه لـه شرابـه		ورتـه څـوک نـږدې کېـدای نشـو لـه تابـه
غر اسمان ځمکې دریاب قبـولي نـه کـړه		هـم فرښـتې خـبرې نـه وې لـه ثوابـه
پر خاکي باندې شو حکم ته یې و څښـه		ده فـی الحالـه څښـې واخیسـت بـې ځوابـه

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۲۰۴).

د زاهد او د سالک توپیر

زاهدان پر حور قصور د جنت مسـت وي		زه عاشق یم تل به اوسـم پـر دیـدار مست

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۲۲٦).

عارفان د پاک دیدار په شراب مسـت دي		محبـت نـه پـه عقبـی نـه پـه دنیـا کـه

(لوانې، ۱۳۹۱ل، ۳۴۷).

د انسان د عضو، بوټو، مېوو ، جنگي سامان، بلکې د وخت هر پیدایښت د الله ج د مینې پر بنسټ یادوي:

زه همېش یم په دیدن د خپل دلدار مست		بـې شرابـه خـوښ خـرم یـم بـې خـمار مسـت
زاهدان پـر حـور قصـور د جنـت مسـت وي		زه عاشـق یـم تـل بـه اوسـم پـر دیـدار مسـت
کـه د عشـق پـر میخانـه دې گـذر وشـو		وبـه وینـې خـم پیالـه در و دیـوار مسـت

باشـــنده د میخـــانې واړه مســـتان دي — لاس و پښـــې قبـا کـلا سر و دســتار مســت
هیڅ یو ځیز بـه پکـې نـه مـومې هوښـیار تـه — هم ساقي د مجلس مست هم یې پیزار مست
سـترګي غـوږ ژبـه خولـه پـوزه مـخ غاښـونه — یکتایي پټکی چادر ګـوش پـېچ شـلوار مست
اسپ‌وزین‌خوی‌ګیرپیش‌بندپټه رکاب‌تانګ — زغره خول ترکش کـمان شمشېر اسـوار مست
هر چې شته پـه دواړو کونـو کـل سماع ده — دېـو پـري کوځـه دکـان او هـم بـازار مسـت
شـمس قمـر سـتوري تنـا ابـری بـاران بـرق — عـرش کـرسي لـوح و قلـم فلـک دوار مست
حـور قصـور غلـمان انهـار جنـت باغونـه — کاني بوټی کـل اثمـار (او هـم ) اشجار مست
فیـل شـتر بهـایم ګـاو سـباع خـر وری مېـږه — بـاد آتـش خـاوره جبـال ځمکـه بحـار مسـت
خربـــوزه انګـــور مڼـــې خرمـــا شـــفتالو — خوبـانی اوغـوز املـوک بـادام انـار مسـت
زنغـوزي ګورګـوري تـوت پلیونـه منزاښـې — انـــب نیبـــو ســـد افـل انانـاس کنـار مسـت
ارغنـي نـارنج تـرنج کـټ هـل نبسـیر وي — تبهول سرئ سرو کرنـی جمنـی سفیدار مست
ښـــوونی انځـــر کرکڼـــې کریـــړې شـــنئ — هندوانې بادرنګ فلسې کمرک کرفشار مست
ږدن غوښـت کـوده منـډوه بـاجره وربشـې — وریجـې مـئ چنې مسـور مهـې جـوار مست
هرېـــړه برېـــړه ســـونډ لونـــګ جـــوترې — پان چونډ سپاري کت جاري پل کوکنار مست
لـــه هغـــه سره بـــه ځـــوک برابـــري کـــا — چـې مـدام پـر پـاک دیـدار د کردګـار مست
ډېر سرې پر نور نور ځیز هـوس مستي کـه — دا فقیـر دولـت دی تـل پـر مـخ د یـار مسـت
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۲۷ او ۲۲۸).

تېر ارمان

حال ساعت درځنې درومي پر حضور شه — پـه تېـر شـوي عمـر هـر زمـان ارمـان ځـه
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۴۶).

ریاضیکي خیال

چې د دوست د وصال زېری باندې وشي — پـر مرکـز بانـدې کـوي لکـه پرکـار څـرخ
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۵۲).

د شیخ فرید له منطق الطیر څخه اغېزمنتیا

لـه توحیـده بـه خـبر شـې کـه ولـوې — حالـت بخـش منطـق الطـیر لـه فریـده
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۲۵٦).

بازاري ژبه کارول

ای د نوس پـه بـد خویونـو کـې محبوسـه — خپـل اصلـي وطـن دي پرېښـود بـې ناموسـه
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۳۱۴).

د یونانی فلسفې پر بنسټ خیال چې انسان د خپل ځان دوزخ دی.

خدای بادشاه ظلم پر چا نه که عـادل دی — هـر سـړی پـه بـد عمـل پـه ځـان سـتم کـه
(لواڼی، ۱۳۹۱ل، ۳۴۸).

د الله په ژبه غږېدل

په زبـان د حـال گويـان يـم | يـو وجـود واحـد عيـان يـم
د شـاهد لبـاس مـې واغوسـت | عاشـق شـوی پـه خپـل ځـان يـم
د فقـير دولـت پـه ژبـه | څرگنـد وايـم كـل جهـان يـم

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳٦٧).

دنيا د لومړي ځل لپاره له پليتې ښځې سره تشبېه کول

دا دنيـا پليتـه ښـځه ده لچـه | محبـت ور سره ډېـر مـه کـړه سـجنه
دا لـولی کاسـيره سـحر لـري هسـې | حلقـه ور پسـې زغـلي ړنـده کنـه
د لـولی پـه سـحر زيـات و غـلاوه شي | دغـه هسـې انبـوهي بـې شـماره کـه

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۳٧۴).

کله الله ج له مور او پلار څخه ډېر مهربان گڼي او کله هم خپله مينه له الله سره تر مور اوپلار ډېره گڼي:

ته پرما ولې سخت دل شوې بې نيازي کړې | ای زمـا و زړه راتېـر تـر مـور و پـلار ډېـر

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۲۹۴).

د تېرو پيرانو يادونه

د دې حال گواه مې بايزيد حسين جنيـد شـو | مـلا روم شـمس تبريـز عطـار فريـد دی
مغـربي سـعدي حـافظ جـامي خاقـاني | ارزاني ميرزا مخلص قاسم احمـد سـعيد دی
چې ياري هر څوک لـه ده غـواړي دولتـه | محمـد رسـول (ص) د دوو کونـو عميـد دی

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۰۸).

نوې خبرې او خيالونه راوړل

له خپل قام سره دوستي نـه کـا کـم اصـل | چـې و اصـل و تـه رجـوع لـري اصيل دی

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۰۹).

تن او روح جدا گڼي.

تـن ارواح سره يـوه مـه گڼـه جـدا دي | روح مهوت غوندې پرې سور صورت يې فيل دی

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴۰۹).

د موشگافي کلمه د لومړي ځل لپاره کاروي.

د ظاهر په کار هوښيار مـوی شـگافي کـه | د بـاطن نقصـان نـه وينـي کـور و کـر هـېځ

(لوانی، ۱۳۹۱ل، ۴٦۰).

په پښتو ادب کې د لومړي ځل لپاره ښځه توهينامېزه يادول

محبت ورسره مه کړه که دا نا یې — د دنیا بدکاره ښځه ده پرېښون یې
(لواڼې، ۱۳۹۱ل، ۴۹۵).

د خیرالبیان په تړاو نظر

هم وارث د انبیا و هم ولي و — هم هادي د هدایت و په څو شانه
مصنف په هندي و هم په فارسی و — هم په ژبه د عرب هم د افغانه
په څلور لفظه یې خیرالبیان گوره — چې نازل شو و روښان ته له سبحانه
نه استاد دی تر میان او نه ثالث و — په طریق د الهام راغی له رحمانه
(لواڼې، ۱۳۹۱ل، ۵۴۱).

د زلفو په تړاو غزل

چا چې واخیست په سحر مشام د زلفو — ستایش به کا همېش مدام د زلفو
(لواڼې، ۱۳۹۱ل، ۵۴۶).

د دولت لواڼي پر شعر د عربي ژبې اغېز

پر خپل ځان باندې عاشق يې خپل صفت کړې — منزه یې له اربع ثالث اثنیته
(لواڼې، ۱۳۹۱ل، ۲۲۳).

د دولت لواڼي پر شعر د هندي ژبې اغېز

هغه کس جاهل ابتر هی — څو عاشق په سیم و زر هی
(لواڼې، ۱۳۹۱ل، ۳۸۸).

د حضرت محمد (ص) د پیدایښت کیسه د اوسني دیوان پر (۹۱) مخ او د میاروښان د اولادې یادول پر (۹۶) مخ راوړي. همدا ډول الفنامه د ارزاني او مرزا په سبک کې منظوموي. نوموړی په خپلو شعرونو کې د ډېرو انبیاوو نومونه هم ذکر کوي.

په پورته ډول د دولت لواڼي د شعر سبکي ډېری توکي تاسې ته په واک کې درکړل شول هیله ده د خپلې خوښې او موضوع مواد ترې غوره کړئ.

### ۳. ۲. ۱. ۵. علي محمد مخلص روښاني

علي محمد مخلص د ابوبکر کندهاري زوی و، ده روښانیانو ته ډېر اخلاص درلود، نوموړی د بایزید اثر (حالنامه) له سره مرتب کړه او د قدر وړ اضافې یې پکې وکړې. نوموړی د پښتو ادب تکړه شاعر دی، په پښتو او فارسي یې شاعري کړې ده چې فارسي شاعري یې په حالنامه کې چاپ شوې ده.

علي محمد له خپل پلار سره په هند کې اوسېده او د رشید خان له ملگرو څخه و، د نوموړي څه ژوند په دکن کې هم تېر کړی دی، ژوند یې تر (۱۰۶۹هـ) کال پورې یقیني دی. (زېور، ۱۳۸٦ل، ۱۲۲ او ۱۲۳).

**۳. ۲,۱. ۵. ۱. علي محمد مخلص د شعر ځانګړنې**

۱. په شاعرۍ کې يې مخلص د تخلص په بڼه راوړی.

۲. شعر يې سليس او روان دی ، په شعر کې يې ډېرې کمې ستونزمنې کلمې او ګړنې تر ستر ګو کېږي.

۳. خيالات يې دومره ژور نه دي چې د پوهې له کچې يې وباسي.

۴. د بايزيد نوم د حال په صيغه کې کاروي:

| | |
|---|---|
| دا مخلـص د حـق پـه داد ډېـر هوسـېږم | چې مريد يې د بايزيد مسـکين روښـان کـړم |
| کـه طالـب يـې د وحـدت د ميـو واوره | پـير روښـان د دغـه ميـو مـي فـروش دی |

۵. دی هم په خپل شعر کې پير کامل راوړي:

| | |
|---|---|
| د کامـل نښـان دغـه دی پـه عـالم کـې | چـې اتـه مقامـه خپـل کانـدي لـه نيـازَ |

۶. مخلص روښاني د وحدت الوجود مختلفو بڼو ته داسې اشاره کوي:

| | |
|---|---|
| دا کـثرت دی د وحـدت مظهـر پـه قطـې | په مظهر کښې به معلوم د وحدت نمـر کـړې |
| دا وحدت پـه مثـال وېـخ کـثرت ښـاخونه | د يــوه مېــوه پخــه د بــل څــو خامــه |

۷. د احمد (ص) په نوم کې د (ميم) توري کثرت راوړی، که (ميم) ترې لرې شي (احد) پاتې کېږي:

| | |
|---|---|
| پــه دا مــيم احــد احمــد شــه | کــه مــيم و تراشــې احــد شي |

۸. مخلص هم د بايزيد د تصوفي مسلک ټولې اصطلاحګانې را اخيستې دي.

۹. نوموړی هم په خفي ذکر زور راوړي. ( مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۰۸ ــ ۵۲۴).

**۳. ۲. ۱. ۵. ۲. له روښاني شاعرانو سره د علي محمد مخلص د شعر موضوعي ګډون**

د علي محمد مخلص په شعرونو کې ( صيقل، مى، پياله، پيمانه، خودي، له دواړو جهانونو بېزاري، په دنيا پسې بد ويل، ارسي، صاحب دل، عارف، ناسوت، لاهوت، ميم، ګمان، يقين، د مؤمن زړه تـه عـرش الله ويـل، خفـي ذکر، په صفتونو کې پټېدل، نفس، شيطان، توکل، بلبل، زاغ، کامل پـير، هـادي، لا، چهـار عنصر، بنـده تـه د اللـه نژدېوالی، شپږ جهته، وحدت، کثرت، شاهد، روښان، دواړه کونه، کم خوراک، کـم خـوب، کمـې خـبرې، پـاس انفاس، مناجات، توبه، يزدان، بهشت، غافل انسان، قناعت، صبر، د اوبونم: ملکوت، جبروت، احد، احمد، قطب،

اوتاد، غوث، ابدال، مجاز، حقيقت، ژوند ته ارزښت نه ورکول، شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت ) تصوفي ګړنې د روښاني فکر د مشرانو شاعرانو په څېر تکرار راوړل کېږي چې د بېلګې لپاره يې د ګړنې اړوند بيتونه راوړو:

صيقل

د خدای ياد د زړه صيقل دی که باور کړې
په غفلت اندېښنو زړه د سړي زنګ شي
(مخلص، ۷۰۳).

مى، پياله او پيمانه

ښه پياله د حقيقت به دې تر خوله کا
په دا مى به ځان جهان ګورې رقاص
(مخلص، ۴۴۵).

خودي

اى مخلصه خودي لوى صنم ياد شوى
په غنا کې به ايمن له هر منات شې
(مخلص، ۴۳۷).

له دواړو جهانونو بېزاري

محبت له هيچا مه کوه بې خدايه
د مخلص په څېر له دوو کونو بېزار ځه
(مخلص، ۳۴۴).

په دنيا پسې بد ويل

تل دنيا ده د وفا له مغزه پوچه
ده غولونکې بې وفا ښايسته لوچه
(مخلص، ۲۵۲).

ارسي

که د زړه ارسي روښانه کړې په ذکر
د يار مخ به پکې ووينې اظهر ته
(مخلص، ۱۸۱).

صاحب دل

که بې مثل زړه دې بيامومند صاحب دل شوې
دا د غوښو زړه به زړه مه کړه باور ته
(مخلص، ۱۸۱).

عارف

عارفان به هر اشيا کې اشناويني
که عارف يې غير مه ګوره نظار ته
(مخلص، ۱۷۸).

ناسوت او لاهوت

چې ناسوت مقام یې خوښ لاهوت یې ترک که
د احمق سړي تمثیل کېږي و خره ته
(۱۷۰ مخلص،).

میم

دا په میم له پټه گنجه شو پیدا
له جوشِشه په خپل نور باندې شیدا
(مخلص، ۱۲٦).

گمان او یقین

گمان و باسه له دله
ښه یقین پکې حاکم کړه
(مخلص، ۱۱۵).

خفي ذکر

چې خفي ذکر یې نه زده
زړه یې تل زنگ مکدر دی
(مخلص، ۹۲).

په صفتونو کې پټېدل

ذات شه یو صفات یې ډېر دی
په صفات کې ذات مکتوم شه
(مخلص، ۸۰).

نفس شیطان توکل

چې یې توکل په خدای که
نفس شیطان ځنې دافع شه
(مخلص، ۸۳).

که د نفس په نغوته ولاړ شه
په حیات د زړه ماتم دی
(مخلص، ۱۱۵).

بلبل او زاغ

بلبل خوښ د گل په بوی دی
د زاغ میل یې په خوړل شه
(مخلص، ۸۲).

پیر کامل

تل مخلص په زړه هوس کا
چې پیرو د پیر کامل شه
(مخلص، ۸۲).

هادي

چې کامل هادي رهبر لرې د وړاندې پـه تيـاره کـې چـراغ نمـر لـرې د وړانـدې (مخلص، ۳۱۰).

توکل

چې يې توکل په خداى که نفس شيطان ځنې دافع شه (مخلص، ۸۳).

لا

دواړه لونه دي د لا حجاب د حق په لار کې په شمشېر د لا يې مه پرېږده اثر هېڅ (مخلص، ۲٦۱).

څلور عنصره

چار عنصر مثال لاس پښې دى ارادت له زړه طالع شه (مخلص، ۸۴).

بنده ته د الله نژدېوالى

نَحْنُ اقـرَبُ اليکَ در نزدې تر رگ عصب دى (مخلص، ۸۸).

شپږ جهته

له غيرت معشوقې غيرې کل باطل کړه په شپږ لوري شوه څرګنده نګارا (مخلص، ۱۲۷).

وحدت

يار په هر لوري حاضر دى اغيار نشته هر اشيا د وحدت گل دينه خار نشته (مخلص، ۲۰۳).

د عاشق په سترګو ګوري و خپل مخ ته کل اشيا د حق ارسي په دا صحرا (مخلص، ۱۲۷).

کثرت

که دې ګورم په هر څيز کې يې عيان ته و بينا و ته حضور په هر مکان ته (مخلص، ۱۸۴).

شاهد

د شاهد شهود حضـور کـه دې نظـر شـته دی نقـاش لـه نقشـه يـو کـه دې بـاور شـته
(مخلص، ۱۸۹).

په دواړو کونو زړه تړل بد ګڼل

دواړه کونـه د لـذت شـهوت مکـان دی پـه لـذت شـهوت د نفـس ډېـره رضـا شـته
دواړه کونـه کـم ډنـډوکي دي مخلصـه پـه ډنـډوکي اودس مـه کـړه چـې دريـا شـته
(مخلص، ۱۹۵).

روښان

چې روښان ساقي پيالـه د وحـدت راکـړه پـه زمـان کـې شـه زايـل خـمار زمـا
(مخلص، ۱۳۰).

د کم خوراک، خوب او وينا اختيارولو تلقين ورکول

کـم خـوردن خفـتم اختيـار کـړه پـه وطـن کـې شـه غريبـه
(مخلص، ۱۴۱).

کم خوردن خفتن اختيار کړه که طالب يې کـم ګفـتن خلـوت فايـده ګڼـه ښښـتر نـه
(مخلص، ۱۸۰).

پاس انفاس

پـاس انفـاس د زړه شـنه کـړه زړه پـرې ژغـوره لـه رقيبـه
(مخلص، ۱۴۱).

مناجات

نـن د زړه دانـايي غـواړم لـه وهابـه لـه دښـنو رهـايي غـواړم لـه وهابـه
(مخلص، ۱۴۵).

توبه

مـرګ بـه ورشي هـر سـړي لـره ناځاپـه په ځوانی شه درست تايب ګردان لـه پاپـه
(مخلص، ۱۴۶).

يزدان

د هـر چـا اخـر وجـود دی و يـزدان تـه عاقبـت چوبـدار حضـور شي و ديـوان تـه
(مخلص، ۱۵۸).

بهشت

ای مخلصه لوی خطر لرې په لار کې — تر بهشته رسېدل په ډېر رحمت شته
(مخلص، ۱۹۷).

غافل انسان

پر غافل سړي تل شپه سحر یې نشته — دی د زړه په سترګو ړوند بصر یې نشته
(مخلص، ۱۹۹).

قناعت او صبر

قناعت صبر رڼا ده پر زړه باندې — د رڼا قدر معلوم دی و بینا ته
(مخلص، ۲۱٦).

د اوبو نم

لکه ګل په نو تازه په ځای ولاړ دی — هسې شان په روح ولاړه د تن کوټې
(مخلص، ۲۲۵).

متروک کلمات کارول

غیرې یاد توره تیاره ده پر زړه باندې — دا ستا یاد د زړه چراغ دی له ډېوټه
(مخلص، ۲۲۷).

ملکوت، جبروت، معرفت، وصلت، قربت او وحدت راوړل

له مرید سره وعده د معرفت که — چې و حق ته به نژدې زر شي بعیده
د وصلت وحدت له پوهې به خبر شي — که عمل کړې زر به ورشې تر توحیده
بسته در د جبروت به پرې کشاد شي — ملکوت د جبروت د در کلي ده
د قربت طلب دې وکا چې عارف شي — نزدیکي له دوری بهه له مجیده
(مخلص، ۳۰۰ ــ ۳۰۲).

احد او احمد د وحدة الوجود بېلګه کول

کل کثرت د نور جامه ده سر اغوستې — سر احد نور یې احمد ګوره اظهر نور
(مخلص، ۳٦۳).

دا کثرت د میم لباس شه — جهان ګل حضر یې باس شه
نور عالم لکه تن ګوره — د احمد نور د تن رأس شه
(مخلص، ٦۷).

په دا میم احد احمد شه — که میم وتراشي احد شه

چــــې د مـــيم الايـــش و وځـــي   پـــر ځـــای پـــاتو پـــاک صـــمد شـــه
(مخلص، ٧٠).

قطب، اوتاد، غوث اوابدال

اوليـــــاء د حضـــرت نــــور دی   ځنــــې پــــټ ځنــــې مضــــهور دی
ځنــــې قطــــب اوتــــاد بــــولي   ځنــــې غــــوث ابــــدال مــــذکور دی
(مخلص، ٦٧).

مجاز او حقيقت

چـې مجـاز د حقيقـت پـه نظـر گـوري   دې مخلـص بصـيرت بيامونـد لـه قدوسـه
(مخلص، ۴۱۲).

د ملا خلاف نظر ورکول

ای مخلصـه چـې لـه ژونـده خـبر نـه وي   لـه غافلـه مـلا تښـته ميـل در ميـل ډېـر
(مخلص، ۳۵۸).

پر ژوند باور نه لرل

دا صورت گوره درخت د سيند تـر غـاړه   عاقبـت بـه شـې فنـا د سـيند لـه بـاړه
(مخلص، ۳۷۹).

خفي ذکر

خفـي ذکـر معرفـت ځنـې حاصـل کـړه   پـه نعـرو بـه مـولا نـه مـومې خروسـه
(مخلص، ۴۱۳).

د مومن زړه ته عرش الله ويل

عـــرش اللـــه د مـــؤمن زړه دی   تخـــت مکـــان د حکومـــت شـــه
(مخلص، ۱۰۳).

شريعت، طريقت، حقيقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت يادول

شريعـت طريقـت بـل حقيقـت گـوره   معرفـت قربـت وصـلت شـپږم مقـام دی
چې دا شپږ مقام يې طی نه کـه بـاور کـړه   تـر توحيـده بـه ور نشـي دا اعـلام دی
(مخلص، ۷۱۱).

د عارف چې سکونت یې تخت ګاه شي      په معنی کې بـه عـارف مسـکین بادشـاه شي
(مخلص، ۷۲۹).

### ۳. ۲. ۱. ۵. ۳. د علي محمد مخلص په شعر کې بلاغي توکي

نوموړی په خپله شاعرۍ کې بلاغي توکي ( بیان، بدیع، قافیه او عروض ) هم په لومړنۍ بڼه کاروي:

### ۳. ۲. ۱. ۵. ۳. ۱. بیان

**تشبیه**

غیر عادي تشبیه

ای مخلصه ځان جهان ځـان ګـوره      د یقـین وړه و مـولا تـه دسـت اوېـزه
(مخلص، ۳۹۵).

مرکبه تشبیه

د عاشق زړه کوشش کانـدي د نګـار پـه لـور      لکـه تـرۍ ځلـه کانـدي د انهـار پـه لـور
(مخلص، ۳۵۱).

ساده کلیواله تشبیه

که پـه نمـر کـانې رنګـین ور څرګنـدېږي      پـه غـروب شي پـه مانـنـد د مېښـو سـوځې
(مخلص، ۲۲۳).

مفروقه تشبیه

روح پنبـه تـن پندانـه مـرګ الاجـي ده      په دا تنګ در دې د پېښې تله په محنت شته
(مخلص، ۱۹۵).

روح له پلار، نفس له مور او زړه له فرزند سره تشبیه کول

روح یـې پـلار دی نفـس یـې مـور ده      زړه فرزنـد تـر میـان داخـل شـه
(مخلص، ۸۲).

### ۳. ۲,۱. ۵. ۳. ۲. بدیع

شبه اشتقاق

حق رازق د هر مرزوق دی شک پرې مه کړه تـه      د خپل زړه یقین استوار کړه د پـولاد پـه څېـر
(مخلص، ۳۵۰).

تجرید

ای مخلصـه کـاملان مهربـان ډېـر دي      پـر مریـد مهربـان نشـته تـر روښـان هـېڅ
(مخلص، ۲۶۵).

مراعات النظیر

زه نادان شیطان مکار نوس حیله گر دی تـه دانـا یـې مـا کـړه خـلاص لـه مکـره رټـه
(مخلص، ۲۲٦).

تلمیح

عربي مقوله ده: مَنْ عَرَفَ نَفْسَهُ فَقَدْعَرَفَ رَبَّهُ.

ژبـاړه:(( د هـر چـا چـې د ځـان پېژنـدګلو وشـوه، پـس پـه تحقیـق چـې هغـوی خپـل پروردګـار و پېژانده.))(ختیک،۱۳۹۷ل،۹۷).

د خپل ځان عرفان د حق عرفان دی قطي د نـادان پـه دا ګفتـار کـار و بـار نشـته
(مخلص، ۲۰۴).

دم ریبـار هدهـد چې راغـی لـه بلقیسـه زړه سـلیمان یـې خـبردار کـه لـه انیسـه
(مخلص، ۴۰۷).

ګړنه

چـې مـانع شـه د سریـن اشـنا لـه مخـه هـر زمـان مـې آهِ سرد وي و رقیـب تـه
(مخلص، ۱۷۷).

تدبیج

لـه وحدتـه د کـثرت پـر میـدان راغـی سـپین و تـور زیـړ و زرغـون شـه یـار زمـا
(مخلص، ۱۳۰).

تسمیط

زه له عشقه بې قرار یم له دردونو سره یـار یـم زه همېش په زړه خونخوار یم صبر څه غواړې له ما
(مخلص، ۱۳۲).

د اعدادو کارونه

ای مخلصـه بـل شـپېرم اووم یـې حـق دی رازګویـان کـه سره ناسـت یـا پنځـه شـپږ دی
(مخلص، ٦۵۱).

اقتباس

د زړه ستر ګې مې بینا کړه چې دا ستا و مخ تـه ګـورم سـتا دیـدن د زړه راحـت دی صَـدَّقْنَا آمنًـا
(مخلص، ۱۳۳).

موسسه قافیه

د درویش حاصل ستا مخ دی زیان یې مه کړې د حاصـل مـخ چې بې تا په څو خوښېږي هغه کس دی نا قابـل مـخ
(مخلص، ۲۹۴).

چې یې زړه خلاص د دنیا لـه علایـق شي پـه سـالکو کـې بـه دا سـالک سـابق شي
(مخلص، ٦۹۵).

### ۳. ۲،۱. ۵. ۴. د علي محمد مخلص منځپانگیزې ځانگړتیاوې

د مخلص په دیوان کې ډېرى داسې موضوعگانې شته چې له روښانیانو سره پر فکري تړاو سربېره د ده شعر ته یو ځانگړى ځاى ور ښني:

۱. د زړه پوهه په لسو څیزونو پورې تړي چې پنځه یې څرگند او پنځه یې پټ دي چې څرگند یې (باصرې، شامعې، سامعې او ذایقې حسونه) ، پنځه نور یې چې په باطن پورې تړاو لري ( خیال، وهم، حافظه، مفکوره او مذکره) ښیي:

زړه گویا لـه دانـایی شـه بـاور وکـړه / دانــایي د زړه حاصــله لــه لـــس بابــه

پـنج بېـرون پینځـه درون گـوره لـس واړه / بـــاصره شـــامه او ســـامعه البابـــه

ذایقــه لامســه دا پینځــه ظــاهر دي / د بـاطن حـس دى خیـال وهـم زود یابـه

حافظــه مفکـــوره مـــذکره شـــو / بـــاطن د پـــوهې دا پینځـــه اربابـــه

(مخلص، ۱۳۶).

۲. اووه زړونه

اووه شانې زړونه گوره نن موجود دي په عـالم کې / یو مرده دویم مریض سه دى غافل زړه بې اسلوبه

څلورم زړه ترسنده دى پینځم زړه منیب تایب شه / شپږم زړه شهید لیدونى اووم زړه سلیم مرغوب

(مخلص، ۱۳۷).

۳. سنیتوب

دا مخلـــص یـــې پـــه قطـــار کـــړ / چـــې ســـنى دى پـــاک مذهبـــه

(۱۴۰ مخلص،).

۴. د شفقت او مینې له مخې الله (ج) ته په تفضیلي بڼه له مور او پلار سره تشبیه ورکوي:

ک کـــــریم رحـــــیم ســـــتّار دى / مهربـــــان تـــــر مـــــور و پـــــلار دى

(مخلص، ۱۱۰).

۵. د الله (ج) لپاره یزدان متروکه کلمه کارول، دغه کلمه دولت لواڼي هم کارولې ده.

د هـر چـا اخـر وجـود دى و یـزدان تـه / عاقبـت چوبـدار حضـور شي و دیـوان تـه

(مخلص، ۱۵۸).

۶. علي محمد مخلص د دیوان په ( ۱۶٦) مخ کې د اتو صفتونو (توبه، عبادت، زهد، صبر، رضا، شکر محبت او معرفت ) په بیان کې شعرونه راوړي چې د اتو مقامونو پر وړاندې راغلى دي.

۷. نوموړى د هر نظم په پیل کې د ایت او حدیثو په رڼا کې شرحه راوړې ده.

۸. سخته قافیه کارول

د یار نوم تـر شـهد ډېـر شـیرین دى میتـه / کـه محـب یـې پـر زبـان دل یـې کـړه بلیتـه

(مخلص، ۲۲۵).

۹. معنی او پیمانه

هــر کــلام دې پیمانــه معنــی دانــه ده
پکــې تــولي څــوک غــنم ځنــې خمســه
(مخلص، ۴۴۸).

۱۰. په خپله الله غږېدل

که زه مخ و خپـل اشنا و تـه عریـان کـړم
د زړه غـوای بـه یـې نـوراني میـدان کـړم
هـر اشـیا زمـا مظهـر دی پـه هـر لـوري
په هر څه کې بـه خپـل مـخ ورتـه عیـان کـړم
(مخلص، ۵۵۱).

۱۱. خپله وینا له ایت او حدیث سره موافقه ښودل

د فقــیر وینــا ثابتــه لــه ایاتــه لــه حدیثــه
چې به دا وینا عمل کا په محکم پـړی تثبیثـه
(مخلص، ۲۳۱).

۱۲. دوه پایمخه مقطع راوړل: د دیوان په (۵۶۲) مخ کې یې بېلګه لوستلای شئ.

۱۳. علم ته رابلل

پـه جهـان تـر دانـایي نشته دولـت بـه
د دانـــا پـــه دواړه کونـــه وي عـــزت بـــه
تـــر دانـــا درجـــه نشـــته د چـــا لـــوړه
دانـا کـس دی پـه دنیـا هـم پـه قیامـت بـه
که بادشـاه دی و عـالم و تـه محتـاج دی
چـې بـې علمـه د چـا نشي حکومـت بـه
د دانـــا و د نـــادان فـــرق وګـــوره دلتـــه
د عـالم خـوب د جاهـل تـر عبـادت بـه
(مخلص، ۶۱۳).

۱۴. د اضدادو فلسفه

ضد تر ضد پورې معلوم شي پـه جهـان کـې
تــر اشرار پــورې ښـکاره ظـاهر اخیـار شي
(مخلص، ۶۵۴).

۱۵. د عارف او زاهد توپیر

د عـارف دیـدار راحـت یـا ښـه اواز دی
د زاهـد راحـت شـهوت مېـوه انګـور وي
(مخلص، ۶۶۱).

علي محمد مخلص په خپله شاعري کې د موضوع له مخې د نورو روښـاني شـاعرانو پـه څېـر د تېـرو عاشـقانو یادونه هم کوي:

دی معشـوق حـق یـې عاشـق شـه
دی د معشـــــوقی لایـــــق شـــــه
حـق طالـب دی یـې مطلـب دی
دی عـــذرا حـــق یـــې وامـــق شـــه

(مخلص، ۷۰).

د علي محمد مخلص پر شعر د عربي ژبې اغېز

ستا د کن په امر وشو     کل عالم چې دی حدثه
(مخلص، ۲۲۹).

د علي محمد مخلص پر شعر د هندي ژبې اغېز

چې د طريقت پر لار روان نشې     نوس په لوړه خالي نه کا له نتماچ
(مخلص، ۲۴۹).

د علي محمد مخلص پر شعر د فارسي ژبې اغېز

به از روی زیبا است اواز خوش     که ان حظ نفس است و این قوت روح
د اواز صفت به وکښم ښه اواز دی دلفريبه     اوزان کښېږدی و تېغ ته د احسن اصوات له زېبه
(مخلص، ۱۴۴).

علي محمد مخلص د حکيم ناصر خسرو د لاندې بيت ژباړه کوي:

چه خوش باغې است باغ زندگاني     گر ایمن باشد از باد خزاني
(مخلص، ۴۵۸).

ژباړه

د جهان باغ يې ښايسته دی که مدام وی گلبڼ دربغه     که بهار که پرې خزان شي يکسان نه دی چمن دربغه
(مخلص، ۴۸٦).

### ۳. ۲. ۱. ٦. واصل روښاني

واصل د روښاني خوځښت تکړه شاعر دی، د پيدايښت نېټه يې ناڅرګنده ده، ښاغلي هيوادمل د نوموړی پيدايښت (۹۸۰ يا ۹۹۰ هـ ق) کال اټکل کړی دی. دی د خپل اصل نسب په اړه وايي:

واصل حال د پښتانه په ژبه وايي     د نسب اصل يې ځي تر شيخ فريده

له پورته شيخ فريده دا پته نه څرګنديږي چې دا شيخ فريدالدين عطار دی او که شيخ فريدالدين ګنج شکر دی. بل ځای وايي:

دا فقير واصل په اصل شيخ زاده دی     په ظاهر يې ملاقات شه له بنگشه

له پورته بیته او ګړدوده یې دا جوتېږي چې دی په بنګښو کې اوسېدلی دی. د نوموړي د اوسېدو ځای او ورسره د مړینې کال یې هم ناڅرګند دی خو ژوندیې تر (۱۰۵۸هـ ق) پورې یقیني دی، (دبستان مذاهب) اثر د (۱۰۵۸ او ۱۰۶۳ هـ ق) کلونو تر منځ لیکل شوی دی او نوموړي د (دبستان مذاهب) له لیکوال سره کتلي و.

**۳. ۲. ۱. ۶. ۱. واصل روښاني د شعر ځانګړنې**

۱. په شاعرۍ کې یې رنګارنګ موضوعګانې لیدل کېږي.

۲. تر میرزا وروسته دی ښه روماني شاعر دی.

۳. د تخیل او فن له مخې یې پښتو شعر لوړ کړ.

۴. د جوړښت له مخې یې شعر پوره دی. کومه کمزورتیا نه لري.

۵. د پیر کامل ذکر یې په شعر کې کړی دی:

بدرقه مې د کامل غیب مدد شه　　　زه خسته عاجز هر ګوره نو سفر یم

۶. د وحدة الوجود بېلابېلو مرحلو ته یې په شعر کې ځای ورکړی دی:

دی له دېرې پیدایيه نا پدید شه　　　د ګمان سترګېړندې شوې له توضیح
ای واصله کثرت نه شي بې وحدته　　　د دریاب د پاسه ځي د اوبو جل شه

۷. واصل هم د احمد او احد توپیر د (میم) په راوړنه کوي، یعنې میم د کثرت بنسټ دی:

میم الف اغاز انجام دی　　　په احد کې میم حزام دی
دا رموز به ور څرګند وي　　　که اشنا د معرفت و

۸. نوموړی پر یقین عقیده لري او له ګمان څخه ځان ساتي:

چې یقین دې له طاعته بې نیاز کا　　　د ریا خرقه به واچوې بې باکه

۹. د نوموړي په شاعرۍ کې د بایزید روښان د اتو مقامونو ذکر نشته دی خو د وروستی مقام سکونت ذکر یې کړی دی:

د مسکین په خاطر غیر عبادت نشته　　　خدای خبر دی د هر چا د زړه له نیته

۱۰. واصل هم د خفي ذکر په تړاو سپارښتنه کوي:

پـــه هـــر تـــوکي زړه ســـکروټه  پـــه خفـــي ذکـــر شـــی بلـــه
(مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۲۴ ــ ۵۳۵).

**۳. ۲. ۱. ٦. ۲. له روښاني شاعرانو سره د واصل روښاني د شعر موضوعي ګډون**

د واصل روښاني په دیوان کې هم، لکه د نورو روښاني شاعرانو د تصوف ګړنې (نفس، شیطان، دویي، شپږ جهته، روح، خفي ذکر، په ژوند مړینه، کامل پیر ته تلل، لاهوت، معرفت، د الله [ج] له لوري غږېدل، وحدت، عین، غین، قناعت، مسکین، ابدال، مجاز، حقیقت، ګمان، پیاله، شراب، غوث، اولیاء، عارف، توبه، صاحب دل، عرش الله او مجذوب) په تکرار سره راغلې دي چې دلته يې د بېلګې لپاره د بیتونو په راوړو را لېږدوم:

شیطان

د شـــیطان یـــاري پـــه زور دی  نـــادان نفـــس ورسره ورور دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۲).

دویي

څـو زمـا رضـا یـوه وي د تـا بلـه  پـه دویـی کـې بـه ځـان نـه مـومې واصـله
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۵۰).

شش جهت

شـش جهـت واړه و روح و تـه عیـان دی  چـې د تـن پـه تـاریکی ننـوت ګـول شـه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۳۷).

روح او نفس

ای واصله سړي یو دي مدام یو د بل په څو دي  نېک و بد سره یو نه دي دا روح د نفس دعوه ده
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۸٦).

خفي ذکر

پـــه هـــر تـــوکي زړه ســـکروټه  پـــه خفـــي ذکـــر شي بلـــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۸۹).

په ژوندونی مړینه

چې واقف د خپل وجود په کاینات شوم  د نفـــې رمـــوز مـــې ولیـــده اثبـــات شـــوم

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۱).

کامل پیر ته تلل

هر طالب چې د کامل په امر سم شه
په حیات یې صورت و سپاره بې غم شه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۳۹).

لاهوت

معرفت مې په لاهوت کې نه ځاییږي
اوس د عقل میدان تنگ دی ځنې زیات شوم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۱).

معرفت

اشنایي له محبته سره زېب کا
چې د علم معرفت وي د خدای داد شي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۰).

الله له لوري غږېدل

د خپل ځان صفت د یار په ژبه وایم
په گمان مې چېرته لرې گڼه دا یم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۲).

وحدت

دانسته یې په حجاب کې خپسر و نغښت
لیده نه شي جهان واړه ځنې پور دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۰).

تور حرفونه د الف په تسبېحات دي
او سکه واړه د یوه په دم حیات دي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۵۹).

د رښتینې محبت علامه گوره
په یوه قطره د درست دریا بیان کړم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۹).

په گمان مې خپسر یخ کانې اوبه وم
د یقین له تاوه و بهېدم ذات شوم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۱).

درست جهان یې د اشنا په سترگو وکوت
په دا خپل وجود تمام د یار په خبر شه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۳٦).

ای واصله کثرت نشته بې وحدته
د دریاب د پاسه ځي د اوبو جل شه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۳۷).

غین او عین

دا نقطــه د عــین و غــین معرفــت دی        پــه کــثرت نــنداره د خپــا نښــان کــړم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۹).

قناعت او مسکین

قناعـــت د مســـکینانو پایتخـــت دی        کــوه قــاف یــې د عنقــا د زړه مســکن کــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۴٦).

ابدال

د ابـدال پـه لـور مست پـه میـدان راغلـې        نــن مشــغول د عاشــقانو پــه غوغــا یــې
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۸۰).

مجاز

د مجــاز پــه عــاقلانو پــورې خانــدي        چــې یــې زه پخپلــه مینــه لېــونی کــړم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۹).

ای واصــله د مجــاز اشــنایي مــه کــړه        بــې وفــا دی د ښایســت ارمــان یــې نشــته
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۳).

گمان او معرفت

د مــولا پــه معرفــت کــې گــمان نشــته        چــې یقــین د چــارې نــه کــا رښــتیا کــوم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۰).

څو د غم خونـه دې نـه شي پـه سر ړنگـه        د گــمان دوهــې پــه ځــای گنــه ملنگــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۴۷).

حقیقت او مجاز

حقیقــت دې د مجــاز پــه ژبــه غــبر کــا        دغــه لــوی غفلــت لــه یــاده سره ضــم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۱).

پیاله او شراب

کــه خــبر شــې د معنــی لــه ملکوتــه        د بقـــا پیالـــه بـــه و څښـــې لایموتـــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۰).

غوث او اولیاء

د نېکبخــت لــه اولیــاوو سر و کــار شــه        پــه رضــا یــې د غوثــانو وینــا نغــوږه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۰).

عارف

عارفـــان لـــه هـــره شرکـــه منـــزه دي

لکـــه غشـــی پـــاکيزه و وځـــي لـــه شســـته

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۰).

توبه

ای واصـــله د آدم مـــيراث توبـــه دی

د احمـــد د امـــت فخـــر پـــه عرفـــان شي

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۳).

د گنـــــاه صـــــابون توبـــــه ده

جامـــــه پرېـــــوينځي نگـــــار شي

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۹۴).

صاحب دل

درست بـاطن يـې لـه ظـاهره تجلی کـا

د کـمال دليـل پيـدا لـه صـاحب دلـه

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۴۸).

عرش الله

عـرش اللـه د عـارف زړه گڼـه بـې شـکه

د صـــورت عـــالم تمـــام د ده تعبـــير دی

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۳).

مجذوب

يگانـه د حـق لـه مينـې مجـذوب گـوره

چې پـه هـر حسـاب وتلـی لـه حسـاب دی

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۵۹).

**۳. ۲. ۱. ٦. ۳. د واصل روښاني په شعر کې بلاغي توکي**

د واصل په شعرونو کې هم بلاغي توکو (معاني، بيان، بديع، او عروضو ) ته پاملرنه شوې ده چې دلته يې راوړل اړين بولم:

**۳. ۲. ۱. ٦. ۳. ۱. بيان**

له موصوف څخه کنايه

په هر چا بـه د نـابودې ښـادي غـم کـړي

عاقبـت بـه د بـې نيـازو کـبر کـم کـړي

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۷).

دی واصله په هـر چـا بانـدې بـه تېـر شي

د دنيـــا ســـاړه غارمـــه دي څـــو ســـاعته

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۸۵).

**تشبیه**

مفروقه تشبیه

طالبــان یــې لــه غیرتــه پــو پنــاه کــړل
مخ یې نمر لب یې شکر خنـدا یـې اور دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۲).

پټه تشبیه

د انسـان پـه ښـه صـفت قیمـت پیـدا شـه
پـه نسـب د هـر گـوهر اصـل لـه سـنگه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۴۷).

له موصوف څخه کنایه

د عاقـل حیـوان لـه سـوده زیـان بـتر دی
لـــه اولـــه نفـــس شـــیطان سره نښـــلي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۹۷).

**۳. ۲. ۱. ٦. ۳. ۲. بدیع**

ارسال المثل

ای واصــله د اســتاد وینــا بــاور کــړه
چې لـه بـدو سره ښـه کـړې بـد بـه یوسـې
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۸).

تجنیس

نادانان په جهـان ځکـه خـدای پیـدا کـړه
په مرغونـو ځینـې ښـکار د ځینـو ښـکار شي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۱).

گړنه

غـــــم ښـــــادي سره تـــــړلي
اوړی ژمـــــــــی دم پـــــــــه دم دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۵).

د بـــــدل بخـــــره دربلـــــه
تـــــر مـــــاضي تـــــر مســـــتقبله
د تـــــوبې فکـــــر یـــــې نشـــــته
مـــــخ یـــــې تـــــور دی ږیـــــره کلـــــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۰۴).

تعلی

د واصـل لـه قلـم هسـې خـواږه دوړې
لکـه سـپین نبـات لـه تـوره نیشـکره
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۹).

بلـبلان یـې لـه سـماعه آشـفته شـوو
د واصـل د زړگـي ساز پـه زیـر و بـم کـړي

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۷).

معمی (الف او میم)

میم الف آغاز انجام دی په احد کې میم حزام دی        دا رموز به ور څرګند وي که اشنا دی معرفت و
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۸۴).

مدعا مثل

د ژونـدون مایـه لـرې فکـر دې نشـته        د مفلـس پـه دود خـالي ځـې لـه بـازاره
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۹).

تشخیص

دا زما جنـډې دې ولېـدې مجنـون شـوې        کـه لـه اصـله خرقـه پـوش راغلـې سوسـنه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۵۳).

طباق الاضداد

ګورم کوم دی هغه سود چې زیـان یـې نشـته        یا کوم زیان دی چې د سود نښـان یـې نشـته
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۳).

تجرید

ای واصـله نـوی عیـد دې مبـارک شـه        د هجران شپې دې روڼـې شـوې اوس سـحر یـم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۴).

تسمیط

د دیدن یاران دې ډېر وو ځینې یاد ځینـې یـې هـیر وو        څوک ولاړ وو زړه ته تېر وو ما پرېباسي لـه حسابه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۱۷).

توریه

شـیطاني محبـت تـور حقیقـي سـپین دی        لا بـه څـو غریبـان پرېبـاسي لـه پنـده
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲٦).

تلمیح

له مجازه د یوسـف پـه دود معصـوم دی        چـې امـان یـې لـه مـن شرالنفاثـات شـه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۳۵).

محتمل الضدین

بشـر انسـان شـه ګـدای سـلطان شـه        پـه روح راحـت کـا د زړه بادشـاه دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۵۸).

**۳. ۲. ۱. ٦. ۳. ۳. قافیه**

قافیه په اواز پورې تړل

د رحمـــت پـــه نظـــر و گـــوره غیاثـــه    لـــوی رحمـــت د زړه پـــاکېږي لـــه احداثـــه
د فقـــیر واصـــل د زړه لـــه متنـــه لولـــه    د دریـــاب محرمـــان څـــوک دي بـــې غواثـــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۴).

د قافیې لپاره توری غورځول

معرفـــــت د روح مســـــکن شـــــه    حجـــت قطـــع پـــه دیـــدن شـــه
د واصـــــل وینـــــا مطبوعـــــه    عنایـــــت د ذوالمـــــنن شـــــه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۴۰).

**۳. ۲. ۱. ٦. ۴. گرامر**

کړ د فعل لپاره او کړونی د فاعل لپاره کاروي چې دا د ده لپاره یو ځانګړی امتیاز دی:

ای واصله کـه پـه کـړ کـې کړونـی وینـې    د رمـــوز خـــبره مـــه وایـــه گســـتاخه
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۲۵).

نامانوسې کلمې کارول

چـې پـه سر بانـدې د تـوغ نوکـه بهـاړي    پـه لرگـي پـورې دې ټینـگ او و نمـاړي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۷).

یـو صـفت یـې تمـامي د بـل مثـال دی    پـه کړنـدر شـماره نـه شي دی بـې حـد
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۸۲).

نارینه مرستیال کړ د ښځینه لپاره کارول

د شـــیطان یـــاري پـــه زور دی    نـــــادان نفـــــس ورسره ورور دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۲).

(تښتن). د (څښتن). لپاره راوړل

د تښـتن پـه خپـل بنـده بـد پېرزو نـه دي    عـــرش اللـــه بللـــی نـــه بویـــه بېـــدل دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۴).

**۳. ۲. ۱. ٦. ۴. د واصل روښاني منځپانګیزې ځانګړتیاوې**

ډېرى داسې موضوعګانې دي چې واصل له روښاني سبک سره تړي او هم د ده شعر ته خپله ځانګړنه ببښي:

۱. دېرش حرفونه

په دېرش حرفه کـې تمـام عـالم بیـان شـه    لکـــه ســـترگه روښـــنایي د کاینـــات دي

(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۵۹).

۲. د مجاز او حقیقت تر منځ کوشېر ورکول

پــه بــاطن د بــاطن اهــل رســېږي
د مجــاز د حقیقــت تــر میــان کوشــېر دی
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦۳).

۳. مجاز او حقیقت سره ګډول

هغه څـو ورځـې پـه درسـت عمـر وپلـورې
چـې سـبا لـه خوابـه پـاڅې مـخ یـې ګـورې
دواړه زلفــې یــې لــه نــازه آشــفته شــوې
پــه بــالین بانــدې پرتــې دي تشــې تــورې
پـه مسـتانو تـر قیامتـه ښـادي غـم شـوه
د عشـرت صراحــې پرېــوتې نســکورې
د وصــال پــه طلــب ګــرځم قــرار غــواړم
پــــه آرام د دل آرام د زلفــــو ســــیورې
د ستا یـو دیـدن لـه هـرې زېرمـې پرېوسـت
د خپـل زړه پـه طلـب ګـرځم دورې هـورې
هــره تېــره چــار د بــل ســاعت ارمــان دی
کــه د اوښــکو پــه خــای وینــې د زړه اورې
ښایسـت هسـې د خوبـانو عـادت بـد کـا
د مجنون په خون داړه شوې پـه ننـګ وورې
تـــــا اول د سرو لمبـــــو لپـــــاره و زو
اوس پـه څـه زړه سـېځوې د پتنـګ مـورې
تی لا څه صفت کـوې چې عمـر ښـه دی
دی لـه څنـډه مسـت نـه دی پـه ځـان پـورې
هر صورت معنـی د خپـل مفـل ګـواهي لي
اصــلي غــوږ پــوزه هغــه دي څــه نــورې
ای واصـــله د خـــق بینـــو دور نـــه دی
د بېـدردو پـه رضـا شـوې زړونـه ژغـورې
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ٦٦).

۴. یزدان یادول

بـې شریکـه بـې پیونـده بـې مثـال یـې
د معنـی صـفت یـې محـض د یـزدان شي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۳).

۵. شریعت د تصوف او عرفان بنسټ ګڼل

شریعــت د معرفــت د غــاړې هــار دی
و معــراج و تــه خاتــه پــه دا رســن شي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷٦).

٦. تغزل او شعریت یې تر ټولو روښاني شاعرانو زیات دی.

لکــه پــاڼې د چمــن پــه رژېــدو شــوې
د چمــن بلبلــې ځــې پــه الوتــو شــوې
د نیســان پــه شــبنم وینښ شــه یاســمنه
د سپرلي ګلونـه بیـا راغلـل تـه پـو شـوې
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۷).

۷. ساینتیفیک نظر

استوخوان بـه دې خـبر لـه حالـه وایـي ‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌‌ چـې پیـدا شـوی پـه کومـه زمانـه وې

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۷۸).

۸. د غلا په اړه نظر

کـه منصـف صـاحب غـزل شي ‌‌‌‌ د چـا شـعر پـه ځـان ځـل شي

پـردي زویـه خپلوینـه ‌‌‌‌ چـې د بـل مضـمون غـل شي

تمـام رنـخ یـې حبطـه دی ‌‌‌‌ اشـکارا پـه خپـل محـل شي

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۹۵).

۹. انسان ته عاقل حیوان ویل

د عاقـل حیـوان لـه سـوده زیـان بـتر دی ‌‌‌‌ لـه اولـه نفـس شـیطان سره نښـلي

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۹۷).

۱۰. د حضرت محمد (ص) امتي کېدل

حقیقـي معـراج دغـه دی ‌‌‌‌ امتـي د محمـد شـه

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۳۵).

۱۱. د خپل اصل بیانول

دا فقیر واصـل پـه اصـل شیخ زاده دی ‌‌‌‌ پـه ظـاهر یـې ملاقـات شـه لـه بنگشـه

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۴۲).

۱۲. د مرزاخان مرثیه

د قبـا ځوانـان بـه واړه خرقـه پـوش کـه ‌‌‌‌ هسې نـه چې نـن یـې یـو مـرزا فقیر کـه

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۴۵).

۱۳. د پښتو ذکر

واصـل حـال د پښـتانه پـه لفـظ وایـي ‌‌‌‌ د نسب اصـل یـې ځـي تـر شـیخ فریـده

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۲۷).

۱۴. د انسان او بشر توپیر

کـه حرمـت دي دانسـان د نـامې نـومي ‌‌‌‌ د حیـوان پـه بهـا نـه ارزي بشـره

(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۲۸).

۱۵. ستور پېژندنه

د اسـد د میـدان فتحـه مـې روزي شـوه — د یمــن لــه برجــه وختــې کوکبــه
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۱۸).

۱٦. محبت په ادمیت پورې تړل

درسـت کـردار د محبـت آدمیـت دی — د حسـب اصـل نـژدې دی لـه نسـبه
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۱۸).

۱۷. سرود

چې یـې خـوښ د اواز پـه تسبیح نـه وي — د سرود تفـاوت څـه دی تـر دق دفـه
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۱۹).

۱۸. د خپل کلام پرتړاو نظر

که منصف یـې د واصـل کـلام تمیز کـړه — معرفــت دی نــه بدلــه دی نــه گپــه
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۱۹).

۱۹. روح ته مرده ویل

د ستا زړه بـه پـه مکـان کـې نـه ځـایږي — دا مـرده روح بـه دې و وځـي لـه تابوتـه
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۲۰).

۲۰. ځان ته فقیر ویل

د فقــیر واصــل د زړه لــه متنــه لولــه — د دریـاب محرمـان څـوک دي بـې غواڅـه
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۲۴).

۲۱. ځان ته غزل ویل

محبـت مـې نـوم د یـار پـه دفـتر وکـښـ — اوس لـه ځایـه د هغـه دیـوان غـزل یـم
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۱۴).

۲۲. شاه د الله (ج) لپاره کارول

شـــاه یکتـــا دی نـــه دوه کېـــږي — نـــه زبـــر دی نـــه زېـــر
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ۴).

۲۳. عیاران(کاکه گان) هغه کسان چې په دربار پورې به یې تړاو درلود او خلکو ته به یې خیر رساوه.

تـوره شـپه د عیـارانو خپـل وطـن دی — او پـه ورځ کسـوت بـدل کـا لـه خشـوع
(روښاني، ۱۳۶۵ل، ٦).

۲۴. بهشت

د بهشت په هوس راغلې | تر ما زيات شه زما کرم
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷).

د واصل پر شعري ژبه د هندي ژبې اغېز شته دی.

له دې پټه مصلحته خبر نه شوې | اشنايي يا په کعبه يا په صنم شي
(روښاني، ۱۳٦۵ل، ۷۲).

د واصل په ديوان کې غزل، رباعي، مخمس او ترکيب بند شعري څېلونه تر سترګو کېږي.

**۳. ۲. ۱. ۷. کريم داد بنګش**

کريم داد د بګش له قبيلې سره تړاو لري، د خيال بخاري په اټکل پر (۱۰۲۹هـ ق) کال پيدا شوی دی. د شعر له يوې مسرې يې داسې برېښي چې د هندوستان په شمس اباد کې پيدا شوی دی:

ښه مولد يې شمس اباد دی | لک رشيد و له وطواط
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۱۵).

نوموړي د ژوند زياته برخه د هند په رشيد اباد کې تېره کړې ده، ژوند يې تر (۱۰۵٦هـ ق) کال پورې يقيني دی، کېدای شي وروسته يې هم ژوند کړی وي، دی وايي:

کريمداد دا بيان کښلی | په زر شپږ پنځوسم کال دی
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۱۸).

نوموړي په فارسۍ کې هم شاعري کړې ده. په فارسۍ شاعرۍ کې يې (عيشي) تخلص کارولی دی.

عيشی ام بنګشي‌ام خاک رهم | دين و دل باخته در راه تو ام
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۱۳).

موږ په روښاني تاريخ کې دوه نور کريمداده هم لرو چې يو يې په روښانيانو پورې تړاو لري، دغه کريمداد د بي‌بي‌بګم له لوري د جلال الدين بن بايزيد انصاري زوی دی چې د (کريمداد کور) په نوم يې شهرت درلود، نوموړی پر (۱۰۴۷هـ ق) کال د شاه جهان د پاچاهۍ پر وخت د مغلو له لاسه شهيد شوی دی. دريم کريمداد د اخون درويزه زوی دی چې د پښتو صوفي شاعر و.

**۳. ۲. ۱. ۷. ۱. کريمداد د شاعرۍ ځانګړنې**

۱. د وحدة الوجود د موضوع په تړاو يې په خپلو شعرونو کې په بېلابېلو بڼو روښاني فکر وړاندې کړی دی.

۲. په خپله شاعرۍ کې يې له ستونزمنو کلمو او اصطلاحاتو څخه ډډه کړې ده.

۳. د نوموړي انداز روماني دی.

۴. په شعرونو کې يې خپل عقيدت له روښان سره په ښکاره ډول ښودلی دی:

دا حکمـــت يـــې دی مونـــدلی لـــه روښـــان ارســـطاطاليس
کريمـــداد حکمـــت مونـــدلی لـــه روښـــان د ديـــن ســـقراط

۵. د پير کامل ارزښت ته اشاره کوي:

د کامـــل طلـــب دې بويـــه کامـــل ســـتا د درد حکـــيم شـــه
ســـتا د زړه نقطـــه بـــه وا کـــا د کامـــل نفـــس نســـيم شـــه

۶. د وحدة الوجود په تړاو شعرونه لري چې طرز يې بدل دی:

دا اوبـه او نـم مـې کـل لـه يـوه اصـله ترشح يې چې پـه ځمکـه لـه سـحاب شي
د وحــدت ونــه يــوه پــه يــوه اصــل په کثرت باندې خوره شوه پـه څو شاخه
کـــل بـــه و وينـــې پـــه جـــز کـــې چـــې خـــودي يـــې کـــړه گـــذاره
(مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۳۵ ــ ۵۴۱).

۷. نوموړی په خپله شاعرۍ کې نورو اديانو کې هم د الله د ذکر خبره کـوي چـې نـورو روښـاني شـاعرانو نـه ده کړې:

کـــه مســـلم او کـــه هنـــدو دی د يـــــو مـــــولا اوتـــــار دی
پـــه يـــوه نامـــه جـــار وځـــي کـــه تســـبيح او کـــه زنـــار دی
(بنگش، ۱۹۶۴ز، ۴۸).

پـــه څـــو لونـــه اوريـــده شي د يـــــوه صـــــوت صـــــدا
(مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۴۱).

کريمداد ډېرې داسې ځانگړنې لري چې په ده پورې تړلې دي:

۱. د ستورو، مياشتو او ورسره د ځينو پېښو پېښېدل ښيي:

د قمـر پـه سـعديت بـه ښـه اميـد کـړ چـه يـې حـال پـه يـو حـال نـه دی روا
عطـارد کـه معتـدل پـه خپـل مـزاج دی هـــم اميـــد دی د وفـــا ځنـــې خطـــا
کـه زهـره سـعد مطـرب د فلـک دی لـــه مطربـــه طمـــع مـــه کـــړه د وفـــا
کـه آفتـاب سـعد اکـبر بـې اختيـار دی چـه کسـوف يـې لـه مـخ را نيسـي ضـيا
د مـريخ لـه نحسـه بـه ښـه وايـم سـعديت لـه نحسـه نـه غـواړي دانـا

تر پایه (بنگش، ۱۹۶۴ز، ۳۴).

### ۳. ۲. ۱. ۷. ۲. له روښاني شاعرانو سره د کریمداد د شعر موضوعي ګډون

د کریمداد بنګش په شعرونو کې ځینې کلمې، ګړنې، ترکیبونه او سیمبولونه، لکه (یقین، ګمان، حقیقت، مجاز، اوبه، نم، کامل، خفي شرک، دوبین، دنیا، نفس، یزدان، څلور عنصره، هادي، میم، طبیعت، ذکر، فنا، بقا، عارف، ابلیس، لا، محمود، ایاز، څان ته فقیر ویل، احول، وحدت، کثرت، زنار او قناعت ) په تکرار لیدل کیږي چې د میا روښان فکري سبک یې رامنځته کړی دی او نوموړي په خپله شاعرۍ کې ښه پاللي دي، دلته یې د بېلګې لپاره بیتونه هم راوړو:

یقین او ګمان

چه ګمان یې د یقین په تاو شي ولی ښه دیدن یې له دلداره بې حجاب شي
(بنګش، ۱۹۶۴ز،۳۷).

حقیقت او مجاز

حقیقت مې د مجاز له اهله پټ دی د دغې پوهې تښتن اولی الالباب شي
(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۳۷).

آشنایان په فراغت پرِ باندې درومي که مجاز د حقیقت د لارې پَل کړم
(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۸۷).

اوبه اونم

دا اوبه او نم مې کل له یوه اصله ترشح چه یې پر زمکه له سحاب شي
(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۳۸).

کامل

د کامل د نفس هسې ښه شمیم دی چه عالم یې معطر په مشکناب شي
(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۳۸).

خفي شرک

خفي شرک به یې هاله له زړه او وزي چه یې زړه د معرفت و تبغ فرات (قرات) شي
(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۳۸).

دوبین

دوبـین خـر د نـاپوهئ پـه بـار لښـلي همېشـه بنـدي د شرک پـه خـلاب شي

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۳۸).

دنیا

دا دنیـا مثـال مـرداره یـاده شـوې او طالب يې په حدیف کښې له کلاب شي

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۳۸).

نفس

لـه دې نفـس سـگ بـه هالـه امـن مـومې چـه پـه غـاړه يـې د صـبر لـوی طنـاب شي

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۳۸).

یزدان

همېشـه بـه يـې خلاصـی وي لـه رهزنـو کـه بازگشـت د يـزدان پـه لـوی جنـاب شي

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۳۸).

څلور میندې (څلور عنصره)

دا فلـک بـه يـې د عمـر اسـاس وران کـه چـه پيـدا لـه څلـور مينـدو لـه نـه آب شي

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۳۹).

د هـــر چـــا دی اصـــل شـــوی خـــاک و بـــاد او آب و نـــار دی

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۹).

هادي

پـــیروي یـــې د هـــادي کـــړه ځکـــه تـــير صـــحيح ســـليم شـــه

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۴).

میم

پـر هغـه گـنج بـه دې پـوه کـه چـــه ظـــاهره پـــه يـــو مـــيم شـــه

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۴).

کلال

درسـت مجلـس يـې پـه مـی مسـت کـه څـــه عجـــب ســـاقي کـــلال دی

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۵).

طبیعت ذکر کول

چه آفتاب له حوته راغی تر حمله
اندازه يې کړه د روځې شپې بدله
توره شپه به هر ساعت په کمېدن شي
رڼا ورځ به ترقي کې بې خلله
د نيسان ابر چه و وري په رحم
د نبات اطفال به زېب کا يو په سله
تر پايه (بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴٦).

فنا او بقا

کريمداد له فنا و ووت
و عالم ته د بقا
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۴).

توکل

چه په حق يې توکل که
کل مقصود دی مهيّا
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۵).

عارف

د فقير وينا خوږه ده هم مليح
دا معنی ده عارفانو ته صريح
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵٦).

ابليس

پر ابليس به هغه بر شي
چه خودي کا خپله چخه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۷).

لا

ته د لا په بياتي واخله
ستا پر دل باندِ دې زخه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۷).

محمود او اياز

په خلوت همېشه راز کړه له ايازه
دا د مينې سبق واخله له محموده
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۸).

ځان ته فقير ويل

د فقير رښتيا خبره ده گستاخه
دا رښتيا خبره مه گڼه مزاحه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۷).

احول

پــه دا حســن بــه بینــا ســترگي نــازېږي | دغـه دیـد مـې پـه حجـاب دی لـه احولـه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۸).

وحدت او کثرت

لـــه وحدتـــه یـــې کـــثرت کـــه | عجـــب نـــور یـــې کـــه جـــدا
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۱).

د وحـــدت ونـــه یـــوه پـــه یـــوه اصـــل | په کثرت باندې خوره شوه پـه څـو ښاخه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۷).

دا کـثرت مـې د یـوه وحـدت ظهـور دی | دغـه یـو بـه پـه شـمارې اصـل د سـل کـړم
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۸۷).

زنار

څوک له شـوقه یـې تسبیح کـه تـل تتلـه | او د ځینـــو سریکـــار شـــه لـــه زنـــاره
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۰).

د هر چا په خاطر نقش خپل مقصود دی | ځینـو بیامونـد لـه زنـار چـا لـه تسـبیح
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵٦).

دغـه یـو صـنم د هـر یـوه مقصـود دی | څوک لـه شـوقه یـې تسبیح ځنې زنـار کـه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۷٦).

قناعت

بادشـــــاهي پـــــه قناعـــــت کـــــا | تـــــوانگر بـــــې زر و ســـــیم شـــــه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۴).

**۳. ۲. ۱. ۷. ۳. د کریمداد په شعر کې بلاغي توکي**

د کریمداد په شعرونو کې هم لکه د نورو روښاني شاعرانو بلاغي توکي په پام کې نیول شوي دي. دلته یې څو بېلګې راوړوو:

**۳. ۲. ۱. ۷. ۳. ۱. بیان**

تشبیه

د اشـنا مینـې مـې زړه هسـې دوه نـیم کـه | چـه تشـبیه یـې پـه څـه نشـي بـې انـاره

تــورې زلفــې تــاريکي دي لــه ليلــه | تجلــه يــې د مــخ زياتــه لــه نهــاره
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۰).

تــور بانــه د نــاوکي پــر لينــده يښــي | بيــا کــږې وروځــې دِ عــين کــمان ويــنم
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۸۴).

استعاره

همېشه به يې زړه خلاص وي لـه اندوهـه | هــر چــه مينــه پــر شراب لعــل فــام کــا
(بنگش، ۱۹٦۴ز،۷٦).

سيمبول

پــه سـحر بلبـل حـديث کـه لـه صبا | چــه د گــل محبّــت څــه وکــړه لــه مــا
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۵).

رام او سيتا، عذرا او وامق، ليلا او مجنون د سيمبول په بڼه کارول:

خراب زړه مې په ديـدن پسې څکوينه | لکــه رام پــه محبــت د ســيتا را غلــم
زه وامـق وم بـې عـذرا مـې قـرار نشته | يـا مجنـون چـه پـه ديـدن د لـيلا را غلـم
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۸۴).

پـر خـاطر مـې د معنـی ور هالـه واز شي | چـه مقـيم پـه دروازه کښـې د مغـان شـوم
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۸۵).

زه چـه ډېـره ډېـره مينـه پـر دا مُـل کـړم | د دې مُـل پـه محبـت ديـدن د گـل کـړم
لکه گـل لـه رنـگ و بويـه پـه کـمال شي | پـر دا حـال بـه لنبـه پـورې پـه بلبـل کـړم
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۸۷).

### ۳. ۲. ۱. ۷. ۳. ۲. بديع

ايهام تناسب

بيـا ښيښـه بـه پـه اخـلاص د زړه وبـولي | د مجلــس پــه حــاضرانو څلــور قلــه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۷).

حسن تعلیل

نـــرگس پورتـــه چـــه نـــه گـــوري　　　　از چشـــــــمت دارد حیـــــــا
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۵۳).

تجنیس

پـه هـیڅ یـار او پـه دیـار دلبسته مـه شـه　　　　چـه سـړي هـر گـوره ډېـر گیتـي پراخـه
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۵۷).

ملمع

د فقــــــیر زړه کــــــه تــــــالا　　　　گلعـــــــذار مــــــه ســــــیما
د خســـــته عاشـــــق لـــــه حالـــــه　　　　کـــــه گويـــــد بـــــا تـــــو جانـــــا
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۵۳).

تصدیر

دا بلبـل چـه ډېـره مینـه پـه چمـن کـه　　　　پـه چمـن د ګـل لـه عشـقه نشـیمن کـه
نشیمن يې خـاورې خـس د بـل در وړي　　　　پـرې بـه پـورې اور لـه شـوقه د سـمن کـه
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۷۴).

تلمیح

چـه پـر زړه بانـدې هجـوم د محبـت شي　　　　د فرهـاد نامــه بدلــه پــه کــوهکن شي
جـدا يـي مـې د يوسـف سـخته بـلا شـوه　　　　عشرتګـاه بـه پـه يعقـوب بيـت الحـزن کـه
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۷۵).

توریه

عاشـــقان لـــه محبوبـــانو سره راز کـــا　　　　پـه خنـدا کـې صراحـي ورتـه قـل قـل کـه
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۷۵).

تقابل

پـه حـرص بادشـاه مفلـس دی تـر ګدایـه　　　　او قـانع ګـدای تـوانګر بـې زرو و سـیمه
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۸۵).
د صـورت پـه لبـاس کـل خلیـل الله دی　　　　د معنـی پـه پوهـه کـم دی تـر نمـروده
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ۵۸).

### ۳. ۲. ۱. ۷. ۴. د کریمداد منځپانګیزې ځانګړتیاوې

کریمداد په خپل شعر کې ځینې ځانګړو موضوعګانو ته هم اشاره کړې ده چې نوموړی له نورو روښاني شاعرانو څخه بېلوي چې دلته يې راوړل اړين بولم.

سنجیده وینا

کریمداد به کل وینا سنجیده وايي          چه په فهم د دانا وي تل فصیح

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۵٦).

روښان یادول

دا حکمت يې دی موندلی          له روښان ارسطالیسه

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ٦۵).

د زاهد ریا کارۍ ته ګوته نیل

د زاهد هغه تسبیح چه د ریا دي          د رندانو په نظر څنې زنار ښه

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ٦۵).

د زاهد تلبیس و ګوره          څه افسون د دې مکار دی

په اوږده ږیره نازیږي          دی غلط په لوی دستار دی

د تسبیح لومه يې کښېښوه          ډېر عالم پې ګرفتار دی

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۴۹).

(ږو) د قسم لپاره راوړل

هغه سر چه ستا د در په خاورو خوښ شه          ستا په سر ږو نور به نشي په افسر خوښ

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ٦۵).

د وروځو سیمبول راوړل

په نمانځه کې ستا د وروځو خم را یاد شه          څه حالت و چه محراب هم په فریاد شه

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ٦٦).

هندو د مشبه به په بڼه راوړل

عام عالم په ناپوهی شي کریمداده          د هندو په شان بنده د خپل مصنوع

(بنګش، ۱۹۶۴ز، ۷۰).

د پښتو ارزښت ښودل

دا پښتو ساده شعرونه          په سل دره يو مصراع

(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۷۱).

ماته غزل

که دې یو ځلِ تر خوله شي د دې عشق باده گلرنگه    همېشه به دې زړه خلاص وي د غفلت له توره زنگه
(بنگش، ۱۹٦۴ز،۷۷).

پرېشان په اصلي او وضعي ماناوو کارول

تر خراب خاطر پـه څـه شـکله قـرار کـړم    چـه کاکـل دِ لـه نسـیمه پرېشـان ویـنم
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۸۴).

فراغـت را بانـدې روغ شـه مـه یـې ویـنم    چه په هسې ښـه دیـدن پسـې پرېشـان شـوم
(بنگش، ۱۹٦۴ز،۸۵).

د الله ج له لوری غږېدل

زه څښـــتن د کـــل کلیـــات یـــم    مـــمات نـــه لـــرم حیـــات یـــم
پـــه ذات کښـــې مـــې جلـــوه کـــړه    څرگنـــد شـــوی پـــه صـــفات یـــم
کـــه صـــفات مـــې بـــې عـــدده    یـــو احـــد حقیقـــي ذات یـــم
(بنگش، ۱۹٦۴ز،۸٦).

نوی ترکیب

دا دخـــاورو قفـــس مـــات کـــړه    لـــه پســـتی شـــه پـــه هـــوا
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۵۴).

صوفي او تصوف یادول

لـه صـوفي سره کـلام د تصـوف کـه    او لـــه رنـــده میخـــوار سره میخـــواره
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۰).

دوه او درې پایمخه مقطع راوړل

د کـــریم پـــه دود ژاړي د زړه وینـــې    هـر چـه بیـل شـو د دوسـتانو لـه قطـاره
یـو زمـان لـه درد و غمـه نـه خلاصـېږي    بیلتانـــه رنـــا ورځ کـــړَ شـــب تـــاره
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۱).

صفت د موصوف پر ځای راوړل

چـــه پـــه نغتـــه د رانـــده شـــو    د بازگشـــت ځـــای یـــې جهـــیم شـــه
(بنگش، ۱۹٦۴ز، ۴۴).

تښتن، څښتن پر ځای راوړل

چــــه یـــې اصـــل گـــوهري وو　　　د کــــرم تښـــتن کـــریم شــــه
(بنگش، ۱۹۶۴ز، ۴۴).

د شعر پر تړاو نقد کول

قلـپ زر بــه دې قبـول پـر صراف نشـي　　　څـو یـې ور نـه وړي د عقـل تـر معیـاره
(بنگش، ۱۹۶۴ز، ۴۰).

د غزل ذکر

چـه سـاقي مـې د پیـالې دور آغـاز کـه　　　ترو مطرب بـه خـوش آهنـگ کـه لـه غزلـه
(بنگش، ۱۹۶۴ز،۴۷).

**د کریمداد د دیوان املایي توپیر**

د کریمداد دغه دیوان کاتب د وخت په لیکدود لیکلی دی، یعنې (ټ، ډ، ړ او گ) یې په همـدې بڼـه لـیکلي دي ځیني توري یې، لکه (ړ) د (ر) او د (ځ) پر ځای (د) ځینو ځایونو کې هغه (ژ) چې په (ج) بدلېږي، پـه (ړ) لیکي.(بنگش، ۱۹۶۴ز،۳۰).

**۳. ۲. ۱. ۸. قادر داد**

قادرداد د محمد زمان زوی د پیرداد لمسی دکمال الدین کړوسی او د بایزید روښان کودی دی. د قادرداد بـل ورور مهدي داد و چې دواړو ورونو له عالمانو سره کلکه مینه لرله.
قادرداد د ښاغلي همېش خلیل په اټکل پر (۱۰۳۴هـ ق) کال پیداشوی دی او ژوند یې د لاندې شعر له مخـې تر (۱۱۱۸هـ ق) پورې یقیني دی:

اورنگزیـب ولي بادشـاه تـر دنیـا تېـر شـه　　　چې د عدل یې تعریـف پـه هندوستان شي
(مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۴۲ او ۵۴۳).

**۳. ۲. ۱. ۸. ۱. قادرداد د شعر ځانگړنې**

۱. نوموړی هم په خپلو شعرونو کې د وحدة الوجود فلسفه وړاندې کوي:

د وحــــدت بــــه تنهـــایی　　　یـــو احـــد احـــد صـــدا کـــړه
قـــادرداد د ویلـــو کلـــه ادراک رسي　　　د وحـدت چـراغ روشـن دی لـه فانوسـه

۲. نوموړی په خپلو شعرونو کې د بایزید روښان ذکر په تېرمهال کې کوي او کامل هم ور سره یادوي:

هـېـڅ سـړی بـه غلـط نـه شي قـادر داده | کـه پـی رو د انصـاري بایزیـد روښـان شي
---|---
که هادي بایزید روښان و دی کامل په خپل زمان و | تل یې یاد به دل و جان و کلمـه د بسـم اللـه

(مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۴۴ او ۵۴۵).

### ۳. ۲. ۱. ۹. اورکزی

نوموړی د قادرداد هممهالی ښکاري، د نوموړي شعرونه د مېرزاخان انصاري د دیوان په قلمي نسخه کې شته. ژوند یې تر ۱۱۱۸۰هـ ق) کال پورې یقیني دی.

### ۳. ۲. ۱. ۹. ۱. اورکزی د شعر ځانګړنې

۱. له لاندې شعر څخه جوتېږي چې نوموړی د روښاني ښوونځی پیرو و:

رامداد بایزید مسکین کړه په تقوی کنبې مې متین کړه | د عقبی د معاش فکر هـم د ده پـه رهـبری کـړم
---|---

( مغموم، ۲۰۱۱ز، ۵۴۵ ــ ۵۴۷).

د بایزید په پیروانو کې ځینې داسې شاعران شته چې دیوان نه لري او یا هم ګڼ شعرونه ترې پاتې نه دي چې موږ یې پر سبک و غږېږو، بلکې د روښاني تصوف څرک ترې لګېږي چې دلته یې یوازې په نومونو بسنه کـوم: پایاب، میر خان، ابوبکر، خواجه محمد او درویش دادو.

### ۳. ۲. ۱. ۱۰. اخون درویزه

اخون درویزه په ختېه ترک دی، د پلار نوم یې ګدای او د مور نوم یې بي بي قراری وه، نوموړی پـر (۹۴۰هــ) کال خوا او شا پیدا شوی دی. د نوموړي په نیکونو کې چې لومړی سړی لـه لمغـان څخـه ننګرهـار تـه راغلـی و جیون د جنتي زوی و. د نوموړي نیکونه په لومړیو وختونو کې د ننګرهار په پاپینو کې اوسېدل، بیا د سـوات او بنېر له نیولو وروسته هماغلته له یوسفزیو سره دېره ول. اخون درویزه پر (۱۰۴۸هـ) کال د (۱۰۸) کالو پـه عمـر پـه پېښور هزارخانی کې وفات شو او ځلی یې همغلته دی.

اخون درویزه چې کله ځوان شو او له علم څخه یـې هـم برخـه لاسته راوړه د سید عـلي ترمـذي مشـهور پـه (پیربابا) سره یې ناسته ولاړه وه. کله چې د بایزید انصاري فکر او هڅه په پښتنو کـې مـخ پـر پراخېـدو شـوه او د وخت مغل (اکبرپاچا) ته یې د بلنې لپاره خپل استازی یا خلیفه دولت له (صراط التوحید) سره واستاوه او هم یـې یو بلنلیک سید علي ترمذي (پیربابا) ته واستاوه نو دلته بایزید روښان په سیاسي ډګر کـې د خنـډ او ځنـډ دیـوال

شو. کله چې پیر بابا د بایزید روښان بلنه ولوسته نو بې اختیاره یې له خولې و وتل: (( په پښتنو مضبوطه بلا نازله شوه، خیال مې نه شي چې ورکه شي، ځکه چې په دې حدودو کې د اسلام پاچا نشته. د دین وضاحت علماء کوي او د دین طاقت په امیرانو دی.))(اخون درویزه، ۱۰۸۷ز، ب ـ ک).

اکبر پاچا ورته پیغام ورکړ چې ما شیخ په پیری و مانه چې څه خدمت وایي هغه به کوم او خلیفه یې له خلعت سره رخصت کړ.

اخون درویزه د (مخزن) کتاب د بایزید انصاري د (خیرالبیان) اثر په رد کې ولیکه، دی لیکي: ((. . . اما سبب تالیف این کتاب نیز معلوم باد که فی زماننا در افغانان یوسفزیي زندیقي پیدا شده بود که خود را گاهي خدا میگفت و گاهي پیغمبر، و منکر بعث بود چون در ان ایام شهرتي تام یافته نام او بازید بود و لقب خود را پیرروشان کرده و فقیر لقب او را پیرتاریک کرد.))(اخون درویزه، ۱۰۸۷ز، ۱ او ۲).

بل ځای وایي: (( در ذکر ملحدی که سبب شده مر تالیف این کتاب را چنانکه در سر نامه این کتاب گفته ایم. بدان ای فرزند که عبدالله نام شخصی در حدود قندهار در موضوع کانی گرام در میان افغانان ورمړ مردی با علم و صلاح و از اولاد علماء و صلحاء بوده تا بقضای قدیر از او فرزندی بزاد بازید نام او را نیز در تحصیل علم گماشته.)) (اخون درویزه، ۱۰۸۷ز، ۱۲۲).

د اخون درویزه مخزن اثر مسجع نثر دی او زما موضوع د نظم په تړاو سبکي څېړنه ده نو یوازې دلته یادونه یې د پښتوادب د تاریخ د کړی په بڼه وه نه د سبک څېړنې له مخې.

**۳. ۲. ۱. ۱۱. عبدالکریم یا کریمداد**

عبدالکریم داد بابا د اخون درویزه مشر زوی دی. لوی څېړونکی، صوفي او شاعر و، د پښتو په تړاو یې دغه د مخزن برخه پاتې ده. نوموړی هم صوفي دی او داسې برېښي چې له پیربابا او اخون درویزه دواړو څخه یې په تصوف کې لاس نیوه کړې وي یا دا چې پیر بابا د خپل پلار پواسطه خپل پیر گڼي.

| | |
|---|---|
| دا گفتار د غواصانو شیخ علي | غوند غواص د تا بایده دی |
| دی غواص صاحب د در دی | سرباز هنر د ده دی |
| کریم داد چه څه وئیږي | د خپل پلار رحم په ده دی |

(اخون درویزه، ۱۰۸۷ز، عا ـ عد).

د تصوف په تړاو کریمداد د اخون درویزه غوندې یوازې د شریعت په مقام نه دی پاتې او نه هم د پیرروښان په څېر تر مسکنته رسېدلی دی.

سبک یې د موضوع له مخې هماغه د پیرروښان د سلسلې یوه کړی ده چې د وحدت الوجود او شریعت سکالو یې مخې ته وړې ده. کومه خاصه ځانگړنه نه لري.

### ۳. ۲. ۱. ۱۲. میا داد

میاداد د علی الدین زوی او د خواجه عمر لمسی دی، په شعر کې یې میاداد، اخون میاداد، الهداد او میا الهداد د ځان لپاره لیکلي دي. د ژوند مهال یې (۹۹۸ ــ ۱۰۷۸هـ) چې له (۱۵۹۰ ــ ۱۶۶۸ز) سره سمون خوري اټکل شوی دی. د خپلو زده کړو په تړاو لدوني خبره کوي او داسې د کوم ښوونکي نوم نه اخلي خو د کلام له منځپانګې داسې برېښي چې وروروسته یې علم کړی وي.

د نوموړي په کلام کې عربي، فارسي کلمې تر سترګو کېږي چې ذواللسانین شعرونه یې را منځته کړي دي. د احادیثو او قراني ایتونو څرکونه یې هم په کلام کې شته، کلام یې د تصوف او باطني علومو بشپړ تفسیر او څېړنه را ښیي.

په شعر کې یې د پښتو د بېلابېلو ګړدودونو کلمې را خیستې دي چې د ده ګرځند شخصیت ترې څرګندېږي، دا چې په کلام کې یې هندي کلمې ډېرې نه تر سترګو کېږي دا جوتوي چې هند ته نه دی تللی. د شعر بېلګه یې لاندې راوړو:

غه نه کاغذ و نه قلم نه مې پرې توري لوستي
او د خپل زړه په تخته کښې علم لدون وینمه

نه کاغذ و نه قلم نه یې پرې توري لوستي
دا د حال ویل څرګند یې تر زبانه شوي

(میاداد، ۲۰۱۱ز، ۱۹ ـ ۳۰).

عبدالقیوم کاکړ او سنګر وال یې روښان پلوی ګڼي خو بدرالحکیم حکیم زی یې د اخون درویزه پلوي او معتقد ګڼي، نوموړی یې د چشتیه طریقې پیرو بللی دی چې د دغې رایې داخلي شهادت یې د میاداد لاندې بیتونه راوړي دي:

د اخون دعا ده تر سوات قلاته دا ننګ وکړه
ای کانجو کښې کانجو نام د هستۍ غوث اقدره

کریم داد به څه پروا کا
چې دایم یې د چشتیانو بدرګه ده

درویزه ظاهر باطن په عشق مشغول شو
د چشتیانو داسې صافه سلسله ده

(میاداد، ۲۰۱۱ز، ۳۳ ــ ۳۷).

نوموړی هم د اخون درویزه او میا کریمدا په پل تللی دی او داسې ځانګړی سبک یې نه دی رامنځته کړی خو د کلام له لوستو یې دا جوتېږي چې روښاني سبک پکې پالل شوی دی، شعر یې هم ډېر داسې شعري تلازمات نه لري. لاندې یې یوه بېلګه راوړم:

طالبه راشه د دې عشق د میو نیز و ګوره
او د دې تریو عاشقانو د زړه سوز و ګوره

هغه زه وایم خوږې مستې د سلوک خبرې
سالکه ته د سالکانو پټ رموز و ګوره

هغه یکبین یو شو له یو سره دویم نهویني
او د دوبین و هر طرف ته تجاوز و ګوره

که ته حاذق یې (او) زما په رنځ پوهېږې
رنځورانو د زړه داغ په پهې خام سوز و ګوره

(میاداد، ۲۰۱۱ز، ۱۰۶).

### ۳. ۲. ۲. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې سبکي ځانګړنې

۱. ټولو روښاني شاعرانو د وحدت الوجود د صوفیانه فلسفې باریکیو ته په ژور نظر کتلي او په ریښتینولۍ یې د خپل مشر د تصوفي فلسفې تبلیغ کړی دی.

۲. د روښاني ادبي ښوونځي شاعرانو په خپل شعر کې د وحدت الوجود فلسفه په پوره ځوښ مخ ته وړې ده، دغه کار د دوی شعر ته ځانګړی رنګ ور ښئلی دی چې دغه رنګ د پښتو شعر او ادب په تاریخ کې د یو ( ځانګړي فکر ښوونځي) بنسټ ایښی دی.

۳. په دغه ادبي ښوونځي کې د روښان د شخصیت ټول مذهبي، تصوفي، فلسفي او فکري رنګونه څرګند په نظر راځي.

۴. روښانی شاعران پر فن یا هنر فکر ته غوره والی ورکوي چې په شعرونو کې یې تر ډېره بریده د هنري ښکلا او د مضامینو رنګارنګي په نظر نه راځي.

۵. لږ او ډېر یې په شعرونو کې قومي رنګ شته دی.

۶. د روښاني شاعرانو شعرونه د فارسي له فخرالدین عراقي، سنایي او مولینا جلال الدین رومي څخه اغېزمن دي.

۷. په شاعرۍ کې یې د هیوادپالنې احساسات کم دی.

۸. د شعر ځینې کلمې یې اوس مړې دي.

۹. د روښاني ټولو شاعرانو په شعرونو کې د روښاني تصوف اته مقامونه او ورسره تړلې څرګندونې راوړل شوې دي.

۱۰. د روښاني شاعرانو په شعرونو کې پر خفي ذکر ډېر تأکید شوی دی.

۱۱. روښان ځان ته فقیر ویلی دی نو روښاني شاعرانو هم ځان ته فقیر کلمه کارولې ده.

### ۳. ۲. ۳. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې

د روښاني ادبي ښوونځي ځینو شاعرانو، (ټ، ډ، ړ او ګ) په همدې بڼه لیکلي دی ځینې توري یې، لکه (ږ) د (ر) او د (ځ) پر ځای (د) ځینو ځایونو کې هغه (ژ) چې په (ج) بدلیږي، په (ږ) لیکي. نارینه مرستیال کړ د ښځینه لپاره کارول، نامانوسې کلمې کارول، کړ د فعل لپاره او کړونی د فاعل لپاره کاروي، د هندي، سنسکریت، فارسي او عربي ژبې اغېز پکې شته، بازاري ژبه هم کاروي، مفغنې کلمې یې په شعرونو کې راوړي دي؛ کله لا د غړونو بدلون هم پکې لیدل کېږي، لکه د عربي ژبې د (عورت) کلمه دوی (اورته) لیکي چې هم یې لیکدودیزه بڼه وربدله کړې ده او هم یې ورته مانایي بڼه بدله کړې ده، ځښتن (تښتن) لیکلي، په شعر کې مکالمې راوړي، نوي ترکیبونه یې را منځته کړي دي، احتیاط په مفغنه بڼه هتیات لیکي، د نرینه او ښځینه لپاره (دی ) مرستیال فعل کاروي، (کا، کوي) د (که) په بڼه راوړي، د لومړي ځل لپاره په شعر کې مخففات دوی کارکړي دي، ویی د کلمې لپاره د لومړي ځل لپاره دوی کار کړی دی، هلکې کلمه د نجونو لپاره کاروي، استاو د استول شوي یا لېږل شوی په مانا کاروي چې اوس نه کارېږي، ورختل ورختن لیکي یا په بله مانا دوی د مصدري (ل) پر ځای (ن) لیکي ، هلک د ورکوټي په مانا کاروي چې نن سبا یوازې د نرینه ماشوم لپاره کارېږي، ځینې روښاني شاعران همدا ډول (ف او پ) یو اواز ګڼي، د لمونځ کوونکي لپاره د (نمونځ کړونی) اصطلاح راوړي، ژوی د ژوندي یا انسان لپاره کاروي، وړمی د لومړي لپاره کاروي، اسانې هسانې لیکي، لفظ (لوز) لیکي، (کانی) د (کاندي) پر ځای کاروي. د ( محتاج) (ج) په (ځ) لیکي، بلکې په ډېری کلمو کې د (ج) پر ځای (ځ) کاروي.

### ۳. ۲. ۴. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې

د روښاني ادبي ښوونځی د موضوع له مخې ډېرى فقهي مسایل مطرح کوي چې هغه هم د اسلام پر پنځو بناوو څرخي او موخه يې د پنځو بناوو په تړاو ټولني ته معلومات لېږدول دي او ورسره د وحدت د منزلونو بيان دی. وحدت الوجود يې د افکارو ځانګړې موضوع ده. د تصوفي شاعرۍ ټولې موضوعګانې يې د (وحدت الوجود) په فلسفه بنا دي. په نوموړي ښوونځي کې د پښتو ژبې ، پښتون کلتور او پښتون قوميت د ودې لپاره د خلکو پاملرنه را ګرځولې ده او په دغه برخه کې يې شعوري هڅه کړې ده. د دوی په شاعرۍ کې د پښتو، پښتون او افغان کلمې پر لغوي ماناوو سربېره په سياسي ماناوو کې هم کارول شوی دي. د ميا روښان د تصوف اته مقامونه او شرحه يې په خپلو ديوانونو کې راوړې ده. لومړی ځل په پښتو ادب کې دوی په خپلو شعرونو کې د احد (خالق ذات) او احمد (رسول پاک) د بېلګو په راوړلو د وحدت او کثرت فلسفه واضح کړې ده.

په دغه ادبي‌ښوونځي کې ارسي او زنګ، دوبين، يقين ، پټ شرک، سپېره، کامل ، ځان ته فقير ويل، غين او عين، نوس، خفي او جلي ذکر، پنځه حسه، چار عنصر، دنيا، پنځو حواسو ته پنځه غلګي ويل، د کامل پير پر لور بلنه، خودي له منځه وړل، د معجزو بيان، مجاز او حقيقت، د وحدت تصور، احد او احمد کلمې د وحدت او کثرت لپاره کارول، لاهوت، جبروت، ملکوت، او ناسوت يادول، د انسان پر خلقت نظم ويل، د اتو مقامو ذکر کول او بيا د هر مقام د تورو شرحه راوړل، همه اوست نظريه او د قران او حديثو زده‌کول په تکرار سره ليدل کېږي، د الله ج د نژدېوالي فکر، متواتر ذکر، زنار او تسبيح، لام الف، اصل، بديع، د روح پالنه، اياز او محمود، د حق احاطه، نفس رټل، ګومان، اب حيات، له شيطان څخه ځان ساتل، له مرګه پخوا مړه کېدل، پر شريعت عمل، کم دليل، الف، حباب او يخ، څلور عنصره، د وحدت نظريه په بېلابېلو بڼو، ل +ا او په منځ کې يې ن راتلل، سکونت، زورور ، ځان ته مسکين ويل، د الله له لوري غرېدل، فساد د جنګ په مانا کارول، مجذوب، طريقت او حقيقت، پنځه ډوله عارفان بيانول، هادي د ميا روښان لپاره کارول، ځانته طالب، سالک، ذاکر، اشهاد، قطب، غوث، ابدال او اوتاد ويل، د انسان خلقت، د خليل کعبه، شطرنج، دين او دنيا، د کلام موضوع يې يو الله ج ته د خلکو رابلل دي، شاه د الله لپاره کارول. جبر او اختيار يا تقدير راوړل، شاهد، مخلص، کبر، نس، حريص، لا اله، بې خماره مې، د مسکينانو صف غوښتل، د ځان په اړه له الله څخه د څه غوښتلو سوال کول، کون فيکون،

کنت کنزا، تلقین، موت، غیرگمان، بخیل او لئیم غندل، سپین ویښته، کم همت ، شهرگ ، د دنیا بدي ویل، اخلاص، خناس، ناصبور، په علم عمل کول، د الله ج نژدېوالی، ریاضت، کم دلیل، د نَفسْ ارزښت، یزدان، مسکین، د توحید شراب، د الله رضا حاصلول نه عبادت د جنت لپاره، زه او ته ، مرده دل، سماع، اَحْوَلْ، سبب او مسبب، قناعت، حبل الورید، عابد، متواتر ذکر یا پاس انفاس، خوف او رجا، بدن د سلوک د لارې خنډ ګڼل ، نقبا، عماد یادول، صیقل، می، پیاله، پیمانه، له دواړو جهانونو بېزاري ، صاحب دل، میم، د مؤمن زړه ته عرش الله ویل، په صفتونو کې پټېدل، شیطان، توکل، بلبل، زاغ، هادي، لا، بنده ته د الله نژدېوالی، شپږ جهته، کثرت، روښان، دواړه کونه، کم خوراک، کم خوب، کمې خبرې، پاس انفاس، مناجات، یزدان، بهشت، غافل انسان، د اوبو نم، ملکوت، جبروت، ژوند ته ارزښت نه ورکول، قربت، وصلت، د اتو صفتونو توبه، عبادت، زهد، صبر، رضا، شکر، محبت، معرفت، د اضدادو فلسفه او نور د خپلو شعرونو مضمون ګرځولی دی.

### ۳. ۲. ۵. د روښاني ادبي ښوونځي ګډې ادبي سبکي ځانګړنې

بدیع د بلاغي علومو له فروعاتو څخه دی، په روښاني ادبي ښوونځي کې ډېری بدیعي صنعتونه، لکه تلمیح، ګړنه، تخفیف، تجنیس، افراد، معمی، تشخیص، طباق الاضداد، شاعرانه تعلی، ذوالقافیتین، مذهب کلامي، مبالغه، مراجعه، مقابله، تصدیر، تکرار حسن، مدعامثل، انځور، توریه، ارسال المثل، تاریخ ګویي، ردالقافیه، توري غورځول، توري زیاتول، نامشدد مشدد کول، تجرید، مراعات النظیر، تسمیط، شبه اشتقاق، اقتباس، تنسیق الصفات، مقابله، دحالت‌پرلپسېینه، د کلمې تکرار، مجنح طباق، ازدواج، جمع، ردالمقطع، د فعلونو پرلپسېینه، ابداع، اعداد، تدبیج، مدعا مثل، محتمل الضدین، ایهام تناسب، حسن تعلیل، ملمع او نور تر سترګو کېږي.

بیان بیا د بلاغي علومو له آرو توکو څخه دی چې د خبرې د ښې څرګندتیا په موخه کلام په بېلابېلو بڼو اړوي چې څو ادبي ګړنې یې ( تشبیه، استعاره، مرسل مجاز، تصوفي سیمبولونه او کنایه ) کې راوړې دي. د روښاني ښوونځي ډېری شاعرانو په خپلو شعرونو کې د تشبیه بېلابېل ډولونه، لکه عادي تشبیه، غیر عادي تشبیه، مرکبه تشبیه ، قبیحه تشبیه او د تشبیه نور ګڼ ډولونه راوړي دي. د معاني خیال هم په خپلو شعرونو کې ساتي. تصوفي سیمبولونه، کنایه او نورو داسې خبرو ته پام کوي چې په ادب پورې تړاو لري.

د قافيې له مخې د کلمو په جوړښت کې لاسوهنه پکې ليدل کېږي، د (س) او (ص) ، (ف) او (پ) په همغږې برخه کې په يو اواز راوړي. موسسه قافيه کمه راوړي، د کلمو او مانا له مخې سختې قافيې کاروي، تخلصونه د غزل په پای او پايمخه بيتونو کې راوړي. اکفاء، چسته قافيه، د قافيو تکرار، اصلي او معمولی قافيې گډون هم پکې شته.

د وزن لپاره کلمه ماتول يا هم يوڅه ترې کمول پکې دودو دی، پښتو نظم په عربي عروضو ليکل، د خج بدلون دا يې نورې ادبي ځانگړنې دي.

### ۳. ۲. ٦. د روښاني ادبي ښوونځي په تړاو عمومي نظر

۱. د واصل تر وخته دغه مکتب یوازې د تصوف د یو خاص مکتب فکر استازولي کوله.

۲. له تصوف سره د ملیت رنګ ګډول په اصل کې د روښاني شعراوو ابتدا وه.

۳. په روښاني ادبي خوځښت کې درې څرګند رنګونه دي: مذهب ، د ژبې او ادب برخې او قامي احساس.

د پیر روښان کړنو پښتو ادب ته څلور څیزه ور وبښل:

۱. لومړی د پښتو د لیکدود په تړاو د بایزید روښان د منځته راوړنو په پایله کې تحریري ادب وده وکړه او د ده پر مټ اخوندرویزه او خوشحال بابا متبادل لیک دود پښتو ته ورکړ. او لیک دود پرمختګ وکړ.

۲. د خیرلبیان د پښتو نثر لومړی لاسته راغلی بشپړ کتاب دی. ورسره د فلسفیانه او فکري نثر بنسټګر دی.

۳. د مخزن د روایت پر بنسټ بایزید انصاری په پښتو کې د منظمې شاعرۍ ابتدا کړې ده.

۴. خیرلبیان یوازینی کتاب دی چې پر خپل عادي نثر سربېره ژباړې هم لري، یعنې د ژباړې لومړی نثري اثر هم دی.

## ۳. ۳. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځی

لومړی به د نوموړي ادبي ښوونځي په ځانګړو(انفرادي) سبکونو بحث وکړو بیا به یې د پلیونو په رڼا کې پر ادبي ښوونځي رڼا واچوو.

### ۳. ۳. ۱. د خوشحال خان خټک د منظوم ادبي ښوونځي ځانګړي(انفرادي) سبکونه

خوشحال خان خټک د پښتو ژبې او ادب هغه ځلانده ستوری دی چې د ژوند پر هره خوا یې د خپل فکر نیلی ځغلولی دی او د پښتو ژبې او ادب منار یې تر اسمانه رسولی دی چې په دغه برخه کې یې خپل پلیوني پیدا کړي دي او د نوموړي سبک یې پر ادبي ښوونځي اړولی دی.

#### ۳. ۳. ۱. ۱. د خوشحال خان خټک لنډه پېژندنه

خوشحال خان خټک د مغل شهنشاه نورالدین جهانګیر (۱۰۱٤-۱۰۳۷هـ) (۱۶۰۵ – ۱۶۲۷ ع) په زمانه کې د (۱۰۲۲هـ ق) کال د دویمې خور په میاشت چې د ( ۱۶۱۳ ز) کال د می یا جون له میاشتو سره سمون خوري، له پېښور نه (۳۵) میله ختیځ لور ته په سرای اکوړه کې چې د لنډي سیند په سهیلي غاړه پروت دی د شهباز خان کره وزیږېد.(خټک، ۱۹۶۰ز، م ۸ ).

په یوه قصیده کې چې ده د خپلې کورنۍ حال احوال پکې راوړی د خپل ځان او نیکونو په اړه یې هم څو بیتونه راوړو:

| | |
|---|---|
| راشــــــه واوره دا داســــــتان | نیـــک و بـــد پکـــې بیــــان |
| هــم عــبرت هــم نصــیحت دی | پـــرې دې پـــوه شي دانایــــان |
| زه خوشــحال د شــهباز خــان یــم | چــې تــورزن یــم کــان پــه کــان |
| شــهباز خـــان د یحیـــی خـــان وو | چـــې بـــل نـــه و هســـې ځـــوان |
| یحیـــی خـــــان د اکـــوړي وو | چـــې پـــه تـــوره شـــو ســـلطان |
| د هجـرت زر دوه ویشــت ســن وو | چـــې زه راغلـــم پـــه جهــــان |
| هــــغه کـــال پـــوره پنځـــوس و | چــې شهــید شــو شــهباز خـــان |
| د هغـــــه دور بـــــاد شــــــاه و | قـــدر دان شــــاه جهــــان |
| د پـــلار ځـــای یـــې ومـــا راکـــړ | پـــه اولـــس شـــوم حکمـــران |

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۵۸۱ او ۵۸۲ ).

د خوشحال خان خټک زده کړه سیستماتیکه بڼه نه لري او هم یې د زده کړې په اړه پوره څرګندونې نه دي کړې. که څه هم نوموړي د خپل ژوند ډېری پېښې په نظم کړې دي، د ځان او کورنۍ په اړه یې ډېر څه په څرګند ډول راوړي دي خو د خپلو زده کړو په اړه یې داسې څرګند څه په لاس کې نشته په دې اړه هېواد مل په خپل اثر (ننګیالی د زمانې) کې د ځینو څېړونکو لیکنې راوړي چې زه یې دلته اړینې بولم:

په دستار نامه کې راغلي دي : (( زموږ استاد اویس صدیق ملتاني ډېر بزرگ متبرک سړی و، د علوم ظاهري او باطني بهرور و.))

له دې پورته یادونې سړی دومره پوهېږي چې خوشحال خان له شاه اویس ملتاني څخه زده کړه کړې وه، هغه یې استاد و خو لکه استاد کامل چې لیکلي دي : (( دانه ده ښکاره چې لـه هغـه نـه خوشـحال خـان کلـه چېـرې او څومره وخت زده کړه کړې ده.))

پرېشان خټک لیکلي دي؛ د ځینو خلکو دا خیال دی چې خان په ملتان کې هم درس ویلی دی خو ځینې بیا وایي کېدای شي شاه اویس ملتاني دې په پېښور کې تدریس کاوه، ځکه چې پېښور هم د دیني علومو مرکز و.

د خوشحال خان خټک د زده کړې په باب سړی دا ویـلای شي چـې ده د کـور پـه جومـات او یـا سـیمه‌ییـزه مدرسه کې درس ویلای دی، اما دانه ده ښکاره چې ده څومره وخت او د ژوند تر کـوم کـال پـورې د زده کـړې لړۍ جاري ساتلې ده. په استادانو کې یې یوازې دشاه اویس ملتاني نوم څرگند دی نور استادان یې نه دي معلوم.

خو که چېرې سړی د خوشحال بابا ټول آثار مطالعه کړي نو ورته ښکاري چې د ده خارق العـاده وړتیـا د زده کړې او مطالعې له لارې روزل شوې ده او دغو زده کړو یې بیا په آثارو کې خپل ځان ښکاره کړی دی.

عبدالحی حبیبي د خوشحال مرغلرې د مقدمې په (۱۸ مخ) کې لیکلي دي: (( خوشحال خان پـه کوچنیـوالي کې د خپلې زمانې مروج علوم ټول ویلي وو. د ده له کلامـه ښـه ښـکارېږي چـې ده اسـلامي علـوم، لکـه : فقـه، حدیث، تفسیر او نور عقلي او فلسفي علوم، لکه : منطق، حکمت، ادبي علمونـه، د فصـاحت او بلاغـت اصـول، لکـــه : معـــاني، بیـــان، عـــروض، قافیـــه او نـــور ټـــول ویـــلي او پـــرې عـــالم و.))
دخپل وخت له ځینو مشهورو پوهانو سره یې ناسته ولاړه هم درلوده، له هغو څخه یو هم مولانـا عبـد الحکیم سیالکوټي (۱۰٦۷ هـ ق مړ) دی. دی د جهانگیر او شاه جهان په پېر کې د نیمې وچـې لـه وتلـو پوهـانو څخـه و. خوشحال خان په دستار نامه کې راوړي دي : (( عالم العلما مولانا عبدالحکیم سیالکوټی مې په خپله وپوښتېده، لکه : مسطور شول.)) په کلیات کې یې د ده په باب لولو:

| | |
|---|---|
| مولانـــا عبـــدالحکیم | د دنیـا د دیـن حکـیم |
| د جوگیـــانو وگـــروه تـــه | پـه تعظـیم و پـه تکـریم |

(هېوادمل، ۱۳۸۰ل، ۱٤-۱٦).

خوشحال خان د ژوند په وروستیو کې په ډمبره نومي غره کې پناه واخیسـته خـو ډېـر ژونـدی پـاتې نـه شـو د (۱۱۰۰هـ) کال د ربیع الثاني میاشتې په (۲۸ مه) نېټه د جمعې په ورځ هملته په حق ورسېد.(خټک، ۱۹٦۰ز،۳۱).

خوشحال خان خټک د پښتو ژبې او ادب په داسې تاریخي مقطع کې پیدا شو چې روښانیانو او تر روښـانیانو مخکې پښتو ژبه او ادب د نورو سیمه‌ییزو او یا هغو ژبو چـې پـه پښـتني فرهنـگ او ژبـه یـې ژور اغېـز و دومـره پرمختگ نه و کړی، خوشحال خان خټک که له یوې خوا د توري په ډگر کې یو ښه مشر او د خپلواکۍ د لاسته راوړلو د لارې ښه اتل و، پر علمي، ژبني او ادبي خوا یې هم نظر ځاره، لامل یې هم د پښتنو له پوهې څخه لـرې

والی او په فرهنګي ډګر کې کمزورۍ وې چې نوموړي په شعوري ډول خپلې ژبې ته په دغې برخه کې کار پیل کړ، خپله ژبه او ادب یې مطالعه کړ، کره کتنه یې پرې وکړه، پر نورو دودیزو علومو سربېره د نورو ژبو ادب یې ولوست او بیا یې د خپلې ژبې او ادب بډاینې ته متې را و نغاړلې. په دغه بهیر کې خوشحال خان خټک داسې مضمون، ادبي نزاکت، منظوم څېلونه، د پښتني ننګ خبرې، خپلې اغېزمنتیاوې، ګټنې، تېروتنې او ډېرې مسایل په خپل شعر او نثر کې را ونغاړل چې تر ننه ورته پوهان ګوته پر غاښ دي.

خوشحال خان خټک تېر ټول مسایل په خپله ادبي لمنه کې را ونغاړل او په خپل ژوند کې یې بیا داسې نوې تجربې را مخې ته کړې چې تر نن ورځې پورې پښتنو ادب او شاعرې ترې بې اغېزې نه ده. نوموړي داسې مضمون پرې نه ښود چې خپله طبعه یې پرې نه وي ازمایلې. د ښکار، طبابت، ستورپېژندنې، جغرافیې، تاریخ، بلاغي علوم، شجره لیکنه، د مشرۍ ځانګړنې، ښکلا پېژندنې، دیني علومو په باب او پر پښتون ایډیل یې یا ځانګړي کتابونه ولیکل او یا یې هم په خپلو آثارو کې ورته ځای ورکړی دی چې په دې سره خوشحال خان خټک علمي، کلتوري، ټولنیز، جنګي او نور ګڼ اړخونه خپل کړل، نوموړي پر هره پېښه او د زړه په خبره شعر ویلای دی چې دلته یې د ټولو راوړل تر ډېره بریده ناشوني ښکاري خو کوښښ به وکړم چې تر ډېره حده یې د سبک بارز توکي را وسپړم.

### ۳. ۳. ۱. ۱. ۱. د خوشحال خان خټک د شعر منځپانګیزې ځانګړنې

۱. خپل محبوب ښځه ځان کم نه ګڼل: خوشحال خان خټک د مینې په کار کې هم خپل پښتني غرور ساتي او له محبوب ښځه که ځان لوړ نه ګڼي نو کم یې هم نه ګڼي.

که ته خوله و ما ته نه راکړې ملکۍ — بلې هم راته نومړې ده خولګۍ
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۶۳۹).

مرګ لره یې واړه د ډهلي لښکرې راغلې — ته لا د خوشحال په مرګ ځان روغ نه ګڼې ننګ کړې
که زه نه وای عشق به تا لره بلل څوک — په پالنګ به دې دا هسې درختل څوک
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۳۰۴).

چې دا هسې بې نیازي کوې دا ښه کړې — زه به نور یاران پیدا کړم ته به څه کړې
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۷۵۷).

۲. تابو راوړل: په ځینې حالاتو کې کله ـ کله د کلام عفت ته پام نه کول: نوموړی د ځینو وګړو د ناسمو کړنو پر وخت خپل ځان او احساسات نه شي کنټرولولای او په شعر کې یې ځینې داسې کلمې چې د قلم عفت ته زیان رسوي، لیکل کېږي. که څه هم چې تر دې کلمو ډېرې زشتې کلمې د تفریح او مزاح په بڼه په خپلو شعرونو کې لري خو خوشحال په څرګنده وایي چې زما ویل بې مضمونه نه دي او نه هم ټوقې دي.

د خوشحال شعر حلوا ده د شکرو — ستا په دا حلوا څه کار غول خوره خره
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۸۶).

چې د پـلار پـه بـد گوییـه سر شي پـوت
صـد لعنـت د ده د مـور پـه گنـده چـوت

چې د مور په چوت کې خیر و برکت وي
لـه هغـه مـوره بـه نـه زېـږي کپـوت

(خټک، ۱۳۹۷ل، ۱۹۷).

ته چې سر تر دېوال هسک کړی سړی گورې
د کـوس تـاو نښـې دې نشـته تـر دا نـورې

کـه دې زړه د غـین پـه عشـق نـه وي بـایللی
پـه واده پـه ویـر څـه هـر لـوري تـه ښـورې

پـرده پوښـې بـه ضرور و وځـي نمانځـه تـه
سـترگې وازې پـه بـازار گرځـي سرتـورې

یـا یـې نیـت د کاسـیری یـا د مېـږه دی
هره کونډه چې لاس سره کا سـترگې تـورې

پـه هغـې بانـدې گـواهي د بـدۍ ولـه
چې یې گشت په نورو خونو خپل ور پورې

د مېـږه پـه بریـره نـه خانـدي نـور څـه کـا
چـې د بـل سره خـبرې کـا خمسـورې

د خوشـحال ویـل بـه بـې مضـمونه نـه وي
چېـرې نـه چـې یـې مـذاقو سره شـمېرې

(خټک، ۱۹۶۰ز،۷۵).

اول مـور د درسـت غـوري پـه خـره غـولې
بیـــا د واړو پښـــتو ژبي پـــه دنبـــال

دا ناسازې چې په ما شـوی چـې پـه دوی شـوی
دروغجن یم کـه پـرې نـه شـوی سر و مـال

د گلزار پـه گـل غـرض نـه کـا غـول غـواړي
پـه جهـان یـې بـده بخـره د مگـس کـړه

(خټک، ۱۳۹۷ل، ۵۴۳).

۳. په شعر کې ښځینه مخاطب کول او له امرد پرستۍ څخه ځان ساتل: د خوشحال خان خټک په ټوله مجازي شاعرۍ کې ښځمنې مخاطب شوي دي، د مینې له مخې د هلکانو صیغه زما تر سترگو شوې نه ده.

کـه نیـولې زرکـه بـاز پرېـږدی لـه چنگـه
زه بـه هـم لـه لاسـه پرېږدم شوخ و شـنگه

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۲۳).

کـه زه نـه وای عشـق بـه تـا لـره بلـل څـوک
په پالنـگ بـه دې دا هسـې درختـل څـوک

(خټک، ۱۳۹۷ل، ۳۰۴).

۴. ښځینه احساس بیانول: ډېری شاعران چې تر خوشحال خان خټک مخکې وو حقیقي مینې ته د لاس رسي په موخه مجازي مینه په کار وړې ده او یا یې د حقیقي مینې لپاره ځینې کلمې د تصوفي سیمبولونو په بڼه کار کړې دي خو خوشحال بابا په خپلو شعرونو کې د نرینه احساس تر څنگ ښځینه احساس هم پاللی دی. په دیوان کې یې یوه غزل بشپړه د ښځینه احساس بېلگه ده چې بیا کره کتونکو د نوموړې د ښځې له خوا لیکل شوې بولي، کېدای شي خوشحال بابا د بند پر وخت د خپلې مېرمن په احساس لیکلې وي، یاده غزل بیا عبـدالقادر خټـک د تضمین په بڼه هم راوړې ده.

((نـه بـه مـخ پـه اینـه برابـر بیـا کـړم ))
نـه بـه تـور اوربـل پـه ږمنځ سره صـفا کـړم

(خټک، ۱۳٦۸ل، ۹٦).

پورتنی بیت د عبدالقادر خټک دی، چې لومړی نیم بیتی یې د خوشحال خان په کلیاتو کې دهغه د مشرې بښځې له خواد  ویل شوې غزل په پیل کې په لږ بدلون سره راغلی دی.

اصل بیت :

| | |
|---|---|
| نور به مخ په اینه برابر نه کړم | نه به دواړه سترګې توري په رانجه کړم |
| | (خټک، ۱۳۸۴ل، ۹۳). |
| درسته دې له خپلو نمریو وویستم خوشحاله | یو د غاړې هار مې د ګلونو مه شلوه |
| | (خټک، ۱۳۹۷ل، ٦٥٠). |
| دواړه شونډې مې عسل دي ای خوشحاله | څه په دود یې به حرص څټې څټې |
| | (خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۵۱). |
| زه یې ناسته په پالنګ یم | که خوشحال له خوبه ویښ شي |
| | (خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۷۰). |

۵. مینه او جنګ(جلال او جمال) په یو بیت کې ګډ راوړل: یو خواته د مینې خبره او بل خوا ته د توري خبره د خوشحال یو بل ابتکار دی چې پښتو ژبې ته یې ښیلی دی، که لږ سوچ وکړو دا د پښتانه د وجود دوې خواوې دي چې الله (ج) یې په وجود کې خلق کړي دي.

| | |
|---|---|
| توره چې تېرېږي خو ګذار لره کنه | زلفې چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه |
| | (خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۹۷). |
| د غمزې په تېغ یې خوږ ښه یې خوشحاله | مړني به روغ صورت نه ځي له جنګه |
| | (خټک، ۱۳۹۷ل، ۵۸۷). |

٦. خپله شجره او د تولد کال راوړل: تر خوشحال بابا مخکې داسې شاعر نشته چې د خپلو نیکونو شجره دې بیان کړي او بیا لا دا څه چې د خپل پیدایښت کال یا هم د نیکونو په تړاو د پېښو نېټه دې په شعرونو کې راوړي چې ډېری شاعران په همدې کمی د خپل پېر په تیارو کې پراته دي، یوازې خوشحال خان خټک دی چې دغې نکتې ته یې پام کړی دی.

| | |
|---|---|
| راشه واوره دا داستان | نېک و بد پکې بیان |
| زه خوشحال د شهباز خان یم | چې تورزن یم کان په کان |
| شهباز خان د یحی خان و | چې بل نه و هسې ځوان |
| یحی خان د اکوړي و | چې په توره شو سلطان |
| د اکبر بادشاه په دور | شو د خپل ولی تورخان |
| د هجرت زر دوه ویشت سن و | چې زه راغلم په جهان |

هغه کال پوره پنځوس و — چې شهید شو شهباز خان
د هغه دور بادشاه و — قدردان شاه جهان
د پلار ځای یې و ما راکړ — په وطن شوم حکمران
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۰او ۳۱).

۷. په ټولنیزو مسایلو کې پر ځان، کورنۍ او نورو یو شان نقد کول: خوشحال داسې ریالستیک شاعر دی چې د نیمګړتیاوو پر وخت یې له ځانه نیولې هیڅوک نه دی ښبلی، که تېروتنه یې د ځان وي پر ځان نیوکه کوي، که د ښځو او اولاد یې ده هغه یې نه دي معاف کړي او که د ټولنې نور وګړي دي هغوی ته یې خپله سپوره او سټغه وینا کړې ده.

چې دا هسې رنګه سپي ځنې پیدا شول — لا په شک یم چې خوشحال کله ادم دی
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۴۷۵).

نه مې زړه په سرداری درست خوشحال دی — نه زما د خېلخانې څه حال احوال دی
د خټک اولس په ننګه نه پوهېږي — کار یې درست د نادیده وو په خصال دی
پښتانه لکه مګس ور باندې ګرځي — ورته ایښې د مغل د حلوا تال دی
نورې واړه تمې تار په تار خورې شوې — اوس په منځ کې یو کرم د ذوالجلال دی
ایمل خان دریا خان دواړه خوردبین لاړل — اوس خو پاتو و مغل ته یو خوشحال دی
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۴۷۶).

چې په عمر شوم اتلس — د شباب په عنفوان
راکړه راغله جینۍ — پلار نیکه یې بد ذاتان
بل هنر کسب یې نه و — سفیهان و پاده بان
مشران زویه مې واړه — خدای له دې نه کړ حیان
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۲).

ستا هنر د سرداری نه زده بهرامه — سرداري دې په خپل دور کړه بدنامه
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۳۶).

۸. د زړه خبره پټه نه ساتل: ډېری خلک که په زړه ډېر څه ولري د ځان ساتنې د مصلحت له مخې یې په خپل زړه کې ساتي او چاته یې نه وایي خو خوشحال خان خټک بیا په دغې برخه کې هم رښتینی دی.

زه په خپلو ګناهونو توبه ګار یم — چې مې کړي دي په واړو شرمسار یم
زړه به سلو فتنو ولاړ په سجده سر بږدم — همګی عمر دا هسې لمونځ ګذاز یم
(خټک، ۱۳۸۴ل، ۴۱۳).

۹. تر ده پر وړاندې شعر نقد کول: تر خوشحال مخکې د روښاني شاعرانو په شعرونو کې د خپلو مشانو شاعرانو د ستاینې په نیت د کره کتنې څرک ښکاري خو خوشحال بابا د ښه شعر د لیکلو په موخه تر ځان مخکې شاعران نقد کړي دي او په ټولو کې یې د مرزاخان روښانی شاعري ستایلې ده.

له چا نه په پښتو کې ما میزان لیدلی نه دی    مرزا په دا زبان کې ویل کړي دي تللي

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۶۲۳).

۱۰. په جنګي ډګر کې د ځان ستایل: خان نه دا چې به جنګ کې ځان ستایې، بلکې که په کوم جنګ کې ماتې هم وخوري ماتې یې نه ګڼي، لامل یې دا دی چې دی بیا د جنګ تابیا لري او د غچ په فکر کې وي، د ګنبت په جنګ کې چې کله له بنګشو ماتې وخوري، بیا یې د ډیوډې په جګړه کې خپل غچ اخلې.

د بنګش په توره مات نه یم باور کړه    د ګنبت په جنګ مې ماتې اسماني وه
سل څلوېښت ځوانان مې قتل په میدان شول    د اختر په عرفه کې قرباني وه
د هجرت د کال غفو و په حساب کې    په غره واوره ورېدلې نیساني وه
چې بې زخمه له میدانه ځي نامرد وي    زه زخمي لاړم د ځان نګهباني وه
یوه تېښته نامردي بله مردي وي    و دانا و ته دا دواړه عیاني وه
تل خوني مزري هم جنګ کا هم ځان ژغوري    د مزري د تېښتې څه بدګماني وه

(خټک، ۳۵۰ ــ ۳۵۲).

په دا څه که د مغل راته ډنګ دی    زه هم ښه یم زما هم برغو تر ځنګ دی
عقل زور د غوریه خېل تر بنګښ ښه دی    غوریه خېل را سره هم ولاړ په ننګ دی
د بنګښ نه هومره زور وینم نه توره    دا په کوم توکي له ما سره په جنګ دی
غوریه خېل که په ناکام ورسره زیست کا    په رضا ورته بنګښ نیولی تنګ دی
غوریه خېل او بنګښ دواړه مغلي دي    همېشه ورته مغل وهلی لنګ دی
که زه ګوری در د اشام ور سره شمار یم    خوار هغه چې یې له ما سره آهنګ دی
هر ملخي د سربازیه هنر څه زده    چې په دا هنر کې سر ښندي پتنګ دی
لا تر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي    چا چې ما سره وهلی سر په څنګ دی
د ګینډیو په ځګر کې یې ګولۍ دي    که لیدلی چا زما د ښکار تفنګ دی
لا په خوب کې په لړزه پرېوزي له کټه    چې د چا تر غوږ زما د توري شرنګ دی
که په دا دور مې ګورې هغه زه یم    چې مي داغ په خاطر ایښی د اورنګ دی
درست جهان مې و مغلو ته خیبر کړ    ځای په ځای یې پښتانه وته قلنګ دی
ځنې څه لویې دعوې لرم په زړه کې    ولې څه کړم چې پښتون واړه بې ننګ دی
خو طالع راسره هسې مدد نه کا    ګنه تېر مې تر فریده نه فرهنګ دی
د خوشحال د زړه د حال نندارہ وکړه    که د تخت د پاسه کښېني هم ملنګ دی

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۳۴۲ او ۳۴۳).

۱۱. په ترتیب ډول حمد، نعت او منقبت راوړل: که څه هم روښاني شاعرانو هم په دغه برخه کې شاعري کړې ده خو خوشحان خان خټک بیا په تر تیب سره د هرې برخې خیال ساتلی دی.

صورت گر چې ښه صورت په دېوال ساز کا | کـل عـالم یـې پـه صـفت زبـان دراز کـا
د هغــه نقــاش پــه صــنعه نظــر نــه کــا | چې له څه څاڅکي نه دا نقش و طراز کا
سترگې وروځې پوزه نور کېږدی په مخ کې | غـابن و شـونډې ژبـه خولـه سره پـرداز کـا
یـو سر بـل سر پـه سر جـوړ کـا دوه غوږونـه | چـــې پـــه دواړه اروېدنـــــه د اواز کـــــا
بنـد پـه بنـد د لاسـو گـوتې و بلـه کېـږدي | سر تـر پایـه درسـت صـورت سره یـو راز کـا
کـه څـوک زر کتابـه وکښـي لـه دې بابـه | کـه پـه کښـل شي زر بـه نـور پسـې اغـاز کـا
هر ویښته چې پـه صـورت بانـدې لیـده شي | که پر ځیر شي د شناخت ور به درته واز شي
خـاص بنـده د خـدای هغـه گڼـه خوشـحاله | چـې د ځـان پـه معرفـت یـې سرفـراز کـا
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۱).

نعت

د خدای عرفان مې وشو په عرفان د محمد | پاک دی محمد پاک دی سبحان د محمد
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳).

منقبت

چــې پــه ســب د ابــوبکر د عمــر دي | کـه پـه خولـه کلمـه وایـي هـم کـافر دي
د هغــو پــه مــرگ ثــواب گڼلــی بویــه | چې بـدگو د ذي النـورین و د حیـدر دي
رافضــي خـــارجي دواړه بـــاور وکـــړه | ترســـگانو تـــر کوســـانو لا بـــتر دي
تـر مهـدي پـورې یـوولس دي یـا دولـس | چـــې همـــه زویـــه نمســـي د پیغمـــبر دي
همـــــه واړه امامـــــان و د خپـــــل دور | همـــــه واړه د دنیـــــا د دیـــــن سرور دي
لـــه اولـــه تـــر اخـــره کـــه گروهېـــږې | د بتـــول اولاد مـــې واړه نـــو بصـــر دي
چې د دوستي یې د سید نه وي په زړه کې | د هغـو سـړیو تـل خـاورې پـه سر دي
تـر هـلال او تـر بـلال یـې صـدقه شـم | لا رانجه مې د پښو خاورې د بـوذر دي
پـه سرو زرو کـې کمـی د قـدر نشـته | صـــــحابي د پیغمــــبر واړه سره زر دي
زه خوشحال خټک هغه سني مـذهب یـم | چـــې یـــاران را بانـــدې واړه برابـــر دي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۶۹).

۱۲. پښتنو ته د اتفاق بلنه ورکول: خوشحال خان خټک پښتنو ته د خپلواکۍ د ګټلو، پښتون یو کهول ګڼل او د کلتوري بنسټونو په برخه کې په یوه ټغر راټولول غوښتل چې دښمن تل د دوی له همدغې بې اتفاقۍ او کلتور ته د نه ژمنتیا له مخې په خپل منځي جګړو اخته کړي ول.

هـره چـار د پښـتانه تـر مغـل ښـه ده — اتفـاق ور څخـه نشـته ډېـر ارمـان
کـه توفیـق د اتفـاق پښـتانه مـومي — زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان
(خټک، ۱۹۶۰ز، ام).

۱۳. د محبوب عذر راوړل: د خوشحال خان خټک شعر په دغه توکي هم له نورو شاعرانو سره توپیر لري، ډېری شاعران محبوب ته عذر کوي خو دلته محبوب شاعر ته عذر کوي.

درسته دې له خپلو نمریو ووېستم خوشحاله — یـو د غـاړې هـار مـې د ګلونـو مـه شـلوه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۶۵۰).

۱۴. د بند حال یې بیا د فراقنامې په پاڼو کې خوندي کړی دی: د بند پر وخت شاعري کول چې حسیات هم ورته وایي، پښتو شاعرۍ کې یې پیل او پالل د ستر خوشحال خان خټک بابا په کلام کې وینو، که فراقنامه یې په غور ولوستل شي له ړندو سترګو هم اوښکې څځوي.

آه ارمـان ارمـان — هـر څـه وی مـه وی هجـران
دا دې وی تـر دا لا شـاق — خـو دې نـه وی یـو فـراق
جـدایي وی پـه څـو رنـګ — یـا یـار نـه وینـې تـر څنـګ
یـا لـه مـوره یـا لـه خـوره — یـا لـه وروره یـا لـه کـوره
یـا لـه ملکـه لـه اولاده — یـا لـه بومـه یـا لـه زاده
یـا لـه جـاه یـا لـه جلالـه — یـا لـه ملکـه لـه اموالـه
یـا لـه قومـه یـا لـه حشـمه — یـا لـه خېلـه یـا لـه خدمـه
دا همـه واړه چـې شـمار شـوې — په خوشحال باندې یکبار شـوې
(خټک، ۱۹۸۳ز، ۶۱ او ۶۲).

۱۵. د ټولنیزو مسایلو په تړاو نقد: د دغه سبک په ځینو شعرونو کې ټولنه، خلک، مسلط اجتماعي سیاسي نظام او فرهنګي بهیر په خورا څرګندو کلمو نقد شوی دی:

تـر مکـې تـر مـدینې لاړې حـاجي — لا د نفس لـه خویـه هیـڅ نـه یـې نـاجي
صـفایي د زړه بـه کـار ده نـه د ږیـرې — څـو بـه ږیـره ګرځـوې شـانه عـاجي
صـوفي لافـې د سـلوک کـا همـدا لافـې — سراسر ګڼـه د ده بـې منهـاجي
په ملا توره تیاره شوه چې حق پـوش شـو — کـه پـه لاس یـې فتـاوې وي سراجـي

دا تــاراج لکــه شــیخان کانــدي پــه مکــر | افریـــــدي نـــــه دی دا هســـــې تــــاراجي
دا یـــې ســـحر د بابــل لــه مځکـــې راوړ | چې درست اوبښ په کوټ کې و مانده حاجي
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۳۴۹).

۱۶. پښتو شعر او ژبې ته ارادي کار کول: د خوشحال بابا په پېر کې د دربار ژبه فارسي وه او د هند په دربار کې د فارسي ژبو شاعرانو ښه دروند هرکلی کېده، عربي هم د زده کړې ژبه وه خوشحال بابا په فارسي، عربي او هندکو هم پوهېده خو ده دا کار په دوو وجهو و نـه کـړ، لـومړی دا چې پـه مـورنۍ ژبـه کـې خپـل احساسات ښکـه ښرگندېری په دویمه ژبه کې نشي ښرگندېدای، که څه هم نوموړی په فارسي ژبـه ښـه برلاسـی و. دویـم دا چې خوشحال بابا د قومي احساس له مخې پښتانه د ژوند په هر ډگر کې را ویښول غوښتل او پښتو ژبه یې د خپل پېر له سیمه ییزو ژبو سره سیالوله چې دغه فکر یې په خپله هم په شعرونو کې را ښرگند کړی دی.

پارسي شعر مې هـم زده سـلیقه لـرم د واړو | پښتو شعر مې خوښ شو هر څوک خپل گني ښاغلي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۱۳).

ما خوشحال چې پـه پښـتو شـعر بیـان کـړ | د پښـــتو ژبــه بــه اوس پــه آب و تــاب شي
(خټک ک، ۱۳۵۸ل، ۴۰۳).

پــه پښــتو ژبــه چــې مــا علـم بلنـد کـړ | د خـبرو ملـک مـې فـتح پـه سـمند کـړ
پــه تـــازه تـــازه مضـــمون د پښـــتو شـــعر | پــه معنــی مــې د شـیراز و د خجنـد کـړ
پــه پارســـی ژبــه مــې هــم ژبــه گویــا ده | پــه پښــتو ژبــه مــې خلـق بهـره منـد کـړ
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵ او ۶).

۱۷. فولکلوریکو ماسایلو ته پام اړول: طب نامه دخوشحال بابا د فولکلوریکو نظریو او درملنې استازولي کوي.

۱۸. د ښځو په تړاو مسایل: د کورنۍ لومړی ښخته نرینه او دویمه ښځه ده، د ښې کورنۍ بنسټ په ښې مور پورې تړلی دی، هوښیاران وایي (د مور غېږ لـومړنۍ مدرسـه ده. ) نـو خوشـحال بابـا پـه دې تـړاو نرینـه وو تـه ډېـرې سپارښتنې کړي او ښځو ته یې هم د ښه ژوند کولو لپاره په خپلو بېلابېلو آثارو کې سپارښتنې کړي دي چې دلتـه یې بېلگه راوړو:

تــر وختــه تــر پربوتــه څــو ښـځې پیـدا کېـږي | څـو دی پـه جهـان واړه څلـور ذاتـه حسـابېږي
گل فامې نېک فرجامې دد و دامې فیل اندامې | هم دا دي چې مې و وې پرې دې هر څوک و پوهېږي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۸۸).

۱۹. د شعر په تړاو مسایل: شعر ښه دی که بد، دی ورځنې راضي دی که نه، لـه ده سره د شـعر جـوړه ښـکه ده، شعر خدایي ورکړه ده، په دغو ټولو مسایلو یې خپل نظر ښرگند کړی دی. د شعر ښه بد او اړخ یې شرحـه کـړې دی، په دستارنامه کې یې پرې ښه بحث کړی دی.

زه د شعر په کار هېڅ نه یم خوشحال | ولې خدای مې کړه په غاړه دا مقال
رنګ زما د شعر هېڅ سره ساز نه دی | لکه سپی را پسې ګرځي په دنبال
که د شعر ویل هر څو د صفت دي | بیا په شعر کې پیدا شي انفعال
دا خبره بده نه ده چا ویلې | په تحقیق چې شعر حیض دی د رجال
په جهان تر شاعریه بد څه نشته | خدای اخته مه کړه سړی په دا جنجال
بل په هسې شان دروغ پکې ویل شي | چې په خپله دروغژن شي دم درحال
د یار مخ د لاله ګل سره تسبت کا | د لاله د یار له مخه څه مثال

(خټک، ۲۰۰۱ز، ٦ او ۷).

۲۰. د احمق په تړاو مسایل: خوشحال خان خټک بابا د قوم د مشری تر څنګ یو ښه زړه سواندی لارښود هم و، دا چې احمق ځان او بل ته زیان رسوي نو څو ځانګړنې یې په یوه بولله کې بیان کړي چې د ټولنې وګړي ترې ځان وساتي.

چې مې ښه په زړه کې فهم فکر وکړ | احمقان راته ښکاره شو په خویو نو
یو هغه سړی احمق بللی بویه | چې باور کا د غلیم په سوګندونو
بل هغه سړی احمق بللی بویه | چې به سپینه ږیره خیال کاندی د جنو
بل هغه سړی احمق بللی بویه | چې له ښځو سره پاڅي په جنګونو
بل هغه سړی احمق بللی بویه | چې بربنډه کونه لامبي په سیندونو
بل هغه سړی احمق بللی بویه | چې غوږ نه کا د خوشحال په دا حرفونو

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۷۰۳ او ۷۰۴).

۲۱. د سیمه‌ییزو ژبو سره د سیالۍ پر بنسټ شعر ویل: مشبته سیالي د هر قوم حق دی، خوشحال بابا هم دا حق لاره چې خپله ژبه له سیمه‌ییزو ژبو سره سیاله کړي او پښتانه د علم او فرهنګ په ګانه سمبال کړي.

که تازي ژبه هر ګوره ښه ده | فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا یې پلو د جمال وا نه خیست | پښتو لا هسې بکره پرته ده

(خټک، ۱۹۸۹ز،۱٦۴).

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کې | پښتو ویل مې عین تر پارسي دي رسولي

(خټک، ۱۹۸۹ز،۱٦۴).

۲۲. هر ډول مضمون ته په شعر کې ځای ورکول: رندانه، صوفیانه، اخلاقي، دیني، فلسفي، فکاهي، هجوه، مدح، د ملي عواطفو او مزایاوو تلقین، مرثیه او نور ډېری مضمونونه، رومانیت، فطرت، ښکلا پېژندنه او دې ته ورته په سلهاوو مضامین یې په خپل شعر کې را نغاړلي دي چې په دغه تړاو مخکني مضامین یې په ډېرو ښو ترکیبون

نازک کړل او د وروستنیو شاعرانو لپاره یې د رنګارنګ مضامینو ور پرانیست چې په یو نه یوه وجه یې رېزه چین دي.

هـر مضـمون تـه چې د زړه توجـه وکـړم
طبیعــت یــې راکــوي پــه اســتعجال
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۲۰۶).

رندانه

شیخ دې لمـونځ روژه کـا زه بـه ډکې پیالې اخلم
هر سړی پیدا دی خپل خپل کـار لـره کنـه
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۹۷).

د شرابـو صـفت څـه کـوې نـور چـا تـه
پـه دا کـار رنـد و اوبـاش پـوهېږي ښـه
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۴۲).

تصوف

یار مې هسې رنګه ځـای وکـړه پـه سترګو
چې و هـر لـوري تـه ګـورم واړه دی دی
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۸۷).

پـه هـر څـه کې ننـداره د هغـه مخ کـړم
چــې لـــه ډېــرې پیداییــه ناپدیــد شــو
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۴۰۵).

پند

در تــــه وښـــیم کیمیـــا د ســـعادت
لــه بــدانو سره مــه کــوه صــحبت
مه بد ګوی مه بد اموز مـه بـد انـدېش شـه
کـه دې زړه وي چـې در نـه رسي آفـت
بې کنګاشه به هیڅ کار په لاس وا نه خلې
چــې خــبر دي د کنګــاش پــه برکــت
پـه اوبـو چـې روا نـه دي شـونډې مـه بړده
پـه ورځ سـل خونونـه کـړه پـه شریعـت
چې کالي یې پاتې نشي مـرده شـوی تـه
خدایه ورکړې و خوشحال هسې رحلت
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۵ او ۵۶).

هجوه

پښـتانه پـه عقـل پوهـه څـه نـاکَس دي
کوتـه ســپي د قصــابانو د جــوس دي
بادشــاهي یــې د مغــل پــه زرو بایلــه
د مغـــل د منصـــبونو پـــه هـــوس دي
اوښ لـه بـاره پـه خپـل کـور کې ورغلـی
پـه اولجـه د اوښ د غـاړې د جـرس دي
د نفــرین لایــق پــه نــام ســړبني دي
لــه اولــه کــه دا نــور ورپســې پــس دي

بې ننګـان د بـې ننګـۍ کـار و بـار کـا
ننګيالي د ننګ په کـار کې هـر نفس دي
سر يې هورې کنـدهار بـل يـې دمغـار دی
تــر دا مينـځ همـه ميشـته واړه عـبس دي
(خټک، ۱۹٦۰ز، ۳۴۰او ۳۴۱).

فلسفه

حيران يم نه پوهېږم چې زه څه يم څه به شمه
له کومه يم راغلی او پـه کـوم لـوري بـه ځمـه
خبر د هغـو تلليـو هـېڅ پـه بيارتـه بيـا را نغـی
له حاله له احواله يې که هر څو څوک پوښتمه
جهان مې کټوری شه زه پـه مثـل د ميـږي يـم
حيران پکې جاروځم لاس و پښې پکې وهمه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ٦۰۳).

کــل عــالم د بېلتانــه لــه لاســه زار کــا
زه پـه څـو خـبرو خـوښ يـم لـه بېلتونـه
يــو يــې قــدر د وصــال راتــه ښــکاره کـړ
بـل يـې سـهل را ښـکاره کـړه نـور غمونـه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ٦۳٦).

۲۳. پر خپلې کورنۍ نيوکه کول: د خوشحال بابا د شعر ډېره جوته ځانګړنه د نيمګړتيا پر وخت پر ځان او خپلې کورنۍ نيوکه ده، په دې کار دی حق لري چې بيا په هر هغه چا نيوکه وکړي چې پښتني ايديال ته ژمن نه دی.

راشــه ګـــوره د بهـــرام د نفـــاق چـــر
ګـــاه ســـني ګـــاه رافضـي ګهـې کـــافر
کله ښه زوی د پـلار ښـه ورور د ورور شي
ګـاه لـه دواړو توګـو ګرځـي پـر نځـر(؟).
دا تـــاثير د بـــد پټـــي دی کـــه د تخـــم
چـې غـنم بانـدې کـرې کېـږي جـودر
کـه لـوګی د اور فرزنـد دی پـه دا څـه شـو
چـې د اور غونـدې يـې نشـته خـير و شر
په مادر کې يې بـلا وي کـه پـه پـلار کې
چـې دا هسـې ځنـې زيـږي ګيـدي خـر
بهرام خان دی سعادت دی هـم يحی دی
پــه خصـلت کـې سره يـو لـه بـل بـدتر
خـاني کـار د هـر چـا نـه دی د هغـه دی
چـې صرفـه يـې نـه پـه زر وي نـه پـه سر
يکبـاره يـې پـه نظـر کې شرم و ننـګ وي
د دنيــا پـــه ســـود و زيـــان نـــه وي خـــبر
د خوشحال خټک که سل زويه نمسي دي
لا لايـــق د خـــانی نـــه ويـــنم پســـر
(خټک، ۱۹٦۰ز، ۹۲).

۲۴. ټولنې ته د ښه ژوند کولو لپاره د نصيحت په بڼه پند ورکول:

په هر کسب کې چې يې حبيب الله يې
کــه لــه خدايــه لــه رســوله نــه اګــاه يــې
پــه محشر بــه لــه تــا عــدل ايمـان غـواړي
که په تخت د پاسه ناست د ملک بادشاه يې
(خټک، ۱۹٦۰ز، ۳۴۱).

۲۴. علم ته بلنه: روښانیانو هم د علم د تلقین لپاره شعرونه ویلي دي خو خوشحال خان خټک بابا چې څومره سپارښتنه د علم په برخه کې پښتنو ته کړې ده هغوی نه ده کړې، دی کله کله غوسه شوی هم دی او په دغه بهیر کې یې له خولې څخه کنځلې هم وتلي دي، په دستارنامه کې یې د یو هنر په بڼه پوره شرحه پرې کړې ده.

علم تا بیایي په پورته جهل تا بیایي په کښته　　　یا عیسی لره ور درومه یا قارون ته ځان وسپاره
چې یې علم هنر نه وي چې په تخت د بادشاه کښېني　　　یا یو یږ دی یا لېوه دی یا یې ګاو و خر و شماره
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۴۰).

مټ په علم کړه چې علم　　　اژدها دی هم عصا
یا په علم کې لذت دی　　　یا په عشق کې د مولا
نور همه چارې عبث دي　　　که اعلی دي که ادنی
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۹).

۲۵. شکایت یا ګیله: خوشحال خان خټک بابا که توره چلولې او یا یې قلم په کار وړی دواړه د پښتنو د عزت لپاره وو نو ځکه د پښتنو د نه پاملرنې له امله یې په قلم ځینې وخت شکایتونه را برسېر شوي دي.

زه یې چا لره وهم قدر یې چا زده　　　په اور اوسېزه دا توري قلمونه
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۰).

خدایه چا وته یې کښم څوک به پرې پوه شي　　　ما ویلي هر یو بیت دی دفترونه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ٦۲۹).

د خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته　　　پس له مرګه به یې یاد کا دهر عالم
(خټک، ۱۳۵۸ل، ۱۲۳).

۲٦. د خپلواکۍ د ګټلو لپاره جنګ ته بلنه: جنګ او جګړه په وسله او سړیو کېږي چې سړي له چا سره نه وي نو له دښمن سره به جنګ په کوم دستور مخ ته وړي. خوشحال بابا چې د پښتنو د خپلواکۍ د ګټلو سیمبول دی په دغه برخه کې یې کله نا کله د لښکر د ټولولو لپاره د پښتنو بېلابېلو قبیلو ته تپه په تپه ګرځېدلی دی، که چا یې غږ ته لبیک ویلی دی خوشحال وي او که نه بیا یې د خپل زړه براس په قلم تش کړی دی چې په دغه برخه کې اوږدې اوږدې بوللې لري.

بیا له کومه را پیدا شو دا بهار　　　چې په هر لوري یې ملک کړو یو ګلزار
پښتنو زلمیو بیا لاسونه سره کړه　　　لکه باز منګلې سرې کا په خپل ښکار
سپینې توري یې ګلګونې کړې په وینو　　　په اهار کې شګفته شو لاله زار
تر کړپه تر باجوړه سمې غرونه　　　په لړزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوری چې کېږي پنځم کال دی　　　هره ورځ د سپینو تورو خرپهار

چې په دا لوري زه راغلم حبطه شوم | زه مردار یم که دا خلک دي مردار
په لښکر لښکر ناري شوم ورته سترې | دا کانه راته نه مهیرک وایي نه ځار

(ختیک، ۲۰۰۱ز، ۱۷ او ۱۸).

چې مین په وسله نه وي | مرد دې نه وایي و ځان ته
لاس دې سره کړي سترګې تورې | ځان دې و جوړوي ځوان ته

(ختیک، ۱۳۹۷ل، ۳۱۲).

۲۷. د اخلاقي شاعرۍ ډېرې ممتازه برخه یې امید، توکل، پرلپسې عمل، کوښښ، همت، ذوق، ریښتینولي او د مصیبتونو او سختیو پر وړاندې د مقاومت لپاره ځانګړې کړې ده.

د شپې ښتن دې سحر ته ګوري | ګوندې پرې وخېژي د سبا ستوري
هیڅوک دې تمه امید پرې نه کا | باران په تریو کښتونو اوري

(ختیک، ۱۹۶۰ز، اس).

په بلند همت کې پورته پورته درومي | کښته کښته ځي سړی په همت پست کې

(ختیک، ۱۳۹۷ل، ۷۷۵).

که تکیه ده خو تکیه د یوه خدای ده | چې په بل یې کړه څه حال لري تکیه

(ختیک، ۱۹۶۰ز، اش).

چا له ډنډه در ګوهر نه دي و کښلي | قیمتي لؤلؤ لالا غواړه به یم کې

(ختیک، ۱۳۹۷ل، ۷۷۹).

د مردانو په معراج به ورتلی نه شي | چې د سعیې کوتاهي لري په زړه کې

(ختیک، ۱۳۹۷ل، ۷۸۱).

۲۸. ستور پېژندنه: په دغه برخه کې هم پوره څرګندونې یې په دستارنامه کې لوستلای شئ.

کنجغ باشم کنجغ بشم | کنجغ باشم کنجغ اوشم

(ختیک، ۱۳۴۵ل، ۴۷).

۲۹. کسب ته رابلل: پښتانه له پیدایښت څخه د بزګرۍ او مالدارۍ په کار خوښ دي او دغه کار د ځان لپاره شرف ګڼي، د هر کسب بل کس که هغه سوداګري هم وي، ځان ترېنه غوره ګڼي چې همدا هم د پښتنو د وروسته پاتې کېدو یولامل دی نو خوشحال بابا پښتانه هر روا کسب ته رابللي او په دغه برخه کې تاکید هم کوي:

هم واجب دی هم مباح دی | کسب کله نا صلاح دی

چې حلال کسب څوک کاندي — صد رحمت په هغو باندې
چې له خپله کسبه نه خوري — که ولي دی کله ښه خوري

(بېنوا، ۱۳۹۷ل، ۱۴۴).

۳۰. د دښمن احسان نه هېرول: خوشحال خان خټک د پښتونولۍ يو بل اصل چې د دښمن احسان نه هېرول دي په خپلو شعرونو کې ځای پر ځای کړی دی، خپلو زامنو ته په دغه برخه کې سپارښتنه کوي چې د دښمن احسان به هم نه هېروئ:

زما زړه له چانه روغ نه دی بهرامه — له هر چا سره مې زيست دی له ناکامه
نوکری ځواني دا دواړه لکه بام دي — په پيری کې له ما لاړل دواړه بامه
اوس دا دواړه بامه ستا دي ننداره کړه — غافل مه شه يو زمان تر صبح و شامه
د مغلو دولت خواه اوسه څو ژوې — و نفرو ته يې هم کړه سل سلامه
د هغه به فېروزي په جهان نه وي — چې يې وخوري د چا مالګه کا حرامه

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۳ او ۴۴).

۳۱. د محبوب د بدن د غړو يادونه: خوشحال خان خټک بل نوښت دا دی چې د محبوب د بدن د ټولو غړيو ستاينه په بېلابېلو تشبيه ګانو کوي.

تور ګيسو دې په چندڼ باني ښامار دي — توري زلفې دې سنبل د نوبهار دي
توري سترګې دې هوسی د خطا شوي — چې و څر وته پرتې په سنبل زار دي
توري وروځې دې لينده بانه دې غشي — عاشقان يې زخمي شوي په ګذار دي
مصفًّا تندی دې ښه دی تر بلوره — بېدلان يې په سرونو خريدار دي
دغه خال چې دې د وروځو په پيوند دی — د خطا د ملک اصلي نافې ترې زار دي
سپينه پوزه دې غوټی د زنبق ده — چې چاپېر ترې نور ګلونه د ګلزار دي
بناګوش دې نسترن دي غوړېدلي — د چنبې تر ګلو به دواړه رخسار دي
سپينه خوله که دې غونچې سره نسبت کړم — د غونچې غوټۍ کله شکربار دي
دواړه سرې شونډې دې ښې دي تر سرو لالو — سپين غاښونه بې بها در شهوار دي
ښايسته زنه دې سېب د سمرقند ده — چې خواږه يې تر نباتو نه بسيار دي
صراحي د سپينو زرو سپينه غاړه — سيم اسا اوږې دې هم به دغه شمار دي
واړه تن دې د حلب تر ښيښې صاف دی — چې رازونه د درون ترې نمودار دي
سپينې لېچې د مصری توري تېری کړي — چې خونونه يې په غاړه سل هزار کړي
د ياقوتو نيګنې دې سره نوکونه — ځای به ځای دې په اوږدو ګوتو قطار دي
چې مې ستا د تيو ښه ننداره وکړه — هغه کلک په لذت ډک خواږه انار دي

د نامه غوټۍ دې گل دی د گلابو    کین او ښي د گلو پاڼې پرې انبار دي
د نامه دې کښته دم وهلی نشم    هم هغه زده چې خبر په دا اسرار دي
چې و ملا و کوناټیو ته دې گورم    آوېزاندې پاغوندې په نري تار دي
د پنډیو تر صفت دې نه رسېږم    ولې سپیني په سپینوالي تر چوتار دي
سپیني پښې دې د زنبق د ونو پاڼې    د پښو گوتې دې کلۍ د انار دي
تمام قد دې په مثال د صبر ونه    ولې سم ولاړ دې عین د چنار دي
سر تر پایه ننداره یې ځان دې جوړ کړ    تر تا ځار واړه راڼۍ د هندوبار دي
ته خو ډېر مهر کوې عمر دې ډېر شه    د خوشحال خټک دې تش مهر په کار دي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۹۴ او ۹۵).

۳۲. د ښځو حقونو ته پاملرنه: د ښځو د حقونو غوښتنه د خوشحال خان په بېلابېلو آثارو کې تر ستر گو کېږي چې په دستارنامه او طب نامه کې یې راوړي دي، په کلیاتو کې یې هم یو نیم بیت د ښځو د حقونو په تړاو راغلی دی.

یار مې ذوق د تماشې کا له اغیاره    زه فریاد نارې وهم چې یاره یاره
د خاطر طمع مې هسې رنگه نه وه    چې به هسې رنگه ظلم کا یکباره
معشوقې مې و عاشق و ته ویل کړه    دا د دوی له حاله وشول څو گفتاره
( خټک، ۲۰۰۱ز، ۸۳).

۳۳. قیافه پېژندنه: خوشحال خان خټک په انسان پېژندنه کې هم ډېره تجربه لري، په خپلو شعرونو کې د بېلابېلو قبیلو د نرینه وو او ښځمنو د ځانگړنو راوړل یې پر دغې برخې دلالت کوي.

تورانی خو د جنجال دي د پرخاش    دروغجن سوگندخواره بهتان تراش
هر احوال ورته ښکاره دی د وگړي    د خوشحال خټک په پوهه کړه شاباش
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۱۴۳).

ښځه بویه هوسناکه خنده رویه مهرجنه    پاکیزه په زیست روزگار کې په ښه بوی باندې مینه
د صحبت په رموز پوهه زړه یې خلاص له مکره دروهه    کم خوراک خوش پوښاکه همېشه ناسته د ننه
په وصال د یار خوشحاله یار یې خوښ له قیل و قاله    چې له یاره نه جدا شي هم غمجنه هم خیرنه
له نېکانو همنشینه له بدانو په زړه خوږینه    له موروالي یې توبه کا که یې مور وي دروغجنه
خوش صورته خوش سیرته خوش خلقته خوش خلقته    په طاعت په عبادت کې د وفا په لارې تلنه
پاکیزه یې د کور صحن نه په غلي یې نور لجن    پرستارې ترې خوشنودې ښه د هر چا په ستاینه
که دا هسې کس پیدا شي د خوشحال په لاس دې راشي    هېڅ تقصیر به یې و نه کا د یارۍ په پالنه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۶۲۰ او ۶۲۱).

۳۴. ټولنیزه سیکالوژي بیانول: خوشحال خان خټک د خپلې ټولنې ژوره مطالعه لري او په دغه برخه کې ډېرې شعرونه یې د ارواپوهنې ښې بېلګې کولای شو.

کــه دا عقــل د همــه خلکــو یکســان وی      سکه بایده وو چې همـه سـړي لقـمان وی
د دې لال قــدر بــه نــه و پــه عــالم کــې      کــه دا کــانې واړه لعــل د بدخشــان وی
مــا خوشــحال د حقیقــت پــه ژبــه و وې      دریغه دریغه که څوک پوه پـه دا زبـان وی
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۶۳۰).

چـې یـې عمـر لـه څـارویو سره تېـر وي      زیست روزګار د هغو هم په هغـه څېـر وي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۷۴).

چـې پـه سـپینه رېـره کـا ځـوانې نګـارې      په خپل ځان باندې بـه و کـا ځنـې چـارې
کـه پـه خولـه د زاړه یـار تـر سر ځـارېږي      پـه زړه نـه دي ځـوانې هـېڅ د زاړه یـارې
نېـک و بـد بـه دا جهـان کـې پیـدا کېـږي      نېــک و بــدې لــه زاړه نــه دي ویــزارې
خو ښه ځوان د ځوانې ښځې په غرض دی      کــه بادشــاه وي لـــه زاړه نـــه وي ازارې
په کم ذات پـه اصیل هـېڅ نـه دي راغـلي      ښــځې واړه د ښــه کــار دي طلبګـــارې
زوړ دې ځوانې ښځې نه کا که یې کانـدي      فکـر بویـه چـې لـه ښـه ځایـه وي بـارې
لـه ښـه ځایـه لـه ښـه کـوره سـتر پوښـې      پــه حیــا پــه شرم ننــګ وي خـــبردارې
چې په پلار نیکه د ننګ د نـاموس نـه وي      هغـــه ښـــځې قباحـــت تـــه دي تیـــارې
اوس په خپلو زړو خوښ اوسه خوشحاله      دا د دور ځــوانې مــه کــړه نــا پــه کــارې
(خټک، ۱۹۶۰ز،۸۳او ۸۴).

۳۵. د خپل ژوند ځینې ارمانونه بیانول: د خوشحال ژوند له ډېرو لوړو او ژورو څخه ډک دی او په دغه بهیر کې ډېرې داسې نیمګړې چارې یې د ارمان په اوسیلي کې را نغښتي دي چې ځینې بېلګې یې دلته راوړم:

د خپل علم په تړاو وایي:

طبیعــت مــې عطــایي نــه د تحصــیل دی      کــه خــبر یــم د امــلا پــه اســتعمال
یو ساعت به مې په درس شل مې په ښکار وو      کلـه ښـکار پرېښـوم پـه کسـب د کـمال
د جهــان تحصــیل بــه کــل واړه زمــا وو      کــه اختــه نــه وی د ښــکار پــه اشــتغال
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۵۷)

پـه ارمـان د هغـه وخـت یـم دریغـه دریغـه      که د زنې سـپې یـې بیـا زمـا پـه خولـه شي
بختـــه هـــومره مـــدد بیـــا را سره وکـــړه      چې په غېږ کې مې بیا تللی یـار اوده شي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۵۳).

| | |
|---|---|
| د بــې ننگــه پښـــتنو لـــه غمـــه مـــا | لـــويي پرېښـــوه و نيولـــه کمـــه مـــا |
| هغـه در مـې پـه لاس نـه راځـی کښـتيه | اسـتاده کـړه پـه سـاحل لـه يمـه مـا |

(خټک ک، ۱۳۵۸ل، ۱۹ او ۲۰).

۳۶. پنځ پېژندنه: په دغه برخه کې غرونه، سيندونه مرغان، ونې، ډول ډول بوټي، ځروبي او داسې نور هغه څيزونه چې په پنځ پورې تړاو لري. خوشحال خان خټک په دغو برخو د خپل شعر لمن ښه ځلولې ده.

| | |
|---|---|
| د نـوروز منـت پـه بـاغ دی پـه صـحرا هـم | نـوراني يـې شـه لـه فيضـه هغـه دا هـم |
| چـې پـه بـاغ کـې رنگارنـگ گلونـه وا شي | غنيمـــت ده د گلونـــو تماشـــا هـــم |
| پـه هـر گـل بانـدې ټټـر وهـي بلبلـې | بيـا لـه شـوقه پـه هـوا کانـدي نـوا هـم |

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۵۷۶).

| | |
|---|---|
| سوات مې واړه لگـد مـال کـړ سر تـر پايـه | خـبردار يـې شـوم لـه هـره هـره ځايـه |
| تـر کابـل نـه يـې هـوا د اوړي ښـه ده | د کابـــل هـــوا ترخـــه د ده خـــوږه ده |
| په هوا کـې د کشـمير پـه آب و رنـگ دی | حيف دا چې کشمير ارت دی سوات تنگ دی |

(خټک س، ۱۳۵۸ل، ۲ ـ ۴).

۳۷. د خپل احسان يادول: پښتو ژبې ته چې خوشحال خان خټک کوم څه ښنلي د نړۍ يو اديب هم خپلې ژبې ته نه دي ورکړي، پښتانه په ژوند د خپلو مشرانو او د نظرڅښتنانو په نمنځنه ځان يو ډول کم گڼي نـو دا احساس خوشحال بابا ته هم په خپل ژوند شوی و نو ځکه يې په لاندې څلوريزه کې دغه احساس تر موږ را ورساوه.

| | |
|---|---|
| کـه د نظـم کـه د نـثر کـه د خـط ده | پـه پښـتو ژبـه مـې حـق دی بـې حسـابه |
| نه پخوا پکښـې کتـاب وو نـه يـې خـط وو | دا دی ما پکښې تصـنيف کـړل څـو کتابـه |

(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۶۵).

۳۸. په شعر کې د نورو د کار ستاينه: د کار د ترسراوي پر وخت د يو چا ستاينه د ستايل شوي شخص هڅه نـوره هم گړندۍ کوي نو ځکه يې د بهرام د املا او انشاء ستاينه کړې ده.

| | |
|---|---|
| عطـارد دې نـور قلـم لـه لاسـه کېـږدي | چـې پـه دا خـوبۍ بهـرام امـلا انشـاء کـا |

(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۶۸).

۳۹. د ځان لپاره د باز او زمري سيمبول کارول: باز او زمری يوازې د ځان لپاره نه سيمبول کوي، بلکـې پـه خپلـه شاعرۍ کې د هر مېړني لپاره دغه سيمبولونه په بيا بيا کاروي.

| | |
|---|---|
| زړه مې ستا په زلفو بنـد شـه تـا کبـاب کـړ | خـوک شـهباز هـم د کبـاب لپـاره نسـي |

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۴۹).

لکه باز په لوی لوی ښکار زما نظر دی		نه چې ګرځي ګونګټ نیسي بادخورک یم
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۲۵).

۴۰. باز او زمری د مېړنی، ګیدړ د بزدل او خر د احمق، ټپوس او کارغه د مردارخور لپاره سیمبول کارول.

د بازونو د کارغانو مصاف وینم		تر دا مینځ به یې د وینو رود روان شي
د مزریو مړنتوب په لښکر نه وي		مې یې هر کله یوازې په خپل ځان شي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۸).

فراغت دې مبارک شي د ګیدړو		د مزري د غاړې بخره دی زنځیر
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۹).

۴۱. د اسلامي پښتونولی ایډیل ځانګړنې : د عشق، فقر، درویشی، غیرت، پت، ننګ، شجاعت، مړنتوب او دې ته ورته هغه خویونه دي چې د هر ایډیل مسلمان پښتون لپاره یې راوړي.

عشق

د خوشحال خټک له عشقه ګفتګوی شي		چې په لوښي کې څه وي هغه ترې توی شي
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۱۱۰).

تمه پرې کول

که دې تمه د مخلوق له دره پرې کړه		بادشاهي دې مبارک شه که ګدا یې

سخاوت

که ګنجونه د قارون درته انبار شي		په هر لور یې غورځوه په سخاوت

منت نه وړل

د منت دارو که مرم په کار مې نه دي		که علاج له ره مې راشي مسیحا هم

قول پر ځای کول

مرد به خپله وینا ژغوري څو ژوندی وي		د نامرد وینا نن شته نشته سبا

د خلکو ښېګڼه

چې د خلکو نېکخواهي لري په زړه کې　　　مبارک شه بادشاهي لرې په زړه کې

زړه ساتل

هر چې ستا د زړه رضا واړه هغه کړه　　　خو چې زړه د چا خوږېږي هغه مه کړه

همدردي

د هغه قدر لرم ترې به ځاریږم　　　چې په غم کې چاره جوی د بېچاره شه

حسن سلوک

چې له دوسته له دښمنه ښه سلوک کا　　　د هغو سړیو ښه زندګاني ده

ظلم او انصاف

که نوم د حجاج اورې اورې نوم د نوشېروان　　　په عدل کافر ښه شه ظلم بد کړ مسلمان

په ځان باور او انفرادیت

د مزریو مړنتوب په لښکر نه وي　　　مې یې هر کله یوازې په خپل ځان وي

عزم او ثبات

تر مطلوبه پورې شرط د رسېدو دی　　　که تمامه لار په وینو شي الوده

محنت او راحت

چې محنت په ځان قبول کا راحت مومي　　　رنج و ګنج سره دا دواړه دي تړلي

صبر او شکر

په ښادۍ کې دې يې شکر سړی کاندي
پــه غمونــو کــې د صـبر چــار فرحــت ده

پت

سر دې درومي مال دې درومي پت دې نه ځي
د ســړي د چــارې کــل خــوبي پــه پــت ده

لافې شاپې

وې مې کوم رښتيا چې و وايې پرې سپک شي
وې يې خپـل هـنر چې وايـي دم در حـال

وينا او کړه

چې کـردار دې لـه گفتـار سره سـم نـه دی
تش گفتار واړه په ځان باندې نفـرين ږدي

(ختک، ۱۹٦۰ز، اس او اش).

شجاعت او غيرت

ننگيـــــالي د ننـــــگ لپـــــاره
پـــــه هـــــر ځـــــه لگـــــوي اور

چــې پــه نــام او ننـگ اړ نــه وی
کــه تــل ژوی مــخ يــې تــور

(ختک، ۱۹٦۰ز، ۱۰۴).

انتقام

عفـوه کـرم دې پـه هـر چـا عـام نـه وي
پـه کـس نـاکس دې دا کـار مـدام نـه وي

کـس چــې خطـا وکـا بانـدې عطـا بويـه
نــاکس لا بــد شي چــې انتقــام نــه وي

(ختک، ۱۹٦۰ز، ۷۸٦).

۴۲. پر عقل زړه ته ترجيح ورکول: خوشحال بابا تل په خپلو شعرونو کې د زړه خبرې تـه ډېـره پـام لرنـه کـوي، کېدای شي د زړه تړاو له عقيدې سره ډېر دی او له عقل سره د فلسفې تړاو بيا تر زړه زيات دی، بله دا چې په زړه کې مينه او عاطفه وي او نوموړی په هر څه کې مينې او عاطفې ته ډېر باور ورکوي.

چېرته يې ای عشقه چې وربوز يې راتـه مـات کـړې
بيا گـوره چـې عقـل پـه تـدبير راغلـی دی

(ختک، ۱۳۹۷ل، ۱۰۷۱).

عقـــل ســـل د مصـــلحت بندونـــه جـــوړ کـــا
چې د عشق سيلاب پرې راشي واړه نوړ کا

(ختک، ۲۰۰۱ز، ٦٦۷).

چـــې راغلـــی پـــه حيلـــه دی
عقـــــل ځکـــــه عقيلـــــه دی

کــه مثــال یــې لــه مــا غــواړې		عشــق زمــری عقــل نیلــه دی
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۷۷).

۴۴. خپله عقیده له یوناني فلسفې ښخه نه قرباني کول: خوشحال خان خټک که څه هـم د علـم ډېـره سپارښتنه کوي او همدا پوهه ده چې ټولنې ورځ تر بلې د پرمختګ پر لور بیایي او نا پوهي بیا د ټولنې جرړې ور ختمـوي او د بدبختیو لامل ګرځي خو بیا هم په عقیدوي برخو کې نوموړی عقیدې ته ترجیح ورکوي او په دغه موقعه بیا د فلسفې او علم خوا پرېږدي. په یوه څلوریزه کې پر ځان نقد کوي چې تړاو یې له عمل سره دی نه له تشکیک سره:

قـران د وړانـدې پـه لاس کـې جـام لـرم		پــه لــون لــون حــلال حــرام لــرم
عمـل مـې تـریخ دی کـه خـوږ کـلام لـرم		نه درست کـافر یـم نـه درسـت اسـلام لـرم
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۶۸۴).

فلاســـــفه معتزلـــــه واړه ګمـــــراه دی		چې بې شرعې په خپل رای کاندي ترغیب
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۴).

مـا قـران منلـی چـې نـازل دی لـه اسـمانه		نورو تـه بخښـلي چـې خـبرې یونـاني دي
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۷۷ـ۱۷۸).

۴۵. اخلاقي خودي: انسان که دا فکر وکړي چې په ټولنه کې که دی نو زه یم داسې خودي ناروا ده، انسان ټولنیز ژوی دی او د ژوند په کارونو کې یو انسان بل ته اړتیا لري خو له دې سره بیا هم کله په ژوند کـې داسـې وخـت هم راشي چې سره له اړتیا بیا هم د ځینو خلکو له مرستې مخ ګرځـوي چـې دغـه کـار تـه مـوږ اخلاقـي خـودي ویلای شو، په دغه برخه کې خوشحال خان خټک ډېر بیتونه لري.

د منـت دارو کـه مـرم پـه کـار مـې نـه دي		کــه عــلاج لــره مــې راشي مسـیحا هــم
د فرښــتو امــین منــت دی پــه دعــا کــې		لاجــرم ورځنــې پټــه کــړم دعــا هــم
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۸۰).

که یې تـه پـه منـت مـومې وا یـې مـه خلـه		کـه د چـا پـه بـاغ کـې بـوټی د کیمیـا دی
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۳۵۰).

۴۶. خپلواکي یا اختیار: دا چې پښتانه سره اتفاق نه کوي او هر یو ځان پوره ګڼي دغه هـم د خپلـواکۍ زړی دی چې په پښتنو کې کرل شوی دی خو سره له دې هم بیا پښتانه په خپلـواکۍ مـین خلـک دي، تـل یـې خپلـواکي ګټلې ده ولې د ناپوهۍ په لامل یې بیرته له لاسه تللې ده. خوشحال خان خټک ډېره هڅه کړې ده چې پښتانه په اتفاق شي او خپله خپلواکي لاسته راوړي.

آزادي تـــر بادشـــاهیه لا تېـــری کـــا		چې د بل تر حکم لانـدې شي زنـدان شي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۸).

چې د بل تر لاسو ورغی د بل شه        مرد به خپل لري د خپل فکر زمام
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۵۵۵).

و بلا ته د اختیار توره په لاس کې        و قضاء وته تسلیم په شان د مړه یم
( خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۸۰).

۴۷. وړتیا یا توانیت: هر انسان باید په خپل ځان کې وړتیا پیدا کړي، ټولنه په وړتیاوو مخ ته ځي او د انسان وړتیا په خپله د انسان عزت را منځته کوي. ور سره محسوس شي، لاندې بیتونه لولو:

چې آیینې ته ښکاره دیدار کړې        آیینه درسته سره گلزار کړې
چې شونډې کښېږدې د جام په مورگو        اوبه په جام کې رُبِ انار کړې
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۸۱).

ښه جمال لره پیدا کړه زما سترگې        له غه پسه یې جمال مشاهده کړه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۵۴۹).

د مزریو مړنتوب په لښکر نه وي        مټ یې هر کله یوازې په خپل ځان وي
چې د اور بخري باد سره رفیق شي        بیا هاله کا په ملکونو لمبې بلې
تر مطلوبه پورې شرط د رسېدو دی        که تمامه لار په وینو شي الوده
که رنگ دې زیړ وي له دلگیری نه        ته یې په دواړو څپېړو سور کړه
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۸۱).

۴۸. لذتي ښکلا: داسې ښکلا چې یو ډول خوند هم ور سره محسوس شي، لاندې بیتونه لولو:

چې آیینې ته ښکاره دیدار کړې        آیینه درسته سره گلزار کړې
چې شونډې کښېږدې د جام په مورگو        اوبه په جام کې رُبِ انار کړې
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۸۱)

ښه جمال لره پیدا کړه زما سترگې        له غه پسه یې جمال مشاهده کړه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۵۴۹).

۴۹. پښتني رنگ: خوشحال خان خټک پښتو شعر ته داسې توکي ورکړل که دا د نړۍ په هر گوټ کې ولوستل شي نو دا به ثابته کړي چې د نوموړي جذبه پښتني ده.

په بل ځای مې پېرزو نه یې د یار غمه        ته زما د زړه د مات کودي ریحان یې
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۳۴۷).

۵۰. ادب د ژوند لپاره: ریالیستیک فکر د خوشحال خان خټک د شعر ډېر څرگند اړخ دی چې دلته یې څو بېلگې راوړو.

عاقبت به برخوردار د خپل مراد شي        که د پلار په نصیحت کې درومي زویه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ٦٦١).

هر آفت چې په درست عمر را دوځار وه        چې مې څیر که درست زما د ژبې کار وه

چې ودانې چارې ورانې په ساعت کا — چې مې ولیده په چارو کې تلوار وه
(ختک، ۱۳۹۷ل، ٦٧٧).

۵۱. رومانتیک یا جذباتي پلو: رومانتیسیزم چې د خیال او فکر آزادي، لوړ تخیل، د ښکلا ستاینه، د لغتونو او ژبنیو تعبیرونو پراختیا او له یوناني کلاسیکي ادبي قیدونو څخه د ځان خلاصون یې ځانګړنې دي د اتلسمې زېږدیزې پېړۍ په پای کې یې په غربي ادبیاتو کې پراخه بدلونونه را پیدا کړل او د یو ادبي ښوونځي په بڼه یې خپلې ریښې ټینګې کړې. (هاشمي، ۱۳۹۳ل، ۲۹۲).

نوموړې خوا د خوشحال خان ختک بابا په شعرونو کې لا د پخوا څخه شتون لري د خوشحال خان ختک شعر د روماني ( ظاهري جذبې ) له پلوه هم په خپله لمنه کې ډېر څه لري چې یو څو بېلګې یې دلته راوړو.

ما په دا جهان کې بل استاد نه دی لیدلی — پیر مرشد مې عشق دی واړه عشق دي را ښیلي
(ختک، ۱۹٦۰ز،۴٦۸).

قصیدې لرم غرا له هره بابه — په حکمت په نصیحت کې مالامال
په تعریف د دلبرانو غزلونه — په صفت د سترګو وروځو زلفو خال
رباعي ده که قطعه که مثنوي ده — همګي واړه ګوهر دي در و لال
په غزل په رباعي مې زړه مین دی — چې مداح یم د دلبرو د جمال
زه مداح د هیچا نه یم بې له کښلیو — د نور چا په صفت نه لرم یو قال
(ختک، ۲۰۰۱ز، ۸او ۱۰).

دواړه شونډې دخوشحال ختک په خوله کړه — و توتیانو ورکوي خلک شکرې
(ختک، ۱۹٦۰ز، ۸۰).

په ځان او په جهان کې ما دوه څیزه دي و کښلي — په ځان کې دواړه سترګې په جهان کې واړه کښلي
د کښلیو د جمال په ننداره کې ما خدای بیاموند — لږ نه دی له مجازه حقیقت ته رسېدلي
(ختک، ۲۰۰۱ز، ۱۲).

ته هغه لیلا یې چې دې تل په بخره ناز دی — زه هغه مجنون یم چې یې تل درپسې نیاز دی
زه تر عشق ځارېږم تر هغو چې عاشقان دي — واړه عشق په کار دی حقیقت دی که مجاز دی
را یې شي له کومه ځای په څو و کا په زړه کې — هیڅ پرې نه پوهېږم عشق یو څه سوز و ګداز دی
هی د خدای لپاره تفحص را پسې مه کړه — پلار ته وایه نه شي عشق یو هسې مخفي راز دی
توري توري زلفې کبود خال پکې کوتره — راشه که یې ګورې پرې بندي یو څه شهباز دی
سکني د زړه ولې چې په شونډو کې موسېږي — تېغ یې د غمزې دا ځله لا څه تېره ساز دی
هر څوک یو یو بت لري خپل بت و ته سجود کا — بت د خوشحال ته یې تل یې تا وته نماز دی
(ختک، ۱۹٦۰ز،۳۴۴او ۳۴۵).

بیـــا لـــه کـــومې راپیـــدا شـــو دابهـــار ‌‌ ‌ چې په هـر لـوري یـې ملـک کـړو یـو گلـزار
د پسـرلي گلونـه ډېـر پـه هـر هـر رنـگ شـته ‌ ولي سره لالـــه دي لا پکـــې اوڅـــار
ســاقي راشــه ډکــې ډکــې پیــالې راکــړه ‌ چې پـه میـو پـه مسـتی کـې شـم سرشـار
پښـــتنو زلمیـــو بیـــا لاســـونه سره کـــړل ‌ لکــه بــاز منگلــي سرې کانــدي پــه ښــکار
ســپینې تــوري یــې گلگــونې کــړې پــه وینــو ‌ پـــه اهـــاړ کـــې شـــگفته شـــو لالـــه زار
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۷۵).

۵۲. حق ویل: خوشحال خان خټک په خپل عملي ژوند کې هم د حق پلوي دی او هم یې په شاعری کې دغه پلو ښه پاللی دی.

دروغ ویل هغه کا چې یې وېره وي یا طمع ‌ خوشحال په دا اړ نه دی حق به وایي څو یې سر شته
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۹۳).

رنگارنگ ویـل دې خـدای لـره خوشـحاله ‌ دا ویـــــل دې لکـــــه غشـــي نـــــاوکي دي
( خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۵۱).

۵۳. حبسیات: په پښتو ادب کې لومړی کس دی چې په دغه برخه کې ژړونکي شعرونه لري.

پښـتني جونــه دې زلفــې بــاد تــه نیسـي ‌ چې شمال یې بوی راوړي پـه رنتهبـور کـې
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۷۶).

هغه خدای چې بندی کړی یې دی خوشـحال ‌ هـم هغـه بـه یـې خلاصـی کـا پـه هـر حـال
چې همېش په یوه حال وی هغه خدای دی ‌ پـه سـرېو بانـدې تـل نـه وي یـو حـال
نـه پړکېـږي نـه فریـاد کـا نـه چیچـل کـا ‌ هر هوښیار مرغه چې لانـدې شي تـر جـال
کـه دبنـد او د زنـدان مشـکل اسـان شي ‌ وار په وار بـه خـدای اسان کـا کـل اشـکال
لا بـــه کلـــه د خلاصـــیه زېـــری وشي ‌ چې ښـادي مـې شي پـه اهـل و پـه عیـال
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۲۰ ـ۲۴).

۵۴. د مکتب کلمه کارول: په پښتو شعر کې د مکتب کلمه د لومړي ځل لپاره خوشحال خان کارولې ده.

څوک د حج څوک د تلقین څـوک د مکتب شـول ‌ یـو خوشـحال پـه واړو خلکـو کـې لونـډ دی
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۶۳۳).

۵۵. پښتني نېشنلېزم پالل: د نېشنلېزم زړی د هر انسان په خټه کې کرل شوی څېز دی. په دغه برخه کې هغه مثبت اړخ خوشحال خان خټک ښه پاللی دی.

کـه پـه حسـن د کشـمیر خوبـان اوڅـار دي ‌ یـــا د چـــین او د مـــاچین او د تاتـــار دي
پښتنې جونه چې مـا پـه سـترگو څېـر کـړې ‌ هغـه کـل واړه خجـل د دوی تـر کـار دي

تر صورت يې د سيرت خوبي افضل ده تـر ظـاهر يـې د بـاطن خـواره بسـيار دي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۶۳۴).

۵۶. د ګډ قوميت نظريه: د ټولو پښتنو د عزت خيال ساتل، يعنې که پښتانه د يو پښتون تر کلمې لاندې ځان راټول کړي نو تل به عزت او خپلواکي له دوی سره وي د دوی همدغه ځانځاني ده چې تل يې د وير پر ټغر سره راټول کړي دي، مخکې تر خوشحال خان او د خوشحال خان پر وخت هم هرې پښتني قبيلې ځانته قوم وې او يوه قبيله به له بلې سره په جنګ جګړو اخته وه، خوشحال خان دغې مسئلې ته پام وکړ چې ټولې پښتني قبيلې تر يو نوم (قوم) لاندې راټولې کړي خو په دغه برخه کې بريالی نه شو.

درسـت پښـتو تـر کنـدهاره تـر اټکـه سر يـو د ننـګ پـه کـار پـټ او اشـکار
بلـه هـيڅ ليدلـه نشـي پـه دا ميـنځ کـې يـا مغـل لـه منځـه ورکيـا پښـتون خـوار
په دا هسې وخت چې وخت د نام و ننګ دی دا بـې ننګـه پښـتانه کـا څـه رفتـار
تـر مغلـو پښـتانه پـه تـوره ښـه دي کـه پـه پوهـه پښـتانه وی څـه هوښـيار
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۱۸ــ۱۹).

پـه يـوه ژبـه ويـل سره پښـتو کـړو ولـې هـيڅ نـه شـو لـه يـو بـل خـبردار
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۱۶۰).

۵۷. تدبير ته پاملرنه: خوشحال بابا په اند د هر کـار د تـر سراوي پـر مهـال بايـد پـوخ تـدبير ونيـول شي، تـر دې وروروسته بيا د کار پيل د الله په توکل کوي.

خپل تـدبير لـه لاسـه مـه پرېږده خوشحاله کـه کارونـه حوالـه دي پـه تقـدير
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۱).

۵۸. مغل د ظلم سيمبول: که څه هم په لومړۍ دوره کې هم د مغلو له ظلمونو آهونه لرو خو د خوشحال خان په دوره کې د مغل کلمه په پښتو ادب کې د يو سيمبول په بڼه راغلې ده.

تل که هسې مينې په اغيار کړې لکه اوس دي تل به دې په کور وي د خپل يار مغل ختلي
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۹۸).

۵۹. سياست او هېوادپالنه: خوشحال خان خټک د ښې حکومتولی او د هيوادپالنې په موخه ډېرې شعرونه لـري، د يو ښه مشر ځانګړنې او د خپل ولس د پالنې او روزنې ښه درس يې په خپلو شعرونو کې راوړی دی.

سردار د عفـوو کـرم څښـتن ښـه دی د جنـګ پـه کـار پـه اشـتي مـين ښـه دی
ډېـــــر هنرونـــــه د سرداری دي چـې واړه تېـر شي تېـغ مـبرهن ښـه دی
(خټک، ۱۹۶۰ز، اش).

کـه ګـذر پـه خيرابـاد و کـړې نسـيمه يا دې ګشت وشي د سرای د سيند په سيمه

پــه بــار بــار زمــا ســلام ورتــه عرضــه کــړه
ور سره زمــا لــه لوریــه ځــو تســلیمه

آب ســیند و تــه نــارې وکــړه پــه زوره
و لنــډي تــه وینــا و وایــه حلیمــه

گوندې وي چې بیامې ستاسې جام نصیب شي
پــه گنگــا جمنــا بــه نــه وو تــر قدیمــه

کــه د هنــد لــه هــوا زار کــړم ځــو بــه زار کــړم
د اوبــو بــلا یــې لا بــده عظیمــه

کــه د نهــر اوبــه ځښــې کــولمې پرېبــاسي
هــم د هېــڅ کــوهي اوبــه نــه دي بـې بیمــه

چــې ســړې اوبــه د سرای نشته پــه هنــد کــې
تــرې توبــه کــه واړه ډک دي لــه نعیمــه

همېشــه بــه پــه هنــد نــه اوســې خوشــحاله
عاقبــت بــه عــاصي ووځــي لــه جحیمــه

(خټک، ۱۳۹۷ل، ۶۰۸ او ۶۰۹).

۶۰. د پیرۍ یاد په تکرار سره په خپلو څلوریزو کې راوړي.

وخــت د پــیرۍ راغــی ځــواني مــې لاړه
پــه کــام مــې شــوه پــیري پــه غــاړه

دا هــم پــوهېږم چــې قــدر نــه لــري
کــه خانــدې خانــده کــه ژاړې ژاړه

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۱۰).

۶۱. د ښځې د نکاح پر وخت د ښځې د پاکلمنۍ خبره په تکرار کوي، همدا ډول د ښځې د ځانگړنو په تړاو ډېرې مشورې په خپلو شعرونو کې راوړي.

ښــځه کــه هــر ځــو پــه مــخ زېبــا ده
پــه هــر هــنر کــې پســندلې دا ده

ظــاهر یــې مــه گــوره بــاطن یــې گــوره
هالــه یــې ســتایه کــه دا پارســا ده

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۲۳).

۶۲. د محبوب زړه له تیږې سره تشبیه کول د خوشحال خان په شعرونو کې په تکرار لیدل کېږي.

پــه رنــگ رنگینــه یــې پــه مــخ نسرینه یــې
پــه لــب شــیرینه یــې پــه تــن ســیمینه یــې

درســته گلــزار یــې تــر سر تــر پایــه
عیــب دې دا دی پــه زړه ســنگینه یــې

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۳۵).

۶۳. زوی ته پند ورکول: د اولاد د روزنې په باره کې یې ډېر شعرونه ویلي دي چې پوره د پاملرنې وړ دي.

پــلار د خپــل زویــه پــه کــار ډېــر ویــاړي
پــه هــره چــار یــې بهــتري غــواړي

چې خــوی یــې بــد شي نصیحت نــه مني
د ده لـــه خویـــه پـــه اوښـــکو ژاړي

(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۳۵).

۶۴. فولکلوریک توکي راوړل: د خوشحال خان خټک د شعر ژبه خپل ولس ته ډېره نـژدې ده او کوښښ یـې کړی دی چې د خپل ولس ژبه له عادي حالت څخه هنري پلو ته واړوي او په دغه برخه کې نوموړی ډېر زیات برلاسی دی. (په خوارو اختر راتلل او وروستیه عقله چې ته ړومبی وې) زموږ د عامې ژبې گړنې دي چې په ټوله شاعرۍ کې یې په ډېره کچه پیدا کېږي.

چې پاځم درومم په لار دلبر راشي
یا ښه چې بیامومم یا ښه دلبر راشي
هومره د ښکلیو په دیدن خوښ یم
لکه په خوارو باندې اختر راشي
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۴۷ او ۷۴۸).

دریغه وړومبیه عمره وروستی وې
دریغه وروستیه عقله وړومبی وې
هغه بیا نه راځي په دا هیڅ کار نشي
په دا به پوه شې که ښه سړی وې
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۶۳).

۶۵. د مرغانو اواز راوړل: خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کې د مرغانو غږونه په پښتو شعرونو کې راوړي دي.

په نظام پور کې په سو سو سو
قمری ناري وهي چې کو کو کو
تل به د خوړې په بڼ کې نه وو
وايي دا هسې چې څو څو څو
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۷۰۲).

۶۶. حماسي شعرونه لیکل

څو وا نه خلې له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه ارام
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۱۴)

## ۳. ۳. ۱. ۱. ۲. خوشحال خان خټک د شعر ژبنی سبکي ځانګړنې

۱. د کلمو ماتول: خوشحال خان خټک د خپل فکر دبیان لپاره د نظم د تړون د اړتیا پر وخت د کلمې جوړښت کې لاسوهنه کوي او لیکدودیز قانون ته پاملرنه نه کوي. په لاندې بیت کې د (رکابونه) د کلمې (الف) پر (ي) بدلوي.

ما وې زه به د مغل په نوکری کې
رکیبونه کړم د سرو د سپینو نال
په ناحق یې زنځیرونه را په پښو کړل
واه واه هسې نوازش هسې آمال
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۲۳).

په لاندې بیتونو کې د قاپې د برابرې لپاره (سمو). کلمه په (سمونه). اړوي.

خبر مه شې د فلک په ستمونه
په خاطر کې لرم څو رنګه غمونه
څه یوازې ننګ په ما نه دی راغلی
پښتانه ډېر دي په غرونه په سمونه
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۳۰).

کله د قافیوي سمون لپاره له کلمې څخه یوه توری کموي، لندې بیت کې د (څلورو) پر ځای (څلور) لیکي. لکه:

چې گلرنګه معشوقه لري په کور کې		د صحرا سیل دې و سېځي په اور کې
په هر ځای چې درندانو مجالس وي		تر قیامته به یادېږي په ځلور کې
(ختټک، ۱۳۹۷ل، ۷۷۶).

۲. ښځینه ته د سړی کلمه کارول، لکه په لاندې بیت کې:

سر تر پایه اراسته شي په څو رنګه		په لیدلو ښاپېرۍ ده نه سړی
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ٦۴٦).

۳. نارینه مرستیال کړ (دی) د ښځینه صیغې لپاره کارول: په لاندې بیتونو کې (مانې او نمړۍ) ښځینه کلمې دي چې د (ده) ښځینه مرستیال پر ځای (دی) نرینه مرستیال کړ یې ور ته کارولی دی.

د هغه یاري په نه یاري شمارلې		چې یې نن له تا خندا ګانده مانې دی
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ۸۷).

ګوره بیا دې څه په زړه کوم مې ګناه دئ		چې دیدن لره دې در شم ځان اوده کړې
(رفیع: ۷۵۷).

هر یو بیت یې د حلوا خوږه نمړی دی		که مشتاق یې د خوشحال ویل مزه کړه
(ختټک، ۱۳۹۷ل، ۵۵۳).

۴. تنګسه، تنګڅه لیکل

یار هغه چې د تنګڅې په وخت په کار شي		چې دعوې کا د یارۍ حال یې زده کړه
(ختټک، ۱۳۹۷ل، ۵۵۲).

۵. کلمې په خپله وضعي مانا کې کارول: د روښانیانو په سبک کې ځینې کلمې په سیمبولیک ډول دویمه مانا ښندي خو خوشحال خان خټک بیا دغسې کلمې ډېرې په خپله وضعي مانا په مجازي مینه کې کاروي.

که ته خوله و ما ته نه راکړې ملکۍ		بلې هم راته نومړې ده خولګۍ
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ٦۳۹).

خوله او خولګۍ په تصوف کې ځانګړې ماناوې لري.

٦. خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کې د فکر د څرګندولو د ستونزو پر وخت عربي، ترکي، فارسي او هندي کلمې کارولې دي. دغه کارونې د قافیوي، دیني، وزن، دود شویو کلمو، ځانګړو مواردو ته د اشارې، علمي ګړنې، د پښتو کلمې د بشپړ مفهوم د نه افادې او داسې نورو غرضونو له مخې شوې دي.

**الف**. قافیه

زمـــا توبـــه ده لـــه نـــادان يـــاره — چـــې يـــې يـــاري ده ميرځـــي تيـــاره
دی بـه دې ښـه غـواړي تـا تـه بـه بـد شي — غـــم بـــه پيـــدا شي د ده لـــه پيـــاره

**ب**. ديني مفهوم

حقيقي سجده هغه ده چې د يار په لور يې کړې — و کعبې ته چې سجده شي دا سجود دی مجازي

**ج**. وزن

پـه ارمـان د هغـه وخـت يـم ولـې دربېغـه — که د زنې سـېب يـې بيـا زمـا پـه خولـه شي

**د**. په پښتو ژبه کې دود شوې کلمې، لکه په لاندې بيت کې (توفيق، اتفاق او دوباره) کلمې:

کـــه توفيـــق د اتفـــاق پښـــتانه مـــومي — زوړ خوشحال بـه دوبـاره شي پـه دا ځـوان

**هـ**. خاص موارد( الکاسب حبيب الله)

په هر کسب کې چې يې حبيـب الله يـې — کـه لـه خدايـه لـه رسـوله نـه اگـاه يـې

**و**. علمي ګړنه، لکه په لاندې بيت کې(منطق، معاني، فتوی او قاضي) کلمې:

دعوی کا د شيخۍ لـه شيطانه لا بـتر دی — منطق معاني لولي درس فتوی قاضي ګـري کـا

**ز**. د پښتو کلمې د بشپړ مفهوم د نه افادې پر وخت، لکه په لاندې بيت کې (ساقي، مې او سرشار) کلمې:

سـاقي راشـه ډکـې پيـالې راکـړه — چـې د ميـو پـه مستۍ کـې شـم سرشـار
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۱۷ ــ ۵۲۰).

۷. د خوشحال خان خټک په شعرونو کې نيولوګېزم: د نوموړي د شعرونو يـوه ځانګړنـه نيولـوګېزم هـم دی چـې دلته يې څو بېلګې راوړم، لکه له (تېز) څخه (تېزل)، له (به) څخه (بهول)، له (پسند) څخه (پسندل) جوړول:

هر چې شهسواران دي واړو تېزلي وړاندې — زه د دوی په منډه وايم ځم ورپسې درومم
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۲۳).
زه دا هسـې ګـچ و ګـول ناديـده نـه يـم — چـې لالـه بـه بهـوم سـتا تـر جمالـه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۵۹۱).

چې په ما به يې نظر په حقارت کړ　　　هغــو واړو پــه هــنر و پســندلم
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۳۴۲).

۸. د بېلابېلو لهجو کلمې کارول: خوشحال خان خټک په خپلو شعرونو کې د بېلابېلو ګړدودونو کلمې کاروي چې د ده په ګرځند شخصيت دلالت کوي.

**الف**. پېزه

کــه مــې بــې لــه تــا د نــورو يــاري وکــړه　　　را تــه ګــوره را څکــوم حــديث پــه پېــزه
(خټک، ۱۳۹۷ل، ۵۵۸).

**ب**. رايشه

بـــړ بـــړ رايشـــه نـــوروزه دل افـــروزه　　　ستا په وخت مې آسوده شي سترګې پوزه
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۲۷).

**ج**. نيمرېزی د سبا ناري په مانا کارول

سپينه خوله يې و ما ته راکړه ما وې موړ شوم　　　ويل يې خواره وريه دا خو نيمريځی دی
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۲۷).

**د**. دروېغ

چې دې ښه لـه خويـه بويـه خـبردار شـوم　　　له خوشـحال سره يـاري کـړې پـه دروېغـه
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۲۷).

**هـ**. لاړ شو د لاړ په مانا

د زړه زور د صورت توان را څخه لاړ شو　　　چـــې درانـــه د بېلتانـــه پيټـــي اخلـــم
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۲۸).

**و**.لاره، د لېرل پر ځای

زه د زړه بد خواه وم ما پرې وکړه پرهارونه　　　څـه لـره مـې دی د يـار غمـزو لـره لاره
(شينواری، ۱۳۹۷ل، ۵۲۸).

۹. د خوشحال دشعرونو ځينې کلمې چې تر ده پخوا نه دي کارېدلي او يا ډېرې کمې به کار شوې وي چې اوس د معاصرې ادبي پښتو د مانۍ داسې خښتې دي چې له منځه وړل يې تر زياته بريده پښتو فقيره او يا هم ړنګوي. يو څو بېلګې يې راوړم:

**الف**. ښاغلی

مړه هغه چې نه يې نوم نه يې نښان شته    تل تر تله په خپل نوم پايي ښاغلي

**ب**. مېشته

ته مې پاس د زړه په سر باندې مېشته يې    نورې واړه په يوه سر بل سر نشينې

**ج**. بلوسېدل

چې په خوږو زړونو بلوسي سزا مومي    ښه چې خوار شو په دنيا غماز زما

**د**. غندل

چې و يار و ته مې تل غندې رقيبه    څه په دا به د يار مهر له ما کم کړې

**هـ**. هوډ

هغه ملا مې چې په هوډ سره لوی غر وه    په ناکام کړه و مغل ته خمه ما

**و**. وسله او درسته

تورې زغرې که ليندۍ وي که درستې وي    په وسلو سره معمور شو هر کدام
(تری، ۱۳۹۷ل، ۵۴۱ او ۵۴۲).

۱۰. زور او زېر د عربي د ليکدود له مخې کاروي د ( ـه او ي ) په بڼه يې نه راوړي.

د خوبا له بې نيازيه سل اوخَ    چې زما له کاره تښتي په فرسخَ
(ختک، ۱۹۶۰ز، ۵٦).

زما کومه انديښنه ده که ما پرېبردِ    ته به نوم د بې وفا په خپسر کېبردِ
( ختک، ۱۹۶۰ز، ٦۴).

۱۱. (زما ) مفرد خپلواک نومځرى (دما) په بڼه ليکي:

يو قرين هسې پيدا نشو را څخه    چې دما په زړه يې نه کړه منګل ښخه
(ختک، ۱۹۶۰ز، ۵۷).

۱۲. ګړنې راوړل

ته سړی یې که ځاروی یې رنګ دې ورک شه
د بهـار پـه سرو ګلونـو بانـدې پښـې ږدې
(ختک، ۱۹۶۰ز، ٦۴).

چې دا هسې وروځې غوټه کړې خبرې
بـدخواهان بـه زړه را یـخ کـا شـېوه ګـرې
(ختک، ۱۹۶۰ز، ۷۹).

۱۳. (راتلل) د (راغلو) په بڼه لیکل

سـتا د راغلـو منـت ډېـر لـرم نسـیمه
چــې ګلونــه غــوړوې زمــا پــه ســیم
(ختک، ۱۹۶۰ز، ۱۹۹).

۱۴. کړیزه (ځ) د (ز) په بڼه راوړل

درتــــه بـــــه وایــــم دا دوه رمــــوزه
کـه پـوه پـرې نـه شـوې لېمـه دې ووزه
څـو چې د خپـل وې خپـل بـه د بـل وې
تــر ســیال بــه نــه وړې خــبره کــوزه
(ختک، ۱۹۶۰ز، ٦۷٦).

۱۵. د صوت نوم

خـوټ خـوټ د دېـګ دی سرود د وږي
غـــږ د اوبـــو دی ژونـــدون د تـــږي
چې یـې کـش کـش شي پرتـوګ وکـاږي
هغــه اواز دی چـــې زړونـــه کـــوږي
(ختک، ۱۹۶۰ز، ۷۵۹او ۷٦۰).

۱٦. عامیانه ژبه کارول: د خمچو نغن (د تبې د باجرې ډوډۍ)

د خپلـــې خـــونې نغـــن د خمچـــو
نـــه چـــې غنمینـــه د بـــل دکوچـــو
نــه اور د خپــل نغــري د لنــدو پچــو
نـــه اور د بـــل نغـــري د دړو وچـــو
(ختک، ۱۹۶۰ز، ۷۰۱).

۱۷. هندکو

لـــه زاغـــه زده کـــړه دا دوه درې توکـــه
یـو چـې رزق نـه ږدي ګانـده تـه روکـه
بـل چـې دخـول کـا مخفـي لـه خلکـو
بـل چـې پـه تـرا وي لـه واړه لوکـه
(ختک، ۱۹۶۰ز، ٦۷۹).

۱۸. د جمع جمع تړل: لاندې بیت کې (آثار) د (اثر) جمع بڼه ده چې خوشحال خان ختک د (ونه) پـه راوړو د جمع جمع تړلې ده:

هغـه مـې سـترګې دي چـې بـه ښـکارونه　غرځــه بـــه مـــا لیـــدل پـــه کوهســـارونه
اوس چې بـاز واچـوم غوټـه یـې نـه ویـنم　آه د پــــــــیرۍ دي دا آثارونـــــــــــه
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۶۹۶).

۱۹. نا دودیزه جمع تړل

آه دا هـــــــومره آهونـــــــه　دم پـــه دم بیـــا ګناهونـــه
هـــم هغـــه پکـــې پرېـــوځي　چـې کنـي چـا تـه چاهونـه
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۲۱۲).

۲۰. هی هی

هی هی توبه له تانه ستا له خویه بویه تښـی　زما خاطر دې وریت کړ لکه سیخ په لمبو یښی
(خټک، ۱۹۶۰ز، ۴۸۹).

**۳. ۳. ۱. ۱. ۳. د خوشحال خان خټک په شعر کې بلاغي توکي**

د بلاغي علومو په تړاو خوشحال خان خټک زما د څېړنې له مخې د تشبیه یو ډول هـم نـه دی پـرې ایښـی، د وخت پر سیمه‌ییزو ژبو سربېره د عربي ژبې څېړل شوې ټولې تشبیه ګانې یې په شـعرونو کـې شـته. همـدا ډول د بدیعي جوړښتونو ډېری سختې برخې یې په خپلـو شـعرونو کـې راوړې دي. د اسـتعارې، قـراردادي سـیمبولونو، مرسل مجاز او کنایې ډېری برخه یې په خپلو شعرونو کې پاللې ده. کوښښ یې کړی دی چې د معاني برخه هـم ښه و پالي، ډېر کم داسې بیت به وي چې د فصاحت ښکلا به نه لري چې هغه هم په شمېر کې نه راځـي، د وزن له مخې هم لنډ بحر کاروي او هم د پښتو دودیز بحرونه چې دولس څپیز دي په خپل شعر کې ډېر پـالي، د دوو بحرونو دعوه کوي خو دا څرګنده نه ده چې دا هماغه عربي کوم دوه بحره دي که نـه د پښـتو خپـل وزن دی. دا سې څه اوس زموږ په لاس کې نشته چې دغه تیاره ګوټ یې روښانه کړی وي. د عربي او فارسي ژبې ټـول هغـه منظوم څېلونه یې پاللي دي چې د نوموړی په پېر کې دود وو.

د څېړنوال حبیب الله رفیع په تدوین کړي دیوان کې یې یوه غزل داسې ده چې په مطلع کـې یـې درې مسـرې راغلې دي او بیا په مقطع کې د هماغو درو مسرو څخه یې یوه بیا تکرار راغلې ده چې له دغه کاره به د خوشحال خان څه نوی فورم موخه وه او که همداسې راغلې ده. دلته به زه ځیني بېلګې راوړم چې په بلاغي علومـو پـورې تړاو لري:

**۳. ۳. ۱. ۱. ۳. ۱. بدیع**

۱. تعلی راوړل

سـل سـړبني دې تـر دا یـو غـزل څـاربېره　نن چې دا پښتو ده کرلاني خوشحال ویلې

(ختټک، ۱۹٦٠ز، ۴٦۸).

۲. سختو بدیعي صنعتونو ته پام کول، لکه وصل ادبي صنعت چې د کلام ټول توري سره نښلي:

ښېښېشپېشـــــــــــــــــیځنېپېښِ　　غېګېَغېګشیشـــــــــــــــفتځېښِ
ځښیځښیخښیښیښېتشـــــــــــــــــېږِ　　ننَښیخښنېښـــــــــــــــــــېښِ
چینچینځښېځیپَشـــــــــــــــــین　　بتېځشـــــــــــــــــتیفتنېپېښِ
شیپَچینتشپېښـــــــــــــــــتنې　　چینچینځښېپښـــــــــــــــتنېښِ
هسېځیپَشینشـــــــــــــــــین　　نخښېنخښېختېپښـــــــــــــــېښِ

لاندې هر کلمه په اوسني لیکدود او په جدا ډول لیکو:

ښـــې ښـــې شـــپې شي ځنـــې پـــېښِ　　غېـــږ پَ غېـــږ شي شـــفت زبـــېښِ
ځښـــي ځښـــي خښـــي ښیښـــې تشـــېږِ　　نـــــن بَ شي بخښـــــني ښـــــې ښِ
چـــین چـــین ځښـــې ځـــي پَ شـــین　　بتـــــې زشـــــتې فتنـــــې پـــــېښِ
شي پَ چـــــین تشـــــې پښـــــتنې　　چـــین چـــین ځښـــې پښـــتنې ښِ
هســـــې ځـــــي پَ شـــــین شـــــین　　نخښـــې نخښـــې ختـــې پښـــې ښِ
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ٦۲۳).

۳. د ابجدو (معمی) په مرسته د پېښو تاریخ بیانول: د مغل د بند پر وخت شعر

زمـانې لــه ښــو یــارانو نــه مهجـور کــړم　　ځـه بـلا یـې مبتلا پـه ډېـر دسـتور کـړم
عجـب مـار مـې جـاروتلی تـر دوو پښـو دی　　مګر لوی پاړو پیدا شي چې یې دور کړم
یو دوه سری مار مې پروت په دواړو پښو دی　　پـه دیـدن یـې لـه نشـاطه نـه نفـور کـړم
دا بیـــان مـــې د غفـــد پـــه کـــال ویلـــی　　په شعبان چې د لاهور په سیند عبور کړم
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ۲۷).

د غـــــواص د کـــــال وبـــــا　　خـــدای یـــې مـــه راولـــه بیـــا
اکوړخېـل مـــې پکـــې ومـړل　　لـــوی هلـــک مـــرد و نســـا
بخت ناک خـان مې پکې ومړ　　مـــر یـــې هـــم بوتـــه قضـــا
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ۵۰ او ۵۱).

۴. انځورګري

تـه بـه وایـې د نمـرود د اور لمبـې دي　　سره لالـه چې پـه چمـن کې انتشـار شي
سپینې توري یې ګلګونې کـړې پـه وینـو　　پـه آهـاړ کـې شـګفته شـو لالـه زار

(ختټک، ۱۹۸۹ز، ۱۸۱).

۵. غبرېز انځور

په بارخو باندې يې خرپ دی د غاښونو
دا چيچل مې د عاشقِ نو آموز دي
(ختټک، ۱۳۹۷ل، ۸٦۱).

٦. مکالمې راوړل: د شپې او ورځې

شپې و وې چې ای ورځې زما فضل تر تا زيات دی
په دا سبب چې زه يم په ازل تر تا قدمه
چې ورځې مې له شپې نه دا د مدحې ويل غوږ کړه
په ورو يې ورته و وې چې خوله پټه کړه له ضمه
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ٦۸ او ٦۹).

کدو مې د چنار په ونه وخوت
و چنار ته يې اغاز کړ دا مقال
چې ته د څو کالونو يې چناره
راته و وايه خپل عمر خپل احوال
چنار و وې چې د دوه سوه کالو زه يم
په حساب کې گوندې کم وی يو نيم کال
کدو و وې های خو ته به مدت لوی شوې
دايم زه در سره سم شوم دم درحال
چنار و وې چې وخت سخت د څله راشي
زه او ته به سره زده کړو هاله حال
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ۷۲۵).

۷. تاريخ گويي

چې موسم مې د گلونو د گلزار شي
نرم نرم ترشح په مرغزار شي
زر اته پنځوس کالونه د هجرت وو
د نوروز په دولسم چې دا گفتار شي
(ختټک، ۱۹٦۰ز، ٦۱۵ او ٦۱٦).

**۲. ۳. ۱. ۱. ۳. ۲. وزن**

بندو بست د پښتو شعر ما پيدا کړ
گنه شعر د پښتو و غير سال
نه يې وزن نه تقطيع نه يې عروض و
دوه مصراع يې د خفيف بحر دو طال
دغزل نه يې مطلع نه يې مقطع وه
نه يې صفت نه يې تشبيه نه يې مثال
مگر زه يې چې گويا په شاعرۍ کړم
پښتانه يې پوهول ايزد تعال
(ختټک، ۲۰۰۱ز، ۹).

په وزن په مضمون به نزاکت هم په تشبېه کې
پښتو ويل مې عين تر پارسي دي رسولي
(ختک، ۲۰۰۱ز، ۱۳).

لکه غشي لره بويه تير انداز
هسې شعر لره بويه سحر ساز
همېشه د زړه په لاس تله د وزن
زيات و کم د وزن يو توری غماز
په تور اس د حقيقت ناوې سوره کا
په سپين مخ پلو نيولی د مجاز
د صنعت زېور په څو رنګه پرېوزي
د تشبېه چندڼ چووه باندې طراز
د تجنيس پايلې جوړې په پښو کړي
د ترصيع متن په غاړه اوږد، دراز
دمضمون د نزاکت غمزه ورځخه
سرتر پايه درست صورت سره يو راز
که په نظم کې کارګه او تېپوس راوړي
هم د زړونو په ښکار ګرځي لکه باز
چې يوه وينا يې وکړه هوښيار هغه
عاقلان به ويل کاندي په ايجاز
د پښتو ژبې يې ډېره خوبي وکړه
چې خوشحال کړ په پښتو شعر اغاز
(ختک ک، ۱۳۵۸ل، ۸۰او ۸۱).

په پورته نظم کې د ښه شعر لپاره وزن، حقيقت، مجاز، ادبي صنعتونه، تشبېه، تجنيس، ترصيع، د مضمون نزاکت، د ټول نظم د مسرو يو شان والی او د مانا تړون، د نظم اعجاز او د خبرو ايجاز هغه بنسټيز توکي دي چې د يوه ښه شعر ماڼۍ پرې ولاړه ده.

### ۳. ۳. ۱. ۱. ۴. جغرافيوي، طبي، ښکاري، ديني سبکي ځانګړنې

۱. جغرافيه وي مسايل راوړل: په دولس څپيزه مثنوي کې يې سوات نامه په نظم کړله.

په دوران د شاه جهان بادشاه ځواني وه
ميسره د زړه هره کامراني وه
سرای له سواته فاصله لري دېرش کروهه
چې ور کوز شې تر دريا د سوات تر کوهه
درې څيزونه مې د سوات د زړه په ياد وو
نور يې هر څه په حيات و ماته ياد وو
و شمال ته يې غر بلورستان دی
شرق کشمير غرب يې کابل او بدخشان دی
(ختک س، ۱۳۵۸ل، ۱ او ۳).

۲. د ښکار او مرغانو په تړاو مسايل: بازنامه يې په نظم کړه.

خدايه ته په زړه کې اچوې دا مينې
چې په ښکار دې مبتلا کړم ته مې وينې
(ختک، ۱۳۶۲ل، ١٤).

۳. طبي نظريې: په طب نامه کې يې د ځينو ناروغيو د درملنې لپاره ځينې درمل د يوناني طب پر بنسټ په نظم راوړي دی چې دلته يې يو نظم د بېلګې په بڼه راوړم:

| | |
|---|---|
| د مــــاهي کـــــه اســــتخواندی | پـه آتـش کـې يـې بريـان دی |
| پــه آتــش کـې يـې ميـده کـړه | بيـا يــې ښــه تــوره ايــره کـړه |
| د کنځلـــو تېـــل پيــــدا کـــړه | هغــه ايــره پکــې حلــوا کــړه |
| څـه خوپـورې پـه ناسـور کـړه | يــو څـو ورځـې دا ضرور کـړه |
| خـدای بـه روغ کـا سـتا ناسـور | دی شـــافي دی هـــم غفـــور |

(خټک، ۱۹۸۵ز، ۶۳ او ۶۴).

۴. فقهي مسايل: په دې ترڅ کې يې په لنډ بحر کې فضل نامه ترتيب کړې او په خورا ساده ډول يې د حنفي فقهې ټول مسايل پکې په نظم کړي دي. بېلګه يې لاندې راوړو:

**داوداسه فرضونه**

| | |
|---|---|
| داودس دي څلــــــــورځيزه | فريضـــــــه دې مـــــــاعزيزه |
| او ل ولهء دمخ چې کنج دی | بيالاســـــونه تـــــر ارنـــــج دی |
| ورپســــــــې مســــــــح دسرده | دپښــو ولنـــه پـــس دا چـــرده |
| کـه پـه داکـې څـه نقصـان شي | لمـونځ پـه تابانـدې تـاوان شي |

(خټک، ۲۰۰۱ز، ۸۲۷).

**۳. ۳. ۱. ۱. ۵. د خوشحال خان خټک سبکي ځانګړتياوې**

د خوشحال خان خټک سبکي ځانګړتياوې په نبنه کول ډېر ستونزمن کار دی، نوموړی په ادبي، ټولنيزو، دينـي، سياسي، ښکاريز، يوناني طب، ښکلا پېژندنه، پښتونولي، انسان پېژندنه او نورو ګڼو ټولنيزو چارو کې خپلې زده کړې او شخصي تجربې لري چې د دغو برخو په پراخه کچه مهارول د سبکي ځانګړنو تـر سرليـک لانـدې پـه بشپړه توګه راوړل ناشونی کار دی خو بيا هم ما يې يو څه ډېرې څرګندې سـبکي ځـانګړنې را برسـېره کـړې دي چې بشپړې يې نشم ګڼلای.

د ده بارز سبکي توکي په مجازي مينه کې له خپل محبوب څخه خپل ځان کم نه ګڼل، ځينې وخت پـه کـلام کې د ژبې عفت نه مراعاتول، په مجازي شعر کې ښځينه مخاطب کول او له امرد پرستۍ څخه ځان ساتل، ښځينه احساس بيانول، مينه او جنګ يا جلال او جمال په يو بيت کې سره غاړه کول، د ابجـدو پـر مـټ د پېښـو تـاريخ راوړل، خپله شجره او نېټې راوړل، پر ټولنيزو کارونو کې پر ځان، کورنۍ او د ټولنې پر نورو وګړو يو شـان نيوکـه کول، د خپل زړه خبره که څه هم د خپل ځان د کمزورۍ ښکارندويه يې هم وي پټه نـه سـاتل، پـه شـعر کـې د ځان ستاينه، له خپل پېر څخه پر مخکېنيو شاعرانو نقد کول، په جنګې ډګر کې د ځان سـتايل، پـه ترتيـب سره د حمد، نعت او منقبت راوړل، پښتنو ته د اتفاق بلنه ورکول، د محبوب عذر راوړل، د ټولنيزو مسـايلو پـه تـړاو نقـد

کول، د پښتو ژبې لپاره ارادي کارکول، د پښتني چاپېريال انځور کښنه، فولکلوريک مسايل راوړل، د ښځو په تړاو نظريې راوړل، د احمق ځانګړنې بيانول، له سيمه ايزو ژبو سره په سيالۍ شعر ويل، په شعر کې هر ډول شعر ته ځای ورکول، تاريخ ګويي، د ځلوريزو پر مټ پندونه ويل، علم ته بلنه، شکايتونه، د خپلواکۍ د ګټلو لپاره پښتانه جنګ ته را بلل، د اخلاقي شاعرۍ عمده توکي، د دښمن احسان نه هېرول، د محبوب د بدن د غړيو بشپړ يادول، د ښځينه‌وو حقونه پالل، قيافه پېژندنه، ټولنيزه سيکالوژي بيانول، د خپل ژوند د ارمانونو بيانول، په پوهنيزه کچه د قوميت احساس را پارول، پر پښتو ژبه احسان يادول، په نظمونو کې د نورو د کار ستاينه، د يو بااحساسه پښتون لپاره د زمري او باز سيمبول کارول، باز او زمری د مېړانې، کارغه او ټپوس د مردارخور ، ګيدړ د بې زړه، خر د احمق لپاره سيمبول کول، د اسلامي پښتونولۍ ايډيل ځانګړنې ( مينه، له فقر سره مبارزه، درويشي، غيرت، پت، زړورتيا، سخاوت، مړنتوب، او نور) ، پر دماغو زړه ته تر جيح ورکول،رومانتيکي فکر ته ترجيح ورکول، خپله عقيده له فلسفې نه قرباني کول، اخلاقي خودي، خپلواکي يا اختيار، فعليت يا توانيت، ښکلاييز خوند، تفريحي او رياليستيک فکر، حق ويل، حبسيات، هجوه، پښتني مثبت نشنلېزم، د ګډ قوميت فکر، تدبير ته پاملرنه، مغل د ظلم سيمبول کرځول، سياست او هېواد پالنه يې په ټوله کې سبکي ځانګړنې تشکيلوي.

په بلاغي علومو کې د شعر پر عروضي خوا نظر راوړل، نوې تشبيه ګانې، استعارې او کنايې راوړل، د بديع په تړاو سخت او پېچلي بديعي جوړښتونه راوړل او د شاعرۍ په ځېلونو کې د عربۍ او فارسي ټول ځېلونه پالل يې نورې سبکي ځانګړنې دي.

د ښکار، يوناني طبابت، جغرافيې او ديني مسايلو پلو يې نورې سبکي ځانګړنې ايجادوي او ور سره په ژبنۍ خوا کې د وزن لپاره د کلمو په جوړښت کې لاسوهنه، د ښځينه وو لپاره د (دی) نرينه مرستيال کې راوړل، د اړتيا له مخې د پښتو له بېلابېلو ګړدودونو څخه کلمې راوړل، همدا ډول د اړتيا له مخې يې په شعر کې هندي، فارسي او عربي کلمې يوه بله سبکي ځانګړنه را منځته کوي.

### ۳،۳. ۱. ۲. اشرف خان هجري

اشرف خان هجري د خوشحال خان مشر زوی دی، که څه هم تر ده مشر ورور يې (اکبر خان) و خو په ورکوټوالي کې مړشوی دی نو د خوشحال د عمر ترپايه په ژونديو زامنو کې يې نوموړی تر ټولو مشر دی. په (۱۰۴۴هـ) کې زېږېدليدی او پر (۱۱۰۶هـ) کال د بند پر مهال وفات شوی دی. نوموړی په شعر کې خپل تخلص ( خټک، روهي، هجري او په يوه نيم ځای کې يې اکرم) راوړی دی. هجري يو ديوان لری چې غزلې، بوللې، ځلوريزې او پارکي يې پکې راوړي دي. د شعرونو ټول بيتونه يې ځلورنيم زرو ته رسېږي.(زېور،۱۳۸۶ل،۱۸۳او۱۸۴).

### ۳. ۳. ۱. ۲. ۱. اشرف خان هجري د شعر ځانګړنې

اشرف خان هجري د خوشحال خان خټک په کورنۍ کې لومړی کس دی چې په ادب کې يې د خپل پلار ادبي او فرهنګي لار پاللې ده او ځينې کره کتونکي په دې باور دي چې د عمر تر پايه يې په پښتو ادب کې د يو

لاربنود حیثیت لاره. نوموړی په ټوله کې نه، بلکې د خوشحال بابا د ادبي ښوونځي په یو اړخ کې ځان راڅرګند کړی دی. دی یو سیېځلی ښکلاییز ادراک لري او د دغه ښکلاییزي کتنې پر څرګندولو پوره برلاسی ښکاري. ښځینه ښکلا ستاینې سره یې پوره مینه لرله چې پر همدې مټ د ښځینه پسولنو ذکر یې په شعرونو کې ډېر را څرګندېږي. د رنګونو او له رنګ سره د مینې پر بنسټ یې له ښکلا سره د تړاو پته ښه لګېږي.

هجري د خوشحال خان خټک د تغزل برخه ښه پاللې ده او غزل یې نازکخیالی له مخې ښه پاللی دی. موضوع یې د هجران دردونه، له هېواد سره مینه، حسیات، مجازی مینې تاو او د ژوند د ناثباتیو ذکر دی چې همدې لامل هجری ته انفرادیت ورکړی دی. د هرې غزلې په پای کې د دکن او بیجاپور د مسافرۍ د تکلیفونو ذکر کوي. له هېواد او د هېواد له کانو بوټو سره د هجري مینه یوه بله ځانګړنه ده. هجري په خپل شعر کې د ادبي او ټولنیزې کرکتنې اصل پاللی دی. (خټک، ۱۹۸۹ز، ۲۱۱ ــ ۲۱۴).

د هجري د شعر څو بېلګې چې نوموړې ځانګړني ترې څرګندېږي:

همېشه د یار په مخ پسې رنځور یم
د هجران په اور یې تود لکه تنور یک
تش صورت مې تقدیر بند که په دکن کې
تل د زړه په یادو یار و ته حضور یم
زه په هومره ژبه ژاړم له هجرانه
چې امام د نای و چنګ و د تنبور یم
عشق هزار خفته بلا کړې را خبرې
صد رحمت مې په همت چې لا مسرور یم
زخمي زړه لره مرهم د وصال بویه
جدایۍ غوڅ کړی پروت په بېجاپور یم
د وصال په امید هر ساعت تازه شم
که هر څو له یاره لرې په ضرور یم
نېک و بد مې د تهمت په کانو ولي
زه هجري د اوسني دور منصور یم
(بهاند، ۱۳۶۴ل،، ٦٦ او ٦٧).

د بهار په ګلو سیر چې مسته شاه کا
نوی داغ به د مین په ځیګر بیا کا
عاشقان یې همېشه لري زخمونه
ناوکي بانه یې ګوره تل وغا کا
توري سترګې یې عادت لري د ترکو
په کاته مې د زړه کور همه تالا کا
ملغلرې یې په لعلو کې مخزون دی
شهریار به هسې ګنج کله پیدا کا
(بهاند، ۱۳٦۴ل، ۴).

زېور

چې اوربل د مخ د پاسه لکه سپر کا
د سرو ګل یې خاصیت همه د نمر کا
د یاقوت مثل یې سکور نته آتش ده
سور بلاق د څنګه جوړ لکه شرر کا
چمکلی یې څکه سره د یار په وینو
چې خلش ته یې هر دان لکه نشتر کا
(هجري، ۲۰۰۱ز، ۴۸).

په چارګل یې ملک همه زېر و زلر که لا به څه شي چې په غاړه همه پسول کا
(بهاند، ۱۳٦۴ل، ۱۸).

هغه ورځ د هجر غم لره سزا شوم چې له یاره په ژړا ژړا جدا شوم
ما هاله د ځان ماتم وکړ په وینو چې اټک و ته مې شا کړه په ژړا شوم
زه خټک د یار طلب کړم مونده نه شي له ناکامه یې له غم سره ملیا شوم
(بهاند، ۱۳٦۴ل، ٦۳ ـ ٦۵).

انتقاد

په خو قومه باور مه کوه ټګان دي قول و بول یې صادق نه دی کاذبان دي
قول وبول د پښتانه د اوبو ځګ دی ځنې لا په جرګه سپک تر کل افغان دي
(هجري، ۲۰۰۱ز، ۲۱۷).

اشرف خان هجري د خپل فکر شعري نیلی د نظم په غزل، بوللې، څلوریزو، قطعو او مخمسونو کې پاللی دی.

**۳. ۳. ۱. ۳. عبدالقادر خټک**

عبدالقادر خټک د خوشحال خان زوی دی چې د (۱۰٦۳هـ) کال د ذی الحجې پر (۲۵مه) چې له (۱٦۵۳ز) سره سمون خوري په اکوړه خټک کې زېږېدلی دی. د ده له خپل نوم عبدالقادر څخه د ابجدو په حساب د ده د پیدایښت کال را برسېره کېږي. د نوموړي له کلام څخه دا جوتېږي چې د خپل وخت دودیز علوم یې ټول لوستي او زده کړي دي، د علم په تړاو یې استاد خپل پلار دی. نوموړی د شعر او لیک تر څنګ د پلار په څېر د تورې ښښتن هم دی خو په شعرونو کې بیا د پلار په څېر یې د تورې خبرې ډېرې نه تر سترګو کېږي، د ګنبت په جګړه کې زخمي شوی هم دی خو د پلار تر وفات وروسته یې د تورې او جګړې ډګر پرېښی دی. له جګړې سره مینه یې د پلار لپاره وه ولې دی په طبیعت کې صوفي ډوله سړی و، په یو کونج کې ناستی، زهد او ریاضت یې په خپل ژوند کې د خوښې بوختیا وه چې پر (۱۱۲۴هـ) کال په نوښار کې ګوښه ناستی شه. د خپلې ګوښه کښېناستنې پر وخت وایي:

دوه شپېته کاله دې لاړ عمر په لهوه عبادت دې په عادت نېکي په سهوه

د نوموړي ګوښه کښېناستل د پوهې د خورولو په غرض وه او دغه پوهنیز درښت د ده له نثر، نظم او ژباړل شویو آثارو څخه څرګندېږي. (خټک ګ، ۱۹۸۹ز، ٦۱ـ ٦۳).

**۳. ۳. ۱. ۳. ۱. د عبدالقادر خټک د شعر ځانګړنې**

د شعر ځانګړنې يې د خوشحال خان خټک د سبک په چوکاټ کې را ټولې شوې دي، د نوموړي په نظمونو کې د جولې له مخې غزلې، بوللې، مثنوي، څلوريزې، ترکيب بند، ترجيح بند، مربع، مخمس او قطعې راوړې دي. په شعر کې يې څرګند او بنسټيز رنګ د تصوف او بيا په تصوف کې د وحدة الوجود د فلسفې ښکاري، که څه هم دی د نقشبنديې طريقې پر لار د شيخ سعدي رحماني لاهوري مأذون او ځای ناستی و او له دغې مخې يې نسب د مجدد الف ثاني سرهندي سره دی، له دغې وجهې دی بايد له وحدة الشهود سره ملګری وای خو د ده له شعرونو څخه دا څرګنديږي چې دی وحدة الوجود ته قايل دی، د دې تر څنګ مستانه مجازي مينه، پر پښتنو او ټولنه نيوکې، د خوشحال د غزلو پر ځمکه غزلې ويل، د کلمو غوراوی، د ښکلا ليد يې که مجازي دی او يا هم حقيقي دی ښه په بريالي توګه را څرګند کړی دی، عشقي مضمونونه هم ښه ډېر لري، د طبيعت منظرونه يې په بهاريه بوللو کې ښه ترا ښکاري، څلوريزې يې د ژوند او طبيعت له تبصرو ډکې دي، غزلې يې د خوشحال خان خټک په ځانګړنو ډکې دي او ډېری يې د خوشحال خان خټک د غزلو پر ځمکه ليکلې دي، يو غزل يې د خوشحال خان خټک پر ځمکه ليکلې چې نور پښتني شاعران يې پکې ننګولي دي، په غزل کې د عبدالقادر خټک انفراديت په تصوفي فلسفه او د فارسو د کلاسيکو تصوفي خيالونو څرګندول دي.(خټک،۱۹۸۹ز،۲۲۹او ۲۳۰).

پورته راوړل شوي هغه لاملونه دي چې عبدالقاردر خټک د خوشحال خان خټک په ادبي ښوونځي ور ګډوي:

وحدة الوجود

د وحدت درياب به وينې کښته پورته — خپل وجود به ور ښکاره لکه حباب شي
د ليدونيو په نظر کې تفاوت وي — او که نه وی جز جدا نه دی له کله
خفي شرک لکه جلي ور ته ښکاريږي — عارفان کله نظر په جز په کل کا

د خوشحال خان خټک غزل چې بيا عبدالقادر خټک پر نور شاعران ننګولی دي:

خوشحال

لکه زه په يار مين يم بل به نه وي مين هسې — لکه زه پسې غمجن يم بل به نه وي غمجن هسې
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۲۳۲).

عبدالقادر

لکه زه په يار مفتون يم بل به نه وي مفتون هسې — لکه زه پسې محزون يم بل به نه وي محزون هسې
دا غزل په پښتو ژبه چې بيان عبدالقادر کړ — دروغژن يم که بې خانه وايي بل يو پښتون هسې
(خټک ګ، ۲۰۰۲ز، ۲۱۲).

صدر خان خټک

ستا جواب عبدالقادرهپه دا رنگ صدر خوشحال کړ ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ څو بې خانه زه ویل کړم بل به نه کا پښتون هسې
(ختک، ۱۹۸۹ز، ۲۳۷).

معزالله مومند

معزالله دې جواب وکړ په پښتو عبـدالقادره ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ اوس ثاني د ستا پیدا شه په دا دور پښتون هسې
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۲۳۷).

محمدی صاحبزاده

ومړ ستا په بېلتانه کې د دیدن به ارمان گوره ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ محمدي غوندې لا بویه چې پیدا شه پښتون هسې
(ختک، ۱۹۸۹ز، ۲۳۷).

اشرف خان

چې تا وې عبدالقادره کوم پښتون به بې خوشحاله ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ دا شان وایي اشرف و وې خدای پیدا کړ پښتون هسې
(ختک، ۱۹۸۹ز، ۲۳۷).

عثمان

چې قلم مې به سیاهی شه په کاغذ بانـدې رهـي شـه ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ په عثمان دې آفرین وي چې پیدا شه پښتون هسې
(ختک، ۱۹۸۹ز، ۲۳۷).

غفور

که منصف عبدالقادر شي د غفـور پـه قـال نـاظر شي ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ امید دی چې پرې شاکر شي هر یو حرف دی موزون هسې
(رضا، ۱۹۷۸ز، ۱۶۰).

عبدل

ستا جواب عبدالقادره په ښه شـان دی صـدر کـړی ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ هم عبدل دې جواب وکړ چې پیدا شه پښتون هسې
(ختک، ۱۹۸۹ز، ۲۳۸).

د خوشحال پر ځمکه شعر یې

مـــخ لکـــه افتـــاب و خپـــل مـــین تـــه ځلـــوه ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ زړونـــه د غـــمازو لکـــه مـــوم پـــرې ویلـــوه
دا غـــزل ځـــواب د خـــان د هغـــه غـــزل کـــړی ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ ((خـدای لـه خپـل یـار نـه هـیڅ یـار مـه بېلـوه)).
پرېږده چې پتنگ غوندې پر وسوزي ځان خلاص کـا ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ چـــراغ د مـــخ ښـــکاره عبـــدالقادر تـــه بلـــوه
(ختک، ۱۹٦٦ز، ۱۴۳ او ۱۴۴).

رومانیت

چـــې مـــین پـــه پـــري وشـــې جانانـــه یـــم ‌‌ ‌‌ ‌‌ ‌‌ ځکـــه سر لکـــه مجنـــون پـــه ویرانـــه یـــم

نه خپلوی له چا کوم نه مې څوک خپل دي — په عالم کې له عالمه بېگانه یم
خرابات دې خدای ودان لري تر ډېره — په ویل د ده له فیضه رندانه یم
بې له نای کله اواز خېژي له نیه — واړه عشق یې ویوي زه بهانه یم
په ژوندون عبدالقادره چې کور وران کا — ډېر په دا خصلت مین د دېوانه یم
(ختک، ۱۹۶۶ز، ۱۰۱).

طبیعت

شگفته په باغ و راغ شول د بهار گل — هم په بام هم په کوڅه هم په دېوار گل
نه یوازې گل د گلو بوټي و نیو — بادام گل شفتالو گل و نیو انار گل
(ختک، ۱۹۶۶ز، ۲۴۲).

پر پښتنو نیوکه

پښتانه کوتاه اندېش دي — سود غلیم ته زیان د خوېش دي
ملکان یې ادم کش دی — کافر کېش دي چې دروېش دي
پیر مرشد یې جهالت دی — نه به دین دي نه په کېش دي
(ختک، ۱۹۶۶ز، ۱۴۹).

یار ته کمه نه ویل

ته ور درومه او خپل ځان لره خپل کار کړه — چې دې زړه باندې ښه کېږي هغه یار کړه
(ختک، ۲۰۰۲ز، ۱۲۶).

رندانه

ساقي هسې پیاله راکړه رندانه — چې په څښل یې لایعقل شم دیوانه
(ختک، ۲۰۰۲ز، ۱۳۲).
د ښیښې قلقل سرود دی د مستانو — مستغني له دف او چنگه دی له نایه
(ختک، ۲۰۰۲ز، ۱۳۳).
مخ لکه افتاب و خپل مین ته ځلوه — زړونه د غمازو لکه موم پرې ویلوه
زور د غاښو مه کړه مخ یې صاف تر آینې دی — زخم به پرې وشي په ورو ورو یې کښلوه
دا غزل ځواب دې خان د هغه غزل کېږي — (( خدای له خپله یاره نه هیڅ یار مه بېلوه))
(ختک، ۲۰۰۲ز، ۱۳۴).

د جذباتو څرگند اظهار

په چرگ بانگ محل یې داد د بوسې وکړ — مړنی پشکار تل په سحر اوري
(ختک، ۲۰۰۲ز، ۱۸۴).

خوشحال

په درست جهان به نه وي يو زما غونـدې رسـوا بـل ورځم توره وکښلی چې مین واورم په تا بل
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۴۲۶).

عبدالقادر

واوره بلـــه نشـــته دا وينـــا واوره څرګنـــده یا به یې خوله کښل کړم یا به وینې کړم پرې تویې
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۰۶).

ښځینه احساس

سـتا ده د بـل نـه ده زمـا خولـه عبـدالقادره ولې یې دا هسې د حـرص پـه څلـه ژویـې
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۰۶).

هـيڅ پـروا نـه کـړم لـه چـا عبـدالقادره په ښـکاره نـارې وهـم فلانـی مـې يـار دی
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۳۲).

خوشحال خان

چې کالي يـې پـاتې نشي مـرده شـوی تـه خدايه ورکړې و خوشـحال هسـې رحلـت
(خټک، ۲۰۰۱، ۵۶).

عبدالقادر خان

ربـه مـرګ د خاکسـارانو غونـدې راکـړې چې وارث ته مې سـپېرې ابـرې شي پـاتې
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۴۲).

د خوشحال خان غوندې د راتلل پر ځای راغلل راوړي:

ستا په راغله مې د خوږ خاطر صحت شي پـه خـالي راتلنـه هسـې بـې رحمـي کـړې
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۴۹).

خوشحال خان

پـه هـر څـه کـې ننـداره د هغـه مـخ کـړم چـې لـه ډېـرې پیـدایي نـا پدیـد شـه
(خټک، ۲۰۰۱ز، ۵۲۵).

عبدالقادر

پـه هـر څـه کـې ګـوره يـار عبـدالقادره که دې نشته شک ګمان په خپل یقین کې
(خټک، ۲۰۰۲ز، ۲۶۰).

### ۳. ۳. ۱. ۴. صدر خان خټک

صدر خان خټک د خوشحال خان خټک زوی دی، مور یې د ملوخان یوسفزي لور وه، د سرفراز خان خټک د څېرنې له مخې د نوموړي د زوکړې کـال (۱۰۶۵هــ) شـا او خـوا اټکـل شـوی دی. پـه شـعرونو کـې (صـدر خوشحال) د تخلص په بڼه راوړي.

صدر خان خټک په (۱۰۹۱هـ) کال د ډوډې په جنګ کې له خپل پلار سره ملګری و، په ځینو نورو جنګونـو کې یې هم برخه درلوده، په خپلو کورنیو جګړو کې یې ثابت دریځ نه لاره، کله به د بهرام پلـوي و او کلـه هـم د

افضل خان خټک پلوي و. په (۱۰۹۱هـ) کال د تیرې فوځدار و. په (تاریخ مرصع) کې د (۱۱۲۴هـ) تر پېښو وروسته د نوموړي نوم نه دی راغلی نو ځکه يې ژوند تر (۱۱۲۴هـ) پورې يقيني دی.

صدر خان خټک د ټولنيز شخصيت تر څنگ د فرهنگي شخصيت څښتن هم دی، نوموړي د پښتنو دوه مشهور رمانونه آدم خان درخانۍ پر (۱۱۱۸هـ) او دلی شهو يې پر (۱۱۱۰هـ) کال په پښتو خواږه نظم منظوم کړي دي، د دې تر څنگ يې د حضرت محمد (ص). معجزات، د حضرت علي جنگنامه او خسرو شيرين هم په پښتو ژبه په نظم کړي دي. ( هېواد مل، ۱۳۷۹ل، ۱۵۸ او ۱۵۹).

### ۳. ۳. ۱. ۴. ۱. صدر خان د شعر ځانگړنې

صدر خان خټک د خوشحال خان خټک د ادبي ښوونځي د فوکلوريکو داستانونو په برخه کې نامتو پلیونی دی. د خوشحال خان خټک له سپارښتنې چې د پښتو مشهور رومان (ادم خان درخانۍ) کيسه په نظم کړي، څرگندېږي چې صدر خټک په مثنوي ليکنه کې ښه وړتيا لرله. د ښې څرگندونې لپاره د صدر خان خټک د ادم درخانۍ د نظم د منظومولو لامل را اخلو چې د خوشحال خان خټک د ادبي ښوونځي د ځانگړنو څرکونه پکې په ښنه کولی شو:

زما پلار ځای يې جنت شه — په اولاد يې برکت شه
نېکو خلق و نېک گفتار و — نوراني علوي ديدار و
د هنر د علم کان و — عاليجاه عظيم الشان و
په علوم لکه نعمان و — په حکمت لکه لقمان و
متلا کا لعلي شېر و — هم يې علم هم شمشېر و
لاس يې ابر د بهار و — گهرريز هم آتش بار و
پښتوشعر ناموزون و — له شعري صفت بېرون و
نه حروف د قوافي دي — وړاندې وروسته تر روي دي
د هر يک مقام معلوم دی — په درست شعر کې منظوم دی
پښتانه پرې اگاه نه وو — رونده په دا لار نه وو
يا څه نور د شعر قانون دی — يا يې خيال باريک مضمون دی
له همه و بژ خبر وو — د جهالو په لار سر وو
ده درست شعر په قانون کړ — آراسته يې په فنون کړ
په دقيق شعر دقاق و — ور معلوم هغه اغزاق و
که غلو په دوه اقسام دی — يا دوه رنگه ايهام دی
تناسب دی که لزوم دی — که تشبيه په خپل خپل نوم دی
که مثيل دی که ترصيع — يا چې نور صنعت بديع

په همه واړو قایل و     په همه اشعار کامل و
ښایسته یې درست اشعار کړ     په مضمون یې استوار کړ
رونده شعر یې لار کړه     چار یې جوړه د اشعار کړه
تربیت یې ډېر زما کړ     هر تعلیم یې و ما راکړ
په تعلیم یې سخندان کړم     په ویل یې سخن ران کړم
چې یې درست په دا فنون کړم     په ویل یې نور ماذون کړم
یوه ورځ په اشتغال و     د اشعار په قیل و قال و
هغه دم له عاشقانو     له رښتینو صادقانو
مذکور پېش شه ناګهانه     ما عرض وکړ له زبانه
ډېر اشعار له هره بابه     کتابت شه بې حسابه
د عشاقو افغانانو     د ماضیو عاشقانو
کتاب بویه چې نګار شي     وروستو پاتو یو یادګارشي
ده وې ښه دي و وې زویه     یو کتاب په دا باب بویه
که د عمر څه وفا وي     له کاربار فرصت زما وي
له آدم له درخانۍ     بویه ښې سخن رانۍ
چې منظوم یوه نسخه شي     یادګار پاتو په ستنه شي
او که پاتو شي له ما نه     زه روان شم له جهانه
ته منظومه کړه بالجزم     دا قصه په ښکلي نظم
په جهان کې دا ګفتار دی     ای فرزنده چې یادګار دی
ښه کلام راحت د ځان دی     په معنی آب حیوان دی
نتیجه چې د خرد ده     ښه خبره د سند ده
که خبره وي معدومه     عیب هنر به و له کومه
که غزل که مثنوي ده     په خبره معنوي ده
په معنی کې معنی ځان دی     تن یې نطق د زبان دی
که دې پاتو فرزندان شي     بیا به ورک له دې جهان شي
که دې پاتو ښه کلام شي     ستا به تل پرې زنده نام شي
څو زړېږي لا ځانېږي     دی کلام که څوک پوهېږي
پس بایده ده چې دا وکړې     دا قصه منظومه ته کړې
چې یادګار پاتو له تا نه     تر قیامت شي د پلار ځانه
چې پدر مې سفر وکړو     له دنیا یې ګذر وکړو
په دا ذکر پیوسته وم     که ولاړ که نشسته وم

ځــو لا نــه و د خــدای حکــم زه عـــــاجز وم ضُـــــم بُکْـــــم
چې د خدای حکـم پـه مـا شـه نـور مـې درسـت عـزم پیـدا شـه
پــس د پــلار لــه مرگــه لالــه چـــې مـــرور شـــو هـــژده کالـــه
مـــــا آغــــــازه دا نامــــه کــــړه خرامانــــه مــــې خاصــــه کــــړه
اوس یــاري صــدر خوشــحاله غـــواړه تـــه لـــه ذوالجلالـــه
چـــې لــــه سره تــــر انجامــــه پــه ښــه رنــګ یــې کــا تمامــه
(خټک، ۱۹۸۹ز، ۲۴۰ ــ ۲۴۵).

په پورته مثنوي کې د خوشحال خان خټک د ادبي ښوونځي د شعر په تړاو د ټولو پوهنیزو باریکیو زده کړه په ارادي ډول را ښکاره کېږي، له دې مثنوي دا هم را څرګندېږي چې نوموړي د خپل ادبي ښوونځي د هر پلیـوني په ځانګړې توګه د خپلې کورنۍ د غړو پالنه د یوې مدرسې په بڼه کړې ده، د قافیو د تورو، همـدا ډول د شـعري تلازماتو د یادونې او بلاغي علومو د زده کړې سپارښتنه او تربیت په دغه برخه کې ښه دلیل کېدلای شي.

د خوشحال خان خټک د ادبي ښوونځي د منظوم داستاني ادب خوا صدر خان خټک او عبدالقادر خټک د (یوسف زلیخا، ۱۱۱۲هـ) په خوږو کیسو پسوللې ده.

دا چې د نوموړي دیوان زموږ په لاس کې نشته نو د شعري سبک په تړاو یې د علامه پوهاند عبدالحی حبیبـي نظر راوړم: (( صدر خان په شعر کې د خوشحال خان پر سبک ځي او د خپل پلار پیرو دی، کلام یـې د خټکـو کورنۍ په څېر خوږ او بې وله او سلیس ښکاري. (حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۱۵۱).

صدر خان خټک هم، لکه د خپل پلار او ورونو په څېر تفضیلي تشبېه او استعاره راوړي، لانـدې یـې بېلګـه راوړم:

ستا تـر لـب لعـل و ګـوهر هـېڅ ستا تـر زلفـو مشـک عنـبر هـېڅ
حجــاب واچــوه لــه مخــه آفتــاب محــوه کــړه قمــر هــېڅ
خریـدار چـې یـې بـې نیـاز وی د چشـــمانو در ګـــوهر هـــېڅ
چـــې د عشـــق بدرقـــه نـــه وي پـــه خونخـــاره لار ســـفر هـــېڅ
ســـتا تـــر قـــده تـــر قامتـــه صـــنوبر چنـــار عرعـــر هـــېڅ
ســـنګین زړه دې نـــرم نـــه شـــو پــــه ژړا زمــــا احقــــر هــــېڅ
د عشـــق یـــو ســـبق کـــافي دی نـــور د کـــل جهـــان دفـــتر هـــېڅ
ســـتا ګفتـــار صـــدر خوشـــحاله کـــان د کـــان کـــړه د شـــکر هـــېڅ
(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۱۵۳).

د پورته غزل په هر ترکیب کې مـوږ د خوشـحال د سـبک رنـګ محسوسـوو، (لعـل لـب، د عشـق بدرقـه، پـه خونخارو لارو سفر، سنګین زړه نه نرمېدل او د عشق سبق) ټول هغه تـوکي دي چـې د خوشـحال خـان پـه ادبي

سبک کې يې موندلی شو. همدا ډول د دلی او شهو په رومان کې يې مستانه منظر کښنه او انځور راوړنه د نوموړي د سبک اغېز ښندي:

چې بـه دا پـه لارې شـوه سـمه روانـه — شـوه بـه سروه سرنگـون زرکـه غلتانـه
په ښايست به يې د ځمکې مخ زېبا کړ — پـه ښـه بـوی بـه يـې نسيم واړه بويـا کـړ
پـه چشـمانو پـه لبـانو هسـې شـان وه — چـې هـم درد وه د وگـړي هـم درمـان وه
دواړه سـترگې يـې اسـتادې د جـادو وې — پـه وحشـت يـې شـاگردانې کـل آهـو وې
هـم يـې سـترگې جـادوگرې هـم بـلا وې — هـم فتنـې وې غمـزه گـرې هـم بـلا وې

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۵۹).

### ۳,۳. ۱. ۵. سکندر خان خټک

سکندرخان خټک د خوشحال خان زوی او د نوموړي د ادبي ښوونځي پياوړی اديب او پليونی شاعر دی. په (۱۰۶۸هـ ق) کال کې زېږېدلی دی، ياده نېټه د ده د بوللې له لاندې بيت څخه څرگندېږي :

زمـا دوه ويشـت کالـه ژونـد دی — زر او نـوي سـن د هجـرت دی

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۲۷۵).

د نوموړي ژوند تر (۱۱۱٦هـ) پورې يقيني دی، پر همدې کال د نوموړي دوه زامن (انور خان او منور خـان) د شعبان په مياشت کې مړه شوي دي او سکندر يې په تړاو ويرنه ليکلې ده:

انور چې ياد کړم ژاړم پـه کـوکې — منگل مې داغ کېښود د زړه په څوکې
اجل شاهين و په سـکندر راغـی — د زړه يـې و وېسـتې د فـراق نـوکې

(هېواد مل، ۱۳۷۹ل، ۱۵٦ او ۱۵۷).

### ۳. ۳. ۱. ۵. ۱. د سکندرخان خټک د شعر ځانگړنې

سکندر خان خټک د ښکلي بيان او دردمند احساس لرونکی شاعر دی، د خپـل شـاعرانه خيـال د څرگنـدولو لپاره يې د غزل، څلوريزې، بوللې او قطعې څېلونه خوښ کړي دي خو بيا په ټـوليزه بڼـه نومـوړی د غـزل شـاعر دی. د خوشحال خان خټک په څېر يې الهيات، تصوف، اخلاق، سياست او محبت د خپلې شـاعرۍ منځپانگـه گرځولې ده او بيا يې په ښکلو شعري تلازماتو او بديعي جوړښتونو لا پسوللې ده.

حمد او نعت په گډه بڼه راوړل

د چـا چـې ښـکلی مـين څـوک وسـتايي — واړه هم دی ستايي که دی څوک نه ستايي
پـــه محمـــد کـــې صـــفت د خـــدای دی — سړی که خدای ستايي احمد دې ښه ستايي

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۱٦).

د اهل بیتو ستاینه

زه بــــه دا خـــبره تـــل وایـــم جـــلي | خارجي دی چې دوست نه لري علي
چې یې مینه په اخلاص د سید نه وي | مخ یې تور اوسه کم بخت دی ازلي

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۱٦۵).

تصوف

په هر لور چې گورم مخ د اشنا وینم | درست اسمان مې آیینه شه زمین هم

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۱۸).

اخلاق

ډېر احسان چې په چا وکړې هېروه یې | څوک چې لېږ در سره وکا ډېروه یې

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۱۹).

سیاست

د دولـــت کـــونجی وا کـــړه | کلید څه دی سخاوت دی
دولـــــت واړه د جهــــان دی | تا څخه په عاریت دی

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۲۳).

محبت او رندي

مینه د انسان په خټه کې اخښل شوی څیز دی او د هر شاعر په شعر کې په بېلابېلو بڼو را څرگندېږي، په همدې بڼه رندي هم د هر شاعر یو ځانگړی طرز دی چې سکندر هم ترې پچ شوی نه دی ، دغه روایت په شعر کې ډېر له پخوا څخه په بېلابېلو ژبو کې را روان دی، خوشحال خان خټک په پښتو غزل کې بڼه وپاله او پیروانو یې لا پسې و غوړاوه چې د سکندر په شعر کې یې هم په ډېره کچه موندلای شو، دلته یې څو بېلگې راوړو:

د بوسې هیله

که د شونډو په بوسه راکړل پښېمان یې | را شه بیا یې په ستنه له ما اخله

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۲٦).

د محبوب پر وړاندې ژړا

لکـــه طفـــل و بـــاران و تـــه گـډېږي | پــه ژړلـــو کـــا دلـــبر ې دمـــا څـــرخ

(خټک، ۱۹٦۲ز، ۷۴).

د معشوقو ژمنه ماتول

یـــوه تېـــره بلـــه تېـــره بلـــه تېـــره | په تېر تېر دې عمر تېر کړو تېروه یې

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۲۷).

د معشوقو ستاینه

درست صورت مې خوږ شي چې دې نوم واخلم په ژبه شهد شکر نه یې لا څه نور خواږه لرې
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۸۷).

د بوسې په ځای یې بوی را ته پیشکش کړ چې سمن ته مې تشبیه ستا د رخسار کړ
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۹۰).

یا

چې تشبیه مې ورته ستا د شونډو ورکړه که خوښې یې کا لاله په صحرا څرخ
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۷۳).

رقیب رټل

رو سیاه رقیب مې سیوری تر شا درومي چې خورشید د مخ په ما کړي برابر ته
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۳۳).

رندانه فکر

ساقي مه کوه صرفه په راکول کې نورو ډک خمونه تش کړل وار زما دی
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۳۴).

**ګرامر**

شین شین کلمې راوړل، (مې) د (م) او (چې) د (چه) په بڼه راوړل، همدا ډول (زما) د (دما) په بڼه کاروي او داسې ډېر څه یې موږ په شعر کې تر سترګو کوو چې د خوشحال خان د ښوونځي اغېز یې ګڼلای شو.

یو قدم ږدي په لېمه بل م په زړه ږدي جلوه ګاه ته چه په شین شین یون کا
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۴۶).

هسې زمانې کړ کار و بار تباه دما واړه بد خواهان شول چه څوک وو نېکخواه دما
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۵۵).

تفضیلي تشبیه

په خندا د غاښو در عدن مات کا په سرو شونډو به عقیق د یمن مات کا
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۴۶).

مکنیه استعاره

وصل د امید په تـار مـې زخـم دی گنـډلی مه شلوه هجرانـه پـه پرهـار مـه وهـه گـوتې
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۶۹).

پښتو ژبې ته ارادتاً کارکول

لطافـت یـې د فارسـی تـر شـعره ډېـر دی نن چې دا ویل سکندر خټـک پښـتون کـا
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۴۶).

پښتني رنگ

د یـار خیـال راغـی و سـترگو تـه شرمېږم چې دا څـه عزیـز مېلمـه راغـی و کـور تـه
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۶۸).

اخلاقي خودي

کـه مـې ځـان لـه فـاقې رایشـي پـه شـونډو وا به نـه خلـم لـه سـفله نـه تـر قیامـت پـور
د منـت حلـوا کـه شـته پـه کـار مـې نـه ده تر حلوا تـر سـلوا ښـه دی د محنـت سـپور
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۸۴).

ژړا تکرار

ژاړه ژاړه کــــه بهـــره د لـــویی غـــواړې ځمکـې کلـه بـې اوبـو چـرې دانـې کـړې
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۹۱).

د زلفو تکرار

که هر لوري ته غږ دی هاو هوی د تورو زلفو یو خلاص نه دی له قیده په هېڅ سوی د تورو زلفو
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۰۰).

د خوشحال خان خټک د غزل په تړاو تضمین

ښـه جـواب د خـان د هغـه غـزل اوشـه ((دا چې وایي چې ډېر مهر پـه فلانـې کـړې))
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۹۲).

د خوشحال د غزل مطلع

دا چې وایې چې ډېر مهر پـه فلانـې کـړې د یــاری رضــا دې نـــه ده بهــانې کـــړې
(خټک، ۱۹۶۲ز، ۹۲).

د خوشحال خان خټک د شعر ستاینه

چـا چـې لاف د شـاعری پـه مـرز بـوم کـړ د بابـــا شـــعر همـــه واړه معـــدوم کـــړ
نـاهموار جویونـه صـاف ډېـرې اوبـه کـا دې مـا عیـب پوشـیده د بابـا نـوم کـړ

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۹۵).

مکالمې او ښځینه مخاطب پ څرګند ډول راوړل

په خندا یې وې چې چېرته ځې سکندره — پـه ژړا مـې ورتـه اووې چـې تـا غـواړم

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۲۲).

برایـي در سره نماسته خولـه پـه خولـه وم — دروغ مــــه جـــوړوه زه کلــــه اوده وم

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۲۸).

د قافیې لپاره کلمه ماتول

تا چې مخ ورته ښکاره کړو لېوني شـول — پـاس د غرونـو پـه سرونـو پـه سـم هـم

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۳۵).

ښځینه احساس

زه دې ناسـته پـه پالنـګ یـم نـه شرمېږې — تـه تـر چاشـته پـوړې لاړې پـه خوابونـه

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۳۹).

د کلمې تکرار په بېلابېلو ماناوو

چې یې هېڅ اندېښنه نـه کړه لـه ګردونـه — دې ګـردون کـړه پـه ګـردون هغـه ګردونـه

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۴۰).

د قناعت تکرار

نه مې سره د ملک په کار دي نه مې سپین — مـا تــه بـس دی قناعـت پـارس د دیـن

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۴۱).

مجازي مینه

سـپینه خولـه ورځنې مـه غـواړه سـکندره — ښایسـته پـه ورکـول د خولـه تنګېـږي

(خټک، ۱۹۶۲ز، ۱۷۵).

د سکندر په دیوان کې هم د فارسي، عربي او هندي ژبو کلمې د شعري اړتیا له مخې لیدل کیږي.

د خوشحال خان خټک په کورنۍ کې نور داسې کسان نشته چې شعري دېوانونه یې موږ ته رارسېدلي وي او موږ یې پر سبک ځانګړی بحث وکړو، د دې لپاره چې د خوشحال خان د کورنۍ غړي دي د نومونه او که د زېږېدو او مړيني نېټې یې وي له لرو څرګندونو او یوې نیمې بېلګې سره راوړم.

### ۳. ۳. ۱. ٦. گوهر خان خټک

د خوشحال خان خټک بل زوی گوهر خان خټک دی چې پر (۱۰٦۹هـ) کال زیږېدلی دی او تـر (۱۱۲۰هــ) پورې یې ژوند یقیني دی. نوموړی په نثر کې آثار لري، د نظم په برخه کې یوه نیمه غزل، څلوریزه او بولله تـرې راپاتې ده چې هنري ښکلا پکې نشته. دلته یې یوه څلوریزه راوړم:

دوه یـاران چـې راز د زړه تـر بلـه نمـایي — بایــده دي چــې پــه خپلــه ژبــه وایــي
د فارسیانو کـن مکـن ویـل چـې سـود کـا — پښـتنو تـه کـړه مـه کـړه ویـل ښـه ښـایي

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱٦۰ او ۱٦۱).

### ۳. ۳. ۱. ۷. عابد خان خټک

عابد خان خټک چې پر (۱۰۵۸هـ) کال زیږېدلی دی او د مړینې نېټه یـې نـه ده څرگنـده، دوې بـوللې او یـوه غزل ترې را پاتې دي. د عابد خان درې واړه نظمونه د خپل زوی شاهد خان خټک پر مړینه د مرثیو په بڼه ویلي دي چې د مرثیه لیکنې ارونه پکې مراعات شوي دي او هم هنري ښېگڼې پکې شته. د یوې بـوللې څلور بیتونـه یې راوړو:

د جبـــین دې بـــدر مـــاه نـــه وه همتـــا — کښـلی مـخ د تـا تـر نمـر و روښـان لا
نوې میاشت چې په شفق کې را ښکاره شي — سـتا د وروځیـو مثـال څـه خـو کـا پیـدا
کـه بانـه دې تـور تـور غشـي نـه وو ولـې — تا پرې زړونه زخمي جوړ کړه د هر چا
ســپینه پــوزه دې ښــه گــل د نســترن و — ســتا عــذار تــر چنبــي گــل و لا پیـدا

### ۳. ۳. ۱. ۸. عجب خان خټک

عجب خان خټک د خوشحال خان خټک بل زوی دی چې افضل خان خټک یې په تاریخ مرصع کـې یـو بیت خوندي کړی دی:

چـې یـې پـه پچـو پـی گمـراه نـه شـوې — شـــکر وکـــاږه د دجـــال وخـــت دی

### ۳. ۳. ۱. ۹. آزاد خان

آزاد خان د خوشحال خان بل زوی دی چې پر (۱۰٦۵هـ) زیږېدلی دی، په تاریخ مرصع کې یې دوه بیته چې د مشر ورور اشرف خان د مړینې نېټه پکې خوندي ده، لاسته راغلي دي:

د هجـرت یــې زر ســل شــپږ و — اشرف خـان چـې فـوت شـه یـاره
غـــم انـــدوه د ده تـــاریخ دی — کـه حسـاب کـړې و یـې شـماره

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۶۱ ــ ۱۶۳).

**۳. ۳. ۱. ۱۰. بي بي حليمه**

بي بي حليمه د خوشحال خان خټک فاضله او شاعره لوروه چې په پښتو ژبه يې يوه غزل د محمد هوتک د (پټه‌خزانه) پر مټ موږ ته رارسېدلې ده او د تصوف ځرکونه پکې ليدل کيږي.

و هر چا وته چې گورم واړه دی دی — د جمال په ننداري يې شادمان شوم

غير فکر مې له زړه نه را بهر شو — پر خليل او په عدو باندې يکسان شوم

(هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۸۲).

**۳. ۳. ۱. ۱۱. بابا سعيد خټک**

بابا سعيد خټک د خوشحال خان خټک د کورني کوم غړی دی، ژوند يې تر (۱۱۲۴هـ) پورې يقيني دی، په فارسي او پښتو کې دېوانونه لري. د نوموړي پر غزل او بوللو د خوشحال خان د سبک اغېز ښکاري، د خوشحال‌خان‌خټک د شعر په تړاو وايي:

خان که اطلس د شعر وودلی دی — د ديو درېوو ورونو ټوکی هم ښکلی دی

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۶۵).

**۳. ۳. ۱. ۱۲. افضل خان خټک**

افضل خان خټک د اشرف خان هجري خټک زوی او د خوشحال خان لمسی دی چې پر (۱۰۷۵هـ) زېږېدلی دی، د گڼو آثارو خاوند دی، په تاريخ مرصع او کليله او دمنه آثارو کې يې ځينې منظومې شته چې دلته يې له تارخ مرصع څخه را اخلو:

کار و بار مو همگي راته عيان دی — و عيان ته څه حاجت د بل بيان دی

سېلابونه د خلاف شول وبله جمع — بيا لنډی د آب سيند غونډې روان دی

آيينه چې له زنگاره مصفی وي — که زنگي مخ په کافور کا نمايان دی

( خټک، ۲۰۰۶ز، ۴۴۶).

د ده يوه بله ټوټه چې له کليله او دمنې له پښتو ژباړې څخه را اخلو:

صورت مې هر څو که ډېر زبون دی — که مې د مځکې د لاندې يون دی

زه به په لوري د اشنا خوځم — که يون مې هر څو په شوا خون دی

### ۳. ۳. ۱. ۱۳. خوشحال خان شهید

د خوشحال خان په کورنۍ کې یو بل شاعر چې د شعر سبک یې خوشحال خان ته پاتې کېږي د افضل‌خان‌خټک لمسی د سعدالله خان زوی خوشحال خان شهید دی چې د احمد شاه بابا په عسکري لیکو کې شامل کس و د خپلو فوځي کړنو په بهیر کې پر (۱۱۷۲هـ) کال شهید شوی دی:

زه چې مست په لب د یار یم هېڅ حاجت د شراب نشته — اور د عشق مې زړه کباب کړو هېڅ حاجت د کباب نشته
تمام تن مې وچ لرگی شو رگ مې تار وربانـدې پرېوت — زیر و بم آواز تې خېـژي هېڅ حاجت د رباب نشته

### ۳. ۳. ۱. ۱۴. نواز خان خټک

بل شاعر چې دخوشحال خان خټک په کورنۍ کې یې نوم ثبت دی، نواز خان خټک دی چې د سعدالله خټک لمسی او د اقضل خان خټک کړوسی دی، د پلار نوم یې افضل رضا په (پښتو غزل) اثر کې خوشحال شهید زوی بللی دی. تر (۱۱۹۲هـ) پورې یې ژوند یقیني دی. د ده له لاسته راغلو غزلو څخه څرگندېږي چې دی ښه شاعر دی، د یوې غزلې دوه بیتون یې:

شهی چې ټیک اوربل د سپین جبین په سر گرځوي — عجب څه رنگ په یو ځای کې شپه او نمر گرځوي
د چا طاقت دی چې مهره یې د سرو شونډو واخلي — دواړه طرفه تـرې د شـونډو تـور اژدر گرځـوي
(هېواد، ۱۳۷۹ل، ۱٦٥ او ۱٦٦).

### ۳. ۳. ۱. ۱۵. معاذالدین خټک

معاذالدین خټک د اکبر خان خټک زوی د د سعادت خان لمسی او د خوشحال خان خټک کړوسی دی چې تر (۱۱۷۷هـ) کال پورې یې ژوند یقیني دی. په پښتو ژبه کې لومړی اثر (حصن الایمان، ۱۱٥۷هـ) د پښتو مثنوي په واړه بحر کې منظوم دی چې د عقایدو او تصوف بحث لري، دویم یې(ربقته الاسلام، ۱۱٦۰هـ) د پښتو مثنوي په واړه بحر کې د فقهي مسایلو په تړاو منظوم شوی، دریم یې د طب په تړاو (دلیل العلیل، ۱۱۷۷هـ) لیکلی دی پر یادو آثارو سربېره د شعر دېوان هم پر (۱۱۷۳هـ) ترتیب کړی دی چې په (۱۳۹۲ل) کال د میا وکیل شاه فقیر خېل په زیار چاپ شوی دی.(خټک، ۱۳۹۲ل، ۱۱ ـ ۲٥).

د معاذالدین په دېوان کې غزلې، څلوریزې او د محمد نجم الدین عمرالنسي د بوللې پښتو منظومه ژباړه راوړې ده. د سبک په اړه یې ډېری کره کتنونکي د خوشحال خان خټک په لارویو کې شمېري ولې میا وکیل شاه فقیر خېل یې په تړاو لیکي: ((د معاذالدین شعری سبک په ځینو ځایونو کې د کاظم خان شیدا سره او په ځینو ځایونو کې د سعید خټک سره نزدېوالی او سمون خوري.)(خټک، ۱۳۹۲ل، ۳۰).

### ۳. ۳. ۱. ۱۵. ۱. معاذالدین د شعر ځانگړنې

د میا وکیل شاه فقیر نظر د تأمل وړه دی، ما د معاذالدین دیوان و کاته د کاظم خان شیدا د سبک څه مې پکې پیدا نه کړه، بلکې ټولې غزلې یې په ډېره ساده بڼه ساده بڼه راوړې دي، تشبیه ګانې یې ساده ساده په ټولنیزه عامه ژبه راوړې دي، البته یو نیم ځای د خیال منظومول یې د خوشحال خان خټک سبک ته پاتې کېږي خو د کاظم خان شیدا د تخیل او شعری جوړښتونو پیروي پکې زما تر سترګو نه شوه. دلته یې زه د شعر بېلګې راوړم:

تشبیه

زلفې دې پرتې دي په رخسارو ښایسته
یا سنبل سمن دي په یو ځای سره دسته
(خټک، ۱۳۹۲ل، ۱۰۷).

ټولنیزه پوهه

دا خصلت به لوی ګناه وي و دانا ته
چې د نن کارونه اچوي سبا ته
(خټک، ۱۳۹۲ل، ۱۰۸).

روحانیت

بر بر راشه ای اشنا خیر مقدمه
په لیده دې تازه کېږم دم تر دمه
نورې مینې ثبات نه لري فاني دي
روحاني د روحانیو وي محکمه
(خټک، ۱۳۹۲ل، ۱۱۷).

تفضیلي تشبیه

ما چې ولیدې د تا دلربا سترګې
زرکې نه لري دا رنګ په صحرا سترګې
(خټک، ۱۳۹۲ل، ۱۲۹).

د خوشحال خان خټک مشاعره شوي غزل مطلع

لکه زه په تا مفتون یم بل به څوک وي مفتون هسې
لکه ستا سترګې افسون کا څوک به اوکا افسون هسې
څوک چې خپله رضا پرېږدي په رضا د یار معاذه
صد رحمت په هغې مور شه چې یې اوشه لنګون هسې
(خټک، ۱۳۹۲ل، ۱۳۵).

(د خوشحال خان خټک معاصر او د ده دسبک نور پیروان ) تر سرلیک لاندې ښاغلي هېواد مل څو شاعران نور هم را اخیستی چې یا یې دیوان زموږ په لاس کې نشته او یا دوه درې نظمونه ترې په بېلابېلو آثارو کې څېړونکو خوندي کړي دي چې زه یې دلته یوازې د نوم، د زېږېدو یا مړینې نېټه که یې وي په خوندینې د راتلونکو څېړونکو لپاره راوړم، که چېرته یې وروستي څېړونکی له آثارو څخه برخمن شي نو پوره سبک به یې معلوم کړي.

**۳. ۳. ۱. ۱٦. قلندر**

قلندر د پښتنو د مومندو قبیلې ته منسوب و او د جنوبي هندوستان په دکن کې اوسېده. د مړینې کال یې د (۱۱۰۰ او ۱۱۰٦هـ) تر منځ اټکل شوی دی، خوشحال، هجري او سکندر یې په خپلو شعرونو کې یادونه کړې

ده او د خپل وخت ښه شاعر و، دوې غزلې يې لاس ته راغلې دي، نوموړی د خوشحال د سبک پیرو نه، بلکې معاصر يې بولو. د شعر بېلګه يې راوړو:

د پښتو ژبې مې آب ورکه په شعر — د فارسي شعر چې نه وايم افغان يم
نوی طرز مې په پښتو ژبه کې وکړ — د افغان په شاعرانو کې سلطان يم

### ۳. ۳. ۱. ۱۷. اشرف خليل

اشرف خليل د دولسمې هجري پېړۍ شاعر دی، دېوان يې نشته ځينې غزلې او څلوريزې يې د کليد افغاني، ورکه خزانه او ګلزار روه پر مټ ثبت شوې دي.

چې تا وې عبدالقادره کوم پښتون به يې خوشحاله — دا شان وايي اشرف و وې خدای پيدا کړ پښتون هسې

يا

لکه تل ستا د هجرانه په ما غم دی — کوم پيدا بل په دا شان بني ادم دی
دواړه لاس د اشرف يو ځله چاپېر شوی — ای چې قد يې تر الف ساکنه سم دی

### ۳. ۳. ۱. ۱۸. فيض محمد

فيض محمد د دولسمې هجرى پېړۍ شاعر دی، په شمالي هندوستان روهېلکنډ کې يې ژوند کړی دی. يوه غزل يې د روهېلکنډ د شاعرانو په ټولګه کې خوندی دی او سبک يې د خوشحال برېښي:

نن په ما د هجر وخت دی ګوره څه شي — ناقرار مې خوار صورت دی ګوره څه شي

### ۳. ۳. ۱. ۱۹. فاضل

فاضل د يوولسمې پېړۍ د وروستۍ برخې شاعر ښکاري، څو نظمونه يې په ادبي ستوري، ګلزار روه او کليد افغاني کې ثبت دي. کره کټونکو نوموړی د خوشحال خان خټک په سبک کې شامل بولي:

څه که څوک شراب چې سره لبان وي هغه ځای — څه که څوک چراغ چې ماهتابان وي هغه ځای

وايي د ده ځينې غزلې د خوشحال خان له ځينو غزلو سره لفظي نژدېوالی لري.

### ۳. ۳. ۱. ۲۰. حسين

حسين د يوولسمې هجري پېړۍ د وروستيو او د دولسمې پېړۍ د لومړيو کلونو شاعر اټکل شوی دی، غزلې يې په کليد افغاني کې ثبت دي، کره کټونکو دی هم د خوشحال خان خټک د سبک تر اغېز لاندې بولي.

### ۳. ۳. ۱. ۲۱. عليم

عليم د يوولسمې پېړۍ د پای او د دولسمې پېړۍ د پيل شاعر دی، ادبپوهانو د خوشحال خان خټک د سبک تابع کس ګڼلای دی. پر دغو شاعرانو سربېره موسی، افضل، عبدل، عثمان، ابراهيم، فضيل، احسن او قاسم چې دېوانونه يې تر اوسه نه دي پيدا شوي خو کره کټونکي يې د خوشحال خان خټک د سبک له پيروانو څخه ګڼي. (هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱٦۸ ــ ۱۷۰).

### ۳. ۳. ۲. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځي ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې

د خوشحال خان خټک په ادبي ښوونځي کې د کلمو ماتول، لکه د ( رکابونه) د کلمې (الف) پر (ي) بدلول. ښځينه ته د سړي کلمه کارول، نارينه مرستيال کړ (دی) د ښځينه صيغې لپاره کارول، تنګسه تنګځه ليکل، کلمې په خپله وضعي او هم مجازي مانا کې کارول تر سترګو کېږي، د روښانيانو په سبک کې ځينې کلمې په سيمبوليک ډول دويمه مانا ښندي خو خوشحال خان خټک بيا دغسې کلمې ډېرې په خپله وضعي مانا په مجازي مينه کې کاروي، لکه خوله يا خولګۍ، د فکر د څرګندولو د ستونزو پر وخت عربي، ترکي، فارسي او هندي کلمې کارولې دي. دغه کارونې د قافيوي، ديني، وزن، دود شويو کلمو، ځانګړو مواردو ته د اشارې، علمي ګړنې، د پښتو کلمې د بشپړ مفهوم د نه افادې او داسې نورو غرضونو له مخې شوې دي. د نوموړي ادبي ښوونځي يوه ځانګړنه نيولوګېزم هم دی ، لکه له (تېز) څخه (تېزل)، له (به) څخه (بهول)، له (پسند) څخه (پسندل) جوړول، د بېلابېلو ګړدودونو کلمې کارول، ځينې داسې کلمې چې تر خوشحال ادبي ښوونځي پخوا يا نه دي کارېدلې او يا ډېرې کمې به کار شوې وي چې اوس د معاصرې ادبي پښتو د مانۍ داسې خښتې دي چې له منځه وړل يې تر زياتې پښتو فقيره او يا هم ړنګوي، لکه ښاغلی، مېشته، بلوسېدل، غندل، هوډ، وسله او درسته، زور او زېر د عربي د ليکدود له مخې کاروي، (زما ) مفرد خپلواک نومځری (دما) په بڼه ليکي، (راتلل) د (راغلو) په بڼه ليکي، کړيزه (ځ) د (ز) په بڼه راوړي، د صوت نوم په شعر کې راوړي، عاميانه ژبه کاروي، لکه د خمچو نغن (د تبۍ د باجرې ډوډۍ)، د جمع نومونو جمع تړل، لکه (آثارونه)، نا دوديزه جمع تړل، لکه (چاهونه) يې ژبنۍ ځانګړنې بللی شو.

### ۳. ۳. ۳. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې

د خوشحال خان خټک د ادبي ښوونځي بارز موضوعي سبکي توکي په مجازي مينه کې له خپل محبوب څخه خپل ځان کم نه ګڼل، ځينې وخت په کلام کې د ژبې عفت نه مراعاتول يا تابو راوړل، په مجازي شعر کې ښځينه مخاطب کول او له امرد پرستۍ څخه ځان ساتل، ښځينه احساس بيانول، مينه او جنګ يا جلال او جمال

په یو بیت کې سره غاړه کول، د ابجدو پر مټ د پېښو تاریخ راوړل، خپله شجره او نېټې راوړل، پر ټولنیزو کارونو کې پر ځان، کورنۍ او د ټولنې پر نورو وګړو یو شان نیوکه کول، د خپل زړه خبره که څه هم د خپل ځان د کمزورۍ ښکارندویه یې هم وي پټه نه ساتل، په شعر کې د ځان ستاینه، له خپل پېر څخه پر مخکینیو شاعرانو نقد کول، په جنګي ډګر کې د ځان ستایل، په منظم ډول د حمد، نعت او منقبت راوړل، پښتنو ته د اتفاق بلنه ورکول، د محبوب عذر راوړل، د ټولنیزو مسایلو په تړاو نقد کول، د پښتو ژبې لپاره ارادي کارکول، د پښتني چاپېریال انځور کښنه، فولکلوریک مسایل راوړل، د ښځو په تړاو نظریې راوړل، د احمق ځانګړنې بیانول، له سیمه ایزو ژبو سره په سیالۍ شعر ویل، په شعر کې هر ډول موضوع ته ځای ورکول، تاریخ ګویي، د څلوریزو پر مټ پندونه ویل، علم ته بلنه، شکایتونه، د خپلواکۍ د ګټلو لپاره پښتانه جنګ ته را بلل، د اخلاقي شاعرۍ عمده توکي، د دښمن احسان نه هېرول، د محبوب د بدن د غړیو بشپړ یادول ، قیافه پېژندنه، ټولنیزه سیکالوژي بیانول، د خپل ژوند د ارمانونو بیانول، په پوهنیزه کچه د قومیت احساس را پارول، پر پښتو ژبه احسان یادول، په نظمونو کې د نورو د کار ستاینه، د یو بااحساسه پښتون لپاره د زمري او باز سیمبول کارول، باز او زمری د مېړانې، کارغه او ټپوس د مردارخور ، ګیدړ د بې زړه، خر د احمق لپاره سیمبول کول، د اسلامي پښتونولۍ ایډیل ځانګړنې ( مینه، له فقر سره مبارزه، درویشي، غیرت، پت، زړورتیا، سخاوت، مړنتوب، او نور)، پر دماغو زړه ته تر جیح ورکول، رومانتیکي فکر ته ترجیح ورکول، خپله عقیده له فلسفې نه قرباني کول، اخلاقي خودي، خپلواکي یا اختیار، فعلیت یا توانیت، ښکلاییز خوند، تفریحي او ریالیستیک فکر، حق ویل، حسیات، هجوه، پښتني مثبت نشنلېزم، د ګډ قومیت فکر ،حماسي فکر، تدبیر ته پاملرنه، مغل د ظلم سیمبول کرځول، سیاست او هېواد پالنه یې په ټوله کې موضوعي سبکي ځانګړنې تشکیلوي.

### ۳. ۳. ۴. د خوشحال خان خټک ادبي ښوونځي ګډې ادبي سبکي ځانګړنې

د بلاغي علومو په تړاو خوشحال خان خټک زما د څېړنې له مخې د تشبیه یو ډول هم نه دی پرې ایښی، د وخت پر سیمه ییزو ژبو سربېره د عربي ژبې څېړل شوې ټولې تشبیه ګانې یې په شعرونو کې شته. همدا ډول د بدیعي جوړښتونو ډېرې سخته برخه یې په خپلو شعرونو کې راوړي دي. د استعارې، قراردادي سیمبولونو، مرسل مجاز او کنایې ډېرې برخه یې په خپلو شعرونو کې پاللې ده. کوښښ یې کړی دی چې د معاني برخه هم ښه و پالي، ډېر کم داسې بیت به وي چې د فصاحت ښکلا به نه لري چې هغه هم په شمېر کې نه راځي، د وزن له مخې هم لنډ بحر کاروي او هم د پښتو دوديز بحرونه چې دولس څپيز دي په خپل شعر کې ډېر پالي، د دوو بحرونو دعوه کوي خو دا څرګنده نه ده چې دا هماغه عربي کوم دوه بحره دي که نه د پښتو خپل وزن دی. داسې څه اوس زموږ په لاس کې نشته چې دغه تیاره ګوټ یې روښانه کړی وي. د عربي او فارسي ژبې ټول هغه منظوم ځېلونه یې پاللي دي چې د نوموړی په پېر کې دود وو.

د څېړنوال حبیب الله رفیع په تدوین کړي دیوان کې یې یوه غزل داسې ده چې په مطلع کې یې درې مسرې راغلې دي او بیا په مقطع کې د هماغو درو مسرو څخه یې یوه بیا تکرار راغلې ده چې له دغه کاره به د خوشحال خان څه نوی فورم موخه وه او که همداسې راغلې ده. په نوموړي ادبي ښوونځي کې د شعر ټول هغه ځېلونه،

لکه غزل، مثنوي، څلوریزه، قطعه، ترکیب بند، ترجیع بند، د مسمطونو ټول ډولونه، مستزاد او بولله چې په عربي او فارسي کې دودو وو و پالل شول.

### ۳. ۳. ۵. د خوشحال خان خټک د ادبی ښوونځي عمومي ځانګړنې

د خوشحال خان خټک په راتګ سره پښتوادب یو نوي پرمختیایي پړاو ته داخل شو، په نوموړي سبک کې د نظم د څېلونو له مخې ټول ختیزوال نظمي څېلونونه و پالل شول. د پښتو شعر د مضمون لـه مخې د بشـپړېدا پـر لور وغزېد او یا هم بشپړ شو، پر پخوانیو عشقي، عرفاني، تبلیغي او وعظیه اخلاقي موضـوعګانو سربېـره د ټـولنیز ژوند بېلابېلې موضوعګانې په شعر کې راوړل شوې، تاریخي پېښې، پر ټولنه او حکومتي سیستم نیوکې، له هېواد سره د مینې احساسات، د پښتون او پوښتونولی د موضوعګانو بیان او نور یـادولای شـو. دنویـو موضـوعګانو تـر څنګ زړې موضوعګانې، لکه اخلاق، عرفان، پندونه او عشق په نوی رنګ کې بیان شوي دي. پښتني ټولنـه پـه شعر کې را ښکاره شوې ده او ډېری انځورونه پکې په معنوي او فزیکي لحاظ منظـوم شـوي دي. پـه دغـه ادبي ښوونځي کې د ادب تومنه په پراخه کچه ځان په شعر کې ښيي. په قصدي بڼه پښتو شعر ته کار شوی دی.

د بلاغي علومو په تړاو پښتو شعر لوړ پړاو ته رسېدلی دی، بیان، معاني او بدیع پکې ښه پالل شـوی دی. زمـا د څېړنې له مخې خوشحال خان خټک داسې مضمون او تشبیه نه ده برېښې چې شعر یې پکې نه وی ویلای.

د ګرامر له مخې ځینې وخت بېلابېل ګړدونه، د نـورو ژبـو کلمـې او محـاورې د وزن او قـافیې د سـمون لپـاره راوړي. د وزن د سمون لپاره ډېری وخت د کلمو په جوړښت کې هم لاسوهنه شوې ده.

پر نرینه احساساتو سربېره ښځینه احساسات هم پکې راوړل شوي دي، د ښخمنو پالنه هم پکې شوې ده.

## ۳. ۴. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی

### ۳. ۴. ۱. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي د منظوم ادب شخصي سبکونه

دلته به لومړی د عبدالرحمن بابا په سبکي برخه څېړنه تر سره کوو او بیا به یې د پلیونو په اثارو کې نښې نښانې لټوو.

#### ۳. ۴. ۱. ۱. عبدالرحمن بابا

عبدالرحمن بابا د عبدالستار مومند زوی دی چې د نسب له مخې سړبن په سړبن کې غوریاخېل په غوریاخېل کې مومند او په مومند کې دویزی او په دویزو کې ابراهیم خېل دی. پټه خزانه یې د محمد رسول کلات وال د بیاض له مخې د زېږېدو کال (۱۰۴۲هـ) ښودلی دی او ځای یې له پېښور ښار څخه جنوب ته څلور میله لرې د (بهادر کلی) ثبت کړی دی. د عبدالرحمن بابا د مړینې کال هم د څېړونکو تر منځ بېلابېل کلونه ښودل شوي دي خو وروستی څېړنه یې مړینه د داخلي شهادتونو او یونس خیبري په دیوان کې د عبدالرحمن بابا د ویرنې له مخې (۱۱۲۸هـ) کال ښیي. (رفیع، ۱۳۸۷ل، ۲).

یوولسمه هجري قمري پېړۍ د پښتو ادبیاتو د پرمختګ او پراختیا لپاره ډېره ارزښتمنه ده. د پښتو ډېری لوی شاعران د دغې پېړۍ زېږنده ده. پښتنو شاعرانو له هندي، عربي او فارسي ادبیاتو سره بلدتیا حاصله کړه چې بیا یې له سیمې او نورو ژبو سره د مثبتې سیالۍ له مخې پښتو ادب ته مخه کړه او ورسره یې د هغه پېر دودیز علوم هم په ښه ډول زده کړي و، له عربي ادب سره یې اړیکه د عقیدې له مخې خړوبه شوې وه.

د یوولسمې هجري پېړۍ د شاعرانو په منځ کې یو هم عبدالرحمن بابا دی چې (بابا) ورته پښتانه له ډېرې مینې وایي، نوموړی د یو ځانګړي سبک څښتن دی، د ده روان، ساده او بې تکلفه سبک په ټولنه کې د هر چا لپاره په زړه کې یو ځانګړی ځای پیدا کړ. د نوموړي د هر بیت تحلیل د لوستونکي د پوهې په کچه دی، که ښځې یې د کور د کارونو پر مهال شعر زمزمه کوي د خپلې پوهې په کچه ترې مانا اخلي او که چېرته عین بیت دیني عالم د منبر پر سر وایي بیا یې د دین په رڼا کې ډېر لوړ ارزوي، که ټولنپوه دی که فلسفي، دیني عالم دی او که د ساینسي علومو پوه هر یو یکې د خپلې پوهې له مخې یو څه موندلی شي او د خپلې پوهې په چاپېریال کې یې تحلیلوي، ډېری بیتونه یې د مانا پر وخت قاموس لیدنې ته اړتیا نه پېښوي. دغه او دې ته ورته ځانګړتیاوې دي چې نوموړي په ټولنه کې د عالمګیر، لسان الغیب، سلطان الشعرا او واف لقبونه ځان ته خپل کړل.

ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل په خپل اثر (د پښتو ادبیاتو تاریخ) لومړي ټوک کې د عبدالرحمن بابا د سبک درې عمده ځانګړنې راوړې دي:

۱. د عبدالرحمن بابا سبک ابهام او پېچلتیا نه لري. د بیان ډول او د انځورونو جوړښت شکلونه یې ډېر طبیعي دي.

۲. په دغه سبک کې د شعر د کلمو په غوراوي کې زیار ایستل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنګ لپاره یې ډېر ښکلي خو ساده او عام فهمه کلمې غوره کړي دي.

۳. د عبدالرحمن بابا سبک د واقعیتونو بیان ته زیاته پاملرنه لري. له انسان سره مینه په دغه سبک کې په ښکلي انداز بیان شوې ده. (هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۵ او ۱۷۶).

زه کوښښ کوم چې زموږ کومو مشرانوڅېړونکو د ده د سبک کومې ځانګړنې ښودلي دي د ده د شعر په رڼا کې یې ثابتې کړم او هغه چې تر عبدالرحمن بابا د مخکو شاعرانو سبکي ځانګړتیاوې دي او ده هم پکې شعر ویلای دی، تفکیک کړم.

**۳. ۴. ۱. ۱. ۱. عبدلارحمان بابا د شعر ځانګړنې**

۱. ډېره تعلی (ځان ستاینه) راوړل: که څه هم عبدالرحمن بابا په ورځني ژوند کې ځانستاینه غندلې ده ولې بیا هم د خپل شعر د جوړونې له مخې یې ځان ډېر ستایلی دی. زبیر حسرت په خپل اثر (د رحمان بابا فکري مکتب) کې پنځوس بیتونه یوازې د تعلی راوړي دي چې دلته یې څو بېلګې راوړم:

یو کتاب په سرېن کې چا و نه کړ | بې رحمانه چې یې کړی دی کتاب
چې منکر پرې اعتراض کولی نشي | دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز
خوشحالا او دولتا مې غلامان دی | زه رحمان په پښتو ژبه عالګیر یم

(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۵۳ ــ ۵۵).

۲. د دنیا ښه والی او بدوالی بیانول: عبدالرحمن بابا په خپل دیوان کې د دنیا او مادیاتو د غندنې تر څنګ یو څه ستاینه هم کړې ده، نوموړی د دنیا د ناسمې کارونې په تړاو پخپله انسان ګرم ګڼي او له بله پلوه د مال دولت په سمه کارونه انسان د بلې دنیا ګټونکی ګڼي، تر ده مخکینیو شاعرانو یې یوازې په غندنه کې بیتونه ویلی دي. لاندې بیتونه یې د غندنې په موخه لیکلي دي:

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا | بېوقوف دی وقوفدار د دې دنیا
د طفلانو غونډې واړه خاکبازي کا | هر چې کاندي کار و بار د دې دنیا
یوفساد به یې بیان له رحمان نشي | فسادونه دی بسیار د دې دنیا

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۵۶ ــ ۵۹).

د دنیا دستاینې بیتونه یې:

ښه ده ښه ده دا دنیا | چې توښه ده د عقبا
د دنیا به بازار کېږي | د هغه جهان سودا

پــه دنیــا کـــې بـــدي نشـــته کـــه بـــدي نـــه وي لـــه تـــا
(عبـــدالرحمن بابـــا، ۱۹۸۷ز، ۶۱ او ۶۲).

۳. د کلمو او ترکیبونو پرلپسې تکرار: په یوه نظم کې د کلمو او ترکیبونو پرلپسې تکرار په داسې بڼه راوړي چې لوستونکی نه تنګوي، بلکې لا یې پسې لوستو ته هڅوي، په لاندې بیتونو کې یې (په یوه ګړۍ او په ساعت کې) ترکیبونه پرلپسې راوړي دي خو بد نه لګېږي:

دا دنیـــــا ده بـــــې وفـــــا بـــــې وفـــــا ده بـــــې بقـــــا
نه يې مـخ شـته نـه یـې څـټ شته لکـــــه لوټـــــه د صــــــحرا
پـــه یـــوه ګـــړۍ یـــې مـــخ وي پـــه یـــوه ګـــړۍ یـــې شـــا
پـــه یـــوه ګـــړۍ د ســـتا وي پـــــه یـــــوه ګـــــړۍ زمـــــا
پـــه یـــوه ګـــړۍ یـــې درد وي پـــــه یـــــوه ګـــــړۍ دوا
پـه یـوه ګـړۍ یـې خـوف وي پـــــه یـــــوه ګـــــړۍ رجـــــا
پـه سـاعت کـې یـې بقـا وي پـــه ســـاعت کـــې یـــې فنـــا
پـه ساعت کې یې سکوت وي پـــه ســـاعت کـــې یـــې غوغـــا
پـه سـاعت کـې یـې خنـدا وي پـــه ســـــاعت کـــــې یـــــې ژړا
پـه سـاعت کـې یـې وفـا وي پـــه ســـاعت کـــې یـــې جفـــا
پـه سـاعت کـې یـې افـلاس وي پـــه ســـاعت کـــې یـــې غنـــا
چـې نـه شـان لـري نـه شـکل کلــــــــه دا شي کلــــــــه دا
خدای څوک پېښ مه کړه رحمانه پـــــه دا هســـــې رنـــــګ بـــــلا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۲).

۴. سادګي، رواني، اساني، مناسبوالی او په زړه‌پورې والی: عبدالرحمان بابا دغه خوا موږ د نورو پښتنو شاعرانو د کلام په پرتله کې دلته تاسې ته ښودلای شو نو په همدې پار د روښاني شاعرانو او خوشحال خان خټک هغه بیتونه راوړم چې موضوع یې یوه وي او یا سره ورته وي:

د عشق په تړاو د مېرزا خان انصاري، مخلص روښاني او عبدلرحمن بابا بیتونه را خلو:

مېرزا خان انصاري بیت

کل جهـان لـه محبتـه پیـدا شـوی دا رښتینی عشق د کـل جهـان آبـا
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۵۷).

مخلص وایي:

کـل عـالم لـه محبتـه پیـدا شـوی کـل جهـان یـې دی پسر ګـورم بابـا عشق

(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۷۷).

عبدالرحمن بابا بیا همدا مضمون څومره ساده او روان ویلی دی:

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی | د جملـه وو مخلوقـاتو پـلار دی دا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۵٦).

د مېرزا خان انصاري نور بیتونه چې له عبدالرحمن بابا سره یې مضمون یوشان دی:

مېرزا خان انصاري

په هیڅ دود به یې له لاسه کړلی نه شې | لکه تیر چه په اختیار ووځي له کفـه
(مېرزا دیوان: س۱٦۴).

عبدالرحمن بابا

تر ورخ تېرې اوبه بیرته نـه جـاروزي | نه جار وزي تېر ساعت پـه بېرتـه بیـا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱٦۸).

مېرزا خان انصاري

چـــه لـــه مرگـــه پخـــوا ومـــري | نـور بـه نـه مـري تـل حیـات دی
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۹).

عبدارحمن بابا

په ژوند ومره چې د مرگ له غمه خلاص شې | اسان کار دې کړو په ځان باندې گران ولې

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۳).

مېرزا خان انصاري

دا بنـدگي چـې تـه پـه رسـم پـه ریـا کـړې | خپل عـادت څـه عبـادت گڼـې چغمتـه
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۱۵).

عبدالرحمن بابا

د ریـــا لـــه زاهـــدئ زمـــا توبـــه ده | چې یې کاندي څوک په رسم و په عادات
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۹).

مېرزا خان انصاري

په هیڅ دود په یوه عقد نه کښېوځي — دغه دین و دنیا خویندې دی نه یونې
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۲۴۶).

عبدالرحمن بابا

د دنیا ناوې په عقد کې دین غواړي — ای رحمانه ځان ترې ژغوره له نکاحه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۹).

مېرزا خان انصاري

سنگریزي په مېوه دارو ونو ووری — د دې غم له باره خلاصه ده دا وله
(انصاري، ۱۳۵۴ل، ۱۸۰).

عبدالرحمن بابا

که بل بد کاندي ته ښه ورسره اوکړه — هر یو نخل چې مېوه لری سنگسار شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۴).

اوس د علي محمدمخلص نور بیتونه چې له عبدالرحمن بابا سره یې مضمون یوشان دی راوړو، تاسې پکې بیا د عبدالرحمن بابا د کلام د راونی او ساده والي پته لگولی شئ:

مخلص

په هجران کې د وصال له غمه سوځي — په وصال غم د هجران کا پسې منډه
(مخلص، ۳۲۰).

عبدالرحمن بابا

چې په وصل کې یې اوښکې نه وچېږي — ترو به حال د رحمن څه وي په هجران کې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۸).
که هزار ځله نزدې د زړه په یاد یم — زه چې یار په سترگو نه وینم ناښاد یم
که همه عمر مې یار په غېږ کې ناست وي — زه له غمه به د هجر په فریاد یم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۵۳ او ۲۵۴).

مخلص

دا رواني اوبه په بیارته نه جار وځي — هسې تللې عمر نه گرځي دوباره
(مخلص، ۳۶۸).

عبدالرحمن بابا

تــر ورخ تېــرې اوبــه بيرتــه نــه جــاروزي
نــه جـار وزي تېـر سـاعت پـه بېرتـه بيـا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱٦۸).

مخلص

خريــدار چــې لوښــي پــيري لــه کولالــه
روغ و مـات لوښـي معلـوم کـا لـه آوازه
(مخلص، ۳۸۷).

عبدالرحمن بابا

د مــات لوښــي اواز کلــه ثابــت خېــژي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۴).

خوشحال خان خټک

هـــم هغـــه پکـــې پرېـــوځي
چـــې کنـــي چـــا تـــه چاهونـــه
(خټک، ۱۹٦۰ز، ۲۱۲).

عبدالرحمن بابا

کـوهي مـه کنـه د بـل سـړي پـه لار کـې
چېرې ستا بـه د کـوهي پـه غـاړه لار شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۳).

خوشحال خان

د عالم ډېرې خبرې لور په لور تورې لښکرې
زړه مې نه خوزي له ځايه غر خو هسې وي که نه
(خټک، ۱۹٦۰ز، ۳۰۸).

عبدالرحمن بابا

لکــه ونــه مســتقيم پــه خپــل مقــام يــم
کــه خــزان را بانــدې راشي کــه بهــار
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۲).

کريمداد بنګش

دا هسې صنم بـه نـه وي
در بتخانــــــــــــه آذر
(بنګش، ۱۹٦۴ز، ٦۲).

عبدالرحمن بابا

دا خـو مـا لـره خـدای راکـړه ګنـه نشـته
هســـې بـــت پـــه بتحانـــه کـــې د اذر
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۴).

۵. سهل ممتنع: دا ګړنه د عبدالرحمن بابا په تړاو ډېرى کره کتونکي راوړي چې د نوموړي شعر خو په څرګنده اسان دى خو د ده په شعر کې د کلمو په بدلون بیا هغه ښکلا له منځه ځي چې د عبدالرحمن بابا د کلمو له غوراوي څخه را څرګندېږي.

زه دې پېژنم په اصل کې خاکي يې ځان به څو ښندې په ګوته له تراب
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۴).

لاندې بیت کې د اختیار پر ځای اختار کلمه راغلې ده چې د شعر معنى او وزن ته زیان رسېدلى دى:

د دلدار وصال د خدای په داد مونده شي دغه کار مې د هیچا په اختار نه دى
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۴).

په لاندې بیت کې باله د بالا په بڼه راغلى دى چې معنى کمزورې کوي.

په ساعت کې ګدا شاه کا شاه ګدا کا دا فلک ځکه باالا شي کج رفتار
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۴).

په لاندې بیت کې د( بدکار) پر ځای په دیوان کې (بدکردار) راغلى دى چې فصاحت ته پکې زیان رسېدلى دى:

تر هغه لا نېکو کار بېګانه ښه دى چې بد کردار شي د چا ځوى او یا نمسى

لاندې بیت کې د قامت پر ځای قیامت راوړل

مراد خو واړه دلبري ده غزا وشوه که د سروې په څېر ښوک په قیامت لوړ شي

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۸).

لاندې بیت کې د (بې) پر ځای (بل) راوړل شوى دى.

مدام کله وي دنیا د دنیا دارو بل له عشقه چې دولت يې مستدام دى
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۱۷).

۶. د پند پر وخت هم د مخاطب د ادب خیال ساتل: دى که پند هم وايي نو د دې لپاره چې د چا زړه ازار نه شي، وايي دا هر څه زه ځان ته وایم هسې مې نوم ستا او د بل واخیست:

دوباره دې راتله نشته په دنیا نن دې وار دى که دروغ کړې که رښتیا
هر چار چې تر وخت تېره شي عنقا شي عنقا نه دى په دام شوى د هیچا
هره ښه چې صحیح ګڼې په زړه کې په غرور به هغه ښه کړې خطا

هلک نه يې چې په زور دې څوک تعليم کا / هم عاقل يې هم بالغ يې هم دانا
هغه ناوې چې په ځان ښايسته نه وي / څوک يې څه کوي ښايست د مور و نيا
دا خبره زه وځان ته کړم ای ياره / دلگير مه شه که مې نوم واخيست د تا
نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته وايم / نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا
هر چې وايم همه واړه ځان ته وايم / څه مې کار څه مې غرض دی په نور چا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۶۹).

۷. د واقعيتونو بيان: د عبدالرحمن بابا سبک د واقعيتونو بيان ته زياته پاملرنه لري. له انسان سره مينه په دغه سبک کې په ښکلي انداز بيان شوې ده.

په ځوانی کې بد دماغه بد گمان يې / چې پيري دربانده راشي بيا ناتوان يې
که په دا دې زړه ښه کېږي دا خو نشته / چې به هم تر ډېره ژوی هم به ځوان يې
چې هرگز دې په لاس نه وي کښېوتوني / بېهوده د هغو چارو په ارمان يې
چې بې خدايه زړه تړې په نورو باندې / هم په خدای هسې باور کړه چې نادان يې
پښېماني تر پښېمانی لا پخوا بويه / نه هغه چې بيا په تېر ساعت پښېمان يې
هسې رنگ دې و هغه جهان ته شا کړه / گويا تل به مستقيم په دا جهان يې
همره سر دې و خپل خدای و ته ټيټ نه وي / لکه ټيټ په لور د خان او د سلطان يې
يوه شپه په طاعت نه شې روڼولی / هره شپه په مال و ملک پسې پاسبان يې
په تسبيح دې تانده ژبه وچ لرگی شي / پوچ گويی لره بلبل غوندې گويان يې
و نمانځه ته چې نمر خېژي هاله پاڅې / په قلبې پسې په نيمه شپه روان يې
اوداسه لره کوزه اخيستی نه شې / چې په لو او په لور ورشې پهلوان يې
پټې سترگې لکه سور په کانې گرځې / که پرېوځې و کوهې وته روان يې
د هلک په څېر به لاس اچوې اور ته / نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان يې
چې و بل ته نصيحت کا ځان يې هېر وي / نور څوک نه دی هغه ته عبدالرحمن يې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۹۴ او ۲۹۵).

ورک شه ورک شه بدکرداره بد سړی / که دې ورور که دې عزيز وي که پردی
تر هغه لا نېکو کار بېگانه ښه دی / چې بد کار شي د چا ځوی او يا نمسی
مړنی ويلی بويه و هغه ته / چې بې وجهې آزار نه کا هېڅ سړی
هسې فيض يې و هر چا وته رسېږي / چې باله شي د خپل وخت حاتم طی
ای رحمانه چې بد فهم و بد کردار وي / را ته وايه سپی بهتر دی که سړی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۵).

آدميت څه په دولت نه دی رحمانه / بت که جوړ شي د سرو زرو نه انسان شه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۲).

### ۳. ۴. ۱. ۱. ۲. عبدالرحمن بابا د شعر موضوعي ځانګړنې

د موضوع له مخې د عبدالرحمن بابا ديوان څلور موضوعګانې (تصوف او عرفان، ديني مسايل، ټولنيزه پوهه او کلتور، مجازي او حقيقي مينه) مخکې وړي:

**تصوف او عرفان:** د عبدالرحمن بابا په ديوان کې د وحدة الوجود او وحدة الشهود فلسفې د ده د ديوان له داخلي شهادتونو څرګندېږي. دی په پيل کې وحدة الوجودي ښکاري خو په وروستو کې وحدة الشهود ته ورغلی دی. د تصوف په تړاو نظر، سيمبولونه او نورې باريکه مسئلې بيا د هغو کسانو کار دی چې په تصوف او عرفان کې مطالعه ولري او ورسره که عملي صوفي هم وي، لکه حمزه بابا بيا هغوی ته پکې ډېرې ماناوې مخې ته راځي چې د عامو پوهانو او عام ولس د پوهې په کچه کې نه راځي او يا به د خپلې پوهې په کچه ترې په څه برخو پوهېږي.

**ديني مسايل**: د عبدالرحمن بابا په شعرونو کې ډېری ديني خبرو ته په ډېره ساده بڼه ځای ورکړل شوی دی چې د ديني پوهانو لپاره د هغوی په کچه او عام ولس ته د خپلې پوهې په اندازه پوهه ورکوي، که څوک د قرانکريم په تفسير او ژباړه پوه نشي د لاندې بيت په مانا، لکه څنګه چې په کار ده نه پوهېږي.

علميــت د بــې عملــه ملايـانو لکه ګنج د کتابونو په خره بـار شـه

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۸).

**ټولنيزه پوهه او کلتور**: انسان ټولنيز ژوی دی، په ژوند کې نورو انسانانو ته څه چې ټول طبيعت ته اړتيا لري. عبدالرحمن بابا ځينې شعرونه کلتوري او ټولنيز مسايل موږ ته را پېژني د هغو په پام کې نيول د هر انسان دنده ده.

**مجازي او حقيقي مينه**: عبدالرحمن بابا مجازي مينه غندي او حقيقي مينې ته ترجيح ورکوي. ولې دا چې مجازي مينه حقيقي مينې ته د رسېدو پل دی نو دی هم ترې ناچاری دی، بيا که د مجازي مينې فکر هم د ده په شعر کې را څرګند شي، د غريزې او بوالهوسۍ پر بنسټ نه وي، بلکې يوازې د ښکلا ستاينه يې پکې کړې وي، کله کله يې محبوب په څنګ يا غېږ کې ناست وي خو دی يې د هجر په کلمه له موږ څخه خپله انساني غريزه پټوي چې دا د کلاسيکې شاعرۍ يو اصل هم دی، وايي:

که همه عمر مې يار په غېږ کې ناست وي زه همــه عمــر لــه هجـره پــه فريــاد يــم

(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۱۸).

(ټول عمر يار په غېږ کې کښېناستل) غريزه يې فکر دی بيا د (هجر غم ) راوړل يوه پرده ده چې پر ځان يې غوړوي، دا څرګنده خبره ده چې د غم پر وخت هيڅوک له ژونده خوند نه شي اخيستلای.

د عبدالرحمن بابا د مجازي شاعرۍ په لړ کې دا هم ډېر ځايه پېښېږي چې نوموړي يوازې د ښکلا تعريف کړی دی او بس. لاندې بيتونه لولو:

هغه سترګې چې نرګس او هم بادام دي　　تېرې توري دي زما په قتلولو
هغه شونډې چې شېرينې دي تر قندو　　ما هيڅ فيض ځنې بيا نه موند بې کنځلو
دا کاږه کاږه باڼه او کږې وروځې　　نور څه نه کا بې کږو کږو وهلو
په شپه نوکي د عاشق په وينو سرې کا　　صبا پورې کا نکريزې په منګلو
دا زما د قاتل لاس دی نه پوهېږم　　که تر باغ وتلی ښاخ دی د سرو ګلو
دريغه مرګ يې په دنيا کې نيمه خوا شوی　　ښايسته غونچې يې پرې يستې د ګلو
هسې بند شو په کمند د تورو زلفو　　چې حيران شوم د رحمن په خلاصولو
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۷۶ او ۲۷۷).

يا لاندې بيتونه ولولئ:

دا هلال دی چې ليده شي په شفق کې　　که په لاس د ګل اندامې سپين وښی دی
چې دخط په دود يې خلک پکې پرېوځي　　زنخدان يې تر سبزې لاندې کوهی دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۱۶).

په پورته ډول نور شعرونه پکې لوستلی شئ چې د عبدالرحمن بابا د مجازي مينې بوی ترې راځي او د حقيقي مينې د خپلولو لپاره يې پکې پرکټس کړی دی.

**حقيقي عشق:** په دغه تړاو د عبدالرحمن بابا نظر څرګند دی او د خپل ژوند ټول ارمان يې په خپله سپېڅلې مينه کې برياليتوب دی خو بوالهوسي غندي:

بوالهوس دې عاشقی ته هوس نه کا　　دا دروغ دي چې زر دوز شي بوريا باف
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۱).
عبث وايي غم د زړه و بوالهوس ته　　څه پوهېږي هلکان په غم د زړه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۱).

ما بې عشقه بل هنر نه زده ناصحه　　بخشنده شه که نادان يم که دانا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۰).
عشق عاشق لره يو هسې پير استاد دی　　چې به نه وي بل دا هسې پير استاد
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۰).

د ښې څرګندتيا لپاره د عبدالرحمن بابا د شعر موضوعګانې چې ډېرې يې تر عبدالرحمن بابا مخکې شاعرانو هم راوړي دي، راوړوو:

د دنيا پر مال، منصب، ښکلا، بقا او ژوند د بې باورۍ تلقين کول، د عبدالرحمن بابا ډېرې سلنه موضوع پر دنيا بې باوري او د اخرت لپاره توښه برابرول دي.

چې دې زړه دی پرې تړلی استوار　　دا جهان دې د نيکه دی که د پلار

ته خپل پلار او نیکه وګوره چې څه شو هسې ستا دی هم په دوی پسې رفتار
تل ړومبی د روستي پل باندې تېرېږي کړی نه دی چا په پل باندې قرار
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۴).

حلم او نرمي ته پر زورځواکۍ غوراوی ورکول: عبدالرحمن بابا هسې هم حلیم انسان دی نو د حلم د تلقین لپاره باید خپل فکر په شعر کې راوړي.

تېغ د اوسپنې محتاج د نرم آب دی قرب و حلم یو په سله دی تر زور
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۸).

ډېر لږ د داسې کلمو کارول چې د قلم عفت پکې نه دی مراعات شوی. د اورنګ زېب له مرثیې یې بېلګه را اخلو:

په نظر د بې بصر لکه شام هسې سحر
په کوڅه د دنیادارو ګوخوري کا لکه خر
اورنګزېب هم یو فقیر و چې تویې یې وه په سر
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۹۱ـ ۹۳).

خودي

په تصوف کې او هم په عام ژوند کې ځانغوښتنه ښه ځانګړنه نه ده، خودي سړی له نورو انسانانو څخه لرې کوي او په پایله کې یې پخپله شخص او ټولنه زیان مومي نو ځکه یې عبدالرحمن بابا غندي او ترې د ځان ساتلو سپارښتنه یې کوي.

تر خودۍ په هورته بله بلا نشته خادمي د بې خودانو په دربار کړه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۰).

عام ژوند په ساده بڼه منعکس کول

په ښادۍ ښاد شوی نه یم د هېچا تور تپ سوی یم په غم د هر اشنا
که زه طمع توقع له بله نه کړم د بل طمع توقع کېږي له ما
که مې رور که مې عزیز که مې فرزند دی واړه غواړي خپله خپله مدعا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۱).

وحدت الوجود او وحدت الشهود

وحدة الوجود

که مې اصل د حیاتو د اوبو دی بیا خو دا چې د اوبو په سر حباب یم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۱).

هغـه څـه پوښـتې لـه هجـره لـه وصـاله	چې په خپله هم محب دی هـم محبـوب
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۵).

وحدة الشهود

دا همـه واړه حجـاب دی چـې لیـده شي	نـور د حســن بــالاتر دی لــه ادراکــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۵).

رحمـن حسـن د یـار وینـي پـه پـرده کـې	نـه پټېـږي نـور د شـمعې پـه فـانوس
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۵).

زه رحمـن لـه هسـې خلکـه پنـاه غـواړم	هـر چـې لافـه کـړي خـلاف د مقامـات
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۵).

له ریا څخه ځان ساتل

د ریـــا لـــه زاهـــدی زمـــا توبـــه ده	چې یې کاندي څوک په رسم او په عادات
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۵).

توکل

د عشـق لار دتوکـل پـه پښـو غـوځېږی	نـــه پـــه پښـــو د ریاضـــت او دیانـــت
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۷).

قطب، غوث او اوتاد

دغـــه واړه کرامـــت د عاشـــقی دی	چې څوک قطب کا څوک غوث کا څوک اوتاد
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۰).

مجازي مینه

که څوک وایي چې مار کله پـه کـټ خېژي	زه خــوړلی یــم پــه کــټ د زلفــو مــار
خو د یار بیمارې سترګې خدای خوني کـړې	ګنـــه خـــون کلـــه کـــولی شي بـــیمار
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۳).

ټولنیز نقد

ټولنه له ښو او ناوړه انسانانو څخه جوړه ده او د ښه او بد تر منځ جګړه د آدم (ع) له پیدایښته په دې نړۍ کې را روانه ده، د بدیو پر وړاندې مبارزه په شعر کې عبدالرحمن بابا هم را پیـل کـړې ده او د شعر ډېـری برخـه یـې تشکیلوي. څوبېلګې یې لاندې راوړم:

په زړښت کې د بدو کارونو تر سراوی غندل: که څه هم عبدالرحمن بابا په ځوانۍ کې هم بدو ته بـد وایـي او غندي یې خو په زوړوالي کې یې له بدو چارو د لاس اخیستو ډېر تلقین کړی دی.

په پیری کې چې هوس د می و ناب کړې
بېهوده گمان په صبح د مهتاب کړې

بې طاعته عنایت غواړې له خدایه
د عتاب په ځای امید ته د ثواب کړې

دانسته گناه کوې توبې و باسې
لکه بت هسې په غټو سترگو خواب کړې

په هغو شونډو چې حمد و ثنا وایې
هم هغه شونډې بیا ډوبې په شراب کړې

په هغو غوږو چې ذکر د خدای اورې
بیا سماع په هغو غوږو د رباب کړې

علم وکړې هېڅ عمل ور باندې نه کړې
لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړې

په شپه پروت یې د مغان په میخانه کې
او په ورځې مخ په لوري د محراب کړې

تمام عمر د دنیا په طلب گرځې
بیا د خدای په طالبانو ځان حساب کړې

له خالقه دې نه شرم نه حجاب وي
له رحمانه گوښه ونیسې حجاب کړې

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۱).

چې په وخت د ځنکدن و کارې ږیره
ترو نن ولې هسې رنگ یې بې تدبیره

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۸).

پر اخلاص سپارښتن

څه عجب بلند مقام دی د اخلاص
چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

د رحمن کلام په دا سبب شېرین دی
چې کلام یې هر کلام دی د اخلاص

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۹).

فلسفه

فلسفه تل د (ولې) په ځواب پسې گرځي، د عبدالرحمن بابا په ځینو شعرونو کې دغه فکر راغلی دی.

خبر نه یم چې یې راوستم له کومه
بیا مې کومې خوا ته استوي چې درومه

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۹).

تر مرگ مخکې مړینه

د تصوف حاده موضوع ده چې د معنوي ژوند لپاره باید د فزیکي وجود پالنه ډېره و نه کړو، خوراک، څښاک او خوب باید کم شي او د اخروي ژوند لپاره په دغې نړۍ کې معنویت ته ترجېح ورکړل شي.

چې د مرگ خواري په خوا لري رحمانه
لا په خوا تر دغه دمه ولې نه مرم

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۴).

له نورو سره مرسته کول

ښه توښه مې نه شي په تش ډاډ دکور و کلي
مرد بویه چې واخلي دغم پېټی له غمگینه

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۶).

له مغلو څخه شکایت

پـــــه ســــــبب د ظالمـــــانو حـــــاکمانو
گـــور او اور او پېښـــور درې واړه یـــو دي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۸۱).

پر مادې معنی ته غوراوی ورکول

څو تـر منځـه ورانـه نـه کـړې د تـن پولـه
و بـه نـه رسـې تـر خدایـه تـر رسـوله
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۵۰).

بـــدلوې پـــه دنیـــا دیـــن او ایمـــان ولـــې
نه پوهېږې په خپل سود او پـه زیـان ولـې
چې په هر بېگاه سامان د هـر صـباح کـړې
کور و کـر شـوې د محشر پـه سـامان ولـې
په ژوند و مره چې د مرگ له غمه خلاص شې
اسان کار دې کړو په ځان باندې گران ولې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز،۳۰۲او ۳۰۳).

مـــــدام کلـــــه وي دنیـــــا د دنیـــــا دارو
بل له عشقه چې دولـت یـې مستدام دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۱۷).

تقدیر پر تدبیر غوره گڼل

په تدبیر بـه د تقـدیر کښـلي نـور نـه کـړې
د قســمت عــلاج پــه عقــل کلــه کــړ شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۹).

عبدالرحمن بابا د ټولو انسانانو په درد دردمن انسان دی نو طبیعي خبره ده چې په انسـان مـین یـې نـو لـه هغـه انسان څخه به دې زړه بدېږي چې سره له سپارښتنو بیا هم خپله لار نه پېژني او د ژویو په لور قدم وهي او یا هـم په خپل خوی کـې تـر ژویـو هـم لانـدې ځـي، پـه دغسـې شـېبه کـې لـه دغـه ډول محبـوب چـې پـه ځـانگړي ډول(وگړی) کلمه ورته کاروي، گیله کوي.

د آشـنا لـه لاسـه ناسـت یـم پـه زړه سـتړی
په فلوس مې په کار نـه دی درسـت وگـړی
چې په ژوند یې طمعه پرېکړی شي له ژونده
نـور پـه څـه بانـدې وېربـږي سر پرېکـړی
لـــه احوالـــه یـــې رو رو پوښـــتئ یـــارانو
بېلتانـــه د رحمـــن وار دی خطـــا کـــړی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۲۷).

چې خبر د رحمـن نـه اخـلي یـار بـد دی
بادشـــاهان لـــه گـــدایانو خـــبر بویـــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۸۰).

رقیبـان ځکـه تېـری پـه رحمـن کانـدي
چـې تـا خـوا پـورې نیـولي دي پـوهېږم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۵۷).

د انسانیت شاعر

دا چې د عبدالرحمن بابا په شاعرۍ کې د ټول انسانیت لپاره خیرخواهي راوړل شوې ده نو ځکه په دغه لقب ملقب شوی دی، د بېلګې لپاره یې څو شعرونه راوړو:

و بدخواه ته څوک نېک نصیحت نه کا | رحمن ستا په غم شریک دی که باور کړې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۱۷).

آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی | هر چې بل آزاروي هغه آزار شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۰۴).

دا دستور دی چې له درده زویرګی خېژي | ګڼه څه و د رحمن له شاعرۍ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۳۲).

هېواد پالنه

د عبدالرحمن بابا په شعر کې یوازې له هېواد سره د مینې نغمې نه دي راغلي، بلکې په بل هېواد کې یې د خپلو وګړو بد ژوند ته هم اشارې کړې دي چې نن سبا یې ښه مشاهده کولی شو، دلته یې څو بېلګې راوړو:

دعوه مه کړه په ناحقه خپل به یې نه کړې | پردی ښهر پردی ملک پردی دیار
چې استوګنه په پردي وطن کې کاندي | هغه نه لري هېڅ واک او اختیار
که هزار قسمه وخوري په یو کار کې | نه کا څوک په مسافرو اعتبار
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۵).

هر مارغه په خپله جاله کې همای دی | که کارغه که مښکیرک دی که ققنس
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۰).

عشق ته پر فلسفه غوراوی ورکول

د پښتنو ډېری شاعرانو عشق ته پر فلسفې غواروی ورکړی دی، عبدالرحمن بابا هم عشق له فلسفې څخه غوره ګڼي، بېلګې یې لاندې راوړو:

و اسمان ته لار د عقل نه رسېږي | دا خو عشق دی چې په عرش کرسۍ قدم ږدي

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۲).

تعادل مراعتول

اسلام دین د عدل دین دی، هر مسلمان د تعادل ملګری دی، عبدالرحمن بابا هم همدا نظر ټولنې ته وړاندې کړی دی.

کـه هـر ځـو طعـام لذیـذ وي مـزه نـه کـا          چې یوه زره نمـک یـې زیـات و کـم شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۳).

مکالمې راوړل

خبرې اترې چې د دوو کسانو ترمنځ کېږي مکالمې بلل کېږي، عبدالرحمن بابا هم په خپلو شعرونو کې ځای ورکړی دی.

ته چې ماتـه وایـې چې پـه څـه کـوې ژړا          نه در معلـومېږي دغـه خپـل جـورو و جفـا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۷۰).

اضداد

د خپل فکر د پیاوړي کولو او پر مخاطب یې د زر اغېز لپاره د دلیل په بڼه پر متقابلو یا ضد کلمو، ترکیبونو او جملو ډېره تکیه کوي.

زه دا سـتا پـه غـم کـې شـمع غونـدې ژاړم          ته زما په غـم کـې صبح غونـدې خانـدې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۹۵).

ما و درست جهـان تـه شـا و تاتـه مـخ کـړ          تا و درست جهان ته مخ ما ته دې شـا کـړه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۱۲).

اخلاقي خودي

د پښتون په خټه کې اخلاقي خودي اخښل شوې ده، عبدالرحمن بابا هم پښتون شاعر دی او دغه برخه یې پـه دیوان کې ځای کړې ده.

کــه د عقــل څــه اثــر لــرې و سر تــه          لاس پـه سر مـه شـه د هـر گیـدي و در تـه
پــه نظـر د هغـو خـاورې سره زر کېـږي          هـر چـې نـه لـري نظـر و سـیم وزر تـه
بــې منتــه جـام د زهـرو ځښـلی ښـه دی          نـه هغـه چـې منـت بـار شـې و کـوثر تـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۳).

**۳. ۴. ۱. ۱. ۳. د عبدالرحمن بابا د شعر موتیفونه**

هغه کلمې او ترکیبونه چې پرلپسې یې کاروي او د عبدالرحمن بابا پـه شـعر کـې د موتیفونـو ځـای خپلـوي د زمانې، گردښت او فلک له بې وفایۍ شکایت، دعینې مسرې بیاځلي راوړل، رنـدي، تـرک، خوبـان، رقیـب، چـاه زنخدان، اوښکې او ژړا، تواضع، همای، له نفس سره مبارزه، له هجران څخه شکایت، غزا وشـوه، د مجنـون بېـد، شاه او گدا، دویي، په ډېر هنري بڼه د کلمو او جملو په بدلون سره د یو غـزل پـه پرلپسـې بیتونـو کـې د یـو فکـر

راوړل، د محبوب له خوا د مینې غږ کېدل، ځان د یار د کوڅې سپی بلل او نور بللی شو. دلته يې له سرليک سره بېلګې راوړو:

د زمانې، ګردښت او فلک له بې وفايۍ شکايت

زمانـه هسـې بـې مخـه ده بـې رویـه | چـې غالـب کـا پـه اسـلام بانـدې کفـار
په ساعت کې ګدا شاه کا شاه ګدا کا | دا فلـک ځکـه بالـه شي کـج رفتـار

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۴).

هزار جام و صراحي دې فلک مات کړل | څـو بـه ګرځـي پـه دا دور جـام زمـا

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۷۴).

د عين مسرې تکرار

عاقبت بـه تـورو خـاورو لـه ور درومـې | ځـان بـه څـو څنـډې پـه ګوتـه لـه ترابـه

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۱).

زه دې پېـژنم پـه اصـل کـې خـاکي يـې | ځـان بـه څـو څنـډې پـه ګوتـه لـه تـراب

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۴).

رندي

سـاقي پورتـه شـه د ميـو جـام تيـار کـړه | عمـر هـېڅ معطلي نـه کـوي تلـوار کـړه

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۹۹).

ترک د ښکلو لپاره سيمبول کول

هغـه غشـی چـې د ترکـو د غمـزو دی | هـر کـلام مـې د هغـې غشـي پيکـان کـړې

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۹۴).

يـو د ترکـو عاشـقي بـل بـې نيـازي شـوه | پـه پرهـر بانـدې مـې بـل پرهـر پيـدا شـه

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۷).

خوبان

نور خوبان دې ستا تـر مخه پـورې هسـې | لکه بل کـا د افتـاب پـه مـخ مشـال څـوک

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۰).

رقيب

لــه وطنــه مــې پــه هــر زمــان وبـاسي | رقيبـان يـې را پسـې کـړه محاصـل

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۵).

چاه زنخدان

خونــد د لبــو او د چـــاه زنخـــدان يـــې
راشـــه گـــوره زم زم دا دی کـــوثر دا دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۴۹).

اوښکې او ژړا

تعجــب زمــا د ډېــرو اوښــکو مــه کــړه
مــا مونــدلی پــه دا بحــر کــې گــوهر دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۱).

چې دا ستا دغه خصلت وي زمـا اوښـکې
دا پټ راز به مې په درست جهان رسوا کـړي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۱۵).

غرونه غرونه خوب په څاڅکي اوبو درومـي
يـار پـه سيند زمـا د اوښکو بيـدار نـه شـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۱).

تواضع

که پـه ځـان بانـدې قـدم کېږدې رحمانـه
آســمانونه بــه دې لانــدې تــر قــدم شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۳).

همای

مرتبـــه بـــه دې د مـــچ او د مېـــږي شي
زړه پـــه غـــوړو غوښـــو مـــه تـــړه همايـــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۵۸).

نفس سره مبارزه

نفس بې شماره عالم پرېيست و کـوهي تـه
خـــدای دې نـــه کـــا نابينـــا د چـــا پيشـــوا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۷۲).

له هجران څخه شکايت

چې په وصل کې يې اوښـکې نـه وچېږي
ترو به حال د رحمن څه وي په هجران کې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۸).

که همه عمر مې يار په غېږ کې ناسـت وي
زه لــه غمــه بــه د هجــر پــه فريــاد يــم
پـه وصـال کـې مـې د هجـر طمعـه نـه وه
اوس حـــيران متحـــير پـــه دا فســـاد يـــم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۵۴).

عاشقي ننگ او ناموس سره نه جمع کېږي.

عاشـقي او ننــگ نــاموس دی سره لــرې
څو به عمـر واړه غـم د نـام و ننـگ خـورم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۰).

دیوان

د رحمن وسوزان شعر ته حيران يم		چې يې اور بل شوی نه وي په ديوان
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۸).

غزا وشوه

که يې تاج وي په سر ايښی غزا وشوه		په نظر زما هدهد دی يا خروس
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۵).

د مجنون بېد

مجنون بېد غوندې رونق د گلستان شي		چه يې ستا له غمه سر په پښت پای دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۲۲).

شاه او گدا

بادشاهي د گدايانو په دعا شي		زه رحمن ځکه بادشاه شوم چې گدا شوم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۱).

دويي

په دويي کې به ور نه شي تر توحيده		څو ضمير دې خالي نه شي له اشراکه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۵).

چې حاصله د دلبر يگانگي شي		د دويي خبرې نه کاندي مشتاق
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۳).

په ډېره هنري بڼه د کلمو او جملو په بدلون سره د يو غزل په پرلپسې بيتونو کې د يوفکر راوړل:

راشه مه کوه له چا سره جفا		لر ژوندون دی ضايع کېږي بېوفا
په دنيا کې هيڅوک نه دي پاتې شوي		واړه تلوني دي که نن دی که سبا
دا ياران چې نن و تاو ته جلوه کا		په دوه ورځې پس به واړه شي فنا
که ديدن دې د دوی خوښ وي ورته گوره		چې فنا شي بيا به کله شي پيدا
د خزان پاڼې چې بېلې شي له ښاخه		په حکمت به يې پيوند نه کا حکما
چې په ځمکه څاڅکی پرېوځي له اسمانه		بيا له ځمکې ختی نه شي په سما
گمان مه کړه چې به سترگو لره ورشي		هغه اوښکې چې له سترگو شي جدا
دا په هره ورځ چې خېژي بېل بېل نمر دی		هر چې پرېوځي هغه نه شي ختی بيا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۶۳ او ۶۴).

دمحبوب له خوا د مینې غږ کېدل

زه پــه خپلــه پــه تــا نــه یــم مــین شــوی          ســتا لــه لــوري پــه مــا شــوې ده نــدا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ٦٦).

ځان د یار د کوڅې سپی ویل: دغه مفکوره زما د څېړنې له مخې په پښتو شعر کې د عبدالرحمن بابا په دیوان لیدل کېږي، بېلګې یې لاندې راوړم:

اوس عطــاء د آدمیــت را بانــدې وشــوه          چې رحمن د هغه یار د کوڅې سپی شوم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۳).

**۳. ۴. ۱. ۱. ۴. ګرامر**

کله کله د صفت او موصوف ترمنځ مطابقت نه مراعاتوي.

هیڅــوک مــه شــه ګرفتــار د تــورو زلفــو          مــه اســیر شــه پــه کفــار د تــورو زلفــو
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۹).

د (و) سربل راوړل

وِ محمـــود وتـــه نظـــر کـــوه مـــدام          چــې غــلام کــړو خپلــې مینــې د غــلام
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۴).

کــه اوبــه دي د حیــاتو پــه تــور تــم کــې          ســـتا د رویـــه وِ راکـــړی بـــې ظلمتـــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸٦).

د قافیې لپاره د کلمې بڼه بدلول

اشـــنایان یـــې همـــه واړه مکـــاران دي          څـــه وېســـا ده پـــه مکـــار د دې دنیـــا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۵۸).

بې تورې په بې توره بدلول

ستا په عشق کې هسې خلاص یم له شعوره          چـــې یـــوه خـــبره نـــه لـــرم منظـــوره
تــورې هــر چېــرې تړلــې پــه دښــمن شي          یــاره ستا سترګې دوستان وژني بې توره
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۲).

ښځینه صیغه راوړل

عبدالرحمن بابا هم ځینې ځای په شعر کې ښځینه صـفت نامستقیم مخاطـب کـړی دی. بېلګې یـې لانـدې راوړم:

مستې ښځینه صفت کارول

سهل کار دی که رحمن په زړه آزار شم
چې خاطر د هغې مستې آزار نشه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۱).

که صورت د هغې مستې در څرگند شي
عقل هوش به دې هېڅ نه وي په صورت کې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۶).

سخت لغتونه

ولوښته

که تېرې ولوښته شاهان او سلطانان
هېڅ نېمگړې په چا نه شو داجهان
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۷).

خفت

ډېر خفت دی دارنده چې دانه چین شي
څو دې آب و دانه شته دانه چین مه شه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۴).

غور او کوړمه

که ته نه یې بدکرداره بدلمنه
کښې دې مه نه بد کردار سړی په غور
یو سړی چې په کوړمه کې د چا بد شي
واړه بد شي که پنځه وي که څلور
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۷).

خمسور

خپل مجلس یې تر جمله مجلسه خوښ وي
په هر ځای چې سره جمع شي خمسور
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۶).

گورهنده

سخت ساعت د بېلتانه به مې هېر نه شي
که را ډکه شي د تور لحد گورهنده
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۹۸).

چکنا او جکنۍ

د چکنا چکنۍ بېلتون په نیمه شپه وي
ستا زما په حال غماز شو د صبا مخ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۹۳).

رتی

د خـــروار دعـــوه یـــې و ګنـــه ممکنـــه کـــه رتـــی یـــا جودانـــه بـــه یـــې وي درتـــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۳).

علوفه

علوفـه بـه یـې بـې غمـه نـور څـه نـه وي هـــر چـــې کانـــدي د خوبـــانو چـــاکري
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۴۳).

ګونټه او ششدر

ارمانونـــه بـــه کـــوي زار زار بـــه ژاړي چې حاصله ګونټه نه کا په ششدر څوک
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۲).

اوډنی او سها

لکـه نمـر هسـې جلوه کـا پـه شـفق کـې چـــې پـــه سر بانـــدې اوډنـــی کـــا د ســـها
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ٦٨).

**۳. ۴. ۱. ۱. ۵. د عبدالرحمن بابا په شعر کې بلاغي توکي**

په بلاغي توکو کې بیان او معاني اصل ګڼل کیږي. بدیع یې له توابعو څخه دی. عـروض او قافیـه یـې هـم لـه توابعو څخه ګڼلای شو.

**۳. ۴. ۱. ۱. ۵. ۱. معاني**

معاني چې مفرده بڼه یې معنی ده په لغت کې څرګندولو ، د یو څیز پای او مقصد ته وایي او په اصطلاح کـې هغه علم دی چې د حال له غوښتنې سره سم د یوې خبرې د کولو د چل ښـوونه کـوي. پـه بلـه وینـا هغـه لارې چارې او قاعدې چې (دحال غوښتنه ) پرې سنجول کیږي او پلټونکي ته د یوې خبرې د پوهېدو ځواک وربښي ، د معاني علم دی. (نوشین، ۱۳٦۷ل، ۴۸).

په جملو کې وړاندې والی او وروسته والی، د خبرې لنډول او اوږدول ، د ژبې رواني یاد کمو کلمو کـارول، د ژبې د قاعدو د کارولو وخت ، د لیکوالو ، لوستونکیو، ویونکیو او اورېدونکیو تـول کیفیـات او ددوی د حـالاتو مراعاتول ددې په ډول نورې خبرې مورږد معانې د علم پواسطه زده کولای شو. که چېرتـه د پورتـه خبـرو خیـال ونه ساتل شي بیا کلام د بلاغت له درجې څخه غورځېږي، نو ددې لپاره د معاني د علم زده کړه لازمي ده.

عبدالرحمن بابا خپل مخاطب ښه مطالعه کړی دی، د هغو علمي کچه یې ځان ته څرګنده کـړې ده، بیـا یـې د خپلو شعرونو د کلمو، ترکیبونو او جملو غوراوی کړی دی. همدا لامل دی چې د نوموړي د شـعر د لوسـتنې پـر وخت لوستونکی له کومې ستونزې سره نه مخامخ کیږي. په خپلو شعرونو کې هغه کلمې راوړې چې د مانا لپاره قاموس ته اړتیا پیدا نه کړي، ترکیبونه یې غوټه یا تعقید نه لري او د جملو په اوډنـه کـې هـم د کلمـې او ورسره د

کلمو ترکیب او چاپېریال ته ډېره پاملرنه کوي چې کومه معنوي غوټه پکې پیدا نه شي. په دغه کار کې عبدالرحمن بابا ډېر برلاسی دی، ټول دیوان کې یې د ګوتو په شمېر داسې کلمې تر سترګو کېږي چې معناوې یې یا قاموس ته اویا هم د هماغه مهال ګړدود ته په پاملرنې خپله مانا را ښيي. نوموړی د شعر ترنې پر وخت ځان مخاطب کوي:

ای رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه دغه پسه په صفت د ګل اندام شه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۴).

عبدالرحمن بابا (دبلبلو ژبې زده کړه) ولې د شعر ویلو لپاره پر ځان شرط کړه، له دغه ترکیبه څو معناوې را څرګندېږي: (۱) د بلبلو ژبه موسیقي لري. (۲) منظومه وي. (۳) آغېز ناکه وي. (۴) لوستی، نالوستی او د هرې علمي کچې انسان د خپلې پوهې په اندازه ترې برخمن کېږي. (۵) طبیعي وي سختي پکې نه لیدل کېږي.

عبدالرحمن بابا پورته ټولو مسایلو ته په خپل شعر کې پاملرنه کړې ده چې شعر یې د هر افغان او یا چې په پښتو ژبه پوهېږي پر ژبه جاري دی، ولې ځینې ځایونه پکې یو نیم داسې بیتونه هم لیدل کېږي چې پوهې ته د رسېدو لپاره یې ډېر فکر او سوچ ته اړتیا پیدا کوي، لکه لاندې بیتونه:

کښت د عشق په توده ځمکه آسان نه دی سمندر بویه په دې صحرا زما
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۶۹).

په دیوان کې یې کوښښ کړی چې پښتو ټولپوهیزه کلمې وکاروي که څېرته بیا شعري، دیني، تصوفي یا کومه بله اړتیا پېښه شي کوښښ یې کړی چې عربي، فارسي یا هندي اسانه کلمې د شعر لپاره و ټاکي.

**۳. ۴. ۱. ۱. ۵. ۲. بیان**

عبدالرحمن بابا خپل فکر د بلاغي توکو د کارونې پر مټ په ډېره اسانه او روانه توګه تر خپل مخاطب رسولی دی، خپل منظوم کلام یې داسې اوډلی دی چې د کلمو د بدلون او وړاندې وروسته کولو له مخې یې ښکلا، خوند او موسیقي له منځه ځي. که موږ ته د عبدالرحمن بابا داسې بیت چې بل چا پکې لاسوهنه کړې وي یا یې پېژنو او یا هم که اصل بیت زموږ تر سترګو راشي نو بیا پوهېږو چې په دغې لاسوهنې یې د نوموړي شعر څومره پیکه کړی دی. هسې خو عبدالرحمن بابا ټول عمر د ټولنې په جوړونه، خیر ښېګڼه او الهي دین ته په رابلنه او مننه په ریښتینولۍ تېر کړی دی، د همدغې رښتینولۍ له مخې یې کومه دعا چې د الله (ج) په دربار کې کړې ده قبوله شوې ده نو ځکه یې پر پښتنو سربېره د نړۍ د نورو ولسونو د زړه سلطان هم ګرځولی دی او په (شاعر انسایت) ملقب شوی دی. دعا کوي:

چې کشور د افغانانو معطر شي د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبان کړې
الهي د خپل حبیب له برکته دا ساده انشاء رنګینه د رحمن کړې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز،۹۶ او ۹۷).

د پورته دعاوو پر مټ او قبلېدنه د نوموړي په شعر کې دا سې موسیقي، موضوعګانې، د بیان او بدیع توکي سره غاړه شول چې عبدالرحمن بابا هم په خپل ژوند په دغې وینا سر شو:

چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي دا دې شعر دی رحمانه که اعجاز
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۴).

تشبیه، استعاره، سیمبول او کنایه د بیان توکي دي چې پر مټ یې یوه وینا د مخاطب په ذهن کې د بل شي یا حالت سره په ورته کونې د پوهې کچه خپلوي چې تشبیه ورته وایي یا هم یوه کلمه ټوله د بلې ناوضعي مانا لپاره وکارول شي چې استعاره ورته وایي یا کلمه داسې و کارول شي چې د خپلې وضعي مانا پر ځای بلې ناوضعي مانا ته ځانگړې شي، لکه په تصوف کې ځینې کلمې چې دې ته قراردادي سیمبولونه وایو او یا هم داسې وکارول شي چې گڼ مشبه ولري چې دغې کارونې ته بیا خاص سیمبول وایي او ځینې وخت د علاقې له مخې خپله مانا یوې بلې مانا ته لېږدوي چې مرسل مجاز شي او یا هم په جمله کې کلمه، ترکیب یا ټوله جمله خپله مانا هم ښندي او بله ناوضعي مانا هم ورکوي چې دا بیا کنایه شوه. عبدالرحمن بابا د شعر گڼ انځورونه د تشبیه، استعارې او سیمبول په واسطه رامنځته شوي دي او ورسره ډېری خبرې یې د ساده تشبیه گانو، استعارو او سیمبولونو پر مټ لوستوالو ته وړاندې کړې دي. د نوموړي په شعر کې هر ډول بلاغي توکي موندل کېږي، نادرې تشبیه گانې یې هم راوړې دي، د تشبیه له ډولونو څخه یې تفضیلي تشبیه، معکوسه او نورې ډېری تشبیه گانې یادولی شو چې د نوموړي دیوان ته په پاملرنې یې لوستلی شو، همدا ډول مکنیه او مصرحې استعارې هم لري، قراردادي سیمبولونه یې د تصوف فکر را لېږدوي. دلته یې د چا خبره (مشت نمونه خروار) څو بېلگې راوړلای شو.

**تشبیه**

نادرې تشبیه گانې

زلفې او رخسار له خراسان او هندوستان سره تشبیه کول

چې د یار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو خپل خلوت مې خراسان و هندوستان شه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۲).

زلفې له تورو سره تشبیه کول

چې شهید د تورو زلفو په خنجر شي خوشنودي یې د سرو شونډو په کوثر شي
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۱۱).

مرگ له تمانچې سره تشبیه کول

څو د مرگ په تمانچه اوښتی نه دی اوښتونی له تا مه گڼه زما روح
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۹۲).

د محبوب تشبیه له عمر سره د بیرته نه راتلو له مخې

همېشه را څخه درومې مخ په وړاندې لکه عمر بیرته نه بردې گام په څه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۹۳).

زلفې او رخسار له شام و سحر سره تشبیه کول

شام سحر مې دغه ستا زلفې رخسار دی — نور مې مه پوښته له شام و له سحره
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۱).

تفضیلي تشبیه

چې هم قد لري هم زلفې هم سرې شونډې — دغه هسې رنګ آفتاب به جهان نشته
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۴۲).

مخ ته که دې نمر وایم د نمر زلفې تار تار نشته — سروې که دې قد بولم د سروې یون رفتار نشته
زلفې دې ناحقه خلک بولي په سنبل صنم — ولې چې له مښکو سره هېڅ د ګیا کار نشته
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۳).

معکسوسه تشبیه

وړاندني هم واړه ستا په څېر سړي وو — ته هم پاڅه د هغو په څېر خدمت کړه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۱۱).

**استعاره**

مصرحه استعاره

د آبرוויو و محراب ته یې حیران یم — څه نسبت لري بتان و محرابونه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۲).

چې دا ستا د خولو بوی ور باندې راغی — د عطار په مخ د اوښکو رود روان شه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۲).

**سیمبولونه**

ترک د ښکلو لپاره سیموبول کول

مخ د ترکو چې تر آب حیات صاف دی — زه دې آب حیات سوی یم په نار کې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۰).

## تصوفي سیمبولونه راوړل

په تصوف کې ځینې کلمې دځانګړو ماناوو لپاره ځانګړې شوې دي چې ځینې یې د انسانانو د مخ له برخو څخه ځانګړې شوې دي او ځینې یې له چاپېریال څخه راخیستل شوې دي، عبدالرحمن بابا هم په خپلو شعرونو کې راوړې.

**بوسه**: خوله او شونډې، له محبوب سره راز، نیاز او د حیات صفت دی:

که مې چېرې لاس دا ستا په بوسه بـر شي دا نعمت به د جنـت پـه خـوان ور نـه کـړم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۵۵).

رحمـن سـوال د بوسـې کـړی دی لـه یـاره لا یې هـېڅ ځینـې مونـدلی جـواب نـه دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۴۷).

**پیاله او صراحي**: پیاله، پیمانه یا ساغر د غیبي انوارو لپاره علامت دی :

مـا د دهـر غـم وهلـی دی پـه لتـه د پیـالی د صراحـی لـه برکتـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۶).

**آبرو یا وروځې**: وروځي یا ابرو چې د محبوب له خوا د غیبي اشارو او الهام مانا ورکوي.

کړی ما رحمن په زړه کې نقش د محـراب و ستا آبرویو نقش د محـراب را ځخـه یـووړ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۱۳).

**جفا**: جفا د سالک زړه له مشاهدې ځخه د بندولو په مانا دی :

کـه تـه سـل ځلـه لـه مـا سره جفـا کـړې سـتا جفـا واړه وفـا ده جفـا نـه ده
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۹۶).

**مرسل مجاز**

هغه سرای لره بـه تلـه ور بانـدې ګـران وي هـر سـړی چـې لـه دې سرایـه محبـت کـا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۸).

**کنایه**

ای زمـا د زړه آرامـه راشـه راشـه سرو قـده ګـل اندامـه راشـه راشـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۵).

**تغزل**

ایښی مې به سر دی ستا د مخ د مینې ګـل بیا مې تور لېمه دي ستا د زلفـو تـور سـنبل
ته چې آیینه په لاس کې واخلې حیرانېږې زه لـه کومـه راوړل صـبوري او تحمـل
ګرځي په چمن کې منګل ډکـه وړي د ګلـو خدای زده چې ګلونه وړي که زړونه په منګل
هم مې مښک لیدلي هم عنبر دي په جهان کې شابس شابس شابس ستا په زلفو پـه کاکـل
نه به ستا د مخ په څېر ګلشـن وي چـا لیـدلی نـه بـه وي زمـا پـه څېـر لاهونـه د بلبـل
هسې تغافل کا ستا پـه جـور و پـه جفـا کـې خلـک حیرانېـږي د رحمـن پـه تغافـل
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۴).

**۳. ۴. ۱. ۱. ۵. ۳. بدیع**

بدیع د بلاغي علومو له توابعو څخه دی، کلام د مانا او د کلمو، ترکیبونو او جملو د څرګندې بڼې له مخې په زړه پورې کوي او لوستونکی یې په لوستو اړ کیږي. کله ـ کله بدیعي جوړښتونه د شاعر د فکر په ښه رسونه کې ډېر ګټور تمامیږي، لکه د طباق الاضداد جوړښت یا نور چې عبدالرحمن بابا په خپل شعر کې ترې ډېره ګټه پورته کړې ده. دلته یې د څو بدیعي جوړښتونو بېلګې راوړو:

تقابل

نابینا په خپله سیمه کې بینا وي
بینایان په پردي ملک شي کر و کور
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۷).

تضمین

دا څواب رحمن هغه کا چې دولت وي
((که دلبر د دیدن می پیاپی راکه)).
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۳۹).

ارسال المثل

څمکه هغه سوزي هر چې اور ورباندې بل وي
روغه خلقه شوه د رنځورو تماش بینه
( عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۶).

ګڼه

څکه سپینې شوې اول د حباب سترګې
چې له بعضه په دریاب کې چوي تڼاکه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۵).

توکل مې لاس پښې سره کړه په نکریزو
چې په ځای یې کښېنولی یم قرار
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۶).

ساده انځورونه راوړل

لاس پر سر په سینه ایښی و هر چا ته
همدغه دی شرافت په دا دنیا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۶۱).

د چا تاج زرین په سر تر ملا خنجر وي
د چا پنډ په سر په ملا تومبلی لور
څوک د آس د پاسه سور توغ د وړاندې
څوک ږیر کلی ګرځاوه شي په خر سور
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۰۷).

سره په وینو د سرو ګلو په څېر ځانګي
هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۹).

طباق الاضداد

ما دا ستا جورو جفا دي قبول کړي
ولې نشي د ژړا په ځای خندا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۶۵).

مطرفه تجنیس

هسې مست یمه د شونډو په شراب
چې به نه وي بل دا هسې مست خراب

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۳).

نامرتب لف و نشر

کجې زلفې کج آبرو لکه چې ستا دي    نه لړم شته نه ماران دا هسې شوخ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۹).

جمع

دا همه واړه عاشق لره پیدا شو    که تهمت که ملامت دی که پېغور
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۶).

حسن طلب

که مې و نمانځي ساقي په یوه جام    تر دا هورته به نور څه وي احترام
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۳).

استخدام

هم په شان د تورو زلفو پرېشان وي    هر چې کاندي انتظار د تورو زلفو
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۹).

ایهام

که یو ځله توري زلفې کړې پرېشانې    خاکستر به په چمن کې کشمالو کړې
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۹۷).

تصدیر

کینه بده ده بېشکه جنگ حرام دی    نه له نفس و له شیطان سره کینه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۴۳).

اغراق

په توسن د فلک زین کاندي له نازه    دا هلال یې په ځای را شي د رکاب
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۷۹).

**۳. ۴. ۱. ۱. ۵. ۴. قافیه**

دعبدالرحمن بابا په دیوان کې د قافیو ډېرې ډولونه راغلي دي چې دلته یې یو بیت د چستې قافیې او یو بیت د موسسه قافیې راوړم او یو نیم هغه بیت چې د وزن او قافیې د اړتیاوو له مخې یې د یوې نیمې کلمې په جوړښت کې لاسوهنه شوې ده.

چسته قافیه

کـه لــه مخــه یــوه خــوا کــا حجابونــه          خـــدای بـــه ورکـــا و خوبـــانو ثوابونـــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۶۲).

مقیده قافیه

زغـــره وا غونـــده مـــلا وتـــړه د جنـــگ          دغـــه پســـه معرکـــه کـــوه د ننـــگ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۲۳).

په قافیه کې لاسوهنه: د (کوه قاف) د کلمې (ف) پر (ب) بدلول.

چـې یـې ولیـد دا سـتا حسـن بـې حسـاب          لـه دې قصـده تـاو پیـدا شـو د آفتـاب
مه خورشید چې دې ښایست پورې شرمېږي          ځکـه مـخ پنـاه کـوي تـر کـوه قـاب
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۴).

### ۳. ۴. ۱. ۲. محمدیونس‌خان‌موسی‌خېل

محمدیونس‌خان‌موسی‌خېل چې په یونس خیبري هم مشهور دی د نورمحمدخان‌موسی‌خېل زوی دی، نـور محمد خان د کسي له غره څخه خیبر ته راغلی و او همدلته یې استوگنه لره. محمد یونس په پېښور کې علم وکړ او ور سره یې د عبدالرحمن بابا مستقیمه شاگردي وکړه. د یودېرش کلنۍ پر وخت یې خپل دېوان درلود. شعر یې ساده روان او له هنري معیار برخمن و، د محمدهوتک د تره د زوی په خبره چې په یودېرش کلنـۍ کـې یـې پـه خیبر کې ورسره مېلمه شوی و نو د زېږېدو نېټه یې (۱۰۹۹هـ) څرگندېږي. (هوتک، ۱۳۳۹ل، ۱۱٦).

محمد یونس خان د عبدالرحمن بابا د شعر په تړاو وایي:

لـه رحمانـه فـیض یـاب عبـدالرحمن شـه          چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه
پـر لـذت شـعر بـه څـوک کانـدی یونسـه          چې په مرگ ځنې خاموش عبدالرحمان شه
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۱۴).

هېوادمل یې د سبک په تړاو لیکي: ((زموږ ادبپوهان یونس د رحمان بابا په مسـتقیمو شـاگردانو کـې حسـاب کړی دی خو ادبپوهان عقیده لري چې یونس د رحمان بابا داسې شاگرد دی چې په خپلو رنگینو اشعارو سره یې هنري معیار کله تر استاد اوړي.

د یونس په شعر کې د رحمان بابا د شعر رواني او عام فهمۍ اثـرات هـم شـته خـو د دې ترڅنـگ ډېـر نـازک خیالونه هم پالي. د ده شعر د هنر او ښکلا په ټولو ښېگڼو سمبال دی.))(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷٦ او ۱۷۷).

د پورته نظر تایید داکتر محمد زبیر حسرت ( درحمان بابا فکري مکتب) په اثر کې راوړی چې دلته یې راوړل اړین بولم: ((د یونس د شاعرۍ رنگ د رحمان بابا مکتب فکر ته زیات نژدې دی چې د موضـوعاتو او اسـلوب تر مخه یې د رحمان بابا د بیان طرز خپل کړی دی او په دیوان کې یې ډېـرې داسـې غزلـې مونـدی شي چـې د رحمان بابا په زمکو ویلی شوې دي.))(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۴۹).

سر محقق عبدالله بختانی خدمتگار ليکي: ((يونس د رحمان بابا مستقيم شاگرد او د هغه د ادبي مکتب او سبک پيرو او رسېدلی شاگرد دی. داسې هنرمند شاگرد چې هنر پال استاد حق لري چې پرې افتخار وکړي. يونس عموماً د رحمان بابا په شان ساده، روان او خوندور شعرونه لري چې په ځينو برخو کې شاگرد تر استاد اوړي.))(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، پنځلسم).

د پورته پوهانو د نظريو په رڼا کې ورځو د يونس ديوان ته او په مستنده بڼه د هغه د سبک ځرنګوالی يې د بيتونو په راوړو خوندي کوو.

### ۳. ۴. ۱. ۲. ۱. محمد يونس خان د شعر سبکي ځانګړنې

د محمد يونس په ديوان کې ډېری ځانګړنې د عبدالرحمن بابا د سبک دي، په دغه برخه کې د موضوعګانو له يو شان والی څخه تېرېږو تاسې کولای شی د محمد يونس په دېوان کې يې ولولی. د ځانګړو کلمو او ترکيبونو د ګډون څو بېلګې به يې د لا ښې شرحې لپاره راوړم خو ځينې ځانګړنې د ګوتو په شمېر د ده خپلې هم شته، لکه:

۱. د ډېرو معماوو راوړل: دی په دغه برخه کې تر هر چا ډېر برلاسی دی او بده نه ده چې (د معماوو شاعر) په نوم يې و نوموو. په لاندې بيت کې يونس خپل نوم د معمی په بڼه راوړی دی:

څو په نيم لب يې نمک اخيستی نه دی
د يونس نمکي اسم پرې حرام شه
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۹۴).

۲. په شعر کې يې د کسي غره د ګړدود اغېز شته.

۳. د ديوان پيل يې منظومه سريزه ده.

۴. د بديعی جوړښتونو له مخې (اقتباس ادبي جوړښت) ډېر راوړي. کوښښ يې کړی دی چې ډېری بديعي جوړښتونه راوړي چې زما د څېړنې له مخې يې يو جوړښت د سيمي او عربی ژبې يوه ادبي کره‌کتونکي هم نه دی راوړی چې ما پر ي د (څلورمخي) جوړښت نوم کېښود. (د بديع فن او پښتو شاعری) په اثر کې يې لوستلای شئ.

۵. د قافيو د کلمو په غوراوي کې تر نورو شاعرانو دی ډېرې عربي کلمې کاروي چې له دغې مخې يې يو څه شعر د عامو وګړو له پوهې څخه لوړ کړی دی.

چې په قصد درومي له لويې لارې کج
نه پوهېږم چې اعمی يې که اعرج
د تقوا بانو(مېرمن) دې نشته په درون کې
د ريا پردې دې پروتې پر هودج (ډولی)
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۵۹).

### د ګرامر له مخې

تنګسه کلمه تنګڅه لیکي، ثېښته ( څېښته ) لیکي.

پــه تنګڅــه د یــونس ملــه شــه　　　شـــــــــهیدان د کـــــــــربلا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۵).

بنــده څېښــته د څښــتن و در تــه وکـړه　　　چــې آزاد شي پــه دنیــا او پــه عقبــا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۷).

**۳. ۴. ۱. ۲. ۲. عبدالرحمن بابا او محمد یونس ګډې سبکي ځانګړنې**

د محمد یونس هغه ځانګړنې چې د عبدالرحمن بابا له شعر سره یې نژدې کوي، څو بېلګې یې دلته راوړم:

۱. د تصوف ګړنې راوړي:

وحـــدت ملـــک د قـــراری　　　پــه کــثرت کــې چــل چــلا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۵).

۲. د بېلتانه په وجه وار خطا کېدل:

عبدالرحمن بابا

لــه احوالــه یــې رو رو پوښــتئ یــارانو　　　بېلتانـــه د رحمـــن وار دی خطـــا کـــړی
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۳۲۷).

محمد یونس موسی‌خېل

ســم څــواب را کــاوه نــه شي لــه هیبتــه　　　بېلتانـــه هســـې خطـــا کـــه وار زمـــا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۷).

د کلمو تکرار

ځــي پــه شــینه شــینه پــه ښـوه د دلــبری　　　شاباش شاباش شابش په دا هسې خوش رفتار ستا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۸).

عشق ته کار ویل

بې له عشـقه کـه بـل کـار کـړې　　　تـــــرې توبـــــه د نصـــــوحا
بــې لــه عشـقه نـور څـه مـه کـړه　　　ابتـــــدا تـــــر انتهـــــا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۱).

اختیار

د اختیار جلب مې درکه ستا پـه لاس کـې　　　و هــر لــور تــه چــې مــې بیــایې رضــا ســتا

(موسی خېل، ۱۳).

مخکې تر مړينې مړه کېدل

چې د عشق په چشمه وکه اودس ما پـه ځـان وکـړه جنـازه پـه هـوس مـا
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۴).

ځان د دلبر سپی کول

عبدالرحمن بابا

اوس عطـاء د آدميـت را بانـدې وشـوه چې رحمن د هغه يار د کوڅې سپی شوم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۳۳).

يونس

په خپل لاس به قلاده په خپل گردن کړم کـه دلـبر کـه د سـگانو پـه قطـار مـا
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۱٦).

خپل يار غوره گڼل

تجربـه کـړه دلـبران د هـر ديـار مـا يـو ونـه ليـده پـه څېـر د هغـه يـار مـا
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۱٦).

دنيا او نکاح

عبدالرحمن بابا

د دنيـا نـاوې پـه عقـد کې ديـن غـواړي ای رحمانـه ځـان تـرې ژغـوره لـه نکاحـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۷۹).

يونس

چې قـرار صبر پـه مهـر کې تـر يـوسي د دنيــا نــاوې هالــه شي پــه نکــاح
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ٦۰).

له فلک څخه شکايت

عبدالرحمن بابا

هزار جام و صراحي دې فلک مات کړل څـو بـه گرځـي پـه دا دور جـام زمـا
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۷۴).

يونس

د فلـک لـه جـوره ځـای د گيلې نشـته پـه دانـه صرفـه لـه کومـه کانـدي ژرنـده
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ٦۹).

عنقا یادول

عبدالرحمن بابا

هر چار چې تر وخت تېره شي عنقا شي　　عنقـا نـه دی پـه دام شـوی د هیچـا

یونس

مـروت چېرتـه لیـدی نـه شي یونسـه　　پـه جهـان یـې نامـه شـته لکـه عنقـا
(موسی‌خېل، ١٣٥٦ل، ١٩).

د عبدالرحمن بابا پر ځمکه

عبدالرحمن بابا

ښـه ده ښـه ده دا دنیـا　　چـې توښـه ده دعقبـا
(عبدالرحمن بابا، ١٩٨٧ز، ٦١).

یونس

پـه دوه ملکـه د مـولا　　کـه دنیـا ده کـه عقبـا
کـه پیـدا دي کـه فنـا دي　　لا چـې راشي پـه دنیـا
(موسی‌خېل، ١٣٥٦ل، ١٩).

عبدالرحمن بابا

چېرته د یار شونډې چېرته غم د دل و جان　　چېرته کوتي لال او چېرته لعل د بدخشان
نشـي د خانـو د ملنگـو سره کـلي　　چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمن
(عبدالرحمن بابا، ١٩٨٧ز، ٢٦٧).

یونس

چېرتـه عاشـقي چېرتـه طلـب د زرو سـیم　　چېرتـه دېوانـه چېرتـه پندونـه د حکـیم
کوم دې نزدیکیت دی له دلبر سره یونسـه　　چېرته خوار ګدای چېرته بادشاه د هفت اقلیم
(موسی‌خېل، ١٣٥٦ل، ١٥١ او ١٥٢).

عفت نه مراعتول

عبدالرحمن بابا

پــــه کوڅـــــه د دنیــــادارو        گوخـــوري کـــا لکـــه خـــر
اورنگزېـــب هـــم یـــو فقـــیر و        چـــې ټـــوپۍ یـــې وه پـــه سر
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۹۱ـ ۹۳).

یونس

زورور که تـر خولـه غـول خوشـایي لـوني        همنشـــین یـــې خوشـــامد کـــه چـــې وه وا
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۲۸).

تواضع

عبدالرحمن بابا

ژوندی ځان به ځمکه خښ کړه لکه تخم        کـه لـویي غـواړې د خـاورو پـه مقـام شـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۲۴).

یونس

پــه مېــوه بــه بهــره منــد شــې لکــه زړی        کــه یــې ځــان کــه لــه تــراب سره تــراب
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۳۲).

تفضیلي تشبیه او د خوبانو کلمه راوړل

عبدالرحمن بابا

مخ ته که دې نمر وایم د نمر زلفې تـار تـار نشـته        سروې که دې قد بولم د سروې یون رفتار نشـته
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۳).

یونس

سـپین غاښـونه یـې تـر دره پـر قیمـت دي        د خوبـانو زنـې زېـب کانـدي تـر سـېبه
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۳۲).

تصوفي سیمبول

عبدالرحمن بابا

که مې چېرې لاس دا ستا په بوسـه بـر شي        دا نعمت بـه د جنـت پـه خـوان ور نـه کـړم
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۲۵۵).

یونس

که یې زوړ په بوسه ځوان شي څـه عجـب        که مهـروی پـرې عاشـقان شي څـه عجـب
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۳۴).

لاندې بيتونه ټول د يونس له دېوان څخه دي چې د عبدالرحمن بابا سبکي توکي يې پکې راوړي دي.

اوښکې

چې د غم ورېځې پرتې يې پـه خـاطر وي | کـه د اوښـو يـې بـاران شي څـه عجـب
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۳۴).

د رقيب غندنه

پـه مسـند کـه تـر مـا کښېني بـر رقيـب | تـر سـړيه بهـتر نـه شي خـر رقيـب
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۳۵).

پر باز او شاهين همای ته غوراوی ورکول

لکـه بـاز د قـام پـه غوښـو مـه څرېږه | د هــمای پــه تــرا شــه بلنــد همــت
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۴۲).

له دنيا کوچ

نن په دا ديـار کې زمـا حـال د مسافر دی | بانـگ د جـرس اورم زمـا څـه د اقامـت
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۴۴).

تعلی

چــې يــونس د زړه د بحـره در وکــاږي | هســې در دې پــه ويــل راوړي غــواص
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۵٦).

حلقه بگوش

زه يـونس بـه د ريبـار حلقـه بگـوش يـم | کـه يـې نښـه سـتا د پـوزې لونـگ راوړ
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۰۰).

هجران

چــې پيــدا لــه اشــنايی سره هجـران شـه | څکه داغ مې پـه خـاطر بانـدې ارمـان شـه
(موسی‌خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۱۳).

د دلبرو خانه زاد

که مې پلوري پـه نخـاس عـذر مـې نشته | زه يــــونس د دلبرانــــو خانــــه زاد يــــم

(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۱۵۵).

بېد مجنون

لکه بېد مجنون سر په کښته ناست یم　　　په زارۍ سره د خپل مطلب په خواست یم
(موسی خېل، ۱۳۵٦ل، ۱٦۰).

د یونس په دېوان کې داسې نورې ځانګړنې شته چې موږ یې د عبدالرحمن بابا د ادبي ښوونځي سبکي توکي ګڼلای شو.

**۳. ۴. ۱. ۳. مهین خلیل**

مهین د پېښور د خلیلو د قبیلې عالم شاعر و، تصوف یې هم تجربه کړی دی، د کبرویه تصوفي لاره کې یې له شیخ ابراهیم خلیل څخه لاس نیوی کړی و. ژوند یې تر (۱۱۴۰هـ) پورې یقیني دی. مهین خلیل خپل دېوان لري خو تر اوسه نه دی چاپ شوی، خطي نسخه یې په هند کې خوندي ده. مهین پر دېوان سربېره تذکرة الابرار، ۱۱۲۷هـ)، دوې الفنامې چې یوه یې په( ۱۱۲۸هـ) کال د بوللې په څېر کې او بله یې په (۱۱۴۰هـ) کال د څلوریزو په څېر کې منظوم کړې ده.

د نوموړي په شعرونو کې د غزل، بوللې، مثنوي، څلوریزې او نور شعري څېړونه لیدل کېږي. د مهین په آثارو کې حکایتونه د ( فریدالدین عطار له آثارو) د نخشي له ( توتي نامې) څخه اخیستل شوي دي، د رابعه بلخي او بکتاش کیسه یې هم په پښتو منظوم کړې ده. د موضوع له مخې پر کیسو سربېره عشقي، دیني، ټولنیز او عرفاني خواوې څرګندېږي. پر ټولنه کره‌کتنه یې له لاندې غزلې څخه زبادولای شو:

پښتانه چې خوانده شي ملکان شي　　　چې په شرم په ننګ ور شي هلکان شي
که په درست کلي کې یو سړی څټ غونډ که　　　له غوسې نور کچری لره روان شي
اربابان تر ملکانو بې انصاف دي　　　تر حاکمه پرې واړه ظالمان دي
په درمند کې چې غله وي واړه واخلي　　　باقي پاتو په دهقان وستکاران شي
څوک له وېرې ورته غږ کولای نه شي　　　پرې تاوېږي څو خبر پرې قرضداران شي

مهین خلیل د عبدالرحمن بابا د سبک پلیونی دی، د عبدالرحمن بابا د شاعرۍ په تړاو لیکي:

د رحمان سړبني په څېر به نه شي　　　که ختک له څرمه واړه شاعران شي

دی د خپل ساده شعر په تړاو وایي:

شاعران د غوري د خښې ډېر دي　　　په ساده ژبه ویل مهین خلیل که

او بیا د خپل شعر د ارزښت په تړاو لیکي:

مـرده گـان بـه آفـرین وربانـدې وکـه          د مهـین غـزل کـه و وایـې خوشـحال تـه

نوموړی ساده شعر وایي او په همدې بنسټ د عبدالرحمن بابا په پلیونو کې درېږي. (هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۷۷ ــ ۱۷۹).

**۳. ۴. ۱. ۴. معزالله مومند**

معزالله خان مومند د عبدالله زوی د محمود خان نمسی په دولسمې هجري پېړۍ کې د پېښور په کوټله محسن خان نومي ځای کې زېږېدلی او د هماغه ځای ارباب و.

ملک معزالله خان مومند د خپل پېر د پښتو منظوم ادب پر شعري هنر د بشپړ ځواک لرلو لـه مخې ځـانګړی مقام لري. نوموړی پر پښتوشاعرۍ سربېره په اردو او فارسي ژبه هم شـاعري کـړې ده او پـه دغـو دوو ژبـو کـې د (افغان) تخلص د ځان لپاره راوړي. د پښتو شعر یې د غزل، مربع، مخمس، مسـدس او معشـر پـه شـعري ځېلونـو کې کړې ده او په فارسي او اردو کې یې پر غزل سربېره مسدسونه هم لیکلي دي. په فـارسي شـاعرۍ کـې یـې د واصل، صایب، طالب، ناصرعلي او حافظ شېرازي په بیتونو خپل شعر تضمین کړی دی. (مومند، ۱۳۹۱ل، ک).

هېوادمل لیکي: (( د ده پښتو دېوان درې ځله چاپ شوی دی او په دیوان کې یې د غزلـو برخـه درنـه ده. نـور شــعري ډولونــه یــې هــم پــه دېــوان کــې شــته، دی د رحــمان بابــا او د ده شــعر تــه ډېــر معتقــد ســړی ښکاري.))(هېوادمل،۱۳۷۹ل، ۱۷۹).

د معزالله خان مومند دسبک په تړاو زبیر حسرت لیکي: (( معزاللـه خـان مومنـد د رحـمان بابـا درسـت دیـوان لوستی دی او دا هم د دې خبرې ثبوت دی چې رحمان بابا خپل کتاب (دیوان) په خپل ژوند جوړ کړی و. هغه نه یوازې د رحمان بابا په رنګ کې شاعري کړې ده، بلکـې د هغـه د غزلـو، بحرونـو او زمکـې یـې هـم د خپلـو غزلونو دپاره غوره کړي دي.))(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۳۲).

د نوموړي د سبک په تړاو همېش خلیـل لیکـي: (( ملـک معزاللـه خـان مومنـد چـې پخپلـه شـاعرۍ کښـې د رحمان‌بابا سره د خپل عقیدت کومه څرګندونه کړې ده، هغه د یو مقصد پـه طلـب د دواړو پـه فطـري او فکـري یووالي ګواهي لي او رحمان بابا نه د ډېر متأثر کېدلو وجه یې د هغه د مشاهدې او بیان د شګفتګی په مرتبه کښې د هغه سره تر یوه حده نزدیکت او مشابهت دی.))(مومند، ۱۳۹۱ل، ک).

په خپله معزالله خان مومند د عبدالرحمن بابا د عقیدت پر وخت وایي:

د تمـــامې پښـــتون خـــوا لـــه شـــاعرانو          معزاللـــه عبـــدالرحمان دی منتخـــب

(مومند، ۱۳۹۱ل، ۲۴).

یا

کـه د شـعر کرامـت لـه چـا نـه غـواړې          معزاللـه د رحـمان شـعر کرامـت دی

(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۳۵).

**۳. ۴. ۱. ۴. ۱. د عبدالرحمن بابا او معزالله د شعر موضوعي ګډون**

د موضوع له مخې د معزالله خان مومند شعر د عبدالرحمن بابا له شعر سره ډېر نژدې ښکاري او هم يې خپله سادګي، رواني او سلاست ساتلی دی چې دلته يې په پرتليز ډول ځو بيتونه راوړل اړين بولم.

عبدالرحمن بابا

چې لوګی مې په سر چتر دونهه تخت دی نن او رنګ د زماني زما غلام دی
( حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۳۵).

معزالله خان

چې لوګی يې د دونهې شي په سر تاج بادشاهان د زمانې يې شي محتاج
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۲۹).

عبدالرحمن بابا

په صورت کې اخرين دی پيدا شوی په معنی کې اولين دی تر هر چا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۶).

معزالله

په ظاهر کې اخرين دی پيدا شوی په باطن کې تر ادم دی اولا
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۳۳).

عبدالرحمن بابا

د رحمان و سوزان شعر ته حيران يم چې يې اور بل شوی نه دی په دېوان
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۵).

معزالله

و دې خپل آتشين شعر ته حيران يم چې يې پورې نشو اور په عبارت
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۲۷).

دمعزالله خان مومند دا سې نور ډېر بيتونه بېلګه کولای شو چې د عبدالرحمن بابا د بيتونو او فکر پر بنسټ يې منظوم کړي دي.

### ۳. ۴. ۱. ۴. ۲. د معزالله خان مومند په شعر کې د عبدالرحمن بابا سبکي توکي

۱. سادګي او رواني

تکبر مه کړه په زور او په دنیا — په دولت په دنیا مه څه سر هوا
لا په فکر د نیستی نه یې مغرور یې — که د طوق د غاړې وې د ګریوان لا
په ښکنځل او په وهل نه مانده کېږې — د دنیا په تولول شوې بې حیا
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۴).

۲. د معزالله مومند او عبدالرحمن بابا تر منځ د موضوعګانو تړون

شوم سړی د خدای دښمن دی باور وکړه — دا خبره درته وایم په رښتیا
د سخیانو ځای بهشکه چې فردوس دی — که اعلی وي که اوسط وي که ادنا
عاقبت د واړو ځای دی تورې خاورې — که بادشاه دی که امیر دی که ګدا
لکه باد هسې تېرېږي قرار نه کا — عمر نه کا له هېچا سره وفا
نن چې وینې دا ودان ودان ښارونه — زمانه به یې صبا کاندي بېدیا
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۵).

۳. د وزن سمون

هسې مست یې په دنیا — چې پروا نه کړې په چا
په غرور کې هسې کښېنې — له عالمه بې پروا
تکبر مه کړه که ښه کړې — دا دنیا ده بې وفا
نن د ستا سبا د بل ده — بل سبا ده د بل چا
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۹).

۴. په عشق کې ننګ او شرم ته شا ګرځول

ای ناصحه پس له دې نصیحت مه کړه — څه غرض په نام و ننګ و عار زما
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۲).

۵. د اشنا رضا ته غاړه ایښودل

معزالله زه به اوس څه خپله رضا کړم — چې رضا ده د آشنا رضا زما
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۴).

۶. ترک د ښکلو لپاره سیمبول راوړل

د اسمان شمس و قمر معزالله څه کړم — مخ د ترکو دی سپوږمۍ او نمر زما
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۹).

۷. زلفې له هندوستان سره تشبېه کول

د راتلـو تـرې د چـا نیـت دوبـاره نـه وي		تا چې دواړه تورې زلفې هندوسـتان کـړې
(ومند، ۱۳۹۱ل، ۱۲۴).

۸. اوښکې راوړل

معزاللــــه عمارتونـــــه مـــــې د صـــــبر		بـې بنیـاده شـو د اوښـو پـه طوفـان کښـې
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۲۸).

دواړه کسي مې په اوښکو کې روښـان دي		تـازه پـایي د نرگسـو گـل پـه نـم کـې
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۲۹).

۹. خوبان راوړل

چـــې گلونـــه د چمـــن ښایســـته وینـــې		دا یـې کـړی لـه خوبـانو حسـن پـور دی
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۱۳۳).

۱۰. تر حقیقي مړینې مخکې معنوي مړینه

ځـان پخـوا تـر مرگـه و وژنـه کـه مـرد یـې		معزاللـه ژونـدی بـه گرځـې پـه جهـان؟
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۸۱).

۱۱. وحدة الوجود فلسفه

معزاللـه سـترگې پیـدا کـړه کـه یـار وینـې		هـر طـرف تـه جلـوه‌گر دی یـار و تـا تـه
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۸۷).

۱۲. د رقیب بد ویل

معزاللـه چـې لـه رقیبـه نېـک امیـد کـړې		د وفـــا امیـــد کـــوې لـــه دېـــو و دده
(مومند، ۱۳۹۱ل، ۹۵).

په پورته ډول ډېرې کلمې، ترکیبونه، سیمبولونه او موضوعگانې د معزالله مومند په دېوان کې تر سـترگو کېـږي چې د عبدالرحمن بابا له سبک څخه یې د پلیونۍ څرکونه راڅرگندوي او له ډېرې شعرونو څخه یې که د معزالله مومند تخلص لرې شي نو لوستونکی به د عبدالرحمن بابا د شعر گمان پرې وکړي.

**۳. ۴. ۱. ۵. ۱. اخون گدا**

اخون گدا د احمد شاه بابا د پېر شاعر دی، د نوموړي ژوند تر (۱۱۷۲هـ) کال پورې یقیني دی. عالم سړی و، د (نافع المسلمین) تر سرلیک لاندې مثنوي یې هم لیکلې ده. په تصوف کې یې لـه نقشـبندیه سلسـلې سره تـړاو

درلو. په غزل کې يې د مينې او عشق د ستونزو ذکر راوړی دی. په شعر کې يې د تصوف نښې شته.(رضا، ۱۹۷۸ز، ۱۷۳).

اخون ګدا دعبدالرحمن بابا د سبک پلیونی دی. په دغه تړاو زبیر حسرت لیکي: ((یقیناً چې اخون ګدا د رحمان‌بابا د فکري مکتب شاعر او د هغه مقلد دی، بلکې ځان د رحمان بابا قایم مقام ګڼي.))(حسرت،۲۰۱۳ز،۱۳٦).

اخون ګدا په يو ويرنه کې چې د قايم خان بنګش پر مړينه يې منظوم کړې ده وايي:

زه ګدا يې په خپل ځای باندې قايم کړم | له جهانه چې شاعر عبدالرحمان لاړ
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۰).

**۳. ۴. ۱. ۵. ۱. د اخون ګدا او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون**

ډاکټر زبير حسرت يې په خپل اثر (د رحمان بابا فکري مکتب، ۲۰۱۳ز) کې څوغزلې د عبدالرحمن بابا له غزلوسره د منځپانګې او سبکي روانۍ له مخې سره پرتله کړې دي چې دلته يې راړل اړين بولم.

عبدالرحمن بابا

کل جهان دمحمد په مخ پيدا شه | محمد دی دتمام جهان ابا
په صورت که اخرين دی پيدا شوی | په معنی کې اولين دی تر هر چا

اخون ګدا

دواړه کونه يې پيدا د ده له روی کړه | دواړه ملکه يې خوشبو د ده په بوی کړه
په ظهور د رسالت کې که وروستی وه | په معنی کښې تر همه عالم وړومبی وه

عبدالرحمن بابا

چې په سترګو کې يې خار وي څه به خوب کا | چې په زړه يې غم د يار وي څه به خوب کا
خوب له ياره سره هم د عاشق نه شي | چې يې يار په بل ديار وي څه به خوب کا
په دنيا کښې خوب هغه کا چې نادان وي | هغ ژوی چې هوښيار وي څه به خوب کا

بل ځای وايي:

هغه ژوی چې مين وي څه به خوب کا | چې مجنون او کوهکن وي څه به خوب کا
عاشقي ده خدای له اوره پيدا کړې | چې په اور کښې يې وطن وي څه به خوب کا

اخون گدا هم دغه خيالونه پر همدې ځمکه د قافيې په بدلون راوړي دي:

چې له ياره څوک مهجور وي څه به خوب کا
چې په هجر کې رنځور وي څه بـه خـوب کـا
خوب خنـدا پـه خوشـحالی پـه بې غمـی شي
چې پـه دار لکـه منصـور وي څـه بـه خـوب کـا
د بخـري پـه تـاو خـوب د سـړي ورک شي
چې په زړه کې يې تنـور وي څـه بـه خـوب کـا
خوب به روغ سړی کوي چې رنځور نه وي
چې په يار پسې چور چور وي څه به خـوب کـا

عبدارحمن بابا چې د درويشانو پر تړاو شعر ويلی دی اخون گدا هم خپله طبعه پرې ازميلې ده:

عبدالرحمن بابا

پـه دغـه لاره بـه ور يـې شي و خـدای تـه
که څـوک يـون کانـدي پـه لار د درويشـانو
هسـې گـرم بـازار بـل پـه جهـان نشـته
لکـــه گـــرم دی بـــازار د درويشـــانو

اخون گدا

خدايـــه راکـــړې محبـــت د درويشـــانو
چـې همېش کـوم خـدمت د درويشـانو
په دنيا که څوک جنـت لـه خدايـه غـواړي
ور تـــه و ښـــايه خلـــوت د درويشـــانو
ای گدايـه څـو ژونـدی پـه دنيـا گرځـې
تـــل کـــوه ثنـــا صـــفت د درويشـــانو
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۳۷ ــ ۱۴۱).

په پورته توگه تاسې کولای شئ د عبدالرحمن بابا او اخون گدا د سبک د پليونی کچه ځانته څرگنده کړئ.

**۳. ۴. ۱. ٦. حافظ الپوري**

حافظ الپوري چې څېړونکو يې نوم معظم ښودلی دی د سوات د کاڼا غوربند په الپورې کې اوسېده. د ژوند زمانه يې مورخينو د احمد شاه بابا پېر (۱۱۶۰ ــ ۱۱۸٦هـ) ښودلی دی. نوموړی د شعر ديوان لري چې څـو ځلـه چاپ شوی دی. څېړونکو حافظ الپوري هم د عبدالرحمن بابا په سبک کې شـامل گڼـي.(هېوادمـل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۰).

د حافظ الپوري د شعر موضوعگانې د عبدالرحمن بابا په څېر (عشـق، تصـوف، پنـد، وعـظ) او نـور دي. پـه همدې تړاو نوموړی د عبدالرحمن بابا په سبک کې ورگډ شوی دی. د شعر ژبه يې ځينې وخت ساده او ځينـې وخت د عربي او پېچلو ترکيبونو له مخې ډېر فکر او سوچ ته اړتيا پيدا کوي، تاسې لاندې دوه بيته ولولی:

غم ستم هارب وو د عشرت نجم ثاقب وو
مـخ زيبـا طيـب وو مهيـا تقبيـل مسـاس تـه
صبرکشت باردارد وو ستاکړو وروځو منلووت کړو
کشـت نـه لـري زور پايـداري و تېـره داس تـه

د ستم معنی ظلم ، د هارب معنی تښتېدونکی ، د عشرت معنی خوشحالي ،د نجم معنی ستوری، د ثاقب معنی پړقېدونکی یا ځلېدونکی د زیبا معنی ښکلی د طیب معنی سپېڅلی ، د مهیا معنی تیار د تقبیل معنی ښکلول ، د مساس معنی لاس وهل ،د کښت معنی کرل شوی پټی ، د منډوت معنی لو شوی پټی او دداس معنی لور ده.

حافظ الپوري یار ته د ورنژدې کېدو او لاس وروړو د جرم د علت اسباب بیانوي او غواړي چې له خپل محبوب څخه د کړي کار معذرت وغواړي نو ځکه وایي: (( ظلم او غم راڅخه لرې و، د خوشحالی ستوری مې په ځلېدو و ، ښکلې او پاکه محبوبه زما لاس وروړلو ، نژدې کېدو او مخ ښکلولو ته تیاره وه نو زما صبر خو یو بارداره او میوه لرونکی فصل و او ستا د لور په شان کرو ورځو وریبه او تش وټ پاتې شه ،لکه څنګه چې فصل د تېره لور په وړاندې څه ځواک نه لري همدا شان زما صبر هم ستا د حسن تاب رانه ووړ نو ځکه راڅخه ستا د ښکلو لو او لاس در وړلو ګستاخي وشوه.))

پورتنی شعر د تخیل په بنسټ ډېر اوچت دی خو د نورو ژبو د کلمو په راوړلو یې د فصاحت له درجې څخه غورځولی دی او هغسې خوند څوک ترېنه نشي اخستلای ، چې څنګه لازم دی. ( همکار، ۱۳۹۷ل، ۲۲ او ۲۳).

### ۳. ۴. ۱. ٦. ۱. ۱. د حافظ الپوري او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

عبدالرحمن بابا که د عربي او فارسی ژبې کلمې هم کارولي یا یې نوي ترکیبونه په مخه وړي دي خو شعر یې د ولس له عامې پوهې څخه نه دی لوړ کړی او د فصاحت ډېری ارونه یې مراعات کړي دي. دلته ځینې بیتونه د عبدالرحمن بابا او حافظ الپوري له دیوانونو را اخلو چې یو له بل سره یې سبکي تړاو ترې څرګندیږي:

عبدالرحمن بابا

| | |
|---|---|
| دا سپوږمۍ چې نه یې سر شته نه یې پښې شته | په کوم حسن به له تا سره سمیږي (عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۳۳۹). |

حافظ الپوري

| | |
|---|---|
| څوک وایي شپوږمۍ د محبوبا له مخه سمه ده | نه لري مژګان زلفې سپوږمۍ په خوبۍ کمه ده (کاکاخېل، ۱۹۸۷ز، ۷۳). |

عبدالرحمن بابا

| | |
|---|---|
| بې رهبره یون په لار د هر چا ګران دی | دلته بویه چې پیدا کاندي رهبر څوک (عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۹۱). |
| چې په مخ کې یې رهبر مجرب نه دی | که خود رو تر ګړنګ پرېوځي عجب نه دی (الپوري، ۱۹۹۸ز، ۱۰۲). |

عبدالرحمن بابا

چې بې تا يې په زړه بله هوا گرځي تر مقصوده به و نه رسي دوه زړي
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۰۱).

حافظ الپوري

چې اجتناب له غيرو چارو نه په ژوند و نه کړې سفر دې گران دی د سفر په لار به بند و نه کړي
(الپوري، ۱۹۹۸ز، ۲۹).

عبدالرحمن بابا

د ازل په ورځ د برخو جواري وه ای رحمانه چا بايلوې چا گټلې
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۰۴).

حافظ الپوري

د ازله برخې راغلې خورې نغښتې د چا نېک په طالع شوي د چا زشتې
په قسمت يې ځوک شاهان ځوک گدايان کړه هغه ورځ گټل بايلل نه وو په پښتې
(الپوري، ۱۹۹۸ز، ۲۷).

**۳. ۴. ۱. ۷. نجيب سربندی**

نجيب د دولسمې پېړۍ شاعر دی، ژوند يې تر (۱۱۷۸هـ) کال پورې د لاندې بيت په استناد چې د خپل خوريه (محسن) په ويرنه کې يې راوړی دی يقيني دی:

زر سل کاله اته اويا د پاسه سن د هجر په دا وخت همره حساب شه
نوم په خوله د اديزو پس له دې ماخله ای نجيبه چې محسن خوريه تراب شه
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۱۰۸).

د سبک په تړاو يې خيال بخاري د (ديوان نجيب، ۱۹۷۲ز) پر سريزه د (ن) پر مخ، ډاکټر زبير حسرت د (درحمانبابافکريمکتب، ۲۰۱۳ز) اثر کې او هيوادمل په خپل اثر (د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی او منځنی دوره لومړی ټک، ۱۳۷۹ل) کې نجيب د عبدالرحمن بابا پليونی گڼلی دی چې زه هم د دوی د نظرونو تاييد کوم.

په خپله نجيب وايي:

د شعراوو سرحلقه عبدالرحمن دی زه نجيب د ده د شعر دامن گير يم
چې يې شعر لا مثل دی باندې ښايي که رحمن وايي په شعر عالمگير يم
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۱۵۱).

بل ځای وايي:

گـوره هسـې بـې پـروا زمـونږ سـبحان دی
چـې محتـاج نـه د گـدا نـه د سـلطان دی
څـوک بـه ودروي يـوه کوټـه بـې سـتنو
اودرولـی بـې لـه سـتنو ده آسـمان دی
ډېـر قـوي توانـا عـالم شته پـه دنيـا کـې
ولـې هـر قـوي توانـا ده تـه نـاتوان دی
هـر ممکـن د زمـانې معيـوب منقـوص دی
مگر بې له ده چې بې عيب و نقصان دی
هسې څوک دی چې بـه اور کانـدي گلونـه
ده اتـش پـه خليـل کـړی گلسـتان دی
څـوک دې ورسـوي رزق و يـو څيـز تـه
دی رازق گـوره همېش د کـل جهـان دی
چې شريـک ماننـد د ده پيدا کـوي څـوک
د هغـو سـړو مسـکن مـاوا نـيران دی
څـوک خـبر نـه دي د ده لـه حقيقتـه
پـرې راوړی ناديـده خلکـو ايمـان دی
نـه دی جسـم نـه جـوهر دی نـه عـرض دی
منـزه دی لـه دې شـک لـه دې گـمان دی
ده عـالم دی پيـدا کـړی پـه څـو قسـمه
او تعظـيم تکـريم يـې کـړی د انسـان دی
څوک و بام ته بې پـای طاقو ختـی نـه شي
ده بېـولی محمـد تـر لامکـان دی
هسـې څـوک صـفت د ده نـه شي کـولی
لکه ده چې صفت کـړی د خپـل ځـان دی
مـا نجيـب هـم پـه دا طـور غـزل و وې
کـه ويلـی دوېـزي عبـدالرحمن دی
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۲۷۳).

### ۳. ۴. ۱. ۷. ۱. د نجيب سربندی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

دلته د نجيب له ديوانه څو داسې بيتونه چې کلمې او مفهوم يې د عبدالرحمن بابا پـه ديـوان کـې بيابيـا راوړل شوی وي او د هغه په سبکي توکو اوختې وي راوړم:

۱. په عشق کې ننگ نه کول

ننگ ناموس و تـه دې شا کـه تـل تـر تلـه
تقاضـا کـه څـوک د وصـل لـه دلـدار کـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۳).

۲. خوبان

تـر هغـه بـه احمـق بـل پـه جهـان نـه وي
چــې پــه وصــل د خوبـانو اعتبـار کـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۳).

۳. د هجران يادول او غندنه

څوک به نوم د عاشقی په خوله وا نه خلي
کـه اول خـواري معلومـه د هجـران کـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۴).

لکـه زلفـې دې پرېشـانه پـه رخسـار دي
هسـې رنـگ کـه هجـر حـال پرېشـان زمـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۱۹).

۴. د مجنون بېد

دغـه هسـې زه پـه غـم كـې مـدام سـوزم لكـه تـل چـې شـورېده د مجنـون بېـد كـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۵).

۵. رقيب

چـې رقيـب بـولې عاشـق شـړې صـنمه پـه سـړي بانـدې د سـپي وكـه اعـزاز تـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۵).

٦. تركي

چـې د تركـو پـه رخسـار شـوم زه شـيدا سريكـار مـې شـه فريـاد افسـوس ژړا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۷).

۷. چاه زنخدان

زه نجيب چې ډوب په چاه ستا د زنخ شوم لـه دې چاهـه دى دشـوار وتـل زمـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۸).

۸. فلوس

راكـوي يـې كـه څـوک بـې جانـان زمـا پـه فلـوس نـه دى پـه كـار جهـان زمـا
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۱۸).

۹. د عبدالرحمان بابا د مرغانو ژړا او د نجيب د فلک ژړا

پرخـه نـه ده چې پـه شـبه لـه پاسـه ووری دا فلـک دى چـې زمـا پـه حـال ژړا كـا
(نجيب: ۲۱).

۱۰. قلب د قلوب په بڼه راوړل

تنورونـه دي تـل اور پكـې بلېـږي د عشـاقو كـه تـه وگـورې قلـوب
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۲۴).

۱۱. د كلمې تكرار

هغـه څيـز چـې مـزرى كـه گيـدړ مـزاج احتيـاج دى احتيـاج دى احتيـاج
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ۴۵).

۱۲. تعلى

شـاعران كـه واړه جمـع شـى نجيبـه و بـه نـه وايـي دا رنـگ بيـان لذيـذ
(نجيب، ۱۹۷۲ز، ٦٦).

په پورته ډول ډېرى شباهتونه د نجيب په ديوان كې موندلى شئ.

**۳. ۴. ۱. ۸. عبدالعظیم رانیزی**

عبدالعظیم د پلار نوم نه دی څرگند خو نیکه یې نورخان نومېږي، د پیدایښت کال یې د خپل مخمس څخه (۱۱۶۷هـ) ثابتېږي، دی وایي:

| | |
|---|---|
| د تصـــــنیف د مخمـــس واوره ســـامعه | سـن یـو زر دوه سـوه دري پنځـوس و وایـه |
| شپږ اتیا کاله مې تېر کړه په عـذاب کې | پـه خـواری پـه مشـقت پـه اضـطراب کـې |

له یوزرو دوه سوو دري پنځوسو څخه چې شپږ اتیا منفي شي، یوولس سوه اووه شپېته پاتې کېږي چې همـدا یې د پیدایښت نېټه کېږي. کېدای شي یو کال دوه نور هم ژوندی پاتې شوی وي. (حبیبي، ۱۳۹۱ل،۳۰۸او۳۰۹).

**۳. ۴. ۱. ۸. ۱. د عبدالعظیم رانیزی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي ترون**

پوهاند عبدالحی حبیبي نوموړی د خپل روان او بې تکلفه شعر له مخې نومـوړی د عبـدالرحمن بابـا د سبک پلیونی گڼي نور کره‌کتوني هم په همدې اند دي چې زه یې هم تاییدوم. نوموړی د عبدالرحمن بابا په تړاو وایي:

| | |
|---|---|
| د بابـــا عبـــدالرحمن مهمنـــد پـــه شـــانې | جوړ کړو ما د غم کتاب د مرگ لـه لاسـه |

عبدالعظیم په خپلو شعرونو کې څلور موضوعگانې ( عشق، سلوک، وعظ یا پنـد او دزامنـو مړینـه ) را نغـاړلي دي، پخپله وایي:

| | |
|---|---|
| دا ویــل زمــا بــه وي پــه څلــور قســمه | عشق سلوک دریېم په وعظ و نصیحت وي |
| څلـــورم بـــه مـــې لـــه درده د زامنـــو | څــه ویــلي د خفگــان لــه مصــیبت وي |

۱. عشق

| | |
|---|---|
| بــاري تــا چــې نــن لــه خیالــه | دواړه زلفـــي اراســـته کـــړې |
| گـــــوره دا را معلــــــومېږي | چې عاشق به خـوار خسته کـړې |
| چېـــرې نـــه عبدالعظیمـــه | چـې بیـا خولـه ورتـه پسته کـړې |

۲. پند

| | |
|---|---|
| چې یاري نه کړې د خدای مینې کړې نورې | معلومېږي چې د خدای پـه در کـې چـورې |
| چـې عمـل پـه خپـل ویـل نـه کـړې عظیمـه | ســـزاوار د هـــر عتـــاب د هـــر پیغـــورې |

بدیعی جوړښتونه یې هم په شعر کې شته دی، لاندې یې څو بېلګې راوړو:

طباق

کله ژاړم په افسوس کله خندا کړم          ګاه فقیر شم ګاه نواب په دا مرض

ارسال المثل

د ګور شپه چېرې د چا په کور کېږي          غم د چا په خوشحالۍ کله بدلېږي

مکرر تجنیس

چې مسکن زما دزړه شو د دلدار دار          بېلتانه را باندې راووړ په یو وار وار

اعنات

نن مې ګډه په صورت بیا زلزله ده          راپسې د مفسدانو غلغله ده
ما وې نن خو به مې پرېږدي برقراره          پرون ټوله ورځ مې کړې ولوله ده
که شرین دی نېشکر په نزد د خلکو          په نظر د عاشقانو تلنله ده
دا در نه دي چې به مخ زما ځلېږي          دا زما د سپینو اوښکو سلسله ده
(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۳۱۱ـ۳۱۳).

### ۳. ۴. ۱. ۹. میا نعیم متي زی

میا نعیم متي زی د محمد شعیب زوی او د محمد سعید لمسی دی، شجره یې تر شیخ متي بابا پورې رسي. د شعر هنګامه یې د شاه زمان په پېر (۱۲۰۷ ـ ۱۲۱۶هـ) ښه توده وه. نوموړی د پېښور د سیمو د خلیلو د سیمې اوسېدونکی و، په پښتو ژبه ترې شعري دیوان پاتې دی، خپل دیوان یې پر (۱۲۳۲هـ) کال بشپړ کړی دی، په دیوان کې یې غزلې، بوللې، مخمس او څلوریزې راوړې دي. د موضوع له مخې پکې عشق، عرفان او اخلاق پالل شوي دي. د شعر د هنري برخې حق یې هم اداء کړی دی او د پښتنو په ښو شاعرانو کې د درېدو حق لري. نوموړی د عبدالرحمن بابا د شعري سبک پلیونی دی.(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۱).

د دیوان د بشپړوالي نېټه یې له لاندې دوو بیتونو څخه لاسته راللې ده:

د حضرت له هجره تېر وو زما لاله          په تاریخ کې دولس سوه دوه دېرش کاله
د دوهمې خور د میاشتې شپږم شو          دا کتاب د خدای په فضل سره تم شو
(نعیم، ۱۹۶۴ز، ۱۵).

خیال بخاري د میا نعیم متي زي د سبک په تړاو د نوموړي د دیوان په سریزه کې لیکي: ((که د نعیم په دیوان یو عمومي نظر واچولی شي نو د رحمن بابا ساده، روان، او سنجیده او د پند و نصایح رنګ پکښې زیات بر څېره ښکاري.)) (نعیم، ۱۹۶۴ز، ۲۴).

میا نعیم متي زی د خپل شعر په تړاو وایي:

هسې شان نعیم په ساده شعر کې رنګین دی | نغښتی لکه تان وي د زربفتو پـه خامتا کې
(نعیم، ۱۹۶۴ز، ۳۱).

## ۳. ۴. ۱. ۹. ۱. د میا نعیم متي زی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي ترون

د عبدالرحمن بابا او میا محمد نعیم متي زي د سبکي تړاو په موخه څو بیتونه د کلمو، ترکیب او موضوع لـه مخې راوړم:

عبدالرحمن بابا

ای زمـــا د زړه آرامـــه راشـــه راشـــه | سرو قـــده ګـــل اندامـــه راشـــه راشـــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۵).

یا

چې یـې هېچېرې نـه مثـل نـه مثال شته | د هغـــو عطـــرو عطـــار دی رب زمـــا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۴).

نعیم

ای زمـــا د دل دلـــداره راشـــه راشـــه | سـنبل مویـه ګـل رخسـاره راشـه راشـه
چې خوشبوی شي پرې دماغ د چین د ترکو | د هغـــو عطـــرو عطـــاره راشـــه راشـــه
( نعیم، ۱۹۶۴ز، ۲۴).

عبدالرحمن بابا

څـه عجـب بلنـد مقـام دی د اخـلاص | چـــې جهـــان واړه غـــلام دی داخـــلاص
که له ځمکې و اسمان تـه خاتـه ګران دي | دا سـفر پـه یـوه ګـام دی د اخـلاص
بـې اخلاصـه حـلاوت د اسـلام نشـته | کـه اسلام دی خـو اسلام دی د اخـلاص
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۰۹).

نعیم یې په لړ بدلون سره وایي

هسـې رنګـې قـدر لـوی دی د اخـلاص | تېـر تـر عرشـه تـګ و پـوی دی د اخلاص
که له ځمکې و اسمان تـه خاتـه ګران دي | دا سـفر پـه تـګ و پـوی دی د اخـلاص
بـې اخلاصـه د اسـلام حـلاوت نشـته | کـه اسلام دی ګفتګـوی دی د اخـلاص
(نعیم، ۱۹۶۴ز، ۸۹).

د عبدالرحمن بابا يو بل غزل دی وايي:

هسې تله کاندي و گور ته ياران ژر ژر
لکه تله کاندي و کور ته کاروان ژر ژر

هسې ژر ژر مرگ به مونږه شتابي کا
لکه لو د باخه کښت کا دهقان ژر ژر

(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۵).

نعيم ليکي:

هسې درومي له جهانه احباب زر زر
لکه درومي په زور باندې درياب زر زر

مرگی هسې ياران زر زر له ما بيايي
لکه باد په هوا ځي په شتاب زر زر

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ٦٦).

عبدالرحمن بابا

چې مجنون په ځنکدن شه
زه يې پرې ښودم نايب

(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۸۲).

نعيم

معلومېږي چې نعيم په عاشقۍ کې
پاتې شوی له مجنونه دی نايب

(نعيم، ۱۹٦۴ز، ۴۷).

اوس به د بېلگې له مخې ځو هغه کلمې، ترکيبونه او سيمبولنه راوړو چې عبدالرحمن بابا کار کړي او نعيم په خپل شعر کې په پرلپسې ډول ځای ورکړی دی.

۱. شمس او قمر

ستا و حسن ته به څه رسي نور ښکلي
چې طواف بره راځي شمس و قمر ستا

(نعيم، ۱۹٦۴ز، ۳۳).

۲. پر دنيا باور نه لرل

که شمارم جور و عتاب د دې دنيا
نه را درومي په حساب د دې دنيا

عالمونه دي راځي پکې ډوبېږي
هسې رنگ دی لوی گرداب د دې دنيا

هر يو کار يې بې بقا هسې ښکارېږي
لکه کرښه وي په آب د دې دنيا

(نعيم، ۱۹٦۴ز، ۳۵ او ۳٦).

۳. صبح و شام

د گلرنگو د چمن په سرو گلونو
صبح و شام کړم عندليب غوندې غوغا

(نعيم، ۱۹٦۴ز، ۳٦).

۴. په وصلت کې د غم ځرگندونه

په وصال کې مې زياتېږي شر و شور لا
ستا بېلتون را باندې ولگوي اور لا

(نعيم، ۱۹٦۴ز، ۳۷).

۵. خوبان او افلاتون

پــه تــش بــاد د تــورور زلفــو د خوبــانو
شي زمــا د صــبر و هــوش لښــکر خــراب

لېــونی کــړه ځــان پــه مينــه کــې نعيمــه
کـــه خوبـــان د افلاطـــون هـــنر خـــراب

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۴۸).

۶. تهوپک

تــور تهوپــک دی ستا د سترگو لـه جانبـه
پيوســـت لگـــي پـــه ســـينه زمـــا صـــاحبه

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۴۹.

۷. ژړا

د سـبنم پـه دود يـې تـل پـه سـحر ژاړي
اميـــــد وار د گلرخـــــانو لـــــه وصـــــلته

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۵۴).

۸. بې پتي

د اشـنا د مينــې پــت مــې دې روزي شي
کـه پـه خلکـو کـې هـر څـو شـمه بـې پتـه

محـروم پـاتې شي لـه وصـله د خوبـانو
چـې پـه مينـه کـې ځـان ژغـوري لـه تهمتـه

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۵۴).

۹. چاه زنخدان

پـه کـوهی د زنخـدان کـې دې پرېـوځم
کـــه و کـــاږم لاس د زلفـــو لـــه کمنـــده

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۵۹).

۱۰. خانه زاد

چې يـې سر پـه تـش کاتـه شـيندې نعيمـه
صـــد رحمـــت شـــه د خوبـــانو خانـــه زاده

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۵۹).

۱۱. اضداد راوړل

دا دې کـــړې پـــه عاشـــق مهربـــاني ده
کــه بخښــلې دې گــدا تــه ســلطاني ده

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ٦٠).

۱۲. د محبوب د در سپی

ځـــان هلـــه آدمـــي زاد بولـــه نعيمـــه کـه آشنا د در لـه سـپو سره حسـاب کـړې

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ٦٨).

۱۳. د بلبلو ژبه

يـــو وار ژبـــه د بلبـــل زده کـــړه نعيمـــه هلـــــه کـــــړه د گلرخـــــانو ســـــتايش

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۸۰).

۱۴. ترک

کــه دی مــا و تــه اکثـير نظــر د ترکــو پـــه يـــوه نظـــر بـــه شـــمه زر د ترکـــو

(نعيم، ۱۹۶۴ز، ۱۴۴).

په پورته ډول ډېرى لاملونه د محمد نعيم متي زي په شعرونو کې موندلى شئ چې له عبدالرحمن بابا سره يـې پرې اړيکه ټينگېږي، پر پورته څرگندونو سربېره نوموړى په خپل ديوان کې د هنري خوا ډېرى تـوکي پـه ډېـره خوندوره توگه ځاى په ځاى کړي دي چې د ده د شعر لوړوالى ترې څرگندېږي.

**۳. ۴. ۱. ۱۰. مطيع الله**

مطيع الله په پښتو، پارسي او هندکو ژبو کې شعرونه ويلي دي. په پښتو ژبه کې ترې يو ديوان را پاتې دى چې غزلې، څلوريزي، مخمس او د شعر نور ځېلونه پکې شته. موضع گانې يې اخلاقي، تاريخي، عشقي، ټـولنيزې او ديني دي. د نوموړي ديوان پر (۱۴۰٦هـ / ۱۹۸٦ز) کال په پېښور کې چاپ شوى دى. پر ديـوان سربېـره يـې يـو مناجات په لسگونو کرته چاپ شوى دى، مطيع الله يوه نور نامه هـم لـري. پوهانـد صـديق الله رښـتين ورتـه د خوشنوا بلبل لقب ورکړى دى. نوموړى هم د عبدالرحمن بابا د سبک پليونى دى، بېلگه يې لاندې راوړو:

هېـــر بـــه دې نـــه کـــړم شـــيرينه يـــاره تـــه مـــا هېـــر مـــه کـــړه د خـــداى لپـــاره

زه مســـــافر شـــــوم د هنـــــد د لـــــوري تـــــه خوشـــــحالېږې د نـــــورو يـــــاره

(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۲).

**۳. ۴. ۱. ۱۱. ثاني رحمان(عبدالرحمن اوکا)**

عبدالرحمن اوکا يا ثاني رحمان هم د رحمان بابا د سبک پليونى دى. له عبدالرحمن بابا سره د زياتې مينې لـه کبله يې ځان ته ثاني رحمان وايه. نوموړى پر ديواني شعرونو سربېره ولسي ځېلونه، لکـه بـدلې، چـاربېتې او نـور لري. د ده په شعرونو کې کومه نېټه يا د داسې تاريخي پېښې يادونه نه ده شوې چې د ده ژوند او د ژوند حالات ترې څرگند شي يوازې له لاندې بيت څخه يې د مغلو د زور زياتي پته لگېږي:

د مغلـــو ظلـــم زور دى پـــه عـــالم کـــې ډېرغمونـــه د ســـتا شـــول مغـــل زمـــا

(رفيع، ۱۳۵۹ل، ٦۹ ــ ۷۱).

حبيب الله رفيع يې د ژوند زمانه دوولسمه پېړۍ ښودلې ده. له نوموړي څخه د شعر دوه پنډ دېوانونه راپاتې دي چې تر اوسه چاپ شوي نه دي. خطي نسخې يې د پېښور د پښتو اکاډمۍ په کتابخانه کې خوندي دي. له لاندې بيتونو څخه يې برېښي چې شيخ رحمکار (کاکا صاحب ) ته ډېر گروهمند و، کيداى شي دى هم کاکاخېل او د نوښار د کاکا صاحب د زيارت کلي اوسېدونکی وي او يا د هغه د طريقې پابند وي :

زه مريـد د هغـه پـير يـم پـه رښـتيا | پـه اخـلاص دخپـل ضـميريم پـه رښـتيا
چې يې عالم د شيخ رحمکارپه نامه بـولي | پـه هـر دم يـې دامنگـير يـم پـه رښـتيا
تل خوشـحال يـې پـه کتلـو د روضـې يـم | چـې يـې نـه ويـنم دلگـير يـم پـه رښـتيا

(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۷۲).

د بېلگې لپاره يې لاندې بيتونه راوړم چې د عبدالرحمن بابا د سبک آغېز ترې معلومېږي:

د خوبـانو صـدقې تـه دنيـا غـواړم | اوکـا نـه دی هـيڅ تـړلی زړه پـه مـال

(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۷۰).

پاتې شوی تش تـور نـوم دی د اخـلاص | کـار تـه گـوره وايـه کـوم دی د اخـلاص

(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۷۰).

عبدالرحمن بابا وايي

د دلـبرو صـدقې لـره يـې غـواړم | هسـې نـه چـې پـه دنيـا پسـې زهـير يـم
نـه شي د ملنگـو لـه خانـانو سره کـلي | چېرته عزيزخان چېرتـه ملنـگ عبـدالرحمن

(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۰).

د ده د شعرونو په مقطع کې د ده پر( اوکا ) تخلص سربيره ثاني رحمان، عبدالرحمن، اخوند زاده عبدالرحمن او يوازې اخوندزاده هم راغلي دي. (رفيع، ۱۳۵۹ل، ۷۰).

**۳. ۴. ۱. ۱۲. محمد عمران پېښوری**

محمدعمران پېښوري د څوارلسمې پېړۍ په بهير کې د پېښور په بهادر کلي کې ژوند کاوه. د زېږېدو او مړينې نېټه او د ژوندانه نورحالات يې په دقيق ډول څرگند نه دي. ښاغلی حبيب الله رفيع ليکي : (( د پېښـور پـه بهـادر کلي کې زېږېدلی او د رحمان بابا کليوال او د رحمان د ادبي سبک او ښوونځي اغېزې پرې زيات دی، ځکـه د بابا پيرو شاعر بلل شوی دی.(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۲۳۴).

عبدالرحمن بابا او عبدالحميد مومند ته خپل عقيدت په لاندې بيت کې ښيي :

بـې حميـد او لـه بابـا عبدالـرحمانه | مـا عمـران وتـه دا نورشـاعران څـه دي

(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۲۳۵).

نوموړي ډېری اشعار د عبدالرحمن بابا د شعر په پيروۍ ويلي دي. دبېلگې په توگه عبدالرحمن بابا لاندې بيتونه راوړ :

هرساعت زما د غوږ په تاوولو　　　د فلک لاسونه شو تر څنګلو
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۴۳).

عمران وايي :

نن زما عاجز بې کس په تزنولو　　　فلک دواړه ليچې تاوکړې ترڅنګلو
هم په دا زما له سترګو وينې څاځي　　　چې پکې دی عکس پروت دسرومنګولو
(رفيع، ۱۳۵۹ل، ۲۳٤).

عمران خپل دېوان په (۱۹۰۲ز) کال کې بشپړ کړی. خطي نسخه يې د پېښور د پښتواکاډمۍ په کتابتون کې خوندي ده. عمران پر ديواني اوعروضي شاعرۍ سربېره په ولسي ځېلونو کې هم خواږه شعرونه ويلي دي او د مولاناجلال‌الدين بلخي د مثنوي معنوي ځينې حکايتونه يې د ولسي چاربيتو په چوکاټ کې ژباړلي دي. په فارسي شعر يې هم طبع ازمايي کړې ده. (هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۴).

### ۳. ۴. ۱. ۱۳. باز محمد بنګښ

باز محمد بنګښ د عبدالرحمن بابا له وروستنيو پيروانو بل شاعر دی. پلار يې سردار محمد نوميده. په قوم بنګښ او په (۱۲۵۳هـ / ۱۸٤۰ز ) کال په تيراه کې زيږېدلی او په (۱۳۳۵هـ / ۱۹۱۷ز ) کال د کوهاټ په هنګو کې مړ شوی. بازمحمد يو مجاهد اديب و چې د خپلواکۍ په جهاد کې يې هم برخه درلوده.

بازمحمد د عبدالرحمن بابا د سبک پېرو شاعر و، د اشعارو دېوان ترې پاتې دی. د نوموړي د يوې غزلې مقطع په دې ډول ده :

بازخان هيڅ سيالي د شعر له چانه کا　　　دی تابع له شاعرۍ د رحمان راغی
(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۵).

په همدې قافيه د عبدالرحمن بابا د يوې غزلې څو بيتونه په لاندې ډول دي :

غونچه لب چې په خندا کاندې پريشانه　　　په شيبو زما د اوښکو باران راغی
د ميرزاد ارزاني دعوی به پرې کا　　　قدردان د شاعرانو رحمان راغی
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۶۲).

### ۳. ۴. ۱. ۱۴. حاجي جمعه بارکزی

حاجي جمعه په ختښه ابدالی او په ابداليو( درانيو ) کې بارکزی دی چې د ديارلسمې هجري پېړۍ په دوران کې د کندهار د زوړ (ماشور) په کلي کې اوسېده. دخپل قوم، وطن او کلي نومونه يې په لاندې بيتونو کې اخيستي دي :

خدای رسول او د خپل پير له برکته　　　د جمعه بارکزي شعر نمک دار شو
(بارکزی، ۱۳٦۰ل، ۹۵).

چې مې زړه وړی په منگولو هغه یار دی زما — نور حُسن واړه بې له ده د قندهار څه کوم
(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۸۶).

لکه څای د سمندر وي په سره اور کې — داسې زه جمعه په دِه کې د ماشور یم
(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۸۳).

حاجي جمعه له یوه شعر څخه داسې ښکاري چې په کندهار کې یې د سردارکندل خان پر مهال ژوندکاوه ، وایي:

اوس نوبت د کندل خان دی — سره وې نغښت کندهار
دربدره یې مخلوق کړ — مال و ملک یې کړ سرکار
په وطن کې پرې نښوو — یو درم و یو دینار
سر و بر یې سره وخوړ — لا دوی وږي دي نهار
(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ۱۷٤).

حاجي جمعه یو پرهېزگاره او متدین سړی و، څو واره حج ته تللی و. وایي چې ټولو حجونو ته پر خپلو پښو تللی و. په (۱۲۵۹هـ ق ) کال په مکه شریفه کې د عبادت پر وخت وفات او هم هلته ښخ شوی دی.

ده د څو کلونو لار تر عرش عظیمه — په یوه قدم پرېکېږي په اخلاص
(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ٦۹).

خوبرویان به له تا څرنگه سیالي کړي — چې مخی دې نه آفتاب دی نه مهتاب
(بارکزی، ۱۳۶۰ل، ٤٦).

له حاجي جمعه څخه د اشعارو ښکلی دېوان پاتې دی چې په (۱۲۵۸هـ ق ) کال کې یې د عبدالرحمن بابا د دېوان په څېر په دوو دفترونو کې بشپړکړی دی. دېوان یې په (۱۳٦۰هـ ش ) کال په کابل کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی. په دېوان کې یې غزلې، قصیده ډوله نظمونه، متفرقات او نور راغلي دي. دمنځپانگې له مخې تاریخي، اجتماعي، عشقي، دیني، اخلاقي او عرفاني موضوعات لري. اشعار یې عشقي او په لفظ او مانا دواړوکې د عبدالرحمن بابا د سبک او ادبي ښوونځي پیروي کوي.(هېوادمل،۱۳۷۹ل،۱۸٦او۱۸۷).

د بېلگې په توگه به لومړی د عبدالرحمن بابا څو بیتونه او ورپسې د حاجي جمعه بارکزي څو بیتونه راوړو چې د عبدالرحمن بابا د بیتونو په پیروۍ یې ویلي دي :

عبدالرحمن بابا ویلي :

که له ځمکې واسمان ته خاته گران دي — دا سفر په یوه گام دی د اخلاص
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱٦۹).

څلورم یې یو ساقي د څنگه ناست وي — چې مخی یې نه آفتاب وي نه مهتاب
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۴).

حاجي جمعه وایي :

ده د څوکلونـو لار تـر عـرش عظيمـه　　　پـه يـوه قـدم پرېکـړي پـه اخـلاص
(بارکزی، ۱۳٦۰ل، ٦۹).

خوبرويـان بـه لـه تـا څرنگـه سيالي کـړي　　　چـې مخـې دې نـه آفتـاب دی نـه مهتـاب
(بارکزی، ۱۳٦۰ل، ٤٦).

د حاجي جمعه د دېوان له لوستلو څخه څرگندېږي چې دی يوعالم سړی و او په ادبي فنونو هم پوهېده. پر ملايي سربېره يې له سلوک او عرفان سره هم اړيکې درلودې او د نقشبنديه مجدديه طريقې په بانوريه (بنوريه) څانگه کې يې د هغه کندهاري ميا عبدالکريم صاحبزاده لاس نيوی کړی و چې د دويـم ميـا عبـدالحکيم کـاکړ کندهاري له لويو خليفه گانو څخه و. دنقشبنديه طرېقې په اړه يې ويلي دي:

د طاعـت مينـه دايمـه و زړه ورکـړه　　　پـه خفيـه ذکـر يـې يـاد لـره هـر آن پـټ
خپل کاروان به پټ داخل کړې و حرم تـه　　　که ځان کړې د نقشبند پـه گلستان پـټ
(بارکزی، ۱۳٦۰ل، ٥۱).

**۳. ۴. ۱. ۱۵. خدايداد محمدزی**

خدايداد د سردار عبدالجليل زوی، د عبدالقادر خان لمسی، د عبدالامين خان کړوسی د سردار رحيمداد خان کودی او د حاجي جمال خان کوسی و چې په کندهار کې يې ژوند کاوه، ژوند يې تر (۱۳۲٤هـ ق) کال پـورې يقيني گڼل شوی دی. دی صوفي مشرب سړی و. د شعر په سبک کې د رحمان بابا د ادبي ښوونځي پيرو شاعر و.

له پښتو شعرونو څخه يې ښکاري، چې ده دعبدالرحمن بابا له دېوان څخه معنوي خوند اخيستی د هغه تر اغيز لاندې يې اشعار ويلي دي. (رفيع، ۱۳۵۹ل، ۲۴۳ او ۲۴۴).

نوموړي د عبدالرحمن بابا پر غزل يو مخمس هم ويلی دی چې يوولس بنده دی. عبدالرحمن بابا ويلي دي:

گـوره هسـې کردگـار دی رب زمـا　　　چـې صـاحب دکـل اختيـار دی رب زمـا
همگي بزرگـواران چـې څـوک يـې وايـي　　　تـر همـه و بزرگـوار دی رب زمـا
هـيڅ تغيـير او تبـديل نـه لـري رحمانـه　　　تـل تـر تلـه برقـرار دی رب زمـا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۴ او ۴۵).

د عبدالرحمن بابا پر همدې غزل د خدايداد محمدزي د مخمس لومړي دوه بندونه او د پای يو بند:

گـوره هسـې لـوی سـتار دی رب زمـا　　　گنـاه کـار لـره غفـار دی رب زمـا
د عـالم پروردگـار دی رب زمـا　　　((گـوره هسـې کردگـار دی رب زمـا

چـې صـاحب دکـل اختيـاردی رب زمـا))

دی معبــود دی عبــادت وده تــه شــایي بلبلان یې په چمـن کې ثنا وایـــــــي
هــر اشــیا یــې پــه خپــل ژبــه سره ستایي (( همګي بزرګواران چې څوک یې وایـي

تـــر همـــه و بزرګـــوار دی رب زمـــا ))

د مخمس د پای بند:

ای خدایـــداده دی بادشـــاه دی د جهـــان پـه یـو دم یـې کـړه پیـدا زمکـه آســمان
دی عــالم دی پــه ظـاهر هــم پــه پنهــان (( هـیڅ تغیـیر او تبـدیل نـه لـري رحـمان

د هغــو سره چــې یــار دی رب زمــا )).
(رفیع، ۱۳۵۹ل، ۲۴۵ ـ ۲٤۸).

### ۳. ۴. ۱. ۱٦. خدایداد جدید توخی

خدایدا چې به ادبي تذکرو کې پر جدید توخي مشهور دی د ځېرنېوه زلمي هېوادمل د ځېړنې لـه مخې د ابراهیم خان زوی او د دیوان د داخلي شهادتونو له مخې یې د کندهار اوسیدونکی دی، پـه ختـه اکـازی تـوخي دی. د ژوند پېر یې د تېمور شاه سدوزي (۱۱۸٦ ـ ۱۲۰۷) پاچاهي اټکـل شـوې ده. د شاه محمـود، کـامران او فېروز شخړې یې لیدلي دي چې دغه پېښې تر (۱۲۴۷هـ) مخکې شوې دي، له دې څرګندېږي چې ژوند یې تر (۱۲۴۷هـ) کال پورې یقیني دی. نوموړی وایي:

که باور نه کړې ای وروره شاه محمـود او فېـروز ګـوره د یـــوه هـــرات لپـــاره ورک یـــې کـــړ اولاد اکـــثر
شاه محمود پاچا معدوم دی پاته شوی یـې یـو نـوم دی هر چې کاندي کامران کاندي محمود هېڅ نـه دی خبر
شـاه محمـود پاچـا لـه حالـه درتـه وایـم زمـا لالـه په هستی کې یې نیستي ده حال یې دا دی مختصر
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۵۸).

د جدید توخي په دیوان کـې غـزل، څلوریزې، مخمـس، مسـدس، چـارېټې او یـوه الفنامـه راوړل شـوې ده. موضوع ډېری مینه، تصوف او ځینې ټولنیز مسایل په بر کې نیسي. (توخي، ۲۰۱۵ز، ۹).
جدید توخي د عبدارحمن بابا د شعري سبک پیرو دی. نوموړي ته یې عقیدت او نژدېوالی له لاندې بیتونو جوتېږي:

دی رحـــــمان شـــــاعر یـــــارانو سر حلقـــــــــه د شـــــــــاعرانو
اوس پـــه شـــعر کـــې کامـــل دی هـــــم کامـــــل د کـــــاملانو
کـــه خـــدای مـــا کانـــدي حســـابه د رحـــــمان لـــــه مریـــــدانو
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۱۸ او ۱۱۹).

د جدید توخي په شعر کې د عبدالرحمن بابا په څېر رواني، ساده ګي، د قافیو یو شانوالی او د مفهوم یو والی د کلمو به لړ بدلون تر ستر ګو کېږي:

عبدالرحمن بابا

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي — ما لیدلی دی رفتار د درویشانو

(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۴۹).

توخي

په یو دم د مدعا تر ځایه ورشي — ما لیدلی پر و بال د درویشانو

(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۲۲).

عبدالرحمن بابا

چې په سترګو کې یې خار وي څه به خوب کا — چې په زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا

(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۶۴).

توخي

چې کبابه په هجران شي څه به خوب که — چې بیماره په خپل ځان شي څه به خوب که

(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۵۰).

عبدالرحمن بابا

ای زما د زړه آرامه راشه راشه — سروې قده ګل اندامه راشه راشه

(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۸۷).

توخي

ای زما سروې روانه راشه راشه — سپین رخسار ماه تابانه راشه راشه

(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۴۷).

**۳. ۴. ۱. ١٦. ۱. د خدایداد جدید توخی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون**

اوس به دجدید توخي څو بیتونه راوړو چې د عبدالرحمن بابا د شعر سبکي کلمې، ترکیبونه یا جملې تشکیلوي:

۱. خوبان

اوس په دا دنیا کې خوبان هر چېرې دلبره — ټول دي نوکران ستا ته بادشاه یې د خوبانو

(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۲۰).

۲. هجران او گیله

د هجـران پـه اور سېځې اوس مـا پـر څـه راکـــوې و مـــا تـــه دا ســـزا پـــر څـــه
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۲٦).

۳. ریا

ریاکـــاره دینـــداري څـــه پـــه کـــار نـــه ده دا بېځا د ځـان خـواري څـه پـه کـار نـه ده
هوښیار بویه چې د دین پـه کـار هوښیار وي بې له دې نه هوښیاري څـه پـه کـار نـه ده
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۲۹).

۴. رقیب

د رقیـــب لـــه ډېـــره ظلمـــه لـــه ســـتمه زه جدیـــد پـــه ژړا ژاړم لکـــه کونـــډه
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۳۱).

۵. ځان ته مخاطب کېدل

دغـــه واړه نصـــیحت بویـــه و ځـــان تـــه پـه بـل چـا دې څـه غـرض نـه یـې بېکـاره
نصیحت و بـل تـه څـه پـه کـار جدیـده غم د ځان خوره که ته یې د ځان غمخواره
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۳۳ او ۱۳۴).

٦. شاه، گدا او دنیا

څـه دلبسـتگي ده د دنیـا پـه کـور و کـلي شاه دی که گدا دی اخر درومي له دې کوره
اوس که باور نه کړې ورشه وگوره په سترگو څه شوه خبر واخله هم له پلاره هـم لـه مـوره
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۴۱).

۷. د یار په رضا تلل

چـې د یـار دا رنـگ رضـا ده ای جدیـده می باید چـې د خپـل یـار پـه رضـا درومـه
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۵٦).

۸. د دلبر استانه

اوس کړم مناجات ربه و تاته کی مقبول کـړې خاورې مـا جدیـد کـړه د دلـبر پـر آسـتانه
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱٦۰).

۱۰. کم بخت

معلـــومېږي کـــم طـــالع شـــومه دلـــبره چې اول دې را ته مخ و اوس دې شا شوه
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱٦۵).

۱۱. جفا

هر عاشق چې په تېغ مړ ستا د جفا شي
خاص شهید دی دیدار ستا یې خون بها شي
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۷۶).

۱۲. ازل

په ازل یې څوک په غم کړه څوک بې غمه
د ازل برخې و هر چا ته رسېږي
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۷۸).

۱۳. عشق او مې

لکه مست که د انګورو مې سړی
دا رنګ مست دي عاشقان د عشق په مې
د عشق مې هغه خوړای شي چې عاشق وي
بې عاشقه یې هېڅوک نه شي خوړی
(توخي، ۲۰۱۵ز، ۱۹۲).

په پورته ډول که د جدید توخي دیوان په غور و لوستل شي ډېرې د سبکي ورته والي ځرکونه به لاسته راوړو.

**۳. ۴. ۱. ۱۷. حبیب الله**

حبیب الله د دولسمې هجري پېړۍ په حدودو کې ژوند کړی دی او د لوی احمدشاه بابا د پاچهۍ د (۱۱۶۰ـ۱۱۸۶هـ) زمانه یې د شعر د لوړتیا مهال ګڼلای شو. حبیب الله د څمکنو د میاعمر (رح) چې د څمکنو په میا مشهور و ( ۱۰۸۰ ــ ۱۱۹۰ هـ ) د مریدانو او ارادتمندانو له ډلې څخه دی. په شعر کې یې کندهار یادکړی نو ځینې یې د کندهار او ځینې یې د کوزې پښتونخوا بولي چې دغه خبره هم د نوموړي په ګرځند شخصیت دلالت کوي.(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۲ او ۳).

د حبیب الله د شعری سبک په تړاو ښاغلی څېړنمل محمد عارف غروال لیکي: (( د حبیب الله د کلام لومړی ښه والی ساده ګي، رواني او سلاست دی. دی په داسې ژبه خبرې کوي په کومه ژبه چې رحمان بابا غږېده نو یې کلام عام فهمه او بې تکلفه دی.))(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۱۰).

نوموړی د عبدالرحمن د سبک لاروی دی، پخپله وایي:

د حبیب ویل په دا سبب شیرین شول
چې تابع په ګفتګوی کې د رحمان شو
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۸۰).

د خلل ځای پکې نه وینم هېچېر ته
چې نظر وکړم په شعر د رحمان کې
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۱۳۳).

څه به لاف حبیب الله د شاعرۍ کم
چې رحمان غوندې شاعر په دنیا تېر دی
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۱۵۳).

څه به لاف حبیب الله د شاعرۍ کا
که څه لاف کا یا یونس یا به رحمان کا

(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ۳۲).

### ۳. ۴. ۱. ۱۷. ۱. د حبیب الله او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

اوس د حبیب الله له دیوان څخه هغه بیتونه را اخلو چې له عبدالرحمن بابا سره یې سبکي اړیکي ټینګوي:

۱. له هجران څخه ویره

ای حبیب الله د یار په وصل مه نازیږه — غم یې د هجران کړه واوره پند کړه دا وینا
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ۲٦).

۲. پر دنیا باور نه کول

باور مه کوه په یار د دې دنیا — بې وفا دی یار اغیار د دې دنیا
په یوه ګړۍ د ستا وي بیا د بل شي — څه ویسا ده په روزګار د دې دنیا
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ۲۷).

۳. د بلبل سیمبول راوړل

دا بلبل چې همېشه په ګل چغار کا — دا ثنا صفت مدام ستا د رخسار کا
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ۳۱).

۴. ژړا

د حبیب له سترګو اوښې وینې درومي — چې په زړه کې تصور د هغه یار کا
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ۳۱).

۵. عشق

که څه کار دی په دنیا کې عاشقي ده — دنیا نه غواړم چې تل پسې زهیر یم
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ٦۸).

٦. عالمګیر

زه حبیب چې ستا شیرین کلام په یادکړم — له دې تاوه خوش دماغه عالمګیر یم
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ٦۸).

۷. رقیب

را ته و ښیه رقیب په څه بالا دی — کله زه د ده تر قد پورې کوتاه یم
(حبیب الله، ۱۳٦۰ل، ٦۹).

۸. د عبدالرحمن بابا ځمکه او بې ځوابه پوښتنه

زه عاشق په تورو سترګو مفتون چا کوم          په رخسار د میو لبو مجنون چا کړم
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۷۱).

۹. د زړه کلکوالی او د مرغانو ژړا

هېڅ اثر دې په سنګین خاطر نه کېږي          په هوا کې هر مرغه په ما ګریان شو
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۸۰).

۱۰. بوسه

که بوسه و حبیب ورکړې ډېر به خوښ شي          چې ارزو لري هر ګور د مهوشانو
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۸۸).

۱۱. خودي پرېښودل

راشه توبه ګار شه له خودۍ خودپرسته          تل کوه ذکرونه په دا مینه اوسه مسته
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۹۱).

۱۲. راشه راشه

ای زما مینه یاره راشه راشه          مه جبینه ګلعذاره راشه راشه
چې ته نه یې هر سړی په غم غمجن وي          ای د درست مجلس سینګاره راشه راشه
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۱۰۹).

۱۳. جفا او وفا

که وفا کړې که جفا کړې نن دې وخت دی          د دنیا کارونه کل واړه فاني دي
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۱۳۶).

۱۴. د چا دی ردیف

دا تر ګل ګلاب ښایسته دلدار د چا دی          دا تر زرکې نه بهتر رفتار د چا دی
(حبیب الله، ۱۳۶۰ل، ۱۴۴).

په پورته ډول نورې ګڼې سبکي ځانګړتیاوې یې د حبیب الله په دیوان کې تر سترګو کولای شئ.

### ۳. ۴. ۱. ۱۸. عبدالرحیم هوتک

نوموړی د هوتکو له قبیلې څخه د بولان (کلات) د سیمې برېښي، د زاړه او اوسني کندهار په حدودو کې یې ژوند کړی دی او بیا پر لس کلنۍ کې له خپل هېواد څخه تللی دی.

لس کلن له ملکه و وتم بیرون شوم          په سراغ د مهوشانو جګرخون شوم
(حبیبي، ۱۳۹۱ل، ۲۵۸).

د دولسمې هجري پېړۍ په پېر کې یې په سمرقند، بخارا او ترکستان کې ژوند کړی دی. پخپله وایي:

بخارا او سمرقند مې زړه زخمي کړ          غواړم پاځم په زیارت د کندهار
پنځوس کاله زیاتي کم وشوه رحیمه          په سراغ د اشنا ناست په ترکستان یم

عبدالرحیم هوتک د شعر یو پنځ دېوان لري  په دېوان کې یې اخلاقي، عشقي، دیني او عرفاني شعرونه مونـدل کېږي، شعرونه یې، لکه د عبدالرحمن بابا خواږه، ساده او ټولپوهیزه دي. د ده په دېوان کې یې لویه برخه د غزلو ده او تر درو نیمو سوو زیاتې غزلې لري. دېوان یې تر اوسه چاپ شوی نه دی ، په افغانستان، پېښور او پترزبورګ کې یې د دېوان خطي نسخې شته. دعبدالرحیم هوتک  دېوان د یوې خطي نسخې پر سر چا یو یادښـت لیکلـی دی چې د هغه یادښت له مخي عبدالرحیم هوتک په (۱۱۶۲هـ ق ) کال په بخارا کې مړ او هم هلتـه ښـخ دی. د ادبي څېړونکو د څېړنې له مخې د عبدالرحمن بابا د سبک لاروی دی. (هیوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۹۳).

عبدالرحمن بابا ته د عقیدت او پیروۍ له مخې وایي:

په افغـان کښـي شـاعران ډېـر دي تېـر شـو　　　اې رحیمه زه غـــــــلام د عبدالرحمان یـم
(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۱۲۱).

بل ځای وایي :

له خـــــوشحال و له میرزا ښه یـم رحیمـه　　　ولي ډېر مخلص په زړه کې د رحمان یــم
(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۱۲۱).

ځـای ځـای یـې دعبـدالرحمن بابـا د شـعرونو پـر ځمکـه شـعرونه هـم ویـلي دي، د بېلګـې پـه توګـه عبدالرحمان بابا ویلي دي :

الهـــي دخپـــل حبیـــب لـــه برکتـــه　　　دا سـاده انشـاء رنګینـه د رحـمان کـــړې
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۴۵).

پـه غـزل کـې خـو دوه بیتـه انتخـاب وي　　　د رحـــمان تمـــام غــــزل دی انتخـــاب
عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۳).

عبدالرحیم وایي :

عنقـــا نـــه دی د هیچـــا پـــه دام وتلـــی　　　دام دې ټول کړه زړه دې ویښ دی که په خـواب دی
(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۲۸۸).

ای زمـــا د زړه بوســـتانه را ســـه راســـه　　　سر تـــر پایـــه ګلســـتانه راســـه راســـه
(هوتک، ۱۳۹۱ل، ۲۰۷).

**۳. ۴. ۱. ۱۹. مصري خان ګګیانی**

مصري خان ګګیانی د دولسمې هجري پېړۍ شاعر دی، تر خوشحال خان خټک او عبدالرحمن بابـا وروسـته په شاعرانه تعلی کې ښه نوم لري. شعر یې د شعري فنونو د کارونې له مخې پوخ دی، شاعري یې سـاده او روانـه ده. په سبکي تړاو د عبدالرحمن بابا لاروی دی. لاندې یـې څـو بیتونـه راوړو چې د عبـدالرحمن بابـا د شـعري سبک څرکونه ترې جوتېږي:

عبدالرحمن بابا

دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی د جملــــه وو مخلوقـــاتو پــــلار دی دا

مصري خان

پیـــدایښ واړه لـــه عشـــقه دی ای مصـــره پـــه معنـــی دی عشـــق د کـــل عـــالم ابـــا

عبدالرحمن بابا

د وفـــا د گلـــو پـــاڼې پکـــې نشـــته کشکې نه وی د دې دهر په گلزار گـډ

مصري

د یـاری ونـې کـل شـنډې شـوې یکبـاره یـو شـجر یـې پـه دا دهـر پـه بـار نشـته

عبدالرحمن بابا

دېو و دد که په خوا ورشي خو بهتر دی خـدای دې بـد سـړی در نـه ولي پـه خـوا

مصري

کـه لېـوه درشي پـه خـوا امیـد د خیر کـړه خـړه شر دی خـوا پـه خـوا مـه شـه نـاکس

عبدالرحمن بابا

که خدای غم د جدایۍ ورتـه اسان کـړو و رحـمان و تـه اسـان دي نـور غمونـه

مصري

مصـره ورکـــه بـــه د هجـــر بیـــداري شي کـــه د وصـــل پـــه تـــا وکـــړو اللـــه داد
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۵۹ او ۱۶۰).

**۳. ۴. ۱. ۲۰. ملا لتاړ شلمانی**

ملالتاړ شلمانی په هندوستان کې د اوسېدلو پښتنو شاعرانو په ډلیزه کې دېوان لرونکی شاعر دی. د ملا لتاړ زېږېدنه د ده د دېوان د داخلي شهادت له مخې د ( ۱۱۶۱هـ ق ) کال په شاو خوا کې ده. د ده د خپلې وینا له مخې دېوان یې په (۱۱۹۰هـ) کال کې بشپړ کړی دی او په (۱۳۶۷هـ ش ) کال په کابل کې دافغانستان د علومو اکاډمۍ له خوا چاپ شوی دی. په دېوان کې یې غزلې، څلوریزې، قصیده ډوله نظمونه اومخمس تر سترگو کېږي.(هیوادمل، ۱۳۷۹، ۱۹۰).

دا زه بـــه وایـــم لـــه تېـــره حالـــه شکر چې خلاص شوم د غم له جالـه
چـــې پـــه اتمـــام دېـــوان لتـــاړ شـــه شـــوی هجـــري و ســـل زر نـــوي کالـــه

نوموړی وایي:

لــه اتــه ویشــتم کالــه وم تېرشــوی　　　رسـد مــې نــه و تــر دېرشــو شــوی
زمــــا لتــــاړ و دا هـــــومره عمـــر　　　چـــې دا دېـــوان مـــې و پـــوره شـــوی

له پورتني څلوریزې څخه څرګنده ښکاري چې د دیوان د بشپړېدو پـر وخـت د نومـوړي عمـر تـر دېرشـو نـه رسېږي. که د ده عمر دغه وخت نهه ویشت وي نو پر (۱۱۶۱هـ) پیدا شوی وي،(لتاړ، ۱۳۶۷ل، ۷).

له پورتني څلوریزې څرګندېږي د لتاړ عمر د دېوان د بشپړېدو پرمهال دېرشو ته نه و رسېدلی او لـه اتـه ویشـتو اوښتی و، ښایي دغه مهال به دی نهه ویشت کلن و. که د دېوان د بشپړولو په وخت کـې د ده عمـر نهـه ویشـت کاله وبولو، په یقیني ډول د ده د زوکړې کال (۱۱۶۱هـ ق ) کـال کېـږي. د ده اصلـي ځـای د خیـبر پښـتونخوا د شلمان ( سلمان ) سیمه وه. د دیارلسمې پېړۍ تر لومړیو پورې یې ژوند یقیني او د نواب فیض الله خان پـه زمانـه کې د هند په رامپور کې اوسېده. په دې اړه د ادبپوهانو استناد د ده پر لاندې بیتونو دی:

پــه غمــزه د تــورو ســترګو ناغــه دارو　　　زخمــي کــړی زه لتــاړ شــلمانی تــا یــم
(لتاړ، ۱۳۶۷، ۹۷).

اور و پښــتون تــه نــور هندوســتان و　　　پــــه رامپــــور جمــــع واړه افغــــان و
د لویــــو ووړکــــو واورئ یــــارانو　　　سردار نــواب یــې فــیض اللــه خــان و
(لتاړ، ۱۳۶۷، ۲۵۱).

ملا لتاړ د عبدالرحمن بابا د سبک پیرو شاعر دی او په خپله شاعري کې یـې د بابـا لـه خـوږو اشـعارو فـیض موندلی دی، بېلګې په توګه یې لاندې دوه بیتونه ګور :

مشــغول مــه شــه پــه افعــال د دې دنیــا　　　پــه افعــال کــې دی جنجــال د دې دنیــا
(لتاړ، ۱۳۶۷، ۳۳).

چا چې څښلي ستاد سرو شونډو شراب　　　هغــه ګرځــي پــه دنیــا مســت و خــراب
(لتاړ، ۱۳۶۷، ۳۵).

د همدې پورته بیتونو مطلب عبدالرحمن بابا په دې ډول تر ده دمخه اداء کړی:

ګرفتار یـې همېشـه پـه غـم کـې ډوب وي　　　هېڅــوک مــه شــه ګرفتــار د دې دنیــــا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۶).

هسې مست یـم سـتا دشـونډو پـه شراب　　　چې بـه نـه وي بـل داهسې مست خراب
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۱).

### ۳. ۴. ۱. ۲۱. قاسم علي اپریدی

قاسم علي اپریدی د برهان خان اپریدي زوی د نېک نام خان اپرېدي لمسی او د الف خان اپریدي کړوسی دی. د ادم خېلو اپرېدو د اخور نومي کلي اوسېدونکی دی، په ( ۱۱۸۳هـ) کال د هند په فرخ اباد کې زېږېدلی دی او تر (۱۲۲۵هـ) کال پورې یې ژوند یقیني دی. پر اوو ژبو ( پښتو، فارسي، هندي، کشمیري، انګریزي، ترکي او عربي) پوهېده. شعر یې د عبدالرحمن بابا د سبک ځانګړنې لري. د بېلګې له مخې یې دلته څو بیتونه راوړو:

عبدالرحمن بابا

هیڅوک مه شه ګرفتار د تورو زلفو	مه اسیر شه په کفار د تورو زلفو
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۷۱ او ۱۷۲).

قاسم علي

که دې بیامومم یو تار د تورو زلفو	کړم په غاړه به زنار د تورو زلفو
که چغار د عندلیب په شان کړم ښه کړم	اپریدی یم په ګلزار د تورو زلفو
(رضا، ۱۹۷۸ز، ۱۹۳).

د قاسم اپریدي نور بیتونه:

ډېر مدت شو چې په غم دې مبتلا یم	هسې نه چې نن مهرو په تا شیدا یم
زما ستا د مینې ډېر شو مدتونه	ته لا اوس وایې و ماته یار د چا یې

عبدالرحمن بابا

زه په تا باندې مین یم له ازله	نه چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا
هسې نه چې زه نن ورځ په تا شیدا یم	ستا غمونه مې په زړه کې دیرینه دي

قاسم علي په یو بیت کې د عبدالرحمن بابا ذکر کوي:

تېر شو وخت د رحمان اوس دی زما	که دولت وه که خوشحال وه که مېرزا

نور بیتونه یې

که څوک نه کاندي په تا باندې غرض	ته هم مه کوه په چا باندې غرض
هغه کس چې دلګیر وي څه به خوب کا	چې غمژن لکه اسیر وي څه به خوب کا

د قاسم علي خان دیوان لا نه دی چاپ، که چاپ شي ډېرې ښېګڼې به په دغه تړاو ترې را واخلو. (حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۷۲ او ۱۷۳).

### ۳. ۴. ۱. ۲۲. پیر محمد کاکړ

پیر محمد کاکړ په قوم کاکړو، کندهار کې اوسېده. د احمد شاه بابا د دربار معزز غړی و، د یوانکل له مخې پر (۱۱۲۰هـ) پیداشوی دی او د (۱۲۰۰هـ) خوا او شا وفات شوی دی، څلی یې په کندهار کې د حضرت جي صیب له مقبرې سره دی. نوموړي د پښتو ژبې په صرف، نحوه او محاورو یو اثر د (معرفة الافغاني) په نوم د شهزاده سلیمان لپاره لیکلی دی. د یوان یې په خپل ژوند پر (۱۱۹٦هـ) کال راټول کړی دی چې تر پنځه زره بیتونو پکې راوړل شوي دي، غزل یې د عشق د رموزو او لوړو تخیلاتو ځخه ډک دی، ښکلې تشبېه ګانې او استعارې یې پکې راوړي دي.(رضا، ۱۹۷۸ز، ۲۲۹).

د خپل دیوان په تړاو وایي:

زر سل شپږ نوي کلونه — د هجرت تېر شوي وونه
ما انشاء د عشق دیوان کړ — په پښتو مې ښه بیان کړ

پیرمحمد کاکړ که څه هم د خوشحال خان ختک، عبدالحمید مومند او عبدالقادر خان ختک د شعر پر ځمکه یې شعرونه ویلي دي او دوی ته یې د خپل عقیدت څرګندونه کړې ده خو د سلنې له مخې دغه برخه د عبدالرحمن بابا د شعر په تړاو د نوموړي په شعر کې ډېره تر سترګو کېږي نو د دغه اصل په پام کې نیولو سره نوموړی د عبدالرحمن بابا د شعري سبک پر لار روان بولو.

پورتنی سلنې ته محمد صدیق پسرلی هم قایل دی او ډاکتر زبیر حسرت یې هم پلوي کوي. دا هم باید و وایم چې د شعري فنونو له مخې نازکې تشبېه ګانې، استعارې او کنایې یې هم ځانګړی ځای لري.

پیرمحمد کاکړ د عبدالرحمن بابا د شعر په تړاو وایي:

که هر څو وایي نازک نکته دان شعر — ولې دوی ګڼي معجز د رحمان شعر
جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی — په دا څېر نشته هر ګز د انسان شعر
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۱۴ او ۱۵).

### ۳. ۴. ۱. ۲۲. ۱. د پیر محمد کاکړ او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

لاندې په پرتلیزه بڼه د عبدالرحمن بابا او پیر محمد کاکړ څو بیتونه راوړو:

عبدالرحمن بابا

چې په سترگو کې یې خار وي څه به خوب کا　　　چې په زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا

هغه ژوي چې مین وي څه به خوب کا　　　چې په زړه باندې غمجن وي څه به خوب کا
خوب خندا په بې غمی کېږي رحمانه　　　چې په زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا

پیرمحمد کاکړ

هر چې زړه یې ناقرار وي څه به خوب کا　　　ډوب په غم کې د دلدار وي څه به خوب کا
خوب خندا دې بې دردان کا پیر محمده　　　هر چې تا غوندې افگار وي څه به خوب کا

عبدالرحمن بابا

ستا دې خواب الودو سترگو خواب را څخه یووړ　　　لبو دې لذت د میوناب را څخه یووړ

پیرمحمد کاکړ

اوښکو د فراق مې د مخ آب را څخه یووړ　　　کښت مې د زعفرانو دې سېلاب را څخه یووړ

عبدالرحمن بابا

زه د یار به درد وغم کې غرقاب خوښ یم　　　په دا درد کې بې طاقته بې تاب خوښ یم

پیرمحمد کاکړ

د خپل یار په عشق بې خوده خراب خوښ یم　　　می پرست غوندې په جام د شراب خوښ یم

لاندې څو نور بیتونه راوړم تاسې وگورئ په دغو بیتونو کې یې هم د عبدالرحمن بابا د شعر اغېز له ورا ځلیږي:

په ښادی ولې ښاد په غم غمجن یې　　　چې تېرېږي سود و زیان د دې دنیا
ابلهان که هوسېږي باندې څه شو　　　زه خراب وینم ایوان د دې دنیا

حال زما هسې په دهر افسانه شو　　　لکه کوکې دې د حسن په جهان ستا

سیم و زر په ملک کې نه لرم نادار یم — پــه دولــت د زړه تــر حــده دنیــادار یــم
قناعــت لــه نــااهلانو بــې پــروا کــوم — پــه دې گـنج سره سرخ روی لکــه انــار یــم
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۷۴ ــ ۱۷۹).

د عبدالرحمن بابا سبکي توکي چې د پیرمحمد کاکړ په شعر کې تر سترگو کېږي:

۱. عشق

راز د عشــق بــه څــه ســاتم لــه غمازانــو — چې رسوا دې کړم یـو ځله په عـالم کـې
(صاحبزاده، ۱۹۹۰ز، ۱۷).

۲. ترک

دا څــه عــدل دی د ترکــو څــه انصــاف — چې له جوره یې وړم زړه شگاف شگاف

۳. بوسه

نشــته بــاک کــه پــر لبــانو بوســه راکــړي — دا شراب دي مــا بــیمار لــره معــاف
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۸۵).

۴. له فلکه څخه فریاد

داد فریــاد کــړم تــل لــه لاســه د فلــک — چې تر یاره پورې سپک کړم لکه کـک
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۹۱).

۵. مرگ او اضداد راوړل

سپین ویښته دې محصلان مدام د مرگ — وېـره بولـه څنـې صـبح و شـام د مـرگ
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۹۲).

۶. محراب او امام

خال د وروځو پر پیوند چې صنم کښېښود — مـا خپـل ځـان لـره محـراب و امـام ونیـو
(صاحبزاده، ۱۹۹۰ز، ۲۳).

۷. اوښکې

مــوج د اوښــکو نــاقراره پیرمحمــد کــړ — پــر دریــاب قــرار مسـکن د حبـاب نشـته
(صاحبزاده، ۱۹۹۰ز، ۲۵).

۸. پر څه بې ځوابه پوښتنه

راکــوي ناصــح د عشــق پېغــور پــر څــه — داغــوي مــې زولــن زړه پــه اور پــر څــه
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۱۵۱).

۹. شاه او گدا

و عاشــق تــه لــړ عتــاب د صــنم بــس دی　　شــاه کــوی پــر گــدای دومــره زور پــر څــه
(صاحبزاده، ۱۹۹۰ز، ۲۸).

۱۰. استانه

وســـوم ايـــره شـــوم د دلـــبر پـــر آســـنانه　　نــه گــوري لــه خيالــه ســم و ماتــه جانانــه
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۱۵۶).

۱۱. په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی

پــه نامــه د هغــه خــدای مــې دا گفتــار دی　　چې يو نوم يــې پــه نومونــو کــې غفــار دی
(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۱۵۸).

په همدې ډول يې نور سبکي ورته والی در واخلئ.

### ۳. ۴. ۱. ۲۳. قنبر علي خان اورکزی

قنبر علي خان د سرور خان زوی د تیراه د مشهورې درې (دره مني خېل) په (کلايه) نومي کـلي کـې سـترگې غړولې دي، د اورکزيي قبيلې د عبدالعزيز خېلو د څانگې د باقي خېلو له پښې سره تړاو لري. تر لومړنيو زده‌کړو وروسته يې له سيدانور شاه صاحب څخه په تصوف کې لاسنيوی کړی دی. نوموړی شاعر، عـالم او اديـب و، د (۱۲۰۷هـ) کال د رجب پر يوولسمه د جمعې پر شپه يې رحلت کړی دی او د چراغ بېگ په هـديره کـې د سـول کوارټرونو او بالاماڼې تر منځ ښخ دی.

د عبدالرحمن بابا په لارويانو کې يې ځينې داسې دي چې په ځينو غزلو کې يـې د عبـدالرحمن بابـا د غزلـو د ځواب کلمې راوړي دي چې قنبرعلي خان هم له دغو څخه دی او بيا يې د عبدالرحمن بابا په سبک کـې خپـل نظمونه منظوم کړي دي او بيا په ځينو بيتونو کې يې د تتبع کلمه هم راوړې ده چې د نېغې لاروی څرک تـرې را وځي. قنبرعلي وايي:

کړی چې رحمان مومن سوال د دې غزل و　　دا ښکلی غزل يې پـه جـواب را سره يـووړ
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۸۸).

د عبدالرحمن بابا په غزل کې چا ته داسې ننگونه نه ده راغلې، لکه څنگه چې قنبرعلي يې د ځواب خبره کړې ده.

عبدالرحمن بابا د غزل مطلع:

ستا دې خواب الودو سترگو خواب را څخه يووړ　　شونډو دې لذت د ميوناب را څخـه يـووړ
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۱۱۲).

قنبرعلي

د رحـــمان د دې غـــزل جـــواب قنـــبر کـــړ　　مـــا ســـحر ســـبا ليـــدلی و د چـــا مـــخ

عبدالرحمن بابا

ماسحر سبا لیدلی و د چا مخ — چې مې درسته ورځ و نه لیده د ستا مخ

د عبدالرحمن بابا هغه غزل چې قنبر علي يې په پيروی کې د تتبع کلمه کارولې:

ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی — گويا مېشت مې په سر ښهر د لاهور دی
که رحمان په عاشقۍ بې عزت کېږم — ما په سترگو قبول کړی دا پېغور دی

قنبرعلي

که ستا مینه څوک پېغور گڼي دلبره — ما په سر سترگو منلی دا پېغور دی
تتبع قنبر رحمان د دې غزل کا — ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی

عبدالرحمن بابا

دا چې مست په ميو راغی يار د چا دی — بيا به تاخت کا په کوم غولي وار د چا دی

قنبرعلي

چې عاري دی له هر چا نگار د چا دی — چې خوښ نه دی په ازار دلدار د چا دی
تتبع قنبر رحمان د دې غزل کا — چې دا مست په ميو راغی وار د چا دی

### ۳. ۴. ۱. ۲۳. ۱. د قنبر علي خان اورکزی او عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

دلته د قنبر علي هغه بيتونه راوړو چې د عبدالرحمن بابا د شعر پر څمکه، وزن، رديف، قافيه، بحر او يا هم موضوعگانو منظوم کړی دي:

عبدالرحمن بابا

ولې نه گورې و ماته سم په خه — زياتوې د غمزده وو غم په خه

قنبرعلي

بیـا لـه مـا دی ازاري صـنم پـه څـه — نـه پـوهېږم شي بـه خـوښ خـرم پـه څـه

عبدالرحمن بابا

زه رحمان په خپله ګرم یـم چې مین یـم — دغـه نـور عـالم مـې بـولي ګـرم پـه څـه

قنبرعلي

پـه ناحقـه مـې د ګـرم پـه نامـه بـولي — خدای خبر دی کـه بـه زه وم ګـرم په څه

د عبدالرحمن بابا تعلی

چې تمام د خپل ځیګر په وینو رنګ دی — د رحـمان خـبرې ځکـه رنګینـه دي

قنبرعلي

د قنـبر عـلي غـزل بـه خـود رنګـین وي — چې هر حرف یې زړه په وینـو رنګینـه وي

عبدالرحمن بابا

قد تـه د ې څـوک نـه شي رسېدی لـه بلنـدۍ — ولې چې معراج و تـه خاتـه د پیغمـبر دي
ما چې ستا ښایست او نمر سپوږمۍ سره په تـول کـړل — تللي په میدان کې تر اسمانه سپوږمۍ نمر دي

قنبرعلي

سر پورتـه کـول د ستا د قـد و بلنـدۍ تـه — بـې ګلـو بـې بـاره ځکـه سروه صـنوبر دي
ستا د مخ دیدن یې هرګـز نـه مونـده دلـبره — ځکه په اسمان پورته ختلي سپوږمۍ نمـر دي
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۸۴ ــ ۱۹۱).

د قنبر علي له ځوابونو، پیروی او تضمینونو څخه دا په ښکاره څرګندېږي چې د عبدالرحمن بابا لاروی دی.

**۳. ۴. ۱. ۲۴. نواب محبت خان**

نواب محبت خان بریخ مندڼ یوسفزی کمالزی د نواب حافظ الملک رحمت خان زوی دی چې پر (۱۱۶۴هـ) کال د هندوستان په پښتون ریاست روهېلکنډ کې پیداشوی دی او د (۱۲۲۳هـ) کال د (۵۹) کالو په عمر وفات شویدی.(ناصر، ۱۳۸۶ل، ۸ ـ ۱۳).

پلار په نیکه عالمان او علم پروره خلک وو. د خپل شعر په تړاو د خوشحال خان خټک او عبدالرحمن بابا د شعرونو ذکر کوي او وايي چې زما شعرونه د دوی له شعرونو څخه د خوشه چینی پر مټ را زېږېدلي دي. لاندې بیت ولولئ:

که خوشحال دی که رحمان دواړه بیان کوي د عشق    له دې دواړو ما اشعار د محبت کړه انتخاب

### ۳. ۴. ۱. ۲۴. ۱. نواب محبت خان عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

د ډاکتر زبیر حسرت(د رحمان بابا فکري مکتب، ۲۰۱۳ز) د څېړنې له مخې د نواب محبت خان ډېری غزلې د عبدالرحمن بابا د شعرونو په اغېز کې ویل شوې دي چې په دغه بنست یې د عبدالرحمن بابا د شعري سبک لاروی بللی شو. دلته یې څو بیتونه راوړو او د نورور بیتونو لپاره یې د نواب محبت خان دیوان ته مراجعه وکړئ.

عبدالرحمن بابا

هر چې و وینـي په سترګو روی د ستا    مخ یې کوږ وي همېشه په سوی د ستا

محبت خان

هر زمان مې په نظر کې روی د ستا    مخ زما هره لحظه په سوی د ستا

عبدالرحمن بابا

چې په سترګو کې یې خار وي څه به خوب کا    چې په زړه یې غم د یار وي څه به خوب کا

محبت خان

چې په خیال یې ستا جمال وي څه به خوب کا    چې جمال دې یې په خیال وي څه به خوب کا

عبدالرحمن بابا

ورځ چې بده شي عاقل او دانا څه کا    چې قضاء شي وردوخاره حکما څه کا

محبت خان

چې قضاء راشي حکمت حکما څه کا　　　لقمان څه کاندي بهلولِ دانا څه کا

عبدالرحمن بابا

زړه مې بې خپله نګاره آرام نه کا　　　کامراني را څخه غواړي ناکام نه کا

محبت خان

خدای دې بېل له ما زما دلارام نه کا　　　چې کامران کړم ترو دې اوس مې ناکام نه کا

عبدالرحمن بابا

رحمان بې د یار له ذکره　　　نه زده بل گفت و شنود

محبت خان

محبته بې د عشق　　　پرېبرده هرگفت و شنود

عبدالرحمن بابا

هسې تله کاندي و گور ته یاران زر زر　　　لکه درومي چې خپل کور ته کاروان زر زر
(عبدالرحمن بابا، ۱۹۸۷ز، ۸۹).

محبت

هسې یون کاندي د عمر کاروان زر زر　　　لکه شي قاصد مقصد ته روان زر زر

عبدالرحمن بابا

څه عجب بلند مقام دی د اخلاص　　　چې جهان واړه غلام دی د اخلاص

محبت خان

بلند عـرش تحت الاقـدام دی د اخـلاص　　　　گــوره څــه عــالي مقــام دی د اخــلاص

عبدالرحمن بابا

بېلتانــه دې هســې خــوار کــړ زمــا دل　　　　چــې لــه ځانــه يــې وېــزار کــړ زمــا دل

محبت خان

لــه فراقــه چــا بــېمار کــړ زمــا دل　　　　چــا لــه غمــه خپــل ازار کــړ زمــا دل
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۱۹۷ ــ ۲۰۵).

په پورته ډول ډېری غزلې د نواب محبت خان په ديوان کې تر سترگو کېږي چې د عبدالرحمن بابا د شعري سبک په ښکلا رنگېنې دي.

### ۳. ۴. ۱. ۲۵. مير علي ميرا

ميرعلي ميرا د (۱۲۵۰هـ) کال خوا او شا ژوندی و، ځان د توکل نومي شاعر سيال کول غواړي او د همده هم پېری دی، ځان د عبدالحميد مومند امام گڼي:

مــيرعلي فقــير لــه سرو مالــه تېــر شــه　　　　پــه هغــه ورځ چــې د ترکـو پــه سـلام لاړ
چې پـيرو يـې د حميـد د غـزل سـاز کـړ　　　　مقتـدي يــې شـه حميـد مـيرا امـام لاړ

ښاغلي عبدالروف خان رفيقي د ميرعلي ديوان پر (۱۳۸٦ل) کال چاپ کړی دی، په نوموړي ديوان کې يې د قلندر ذکر کړی دی، کيدای شي چې دا هماغه د قلندر ( ميرا) وي. په مقطع کې (ميرعلي او ميرا) د تخلص په بڼه راوړي. نوموړی هم د عبدالرحمن بابا د شعري سبک لاروی دی، ميرعلي وايي:

د رحــمان د مــيرعلي غــزل کــه وايــي　　　　ســوزنده دي لــه غفلتــه بــه پيــدار شي

واړه عاشـقان پـه حقيقـت کـې دي صـنمه　　　　راشه که يې گورې ميرعلي عبدالرحمان دی

په پورته بيت کې د ځان او عبدالرحمن توپير د شعر ويلو پر مهال نه کوي او ځان د عبدالرحمن بابا په شعری آيينه کې گوري. په همدې پله يې نور بيتونه لاندې راوړو:

چې مې شعر د رحمان د شعر په څېر شه　　　　په شعارو کـې پـه هسـې دبـاب خـوښ يـم
(حسرت، ۲۰۱۳ز،۲۴۴ او ۲۴۵).

عبدالرحمن بابا وايي:

د هجـران لـه درد و غمـه ولـې نـه مـرم لـه دې هسې رنـګ ماتمـه ولـې نـه مـرم
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۰۷).

میرعلي وایي:

د هجـــران لـــه درد و غمـــه الغیـــاث لـــه دې بـــې وفـــا صـــنمه الغیـــاث

عبدالرحمن بابا

مـــا د دهـــر غـــم وهلـــی دی پـــه لتـــه د پیـــــالې د صراحـــــی لـــــه برکتـــــه
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۲۵۹).

میرعلي وایي:

ســـتا د زلفـــو د رخســـار لـــه برکتـــه ماســـوا مـــې وهـــلي دي پـــه لتـــه
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۴۵).

**۳. ۴. ۱. ۲٦. شادمحمد خان**

شادمحمد خان د خان میر افضل خان زوی د خان احمد خان لمسی او د لښکر خان کړوسی دی، پر (۱۲۵۴هـ) کال زیږېدلی دی او پر (۱۳۱۸هـ) کال د (٦۳) کالو په عمر وفات شوی دی. نوموړی د مردان د خانانو کورنۍ یو عزتمن کس و، ښه شاعر، ادیب، عارف او فاضل انسان و. د خپلې شاعرۍ تر څنګ یې د نورو شاعرانو پالنه او روزنه هم کوله.(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۴٦ او ۲۴۷).

شادمحمد خان د مردان لوی ریس او علمي شخصیت و. د مر دان دوه نور نوموتي کسان میر افضل خان او بېګم زري سرفراز یې لمسیان وو. دخواجه معین الدین چشتي د فارسي کتاب معارج النبوة پښتو ژباړه یې د (معراج نامه ) تر سرلیک لاندې د (۱۳۱۲ هـ )کال د رجب پر (۲۸مه) بشپړه کړې ده.(رضا، ۱۹۷۸ز، ۲٦٦).

د شعري سبک په تړاو یې ډاکتر زبیر حسرت لیکي: (( ډاکتر مهجور نه صرف د شادمحمد خان په ژوند، علمي او ادبي ، سیاسي او اجتماعي، تصانیفو او مذهبي او اخلاقي شاعرۍ تفصیلي رڼا اچولې ده او پرمغزه مقدمه یې لیکلې ده بلکې د رحمان بابا د سبک شاعر تر عنوان لاندې یې د سبک او مکتب پېژندګلو هم مونږ سره د (کشاف تنقیدي اصطلاحات) د ابوالاعجاز حفیظ صدیقي او د ( دپښتو ادبي مکتبونـه) د پوهاند صدیق الله ریشتین په حواله کړې ده چې مونږ د دې مقالې په سر کښې ذکر کړي دي.

د شاد محمد خان شاعري هم د رحمان بابا د اثر نه خالي نه ده او نه صرف د رحمان بابا غونـدې خیالونه یې هماغه شان لفظونو کښې بیان کړي دي بلکې ځنې زمکې یې هم د رحمان بابا نه اخستي دي.))(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۴۷ او ۲۴۸).

### ۳. ۴. ۱. ۲٦. ۱. شادمحمد خان عبدالرحمن بابا د شعر سبکي تړون

د ډاکتر مهجور د څېړنې له مخې د عبدالرحمن بابا او شادمحمد خان شعري سبکي توکي د مذهب او شریعت تبلیغ، د ښو خویونو او سپېڅلو اخلاقو درسونه، د شعرونو رواني، ساده ګي او اساني په ګوته کولای شو. اوس به يې څو منظوم شعرونه په پرتلیزه بڼه راوړو:

ګـــوره هســـې کردګـــار دی رب زمـــا　　چې صاحب د کـل اختیـار دی رب زمـا
شریـک نـه لـري پـه خپلـه بادشاهی کې　　بـــې شریکـــه شـــهریار دی رب زمـــا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۴).

شادمحمد خان

ګـوره هسـې پـاک سـبحان دی رب زمـا　　چې صاحب د کـل جهـان دی رب زمـا
شریـک نـه لـري پـه خپلـه بادشاهی کې　　بــې شریکــه بــې مکــان دی رب زمــا
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۴۹).

عبدالرحمن بابا

مـــا ســـحر ســـبا لیـــدلی و د چـــا مـــخ　　چې مې درسته ورځ و نـه لیـده دا ستا مـخ
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۲٦).

شادمحمد خان

چــې مــې ولیــده ســحر د اغیــار مــخ　　درسـته ورځ مــې و نــه لیـده د یـار مـخ

عبدالرحمن بابا

ولــې نــه ګــورې و ماتــه ســم پــه څــه　　زیـــاتوې د غمـــزده وو غـــم پـــه څـــه
زه رحمن په خپله ګرم یـم چې مین شـوم　　دغـه نـور عـالم مـې بـولي ګـرم پـه څـه
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۳۱۹او ۳۲۰).

شادمحمد خان

ولــې نــه ګــورې و ماتــه ســم پــه څــه　　لا دبکــې راتــه کــوي صــنم پــه څــه
چې د عشق پـه جذبـه بې خـوده ګـرځم　　دا همــه عــالم مــې بــولي ګــرم پــه څــه
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۰).

عبدالرحمن بابا

په دنیا کې که څه کار دی خو د دین دی
د دې کار په کننده وو افرین دی
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۲۷).

شادمحمد خان

که څه کار دی خو د دین دی بل څه نه دي
بې له دینه نور ګنه زیات و کم پوچ
( حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۲).

عبدالرحمن بابا

که څوک تله د انصاف در ته په لاس کا
خپل ټټو او د بل اس به برابر کړې
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۴۴۰).

شادمحمد خان

دا کوم عقل کوم هنر او کوم انصاف دی
چې دې خره کړله له اسپې برابر
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۲).

عبدالرحمن بابا

لکه سیند د آباسین په غورځې درومي
هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۵٦).

شادمحمد خان

د دې عمر د رفتن هسې مثال دی
لکه درومي اباسیند جنبان په کوچ
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۲).

عبدالرحمن بابا

د مکې په بزرګی کې هېڅ شک نشته
ولې خر به حاجي نه شي په طواف
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۱).

شادمحمد خان

د مکې په تلل به هېڅ خر حاجي نه شي
جاهل کله شي عالم په تش کتاب
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۳).

اوس د شادمحمد خان هغه شعرونه راوړو چې عبدالرحمن بابا د شعر پر څمکه یې راټوکولي دي:

عبدالرحمن بابا

هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې دنیا
بې وقوف دی وقوف دار د دې دنیا
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۵).

شادمحمدخان

غلـط مــه شــه پــه ســینګار د دې دنیــا　　　پــه دام نـــه شـــې ګرفتـــار د دې دنیـــا
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۴).

عبدالرحمن بابا

ويښته سپين سترګې تاريکې خوله کنډاس　　　نــه و کـــارې د دنيـــا لـــه چـــارو لاس
(عبدالرحمن بابا، ۱۳۸۴ل، ۱۶۶).

شادمحمد خان

راشــــه و باســــه د بــــدو چــــارو لاس　　　نـور پـه طبـع بانـدې مـه ځـه د خنّـاس
پــه دا هســې عمــر بــدو تــه هــوس کــړې　　　چې دې ږيـره شـوله سـپينه غـاښ کنـډاس
(حسرت، ۲۰۱۳ز، ۲۵۵).

د پورته بېلګو په رڼا کې تاسې کولی شئ د شادمحمد خان په شعري ټولګه کې ډېرى داسې غزلې او بيتونه نور په نښه کړئ چې د عبدالرحمن بابا د سبکې پيروى څرکونه ترې را څرګند کړئ.

د عبدالرحمن بابا د شعري سبک لاروي خورا ډېر دي چې د ټولو راوړل يې دلته د اثر د پنډېدو لامل ګرځي، ما د ده له لارويو څخه يو څو کسه د بېلګې له مخې راوړل د نورو پلېونو به يوازې نومونه راوړم، که څوک لېوالتيا لري په دغه برخه کې نوره څېړنه وکړي نو يو وړوکى ور به مې ورته پرانستى وي.

ښاغلي سرمحقق زلمي هېوادمل په خپل اثر(د پښتو ادبياتو تاريخ لرغوني او منځنی دوره، ۱۳۷۹ل) کې لاندې شاعران د محدودو آثارو په لاسته راتلو په ډېره کمه کچه پر پېژندګلو سربېره د عبدالرحمن بابا د سبک لاروي بللي دي:

**۳. ۴. ۱. ۲۷. غفور**

غفور د دولسمې هجري پېړۍ شاعر بلل شوى دى، ځينې غزلې يې په کليد افغاني او ګلـزار روح کـې چـاپ شوې دي، د عبدالرحمن بابا د شعري سبک ښه پيرو دى، په غزلو کې يې مستي، رواني او خوږلني ليدل کېږي. لاندې يې د يو غزل دوه بيته راوړو:

که تاختونه دارنګ تـل د يـار چشـمان کـا　　　خـود بـه شـهر د زړګـي زمـا ويـران کـا
هسې رنګ دې د لبـانو پـه مـی مسـت يـم　　　چې مې فخـر پـه خمـار تـل خمـاران کـا

**۳. ۴. ۱. ۲۸. جمال خان**

جمال خان د پښتو بل ديوان ورکی شاعر دی چې له لاس ته راغلو غزلو څخه يې ادبي مؤرخانو د عبدالرحمن بابا د سبک په پلېونو شمېرلی دی. ښاغلي رفيع ويلي دي چې د ده په تر لاسه شوي کلام کې اخلاقي ويناوې او د مينې نغمې په څپو دي. نوموړی شاعر د دولسمې هجري پېړۍ بلل شوی دی. يو بيتې:

خراب زړه چې مې بيمار و هغـه نـه دی　　　چـې مـدام پـه انتظـار و هغـه نـه دی

### ۳. ۴. ۱. ۲۹. نیازمحمد، عبید او نصرت

د ادبي ستوري په لومړي ټوک کې چې د نیازمحمد، عبید او نصرت کومې غزلې راغلي د نوموړي کتاب مؤلف دغه غزلې د عبدالرحمن بابا له ساحرانه شعر څخه اغېزمنې بللې دي او درې واړه یې د عبدالرحمن بابا په سبک کې ورګډ کړي دي. نوموړي درې واړه دیوان ورکي شاعران دي، ځینې غزلې یې د ملا ښایسته خان لـه خطي جونګ څخه تر لاسه شوې دي. د هرې غزلې یوه یوه مقطع یې لاندې راوړو:

| | |
|---|---|
| نیاز محمد دې و دیدن ته وږی پروت دی | تـه سـخي یـې پـرې کـوه کـرم تـازه |
| سر لـویي بـه د عبیـد حاصـل شي هالـه | چې په غم د خپل حبیب پرېوزي سر تـور |
| پـه خنـدا خنـدا دې زړه د نصرت یـووړ | اوس به چېرې له تا ځي څو یې ور نه کړې |

### ۳. ۴. ۱. ۳۰. شیخ نامدار

د عبدالرحمن بابا په لارویو کې شیخ نامدار د پخې وینا خاوند او د ده د قام قبیلې شـاعر و، لکـه پخپلـه چې وایي:

| | |
|---|---|
| وکښـو دا غـزل یـو دویـزي پـه دا بیـاض | دی چې پیدا شوی د رحمان موند په قام کې |

د څورلسمې هجري پېړۍ په بهیر کې ځینې نور دیوان لرونکي شاعران موږ ته معلوم دي چې د بابا د خـواږه سبک لاروي دي. په دغو شاعرانو کې عمران پېښوري، شهنواز، فضل شاه او بازمحمد بنګش دي.

د افغانستان په سیمو کې له دولسمې هجري پېړۍ را نیولې ان تر څورایمې هجري پېړۍ پـورې د عبـدالرحمن بابا د سبک شاعران را ټوکېدلي دي، لکه عبدالنبي د محمد اسماعیل زوی د کنـدهار اوسـېدونکی، ګـل محمـد کاکړ، عبدالوهاب اڅکزی، عبیدالله الکوزی د عبدالجلال زوی، خدایداد د سردار عبدالجلیل زوی د عبدالقادر خان لمسی، عبدالغفار هوتک، میر امام الدین، فدا محمد او ابن یمین دي.

په ( په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه) په اثر کې ځیني په هند او کشمیر کـې اوسـېدلي شاعران، لکه عبدالرّسول دکندهار په کشمیر کې، تنها په هند کې، رحمت داوي، د سوات په کوهستان او کشمېر کې، منصور او ګل میر په هند کې هغه شاعران دي چې د عبدالرحمن بابا د سبک لاروي بلل کېږي.

همدا ډول په بخارا کې ګل محمد افغان او محمـد دوه نـور شـاعران دي چـې د عبـدالرحمان بابـا د عـالمګیر شعري سبک د لارې لاروي پېژندل شوي دي.(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۱۸۳ــ ۱۹۵).

د صدیق، احمد شاه بابا د سبک پر لوري د ادبي کره‌کتونکو تر منځ اختلاف دی ځیني یې د عبدالرحمن بابا د سبک پیرو بولي ځیني یې پکې نه شمېري. بله دا چې د عبدالرحمن بابا د سبک د لارویو لړۍ اوس هم د ساده والي او روانۍ له مخې د ځینو شاعرانو له خوا څارل کېږي.

### ۳. ۴. ۲. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې

کله کله د صفت او موصوف ترمنځ مطابقت نه مراعاتوي. د (و) سربل راوړل، د قافیې لپاره د کلمې بڼه بدلول، بې توري په بې توره بدلول، ځینې ځای په شعر کې ښځینه صفت نامستقیم مخاطب کړی دی، نوموړی ادبي ښوونځی که څه هم په ساده او روان مشهور دی خو بیا هم ځینې وخت نامانوسې کلمې، لکه رتې، علوفه، ګونټه، ګورهنده او نور کاروي. تنګسه کلمه تنګڅه لیکي، تېښته ( ځېښته) لیکي.

په ټوله کې د نوموړي ادبي ښوونځی موتیفونه د زمانې، ګردښت او فلک له بې وفایۍ شکایت، دعینې مسرې بیاځلي راوړل، رندي، ترک، خوبان، رقیب، چاه زنخدان، اوښکې او ژړا، تواضع، همای، له نفس سره مبارزه، له هجران څخه شکایت، غزا وشوه، د مجنون بېد، شاه او ګدا، دویي، په ډېر هنري بڼه د کلمو او جملو په بدلون سره د یو غزل په پرلپسې بیتونو کې د یو فکر راوړل، د محبوب له خوا د مینې غبر کېدل، ځان د یار د کوڅې سپی بلل او نور ګڼلای شو.

### ۳. ۴. ۳. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې

د نوموړي ښوونځي د شعر موضوعګانې چې ډېری مخکېنیو شاعرانو هم په خپل سبک راوړي دي خودلته نوموړي په خپل سبک بیان کړي دي، لکه د دنیا پر مال، منصب، ښکلا، بقا او ژوند د بې باورۍ تلقین کول، د دغه ادبي ښوونځي ډېری سلنه موضوع پر دنیا بې باوري او د اخرت لپاره توښه برابرول دي، حلم او نرمۍ ته پر زورځواکۍ غوراوی ورکول، خودي، عام ژوند په ساده بڼه منعکس کول، وحدت الوجود او وحدت الشهود، له ریا څخه ځان ساتل، توکل، قطب، غوث او اوتاد، مجازي مینه، ټولنیز نقد، پر اخلاص سپارښتن، فلسفه، تر مرګ مخکې مړینه، له نورو سره مرسته کول، له مغلو څخه شکایت، پر مادې معنی ته غوراوی ورکول، تقدیر پر تدبیر غوره ګڼل، انسانیت، هېواد پالنه، عشق ته پر فلسفه غوراوی ورکول، تعادل مراعتول، اضداد، اخلاقي خودي، ځان د دلبر سپی کول، له فلک څخه شکایت، عنقا یادول، د رقیب غندنه، ډېره تعلی راوړل او د ژوند واقعیتونو ته اشاره کول دي.

### ۳. ۴. ۴. د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځي ګډې ادبي سبکي ځانګړنې

په بلاغي توکو کې بیان او معاني اصل ګڼل کېږي. بدیع یې له توابعو څخه دی. عروض او قافیه یې هم له توابعو څخه ګڼلای شو.

د عبدالرحمن بابا د ادبي ښوونځي شاعرانو خپل مخاطب ښه مطالعه کړی دی، د هغو علمي کچه یې ځان ته څرګنده کړې ده، بیا یې د خپلو شعرونو د کلمو، ترکیبونو او جملو غوراوی کړی دی. همدا لامل دی چې د

نوموړي د شعر د لوستنې پر وخت لوستونکی له کومې ستونزې سره نه مخامخ کېږي. په خپلو شعرونو کې هغه کلمې راوړی چې د مانا لپاره قاموس ته اړتیا پیدا نه کړي، ترکیبونه یې غوټه یا تعقید نه لري او د جملو په اوډنه کې هم د کلمې او ورسره د کلمو ترکیب او چاپېریال ته ډېره پاملرنه کوي چې کومه معنوي غوټه پکې پیدا نشي. په دغه کار کې عبدالرحمن بابا ډېر برلاسی دی، ټول دیوان کې یې د ګوتو په شمېر داسې کلمې تر سترګو کېږي چې معناوې یې یا قاموس ته او یا هم د هماغه مهال ګړدود ته په پاملرنې خپله مانا را ښیي.

په دیوانونو کې یې کوښښ کړی چې پښتو ټولپوهیزه کلمې وکاروي که څېرته بیا شعري، دیني، تصوفي یا کومه بله اړتیا پېښه شي کوښښ یې کړی چې عربي، فارسي یا هندي اسانه کلمې د شعر لپاره و ټاکي.

تشبیه، استعاره، سیمبول او کنایه د بیان توکي دي، په نوموړي ادبي ښوونځي کې د شعر ګڼ انځورونه د تشبیه، استعارې او سیمبول په واسطه رامنځته شوي دي او ورسره ډېری خبرې یې د ساده تشبیه ګانو، استعارو او سیمبولونو پر مټ لوستوالو ته وړاندې کړې دي. په نوموړي ادبي ښوونځي کې هر ډول بلاغي توکي موندل کېږي، نادرې تشبیه ګانې یې هم راوړې دي، د تشبیه له ډولونو څخه یې تفضیلي تشبیه، معکوسه او نورې ډېری تشبیه ګانې یادولی شو چې د نوموړي دیوان ته په پاملرنې یې لوستلی شو، همدا ډول مکنیه او مصرحې استعارې هم لري، قراردادي سیمبولونه یې د تصوف فکر را لېږدوي.

بدیع د بلاغي علومو له توابعو څخه دی، کلام د مانا او د کلموو ترکیبونو او جملو د څرګندې بڼې له مخې په زړه پورې کوي او لوستونکی یې په لوستو اړ کېږي. کله کله بدیعي جوړښتونه د شاعر د فکر په ښه رسونه کې ډېر ګټور تمامېږي. په نوموړي ادبي ښوونځي کې د بدیع ګڼ جوړښتونه راغلي دي چې په ټوله کې طباق الاضداد ادبي جوړښت پکې تر ډېره تر سترګو کېږي چې په دې سره د اضدادو فلسفه پکې ښه پالل شوې ده او ورسره معمی او ادبي تعلی هم پکې ډېره کارېدلې ده.

دعبدالرحمن بابا په ادبي ښوونځي کې د قافیو ډېری ډولونه راغلي دي، په یو نیم بیت کې د وزن او قافیې د اړتیاوو له مخې د کلمې په جوړښت کې لاسوهنه شوې ده.

### ۳. ۴. ۵. د عبدارحمن بابا د ادبي ښوونځي عمومي ځانګړنې

د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی ابهام او پېچلتیا نه لري، په دغه سبک کې د شعر د کلمو په غوراوي کې زیار ایستل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنګ لپاره یې ډېر ښکلي خو ساده او ټولپوهیزه کلمې غوره کړې دي، د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی د واقعیتونو بیان ته زیاته پاملرنه لري. له انسان سره مینه په دغه سبک کې په ښکلي انداز بیان شوې ده، ډېره تعلی (ځان ستاینه) راوړل، د دنیا بد او ښه والی بیانول، په یوه نظم کې د کلمو او ترکیبونو پرلپسې داسې تکرار چې لوستونکی نه تنګوي، بلکې لا یې پسې لوستو ته هڅوي، سادګي، رواني، اساني، شایستګي او دلچسپي، سهل ممتنع، د پند پر وخت هم د مخاطب د ادب خیال ساتل، د موضوع له مخې د عبدالرحمن بابا دیوان څلور موضوعګانې (تصوف او عرفان، دیني مسایل، ټولنیزه پوهه او کلتور، مجازي او حقیقي مینه) مخکې وړي، په ډېره هنري بڼه د کلمو او جملو په بدلون سره د یو غزل په پرلپسې بیتونو کې د

یوفکر راوړل، دمحبوب له خوا د مینې غبر کېدل، عام ژوند په ساده بڼه منعکس کول، وحدت الوجود او وحدت الشهود، له ریا څخه ځان ساتل، د دنیا پر مال، منصب، ښکلا او ژوند د بې باورۍ تلقین کول، حلم او نرمۍ ته پر زورځواکۍ غوراوی ورکول، له خودۍ ځان ساتل، د ټولنې د وګړو پر ناوړه کارونو نقد، پر اخلاص، طمعه نه کولو، په مال او دنیا پورې د زړه نه تړلو په تړاو سپارښتن، پر عقل او فلسفې عشق ته ترجیح ورکول، تر مرګ مخکې مړینه، تصوفي سیمبولونه، نادري تشبیه ګانې او استعارې راوړل، تعادل مراعتول، د خپل فکر د غښتلتیا لپاره د اضداد راوړل، اخلاقي خودي، بلاغي توکي پر ځای کارول، شاعر انسانیت، هېواد پالنه، ښځینه صیغه راوړل، له نورو سره مرسته کول، پر مادې معنی ته غوراوی ورکول، تقدیر پر تدبیر غوره ګڼل او په مجازي مینه کې له محبوب څخه ګیله، یې د ادبي ښوونځی ارزښمن توکي تشکیلوي.

( زمانه، ګردښت، فلک، رندي، خوبان، رقیب، چاه زنخدان، اوښکې او زړا، تواضع، همای، مستې، د نفس رټنه، هجران، دیوان، غزا وشوه، د مجنون بېد، شاه او ګدا او دویي) په خپلو شعرونو کې په تکرار سره راوړي.

په دوی کې بیا زما د څېړنې له مخې (چاه زنخدان، دیوان، غزا وشوه او د مجنون بېد) هغه کلمې او ترکیبونه دي چې نوموړي د لومړي ځل لپاره کار کړي دي.

د ګرامري تېروتنو او تغییراتو په تړاو یې د سربلونو په لړ کې (و) سربل د کلمې او فعل مخې ته راوړي، کله ـ کله د صفت او موصوف مطابقت د شعرې اړتیا له مخې نه مراعاتوي او هم د وزن او قافیو د تړلو پر وخت د وزني او قافیوي اړتیاوو ته په کتو یوه نیمه د قافیې کلمه له ګرامري خوا څخه تغییروي. د عبدالرحمن بابا د ادبي ښوونځي د توکو په لړ کې د عینو مسرو تکرار په بېلابېلو غزلو کې هم تر سترګو کېږي.

## ۳. ۵. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځی

عبدالحمید مومند چې په پښتو منظوم ادب کې خپله ځانګړې لار لري، د پښتنو ګڼو شاعرانو د نوموړي دغه لار و پالله چې په پایله کې یې نوموړی د هندي ادبي ښوونځي بنسټګر شو. د عبدالحمید مومند سبک مخکې تر ده په فارسي ژبه کې د هندي سبک په نامه نومول شوی و چې اوس ډېری پښتانه ادبي کره‌کتونکي د عبدالحمید مومند سبک د هندي سبک په نوم هم نوموي. دلته اړینه بولم چې لومړی د هندي سبک پر شالید او ځانګړنو پوه شو او بیا به یې د عبدالحمیدمومند او پلیونو په شعرونو کې نښې نښانې و پلټوو.

### ۳. ۵. ۱. هندي سبک

هندي سبک په نهمه هجري پېړۍ کې په افغانستان، هندوستان، ماوراء النهر او ایران کې دود شو. په دې سبک کې داشعارو مضامین دقیق شول. دمعناوو باریکۍ او شاعرانه تخیلات په ساده او معمولي کلمو کې دود وموند، همدارنګه په ادب کې کنایې، پېچلې استعارې، لغز، معمی او د تاریخ ګویۍ مادې او داسې نور ډېر راوړل پیل شول.

په دري ادب کې د دې لارې سرلارې صایب تبریزي، بېدل، کلیم، طالب، غني، ناصرعلي او نور ګڼل شوي دي. (برزین مهر، ۱۳۸۲ل، ۲٤ او ۲٥).

د هندی سبک په ګړنه، د پیدابښت پر ځای او د را پیدا کېدو په نېټه د څېړونکو تر منځ اختلافات شته، ځینې یې اصفهان د پیدایښت ځای بولي، ځینې څېړونکې بیا هند د نوموړي سبک د را پیدا کېدو ځای ګڼي. د پیدایښت د نېټې نسبت یې زرین کوب، شبلي نعماني، حسن زاده او کوروش صفوي د نهمې پېړۍ شاعر بابا فغاني ته کوي او ځینې نور یې بیا د پیدابښت نېټه د یوولسمې پېړۍ پیل ګڼي. https://wiki. ahlolbait. com/ دانشنامه اسلامي.

### ۳. ۵. ۱. ۱. په پښتو ادب کې د هندي سبک دودېدل

د پښتو ادب د تاریخ په رڼا کې د هندي سبک بنسټ د یوولسمې هجري پېړۍ د دویمې نیمایي په پیل کې د عبدالحمید مومند بابا په لاس کېښودل شو چې د کامګار خټک، کاظم خان شیدا، بېدل، محمدي صاحبزاده، خانګل خلیل، حنان بارکزي، علي خان او نورو پښتنو شاعرانو په واسطه ښه وپالل شو. ښایي عبدالحمیدمومند دا کار له نورو ګاونډیو ژبو سره د سیالۍ په موخه کړی وي، نوموړی وایي:

چې هیچرې په فارسي کې مونده نه شي — هسې ساز دی حمید ایښی په پښتو کې
فارسیانو د حیرت ګوتې پر غاښ کړې — چې حمیدسخن سازي کا په پښتو کې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱).

ښاغلي پوهاند دوکتور زیورالدین زیور د هندي سبک پیلامه له نهمې پېړۍ څخه ګڼي مګر په حقیقي بڼه پیل یې له لسمې هجري پېړۍ څخه تر دولسمې هجري پېړۍ پورې ښيي. (زېور، ۱۳۸۸۶ل، ۲۸۱).

**۳. ۵. ۱. ۲. د هندي ادبي ښوونځي ځانګړنې**

۱- ډېرې کنایې او استعارې کارول: د دې سبک شاعران کوښښ کوي چې خپل کلام په ډېرو استعارو او کنایو ښکلی کړي.

مړاوی رنګ زما پوښته له مړاوو سترګو | دا چې وي خبرداری دخوار په خوار
(مومند، ۱۳۸۳ل، : ۶۹).

درست صورت په غشو پر غونچه وار خوب کړم | ستا د تیر زخم زما راحت افزا دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۵٤).

۲- دنویو او باریکو مضمونونو راوړل او ورسره خیالي انځورونه په خپل کلام کې ځای په ځای کول د دې سبک ځانګړنه ده. علي خان وایي:

سور د خیال په تند توسن شي د سم قد نېزه ورڅخه | د خط شنه زغره اغوستې ځي د جنګ په سمباله کې
(علي خان، ۱۹۸۸ز، ۸۸).

د خیال تند توسن، د سم قدنېزه او د خط شنه زغره ټول خیالي انځورونه دي چې د واقعاتو له نړۍ سره یې څه کار نشته او هم په خپله د مضمون بیان یې ډېر باریکه دی. عبدالحمید مومند وایي:

ماوې عین ګڼه ګل دی د غونچې په لمن نغښتی | که مې کوت یوګل اندام و پروت په سبزه دوشاله کې
(مومند، ۱۳۸۳ل، : ۳۰۲).

د کاظم خان شیدا بیت دی:

بې خبر یې نوبهار د حنابولي | ستا په لاس کې تازه ګل د حنا اب شو
(شیدا، ۱۹۹۱ز، ۱۹).

۳- دګړنو کارول: په هندي سبک کې ګړنې تر ډېره حده کارول کېږي چې دلته د عبدالحمید مومند یوبیت بېلګه کوم:

چې په عشق دې ابتدا وکړه حمیده | ځکه شوه هسې په مالګې ستا ادا
(مومند، ۱۳۸۳ل، : ۷).

په مالګه کول او په لاندې بیت کې (خرپه خته ډوبېدل) ګړنه ده.

د خپل عشق په پاکبازۍ شکردار یم | چې مې نه شه خر په خته د عصیان ډوب
(مومند، ۱۳۸۳ل، ٤۳).

٤- دارسال المثل کارول: د عبدالحمید مومند په لاندې بیت کې ( ډب نه وي ادب نه وي ). متل دی.

پـه زړه مِهرپـه خولـه قهـر زوی تـه بویـه          څـه ښـه وایــي چېرتــه ډېر هلتــه ادب
(مومند، ۱۳۸۳ل، :۳۶).

۵- په هندي سبک کې تمثیل ته زیاته مخه شوې ده چې دلته دکاظم خان شیدا یوبیت راوړم:

تورې سترګې دې شوې ترې په خندا کې          کـه هنـدوې د هنـد لامبـې پـه ګنګـا کـې
(شیدا، ۱۹۹۱ز، ۱۴۳).

ګنګا چې د هندو مذهب مذهبي سیند دی د هندویو لامبل د تمثیل بڼه لري.

۶- له ذهن څخه لرې کنایې او استعارې کارول یوه بله ځانګړنه ده، چې هندي سبکه شاعرانو ورته مخه کړې ده.

تـر هغـه چـې سرد جـوشي د حنـا ویـنـم          خوښ په طور د سمک بې د سـت وپـایـم
(کاظم دانش : ۱۴۹).

۷- زیاته مبالغه: په شاعرۍ کې خو هسې هم مبالغه مالګه ده خو په هندي سبک کې لوړې پوړۍ ته رسېدلې ده:

واسـمان تـه بـه دشـعر زینـې کښـېږدي          کـه حمیـد د غـم لـه سره زنګـون وکـېښ
(مومند، ۱۳۸۳ل، :۱۰۰).

تنګـه خولـه یـې پـه مثـال د میـږي سـترګه          نـه غلـط شـوم چـې مثـال یـې ناپیـدا دی
(میر زا حنان بارکزی :۱۴۵).

۸- د تخیل ډېره ژورتیا: د هندي سبک شاعران کوښښ کوي، چې مضمون یې نوی رنګ ولري، د تشبیه اړیکه یې نوې او غریبه وي، چې په دې سره یې د کلام په مانا پوهېدنه یوڅه غور غواړي، کاظم خان شیدا وایي:

د شـانې پــه دود پیــدا کــړه رســا فکــر          بــاریکي لــري زمــا د اشــعار زلفــې
(کاظم نورنګ :۱۳۶).

بــې ســوختنه یــې مـردن دی لکــه شـمع          د شـیدا طـور یوڅـه مشـکل پسـند دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۵۸).

په چشمه د افتاب آب واخیست ستا تورې          چې مې لوېږي لکه برق له زخمـه څرېکـه
(شیدا، ۱۹۹۱ز، ۲۵).

۹- په قصدي ډول په هندي سبکه اشعارو کې بدیع او بیان ته توجه نه کېده، که څه هـم تشبېه د هنـدي سبک شاعرۍ بنسټ دی که بدیعي او بیاني اړوند کوم څېزونه ددوی په شاعرۍ کې راغلي وي هغه بـه تصادفي وي. (شمیسا، ۱۳۸۲ل، ۲۹۸او ۲۹۹).

دوی که څه هم د مضمون نوي والي ته ډېره پاملرنه کوي نو په دې لامل یې په شعر کې نـادرې تشبیه ګـانې، استعارې او کنایې په پراخه پیمانه پیداکولای شو.

۱۰- د هندي سبک د شاعرانو یوه بله ځانګړنه داده چې دوی بازاري او عامیانه کلمې په خپل کـلام کـې راوړي، چې په دې اړه سیروس شمیسا لیکي: "دمختلفو پوړیو خلکو شعر ته مخه کول، چې له ادبي تحصیلاتو سره یـې

کارنه و یا یې نه درلود، د دې لامل شول چې په شعر کې دې د بازار او کوڅې ژبه لار پیداکړي په دې وجه په شعر کې نوې وینه وچلیده. " (شمیسا، ۱۳۸۲ل، ۲۹۵).

په پښتو منظوم ادب کې یې لاندې بېلګې راوړلای شو:

د یوه غېږ کې پرته او بل ته خاندی — څه لولی او بې حیا ده دا دنیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳).

چې وږمه یې د نسیم په رخسار داغ شي — دبوسې په وخت وروړای نشم لبان شوخ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ٦۰).

ډېر مې خره خسي کول وکړه پوه نه شوم — ریش کنده جامه پاره له لېونتوبه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۸۸).

چې سپیتوب د عاشقی را څخه نه ځي — ځکه شم باله په تو شاړه په چخه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۰۲).

له هغه مخه څوک څرنګ بوسه واخلي — چې یې مخ وي د امو پیو پېروی
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۱۵).

۱۱- ایجاز یا لنډون د دې سبک بله ځانګړنه ده. په دې مانا ډېرې خبرې په لږو عبارتونو کې راوړل.

په هنر هنر یې زړه را څخه یووړ — را ته شو یار و ریبار توتي مینا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۹).

۱۲- د مصرو ترمنځ انډول او تناسب ساتل.

۱۳- د دې سبک غزلیزه شاعري زیاتره د مینې پر خو او شا چورلي او بېلابېلې موضوعګانې پکې پرېمانه راغلې دي.(مومند، ۱۳۸۳ل، دیارلس).

۱۴. د قافیو تکرار په هندي سبک کې ډېر تر سترګو کېږي. دلته د بېلګې لپاره د عبدالحمید مومند د یوې غزلې پایمخی او پای بیت راوړم.

چې یې بردي په راڼه وچولي مېلمه ته — سپور سوکړک د حمید خوند کا د چوري
په دا کار به سخندان توتیان پوهېږي — چې اشعار د حمید خوند کا د چوري
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۷۳).

د پورته خبرې په تایید لاندې د یوې بولل رنګې غزلې بیتونه سره تکرار راوړل شوي دي، د غزلې اوولسم بیت:

په دریمه په لېتي کې — په بل ویر وي ته واده کړې

د همدې غزلې دوه ویشتم بیت:

په دریمه د ویرژلي — په بل ویر وي ته واده کړې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۷۸).

۱۵. په هندي سبک کې بیا له ژوند او زماني څخه مانېي کول هم د نوموړي سبک ځانګړنه ده. کلیم وایي:

وضع زمانه قابل دیدن دو باره نیست — رویش نکرد هر که از این خاکدان رفت

بدنامی حیات دو روزې نبود بېش — آنهم کلیم با تو بگویم چسان گذشت

صایب وایي:

مرا بروز قیامت غمی که هست اینست — که روی مردم عالم دوباره باید دید

(روهي، ۱۳٦٦ز، ۱۴).

د عبدالحمید مومند وایي:

بیا د دهر خزانه ده تشه شوې — چې حمید په درو لعلو ژړوي

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۱۴).

هغه زړه چې د فلک په ښادۍ خوښ شه — هم فلک به یې اخر کا به ارمان غوځ

(ختک، ۱۹۹۱ز، ۱۳۵).

۱٦. په هندي سبک کې ابهام او پیچلتیا ډېره وي، ځکه کاظم خان شیدا وایي:

د شانې په دود پیدا کړه رسا فکر — باریکي لري زما داشعار زلفې

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۸۴).

کړه یې وا لکه ګره دتورو زلفو — باریکي لري تمام دیوان زما

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۹۹).

باریک تر موی دی د شیدا شعر — هله یې لوله که موشګاف یې

(شیدا، ۱۹۹۱ز، ۲۵).

د هندي سبک ځینې شاعران دې پایلې ته رسېدلي دي چې د خپل شعر په منځپانګه پوهېدل یې پر عامو وګړو سربېره د ځانګوالو تر علمي کچې هم لوړ کړی دی. د کاظم خان شیدا بیت دی:

د زړه حال مې لکه شمع ظاهر نه شه — پیچیده مکتوب مې سوی په مضمون دی

(شیدا، ۱۳۸۴ل،۲۷۱).

په دقت کې یې کړه غور سخندانه — د شیدا کلام محل د تأمل دی

( شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲٦٦).

### ۳. ۵. ۱. ۳. د هندي سبک شعري پېچلتیا ( ابهام )

ابهام په لغت کې پټولو، د کار تړلو، پټه وینا او همدا ډول د پېچلتیا، پټوالي او تیارې په ماناوو راغلی دی. د شعري پېچلتیا د پېژندنې لپاره باید لومړی د هندي سبک د بیت جوړښت او ورپسې د( برجسته مسره او مخکې مسره ) له ادبي ګڼو سره ځان اشنا کړو.

### ۳. ۵. ۱. ۴. د هندي سبک د بیت جوړښت

د شعر قالب په هندي سبک کې یوازې یو بیت دی نه غزل چې ګڼ بیتونه بیا د قافیې او وزن له مخې سره یو ځای شوي او د غزل بڼه یې خپله کړې ده.

د هندي سبک د بیت جوړښت داسې دی چې په یوه مسره کې موضوع په معقولې بڼې راوړل کېږي او په بله مسره کې بیا دغه معقوله بڼه د تمثیل، لف و نشر اړیکې یا هم مرکبې تشبېه پواسطه محسوس حالت ته راوړل کېږي چې ټوله هنري خوا په دغه وروستۍ مسره کې په پام کې نیول کېږي چې معقول د محسوس لوري ته را لېږدوي او ځومره چې په ښه کچه د دواړو مسرو تر منځ اړیکه خورا هنري او منسجمه وي، پر زړه ښه اغېز کوي.

د هندي سبک د پلویانو په اصطلاح معقوله مسره چې د یو شعار بڼه لري او له برجسته مسرې څخه مخکې راځي نو پېش مصرع (مخکې مسره) ورته وایي، که مضمون تکراري هم وي توپیر نه کوي خو (برجسته یا ځرګنده مسره) یې چې دغه شعار په شعر اړوي باید تازه او بکره وي چې د هندي سبک لویو شاعرانو په ښه ډول دغه خوا پاللې ده. صایب وایي:

همېشه بر سر چشم جهان بود جایش　　　تواند آن که چو ابرو به هم دو مصرع بست
از پیچ و تاب اهل سخن صائب آگه است　　　چون سرو هر که مصراعې ایجاد میکند

د پورته دوو بیتونو له مخې د هندي سبک بحث بیت هم نه دی، بلکې یوازې یوه مسره ده.(شمیسا، ۱۳۸۲ل، ۲۸۷ او ۲۸۸).

په دې تړاو کاظم خان شیدا هم په خپلو شعرونو کې د (فرد او مصرع) کلمه کاروي:

شیدا زه یې منتخب د پښتو بولم　　　که دیوان دې مرتب دی په څو فرده
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۴).
د رنګین شعر مصرع کړه چا موزونه　　　که ګلګون لباس د دې سروې بالا دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۵۴).

### ۳. ۵. ۱. ۵. لوی شاعر

په هندي سبک کې لوی شاعر هغه دی چې د هغه ذهن وکولای شي تل د معقول او محسوس تر منځ نوې اړیکه را منځته کړي.

دغه د دوو مسرو ترمنځ نوې اړیکې (چې ډېرې تشبیهي اړیکې دي) ورځ تر بلې د دې لامل شوې چې زر ذهن ته رسېدونکې اړیکې په هغو تشبیهي اړیکو واړوي چې ذهن ورته زر و نه رسېږي او یا هم په ډېر غور او

فکر ذهن ته راشي او کله هم داسې کېچې ته و رسېږي چې د دغې تشبیهي اړیکې په اړه پوهه نا شونې شي. موږ ویلای شو چې د هندي سبک (معقول مطلب) موضوع ده، کېدای شي هر شی چې وي خو دغه موضوع د محسوسې مسرې په راوړلو سره پر مضمون اوړي چې باید باریکه، هنري او تشبیهي وي. له دغې مخې وایي د هندي سبک شاعران مضمون جوړوونکي دي یعنې موضوع چې په خپل ذات کې عادی او غیر ادبي ده، په مضمون اړوي چې باریکه او هنري شي. صائب وایي:

با کمال احتیاج از خلق استغنا خوش است　　با دهان تشنه مردن بر لب دریا خوش است

بل ځای وحید قزویني وایي:

ز یاران کینه هر گز در دل یاران نمې مانـد　　به روی آب جـای قطرۀ بـاران نمـې مانـد
(شمیسا، ۱۳۸۲ل، ۲۸۹).

په پورته بیتونو کې لومړی بیت معقول او عامه خبره ده خو د دویمې مسرې په راوړلو چې محسوسه مشبه به ده بیت شاعرانه شوی دی. کېدای شي معقوله مسره وروسته هم راشي او داسې بیتونه لیدل شوي چې محسوسه مسره چې عادي خبره پر شعر اړوي لومړۍ راشي. لکه د علي خان لاندې بیت:

وازه خولـه لکـه پرهـر لـه درده خانـدم　　سـتا جفـا تـه لـه حیرتـه خنـدا راغلـه
(علي خان، ۱۹۸۸ز، ۱۴۳).

د هندي سبک شاعران د معقولې مسرې د اثبات لپاره ډېرې مدعامثلونه راوړي، دغه مدعامثلونـه هـم ډېری د دوی په ورځني ژوند او چاپېریال پورې تړلي برېښي. له لاندې بیت څرګندېږي چې شاعر لـه کلیـوال چاپېریـال څخه اغېزمن دی:

افتــادګي آمــوز اګــر طالــب فیضـي　　هر ګز نه خورد آب زمینی کـه بلنـد است
(شمیسا، ۱۳۸۲ل، ۲۹۰).

دلته غواړم د پښتو د هندي سبک شاعرانو څو بېلګې هم راوړم:

د رقیب لـه بـده خویـه یـار بـد خـوی شـه　　روغ ســـړی پمنــــوي د پمــــن پخــــه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۰۱).

رستمان د صبر و زهـد ستا پـه عشق کې　　نخــــول شي در پـــــه در لکــــه بیـــــزو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۸).

هـر سـاعت زمـا پـه سـترګو کـې ژړا ده　　خوبښ په شور لکه ساحل د سېلاب نـه یـم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۳).

لکه حرف چې سیه پوش وي په بیاض کې　　پـه ښـادی کـې ماتمیـان کـا ماتمونـه
(شیدا دانش : ۲۱۴).

لکه زلفې په بیاض باریک مضمون ږدم | زه شیدا چې چېرې ساز مشکین قلم کړم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۷).

شیدا خم کړم د خاطر لبریز په وینو | زه چې بند لکه غونچه رنګین مضمون کړم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۸).

شیدا مه کوه کلام بې تأمله | هر توتي په ښه ګفتار راځي په ورو ورو
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۷).

پېچیده مکتوب مې سوی په مضمون دی | التفات مې په احوال د خارا بویه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۷۱).

### ۳. ۵. ۱. ٦. مخکې مسره او څرګنده (برجسته) مسره

په هندي سبک کې هغه مسره چې معقوله ده او ډېر ارزښت نه ورکوي، مخکې مسره ( پېش مصرع ) او هغه مسره چې محسوسه او هنري وي څرګنده مسره ورته وایي.

د هندی سبک شاعرانو به لومړی څرګنده مسره پیدا کوله او بیا به یې د هغې لپاره مخکې مسره جوړوله. لاندې مسرې ته پام وکړئ!

د سیماب په شان یې نه مومم بې مرګه | د حیات له لاسه ورک ارام زما
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰٦).

سیماب مایع فلز دی چې تل په خوځښت کې وي. د ده د خوځښت د منځه وړو لپاره فزیکپوهان نیل توتیا ور سره ګډوي چې سیماب له خوځښت څخه و غورځېږي او د مړینې خوا ته لاړ شي. کاظم خان شیدا هم مړینه د خوځېدو پای ګڼي او کله چې خوځښت نه وي نو ستړیا نه وي او چې ستړیا نه وی نو طبعاً ارام را منځته کېږي. نوموړی حیات یا ژوند د نا ارامی سبب ګڼي او نا ارامي یا نا راحتي مسبب دی چې د حیات یا ژوند په له منځه تلو له منځه ځي.

د پورته څرګندې مسرې لپاره بیا لاندې مخکې مسره راوړل شوې ده. یا لکه د عبدالحمید مومند لاندې بیت چې لومړۍ مسره یې (څرګنده) او دویمه یې (مخکې مسره) ده:

په آواز د اوبو تنده نه ماتېږي | کله سود شي د دیدن په سلامونه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۵۲).

### ۳. ۵. ۱. ۷. په هندي سبک کې د پېچلتیا لامل

مخکې مو و ویل باید د دوو مسرو تر منځ د تشبیه له مخې مانایي اړیکه شتون ولري او شرط یې دا دی چې دغه اړیکه یعنې د تشبیه وجه یا لف او نشري اړیکه د امکان تر بریده نوې او بکره وي.

د هندي سبک په پېر کې ځينې کسان وو چې د ادبي کره‌کتونکو حيثيت يې لاره، چا بـه چـې څنگـه بيـت و وايه، دوی به د مضمون د جوړولو په شاليد او يا د وجه شبه له مخې پرې نظر ور کاوه او پـه دغـه بنسـټ بـه يـې شاعر په غلا يا تقليد تورناوه. د دغه تور مخکې تر مخکې د سپيناوي لپاره شيدا وايي:

هـــر مضـــمون مـــې طبـــع زاد دی          کـــــل زمــــا د رای ايجــــاد دی
نـــه غلـــط نـــه مبتـــذل دی          تـــــوارد يـــــې محتمـــــل دی

(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۹۰).

په دغو بيتونو کې پر نامبتذلوالي، سمون او د خپلې طبعې او رايې راوړو سربېره د توارد احتمال هم نه مني. پـه دې اړه د فارسي ژبې د هندي سبک مشهور سرلاری کليم وايي:

ولـــې عـــلاج تـــوارد نمـــې دانـــم کـــرد          مگـر زبـان بـه سـخن گفـتن آشـنا نکـنم
چگونه معنی غيری برم کـه معنـی خـويش          دوباره بستن دزدي است در شريعـت مـن

د هندی سبک شاعرانو ادعا دا وه چې محسوسه مسره بايد نوې وي، که څه هم بې له شکه موضوع يا معقولـه مسره په ډېری مواردو کې تکراري وي. په دې تړاو صايب وايي:

يک عمر می توان سخن از زلف يار گفت          در بند اين مباش که مضمون نمانده است

له پورته نظريو سره سم چې وړاندې راوړل شوې، شـاعر بايـد و کـولای شي چـې موضـوع پـه تـازه مضـمون واړوي نو په دغه لامل ورځ تر بلې د دوو مسرو تر منځ د معنوي اړيکې په رامنځته کولو کې د محـدوديت خـوا غښتلې شوه او تشبيه د غرابت ( غريبه تشبيه يا بعيدې تشبيه ) خواته لاړله او شاعران له دغې مخې د تعقيد، ابهـام او اغراق په ډنډ کې غوپه شول. (شميسا، ۱۳۸۲ل، ۲۹۲).

### ۳. ۵. ۱. ۸. د هندی سبک دوه ډلې شاعران

په هندي سبک کې د مضمونونو د راوړو له مخې دوه ډوله شاعران مخې ته راځي؛ يو ډول يې د بيت تړلـو يـا په بله وينا د کلمو، ترکيبونو او جملو د غواراوي پر وخت له اسانۍ څخه کار اخلي او هڅه کـوي چـې د خپلـې ژبې کلمې ترکيبونه او گړنې راوړي. د پښتو منظومو ادبياتو په دغه برخه کې عبدالحميد مومنـد، بېـدل، محمـدی صاحبزاده او نور راځي خو هغه چې د بيت د تړلو پر وخت لـه پېچلتيـا څخـه يـې کـار اخيسـتی او بيـا پـه خپلـو شعرونو کې په دغه کار پښېماني ښکاره کوي يوازې کاظم خان شيدا دی.

اهـــل هنـــد زمـــا پـــه ژبـــه نـــه پـــوهېږي          ور سره اهـــــل ايـــــران او تـــــوراني
پښـــتانه د روه محـــروم دي لـــه دې فنـــه          خـــبر نـــه دي پـــه بـــديع پـــه معـــاني

هر مضمون مې لکه گنج پوشیده پروت دی د ســطور مــاران یــې کــا نگهبــاني

د مـرآت پـه شـان مـې کـا صـفا د طبعـې هر نفس پـه خپـل مضمون کـې حيراني

مستعد یـم د فارسـی پـه قيـل و قـال کـې پـــه دغـــه لســـان وای دا نکتـــه راني

سلاســت بـــه وو معلـــوم زمـــا د طبعـــې پـه هـر ځـای بـه وای زمـا شـعر خـواني

تـــر وقـــوع د واقعـــې عـــلاج ســـابق وي نفـــع نـــه کـــا او س زمـــا پښـــېماني

پـه تـدوین د خپـل زبـان هسـې نـادم یـم چـې و نـه شـوه پـه محـل گـل افشـاني

احـــتمال بـــه شي ســـاقط د فضـــولی کـــه تـــه وکـــړې د شـــيدا زبـــان داني

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۴۲۴).

البته اوس ډېری پښتانه د کاظم خان شیدا په شعر پوهېږي او خوند ترې اخلي نو د پورته غزل وروستی بیت یې حقیقت ته رسېدلی دی او پورته بیتونه یې نفې شوی دي.

## ۳. ۵. ۲. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځي د منظوم ادب ځانګړي(انفرادي) سبکونه

دلته د هندي ادبي ښوونځي د څو شاعرانو پېژندګلو راوړو چې په پښتو ادب کې یې دغه برخه لومړی پاللې ده.

### ۳. ۵. ۲. ۱. عبدالحمید مومند

دعبدالحمید د زوکړې کال دکره کتونکو لخوا د (۱۰۸۰هـ) کال خواوشا ښودل شوی دی دشرعة الاسلام کتاب په لاسته راتلو یې د ژوند وروستی شیبې تر ( ۱۱۴۸هـ) کال پورې یقیني شوي دي.(زېور، ۱۳۸۶ل، ۲۵۴).

د (شاه او گدا) کیسه چې هلالي چغتایي استرابادي په (۹۳۹هـ وژل شوی) د (شاه ودرویش) په نامه لیکلې وه، په (۱۱۳۷هـ) حمید بابا پښتو ته را ژباړلې ده. (نیرنگ عشق) ادبي اثر چې مولینا محمداکرام غنیمت لیکلی و، نوموړی اثر عبدالحمید مومند بابا پښتو ته په خوږه ژبه راژباړلی دی.

شرعة الاسلام منظوم عربي متن دی چې عبدالحمید مومند بابا په (۱۱۴۸هـ) کال پښتو ته راژباړلی دی.(مومند،۱۳۸۳ل،پنځمه_نهمه).

عبدالحمید مومندبابا دخپلې نازکخیالۍ له مخې پښتو شاعري د ادب لوړ پوړ ته رسولې ده چې ټولو کره‌کتونکو په یوه خوله په پښتو ادب کې د هندي سبک د بنسټګر په توګه پېژندلی دی.

که څه هم عبدالحمید مومند په پښتو  شاعرۍ کې د هندی سبک بنسټګر دی خو کمال یې دا دی چې نوموړي د هندي سبک بنسټيز توکي په منځنۍ کچه خپل کړي دي. نوموړي په خپله شاعرۍ کې د پښتو ژبې لفظي او معنوي ځانګړنې نه دي بایللي نو په دغه لامل عبدالحمید مومند د هندي سبک په معتدلو لارویو کې د مشر او امام درجه لري. په لره او بره پښتونخوا کې او حتی د هند پر ځمکو کې ډېری شاعرانو د ده لار نیولې ده او د خپل شعر سبک یې د عبدالحمید مومند په پیروۍ برابر کړی دی. پښتو هندي سبک په پښتونخوا کې را و

ټوکید، په هند کې لوړ پوړ ته ورسېد، په کندهار کې یې وده وکړه او اغېز یې تر معاصرې پښتو شاعرۍ پورې پایښت و موند. (هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۱٦).

د عبدالحمید مومند د شاعرانه جادو پر بنسټ ځینو شاعرانو خپل عقیدت د نوموړي شاعرۍ ته په خپلو بیتونو کې ښودلی دی چې لاندې یې څو بېلګې راوړم:

کامګار وایي:

چېرې نه چې باد خبر عبدالحمید کا    چې کامګار غزل د ستا په مضمون و وې

(خټک، کام، ۱۳۵۸ل، ۱۵٦).

اپریدی

د پښتو ژبې په شعر په دا خپله زمانه کې    پرې دې نه ښود قلندره بې حمیده بل حریف

(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۴۴).

عبدالعظیم

بیا رحمت په ماشووال عبدالحمید شه    چې جوړ کړی ده کتاب دی ښه روښان

بحث د عشق دی په هر بیت کې    د باران په دود پرې ژاړي عاشقان

(طایر، ۱۹۸٦ز، ۳۴٦).

مرزا خان کندهاری

بل حمید موشګاف د خیال په شعر    څه به وایم ناسفته در یې پېیل

(طایر، ۱۹۸٦ز، ۳۴۷).

عبدالله محزون کندهاری

د عبدالحمید د مینې څه صفت کړم    مونده نشي په پښتو کې بله ژبه

(طایر، ۱۹۸٦ز، ۳۴۷).

بېدل

قلندر عبدالحمید خواجه محمد دی    هم غفور، اشرف، خلیل او کامګار خان دی

مسلم په شعر دا دي و هر چا ته    چې هر یو له یوه واړو نکته دان دی

خصوصاً عبدالحمید پکې حمید دی    چې وېښته چوي په فکر هسې ځوان دی

(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۲۱۲).

پیرمحمد کاکړ

پس له دوی نه موشګاف عبدالحمید دی    چې یې ووې ښه نازك نکته دان شعر

(کاکړ پ، ۱۳۸۵ل، ۶۹).

شمس الدین کاکړ

پس له ده نه موشګاف عبدالحمید دی
باریکي یې د کلام ده ځان د شعر
(کاکړ، ش، ۱۳۸۵ل، ۶۹).

قاضي میراحمد شاه رضواني

بیا په دور د تیمورشاه ابدال له ورایه
ماشوخېلو کې راوخوت حمیدخان

چې یې وپېیل په زور د طبیعت خپل
د الفاظو په ځای ستوري د اسمان
(رشتین، ۱۳۹۱ل، ٥٦٦ او ٥٦٧).

**۳. ۵. ۲. ۱. ۱. د عبدالحمید مومند د شعر موضوع**

د عبدالحمید مومند په شعري کلیاتو کې بېلابېلې موضوعګانې چې روښاني شاعرانو، خوشحال خان خټک او پلیونو یې او عبدالرحمن بابا او پلیونو یې په خپلو منظومو آثارو کې راوړې، راوړې دي خو د راوړو طرز یې له دوی څخه بیل دی. موږ مخکې و ویل چې په هندي سبک کې د پېش مسره او برجسته مسره تر منځ رابطه باید نوې وي نو عبدالحمید مومند د دغې خبرې خیال ساتلی دی، همدا لامل دی چې ساده او سولیدلې موضوع ته نوی رنګ او ښکلا وربښي او په ادبي نړۍ کې یې ځانګړی ځای لاسته راوړی دی. دغه کار په پښتو ادب کې د عبدالحمید پیروانو هم کړی دی.

دا چې د هندي سبک مرکزي نکته عشق دی او بیا د عشق په تړاو خپل فکر په یوه مسره او په نهایت کې په یوه بیت کې راوړي چې دغه بیتونه بیا د قافیې وزن او ردیف له مخې غزل تشکیلوي نو طبعاً په نوموړي سبک کې غزل تر نورو نظمي ځېلونو ډېره پالل شوې ده، دلته له غزلو څخه یې یوازې د موضوع په تړاوی غوره شوي بیتونه راوړو:

د ښکلو ستایل

خدای دې ګونګ کاندي حمید په هغه ژبه
چې به بې ښکلیو پرې کا د چا ثنا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۹).

که مې قد د سروې قد راشي په خوا کې
د چمبېل په دود به سل ځله ترې ځار شم
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱٦۱).

ځکه نه لري پروا بتان د مښکو
هر کمند لري د زلفو کان د مښکو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۹).

چې بتان بازار د حسن کاندي ګرم
سنګدلان کا لکه موم په آتش نرم
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۴۲).

خودي غندل

وکړې خپلې خودرایۍ در باندې چارې
چې دې سپک نیوه ښامار لکه کربوړې

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۷۴).

له زمانې فریاد

بیـــا د دهـــر خزانـــه ده تشـــه شـــوې　　چـــې حمیـــد پـــه درو لعلـــو ژړوي

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۱۴).

دنیا او نفس پرېښودل

د زخمـي چـې زوه درومـي آرام مـومي　　تـه پـه تلـه د دې دنیـا کـړې واوېـلا

زر به لاس له نامېنـدی پـه تشي کښېږدي　　چـې پـه اهـل د دنیـا تـړي څـوک مـلا

پـرورش د نفـس پـه کـار نـه دی حمیـده　　لـه دښـنه سره څـوک نـه کـا تـولاًّ

د یـوه غېـږ کـې پرتـه او بـل تـه خانـدي　　څـه لـولی او بـې حیـا ده دا دنیـا

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳).

### ۳. ۵. ۲. ۱. ۲. د عبدالحمید مومند شعري ترکیبونه

عبدالحمید مومند په خپل شعری کلیات کې ډېری نوي اضافي، تشبیهي او مجازي ترکیبونه راوړي چې دغه کار هم د ده د شعر ښکلا ور زیاته کړې ده. (آهو چشمه، د خط اره، ساده روی، د عشق غم اباد، د خط غبار، د توبې جارو، توره بلا، د عشق تندر، د صبر او زهد رستمان) او نور داسې شعري ترکیبونه دی چې د نوموړی شعر یې لوړ پوړ ته ورساوه.

ساده روی

وا بـه نـه ړوم نـور مـخ لـه سـاده رویـو　　که د خـط اره مـې کښېږدي پـه تنـدي بیا

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۰).

د عشق غم اباد

چې د عشـق پـه غـم ابـاد یـم دېـره شـوی　　نـور مـې هېڅکلـه ښـادی د وجـود نشـته

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۹۷).

د خط غبار

په غبار کې یې د خط گوره سرې شـونډې　　سرې سـکروټې دي د اور پـه ایـرو نغښـتې

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۶۱).

آهو چشم

چې خاطر د آهو چشمو ترې وحشت خوري　　هغـــه واړه ودانـــی زمـــا دامـــان کـــړې

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۸۰).

د توبې جارو

هېڅ دي نـه کړه د تـوبې پـه جـارو صـافه / د مـرګ لار دې هســې پرېښــوده اغزنــه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۵۱).

توره بلا

مـا پـه يـار پسـې لېمـه پـه ژړا سـپين کـړه / يــار پــه مــا پســې کــوي تــوره بــلا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۲).

د عشق تندر

چـې نـازل شـه د عشـق تنـدر لـه اسـمانه / مــا حميــد د غــم لايــق ورتــه سر ونيــو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۷).

د صبر او زهد رستمان

رستمان د صـبر و زهـد سـتا پـه عشـق کـې / نخــــول شي در پـــــه در لکـــــه بيـــــزو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۸).

په پورته ډول ډېرى تركيبونه دي چې د عبدالحميد مومند شعر ته يې ښكلا ور ښنلې ده او د ادبي كره كتونكو له خوا د نازكخيالۍ او موشګافۍ په لقبونو نمانځل شوى دى چې راوړل يې دلته د موضوع د پړسېدو لامل ګرځي.

### ۳. ۵. ۲. ۱. ۳. د عبدالحميد مومند شعري موتيفونه

د عبدالحميد مومنـد پـه شـعرونو كـې ( سـپينه ږيـره، مجنـون، عشـق، شـبنم او شـبګير، بوسـه، صـبر، ښـكلي، ساده‌روى، ناصح، قناعت، تر پتنګ او شمع ځان اوچت ګڼل، بوره بدنامه، مړاوې سترګې، ساده حسن، ، منصور، افلاطون، نرګس او ګلرخ، ساده دل، سمندر، عيسى ع، مغل، د شبنم ژړا، لېچنې سترګې، خضر (ع ) او آب حيات، زنخدان، د پسه خندا، هماى، رقيب، آهو چشمه، د خط اره، ساده روى، د عشق غـم ابـاد، د خـط غبـار، د تـوبې جارو، توره بلا، د عشق تندر، د صبر او زهد رستمان) يې شعري موتيفونه دي چې بېلګې يې په لاندې بيتونو كې ليدل كېږي:

سپينه ږيره

لــه دې خپلــې ســپينې ږيــرې و شرمېــږه / ولــې کانــدې پــه روښــانه ورځــې غــلا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲).

مجنون

چې مې وليده حميد د عشـق پـه کـار کـې / لېــــونی د مجنــــون کشــــر ورور دی دا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ٦).

عشق

چې په عشق دې ابتدا وکړه حمیده ځکه شوه هسې په مالګې ستا ادا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۷).

شبنم او شبګیر

چې شبنم غوندې شبګیر واخیست په سر ما کېښود سر په پتانه د سمنبر ما
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸).

بوسه

هاله یاد کړم په بوسه خونخوارو شونډو چې د پانو په څېر وینې کړ ځیګر ما
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸).

یار له یاره خوا په خوا فایده مومي اخیستی نه شي بوسه په پیغامونه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۵۲).

صبر

د حاتم د داد نغمه وربانـدې نـاورم چې درانه کړه غوږ د صبر په ګوهر ما
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸).

ښکلي

خدای دې ګونګ کاندي حمید په هغه ژبه چې به بې ښکلیو پرې کا د چا ثنا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۹).

ساده روی

وا به ړوم نور مخ له ساده رویو که د خط اره مې کښېږدي په تندي بیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۰).

ناصح

چې یې زه په ړومبي پند پورې خندا کړم ناصحان په نصیحت کا ریشخندي بیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۰).

قناعت

قناعت مې اشتها کړه هسې صافه چې اوګره راکوي خوند لکه ښوروا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۱).

په سولو کې ترشمعې او پروانې ځان اوچت ښودل

وسه ډېر ځله خپل ځان پروانه شمعې هېڅ یې زده نه کړل حمیده سول زما
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۴).

بوره بدنامه

عشــق د بــوري د بــدنامې کــار را وکــړ　　لاس په خولـه ایښـی ژړا کـړم شـب و روز
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۴).

نوخط

نوخطــان واړه ارمــان کــا بــارې ځکــه　　نـه رسـېږي د پـرون پـه چـارې نـن لاس
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۹).

مړاوې سترګې

مرګ و ژوند زمـا پوښته لـه مـړاوو سـترګو　　پـه رسـا ګــوزار پــوهېږي د تــورزن لاس
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۹).

ساده حسن

تر ساده حسنه نوخط بې ویـاره کـوت شي　　د لېچنو سترګو سیوری وي تر لمـر خـوښ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۹۷).

آهو چشم

آهو چشمو چې یې زړه په افسون وکېښ　　هغـو سر لـه ودانـی پـه هـامون و کـېښ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۰۰).

چې خاطر د آهو چشمو ترې وحشت خوري　　هغــه واړه ودانـــی زمــا دامــان کـــړې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۸۰).

منصور

کـه هـزار ځلـه پـه دار و پـه سنګسـار شـم　　لکـــه و هغـــه منصـــور دی زمـــا دل
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۳۵).

افلاطون

د مجنــون تــر ســاده‌ګی صــدقه شــه　　زیرکــي د افلاطــون پــه روښــان عقــل
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۳۶).

نرګس او ګلرخ

د نــرګس پــه خېــر لــه مخــه د ګلرخــو　　سترګې کوزې کړم له شرمـه سرنګـون شـم
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۵۰).

ساده دل

پــه فرېــب د ســاده دل لــه ســاده رويــو — کښېنســتم د خــال و خــط پــه خرخشــو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۵).

سمندر

څوک دې ويار زما د حال نه کا په عشق کې — ســمندر پــه اور کــې اوسي اســوده
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۰۷).

عيسی ع

د عيســی تــر دمــه کــم نــه دي حميــده — پــټ پــه شــونډو کــې د ښــکليو مســېده
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۰۹).

مغل د ظلم سيمبول

يــو بــه نــه ســم مغلوالــه د رقيــب ســتا — کــه زوکــړې وم رښــتيا لــه پښــتنې زه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۱۹).

د شبنم ژړا

چــې پــه مــخ يــې د ګلــرخ ســپړې حميــده — پــه هغــو ســترګو پــه څېــر د شــبنم ژاړه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۲۱).

لېچنې سترګې

څــه بــه ګــوري زاهــدان و ښــکلي مــخ تــه — د لېچنــو ســترګو کســي پــه نمــر خــوړ شي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۸۸).

د يوې غزلې په دوو سر پر سر بيتونو کې د مانا توپير

هېڅ منت دې يار په يــار د خــوارۍ نــه کــا — تــر پتنــګ اول د شــمعې ځــان پــه دوک شي
هالــه لار و غــوړ تــه بيــا مــومي د ښــکليو — چې ياقوت په زړه سوری لړزان په دوک شي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۸۹).

خضر ع او آب حيات

د حيــات اوبــه بــه زهــر کــا پــه خضــر — اندېښــنې چــې ورتــه پېښــې د هجــران شي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۹۰).

زنخدان

وايــم پرېــوتم و ســل ګــزه کــوهی تــه — چــې پــه يــاد راتــه د ښــکليو زنخــدان شي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۹۰).

د پسه خندل

هسې زه بې خونده خاندم په هجران کې		لکه خاندي د پسه سر په اور الوی
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۱۶).

همای

بادشاهي به دې په سیوري پسې ګرځي		که قانع په استخوان لکه همای یې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۱۸).

رقیب

د رقیب له لاسه ډک له غرېوه ناست وم		چې مې حال وایه و یار ته ژړا راغله
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۴۳).

**۳. ۵. ۲. ۲. کامګارخټک**

کامګارخټک د (۱۰۸۰هـ) کال خوا او شا په سرای اکوړه خټک کې دخوشحال خان خټک لمسي نامدار خټک کره زیږېدلی و، دخوشحال خان خټک له ورور فقیر جمیل بیګ څخه یې روحاني فیض حاصل کړی و. په (۱۱۶۵هـ) کال وفات شوی دی. کامګار د دیوان څښتن دی، غزل کې یې دخوږو استعارو او کنایو ښکلی استعمال کړی دی، دشعر سبک یې د عبدالحمید په پله دی چې له دې مخې د هندي سبک غوره استازی دی.(رضا، ۱۹۷۸ز، ۲۰٤).

کامګار خټک هم لکه عبدالحمید مومند د هندی سبک له معتدلو لارویو څخه دی، په خپل کلام کې ځان تر عبدالحمید مومند کم ګڼي او ځای ځای یې د شعر پر ځمکه غزلې هم ویلي دي. د کامګار هغه بیت چې عبدالحمید مومند ته د خپلې پلیونۍ منښته یې پکې کړې ده:

چېرې نه چې باد خبر عبدالحمید کا		چې کامګار غزل د ستا په مضمون و وې
(خټک، کام، ۱۳۵۸ل، ۱۵٦).

**۳. ۵. ۲. ۲. ۱. د کامګارخان او عبدالحمید مومند د شعر سبکي ترون**

د کامګار خټک هغه بیتونه را اخلو چې ځای ځای له عبدالحمید مومند څخه د اغېزمنتیا څرګونه پکې را څرګندیږي.

عبدالحمید

درد د مینې کړم و مرګ ته قریب ورو ورو		له علاجه مې لاس وکېښ طبیب ورو ورو

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۱).

کامګار

لـه خـاطره مـې يـې يـووړ تـدبير ورو ورو — ديوانــه شــوم ســزاوار د زنځــير ورو ورو
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۷٦).

چــې ليــدلی يــې جــمال د دلارام دی — د کامګــار لــه دلــه و وت آرام ورو ورو
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۷۸).

د يار زلفې خط و خال سترګې رخسار دي — چې کامګار يې په بـلا کـړ اسـير ورو ورو
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۷۷).

عبدالحميد

که منصور غوندې په دار و پـه سنګسـار شـم — نشـته دا چې سـتا لـه مينې توبـه ګـار شـم
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱٦۰).

کامګار

زه کامګار بـه دې لـه عشـقه توبـه نـه کـړم — کـه منصـور غونـدې شي سر پـه دار زمـا
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۲۵).

که منصور غوندې په دار يا په سنګسار شم — نه به پاتې لـه دلـدار شـم نـه پـرې ډار شـم
(خټک، ۱۹۵۵ز، ٦٦).

عبدالحميد مومند

زه بــه درســته شــپه ژړا لکــه شــبنم کــړم — خانـده تـه د ګـل پـه ځـېر تـازه خوشـحاله
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۴٦).

کامګار

زه چې درسته شپه لکه نم ژاړم په هجران کې — ډکـه شي لمـن د ګـل پـه اوښـکو د شـبنم
(خټک، ۱۹۵۵ز، ٦٦).

شيدا اغېز

پــه کامګــار يــې د پيـالې عنايــت وکـړ — را شــه ګــوره يــار مســکين نــواز زمــا
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۲٦).

د کامګار شعري انځورونه

سيند د اوښکو مې مـوج وکـړ ګـوره څـه شي — د يار خيال مې ناست د سـترګو پـه جالـه کـې
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۱۴۷).

د کامګار خټک په غزلو کې مخکې مسره او څرګنده مسره چې د هندی سبک تومنه جوړوي:

د مـخ لمـر دې پـټ د خـط پـه غبـار مـه شـه — پــه اســلام بانــدې بــری د کفــار مــه شــه

(خټک، ۱۹۵۵ز، ۱۰۰).

که دې خال په بوسه وران کړم څه پروا ده
ستا د حسن له لښکره يو سور پرېوت
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۲۸).

ستا وعده زما توبه دواړه دلبره
لکه نقش د اوبو نه لري وثوق
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۵۴).

ښکلي غنم رنگ که ښايسته تر حورو نه دي
پريښې په غنم پسې جنت ولې ادم
(خټک، ۱۹۵۵ز، ٦۵).

نشته ستا مينه زما په مينه څه شي
دا متل دی يو لاس هېڅېرې ټک نه که
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۱۲۰).

نور عالم د چا په شمار او په حساب دي
چې مرگ مځکه په نبيانو کړله ډکه
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۱۱۴).

د پير مغان ذکر کول

په بهار توبه حرامه ده له ميو
دا د پيرمغان ماته فرمايش دی
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۱۲۹).

غلو

مياشتې ځان که د اس نعل ميخونه ستوري
چې د ناز په اس شي سور شهسوار زما
(خټک، ۱۹۵۵ز، ۲۵).

### ۳. ۵. ۲. ۳. قلندر اپرېدی

د افضل رضا په حواله قلندر اپريدی د باړې جمروډ د خوا او شا اوسېدونکی و. تر يوولسمې هجري پېړۍ وروسته پيدا شوی دی، د ژوند نور حالات يې ناڅرگند دي، د دوو زرو بيتونو ديوان يې پر (۱۲۸۳هـ) ليکل شوی دی، په شعر کې يې د مينې رنگ تر نورو موضوعگانو ډېر دی، د عبدالحميد بابا د شعر پيرو دی.(رضا،۱۹۷۸ز،۲۳۱).

ښاغلي پوهاند عبدالحی حبيبي هم د قلندر اپريدي تر سرليک لاندې د نوموړي پېژندگلو راوړې ده او تر يوولسمې هجري پېړۍ پورې يې د ژوندي پاتې کېدو تصديق کوي.(حبيبي، ۱۳۹۱ل، ۲۰۰ او ۲۰۱).

ښاغلی سر محقق زلمی هيواد مل يې (اکوزی يوسفزی) بولي او ورسره زياتوي چې د عبدالحميد مومند له پيروانو څخه دی چې د دې خبرې منښته د قلندر په ديوان کې د ده له بيتونو څخه څرگندېږي. قلندر يو کوچنی ديوان لري چې ښکلې غزلې، خوندورې او سوزناکې قطعې او څلوريزې پکې شته. دغه ديوان په (۱۳۵٦هـ) پښتو ټولنې په کابل کې چاپ کړی دی. د نوموړي ژوند تر (۱۱۵۰هـ) پورې يقيني دی.(هيوادمل،۱۳۷۹ل،۲۱۷).

قلندر د عبدالحمید په دود د هندي سبک له معتدلو لارویو څخه دی. شعر یې ډېره پېچلتیا نه لري او کوښښ یې کړی دی چې د نورو ژبو له کلمو او ترکیبونو څخه ځان وساتي.

د عبدالحمید مومند د استادۍ په تړاو د قلندر اپرېدي منښتې:

د پښتو ژبې په شعر په دا خپله زمانه کې پرې دې نه ښود قلندره بې حمیده بل حریف (اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۴۴).

فضل د سبحان په قلندر د شعر وشو دا واړه سبب فصیح بلیغ و د ماشو (ختیک، ۱۹۵۵ز، ۵۴).

**۳. ۵. ۲. ۳. ۱. قلندر اپرېدی او عبدالحمید مومند د شعر سبکي تړون**

د قلندر هغه بیتونه چې د عبدالحمید مومند دشعر اغېز ترې څرګندېږي:

عبدالحمید مومند

و نړاوه سد د سکندر ځوځو ما ځوځو یاد د یار له مخه خال و خط شه را برسېره (مومند، ۱۳۸۳ل، ۷۵).

قلندر

له یا جوجو د هجران څه خو ګوښه یم چې مې غم شو د یار سد سکندر (اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۲٦).

عبدالحمیدمومند

د اشنا له خال و خطه معلومېږي چې حمید به مسافر د هندوستان شي (مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۹۰).

قلندر

د سپین مخ د تورو زلفو په ارزو کې ګوره راغله خراسان او هندوستان (اپریدی، ۱۳۵٦ل، ٦۲).

عبدالحمید مومند

چېرته عشق چېرته د شرم و حیا وېره نځېدل نه شي په شرم و په حیا کې (مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۹٦).

قلندر

ننګ و نام مې له خاطره بېرون کېښود نن مې څه رنګ په ځان نوم د مجنون کېښود (اپریدی، ۱۳۵٦ل، ٦۵).

عبدالحمیدمومند

چې مې ولیده حمید د عشق په کار کې لېونی د مجنون کشر ورور دی دا (مومند، ۱۳۸۳ل، ٦).

قلندر

ستا له لاسه به یې نوش کم که وي زهر | قلندر چې په تحقیق د مجنون ورور دی
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۱۲۸).

عبدالحمید مومند

ستا له غمه مې به سر کې دی شور هومره | چې به نه وي هرګز شور د لاهور هومره
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۱۸).

قلندر

ستا چشمانو مې په سر کې هسې شور کړ | ګویا وران مې په داشور سره لاهور کړ
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۲۹).

## ۳. ۵. ۲. ۳. ۲. د قلندر اپریدی په شعر کې مخکې مسره او څرګنده مسره

عزیزانو را نه لاس واړو په سر کړ | خدای په لار کې د چا پرې مه باسې ښته
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۷۴).

ته چې د وفا طمع کوې له سروې قده | سروه به هیچا لیدلې نه وي مېوه داره
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۹۰).

چې اختیار مې د استوګنې پکې نشته | مسافر ګڼمه ځان په خپل دیار زه
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۹۳).

ډک ګرېوان په لعل یاقوتو سره ناست یم | خدای د عشق په کار و بار کې بدخشان کړم
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۵۷).

په شپه شمع ستا د وصل ځان ته کښېږدم | سفتګي د مرغلرو په چوګان کړم
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۵۷).

عاشقان لکه مرغان پکې پړکېږي | سپینه خوله دې ګویا عین ایښې پړکه ده
(اپریدی، ۱۳۵٦ل، ۸۲).

## ۳. ۵. ۲. ۴. محمدي صاحبزاده

محمدي صاحبزاده د څوکنو د میا عمر صاحب زوی و، پر (۱۱۰۹هـ) کال په څوکنو کې پیدا او پر (۱۲۲۰هـ) کال په حق رسېدلی دی، کاظم خان شیدا د خپل دیوان په سریزه کې د نوموړي ستاینه کړې ده. د شیدا معاصر او ملګری و. نوموړی خپل دیوان لري چې د دیوان له داخلي شهادتونو له مخې د عبدالحمید مومند د سبک پلیونی دی.(رضا، ۱۹۷۸ز، ۲۱۱).

محمدي صاحبزاده د هندي سبک له معتدلو پیروانو څخه دی، پېچلې تشبېه ګانې، استعارې او ترکیبونه نه راوړي.

### ۳. ۵. ۲. ۴. ۱. محمدي صاحبزاده او عبدالحمید مومند د شعر سبکي ترون

د محمدي صاحبزاده ځینې بیتونه چې د عبدالحمید مومند د سبک پلیونی ترې جوتېږي:

عبدالحمیدمومند

تن پرور بلبل دې عیش کاندی په ګلو    پروانه لره په اور زما ګداز را

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱).

محمدي صاحبزاده

پتنګ و درېږي زما و تماشې ته    چې د غم په لمبه ګوري سول زما

(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۱۵).

عبدالحمید مومند

څه بلا یې احتیاجه    چې سړی کړې سګ مزاجه

مسلمان هندو روش کړې    او هندو مسلم رواجه

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۹۸).

محمدي صاحبزاده

د سړي روزګار د سپي کړې    څه بلا یې احتیاجه

(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۸۷).

عبدالحمید مومند

چې د ترکو په ارزو شو زما روح    سپیلني غوندې ور لو شو زما روح

(مومند، ۱۳۸۳ل، ٥٦).

محمدي صاحبزاده

ستا له غمه بې قرار دی زما روح    ډېر و مرګ ته په تلوار دی زمارو ح

(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۹۳).

عبدالحمید مومند

د رقیب له بده خویه یار بدخوی شه    روغ سړی پمنوي د پمن پخه

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۰۱).

محمدي صاحبزاده

د غماز په لمسون ښه خوی د یار بد شو    روغ سړی کاندي رنځور د پمن پخه

(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۱۰۳).

عبدالحمیدمومند

په ژړا مې هسې خور په خندا لاړ شي — لکه پانې د گل ماتې کا باران شوخ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ٦٠).

محمدي صاحبزاده

په فرياد مې هسې يار په خندا کوږ لاړ — که د گلو ښاخ په باد شو د سبا گډ
(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۱۲۸).

عبدالحميدمومند

د هغو د حيا پښه مدام ښوييږي — چې يې واخيسته د نس په هوا طمع
د دانې په طمع بند آزاد مرغه شي — ژر به ستا په ځان بلا شي د ستا طمع
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۱۳).

محمدي صاحبزاده

د هغو وربوز د سپي که د سړي دی — چې اشنا کا د دنيا له اشنا طمع
د هغه د شرم پوزه مخ کې نه وي — چې کوي د نس لپاره له چا طمع
(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ٢٦٠ او ٢٦١).
د اوږو طمع ماهي په کونډه بند کا — ستا په ځان گنم دا هسې بلا طمع
(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۲۹۵).

عبدالحميد مومند

مخ دې کړل گلونه شرمنده زلفو سنبل — درومي ستا په لور له باغه الوځي بلبل
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۳۴).

محمدي صاحبزاده

مخ زما د يار کړه وچ په سوه کې د باغ گل — ځکه خوا و شا ورځنې ځي بورا بلبل
(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۳۰۷).

عبدالحميدمومند

ستا د مخ له شرمه ونغښت — ښاپيرو مخ په حجاب
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۱).
گر ځېدې به ښاپيرۍ ولې مخ پټې — که جمال نه وای د دوی ستا تر جمال پس
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۹۱).

محمدي صاحبزاده

ښاپيرۍ ځکه مخ پټ په پلو گرځي — چې څهره يې ده تر تا پورې بدرنگه

(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۲۹۵).

عبدالحمید مومند

چې یې سپک کا عاشقي لکه بڼه　　　　هغه کس تر کوه قافه درونډ ګڼه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۵۵).

محمدي صاحبزاده

هغه سر ګڼه ته درونډ تر کوه قافه　　　　چې خپل نوم په عشق کې سپک لکه غشوی کا
(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۲۹۵).

عبدالحمیدمومند

په هنر هنر یې زړه را څخه یووړ　　　　راته شو یار و ریبار توتي مینا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۹).

محمدي صاحبزاده

په خبرو په چلول رانه یې زړه یوړ　　　　یار ریبار چې شو توتا مینا زما
(صاحبزاده، ۱۹۸۵ز، ۱۸).

**۳. ۵. ۲. ۵. خانګل خلیل**

خانګل خلیل د د پښتونخوا په سیمو کې اوسېدلی شاعر دی، ژوند یې تر (۱۱۵۰هـ) کال پورې یقیني ښکاري. د خانګل خلیل دیوان ورک دی خو څه شعرونه یې د څېړنپوه زلمي هېوادمل په زیار د افغانستان علومو اکېډیمۍ د ژبو او ادبیاتو تحقیقاتي مرکز پښتوټولنې په زیري جریده کې پر (۱۳٦۰ل) کال چاپ شوي دي.

نوموړی د هندي سبک پیرو شاعر دی، په شعر کې یې مضمون پنځونه او د هندي سبک ښکلاوې لیدل کېږي.(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۱۷).

**۳. ۵. ۲. ۵. ۱. خانګل خلیل او عبدالحمید مومند د شعر سبکي تړون**

نوموړی د عبدالحمید مومند د شعري سبک پلیونی دی، خوږې غزلې ترې پاتې دي.

عبدالحمیدمومند

چې بلبرې پکې اور زما د آه　　　　څه به نه وي د فلک مانۍ سیاه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۸۱).

خانګل

چې مانۍ یې د فلک پرې سوخته نشي　　　　اور د میني دې په زړه کې مستور نه دی
(خلیل، ۱۳٦۰ل، ۷۵).

عبدالحمید مومند

هېڅ منت دې یار په یار د خوارۍ نه کا     تر پتنګ اول د شمعې ځان په دوک شي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۸۹).

خان ګل

څه منت به که پتنګ د ځان په سولو     په اول چې شمع بل په تندي اور که
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۷۷).

عبدالحمید مومند

چې په مخ دې د خط لیکه دوتا راغله     ګویا مخ لره دې توره بلا راغله
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۴۲).

خانګل

دا حسینه پري مسته په خوا راغله     که و ځمکې ته سپوږمۍ د سما راغله
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۷۸).

عبداحمید مومند

چې هیچېرې په پارسي کې مونده نه شي     هسې ساز دی حمید ایښی په پښتو کې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱).

خانګل

خانګل ګل د مضمون ټول تر هسې حد کړ     چې بلبله د فارسي په ژړا راغله
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۷۹).

عبدالحمیدمومند

تورې سترګې تورې زلفې تورې روځې     دا همه تورې بلا دي آدم خورې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۷۱).

خانګل

خود به خوږ خانګل بلا د تورو زلفو     چې په خپله ته د تورې بلا خوا له
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۷۹).

عبدالحمید مومند

هسې زه د ځان په غوښو عشق بوخت کړم     لکه نه خېژي له ځانه د پمن لاس
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۸).

خانګل

په هر لوري چې یار ځي پسې مې زړه ځي     ګرول ته بې اختیار لاس د پمن ځي
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۸۱).

عبدالحمیدمومند

پہ راتله د یـار د خـط یـاران پـه دوک شي		باغ چې وتوکېږي لا بـاغوان پـه دوک شي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۸۸).

خانګل

خیال یې هېڅ نه که ټیکاو زما پـه زړه کـې		چې د کور څښتن وي خوار مهمان پـه دوک شي
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۸۳).

علي خان

ای د زړه سلطانه وایه ته سـلطان د چـا یـې		ستا رنځوران ډېر دي یاره ته درمان د چا یې
(علي: ۱۵۳).

خانګل

ای د سترګو توره ته د سترګو تور د چا یـې		ای آتشي خویه ته په سول د کور د چا یې
(خلیل، ۱۳۶۰ل، ۸۳).

### ۳. ۵. ۲. ٦. بېدل اشنغری

بېدل هشنغری د عبدالحمید مومند د شعري سبک پیرو دی، د شعر دیوان یې پر (۱۰۵۸ز) کال په پېښـور کـې چـاپ شـوی دی. د تیمـور شـاه دراني(۱۱۸٦ـــ۱۲۰۷هــ) پـه پېـر کـې یـې د شـاعرۍ هنګامـه تـوده وه.(هېوادمل،۱۳۷۹ل، ۲۲۰).

### ۳. ۵. ۲. ٦. ۱. بېدل اشنغری او عبدالحمید مومند د شعر سبکي تړون

د عبدالحمید مومند له سبک څخه د نېغې پلیونۍ د منښتې بیتونه یې:

قلنـدر عبدالحمیـد خواجـه محمـد دی		هم غفور اشرف خلیل او کامګار خان دی
خصوصـاً عبدالحمیـد پکـې حمیـد دی		چې وېښته چوي په فکر هسې څوان دی
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۲۱۲).

د عبدالحمید مومند له شعري سبک څخه د پلیونۍ بیتونه:

عبدالحمید مومند

لـه شـېخۍ راتـه بهـتره شـوه رنـدي بیـا		ناصحان مې دې پـه سـل رنګـه غنـدي بیا
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۰).

بېدل

لـه شېخۍ نـه راتـه غـوره شـوه رنـدي بیـا		زاهدان مـې دې پـه سـل رنګـه غنـدي بیـا
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۲).

عبدالحمید مومند

هسـې تللـی یـم پـه فکـر د جانـان ډوب		لکـه کـانی پـه تـلي کـې د عـمان ډوب

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۲).

بېدل

هسې ډوب لاړم د هجر په دریاب کې	لکه کاڼی په تلې کې د امان ډوب

(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۲۴).

عبدالحمید مومند

په لاره مې شي رېبل د زړګي ولې	تصور چې پکې خیال ستا د ابروی کړم

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۴۲).

بېدل

که پرې ولی شوې زما د ځیګر غوځې	ستا د ناز توري هم خدای کړې باندې پځې

(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۷۰).

عبدالحمید مومند

که یې حضر د حیوان په چشمه مومي	مومم زه د یار له خولې آب حیات

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۶).

بېدل

که یې خضر د حیوان په چشمه مومي	مومم زه آب حیوان د جان له دره

(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۹۲).

عبدالحمید مومند

تورو زلفو مې خاطر کړ تار په تار	نه یې مومم که یې غواړم نار په نار
دا دروغ دي چې به وصل کې ښادي ده	بلاوه شي لګولی نار په نار

(مومند، ۱۳۸۳ل، ٦۹).

بېدل

غم د ترکو مې خاطر که تار په تار	که یې غواړم نه یې مومم تار په تار
لا مې زیات په ژړا سوز د سوي زړه شي	لګاوه شي لګېدلی نار په نار

(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۹۴).

عبدالحمید مومند

مړاوی حال زما پوښته له مړاوو سترګو	دا چې وي خبرداری د خوار په خوار

(مومند، ۱۳۸۳ل، ٦۹).

بېدل

مړاوی رنګ زما پوښته له مړاویو سترګو	دا په دا چې خبردار دی خوار په خوار

(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۹۴).

عبدالحمید مومند

چې د ظلم پـه کمـر دې تـل میـدان خـوړ    دماغي ځان ته غره خود به دې ځان خـوړ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۰).

بېدل

چې میدان دې تل د عشق په لوی کمر خوړ    دماغي ځان ته غره خـود بـه دې سر خـوړ
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۰۷).

عبدالحمید مومند

لکــه ژاړي پټــه خولــه بــوره بدنامــه    هسـې کانـدی مـین زړه آه و فغـان چـپ
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۵).

بېدل

لکـه ویـر کـا پټـه خولـه بـوره بدنامـه    ما هم پټ صورت په شان د سـمندر خـوړ
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۰۸).

عبدالحمید مومند

منتبـــار دې یـــم د بړیـــرې د آغـــاز    چې یـې کـم کـا سـتا د حسـن کـبر و نـاز
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۲).

بېدل

منتبـــار دې یـــم د بړیـــري لـــه اغـــازه    چې غریب شوې گڼه شـوې غریـب نـوازه
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۱۹).

عبدالحمید مومند

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمی شوه په هاله کې    دا یې غاښ په خوله کې زېب کا که ژاله شوه په لاله کې
مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱).

بېدل

خدای رحمت د حسن بند که که بند میاشت شوه په هاله کې    دا مې زړه په غم تور سکور شه که دا داغ دی په لاله کې
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۲۵).

عبدالحمید مومند

سـپینه بړیـره زمـا عشـق کوتـه پیسـه کـړه    هیڅ مـې نـه قبلـوي ښـکلي پـه سـودا کـې
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۹۷).

بېدل

دغـــه واړه د پرهیـــز لـــویې وینـــا دي    چې مـې نـه قبلـوي ښـکلي پـه سـودا کـې
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۳۰).

عبدالحمید مومند

مـخ دې کـړل ګلونـه شرمنـده زلفـو سـنبل          درومي ستا پـه لـور لـه باغـه الـوځي بلبـل
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۳۴).

بېدل

مخ دې شرمنده کړه په ښایست د باغ ګلونه          زلفـو دې سـنبل کـړه آوېـزان تـر ګړنګونـه
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۷٦).

عبداحمیدمومند

نن بـه شـپه زمـا د یـار پـه کـوم مکـان وي          جلوه ګر به په کوم هټ په کـوم دکـان وي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۲۰).

بېدل

نن بـه شـپه زمـا د جـان پـه کـوم منـزل وي          جلوه ګر به په کوم ځای په کوم بورجـل وي
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۲۲۲).

### ۳. ۵. ۲. ٦. ۲. د بېدل شعري موتیفونه(Motive)

د بېدل د شاعرۍ ځانګړي موتیفونه (جـان، زرزري سـترګې او د تـورو ترنمـي پرلپسـې راوړل) دي. (جـان) د نوموړي په ډېرې غزلو کې راوړل شوی دی او کله په یوه غزل کې دوه ځله هم راغلی دی، د یوې غزلې پایمخی بیت او مقطع:

فهم فکر کـړه چېـرې نـه چـې و جـاروزې          راغله ناصحان ټګان له (جانـه) تـوروي دې
درومي له وطنـه کـړي د بـل وطـن پوښـتنه          څوک به درته وایي (جان) بېدله ستنوي دې
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۷٦).

زر زرو سترګو

سـتا د زر زرو سـترګو هسـې معلـومېږي          کور لا څـه چـې بـه شي پـاتې ګـور لـه مـا
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۱۹).

(ت او ز) ترنمي توري

پـه بېـدل د سـتم تـم تـام کـه دلـبره          څځـوي د غـم لـه سـترګو تـل بـاران پـټ
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۵۳).

دا سـتم تـم د مـاتم نـه دی نـور څـه دی          چې مخ نـه اړوي مـا تـه پـه ګفتـار هـېڅ
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ٦۹).

چې مې باز د نـاز پـه راز راغـی د وړانـدې          شوې مې اوښکې د بنو همراز تـه وړانـدې
(بېدل، ۱۹۵۷ز، ۷۴).

### ۳. ۵. ۲. ۷. مېرزا حنان بارکزی

میرزا حنان بارکزی د محمد حسن زوی د کندهار ښار جنوب لور ته د (مرت کلا) په کلي کې زیږېدلی دی، پلار یې پر (۱۳۵۸هـ) کال وفات شوی دی. د نوموړي د زیږېدو نېټه نه ده څرګنده د سردار مهر دل خان د ویرنې له مخې یې ژوند تر (۱۲۷۱هـ) پورې یقیني دی، وایي چې دیوان یې هم په همدې کال تدوین کړی دی، دغه وخت دی خپل ځان سپین ږیری ښیي، د محمد معصوم هوتک د خبرې له مخې که دغه وخت موږ د نوموړي عمر (۶۰) وښیو نو دی به د (۱۲۱۰هـ) کال خوا او شا پیداشوی وي چې د شاه زمان سدوزي د پاچهۍ لومړي کلونه وو. د ښاغلي پوهاند رشاد د څېړنې له مخې یې ژوند تر (۱۲۹۲هـ) کال پورې یقیني دی.(بارکزی،۱۳۸۸ل،۲۱ او ۲۲).

### ۳. ۵. ۲. ۷. ۱. مېرزا حنان بارکزی او عبدالحمید مومند د شعر سبکي تړون

د عبدالحمید مومند له سبک څخه د نېغې پلیونۍ د منښتې بیتونه:

له حمیده سره اس د شعر نه ځي
ای حنانه بس کړه ونیسه جلب (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۴۴).

د حمید د شعر بحر ته حنانه
یو څو څاڅکي دي لوېدلي ستا ابیات (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۴۵).

پیروي مې د حمید موشګاف وکړه
ما حنان د شعر لاس کړ د رحمان مات (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۴۶).

د حمید د خوش نظمۍ په زراعت کې
دا حنان یې دی د شعر خوشه چین (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۹۷).

جلب و نیسه حنانه کله کېږي
په پښتو کې له حمید سره جګړې (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۶۳).

دې مصرع د حمید زړه د حنان وسو
له فریاده د اور سوي زده اور سوی (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۸۳).

د عبدالحمید مومند له شعري سبک څخه د پلیونۍ نور بیتونه یې لاندې راوړوو:

عبدالحمیدمومند

چې یې دلته باد په زلفو برابر شي
په ختن کې کا ارزان قیمت د مښکو (مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۹).

حنان بارکزی

چې یې دلته باد له زلفو څخه و موښت
له ختا کړه مښک بېرون د زلفو بوی ستا (بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۴۱).

عبدالحمیدمومند

چې پیرۍ مې ږیره سپینه کړه ملا غبرګه
بویـه قـد د سروې قـد عصـا تـر تخرګـه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۳۹).

حنان بارکزی

چې پـیرۍ مې ږیـره سپینه کړه خـم قـد
را تــه ښـــايي اوس عصــا د سروې قـــد
(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۵۴).

عبدالحمیدمومند

واړه مشـق د خـونرېزۍ کـړې در پـوهېږم
د رقیـــب د پنـــد پنبـــه دې پکـــې ایښـــې
دا چـې ناسـت یـې پټـې سـترګې لکـه بـاز
چـــې دې نـــه لګـــی بـــه غـــوږ زمـــا اواز
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۸۲).

حنان بارکزی

زمـــا زړه د خونرېزیـــه پـــه طلـــب کـــې
د رقیـــب د پنـــد پنبـــه دې پکـــې ایښـــې
پټـې سـترګې مـدام ناسـت یـې لکـه بـاز
ځکـــــه نـــــه اوري زمـــــا د درد اواز
(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ٦۷).
د رقیـب د پنـد پنبـه دې وه پـه غـوږ کـې
چـې حنـان درتـه ژړل تـا بـه خنـدا کـړه
(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۲۵).

عبدالحمیدمومند

هســې تللـی یـم پـه فکـر د جانـان ډوب
لکــه کـانړی پـه تـلي کـې د عـمان ډوب
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۲).

حنان بارکزی

هسې تللی یـم پـه فکـر د خپـل یـار غـرق
لکه سـنګ د ښیښـې کـه کُـره د نـار غـرق
(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۷۷).

عبدالحمید مومند

لـه جاهـل سره جاهـل پـه ځـواب رسي
ده د سـپي پـه ځـرمن منعـه د سـپي داړه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۲۱).

حنان بارکزی

د ســپي داړه پـــه ســـپي منعـــه ده حنانـــه
لـه جاهلـه سـتا دعـوه څـه پـه کـار نـه ده
(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۱۸).

عبدالحمید مومند

چې حمید غوندې بلبل یې سر په ګـور کـا
هغـه ورځ بـه د بـاګرام پـه ګلـو هـی وي
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۱۸).

حنان بارکزی

پــه خفــه بــه گلرخـــان د کنـــدهار وي چې پـه مـرگ ولاړ شي حنـان رنگـه بلبلـه

(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۳۵).

عبدالحمید

فارسـیانو د حـیرت گـوتې پـه غـابښ کـړې چې حمید سخن سازي کړه پـه پښـتو کـې

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱).

حنان بارکزی

فارسي خوانو د حیرت گوتې په غابښ کړې چې حنان سخن سـازي کـه پـه پښـتو کـې

(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۷۵).

عبدالحمیدمومند

ځکــه نــه لــري پــروا بتــان د مښــکو هــر کمنــد لــري د زلفــو کــان د مښــکو

چــې یــې دلتــه بــاد پــه زلفــو برابــر شي پـه خـتن کـې کـا قیمـت ارزان د مښـکو

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۹).

حنان بارکزی

د حنــان سـینه نوخطـو تـور سـکاره کـړه کـه سـینه وي د حمیـد دکـان د مشـکو

(بارکزی، ۱۳۸۸ل، ۱۰۵).

### ۳. ۵. ۲. ۸. علي خان

د علي خان اصلي نوم علي احمد و، د جندي خوړ په غاړه پر یوې وړې غوندې بانډې کې پیدا شـوی دی. جندی د هشتنغر په سیمه کې بهېږي او د چارسدې تنگي خوا او شا واړه واړه کلي پرې ودان دي. د علي خـان د شعر گرځدود سوچه هشتنغری گړدود دی. د پیدایښت او مړینې کال یې څرگند نه دی. د علي خان د یـوې غزلـې بیت دی:

ســن د هجـر غـر و سر د کـانې تـرې کمـتر و ورځ وه دیارلسمه د ذی الحجې وه په تحریر کې

له پورته معمی څخه (۱۱۸۰هـ) کال را جوتېږي چې دغه غـزل د نومـوړي د لـومړي دور غـزل دی یعنـې د ده عمر تر دېرشو کم و نو په دې حساب د ده د پیدایښت کال تر (۱۱۵۰هـ) وروسته ښـکاري. د نومـوړي لـه کـلام څخه دا را څرگندېږي چې د زوړوالی تکلیفونه یې نه دي لیدلي.(علی خان، ۱۰۸۸ز، ۱۳ ـ ۲۱).

علي خان د عبدالحمید مومند د شعري سبک لاروی دی او د هندي سبک له معتدلو لارویو څخه گڼل کېږي.

### ۳. ۵. ۲. ۸. ۱. علي خان او عبدالحمید مومند د شعر سبکي تړون

د علي خان هغه بیتونه چې د عبدالحمید مومند له شعر څخه اغېزمن دي:

عبدالحمید مومند

څکــه نــه لــری پــروا بتــان د مښــکو    هــر کمنــد لــري د زلفــو کــان د مښــکو
چــې یــې دلتــه بــاد پــه زلفــو برابــر شي    پــه ختــن کــې کــا قیمــت ارزان د مښــکو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۹).

علي خان

کــه و زلفــو تــه دې نــه وی شــان د مښــکو    نرخ به چېرته وی دا هسې ګـران د مښـکو
که یې دلتـه خـال پـه زنـه بانـدې وران شي    پـه ختـن کـې بـه بـازار شي وران د مښـکو
(علی خان، ۱۰۸۸ز ۱۳۴).

عبدالحمید مومند

څــه مــزري کــړه زمــانې د تماشــو    ننــه وځــي یــې پــه غــار ګیــدړ پیشــو
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۷۵).

علي خان

هــی توبــه د عشــق لــه ملکــه لــه ورشــو    چــې مــزري کــه د زړه ســوي لکــه پېشــو
(علی خان، ۱۰۸۸ز ۱۴۰).

عبدالحمیدمومند

چې په مخ دې د خط لیکه دوتا راغله    ګویــا مــخ لــره دې تــوره بــلا راغلــه
لکه سر د پسه په اور غاښونه سپین کا    هســې مــا لــره لــه غمــه خنــدا راغلــه
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۲۴۲).

علي خان

په سپین مخ یې د خط لیکه دوتا راغله    کــه قمــر بانــدې هالــه خــوش نمــا راغلــه
وازه خولــه لکــه پرهــر لــه درده خانــدم    ســتا جفــا تــه لــه حیرتــه خنــدا راغلــه
(علی خان، ۱۰۸۸ز ۱۴۳).

عبدالحمید مومند

له هغه مخه څوک څنګه بوسه واخلي    چــې یــې مــخ وي د اومــو پیــو پېــروی
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۱۵).

علي خان

اننګــي یــې پــه بوســه سره زخمــي شــوو    د اومــو پیــو پېــروی دی کــه نــه دی
(علی خان، ۱۰۸۸ز ۱۶۰).

عبدالحمیدمومند

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې دا یې غاښ په خوله کې زېب کا که ژاله شوه په لاله کې

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۳۰۱).

علي خان

خط په مخ د صنم راغی که میاشت گیره شوه هاله کې که سنبل دي اوس ټوکېږي په اطرافو د لاله کې

سور د خیال په تند توسن شی د سم قد نېزه ور څخه د خط شنه زغره اغوستې ځی د جنگ په سنباله کې

(علی خان، ۱۰۸۸ز ۸۸).

عبدالحمیدمومند

د حمید بوالهوسي ناکسي نه ده لټوي په خپله ورکه پسې هر مخ

(مومند، ۱۳۸۳ل، ۵۹).

علي خان

لټوم په خپله ورکه پسې هر مخ کوم غواص به را ښکاره کړي د گوهر مخ

(علی خان، ۱۰۸۸ز ۵۸).

## ۳. ۵. ۲. ۹. کاظم خان شیدا

کاظم خان شیدا د افضل خان خټک زوی د اشرف خان هجري نمسی د خوشحال خان خټک بابا کړوسی دی. نوموړی د (۱۱۳۵هـ) کال وروسته یا د (۱۱۴۰هـ) خوا او شا پیدا شوی دی. ځینې څېړونکي په دې نظر دي چې نوموړی خټک دی خو د افضل خان زوی نه دی، په هر حال د هر چا خپل خپل دلیلونه دی. زه دلته د ده پر ژوند نور څه نه وایم خو داسې وایي چې له خپلو ورونو په ځانگړي ډول مشر ورور (اسدالله خان) ناخوالې یې ونه شوای زغملی کور او کلی یې پرېښود لوموړی کشمیر او سرهند ته لاړ، هلته یې ښه علم وکړ او بیا افغان ریاست رامپور ته لاړ او د عمر تر پایه هلته و اوسېد. یو ځل له خپلو ملگرو سره تر حسن ابدال پورې راغلی دی او بیرته رامپور ته ورگرځېدلی دی. (خټک، ۱۹۹۱ز، ۲۰۰ ــ ۲۰۶).

## ۳. ۵. ۲. ۹. ۱. له کورنۍ څخه بېزاري

له خپلې کورنۍ څخه د بېزارۍ په اړه د شیدا ځینې بیتونه په لاندې ډول راوړو:

د دریاب له سرد جوشۍ د حباب زړه چوي شیدا قطع دې امید بویه له خپلو

شیدا څه کړې د دې وخت رشته داری د سوزن زخم په زړه د هر انځور دی

د اشفاق طمع به څه کړې له اخوانه نتیجه یې ورکېده دي له کنعان

(شیدا، ۱۹۹۱ز، ک).

د ذرې په شان مې تاب د آفتاب سوځي هیڅ سبب د راحت نه شه بام زما

( شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰٦).

تـر هغـه چې سرد جـوشي د حنـا ویـنم — خوښ په طور د سمک بې دست و پا یم
( شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۹).

ځـي پـه بیـه د اوبـو لـه ډېـره ابـه — هرگـز نشـته د گـوهر شناسـا دلتـه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۱).

چا د نقش په شانې هسک له خاورو نه کړم — پـه زاری د هـر چـا نیسـم قدمونـه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱۴).

هسې رنگ له دې عالمـه تنهـا خـوښ یـم — چې مدام لکه وحشي په صحرا خـوښ یـم
تر هغه چې خشک طینـت د سـاحل ویـم — لکـه مـوج اواره پـه دریـا خـوښ یـم
(ر ا، ۱۹۷۸ز، ۲۱۴).

کاظم خان شیدا پر خپل وخت هندي سبک په خپلو شعرونو کې و پاله او د هندي سبک هغه باریکی یې په خپل شعر کې ځای کړې چې دی یې د شعر په ډگر کې لوړو پوړیو ته و رساوه، د هندي سبک په تړاو چې کله هم خبره کېږي نو تر حمید مومند وروسته د ده نوم بې له فکره پر ژبه جاري شي.

### ۳. ۵. ۲. ۹. ۲. د کاظم خان شیدا شعري پېچلتیا

کاظم خان شیدا چې د هندی سبک د دویمې ډلې (پېچلو شاعرانو) سرلاری دی د خپل وخت د نوښتگرو او مشرانو شاعرانو شعرونه لوستي وو، د هغوی د شعر په اړه یې خپل نظر څرگند کړی او هـم یـې د خپـل شعر پـه تضمین کې ترې گټه اخیستې ده او ورسره یې د دې ارمان هم کړی که دوی ژوندي وای زما د شعر په تړاو به یې خپله خوښې او ستاینه څرگنده کړې وای. د عبدالرحمن بابا او حمید مومند په اړه وایي:

په دا وقت کې که شیدا دواړه مومنـد وای — ثنـا خـوان بـه وو هـردم سـتا د ویلـو
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۴).

چـې مومنـدو قیـل او کـال کـړ — مگـر دوی سـحر حـلال کـړ
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۸۸).

د رحـمان پـه دا مسـره د شـیدا زړه دی — (( ته پري یې که آهو یې که جادو کړې ))
( شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۹۳).

د خوشحال بابا په اړه وایي:

چـې قلـم پـه لاس د خـان شـه — مرتـب یـې لـوی دیـوان شـه
هـر شـاعر چـې د افغـان دی — ریـزه چـین د خـان د خـوان دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۸۳او ۸۴).

شـیدا خـان بـه دې کـا مـیر د شـاعرانو — کـه مـزار و تـه یـې عـرض ستا انشـاء شي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۹).

د عبدالقادر خټک په اړه وايي:

شـيدا خـوښ پـه دا مسره عبـدالقادر کـړه (( دلبر مخ را ته ښايي په هـر آيـين کـې))
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۳۰۴).

د يادو شاعرانو او نورو هم عصره شاعرانو د تشبېه، استعارې، نويو ترکيبونو، ګړونو او رمزونو د نه تکرارېدو او مبتذلوالي په لامل کاظم خان شيدا اړ شوی، چې شعر يې د پېچلتيا يا ابهام په لوري لاړ شي.

د نوموړي په شعرونو کې زه کوښښ کوم چې له ساده خوا څخه يې بيا د پېچلتيا په لور ولاړ شم نو لومړی به د ده د شعر هغه بيتونه د بېلګو په بڼه راواخلم چې يو څه ساده دي او بيا به قدم په قدم نور بيتونه پسې راوړم.

### ۳. ۵. ۲. ۹. ۳. د کاظم خان شيدا ساده شعر

دلته له ساده والي څخه مقصود د وجه شبه يا وجه جامع زر ذهن ته راتلل دي، د کاظم خان شيدا په کلام کې ځينې داسې بيتونه شته چې د (مخکې مسرې او بځرګندې مسرې) تر منځ يې د تشبېه اړيکه ساده ده او د لـږې پوهې کسان کولای شي مطلوبه مانا ترې په ښه شان واخلي، لکه:

په نرمۍ د هـيڅ دښـمن اعـــتبار مـه کـړه له درياب سره بـې چوبـه روزګـار مـه کـړه
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸٦).

چې راحت در څخه سترې ستومان مـومي خپل صورت دې لکه سيوری د بېديا کـړه
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۹).

چې لـه ښاخ سره وفـا کـا بـه سره اور کـې لا تـر ګلـه يـم مـين د ګـل پـه خـار زه
(شيدا دانش :۱۹۰).

### ۳. ۵. ۲. ۹. ۴. د تشبېه له مخې د کاظم خان شيدا شعري پېچلتيا

مخکې مو هم وويل چې د (مخکې مسرې او ځرګندې مسرې) تر منځ ورو ورو تړاو د غرابت خوا ته لاړ چې نادرې تشبېه ګانې يا په بله وينا بعيدې تشبېه ګانې را منځته شوې، دا برخه هم د کاظم خان شيدا په شعر کې تـر ډېره بريده پالل شوې ده، نوموړی وايي:

کـه نکـات مـې عجايـب دي عبـــارات مـــې غرايـــب دي
خـاص پـه حسـن د کـلام وي د مانـــا دقـــت يـــې عـــام وي
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۹۳ ــ ۹۴).

اوس د شيدا له ديوان څخه هغه بيتونه راوړم چې د تشبېه له مخې يې يوبيت تر بل بيت د پېچلتيا خوا ته تللی دی:

**الف ـ هغه بیتونه چې په لږ فکر یې منځپانګه ذهن ته را ځي:**

چــې لــه اوره شي جــدا شرر وار و مــري ستا سـوخته پـه عافیـت کـې جانـدهي کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۰).

د نـرګس تـر ګـل یـې زیاتـه ښـایي وي چې پـه سترګو کـې خنـدا زمـا اجمـل کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۱).

په دریـاب بـه څـه رنـګ تـر شي کـام زمـا چــې نسـکور لکـه حبـاب دی جـام زمـا
د سیماب په شـان یـې نـه مـومم بـې مرګـه د حیــــات لــــه لاســــه ورک ارام زمــــا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰٦).

**ب ـ هغه بیتونه چې په یو څه فکر یې منځپانګه ذهن ته را ځي:**

کــــه روزي شي اســــتغنا د افتــــاده وو لـه اسـمان سره بـه خـاورې رفعـت یـو کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۷).

پــس لــه مرګــه وي نالــه د سـینه چـاکو بــې نفســه د جــرس غونــدې فغــان کــا
و اصلاح ته یې نمک ګرځي په خیال کې هر خاطر چې د کباب غونـدې بریـان کـا
(شیدا دانش :۱۰۸).

چې تعمیر یـې د بنـا پـه آسیا سـنګ وي دم په دم په غم د آب صــاحب خانـه کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۹).

د صــورت پـه شـان غافـل شي لـه آفتابـه ناکسـان چـې سر پـه سـیوري د دیـوار کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۰).

**ج ـ هغه تشبیه چې ډېر غور غواړي او یا هم پوهه پرې نا ممکنه وی:**

د جنـون شـورش مـې بیـا پـه سر تـازه شـه د صحرا په خـاطر څـه دي زنـدان څـه کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۲).

که اسمان لکه شغله بـر هـــــغه پـا کـړم پـه مـدد د خـار و خـس قطـع صـحرا کـړم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۳).

ولـــې نشـــته هـــیڅ لـــویي بـــې درد سره هر ګز نـه دی د غـره سر پـه درد خـبر هـم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۱).

معطــل پــه عارضــه د شــام غریــب دی کـه مـې زړه پـه حلقـه بنـد شـو د کـاکلو
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۹).

مناسـب لـه کـار و بـار ســـره تـدبیر کـړه کلـه درومـې پـه آفتـاب د پـرې سـیورې
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۹).

هـــــمېشه د زړه کلام اروي بې صــــوته چې نصیب یـې لکـه کلـک شـنوایي شي

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۵).

داغ یم زه د زمـــانې لـه سـرده جـــوشه
که د صبح په نفس کې آفتاب شوځي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۷).

خـاص او عـام یـې آیینـه د فــولاد بـولي
چې اثـر مې د حیرت پـه گـرداب راشي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۸).

پـه تقریـر د عیب جویـو هـنر زیـات شي
ځوک چې گوته په تار کېږدي اثر زيات شي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۹).

خرڅ موقوف د هر کریم پـه دخـل نـه دی
بـې آمـده رفـت د صـبح د نفـس شي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۴۳).

**۱. د استعارې له مخې پېچلتیا**

د استعارې گڼ ډولونه دي چې دلته یې یوازې د وجه جامع د پېژندلو له مخې قریبه او بعیده استعاره د پام وړ ده.

**۱. قریبه ( نژدې ) استعاره**

هغه استعاره ده چې وجه جامع یې ډېر سوچ ته اړتیا نه لري او زر دهن ته راشـي یـا لوسـتونکی یـې د مانـا پـه اخیستنه کې له کوم تکلیف سره مخامخ نه شي.(مقدم، ۱۳۸۴ل، ۱۲۷).

چـې لــري لکــه شــانه هــزار چوبونــه
بـې افسـونه بـه نیـول د تـور منگـور کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۴).

و صـــحبت و تـــه ضرور مناســـبت دی
سـنبل ځکـه پــه سرو گلـو پرېشــان کــا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۸).

زه بلبــل د هغــه بــاغ یــم بــاور وکــړه
چې نرگس یې هم چشمي د شوخ آهو کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۹).

په پورته بیت کې تور منگور له زلفو څخه استعاره ده قرینه یې شانه یا ږمنځ ده. په دویم بیت کې سنبل له زلفو او گلان له اننگو یا مخ څخه استعاره ده، صحبت یې قرینه ده او په درېیم بیت کې نرگس له سترگو څخه استعاره ده، هم چشمي یې قرینه ده چې په درو واړو استعارو کې ذهن له مستعارمنه څخه مستعارله ته زر لېږدول کېږي.

**۲. بعیده ( لرې ) استعاره**

هغه استعاره چې وجه جامع پکې سوچ وغواړي او زر ذهـن تـه رانـه شي، لوسـتونکی یـا اورېـدونکی یـې پـه پیداکولو کې سوچ او فکر کولو ته ډېر محتاج شي.(همکار، ۱۳۹۱ل، ۲۰۶).

شـب داج بـه یـې مهتـاب کـا ستا د زلفـو
د آفتـاب پنجـه کـه ځـان د عـاج شـانه کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۹).

تسـلي یـې د نمـک پـه سـوز و نـه شـوه
د کبــاب زخــم هنـــوز د اور ارزوکـــا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۹).

د فتنـو پـه احـداث وخـوړ اسمان خـرڅ
که وهـي زریـن لباســـه ســـبزان خـرڅ

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۹).

ستا په بزم کې مې جام د شراب و څېښ
که ساغر مي به چشمه د آفتاب و څېښ
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۲۸).

چې پرېوځي يې هر دم د خوناب ځاځکي
عجب برق لکه سحاب په زړه کباب کړم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۱).

د آفتاب په کمند نه خېژم اسمان ته
نه بردم بار لکه شبنم په دوش د گلو
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۴).

چې گره يې د کوکب د کار وا نه کړه
ولې نه وايې ناخون د هلال نشته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦٦).

په خرمن مې تسلي د مور و نه شوه
برق روان دی هغه لور ته بې حاصله
په پنجه يې د آفتاب اشفته شوی
که شانه دې تار په تار لري کاکله
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۰۳).

روشني د سيه بخت په تشويش نه شي
پرېشاني د خاطر لري کړه سنبله
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۰۴).

د جبين ترشي يې نښه د خامۍ ده
چې کباب و خوري په زړه تېره سيخونه
(شیدا، ۱۳۸۴ل،۲۱۹).

چې د جوش په شغله سيخ او کباب سوځي
ما گرمي د هغه هسې شراب سوځي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۷).

په اثر يې نه شوه پوه د سنگ رگونه
ورغلې چې د غره په لاس نشتر دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲٦۰).

و هلال ته يې څوک تېغ د هلال وايي
په نرگس يې د هوسيو گومان کاندي
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۷۰).

د زقوم په شان مې شي مکروهه طبع
که کباب راوړي ترشي په خپل جبين کې
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۳۰۴).

**۳. د کلمو د غوراوي له مخې پېچلتيا**

د کاظم خان شيدا د کلمو غوراوی هم د ده د طبعې استازولی کوي خو ځينې کلمې په خپل ذات کې له عاميانه پوهې څخه اوچتې وي. که نوموړی د پښتو کلمو پر ځای د نورو ژبو کلمې ټاکي په هغو کې هم د ده يو خاص رمز دی. لاندې بيتونو کې:

سبک روحان ( هغه څوک چې روحاً ارام وي يا لکه صوفيان ).

شلنگ ( جست او خېز، پر لار د لوړو گامونو اخيستل ).

د جسد په پرېښوول خوښ سبک روحان وي
لکه پرېږدي يونس بطن د سمک

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۳٦).

په سکون مې یې پرهار د خاطر روغ شي غوټـوي مـې لکـه لار پـه شـلنګونه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۴).

د خپل شعر په اړه د کاظم خان شیدا سپارښتنې:

**الف ــ ناپوهانو ته**

د شیدا نـازک مضـمون کـودن تـه لـولې د هـلال رویـت دې و سـپاره شـبکور تـه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦۸).

پـه کـلام د شـیدا پـوه شـو کـودن کلـه که هر حرف یې په زړه پروت لکه نګین دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۷۴).

**ب ــ پوهانو ته**

کـړه یـې وا لکـه ګـره د تـورو زلفـو بـاریکي لـري زمـا د اشـعار زلفـې
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۹۹).

کـړه یـې وا لکـه ګـره د تـورو زلفـو بـاریکي لـري تمـام دیـوان زمـا
( ختک، ۱۹۹۱ز، ۳۰۲).

پـه دقـت کـې یـې کـړه غـور سـخندانه د شـیدا کـلام محـل د تأمـل دی
د شـانې پـه دود پیـدا کـړه رسـا فکـر بـاریکي لـري زمـا د اشـعار زلفـې
باریـک تـر مـوی دی د شـیدا شـعر هلـه یـې لولـه کـه مـو شـګاف یـې
(ختک، ۱۹۹۱ز، ۳۰۳).

## ۳. ۵. ۲. ۹. ۵. د عبدالحمید مومند او کاظم خان شیدا د شعرونو موضوعي تړاو

عبدالحمید مومند

غره مه شه که په ښو دې ناخوال پرېوت د سېلاب لـه پـا بوسـیه دېـوال پرېـووت
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۴۹).

شیدا

په نرمۍ د هیڅ دښمن اعـــتبار مه کړه له دریاب سره بې چوبه روزګار مه کړه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸٦).

عبدالحمیدمومند

الهـــي د محبـــت ســـوز و ګـــداز را پـه دا اور کـې د سـهي سـمندر سـاز را
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱).

شیدا

الهـــــي د محبــــــت درد و فغـــــان را
پـه معصـوم کنـار د نـور غونـدې جانـان را
(شیدا: ۹۵).

عبدالحمیدمومند

د اوبو څاڅکی یې در شي په سینه کې
خو چې پرې کاندي صدف له دریـا طمـع
(مومند، ۱۳۸۳ل، ۱۱۴).

شیدا

سوال مې خوی لـه درافشانه ابـره نـه دی
سیپۍ ورانـه خپلـه خولـه کـړه پـه غوښـتلو
(شیدا: ۱۵۴).

عبدالحمید مومند

بې مرگه آرام لکه پاره پـه عشـق کـې نشته
یم بـه څـو ژونـدی، یـم همېشـه پـه تزلـزل
(حمید: ۱۳۵).

کاظم خان شیدا

د سیماب په شـان یـې نـه مـومم بـې مرگـه
د حیـــات لـــه لاســـه ورک ارام زمـــا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰٦).

**۳. ۵. ۲. ۹. ۵. د کاظم خان شیدا شعري موتیفونه**

د شیدا په شعر کې( حباب، آه سرد، یوسف، فرهاد، شیرینو، بېستون، شفق، د آفتاب پنجه، د هند سـبزان، حنـا، دریابې شور، گلدام، د آفتاب چشمه، د کباب زخم، د خط سـبزه، مهجـور، گـرم جـوشي، ایـوان، شـعله، گرمـي، حباب، آفتاب، سردجوشي، کوهکن، سروه، مهتاب، هلال، هندوستان، کبک، سپند، شـمع، غـزال، شرر، سـبزان، زرکه، صدف، گوهر، فلک، زرافشان، هدف، نخچیر، سوسن، سېلاب، گرداب، سمک، د غریبـانو شـام، کبـاب، نی، سبک روحان، شیشه، سرمه سایي، د فلک شمع، پروانه، کهکشان، خرمن، شگفته، نیمروز، د حیوان چشمه او برق) د نوموړي شعري موتیفونه جوړوي چې لاندې یې د شعر بېلگې راوړو:

حباب او آه سرد

د حبـاب غونـدې مـې پـر پـه آه سرد کـړ
څوک زما په کور کې بل څه رنگ څـراغ کـا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۹۷).

یوسف(ع)

څـــه امیـــد د انتفـــاع کـــوې لـــه مصـــره
شـــیدا نـــه لـــري یوســـف کـــاروان د تـــا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۹۸).

فرهاد، شیرینو او بېستون

په سنگین خاطر یې غم د فرهاد نشته
چې خندا په بېستون کبک دري کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۰).

په فریاد د بېستون سنگین خاطر شي
چې نعره کا د فرهاد په غم شیرینه
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱۲).

شفق

له شفق سره آفتاب متمثل کا
چې جلوه هغه طناز په رنگ محل کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۱).

په شفق یې د حنا آتش زني کړه
هغه شوخ لکه آفتاب نگارین چنگ و
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٥٦).

د آفتاب چشمه

د آفتاب د چشمې آب د شفق رنگ دی
چې تصویر ته یې د تا مصور حل کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۱).

د هند سبزان

لکه آب د زمرد خوشنما تر شي
چې جلوه د هند سبزان په گنگا جل کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۲).

حنا

هرگز نه لري بهره له دست و پایه
د سمک عالم به رنگ د حنا څه کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۳).

دریا یې شور

که ساقي تلخه باده دریا یې شور کا
د فلک په جام به مست کله میخور کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۴).

له تلخۍ یې جام نسکور لکه حباب وړم
چې راغلی یم و دې دریا یې شور ته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦۸).

گلدام

چې آرزو یې په خاطر وه د گل ډېره
په گلدام کې مې ناله کړه بلبل هېره
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۳).

دآفتاب پنجه

شب داج به یې مهتاب کا ستا د زلفو
د آفتاب پنجه که ځان د عاج شانه کا

(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۹).

د کباب زخم

تسلي يې د نمک په سوز و نه شوه
د کباب زخم هنوز د اور آرزو کا
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۰۹).

د خط سبزه

چې ښکاره په ښکلي مخ د خط سبزه شي
دمیده شي په عالم کې گویا صبح
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۱۸).

مهجور

ستا مهجور له ډېره درده آه فغان کړ
که ویشتلي توتي چیغ په هندوستان کړ
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۲۳).

گرم جوشي

د زبان گرم جوشي ده پرې کړه طمع
وینې سپینې د عالم شوې لکه شمع
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۳۳).

ایوان

مکدر مې په غبار روشن خاطر شي
زه چې در لکه دیده د ایوان وا کړم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۱).

شعله

که شعله د سوزان اور گرم رویي کا
په صحبت یې مین شوی سمندر یم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۵).

گرمي

دا گرمي ستا د چشمانو د نگاه ده
چې سوخته لکه د تا سیاه مژگان یم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۴۶).

حباب

په نرمۍ د سر دښمن د ځان دمساز کړم
په سیلاب لکه حباب عمارت ساز کړم
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۲).

زر باني لکه حباب د خپل گنبد شه
یو نفس دې په سینه کې واپسین دی
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۲۷۴).

آفتاب

یوه ورځ لکه آفتاب کړه نقاب لرې شعله زن په کل عالم کړه بام و صحن
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۳).

سردجوشي

د دریاب له سرد جوشۍ د حباب زړه چوي شیدا قطع د ې امید بویه له خپلو
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۵۹).

کوهکن

نامور به په جهان شي تر شیرینې که تېشه ورکړې یو دم و خپل کوهکن ته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۶۳).

سروې

کله جمع د توښې آزاده کاندي په ښاخونو کې د سروې ثمر نشته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦۵).

مهتاب

چې بدل یې په کچکول د مهتاب خوان کړ اعتماد د زمانې په کمال نشته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦٦).

هلال

د شیدا نازک مضمون کودن ته لولې د هلال رویت دې وسپاره شبکور ته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦۸).

هندوستان

ستا د زلفو په لور زړونه خرام کاندی که د روم قافله درومي هندوستان ته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱٦۹).

کبک

که یې و گوري کبکان سختي د طبع په کهسار پورې به و کا خندا دلته
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۱).

سپند

په رښتیا وي هر فریاد د سوخته گانو د سپند ناله له سوزه په مجمر ده
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۳).
شین وم زه لکه سپند و خپل سوختن ته چې په شاخ مې آرام نه وي بې مجمره
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۲).

شمع

زه پـه سـل مرگـه يـم مړ پـه ژوندانـه کـې     هـر نفـس مـې لکــه شــمع سربــازي ده
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۴).

غزال

سـياهي يـې د چشـمانو پـه شـوخۍ کـې     د غـزال سـايه پرتـه پـه سـپين ميـدان ده
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۵).

شرر

پــه شرر د نعــل ســوځي زمــا خونــه     څــه خــو ونيســه عنــان و نــاز شهســواره
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۷).

سبزان

ســـبزان کلـــه وي همســـر د گلرخـــانو     بېهـــوده راغـــی شـــيدا تـــر هنـــدو بـــاره
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۷).

زرکه

د هر خط مضمون احوال د خوار فرهـاد و     چـې قاصـد د زرکـو راوړه لـه کهسـاره
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۷۷).

صدف او گوهر

مه کړه غم د هېڅ مقصوم که هر څو گران وي     د صــدف منقــار دانــه د گــوهر گــوره
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۱).

فلک

خـلاص بـه نشـي سرکشـان لـه گوشـماليه     چې فلک په جهان شته دی تلوار مـه کـړه
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۷).

زرافشان

زرافشــان لکــه آفتــاب شــه بــې مطلبــه     شـيدا سـوال تـه د سـايل انتظـار مـه کـړه
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۸۷).

هدف او نخچير

د حيــات اميــد بــه څــه کــوې نخچــيره     چې هر بال دې په صورت کې پر د تير شه
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۹۵).

سوسن

د سوسـن ژبـه حـيرت کـړه سرمـه سـايه چې شيدا په دا بهار کې سـخن گـوی شـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۹۵).

سېلاب او گرداب

و تخريب ته يې سېلاب هسې مايـل دی چې زمـا پـه کاشـانه راغـی گـرداب شـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۱۹۸).

سمک

سـمک نـه لـري بهـره لـه دسـت و پايـه پـه دريـاب کـې يـې شـنا وگـوره درومـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۰۸).

د غريبانو شام

اخـــر وژاړي پـــه شـــام د غريبـــانو کـه هـر څـو د وطـن صـبح ده خندانـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱٦).

کباب

د جبـين تـرشي يـې نښـه د خـامی ده چې کباب و خـوري پـه زړه تېـره سيخونه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱۹).

نی

سـينه هسـې لکـه نـی لـرم پـر درده چـې نفـس پکـې همـېش کـا فريادونـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۱۹).

سبک روحان

د صورت له دامه خلاص سبک روحـان وي نـه وي بنـد د زرکـو سـېلې پـه بندونـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۲).

شيشه

تعلـق نـه کـا اثـر پـه صـافو زړونـو سره لـرې دي شيشـه و پيوندونـه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۲).

سرمه سايي

په خلاف د خپل تـاثير سرمـه سـايي شـوه چـې د سـترگو يـې لا زياتـه گويـايي شـوه (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۲۵).

د فلک شمع

بـې اجلـه هـېڅ زنـده پـه ضرر نـه مـري د فلـک شـمع پـه بـاد د سـحر نـه مـري (شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۲).

پروانه

پــه مشـرب د پروانــې گــرم جــوشي ده		کـه شـعله ورتـه پـه خشـم و عتـاب راشي
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۳۸).

جنون

د شـيدا جنـون بـه مـات د پښـو زنځير کـا		کــه ښــکاره د هغــه حســن نوبهــار شي
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۴۱).

کهکشان

چـې خجـل يـې پـه فتنـه تمـام اسـمان کـا		کهکشان يې لکـه خـس پـه آب روان شي
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۴۶).

خرمن

کـه دانـه يـې پـه خـرمن د مـزروع نشـته		د عنقــا پــه طمــع دام ايښــی شــيدا دی
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۵۵).

شگفته

پوشـيده چشـمان کـړه وا د نـاز لـه خوابـه		شــگفته بويــه نــرگس مــخ دې بهــار دی
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۵۹).

آه سرد

احتيــاط کــوه شــيدا لــه سرده اهــه		سرد نفـس د صـبح څـه شـغله انگېـز دی
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۶۲).

غونچه

عاقبـت بـه د مـراد پـه خنـدا ښـاد شـم		دلتنگــي لکــه غونچــه زمــا شــگون دی
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۷۱).

نيمروز

د نيمــروز پــه قلمــرو گويــا ماښــام دی		ستا رخسار د نوي خط پـه تـور غبـار کـې
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۲۹۸).

د حيوان چشمه

پـه چشـمه بـه يـې بـدل د حيـوان نـه کـړم		ستا د جام قطـره شراب د کبـاب څـاڅکی
(شيدا، ۱۳۸۴ل، ۳۰۸).

برق

هرگـــز مـــه نغـــاړه لمـــن زمـــا کشـــتن تـــه دی مې وچې لکـه بـرق د صـورت وینـې
(شیدا، ۱۳۸۴ل، ۳۱۰).

په پښتو منظوم هندي سبک کې نور شاعران حسـین، صـمد، فضـیل، حمدالله کاکاخېـل، سـلیم، خـوږ دل، شمشېر، میاخان، خادم شاه کاکاخېل د میا منیب کاکاخېل زوی، امام خان ترین، نورمحمدنوري د دولسمې پېړۍ په پیل او یا پای کې تېر شوي چې لږ و ډېر شعرونه یې زموږ لاسته راغلي دي او د اکثرو پکې دیوانونه لاسـته نـه دي راغلي.(هېوادمل، ۱۳۷۹ل، ۲۱۷ ــ ۲۲۳).

پر پورتنیو داسې نور شاعران هم شته چې ادبي‌کره‌کتونکو د هندي ادبي ښوونځی پیرو بللي دي خو دلته یې د موضوع د اوږدېدو په لامل را نه وړل شول.

### ۳. ۵. ۳. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځي ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې

ادبي کره‌کتونکو عبدالحمید مومند د خپل عمر له مخې په پښتو ادب کې د هندي سبک مشر امام ګڼي، دغه نظر معقول او پر ځای دی خو کله چې موږ د هندی سبک په تړاو د بیان د اداء د سادګۍ او عام فهمو شاعرانه ترکیبونو پر بنسټ او یا د شعر د پېچلتیا، پېچلو ترکیبو او د نورو ژبو په ځانګړې توګه فارسي ژبې د اغېزمنتیا له مخې په هندی سبک خبره کوو او وایو چې د پورته څرګندونې له مخې د هندي سبک شاعران په دوو (معتدل هندي سبکه شاعران او پېچلي هندي سبکه شاعران) په کټګوریو وېشل کېږي نو د معتدلو هندي سبکه شاعرانو د ډلې امام عبدالحمید مومند دی چې ډېری د پښتو هندي سبک شاعرانو د هغه د پیروۍ منښته نېغ په نېغ په څرګندو الفاظو کړې ده او یا یې هم د عبدالحمید مومند د شعر ترکیبونه، موضوعګانې او شعري وزنونه سره له قافیو او ردیفونو په خپلو دیوانونو کې راوړي دي. په پښتو هندي سبک کې دغه ډله خورا ځواکمنه ده، ولې کاظم خان شیدا د خپل وخت د هندي سبک د پېچلو شاعرانو له ډلې څخه دی چې دغه ډله شاعران په فارسي ادب کې هم شته نو کاظم خان شیدا بیا په پښتو هندی سبک کې د دغې ډلې امام دی خو پټه دې پاتې نه وي چې دی د خپلې پېچلې شاعرۍ له مخې په دغه لار کې یوازې پاتې دی او کوم داسې لاروی په پښتو هندي سبک کې نه تر سترګو کېږي چې د نوموړي غوندې پېچلې شاعري دې و پنځوي، نوموړي په دغه کار سره په پښتو ادب کې هندي سبک لوړ پوړ ته ورساوه خو افسوس دا دی چې عام پښتانه خو لا څه کوې چې ډېری لوستي پښتانه هم د ده په شاعرانه فکر یا خو نه پوهېږي او یا هم په ډېر سوچ ترې د ذوق مرغلرې را ټولوي. دی پخپله هم د دیوان د بشپړېدو پر وخت دغې خبرې ته متوجه شوی دی خو د چارې وخت ترې تېر و او پخپله یوه غزل کې په دغه خبره پښېماني ښکاره کوي، ولې په خپل شعر د پوهې کومه تمه چې د همدې غزل په پای کې کاظم خان شیدا کوي اوس الحمدالله په پښتنو کې داسې مشران وو او شته چې د ده پښېماني او منفي نظر له منځه وړي او د ده له شعري بحر څخه قیمتي مرغلرې را باسي او خپله شعري تنده پرې ماتوي.

### ۳. ۵. ۴. د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځي ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې

د عبدالحمید مومند په شعري کلیاتو کې بېلابېلې موضوعګانې چې روښاني شاعرانو، خوشحال خان خټک او پلیونو یې او عبدالرحمن بابا او پلیونو یې په خپلو منظومو آثارو کې راوړي، راوړې دي خو د راوړو طرز یې له دوی څخه بیل دی. خودي غندل، له زمانې فریاد، دنیا او نفس پرېښودل، قناعت، نوخط، عشق یا مینه، د مغلو غندل، د وخت پر نظام نیوکه، د مظلوم لاسنیوی، د ملګرتوب پالل، له خپلوانو ګیله، د ټولنې اصلاح، اخلاق،

عاجزي، ښه خلق، اخلاص، خواري او محنت، وينا او عمل، پت، پـه دنيا ځـان نـه تـړل، د زرپرستۍ غندنـه، لـه احتياجه ځان ساتل، د زورگيرۍ او جبر غندل، د مجلس اغېز، طمعه نه کول، له حرص څخه ځان سـاتل، داسـې نور يې موضوع تشکيلوي.

عرفان او تصوفي افکار تر روښانيانو وروسته د خوشحال خان، عبدالرحمن بابـا او عبدالحميـد مومنـد بـه ادبي ښوونځيو کې د خوښې موضوع ده.

### ۳. ۵. ۵. د عبدالحميد مومند ادبي ښوونځي گډې ادبي سبکي ځانگړنې

په نوموړي ادبی ښوونځي کې ډېرى نوي اضافي،تشبيهي او مجازي ترکيبونه راوړل شوي چې دغه کـار هـم د نوموړي ادبي ښوونځي د شعر ښکلا ور زياته کړې ده. (آهو چشمه، د خط اره، ساده روی، د عشـق غـم ابـاد، د خط غبار، د توبې جارو، توره بلا، د عشق تندر، د صبر او زهد رستمان) او نور.

د نوموړي ادبي مکتب شاعرانه مضامين ( رخسار، زلفې، چشمان، وروځې، شونډې، خال، خوله، زنـه، مسـکا، ملا، قد، خط، رقيب، زاهد، ناصح، هجر او وصال) يادولای شو.

## ۴. د پښتو ادبیاتو د دریيمې دورې منظوم ادبي سبک

پخوا دا خبره مشهوره وه چې د شعر خپل دېوتا دی چې له چا سره ملګری شو ښه شعرونه لیکي، په عربو کې بیا دغه د دېوتا دنده پیري سرته رسوله او کله چې د اسلام سپېڅلي څپې پر نړۍ خورې شوې بیا الهام و بلل شو خو د وخت په تېرېدو سره د ټولنې د پرمختګ او سیاسي بدلونو سره دا ثابته شوه چې د شعر وړتیا د الله ج له لوري ده او د بېلابېلو موضوعګانو په تړاو شعر ویل بیا د ټولنې اغېز دی چې په دغو سیاسي کشمکشونو او د ساینس د پرمختګ او د ټولنیزو حالاتو په بدلون سره د شعر په سبکي خوا کې هم بدلون راغی او اوس مونږ د پښتو ادبیاتو د دریيمې دورې چې ځینې یې معاصر ادبیات بولي د سبک په معلومولو بوخت یوو. دغه دوره د افغانستان ادبي کره کتونکو په درو (د روښانتیا، وېښتیا او اوښتون) پړاوونو وېشلې ده چې د هرې برخې سبکي توکي به په خپل پړاو کې په ښه کړو او د هر پړاو څو شاعران به د بېګې لپاره راوړوو. پټه دې پاتې نه وي چې په راتلونکي کې به په دغه برخه کې پشپړ کار ترسره شي اوس د وخت د کمي له امله یې یوازې پر عمده ځانګړنو رڼا اچوو.

### ۴. ۱. د پښتو ادب د دریيم دور پیل

د پښتو ادب د دریيمې دورې پیل په لره پښتونخوا کې د رایو په یو والي د (۱۳۲۸هـ / ۱۹۱۰ز) کال خوا او شا د (افغان) جریدې په خپرېدو سره پیلېږي. په دغه جریده کې د پښتو ادب نوي ژانرونه دود شول او د سید راحت زاخیلي، فضل محمود مخفي او عبدالاکبر خان اکبر غونډې لیکوالو د دریيمې دورې یا په اصطلاح د معاصر ادب زړی وکاره. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۵۰).

په دې تړاو د لرې پښتونخوا د څېړونکو نظرونه هم ورته دي، دوی هم د پښتو دریيمې ادبي دورې پیل ( ۱۳۲۸هـ /۱۹۱۰ز) کال څخه ګڼي. دوی د نوي شعر په تړاو د دوو کسانو سید راحت زاخېلي او بل د فضل محمود مخفي نوم اخلي ، دوی دواړه همزولي دي، راحت زاخیلي بیا د نظم تر څنګ د نوي نثر (لنډه کیسه)، لومړی (ناول لیکوال) او د لومړي پښتو اخبار (افغان) صحافي امتیازونه هم لري خو بیا د نظم د جوړښت او فکر له مخې مخفي ته د لومړي توب حق ورکوي. ( شاهین، ۲۰۰۳ز، ۴۶).

په افغانستان کې دغه دریمه پښتو ادبي دوره پر (۱۳۲۹هـ / ۱۹۱۱ز) کال د سراج الاخبار په دویم ځل خپرېدو پیلېږي چې نوموړې دوره په درو (روښانتیا، ویښتیا او اوښتون) په پړاوونو وېشل شوې ده.(روهي، ۱۳۸۴ل، ۵۰).

دلته يې هر پړاو په جلا ډول د سبک له مخې څېړو.

## ۴. ۲. روښانتیا پړاو منظوم ادبي سبک

روښانتیا پړاو د دریمې دورې لومړۍ برخه ده چې دلته به پرې بشپړه رڼا واچول شي.

### ۴. ۲. ۱. د روښانتیا پړاو شالید

د شلمې زیږدیزې پېړۍ یا د څورلسمۍ هجري پېړۍ دویمې لسیزې په پیلېدلو سره په افغانستان کې د معاصرادب د پیلېدو لپاره لیدنیز او ذهني شرایط برابر شوي وو. په دغه وخت کې د وړیو اوبدلو، بوټ جوړولو کارخانې جوړې شوې وې، د برېښنا بندونه، چاپخونې، روغتنونونه، عصري ځیزونه، لکه موټر، تیلفون، فوتوګرافي، سړکونه، د کارخانو ودانۍ، اساسي پلونه، ویالې، د اوبو رسولو بمبې او نور د ښه ژوندکولو لپاره رامنځته شوي وو. دودیز ژوند په ښاري یا عصري ژوند بدلون مونده نو له دغو کارونو سره نوی فکر او مفکوره هم د لیکوالو او شاعرانو په لیک کې انعکاس مومي.

د نویو ادبیاتو په رامنځته کېدو کې یو بل نوی عامل د امیر حبیب الله خان په دور کې د هغو جلا وطنو راستنېدل وو چې د امیر عبدالحمن له خوا په جلاوطنۍ اړ ایستل شوي وو. کله چې دوی هېواد ته را ستانه شول د هېواد د بچیانو د ذهنونو په روښانولو کې یې ستره ونده تر سره کړه او د معاصرو ادبیاتو په رامنځته کولو کې یې عمده نقش و لوباوه. په دغې ډله کې د محمود طرزي او غلام محی الدین افغان نومونه په ځانګړې توګه د یادونې وړ دي. همدا ډول د عصري پوهنو د تدریس لپاره له هند څخه ځینې استادان راغوښتل شوي وو چې د نویو مفکورو په دودولو کې یې ډېر لاس کړی دی.

د فرهنګ په ساحه کې دوه اړین کارونه تر سره شول؛ لومړی په کابل کې د حبیبیې ښوونځی، حربي ښوونځی او د سراج الاخبار د جریدې اداره د سیاسي کړنو په مرکز واوښته. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۵۱ او ۵۲).

میر غلام محمد غبار لیکي: " په کابل کې د بهرنیو هېوادونو جرېدې لاس په لاس ګرځېدې او د روښانفکرانو قشر چې په لومړي سر کې یې د ملي پانګوالۍ (بوروژوازۍ) او لېبرال ملاکانو استازولي کوله وروسته یې د پاچا د بې سرحده واک د محدودولو او د افغانستان د خپلواکۍ د ګټلو او د اساسي قانون د جوړولو لپاره په مبارزه لاس پورې کړ. " روهي، ۱۳۸۴ل،۵۲).

د دغه پېر ادبیات د ملي ارمانونو د عرادې په توګه د فرهنګ پرمخ بېولو ته ځانګړي شوي وو. سره له دې چې په دغه پېر کې د معاصر ادب تر څنګ کلاسیک ادب او فولکلوري ادب دواړه په خپل قوت پاتې وو خو معاصر ادب د منځپانګې او پیغام د درلودو له کبله نور ادبي جریانونه له خپل دودیز ارزښت څخه و ژغورل.

معاصر ادب د یو ژمن او رسالتمن ادب په توګه د ټولنې په خدمت کې په کار واچول شو. په هېواد کې د ژور فقر، نالوستی، اداري فساد، اختناق او ټولنیزې بې نیاوۍ عمومیت ټول هېوادپالونکي، خپلواکۍ غوښتونکي او روښانفکران دې ته و هڅول چې د منځنیو پېړیو د بې روزګارۍ او رکود د منځه وړلو لپاره سخته مبارزه پیل کړي. ادبیات د یو معنوي مشال په توګه د خلکو د ذهنونو د روښانولو لپاره و ګماري او ولس د غفلت، بې خبرۍ، ړانده تقلید او بې تفاوتۍ له درانه خوبه را وېښ کړي. د دغه وخت یو شمېر نامتو شاعرانو او لیکوالو د ادبي پنځونو له لارې د خان خانۍ، زېښاک، ښکېلاک، ځانځانۍ او استبداد پر ضد ګړندۍ مبارزه کوله او ځینو یې د خپلو لوړو ارمانونو د پوره کولو په لاره کې د سرښندنې تر ډګره لاړل او د شهادت جامونه یې و څښل.

د سراج الاخبار د جریدې په خپرېدلو سره پښتو ژبې او ادبیاتوته هم د پرمختګ زمینه برابره ېږي. په همدې وخت کې په لره پښتونخوا او افغانستان کې ډېر داسې ځوانان موجود وو چې د نویو علمونو او غربي ادب مطالعه یې کړې وه. نوي ادبي ژانرونه او فورمونه یې پېژندلي وو، د خپل خیال د څرګندولو لپاره یې نوې لارې په نښه کړې وې او د پښتو لرغوني ادب پر پاخه بنسټ یې د اوسمهال ادب مانۍ پیل کړه.

که څه هم انګرېزي ښکېلاک په (۱۳۱۱هـ / ۱۸۹۳ز) کال کې د ډیورنډ په تحمیلي کرښې سره د افغانستان د خاورې یوه برخه له اصلي پیکره څخه بېله کړه خو ویې نه شو کړای چې د پښتنو د ګډو آرمانونو، ارزښتونو او ویاړونو تر منځ د بېلتون کرښه را کاږي. د هنري فرهنګ په ډګر کې لر او بر په یو پېر کې خوځښت پیل شو. د دغه خوځښت مخکښان د ټولنې روښانفکران وو.

په افغانستان کې د (سراج الاخبار افغانستان) جریده د مولوي عبدالروف کندهاري له خوا د (۱۳۲۴هـ / ۱۹۰۶ز) کال د جنورۍ په (۱۱مه) نېټه له چاپ څخه را و وته خو همدا یې لومړۍ او وروستۍ ګڼه شوه او د دویم ځل لپاره د (سراج‌الاخبارافغانیه) په نامه په (۱۳۲۹هـ / ۱۹۱۱ز) کې د محمود طرزي په مدیریت او مشرۍ خپره شوه. په همدې مهال په لره پښتونخوا کې هم د پښتو معاصر ادب د پراختیا په لار کې ګامونه پورته شوي وو. په (۱۳۲۸هـ / ۱۹۱۰ز) کال سید راحت زاخیلي پر مټ د (افغان) جرېدې په خپرېدلو سره په پښتو ادب کې نوی نوي ژانرونه دود شول او د سید راحت زاخیلي، فضل محمود مخفي، عبدالاکبر خان اکبر او عبدالمالک فدا غوندې نامتو شاعران او لیکوالان د دغه خوځښت سرلاري وو.

محمود طرزي او عبدالرحمن لودین په (سراج الاخبار افغانیه) کې د پښتونظمونو او مقالو خپرولو ته په آګاهانه توګه پاملرنه اړولې وه. د پښتو لومړی شعر چې په نوموړې جریده کې خپور شو د مولوي صالح محمد کندهاري و:

دا څـــه عجـــب دوران دی      چـــې راغلـــی پـــه افغـــان دی
رنګارنګـــــه ترقـــــي ده      څه عجب محبوب عنوان دی
دا لـه کومـه سـو پـه مـوږ کـې      چـــې ظـــاهر او نمایـــان دی
دا خــــو عصــــر د سراج دی      چې افغان ټول پرې روښان دی

تــه سراج الاخبــار تــه گــوره          چې د ملک په تن کې ځان دی
اوس بیــا نــور علــی نــور ســو          پــه پښــتو چــې دی گویــان دی

په دغه شعر کې د نوي دوران د پیلېدو زېری ورکړل شوی دی. له روښانتیا سره د سراج او د (نـور علـی نـور) ارتباط مضمون ته ادبي رنگ هم ور کړی دی.

د روښانتیا په پړاو کې په افغانستان کې د پښتو د درېیمې دورې سرلاري مولوي صالح محمد کنـدهاری، غـلام محی الدین افغان، مولوي عبدالواسع کندهاری، عبدالعلي مستغني، او عبدالهادي داوي دی.

د سراج الاخبار د نورو قلمي همکارانو په ډله کې چې په پښتـو یـې شعرونه ویـلي د سـید محسـن کنـدهاري، عبدالسلام کامه یي، ملا عبدالباقي کندهاري، عبدالرسول محمدزیي، میرزا عبدالرحیم رحیمي او ملا محمد خان عرض بیگي (افغاني نویس) نومونه د یادونې وړ دي.

محمود طرزي په دغه پېر کې د پښتو د عامېدلو او ودې لپاره کار کـړی خـو دغـه کـار یـې پـه دري ژبـه دی. عبدالرحمن لودین که څه هم پښتو ژبې ته ډېر خدمت کړی دی خو د پښتو شعر یا داستان کومه بېلگه یـې لاس ته نه ده راغلې. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۵۳ ـ ۵۶).

د حبیبیې ښوونځي د سیاسي فعالیتونو په مرکز وا وښت، د نومو‌ړی ښوونځي ښوونکو، زده کوونکو او د نورو روڼ اندو سره په تماس کې په پټ ډول یو سیاسي سازمان د (جمعیت سري ملي) په نامه جوړ شو چې مرام یې د یو مطلق العنان حکومت تبدیلول په یو مشروطه حکومت، د افغانستان د خپلـواکۍ لاسـته راوړل، نـوی تمـدن او فرهنگ خپرول وو.

د دغه حزب غړو په پټه مجلسونه کول چې د کوم جاسوس په واسطه د ټولو غړیو لسـت یـې پـه ننگرهـار کـې امیر حبیب الله خان ته ورسېد. نوموړی جنبش د امیر حبیب الله خان په واسـطه سـخت و ځپـل شـو، غـړي یـې شهیدان شول خو دغه خوځښت له منځه لاړ نه شو او د دویم ځل لپاره د (ځوان افغان) په نامه د محمود طـرزي له خوا په (۱۳۲۹هـ / ۱۹۱۱ز) کال کې را منځته شو.

محمود طرزي د (سراج الافغانیه) په نامه جریده تاسیس کـړه چـې پـر بنسـټ یـې انگریـز پـه هندوسـتان کـې ولړزېده. (رفیق، ۱۳۹۱ل، ۵۵ او ۵۶).

په بله وینا د امیرحبیب الله خان د پاچهۍ په لومړیو کلونو (۱۳۲۷هـ / ۱۲۸۷ل/ ۱۹۰۹ز) کې د کابل روڼ انـدو او د تحصیل خاوندانو په نامنظم ډول د یو اصلاح غوښتونکي او مشروطه غوښتونکي حـزب د جـوړونې پلویـان وو چې له یوې خوا مطلقه شاهي په مشروطه شاهي واړوي او له بلې خـوا د افغانسـتان پـه خپلـواکۍ کـې خپـل اغېزمن نقش ولوبوي، مگر دا چې یو شمېر محمدزیانو هم د دې نامنظمې ډلې غړیتوب درلود، د سیاسي حزب د تشکیل پلان رسوا شو او پاچا د دې ډلې پنځه ځلوېښت تنه غړي اعدام کړل او یو شمېر یې بندیان کړل.

په دغسې یو حالت کې اداري فساد، رشوت، اختلاس، د عامه شتمنیو غصب د افغانستان د ادارې د مامورینو عادي کار و. ډېری حکومتي او دولتي چوکۍ په پیسو اخیستل کېدې او یا هم په اجاره اخیستل کېدې.(تنویر، ۱۳۸۰ل،۵٦).

د موضوع د ښې روښانتیا لپاره به د عمر په پام کې نیولو سره لومړی د افغانستان د پښتو ادب له شاعرانو څخه څو شاعران د شعر بېلګې راوړو او بیا به د لرې پښتونخوا څو شاعران سره له شعري بېلګو و څېړوو.

### ۴. ۲. ۲. د روښانتیا پړاو د منظوم ادب ځانګړي(انفرادي) سبکونه

په دغه پړاو کې د بېلګې په موخه د څو مشهورو شاعرانو شعرونه د ګډو سبکي ځانګړنو لپاره څېړوو.

#### ۴. ۲. ۲. ۱. مولوي صالح محمد کندهاری

مولوي صالح محمد هوتک کندهاری پر (۱۳۰۷هـ) کال په کندهار کې د فیض محمد هوتک کره دې نړۍ ته سترګې وغړولې او پر (۱۳۷۹هـ / ۱۳۳۹ل) کال په کابل کې وفات شوی دی.( حبیبی، ۱۳۸۷ل، ۲۲۰).

د پنځلسو کالو په عمر کابل ته راغی، لومړنۍ زده کړې یې د کابل په حبیبیې مدرسه کې سرته ورسولې او بیا په همدې مدرسه کې د ښوونکي په توګه و ګمارل شو. نوموړي د پښتو درس ورکاوه او د پښتو درسي کتابونه یې وکښل. په دغه برخه کې د لسګونو آثارو څښتن دی. یو مثنوي اثر یې چې قابو درې زره بیته لري او ځینې برخې یې د مولانا جلال الدین بلخي له مثنوي څخه آزاده ژباړه ده.(روهي، ۱۳۸۴ل،٦۰ او ٦۱).

مولوي صالح محمد کندهاری پر (۱۳۳۸هـ / ۱۲۹۹ل) کال د طلوع افغان جریدې بنسټګر، په کابل او کندهار کې د ابتدایي ښوونځیو لومړنی مدیر وکله چې په کابل کې په افغاني ځوانانو کې د ځپلواکۍ ګټلو فکر خپور شو نو د هغه وخت حکومت د خپلو ګټو لپاره نه غوښتل چې د انګرېزانو له سیاسي واک څخه ځان و ژغوري خو په ولس کې د خپلې خپلواکۍ لپاره تاوده احساسات د پارېدو په حال کې وو. په هغه پېر کې افغانستان یوازې یو اخبار درلود او هغه هم د حکومت تر سخت سانسور او واک لاندې و نو چا هم په ښکاره د خپلواکۍ نغمه په خوله نشوه راوړلای. مولوي صالح محمد کندهاري د خپل ولس جذبه او غوښتنه په خپل نظم ( دقفس بلبل) تر سرلیک لاندې په سیمبولیک ډول را ښکاره کړه. دغه منظومه په پښتو کې د صالح محمد او په فارسي کې د داوي په قلم په سراج الاخبار کې چاپ شوې، په خپل ولس کې دغه منظومه دومره اغېزناکه وه چې د ښځو په خوله هم پرلپسې زمزمه کېده، د انګرېز له خوا د وخت حکومت ته ګوتڅنډنه وشوه چې دا ډول خپرونې بندې کړې. پر دې سربېره کله چې د سراج الاخبار په سرمقاله کې د (حی علی الفلاح) تر سریک لاندې د بشپړې خپلواکۍ غوښتنه نشرېده د امیر حبیب الله خان له لوري سانسور شوه او ورسره یې د سراج الاخبار مدیر و ګواښه.

د مولوي صالح محمد کندهاري (د بلبل ژړا) نظم چې د عبدالهادي داوي د شعر ژباړه ده ډېر زیات شهرت پیدا کړ:

یــو ســحر زمــا تــر غــوږ ســوه لــه بلبلــه　　　پــه قفــس کــې یــې ژړل دا یــې ویلــه
چــې بنــدي شــوم د صــیاد لــه ســخته دلــه　　　ولې نه پوښتي څوک حال زما لـه یـو بلـه

ولـــې نســـته بـــې فغانـــه کـــار و بـــار زمـــا
ولـــې حـــبس ابـــدي راغـــی پـــه وار زمـــا

نه محرم چې د زړه حال ورتـه بیان کـړم　　　نــه مــې وس چــې خــبرداره بلــبلان کــړم
نـه ملگـري چې چمـن تـه یې روان کـړم　　　بیــا بیــان ورتــه د گــل او د ریحــان کــړم

خپـل ډک زړه د آرمـانو ورتـه خـالي کـړم
ټـول مرغـان د چمنـو پـه ځـان حـالي کـړم

چـا تـه و ژاړم پـر چـا بانـدې فریـاد کـړم　　　چا ته خاورې په خپل سر باندې باد باد کړم
چا ته وگورم په څه شي زړگی ښاد کـړم　　　د صـیاد لـه لاسـه چـا تـه عـرض و داد کـړم

څه را وسوه چې د تـور قفس بنـدي سـوم
نــه خلاصــیږم پــه دا بنــد کــې ابــدي ســوم

ولــې زه لــه خپلــه ســیله را جــلا ســوم　　　ولــې زه لــه خپــل وطنــه را جــلا ســوم
ولـې زه پــه ویــر اختــه پــه واویــلا ســوم　　　کور و کلی مې سو پاتـه خـوار تنهـا سـوم

کوم ظالم کړمه بندي خدای دې بندي کې
خدای دې ما غوندې اخته پـه جـدایي کې

اوس بــه زه لکــه هــا نــور پــه هــوا تلمــه　　　پـــــه هـــــوس د آزادی بـــــه بالېدمـــــه
پـــر غونچـــو بـــه د گلانـــو مســـېدمه　　　ورځ پـــه ورځ بـــه غوړېدمـــه لوېېدمـــه

چا بندي کړم خدایه تی په ځـان اختـه کې
پـه قفس کې د زنـدان جگـر سـوخته کې

اوس بــه گرځېــدم آزاد پــه چمنــو کــې　　　الــوتم بــه پــه صــحرا او پــه بــاغو کــې
ښه به گرځېدم خوشحال پـه شـگوفو کـې　　　ولــې اوس یــم پــه غمــو پــه اندېښــنو کــې

ې بنـــدي دې د قفـــس کړمـــه صـــیاده

خدای دې ما غونـدې بنـدي کـړه ای آزاده

الغـــرض چـــې ده وهلـــې دا نـــارې         د قفـــس لـــه لاســـه و پـــه غلبلـــې
چـې ناګـاه د چمـن بـاد راغـی د کښـې         چـې پـر ونښـت دا یـې و واتـه لـه خـولې

مګـر دا بـاد د چمـن لـه خـوا راغلـی
چـې زمـا صـبر و آرام یـې را څخـه وړی

یـو سـاعت متفکـر و حـیران پاتـه         نـه یـې شـکر و شـکایت کـاوه و چـا تـه
چـې بیـا بـاد د چمـن راغـی د ده خـوا تـه         آه یې و کېښ عرض یې وکی خبل مولا تـه

لکـه زه هسـې بنـدي سـې ای صـیاده
د وطـن پـه جـدایي سـې ای صـیاده

زه چـې فخـر د چمـن زېـب د بوسـتان وم         نغمـه خـوان د خپلـې ځـالې او اشـیان وم
د بـاغوان د ښـو بـاغچو روح روان وم         د سرو ګلـو پـر ښـاخو بـه نغمـه خـوان وم

د پـولادو پـه پنجـره کـې دې بنـدي کـړم
د هر کس و د نـاکس دې ریشـخندي کـړم

زه بـه تـل د بـاغ پـر سر ښـه پـه هـوا وم         ښـاخ پـر ښـاخ بـه بیـا پـه څـه نـازو ادا وم
د ګلانـو پـر سرو بـه پـه خنـدا وم         په ځالی کې به وم ناست یـا پـه صـحرا وم

نـه بنـدي وم د قفـس نـه مـې هـېڅ غـم و
نـه مـې اوښـکې بهېـدې نـه مـې مـاتم و

چـې سـحر بـه زه لـه ځـالې پـه هـوا سـوم         پـه ګلشـن کـې بـه د عـیش نغمـه سرا سـوم
چې له پورته به پـه ګـل بانـدې را تـا سـوم         و سـمن و یاسـمن تـه بـه ګویـا سـوم

آیا څوک لـري دا عـیش و عشـرت نـن زمـا
چـې نـدیم مـې ګلخانـه ده د چمـن زمـا

هغـه ګـل هغـه سـپرلی هغـه بهـار دی         د نـرګس او شـګوفو ګـرم بـازار دی

د توتیانو په ګلشن کې چغهار دی         په چمن کې د بلبلو چورهار دی

پر ګلانو الوته کا په خندا
زه بندي یم د قفس او په ژړا

زړه مې ډک دی سره چوي له ارمانه         خدایه ژر مې خلاصوې له دې زندانه
نور مې مه پرېږدې په دې ځای کې سبحانه         بیامې ورسوې ژر تر خپل بوستانه

که دې زه یمه قفس ته پیدا کړی
بیا وزر دې ولې ماته دی راکړی

څو تر څو به یم په دې جور و ستم کې         څو تر څو به یم په آه و په الم کې
څو تر څو به په ژړا یم او په غم کې         څو تر څو به یم دا رنګه په ماتم کې

چې امید مې د خلاصی نسته هېڅکله
نو بهتر دی مرګ تر دې ژوند یو په سله

بیا نو چوپ سو یو ساعت په تأمل سو         زما خیال سو چې د غم متحمل سو
بیا یې ناره کړه همرازه د سور ګل سو         ویل آه چې د صیاد لا تغافل سو

ځان کړه مړ چې له ذلته نجات مومي
په ګوښه کې د عدم به حیات مومي

که څه نه دی ښه و ما ته په دا شان مرګ         ولې څوان یم او د ځوان وي د ارمان مرګ
خو د ژوند لپاره ښه دی ناګهان مرګ         په هزار ځله بهتر دی تر زندان مرګ

چې دا هر سهار خپل مرګ په قفس وینم
ولې نه مرم چې به بیا زه قفس وینم

په حسرت او په افسوس یې دا ویله         و ګلشن ته یې کتل بیا یې ژړله
د قفس و دروازې ته یې ځغستله         لار یې نه وه وزرونه یې سر پوله

په هوا سو سر یې ونښت له قفسه
وینې توی سوې سوړ پوړ ولوېد له هوسه

سر تـر پایـه پـه سرو وینـو کـې غرقـاب و  خان بایللی زړه زخمـي حـال یـې خـراب و
بیا بې هوښـه یـا پـر هـوښ پـه اضـطراب و  چې پر هوښ بـه سـو گویانـه پـه دا بـاب و:

سر مـــې بـــایلو پـــه هـــوا د آزادۍ
شـــکر شـــکر ســـوم فـــدا د آزادۍ!
پـــه هـــوا د آزادۍ مـــې وزر پـــرې ســـو
شکر شکر آزاد سوم کـه مـې سر پـرې سـو
ښـه چـې زه د آزادۍ پـه هـوا مـړ سـوم
نـه چـې پاتـه پـه ذلـت د ټولـو پـړ سـوم
(حبیبي، ۱۳۸۷ل، ۲۲۰ ــ ۲۲۴).

نوموړی نظم په سیمبولیکه ژبه د خپلواکۍ لپاره د ولس د هڅونې احساسات څرگنـدوي، د نظـم ژبـه روانه او له عام گډدود سره برابره ده، د پوهې کچه یـې د ولـس لـه پـوهې سره برابـره ده، د تشـخیص ادبي جوړښت ښه بېلگه ده، پر چا ژړا او چاته فریاد خوږې گړنې پکې کارېدلې دي، په زړه پورې انځورونه، د وینا پرلپسې ښه تړاو او ښکلی پای یې غوره ټکي دي. نوموړی نظم په زاړه څېل (ترکیب بند) کې منظوم شوی دی. (سوم) یې د لوېدیز گډدود اغېـز بلـلای شـو. مولـوي صـالح محمـد کنـدهاری د افغانسـتان د درېیمې دورې په شاعرانو کې لومړی مقام لری.

د افغانسان د خپلواکۍ د دغه پتنگ یو شعر چې په سراج الاخبار کـې د انگرېـز خـلاف د عـثماني ترکیـې پـر ملاتړ چاپ شو د انگرېزانو فکري مورال یې له سختې ننگونې سره مخ کړ:

تـــــه کــــره د ځمکـــــې گــــوره  نظـــــــــر وکــــــــړه زمـــــــا وروره
دنیـــــا ده پــــر شــــور راغلـــــې  تورېــــــــــــدلې قهرېــــــــــــدلې
لــــري ډول چـــــې پــــه دنیـــــا دی  پــــر یــــورپ کــــه پــــر آیشــــیا دی
تـــول پـــــه جنـــگ سره اختــــه دي  پـــــــه سرو وینـــــــو آغشـــــــته دي
جــــرمن دی خــــدای گمارلــــــی  روس انگرېـــــــز تـــــــه ښـــــــکارلی
انگرېـــــزان پـــــه ویـــــر اختـــــه دي  ډېــــر مغمــــوم خــــوار ا وخفــــه دي
همــــــــت گــــــوره د ترکـــــــانو  د رومیـــــــــــــانو عثمانیـــــــــــــانو
ای زمــــــــا برادرانـــــــــــو  ای جملـــــــــــه مســـــــــــلمانانو
ښـــه فرصـــت دی خـــدای راکـــړی  ښـــه موقـــع دې پیـــدا کـــړی
چــــې کفــــار سره اختــــه دي  پـــــــه سرو وینـــــــو آغشـــــــته دي

دغه مثنوي ټوله اويا بيته ده، داسې ښکاري چې د انګرېزانو په سپارښتنه امير حبيب الله د نوموړي په شعر خپرولو بنديز لګولای وي نو ځکه يې تر يو کاله پورې د نورو آثارو د خپرېدو څرک نه لګېږي. يو کال وروسته په (۱۳۳۴هـ / ۱۲۹۵ل) کال يې د ( اطاعت اولوالامر) تر سرليک لاندې يو شعر چاپ شو:

اطاعت د اولوالامرو فرض عين دی      بلې بلې ثابت شوی په قرآن دی
(روهي، ۱۳۸۴ل، ٦١ ـ ٦٣).

شعر د مضمون له پلوه خورا غني دی، ولس د دويم نړيوال جنګ څخه خبروي، د هغو هېوادونو نومونه په ځرګند ډول اخلي چې په جګړه کې ښکېل دي، په شعر کې د ترکانو پلوي شوې ده او د انګرېز زېږه ځېره انځوروي، د زړه خبره په ځرګند ډول کوي، کومه کنايه او رمز نه کاروي، مضمون يې نوی دی.

دغه شعر د ځېل له مخې مثنوي ده، ډېر هنري انځورونه نه لري، نوې کلمې او نومونه، لکه (د ځمکې کره، اروپا او آيشيا) او نور پکې ليدل کېږي، د هندي سبک له قيده خپلواک دی، پېچلتيا نه لري، دري او عربي کلمې معمولاً پکې کارېدلې دي.

### ۴. ۲. ۲. ۲. غلام محی الدين افغان

غلام محی الدين افغان پر (۱۲۷۹هـ) کال په کندهار کې پيدا شوی دی او پر (۱۳۳۹هـ/ ۱۳۰۰ل) کال وفات شوی دی، پلار يې عبدالرشيد نومېده د جلاوطنۍ په پېر کې يې په هند کې عصري زده کړې وکړې. په اردو، سنسکريت، عربي، انګريزي او فارسي ژبو پوهېده. د اميرحبيب‌الله‌خان د پاچهۍ پر وخت له هنده افغانستان ته بېرته راغی.

کله چې کابل ته راغی د هېواد د ځوانانو د روزلو په موخه يې معارف ته مخه کړه او د دارالمعلمين مدير و ګمارل شو. نوموړی د (اخوان افغان) د نهضت غړی و. د خپلواکۍ د بشپړتيا، د عصري پوهنو د تعميم او پراختيا او د ملي احساس د ويښتيا په لار کې يې هلې ځلې وکړې. نوموړی د پښتو ژبې د سوچه کولو پلوي و. د شعر بېلګه يې چې د هېواد د مينې له احساسه ډکه ده راوړوو:

زړه زما ډک دی له مينې د وطن      خپل وطن ماته عزيز دی تر خپل تن
هر يو ګل مې د وطن پر ما ډېر ګران دی      تر کشميره تر پاريس و تر لندن
شيرين ځان مې په شيرين وطن فدا دی      زه خو دا رنګه فرهاد يمه کوهکن
ګلستان مې د وطن لا در کنار دی      خارستان دی د وطن را ته ګلشن
د وطن په حمايت کې ځان مباح دی      په دا مينه کې لازم دی سر باختن
چې د چا په سر سودا د وطن نه وی      سر د ده دی مستحق د بريدن
چا په زړه کې چې جنون د وطن نه وي      د هغه زړه خدای همېش لري غمجن
که څه ډېر دي په دنيا کې عزتونه      ډېر عزت دی په خدمت کې د وطن
(روهي، ۱۳۸۴ل، ٦٧ او ٦٨).

د افغانستان د خپلواکۍ په تړاو یې لاندې نظم د پاکو احساساتو هنداره ده چې د سراج الاخبار د څلورم کال په درېیمه ګڼه کې خپور شوی دی:

شکر شکر باغ موخپل باغبان موخپل دی
گل مو خپل بهار موخپل بوستان مو خپل دی
سروه خپله بلبل خپل چمن مو خپل دی
لاله خپل ارغوان خپل دامان مو خپل دی
نښه خپله خمار خپل پیاله مو خپله
بزم خپل ساقي مو خپل دوران مو خپل دی
کلی خپل بازار مو خپل وطن مو خپل دی
څمکه خپله رود مو خپل دهقان مو خپل دی
شاه مو خپل گدا مو خپل قاضي مو خپل دی
سپاه خپل رعیت خپل دېوان مو خپل دی
غل مو خپل قاتل مو خپل مقتول مو خپل دی
عسکر خپل مفتي مو خپل زندان مو خپل دی
شکر شکر بېگانه په میان کې نشته
مدیر خپل اخبار مو خپل دوران مو خپل دی
عجب عصر دی افغانه نظر وکړه
ژبه خپله قلم خپل بیان مو خپل دی

(حبیبي، ۱۳۸۷ل، ۲۰۳ او ۲۰۴).

پورته دواړه نظمونه د غزل په کلاسیکي جولۍ کې ویل شوي دي خو د منځپانګې له مخې د خپلواکۍ ولولې پکې په څپو دي. دا چې نوموړي ډېر وخت په هند کې د انګرېزانو تر ولکې لاندې تېر کړی دی د بل هېواد هر څه ورته پردي ښکاره شوي دي او کله چې خپل هېواد ته راستون شو او هر څه یې په خپل اختیار کې ولیدل نو بې اختیاره یې په ساده کلمو کې د خپلواکۍ تمثیل وړاندې کړ. مخکې هم موږ و ویل چې د درېیمې دورې د شاعرانو عمده منځپانګیز سبک هېوادپالنه او خپلواکي ده نو د غلام محی الدین افغان په شعر کې هم دا خوا په څلېدو ښکاري. او د ژبې له پلوه کلمې، ترکیبونه، تشبیه ګانې او کنایې په ساده او عام فهمه ژبه راوړي.

د کلام بله بېلګه یې:

بې کمال د با کمال کله همسر دی
هم قیمت کله گوهر سره حجر دی
باکمال سړی په مثل د پادشاه دی
په ظاهره که مفلس و قلندر دی
که لباس د بې کمال وي د زربفتو
دا یې څل وي د حریر و هغه خر دی
که لباس د باکمال وي د کرباسو
کمال ده لره خلعت دی هم زېور دی
څوک چې نه لری کمال واوره افغانه
که غني وي لا خو تا نه مفلس تر دی

(روهي، ۱۳۸۴ل، ٦٨ او ٦٩).

پورته شعر یې هم د غزل په څېل کې ویلای دی، منځپانګه یې د هېواد د ځوانانو هڅول دي چې په ژوند کې څه هنر یا کمال لاسته راوړي او د ښه ژوند کولو بنسټ د ځان لپاره په خپلو لاسونو کښېږدي، ژبه یې ساده روانه او د ولس تر پوهې لوړه نه ده.

**۴. ۲. ۲. ۳. عبدالعلي مستغني**

عبدالعلي مستغني د ملا رمضان زوی پر (۱۲۹۳هـ) کال د کابل په بالا حصار کې زیږېدلی دی، په خټه د کندهار هوتک دی. دا چې څه وخت يې په وردګو کې تېر کړی دی نو د مستغني وردګ په نامه هم يادېږي. د مستغني پلار د خپل وخت نوموتی عالم و، امير حبيب الله او نصرالله خان ته يې درس ورکړی دی. مستغني د خپل وخت دودیز علوم، لکه فقه، صرف و نجو، منطق، حکمت، علم کلام، او تصوف ولوستل، د مولوي خان محمد خسته په قول په نجوم، رمل، حساب او هندسه کې يې مطالعه درلوده او د قوي منطق او استدلال خاوند و. د ده يو شمېر شعرونه په سراج الاخبار او کابل مجله کې چاپ شوي دي. په پارسي ژبه د شعرونو څو لوی ديوانونه لري. په همدې لامل کله چې نوموړی پر (۱۳۵۲هـ) کال رحلت کوي د افغانستان ملک الشعرا قاري عبدالله او د ايران ملک الشعرا محمد تقي بهار له لوري ورباندې مرثيې ويل کېږي.

مستغني له خپلې مورنۍ ژبې سره مينه درلوده خو د پښتو شعرونه يې د شمېر او څرنګوالي له مخې پارسي شعرونو ته نه رسېږي. نوموړی پښتنو ته سپارښتنه کوي چې خپله مورنۍ ژبه هېره نه کړي:

ښه ده ښه ده که په سل ژبو دانا يې — ولې مه کېږه نادان د خپلې ژبې

د شعر بله بېلګه يې لاندې راوړو چې خپل ولس ته د علم او پوهې لپاره پکې په روانو، ساده کلمو او ترکيبونو کې سپارښتنه شوې ده:

بې له علمه به څه غواړې په دنيا څوک — که عاقل وي که هوښيار وي که دانا څوک
تر دې ښه متاع په دې دکان کې نشته — سود به و کا که کوي دغه سودا څوک
درست جهان قربان د علم تر ګوهر شه — دغه وايم که مې و پوښتي رښتيا څوک
علم سل خرواره ثقل په هوا کا — دراوی شي يوه بنه په هوا څوک؟
مجهولات به د عالم ورته معلوم شي — که د علم له مضمونه شي جويا څوک
تر قيامته خرابي پرې اثر نه کا — که د علم پر بنا کښېږدي بنا څوک
په دنيا دی هغه قصر بې قصوره — چې د علم پر قرار يې کړي برپا څوک
چې د علم د طبيب دارو و نه خوري — له مرض د جهل نه مومي شفا څوک
د هغه ملت به څرنګه ښادي وي؟ — چې په ده کې به عالم نه وي اصلا څوک
که بلا ده په جهان کې بې علمي ده — خدای دې نه کا مبتلا په دا بلا څوک
په جهان کې به غالب پر هر دښمن شي — که د علم توره وتړي تر ملا څوک
چې د فکر باريکي نه لري وروره — څه په کار ده که لري باريکه ملا څوک
په حکمت سره د خپل ملت غمخور شه — باري نه لري د بل ملت پروا څوک
که د خپل ملت په خپله غمخور نشې — هر ګز نه کا په پردي مړي ژړا څوک
هر ګز نه لري زوال دولت د علم — دا دولت له چانه نشي وړای په غلا څوک

هـر ملـت چـې وي بـې علمـه نابينـا وي
باري مـه شـه پـه جهـان کـې نابينا څـوک
لـه پښـتو بـه پښـتون څـه چشـم پـوشي کـا
دا بـه نـه کـا کـه لـري شرم و حيـا څـوک
(روهي، ۱۳۸۴ل، ۷۱ ــ ۷۳).

د شعر لاندې بېلګه د سراج الاخبار په څلورم کال د(۱۳۳۲هـ / ۱۲۹۳ل) کال د عقرب مياشتې پـه (۶مـه) ګڼه کې چاپ شوې ده:

علـم زده کـړه ګـوره جهـل پـه کـار نـه دی
که دې پلار دی چې جاهـل دی پـه لار نـه دی
کـه بـې علمـه خـبردار دی خـبر نـه دی
کـه هوښـيار د زمـانې دی هوښـيار نـه دی
که څوک سود غواړي د علم سـودا ښـه ده
پـه ګرمـی د دې بـازار بـل بـازار نـه دی
کـه سـودا کـړې دکانـدار د علـم ګـوره
بـا انصـافه تـر ده بـل دکانـدار نـه دی
خوار هغه شي چې لـه علـم نـه غافـل شي
چې د علـم دولـت مـومي بيا خـوار نه دی
کـافران ګـوره پـه علـم جهـانګير شـول
مـا و تـا سره دا ننـګ و دا عـار نـه دی
مړه ويده دواړه يو رنګ دي په غفلت کې
مـړ يـې بولـه هـر سـړی چـې بيـدار نـه دی
د غفلـت پورتـه خونخـواره بـلا نشـته
که زمری څوک خونخوار بولي خونخوار نه دی
موافـق لـه زمـانې سره رفتـار کـړه
مخـالف د زمـانې ښـه رفتـار نـه دی
زمانـه وي کلـه ګرمـه کلـه سرده
تـل تـر تلـه پـه چمـن کـې بهـار نـه دی
که فلک د غير په کام شه غمګـين مـه شـه
پـه دې ژرنـده همېشـه د چـا وار نـه دی
مسـتغني زه د مـين پـه خپـل ګفتـار کـړم
ستا پـه شـان ګفتـار د هېچـا ګفتـار نـه دی
مسـتغني يـم زمـا نـوم عبـدالعلي دی
زه پښتون يم په بل قوم مې څـه کـار نـه دی
فارسي شعر مې مشهور دی پـه جهـان کـې
پـه پښـتو ژبـه مـې شـعر شـعار نـه دی
(حبيبي، ۱۳۸۷ل، ۲۰۵ او ۲۰۶).

پورتني دواړه شعرونه ساده او روان دي، ژبه يې د خپل ولس له سويې څخه پورته نـه ده، هـر وګـړی پـرې پـه اسانه پوهېدای شي، کلمې، ترکيبونه او مثالونه يې څرګند او فصيح دي، موضوع يې د علم زده کړه ده چې د نړۍ سره د سيالۍ بنسټ جوړوي. نوموړی د وخت په غوښتنه د خپل ولس د پوهې کچه لوړول غواړي په دغه برخـه کې ډېر تأکيد کوي. ملي احساس يې پکې له ورايه په چپو ښکاري.

### ۴. ۲. ۲. ۴. عبدالهادي داوي

عبدالهادي داوي چې په پيل کې يې (پرېشان) تخلص کاوه، د عبدالاحـد خـان طبيـب زوی دی، پـلار يـې د کندهار له غوره ډاکترانو څخه و. عبدالهادي داوي پر (۱۳۱۳هـ / ۱۲۷۲ل) کال دنيا ته سترګې غړولـې دي او پـر (۱۴۰۲هـ / ۱۳۶۱ل) کال له دې دنيا رحلت کړی دی.(خدمتګار، ۱۳۹۱ل، ۱۱۹۸).

پلار يې د امير عبدالرحمن په فرمان کابل ته راغلی دی او د دربار د طبيب په توګه و ګمارل شـو. عبـدالهادي داوي لومړنۍ زده‌کړې د حبيبيې په ښوونځي کې وکړې او د خپل وخت له سترو پوهانو او ټـولنيزو شخصـيتونو،

لکه مولوي محمد سرور واصف، مولوي عبدالرب، ملک الشعرا عبدالله او هندي مهاجرو ښوونکو مولوي محمد مظفر او مولوي محمد حسین سره یې ناسته ولاړه درلوده. وروسته یې له محمود طرزي سره د سراج الاخبار په چلولو کې همکاري کوله. عبدالهادي داوي له خپلو استادانو او همکارانو څخه اردو، ترکي او عربي ژبې زده کړې وې.

عبدالهادي داوي د ځینو تورونو په بنسټ څو ځلي بندي شوی هم دی، یوځل پر (۱۳۳۵هـ / ۱۲۹۶ل) کال د امیر حبیب الله خان د زیږېدنې د جشن په شپه په شور بازار کې پر امیر چا ډزې وکړې او په تور یې عبدالهادي داوي اووه میاشتې په شاهي ارگ کې بندې شو. کله چې امیر امان الله خان پاچا شو نوموړی یې له بنده آزاد کړ او د (امان افغان) د اخبار مسوول یې و ټاکه. د امان الله د پاچهۍ په پېر کې پر (۱۳۴۱هـ / ۱۳۰۲ل) کال په لندن کې د مختار وزیر په توگه او پر (۱۳۴۴هـ / ۱۳۰۵ل) کال د سوداگرۍ د وزیر په توگه و گمارل شو. د امان الله تر پاچاهۍ وروسته بندي شو او بیا هند ته لاړ. د محمد نادر شاه په سلطنت کې په جرمني کې د مختار افغاني وزیر په توگه و ټاکل شو، درې کاله وروسته بیرته هېواد ته راستون شو. پر (۱۳۵۲هـ / ۱۳۱۲ل) کال د محمد نادر شاه د شهادت په تور بیا بندي شو، پر (۱۳۶۵هـ / ۱۳۲۵ل) کال بیرته له بند څخه آزاد کړل شو او د پاچا د حضور سرمنشي و ټاکل شو. تر دې وروسته داوي د ملي شورى ریس، په مصر کې د لوی سفیر او په اندونیزیا کې د مختار وزیر په توگه دندې تر سره کړې. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۷۳ــ ۷۵).

داوي که له یوه پلوه ډېرى عمر په سیاست کې تېر کړ خو د خپل وخت ښه لیکوال او شاعر و ډېرى آثار یې په پښتو ژبه ولیکل او د خپل ولس ذهني بیدارۍ لپاره یې شعر هم ویلی دی. د شعر منځپانگه یې ډېری پر ټولنه د کره‌کتنې موضوع ته ځانگړې ده، کلمې، ترکیبونه او نور هنري تلازمات یې ساده روان او د ټولنې له پوهې او فکر سره برابر دي. د بېلگې لپاره یې لاندې دوه شعرونه د (چارگل) او (بېرندوکی زړه) تر سرلیک لاندې راوړم:

چارگل

ناوې! څه ږدې په اوربل باندې قطار گل
انسان کله سي کېدای په ډېر سینگار گل
خاموشي او اطاعت د خپل مېړه کړه
تربیت د اولاد ښه دی تر خروار گل
سر رشته د کور هر گوره لوی هنر دی
اکتفا کړه ښایستې په دغه چارگل
(روهي، ۱۳۸۴ل، ۷۶).

په پورته شعر کې له (چارگل) څخه موخه ( خاموشي، مېړه اطاعت، د اولاد تربیت او د کور سر رشته) ده چې په ډېر هنر یې په یوه کلمه کې راټول کړي دي.

**بېرندوکی زړه**

د ښهرو مېرمنې زموږ دي نازولې
په اعصابو عضلاتو هم نتلې
کار یې لږ خوراک یې غوړ هوا یې بنده
سستې پستې لویې سوې دي بې حده
د شپې څه چې دي پرتې تمامه ورځ
بالښتونه یې پاسته لکه اورېځ

کــوچني زړونــه يــې هــر دقيقــه ربــږدي
و اولاد تــه دغــه بېــره مېــراث پرېــږدي
يــو څرخـــي ماتــه کـــاوه دا حکايـــت
ظرافــت تــر لبــاس لانــدې شــکايت
د شـــقاو لـــه لاســـه و تښـــتېدو تولـــه
يــو مــو وړه پنــاه ځــائو لــه پښـتنو لــه
شـل جـوړې مـو کجـاوې وې د مېرمنـو
پـــه ښــېرا وې د خپـــل لونـــو د زامنـــو
پښـــتنې را و وتـــې لـــه هـــر گـــډل نـــه
يا زمرې وې چې را ځغاستې له ځنگل نـه
نــه يــې غــم و د بوټونــو او نــه د کوښــو
د هوســې پــه شــان را اوښــتې تــر بوښــو
پنــډ پــوړوني يــې پــه سر وو شــنه ســان
بــې لــه ســتورو ښايســته وو تــر آســمان
کجــاوې يــې کــړې راکښــته لــه اوښــانو
زړه يې خوښ کړ په ښه رنگ د ماشومانو
اوس لا هــم زمــا د مېرمنــو غــاړې زانگــې
دي پرتې په کجاوو کې ښانگې ښـانگې
پښــتنه مــا تــه نــزدې ســوه وی مســل
پـــه قـــرار قـــرار آواز يـــې و ويـــل
دا خيشتې پښتې مو ځنگه دي بار کـړې
اومــې غوښــې مــو لــه کومــه دي راوړې
صـــحرايي پښـــتنې نـــه دي بېرنـــدوکې
نــو اولاد يــې نــه پټېــږي پــه کنــدو کــې
مســـلح غلـــيم مـــرۍ و نيســـي کلکـــه
سر يې پرې کـړي لکـه چرگـه يـا چوغکـه
(روهي، ۱۳۸۴ل، ۷۶ ــ ۷۸).

په پورته شعر کې په ښاری ښځو طنز شوی دی چې دغه کار د درېيمې دورې په ادبيـاتو کـې نـوی کـار دی. ولسي ژبه يې کارولې، عامې گړنې، لکه (خيشتې پشتې، اومې غوښې، صحرايي پښتنې، ښـانگې ښـانگې، سسـتې پستې او ښېراوې) هغه څه دي چې شعر ته يې رواني او ساده والی ببنلی دی.

**۴. ۲. ۲. ۵. مولوي عبدالواسع کندهاری**

مولوي عبدالواسع خان د مولوي عبدالروف زوی و. مولوي عبدالروف د (سراج الاخبار افغانستان) د لـومړۍ گڼې خپرونکی و او ورسره د مشروطه غوښتنې خوځښت بنسټ ايښـودونکی هـم و. مولـوي عبدالواسـع د پښـتو مرکې ريس، د قضايي قوانينو او دولتي نظامنامو او رسالو مؤلف او د لومړي مشروطه غوښتونکو د لارښوونکو له ډلې څخه گڼل کېده. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۷۸).

دلته يې يو نظم راوړو چې د وجدان په تړاو د ده فلسفي فکر بيانوي:

دا وجدان وجدان چې مـوږ پـه ژبـه بولـو
پــه مجمــع کــې د ځوانـــانو د امزولـــو
دا وجدان نـه دی خـواهش د طبيعـت دی
تحريفونـــه د الفـــاظو لـــوی آفـــت دی
کـه وجـدان د سـړيتوب وای دا خـواهش
اتفـــاق بـــه و پـــر حســـن او نکـــوهش
زما ممدوح به ستا مبعوض هېڅکلـه نـه و
بـد د ټـول انسـان بـه بـد او ښـه بـه نـه و
دا خــلاف بــې وجــدانۍ دی پيــدا کــړی
طبيعـت د خپـل خـواهش نـوم ادا کـړی
که وجـدان وای ټـول حقـوق بـه مـوادا وو
پـــر دنيـــا بـــه نـــه بـــډای و نـــه گـــدا وو
کـه وجـدان وای زه او تـه يـو يـو انسـان
ولـې زمـا کمـيس کربـاس دی ستا د سـان

اوس معلـوم سـو (بـا) وجدانـه قـانون دان          بې قانون چې هـر سـړی دی بـې وجـدان
(روهي، ۱۳۸۴ل، ۷۹).

پورتنی شعر د مثنوي بڼه لري، ژبه يې روانه او ساده ده خو موضوع يې پېچلې ده او د فلسفې پر مټ پرې ځان پوهولی شو.

## ۴. ۲. ۲. ٦. فضل محمود مخفي

نوموړی پر (۱۳۰۱هـ / ۱۸۸۴ز) کال د چارسـدې پـه پاینـده خېلـو کـلي کـې سـترګې نـړۍ تـه پرانسـتې او پـر (۱۳٦۱هـ / ۱۹۴۲ز) کال يې رحلت کړی دی. د پلار نوم يې محمد خان چې د بـاجوړ د سـيمې لـوی خـان و، د دښمنۍ پر لامل يې په مونوګي کې استوګنه کوله او د فضل محمود مخي تـر زېږېـدو مخکـې پـه چارسـده کـې مېشته شوي وو. د سياسي ژوند له مخې په بېلابېلو ځايونو کـې يـې ژونـد کـړی دی. د مخفـي صـاحب د مولينـا عبيدالله سندهي په واسطه له امير امـان اللـه سره پېژنـدګلو وشـه، هلتـه د (اعتـدال پسـنده) د ټـولي غـړی شـو، د (۱۳۳۷هـ / ۱۹۱۹ز) کال د خپلواکۍ د لومړي جشن په نمانځغونډه کې د امـير امـان اللـه خـان پـه غوښـتنه فـی البديحه تقرير وکړ چې روسي سفير يې په تړاو و ويل: " که په دنيا کې د مخفـي صـاحب غونـدې يـو څـو نـور کسان پيدا شي نو ټوله دنيا به د غلامۍ نه آزاده شي. "

مخفي صاحب په يوازې ځان د مدرسو د پاللو په موخه دير، خال، کوټو او باجوړ کـې څلـور قـومي مدرسـې جوړې کړې او په خپله د بابرقره د سيمې په (ډنډ) کلي کې استوګن شو. د امير امان الله خان تر سلطنت وروسته بيا د مخفي صاحب اولادونه د نوموړي اوښي بابر قرې ته راووستل. د نارشاه په وخت بېرته کابل ته و غوښتل شو او هلته د (انيس) په اداره کې و ګمارل شو، د نادر خان تـر شـهادت وروسـته لـه حـاجي صـاحب ترنګـزو سره د مومندو په (لکړو) کلي کې مېشته شو. پر ( ۱۳۵۳هـ /۱۹۳۴ز) بيرته چارسدې ته را ستون شـوی دی، د وخـت د حکومت تر يو کال نظربندۍ وروسته د اتمانزو په آزاد سکول کې ښوونکی شو، پـر (۱۳٦۵هــ / ۱۹۴٦ز) کـال د دير د نواب زوی دير ته را وغوښته او هلته د اول مدرس په توګه په يو ښوونځی کې و ګماره او پـه پـای کـې د ( ۱۳٦۱هـ /۱۹۴۲ز) (؟) له دې نړۍ څخه کوچ کړی دی.(خليل، ۱۹۹۳ز، ۲۲ ــ ۲۵).

(جديد نظم په پښتو کې، ۲۰۰۳ز، ٦۰ مخ) اثر ليکوال د مخفي صاحب د مړينـې نېټـه (۱۳٦۳هــ / ۱۹۴۴ز) را خيستې ده، پښتانه ليکوال بيا دغه نېټه (۱۳٦۱هـ / ۱۹۴۲ز) ثبت کړې ده حال دا چې د (پښتانه ليکوکال، ۱۹۹۳ز) په (۲۵) مخ کې بيا نوموړی پر (۱۳٦۵هــ / ۱۹۴٦ز) کـال د ديـر د نـواب د زوی پـه غوښـتنه پـه ديـر کـې پـه يـو ښوونځي کې د لومړی مدرس په توګه و ګماره.

د مخفي د زېږېدو پر وخت هېواد انګرېزانو اشغال کړی و. کلـه چـې رالـوی شـو او پـه ښـه او بـده پـوه شـو د انګرېزانو د ظلمونو خلاف يې په ذهن کې پاڅون خپلې ځانګې غوړولې وې، په دې تړاو دکتور سلما شاهين په خپل اثر(جديد نظم په پښتو کـې ) پـر دوه شـپېتم مـخ د سـليم الـرحمن سـليم نظـر را اخـلي:" مخفـي صېـب د چارسدې په سکول کې وو. په اتم جمات کښې يې سبق وئيلو. د هغه د ژوند د ټولو نه لويه مسئله هغه د فېرنګي

استعمار او د هغه د تالي څټو خلاف اولنۍ غزا شروع کړه او د اوده قوم د پېدارولو د پاره يې يو کتاب ليکل شروع کړل. د دغه ورځو د مخفي صيب شاعرۍ ته موړ د پښتو اولنۍ طنزيه شاعري وئيلې شو ځکه چې ټول شعرونه يې په انګرېزانو او د اوده قوم د طنز نه ډک دي. د دې کتاب نوم مخفي صيب منرک نامه اېښودې ده "(شاهين، ۲۰۰۳ز، ٦۲ او ٦۳).

د مخفي صاحب د شاعرۍ په تړاو ښاغلی همېش خليل ليکي: " مخفي صاحب د آزادۍ شيدا دی او هم دغه وجه ده چې په ملک د سامراجۍ غلامۍ خلاف يې د عملي جد و جهد سره سره د قومي ننګ او غيرت د راپارولو په خاطر قلمي جهاد هم شروع کړو، د مخي صاحب اکثره شاعري په قومي نظمونو مشتمله ده او هر نظم يې د ملي ارزو ګانو آيينه ده، د نظم فن کښې يو نوی او ځانله ډګر ليدی شي. د قوم او ملک د مينې او محبت په نشه کښې يې داسې داسې نظمونه اوليکل چې په پټو سترګو ورته د قومي شاعرۍ سنګ ميل ويلی شو. مخفي صاحب خپل دغه مخصوص فن کښې څرګند حيثيت لري، لوړ تخيّل، چست بندش او پښتني مخصوص بحرونو کې د قومي ترانې په ستايلوينا د مخفي صاحب د کلام ښکاره خاصيتونه دي. مخفي صاحب نه خو لرغونی او نه اوسنی رنګِ تغزل طرف ته ملتفت شو، بلکې د خپل قومي نظمونو په زور يې د غلامۍ خزان ځپلي ملک له عکاسۍ سره سره د خپل ملت په رګونو کښې د آزادۍ لپاره د جوش او غيرت را لړزولو د کامياب تحريک ابتدا وکړه. "(خليل، ۱۹۹۳ز، ۲٦).

وايي چې مخي صاحب به د نوموړی کتاب ډېری شعرونه په جلسو او د مسجد په خطبو کې لوستل. لاندې يې يو نظم راوړو:

## وطن

وطن وطن وطن وطن يا خوږه وطن زما
په ما له هر څه ګران
په تا کې دی ارام د روح د سر د تن زما
له تا نه زه قربان
چې څوک په ښاريو د بل چا لتوي زر
او ناقلاره وي
ياديږی ورته لاس په تندي باندې پاس په سر
او بې آرامه وي
د داسې وړو سترګو خلکو حال وي تل بتر
او خوار و زاره وي
له داسې ژونده ښه دی خدايږو ځنکدن زما
د قام په ننګ روان
وطن وطن وطن يا خوږ وطن زما
په ما له هر څه ګران

شړی د داسې کس له شاله ښه ده د بل چا
چې نه لري غيرت
شوده د ده د بزو د ده په لور هر سبا
اوبه يې دي شربت
جونګړه د ده غوره له ماڼۍ ده د بل چا
او فقر يې دولت
له تاجه د بل چا ښه دی پټکی خيرن زما
د قام په غم روان
وطن وطن وطن يا خوږ وطن زما
په ما له هر څه ګران

په تـا کې دی آرام د روح د سر د تـن زمـا
پــه تــا کــې دی آرام

وطن وطن وطن وطـن یـا خـوږ وطـن زمـا
په ما له هـر څـه گـران

بل نظم

ربــــه مــــوږ لــــه مینــــه د قــــام را
پــــه دې اور کــــې را لــــه آرام را

تــــه د دې نــــه روغ هــــر انــــدام را
تــــه د مینــــې مــــونږ لــــه جــــام را

چې نمـرود تـه هـم حـق ویـونکي وو
د فرعــون نــه، نــه وېرېــدونکي وو

امتــــي امــــت بــــه ویــــونکې وو
مــــونږ لــــه دغــــه شــــان اســــلام را

ربــــه مــــونږ لــــه مینــــه د قــــام را

چــې نــه شــور لــري نــه اواز لــري
د مــــین زړه راز و نیـــــاز لـــــري

لکــه بــوی د گــل د زړه راز لــري
مــــونږ لــــه دغــــه شــــان اســــلام را

ربــــه مــــونږ لــــه مینــــه د قــــام را

**د ژوند نښې**

هغه قام ژوندی دی چې جذبات د شهادت لري
جمع په خبل ځان کې استقلال علم و حکمت لـري

بې د استقلاله هـنر جنـگ کې پـحه تـوره ده
توره دې تېره ساتي هر څوک چې د جنگ نیت لـري

علـم د انسـان د فوقیـت دی یـو محکـم نشان
دا صـفت جهـاد سره ډېـر لـوی مناسـبت لـري

(خلیل، ۱۹۹۳ز، ۲۶ ــ ۲۸).

بل نظم یې:

قیصــه بــه درتــه وکړمــه یــوه د امریکــې
یو ځلې یـو سـړی و د دې ملـک پـه هغـې کـې

وې اخلمـه کوټـه چـې پـه قـلار اوسـم پکـې
خاوند د کور ته یې و ویل په څو به یې را کوې

اوس گوره چې خاوند د کور یې څه رنگ شو گویا
پـه خټـه کـې اخښـلې غلامـې ده سـتا د تـن

چـې تـا لـه کوټـه درکړمـه د پـاره د مسـکن
گویـا د بـې ننگـۍ بـوټې نالومـه پـه وطـن

څه اوڅه له دې ملکـه نـا صـاحبه مهربانـه

بل شعر يې دی:

| | |
|---|---|
| دنيا کې دي قومونه چې لري خپل حکومت | جاپان او امريکې ته فکر وکړه يو ساعت |
| هر يو په خپل هنر سره حاصل کړو بادشاهت | بيا دغه بادشاهت يې په دنيا کې کړه اوچت |

په عزم په هنر شو د ملکونو خاوندان
(شاهين، ۲۰۰۳ز، ٦۳ او ٦۴).

د پورته نظمونو ژبه ساده، روانه او د ولس له پوهنيزې کچې سره برابره ده، وزنونه يې ډېری ولسی دي او دګډو نظمونو په ځيلونو کې يې هم شاعري کړې ده، د منځپانګې له مخې د هېوادپالنې، خپلواکۍ او پرمختګ فکر پکې نغښتی دی. د ادبي فنونو له مخې پکې يوازې وزن، قافيه او موسيقيت ساتل شوی دی، نور داسې بديعي يا تشبيهي جوړښتونه پکې په پام کې نه دي نيول شوي.

د مخفي صاحب د شعر په تړاو سلما شاهين ليکي: " د هغه د نظم يو خاص انداز دی. يوه جدا لهجه ده. يو بيل طرز دی. د هغه نظمونو کښې له وطن د مينې بل هېڅ نه ځلېږي. شعر يې بې ساخته دی. لهجه يې روانه ده لکه د ولې د هوارو اوبو په رنګ هوار او روان طرز يو غلی شاه ترنم لکه چې چرته لرې چې څوک په مزه مزه د سه تار تارونه چېړي. .

د مخفي صيب نظم د مضمون له رويه ساده او د مقصدي ادب د شروع هم نمائنده دی، د پښتون قام قامولي، اتفاق درس يې مجموعي موضوع ده، په دې حساب يو سياسي نظرياتي شاعر دی. په نظم يې د پښتو اولسي اوزانو ژور اثر دی. اکثر نظمونه د ترانو په وزن ليکي. کله کله پکښې فلسفيانه باريکي هم په نظر راځي."(شاهين،۲۰۰۳ز،۷۱ ــ ۷٦).

### ۴. ۲. ۲. ۷. سيد راحت الله زاخېلي

سيد راحت زاخېلي د سيد فريح الله زوی پر (۱۴۰۴هـ / ۱۹۸۴ز) کال د نوښار تحصيل په زاخېلو کلي کې دنيا ته سترګې وغړولې. د دينی زده کړو لپاره يې مسافري کړې ده. د معاش لپاره يې د خطاطی هنر زده کړی و. پر ( ۱۳۲۸هـ /۱۹۱۰ز) کال يې د پښتو لومړی اووه ورځنی اخبار د (افغان) په نامه چاپ کړو، د پښتو لومړی لنډه کيسه ليکوال او ناول ليکوال دی.(خليل، ۱۹۹۳ز، ۱۴ او ۱۵).

نوموړی د پښتو د معاصر ادب له سرخېلو څخه دی چې پر (۱۳۳۹هـ / ۱۹۲۱ز) وفات شوی دی، که مخفي صاحب په نظم کې تر ده وړاندې دی دی بیا په لنډه‌کیسه، ناول او اخبار کې لومړی مقام لري.

لومړني شعرونه یې د جوړښت له مخې نوی والی نه لري او د موضوع له مخې بیا د نوی نظم تومنه لري. د نظم روح یې مقصدي ادب دی چې د نوي پېر ازانګې پکې په شور دي.

سلما شاهین د ښاغلي حبیب الله رفیع نظر د نوموړي په تړاو په خپل اثر (جدید نظم په پښتو کې) را اخلي: " په صوبه سرحد کښې هم د ازادۍ غوښتنې له موضوع نه مالامال ادب هم داسې غزونې وکړې او ارواښاد راحت زاخیلي دا غږ داسې لوړ کړ:

| | |
|---|---|
| کله څوک د بل په سا نه ژوندی کېږي | داسې قام نه وي د بل په دم تازه |
| که د تللي کاروان پل در نه غلط وي | خدای لپاره واخله خپل قدم تازه |

(شاهین، ۲۰۰۳ز، ۸۰).

د سید راحت زاخېلی د نظم په تړاو دکتور سلما شاهین لیکي: " سید راحت زاخیلي نوم د جدید ادب او خصوصاً د جدید نظم په بنیادو کښې راځي. د فضل محمود مخفي صېب شروع کړی تحریک که هر څو د مضمون له رویه جدا وو خو د نظم د جدیدیت په لاره ور سره سید راحت زاخېلي اوږه په اوږه روان ښکاري او داسې دا دواړه د پښتو د جدید نظم بانیان دي. "( شاهین، ۲۰۰۳ز، ۸۳).

راحت زاخیلی د شعر بېلګې لاندې راوړو:

| | |
|---|---|
| ته د دې وده قسمت مې ویښولو لره راشه | ژړېدونکي دې قسمت ته خندولو لره راشه |
| ای ساقي ستا دې سوګند وی نن زما په وچو شونډو | چې دا جام د بېخودۍ دی بیا څښلو لره راشه |
| مودې وشوې ستا دیدن ته مې دي سترګې څلور کړي | پلوشې دې د سپین مخ بیا خورولو لره راشه |
| هر اواز د هر یو تار مې د رباب تا پسې ګرځي | د خوږو خوږو سندرو اورولو لره راشه |
| زه د خپل زړګي وینا به ستا له سره صدقه کړم | خو د مینې دود دستور دی لږ ښودلو لره راشه |
| دا سینه مې دې تل ډکه ستا له مینې محیت وي | راشه راشه داسې راشه چې نه تللو لره راشه |
| هر یو څیز باندې د مینې د جادو څادر را خور کړه | د بېلتون دا تور تمونه رڼوولو لره راشه |

(زېور، ۱۳۸۷ل،۲۰۲).

**د قیدیانو اختر**

| | |
|---|---|
| د خیبر د غره په څوکې | د اسمان د ملک ملوکې |
| څه دې راوړلو خبر | وای سبا له دې اختر |
| لږ خو جېل ته هم وګوره | شاه ځلمي ځوانان و ژغوره |

چې له برېتو یې وینې څاځي

نــه بــه يــې مــو وي نــه بــه خــور / نه به يې پلار وي نه به يې ورور
دوی بـه څـه وايـي چـې اختر دی / کــه دا هــم د غــم يــو غــر دی
پــه کورونــو بــه يــې اقربــا وي / دا اخــتر ســتا مبــارک شــه
مــوږ د ځمکــې ســاکنان يــو / بيــا پــه دې کــې مظلومــان يــو
څــه زمــوږ پــه دې اخــتر / چــې زخمــي مــو دی ځيگــر
ځــه زمــا درتــه ســلام دی / دا دعــــا او دا پيغــــام دی
دا کابل څه چې هم لوح او هم قلم / لانـدې بـه اباد شي مـه خـوره غـم
(شاهين، ۲۰۰۳ز، ۸۴او۸۵).

### ۴. ۲. ۲. ۸. فضل اکبر بېنوم

فضل اکبر بېنوم مشهور په حضرت باچاګل صاحب د لوی اوستر مجاهد د ترنګزو د حاجي صېب مشر زوی او د اشنغر د مشهور بزرګ بودلي بابا لمسی په (۱۳۰۵هـ / ۱۸۸۷ز) کال په خپل کلي ترنګزو کې پيدا شوی دی. دوديز علوم په خپل کور او نورو ځايونو کې په خصوصي توګه ولوستل د خپل پلار په پيروی يې جهاد پيل کړ.(بېنوا،۱۳۴۰ل، ۱۴۲).

نوموړی پ (۱۳۸٦هـ / ۱۹٦٦ز) کال وفات شوی دی چې په خپل وخت کې د انګرېزانو پر وړاندې د جهاد تر څنګ د معاصر ادب په ځانګړي ډول شعر په بنسټګرو کې راځي. (شاهين، ۲۰۰۳ز، ۸۸او ۸۹).

د بېنوم دشعرونو مرکزي خيال د هېوادپالنې او خپلواکۍ احساس دی.

### وطن وايي

زه خــو ســتا عزيــز وطــن يــم / چې مـې خـرڅ نـه کـړې پـه بـل
ګـوره مـا چـې بربنـډ نـه کـړې / چـــې زه ســـتا کـــړم پټـــول
هــر نعمــت چــې زمــا ســتا دی / څـه بـه خـورې چـې شـم بـدل
څــه فايــده بــه درلــه وکــړي / بيـــا پـــه تېـــر ســـاعت ژړل
د خپـل بـاغ مېـوې هغـه خـوري / چــې د بــل تــرې کــړې شــړل
کــه زه نــه وم ارمــان بــه وکــړې / وي بـــه تـــا لـــه شرمېـــدل
تربيــت دی ســتا پــه مــا کــې / زمـــا تـــا بانـــدې کـــول
مشـــترک بـــه د مفـــاد يـــم / مـــه کـــوه دې کـــې خلـــل
دا کـــــول د لېونـــــو دي / پــه خپــل ځــان تــوره وهــل
کوم پښتون دي چې کړي ګوره / خپـــل کالـــه تـــه غـــير بلـــل
تـــا تـــه چـــا ويـــلي دا دي / چـــې پښـــتون داســـې کـــول
پښــتون تــا بانــدې مــين دی / قربـــان تـــا بانـــدې دی تـــل
د غـــماز خـــبرې مـــه اوره / بېنـــوم دا تـــا تـــه ويـــل

(بېنوا، ۱۳۴۰ل، ۱۴۴).

**۴. ۲. ۲. ۹. محمد اکبر خان خادم**

محمد اکبر خادم د مرزا احمد زوی پر (۱۳۰۵هـ / ۱۸۸۸ز) کال په چارسده کې زېږېدلی دی، اصلي ځای یې اکوړی دی خو په چارسده کې یې کورنۍ اوسېدله. نوموړی د (انجمن اصلاح افاغنه) بنسټګر او د خدایي خدمتګار د تحریک خوځند غړی و. چارسده د خپلواکۍ د تحریک مرکز و او دی هم له دغه مرکزه اغېزمن و او د انګرېزانو پر وړاندې یې عملي جهاد خپله دنده ګرځولې وه. د دې تر څنګ د نوي شعر یا په بله مانا د معاصر شعر له لومړیو کسانو څخه دی. نوموړی پر (۱۳۷۳هـ / ۱۹۵۴ز) کال وفات شوی دی. (شاهین، ۲۰۰۳ز، ۹۲).

د شعر منځپانګه یې خپلواکۍ او هېوادپالنې ته ځانګړې ده. د خادم صاحب لاندې بیت د ډېری پښتنو په خوله په پرلپسې ډول زمزمه کېده:

نــه کلونــه د غــلام پــه غلامــۍ کــې          نــه ســاعت د آزادۍ پــه څنکــدن کــې

سلما شاهین یې د نظم په تړاو لیکي: " د خادم صېب رجحان د نظم په لوري ډېر دی او د خپل عصر په شاعرانو کې یې نظم زوردار او د جوش نه ډک دی. تر څه حده فلسفیانه ژور تیا هم لري خو د واضح مقصد له مخه یې په کلام داسې ژور ادبي رنګ کم دی او مقصد یې ډېر واضحه دی ولې بیا هم یې نظم د نورو همعصرو په مقابله کښې ادبیت ته زیات نزدې دی. که څه هم د هغه د نظم مضمون د دغه وخت یو اجتماعي مضمون او مقصد وو یعنې د آزادۍ سندرې او رښتیا خبره هم دا ده چې د داسې قسم مقصد د پاره موزون ترینه پېرایه هم نظم دی."(شاهین،۲۰۰۳ز، ۹۳).

ښاغلی همېش خلیل یې بیا د شعر په تړاو لیکي: " خادم صاحب به اکثر خپل پیغام د نظم په شکل د پمفلټونو او اشتهارونو په ذریعه خورولو او د دې لویه وجه دا وه چې د هغه وخت مجلو او ورځپاڼو د خادم صاحب انقلابي نظمونه د حکومتِ وقت له خوفه نه شایع کول. "(خلیل، ۱۹۹۳ز، ۴۲).

د خادم صاحب ډېری آثار اوس نه پیدا کېږي. ( دشهیدانو په یاد) نظم یې د (۱۳۴۹هـ / ۱۹۳۰ز) کال د اپرېل د (۲۳تمې) ورځې د قصه خوانۍ د شهیدانو په یاد لیکلی دی چې دلته یې راوړم:

ای اســمانه ولــې نــه شــوې را نســکور          ای آفتابــه ولــې نــه شــوې د غمــه تــور
لویــو غرونــو ولــې رېــز او مرېــز نــه شــوئ          ونــو بوټــو ولــې نــه ســوزئ پــه اور
څمکـې پـړق لـه ډېـره درده ولـې نـه چوې          ستا د پاسه څومره ویـر دی څومره شـور
پېښــاور کــې پــه تــا جــوړه کــربلا شــوه          یــو مــاتم دی یــو الم دی یــو انګــور
څوک غلبېل سینه پراتـه دي پـه میدان کې          څـوک ورک لټـوي ګرځـي پـلار او مـور

ای ظالمه حکومته را ته وایه
په غریب رعیت چا کړی دومره زور

تا زموږ لېډران ولې دي نیولي
جېل خانه کې بندیوان دي په کوم تور

څه خو و ښایه قصور د دې کسانو
کوم یو کار د دوی شو تا و ته پېغور

کوم په دوی کې بدمعاش او کوم خوني دي
څوک په دوی کې زنا کار دي کوم چور

دا یې بد وي چې راځئ چې سره یو شو
اتفاق زموږ په کار دی په خپل کور

نن دې وار دی چې څوک وژنې او که نیسې
تل به نه وي ستا د ظلم باغ سمسور

یوه ورځ به داسې راشي پېرنګیه
نه به ته یې نه به ستا وي زور او شور

مګر پاتې د تاریخ به وي تل توري
ستا په دغه کارنامو د ظلم زور

را بیدار شئ ای زما د وطن ورونو
د ملت د پاره او سوزئ په اور

پس له دې نه خو یا ژوند د آزادۍ دی
یا چې بند په تورو خاورو شو د ګور

(شاهین، ۲۰۰۳ز، ۹۵ او ۹۶).

## سکور

چې مشال ترې رڼا اخلي هغه اور یم
په پوکو چې تازه کېږي هغه سکور یم

بیا به اور شم که پوکی را ته چا راکړو
په دې څه که نن سور نه ښکارېږم تور یم

یو بخری ښهریه شي سوزولی
په وړو غتو سکرو څکه نن خور یم

چې دوی هم زما سره واړه انګار شوې
ځان له هسې لوغړن شوم کړ د کور یم

خلق لګیا دي ورکوي پوکي ایرو له
لکه سکور ور ته خندېږم چې غمخور یم

په خندا ژړا زما د چا کار نشته
که د ننګ یم هم بې ننګو له پېغور یم

چې به چا کې ننګ غیرت د اسلام نه وي
له هغو نه خوښ په کور او لا په ګور یم

د هغو د څنګ نه هم ما ځان له څنګ که
چې د چا نه زیات په عقل کم په زور یم

چې په چا کې علم شته دی عمل نشته
د هغو سره پیاده خوښ او نه سور یم

چې ژوندو کې غیرت نشته مړي ژاړي
زه خادم پوه په ژړا د دوی په شور یم

(خلیل، ۱۹۹۳ز، ۴۲ او ۴۳).

## ۴. ۳. د روښانتیا پړاو ګډې ژبنۍ سبکي ځانګړنې

په دغه پړاو کې (سوم) د لوېدیز ګړدود اغېز بللای شو. نوې کلمې او نومونه، لکه (د ځمکې کره، اروپا، آیشیا) او نور پکې لیدل کېږي، د هندي سبک له قیده خپلواک دی، پېچلتیا نه لري، دري او عربي کلمې معمولاً پکې کارېدلې دي. ژبه یې د خپل ولس له سویې څخه پورته نه ده، هر وګړی پرې په اسانه پوهېدای شي، کلمې، ترکیبونه او مثالون یې څرګند او فصیح دي، ولسي ژبه یې کارولې، عامې محاورې، لکه (خیشتې پشتې، اومې غوښې، صحرایي پښتنې، ښانګې ښانګې، سستې پستې او ښېراوې) هغه څه دي چې شعر ته یې رواني او ساده والی ښښلی دی.

## ۴. ۴. د روښانتيا پړاو ګډې موضوعي سبکي ځانګړنې

د انګرېزانو ښکېلاکګر چلند، د پاچاه ځان غوښتنو او د حکومتي بې بندوبارۍ د روښانتيا د دورې د شاعرانو د سبک د عمده مضمونونه ( خپلواکي غوښتنه، هېوادپالنه، د نوي او مترقي فرهنګ دودول، د اداري فساد او اختناق له منځه وړل، تعصب له منځه وړل، د مثبتو علومو ټکنالوجۍ او نوي فرهنګ خپرونه، د ملي وحدت ټينګونه، د عصري ژوند له غوښتنو سره د دودونو او انګېرنو سمونه او د اسلامي ټولنې د سمون نور آرمانونه) په خپل ځان کې را څرګند کړل. پر دغه بنسټ د دغه پړاو په ادبياتو کې د پيغام او ژمنې برخه ډېره پياوړې ده او پر مضمون باندې د زيات ټينګار له امله ادبي ځېل ته لازمه پاملرنه نه ده شوې. له ځينو لېکنو څرګندېږي چې د روښانتيا پړاو د ادب مخکښانو په قصدي او عمدي توګه د کلاسيک ادب د بديعي جوړښتنو د دود له پيروی څخه ډډه کړې ده.(روهي،۱۳۸۴ل،۵۶او۵۷).

## ۴. ۵. د روښانتيا پړاو ګډې ادبي سبکي ځانګړنې

د روښانتيا په پړاو کې ترکيب بند، مثنوي، غزل، ولسي وزنونه او ځېلونه تشکيلوي، د ادبي فنونو له مخې پکې يوازې وزن، قافيه او موسقيت ساتل شوی دی، نور داسې بديعي يا تشبيهي جوړښتونه پکې په پام کې نه دي نيول شوي.

## ۴. ٦. د دربيمې دورې د روښانتياپړاو عمومي سبکي ځانګړتياوې

د دربيمې دورې د لومړي پړاو شعرونه چې ډېری ساده دي د ټولنې علمي کچه ټيټه وه او بل د طنز او مزاح په ژبه د نظمونو ليکل د وخت له قدرت څخه د ځان ژغورنې يوه وسيله وه نو شاعر اړ و چې په سيمبوليکه ژبه يا د طنز او مزاح له لارې د خپل ولس فکر بيدار کړي او د خپلواکۍ د لاسته راوړنې لپاره يې و هڅوي. ډېری شاعرانو بيا په څرګند ډول له انګرېزانو څخه د خپلواکۍ د ګټلو عملي اتلان و او ور سره يې د ولس په ژبه د ولس د فکري هڅونې لپاره د دښمن پروړاندې خپل شعرونه په ساده او څرګند ډول منظومول او هيڅ ډول پېچلتيا، سيمبول کارونه يا کنايې يې نه راړلې. د شعر قالب يې يا ولسي دی او يا هم زړو کلاسيکو ګډو نظمونو څخه را خيستل شوي دي. د هندي سبک له پېچلتيا بيا د دې پېر سليس والی او ساده والی يو بغاوت هم ښکاري. ساده کلمې، ترکيبونه او ادبي فنون په ډېرې عادی بڼه کارېدلي دي.

## ۴. ۳. د ویښتیا پړاو منظوم ادبي سبک

د ویښتیا د پړاو شاعران الحمدالله ډېر دي او د بېل ډېزرتېښن غوښتنه کوي خو دلته یې د یاد له مخې پر څو نماینده شاعرانو که د افغانستان یا د لرې پښتونخوا دي په ټولیز ډول په سبک باندې نظر اچوو. لومړی تر هر څه د دغې دورې لپاره د زمینې د برابرې په لارو چارو لنډ بحث کوو او ورسره یې بیا د دېرې شاعرانو د نومونو یادونه کوو.

## ۴. ۳. ۱. د ویښتیا پړاو تاریخي شالید

د امیر امان الله خان ټولنیزې، اقتصادي او فرهنگي سمونې چې د پرمختگ غوښتونکو روڼ اندوآرمانونه یې په خپله لمنه کې نغښتل د روحانینو، ملایانو، خانانو او ځان ساتو سردارانو له مخالفت سره مخامخ شول. که څه هم امیر امان الله په خپلو کړنو کې تر یو څه کچې له ځینو اصلاماتو څخه تېر شوی وی خو دا چې د ولس عامه ذهنیت جوړ نه و نو د ولس په ذهن کې د امیر امان الله خان پر ضد د مخالفت ناوړه بوټي ټېغ وهلی و. پر (۱۳۴۸هـ /۱۹۲۹ز) کال د جنوري په میاشت چې د (۱۳۰۷ل) کال له جدي سره سمون خوري حبیب الله کلکانی مشهور (د سقاو زوی) پاچاهی ته ورسېد. د ډېری تاریخپوهانو په اند د امیر امان الله خان د ناکامۍ او له منځه تلو یو عمده لامل د انگرېزانو تبلیغات او ورانونکي فعالیتونه وو چې نه یې غوښتل په هند کې د خپلواکۍ غوښتونکو لپاره د پیاوړې تکیه ځای برابر شي. انگرېزانو له له شوروي اتحاد سره د اماني دولت د ښو مناسباتو ټینگول هم په خپله گټه نه بلل، پر دې سربېره د نوموړي د دولت ستر لامل دا و چې په افغاني ټولنه کې د نفود څښتنان د سمونو پر ضد وو او افغاني ټولنه د اروپوهنې له مخې اصلاحاتو منلو ته چا نه وه چمتو کړې.

که څه هم حبیب الله کلکانی زړور، ځوانمردی او سخي او له دغو افغاني معیارونو سره برابر و خو د سیاست او ادارې له پلوه پاچاهی ته برابر نه و، د غبار په خبر(د مملکت اداره خو پرېږده د یو کلي له ادارې څخه هم عاجز و.)

ده د خپلې پاچاهی په لومړی ورځ اعلان وکړ چې زه به په راتلونکې کې د بیت المال پیسې په تعمیرونو او مدرسو ضایع نه کړم او هماغه و چې د پوهنې وزارت یې لغوه کړ او د ښوونځیو دروازې یې وتړلې او د څو اویا تنو ملایانو په فتوی یې د امیر امان الله خان د کفر فتوی لاسلیک کړه. د تفکیر ځینې دلیلونه یې د بگړی پر ځای د خولۍ پر سر کول، د ږیرې خرییل او دریشي اغوستل، د نجونو ښوونځی پرانستل او هجري قمري کال پر هجري شمسي اړول وو.

د (۱۳۴۸هـ / ۱۹۲۹ز اکتوبر/ ۱۳۰۸ ل د میزان ۲۳مه) د کرنی اړو دوړ په پای کې محمد نادر شاه پاچاهی ته ورسېد. محمد نادر شاه د تدریجي سمونو پلوي و او کوښښ یې وکړ چې له تېرو تجربو څخه په گټې اخیستنې داسې زمینه برابره کړی چې په آرام زړه حکومت وکړي. نوموړي کوښښ و کړ چې بنسټیز مخالفان له صحنې څخه لرې کړي او د پوړیزو یا صنفي اتحادیو له لارې د سوداگرو، متنفذینو، روحانینو، دینی علماوو او اعتدال

خوښوونکو روڼ اندو ملاتړ تر لاسه کړي. د همدې داخلي سیاست له مخې یې بهرنۍ سیاست هم و پاله چې د بهرنیو د لاسوهنې مخه ډب کړي. د ناپېیلتوب او له ټولو هېوادونو سره د برابرۍ، د مناسباتو د ټینګولو تګلار یې د (۱۳۵۰هـ / ۱۹۳۱ز). کال په اساسي قانون کې قانوني بڼه ورکړه.

محمد نادر شاه د دغه فورمول له مخې (سره ټول یې کړه، کنټرول یې کړه) خپل احتمالي پلویان به بېلابېلو ګروپونو کې سره تنظیم کړل. سوداګر یې شرکتونو ته و هڅول، چې په دې سره پنځلس شرکتونه پر (۱۳۵۱هـ / ۱۹۳۲ز) جوړ شول او (افغان ملی بانک). جوړ شو، د خپلواکو دینو مدرسو جوړولو ته اجازه ور کړل شوه، شرعي محکمو ته یې به کافی کچه خپلواکي ورکړه، پر خبلو دولتي قوانینو یې د شرعي مهر لګولو لپاره (جمعیت العلماء) تاسیس کړ، دیني عالمان یې په ښوونځیو کې وګمارل، د رسوخ خاوندان، لکه روحاني شخصیتونه او ستر ملکان او د سوداګرو استازي یې د ملي شورى او اعیانو مجلس ته جذب کړل. اعتدال خوښوونکي روڼ اندي او د (جوان افغان) د ډلې پاتې کسان یې په ادبي او فرهنګي مؤسسو کې مقرر کړل. په کابل، هرات او کندهار کې یې ادبي انجمنونه جوړ شول. پر (۱۳۵۱هـ / ۱۳۱۱ل) کې په کندهار کې د (پښتو انجمن) په جوړېدو سره د (پښتو) مجلې په خپرېدو پیل وکړ.

پر (۱۳۵۲هـ / ۱۹۳۳ز / ۱۳۱۲ل) د لړم (۱٦مه) چې محمد ظاهر شاه پر تخت کښېناست لومړی یې د خپل پلار تګلاره غوره کړه. د نوموړي د باچاهۍ په پېر کې ځینو نړیوالو پېښو پر افغاني فرهنګ په تېره پښتو ادبیاتو خپل سیورى خپور کړ، لکه د المان نېشنلېزم، د هند د نیمې وچې وېش او د ګاونډۍ شوروي اتحاد د کمونستي ایدیالوجی تبلیغ.

د جرمني فاشیستي افکارو په ټولو هېوادو کې د افراطي یا منځمهالي نېشنلېزم د را منځته کېدو امکانات برابر کړل. په افغانسان کې یو منځمهالی نېشنلېزم منځ ته راغی چې عمده مضمون یې ملت پالنه، د تاریخي مواریثو او دودونو درناوی، حماسی ادب، پر ځان ویسا او ملي غرور و. د هند د نیمې وچې د وېش په وخت کې داسې مفکوره پیاوړې شوه چې د ډیورنډ د تحمیلي کرښې په واسطه له افغانستان نه بېله شوې برخه دې بیرته له خپل پلرني هېواد سره یو ځای شي. هغه وخت ټولپوښتنه چې د هند په نیمه وچه کې د انګرېزانو له خوا تر سره شوه د افغانانو لپاره د منلو وړ نه و.

د ظاهر شاه (۱۳۵۲هـ / ۱۳۹۲هـ ) ، (۱۳۱۲ ـ ۱۳۵۲ل) د پاچهۍ په دویمه لسیزه کې پښتو ادب له یوې خوا پښتو ژبې د پراختیا او پیاوړتیا له جریان سره او له بلې خوا په هېواد کې د دموکراسۍ او بیاجوړونې غوښتنې له خوځښت سره په ملګرتیا کې ډېر نوي پړاو ته داخل شو چې موږ یې د ( ویښتیا پړاو) بولو.

د ویښتیا پړاو تر زیاتې کچې د (ویښ زلمیان) له سیاسي غورځنګ سره اړه لري. د پښتو ژبې تقریباً ټول نامتو لیکوال او شاعران د ویښ زلمیانو په سیاسي سازمان کې شامل وو او له همدې لامله د ویښتیا د دورې ډېری شعرونه او لیکنې اجتماعي ــ سیاسي رنګ لري. د ویښ زلمیانو په مرامنامه کې د (پښتو ژبې ته پرمختګ ورکول) موضوع هم شامله وه. د ویښ زلمیانو تر ګوند وروسته ځینې نور سیاسي سازمانونه هم جوړ شول چې د

(وطن) او (ندای خلق) په نامه يې نشراتي ارگانونه لرل او پر دې سربېره نوري جريدې هم د ځينو سياسي سازمانونو له خوا خپرېدې خو په عامه ذهنيت کې د ويښ زلميانو نوم نقش شوی و او هر بدلول غوښتونکی شخص به يې ويښ زلمی باله. په حقيقت کې د سياسي سازمانونو مرامنامې يو بل ته ورته وې، يوازې د تأکيد ټکي د هغوی د تشخيص نښه ده. د بېلگې په ډول د (وطن) گوند پر اقتصادي اصلاحاتو ټينگار کاوه، ويښ زلميانو ملي مفکورو او (ندای خلق) چلوونکو سياسي بدلون ته زياته پاملرنه درلوده. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۸۲-۸۷).

د ويښتيا پړاو چې د ويښ زلميانو په خوځښت سره پيلېږي پر (۱۳۶۸هـ / ۱۳۲۸ل). کال د لاندې موخو د ترسره کولو لپاره رامنځته شو:

۱. مشروطيت او د هغه له مخې شاهي مقام ته درنښت.

۲. له خپلواکۍ او د خاورې له تماميت څخه دفاع.

۳. د هېواد ملي نواميسو او افتخارونو ته درنښت.

۴. د بيان، عقيدې، حزبونو او مطبوعاتو د خپلواکۍ تأمين.

۵. د هېواد د درڅگونو قواوو تفکيک.

٦. له هر ډول تبعيض سره مبارزه او د ملي وحدت تأمينول.

۷. د ملي ژبې پښتو تقويه او پرمختگ.

۸. د پښتنو ورونو (پښتونستان). له غوښتو څخه رښتينی ملاتړ.

۹. د ښځو د حقونو تأمين او هغه ته درنښت.

۱۰. د ظلم، رشوت، قاچاق او نورو ټولنيزو ناخوالو سره مبارزه.

۱۱. د اقتصادي اصلاحاتو په چوکاټ کې د ځانځاني امتيازونو له منځه وړل.

۱۲. د علم او عرفان (معارف). پرمختگ او د ناپوهۍ او بېسوادۍ پر وړاندې مبارزه.

۱۳. د اغېزمنې پوهونې را پوهونې له لارې د حکومت او ملت تر منځ د اړيکو تأمين.

پر پورته مادو سربېره د زلمي کرزي په لست کې ځينې مادې شته چې پورته يې ذکر شوی نه دی، لکه:

۱۴. د قبيلوي امتيازونو او اختلافاتو له منځه وړل.

۱۵. د ټولو لړکيو د مشروع او قانوني حقونو رعايت.

۱٦. په متقابل ډول په پښتو او فارسي غږېدل.

۱۷. له ظلم، خیانت، غداری، چاپلوسی، رشوت او دروغو سره مجادله کول.

۱۸. د خرافاتو او بدو دودونو سمونه.

۱۹. ټولنیزه همدردي پیداکول.

۲۰. ملي ګټو ته ترجیح ورکول.

۲۱. د هېواد تولیدات کارول. (باجوړی، ۱۳۹۷ل، ۱۵ او ۱٦).

## ۴. ۳. ۲. د ویښتیا پړاو شاعران

د ویښتیا پړاو شاعران په لره پښتونخوا او افغانستان کې ډېر دي. ښاغلي کاندید اکاډمیسن محمد صدیق روهي په خپل اثر د برې پښتونخوا د ویښتیا پړاو د شاعرانو لست په درو ( نامتو، هغه شعران چې د شعرونو شمېر یې لېږ خو څرنګوالي له مخې ښه او له متوسط څخه پورته ). کټګوریو وېشلای دی. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۸۹).

زه دلته د کټګوریو په ډول نه، بلکې د ښاغلي محمد صدیق روهي د ویښتیا پړاو د شاعرانو ټول لست په پرلپسې ډول راوړم چې د چا حق و نه خوړل شي او د راتلونکو څېړونکو لپاره به د شاعرانو نومونه خوندي وي چې تر څېړنې وروسته ورته په کومه کټګوری قایلېږي خو زما له نظره هر شاعر خپله شعري ښکلا لري او د اداء طرز یې بېل دی. یوه بله خبره هم باید لوستوال په یاد و لري چې د ویښتیا پړاو شاعران د شمېر له مخې ډېر دي، دلته یې د بېلګې لپاره څو مشهور شاعران د سبک له مخې تر څېړنې لاندې نیسم او په راتلونکي کې که ژوند باقي و او صحت مې لاره بیا به بشپړه څېړنه پرې وکړم او که نه د پښتو ادب څېړنې په بڼ کې داسې ګلان شته چې دغه تشه راپسې بشپړه کړي.

ګل پاچا الف، عبدالروف بېنوا، سلیمان لایق، عبدالباري جهاني، بهاءالدین مجروح، محمد صدیق پسرلی، سعدالدین شپون، قیام الدین خادم، برکت الله کمین، نصرالله حافظ، عبدالله بختانی، مجاور احمد زیار، عبدالروف قتیل، کبرا مظهري، حبیب الله زړه سواند، عبدالله غمخور، سیلاب ساپی، عبدالحی حبیبي، عبدالشکور رشاد، صدیق الله رښتین، محمد موسی شفیق، عبدالرحمن پژواک، حبیب الله تږی، محمد جان فنا، طالب کندهاری، ولي محمد مخلص، عبدالخالق اخلاص، سید حسن حسن، شمس الدین مجروح، دوست محمد شینواری، محمد عثمان نژند، مستوره شال، عبدالقدوس پرهېز، غلام الرحمن جرار، عبدالمنان دردمند، حبیب الله رفیع، محمد عارف غروال، محمد ارسلان سلیمي، غلام جیلاني جلالي، محمد شاه ارشاد، محمد صدیق رازقي نړیوال، محمد دین ژواک، عبدالرازق فراهي، غلم دستګیر ړنګ، محمد ابراهیم عطایي، محمد رحیم الهام، عبدالکریم محب، محمد طاهر بینا، عزیزالرحمن ممنون، عبدالمنان ملګری او امین الله زمریالی.

د دې دور نور شاعران چې ښاغلي روهي یې نومونه راوړي دي: محمد عمر بلبل افغان، محمد عثمان پښتون، نطک محمد پکتیانی، محمد رفیق حبیبي، مېرمن حمیده، محمد ابراهیم خواخوږی، خالد روښان، غلام محی

الدين زرمتی، سمسو ساپی، غام حضرت روغمن، محمد اکبر پامیر، پاینده محمد زهیر، خواجه محمد زهیر، محمد حسن ضمیر ساپی، محمد سلام سلیم، سید حسین سید، محمد گل عتیقي، عطاءالله خان عطاء، عبدالله نورزی، لعل محمد غریب، غلام حضرت فقید، قاضي عبدالصمد اخوند، محمد رفیق قانع، سید محمود کار گر، برهان ادلین کشککی، سید احمد گلزار، محمد گل د للمې، داود شاه لېوال، محمد صفدر سالارزی، نورالله ولسپال، محمد طاهر رحیمي، محمد طاهر بینا، محمد عارف رهین، عبدالرووف مخلص، سید مراد مین، محمد رسول مسلم، عبدالله مسیزی، محمد اکبر معتمد، عبداللطیف منتبار، یوشف مېړنی، جنت گل نثار، عبدالقدوس نجیب، عبدالحمید حنیف، نعیم جان، نظر محمد اخک، محمد گلاب ننگرهاری، عبدالرحیم ننگیالی، محمد گل نوري، محمد گل مومند، محمد نسیم نوري، عبدالخالق واسعي، فضل محمود وکیل، محمد یوسف ویران، محمد ویس کاکړ، ظهورالله همدرد، غلام نبي هوتک، احسان الله هېر، حاجي الهداد، غلام سخي انتظار، انورالدین انور، عبدالغفار بریالی، عبدالروف پالوال، جان محمد پکتا، عبدالقادر ټبر، جمعه گل، رحیم جان جوهر، پروانه حریق، ملا عبدالمنان حیرت، عبدالاحد خالېز، عبدالجلیل خوښمن، سلیمي کندهاری، سهار گل سهار، محمد نبي شاکر، عبدالحلیم شیدا، سید عبدالقیم عسکر، محمد ظاهر قانت، او په لسگونو نور شاعران چې په (اوسني لیکوال درې ټوکو).، (اوسني شاعران). او (دا لیکوال او دا څېړې). آثارو کې چاپ شوي دي. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۸۹ ــ ۹۱).

پورته د ویښتیا پړاو د شاعرانو نوم لړ تاسې ولوست د ټولو ذکر ناشونی دی نو دلته به ترې د دغه خوځښت یو څو هغه سرلاري در وپېژنو چې په ټوله کې د نوموړی نهضت بنسټ یې جوړ کړی دی.

### ۴. ۳. ۳. د ویښتیا پړاو د منظوم ادب ځانگړي(انفرادي) سبکونه

په دغه پړاو کې هم د بېلگې په موخه د څو مشهورو شاعرانو شعرونه تر گډې سبکي څېړنې لاندې نیسو.

#### ۴. ۳. ۳. ۱. گل پاچا الغت

ارواښاد گل پاچا الف پر (۱۳۲۷هـ / ۱۲۸۸ل/ ۱۹۰۹ز). کال د لغمان ولایت عزیز خان کڅ په منصور کلي کې سترگې دې نړۍ ته پرانستې، د پلار نوم یې میر سید باچا او د نیکه نوم یې سید فقیر پاچا دی. د خپل ځان لپاره یې الفت تخلص غوره کړ، که یې پر خپلو لیکنو خپل نوم او تخلص نه لیکه نو هغه لیکنې یې پرمستعارو (ظریف افغان، کجوروال، علاقمند، محتاط، ستمدیده، نو آموز، نادار، آرزومند، نکته رس نکته دان، منتظر، مشاهد، حق بین منصف، حق پسند، دلسوز، امنیت خواه، لغت دان، پارلماني وکیل، دقت پسند، اعتدالي، ملتفت، قانوني، خپل، بې زړه او ا۔ط ۔گ ). نومونو خپرولې.

گل پاچا الفت لکه د پښتو معاصر ادب د نورو سرلارو په څېر په سیستماتیک ډول زده کړې نه درلودې، د لغمان، ننگرهار او کابل په دیني مدرسو کې یې له جیدو علماوو څخه زده کړه کړې وه. صرف، نجو، منطق،

تفسیر، معاني، بیان او د حدیثونو کتابونه یې ولوستل. پر دغو اثارو سربېره یې د ژوند تر پایه مطالعه کوله او په خپلو لیکنو کې یې ترې کار اخیسته.

گل پاچا الفت پر پښتو ژبې سربېره فارسي او عربي هم زده وه او لیکنې یې پرې کولای شوې.

نوموړي رسمي دنده د انیس اخبار له ادارې څخه پر (۱۳۵۴هـ / ۱۳۱۴ل). کال پیل کړه او د (۱۳۸۵هـ / ۱۳۴۴ل) کال د جلال اباد ښار د خلکو له خوا د ولسي- جرگې د دولسمې دورې لپاره وکیل و ټاکل شو. د (۱۳۱۴ل) کال او (۱۳۴۴ل) کال تر منځ یې گڼې رسمي دندې تر سره کړي دي. وگورئ ( د الفت یاد، ۱۳۶۱ل، ۸۸مخ).

نوموړي د خپل کار په بهیر کې ډېر تقدیر شوی هم دی او هم یې بېلابېلو هېوادونو ته علمي سفرونه کړی دي. (هېوادمل، ۱۳۶۱ل، ۸۶ ــ ۹۰).

د موضوع له مخې الفت صاحب هماغه د ویښ زلمیانو د خوځښت ارمانونه په خپلو شعرونو کې راوړي او د ټولنې حاکمې طبقې ته په انتقادي بربنډه سترگه گوري او نېغ په نېغه یې مخاطبوي. د فساد، اختناق، رشوت، انساني نابرابری، ظلم او تیري په هکله مبارزه کوله کله به یې خپل نوم په څرگند ډول راووړ او کله به یې په مستعار نوم شعرونه او لیکنې خپرول. د الفت صاحب هېوادپاله مفکوره د ده په هر شعر کې ځلېږي او د مظلوم لاسنیوی یې د شعر تومنه جوړوي. دلته یې څو شعرونه د بېلگې لپاره راوړم:

**له هېواد سره مینه**

| | |
|---|---|
| د وطـن پـه محبـت بانـدې قسـم خـورم | چې د ځان له غمه زیات د وطن غم خورم |
| د وطنـــد شرف ســپر یمنـــه وېرېـــږم | کـه د تــورو گذارونــه دم پــه دم خــورم |
| دا خوږې غوږې گولې دې دې وي د نورو | د وطـن دفـاع کـې زه گـولۍ د بـم خـورم |
| د وطـــن د اعـــتلا تـــرې یـــم ځکـــه | لکه گل هره شپه څاڅکی د شبنم خورم |
| زه هغه یم چې تـل ننـگ پـه وطـن خورمـه | هغه نه یم چې رشوت سـود و سـلم خـورم |
| چـې بـه سر مـې د وطـن خـدمت منلـی | څه پـروا ده کـه خپـل سر لکـه قلـم خـورم |

**یو والی**

| | |
|---|---|
| لکـــه بـــاغ یـــو مملکـــت و گڼـــه وروره | پکـــې هـــر قســـم گلونـــه بـــوټي گـــوره |
| ونـې ډېـرې خـو بـاغ یـو دی کـه پـوهېږې | کـه کـوې بـل رنگـه فکـر ډېـر غـولېږې |
| دوه سـکه ورونـه لـري بېـل بېـل نومونـه | بېـل رنگونـه بېـل غوږونـه بېـل خویونـه |
| مگـر دواړه اوسـېدونکي د یـو کـور دي | د یوې سترگې په کور کې سپین او تور دي |

## د غلامۍ ضد فکر

یو پټ غلی احساس دی چې ارام مې نه پرېږدي
په اور مې کړوي لکه چې خام مې نه پرېږدي

جرأت مې زياتوي دومره په ځان يمه پوه شوی
غافل لـه خپلـه حقـه او غـلام مـې نـه پرېږدي

## قانون ته درناوی

که مې څوک په کته پيش وهي ظالم دی
کـه قـانون مـې غوځـوي سر عـدالت دی

یا

پرســـتش د يـــوه تـــن بـــت پرســـتي ده
د قـــانون پيـــروزي لويـــه آزادي ده

په کوم ځای کې چې يو فکر کـړي کارونـه
هلته خوشـې محمـل لفـظ ديمـوکراسي ده

(خدمتګار، ۱۳۶۱ل، ۲۲ـ ۲۴).

(لوبې کوي). د الفت صاحب يو نظم دی چې د ولس په مشرانو، کشرانو، حاکم، ملـک، رسـوتخور، غلـو، او پساريانو انتقاد کوي او ټولنه خپل لوی مسوولیت ته متوجه کوي:

پــه ړيــره د بابــا اوس ماشــومان لــوبې کــوي
خپـه يـم پـه مشـرانو چـې کشـران لـوبې کـوي

پــه مدحــه پــه ســتايلو پــه بوټونــو پــاکولو
دا خلـک نـن سـبا پـه والاشـان لـوبې کـوي

چې هر طرف ته يې بيايي په هماغه طرف درومي
پــه ځينــو کــارډارانو درباريــان لــوبې کــوي

حاکمـه خبر نـه يـې تـا تـه څـوک نـه شي ويلـی
پــه تــا بانــدې څــو تنــه ملکــان لــوبې کــوي

که هر څه دې زړه غواړي هغه کېږي چې پيسې وي
رشوت په رشوت خور باندې هر شان لوبې کـوي

د غلو ملګري کېږي هغـه وخـت کـې تمـام خلـک
د شـاه پـه رعيـت چـې حـاکمان لـوبې کـوي

جوړېږي نه هېڅکله خود د مرګ تـر ورځـې پـورې
زمـــونږ پـــه رنځورانـــو پســـاريان لـــوبې کـــوي

(الفت، ۱۳۷۵ل، ۲۸ او ۲۹).

د حق وينا په تړاو (که نه وي). نظم کې پر ټولنه نقد کوي، وايي:

حق او باطل نه معلومېږي حق بيان کـه نـوي
ظالم ته هېڅ نه شي ويلی ټينګ ايمان که نـه وي

پنځو روپو باندې يې ولې هره ورځ خرڅوي
دين و ايمان دې مسلمانه ډېر ارزان کـه نـه وي

ولـې لـه ظلـم نـاروا سره جهـاد نـه کـوې
دا پـه نفلونـو بانـدې ولاړ رياکـاران کـه نـه وي

ستوري د ديـن بـه درتـه وايمـه مـلا صـاحبه!
دا رياکـاره بـې عملـه ملايـان کـه نـه وي

دا نـاداري دا نـاداني دا بـدبختي لـه څـه ده؟
زمونږ کارونه زمونږ فکر او خوی وران کـه نـه وي

(الفت، ۱۳۷۵ل، ۵٦ او ۵۷).

د شعر موتيفونه يې رياکار، حاکم، شرمښ، پسرلی، چنګېزو هلاکو، حق، کوتوال، باغ، د پښتـون حـال، وطـن، تحول، ازادي او داسې نور دي.

د الفت صاحب د شعر ژبه روانه او سلیسه ده نوموړي د ولس په ژبه ولس ته مخاطب دی، ځکه یې په ولس کې مقام په لوړ پوړ کې دی.

**۴. ۳. ۳. ۲. عبدالروف بېنوا**

عبدالروف بېنوا د مفتي عبدالله زوی او د مولوي عبدالحق اخوندزاده لمسی او په قوم علیزی، نوموړی پر (۱۳۳۱هـ /۱۲۹۲ل) کال د کندهار د خرقې مبارکې ترڅنګ د سید حسن خان په کور کې وزیږېد. دیني زده کړې یې په خبله کورنۍ کې له دیني عالمانو او په ځانګړې توګه له خپل ورور مولوي عبدالکریم څخه لاسته راوړې. پر (۱۳۵۸هـ / ۱۳۱۸ل) کال کابل ته راغی او په پښتو ټولنه کې یې د علمی غړي په توګه کار پیل کړ. په فارسي، عربي او انګلیسي ژبو پوهېده. ګڼ آثار یې په پښتو ژبه کې ولیکل. نوموړی پر (۱۴۰۴هـ / ۱۹۸۴ز) کال د جنوري پر یوولسمه نېټه چې له (۱۳۶۳ل) سره سمون خوري د امریکا په نیوجرسي ایالت کې وفات شو او هم هغلته خاورو ته و سپارل شو.(باجوړی،۱۳۹۷ل،۵۳ ــ ۵۶).

د عبدالروف بېنوا د رسمي دندو له لست څخه تېرېږو او د ده بر سیاسي ژوند او شعرونو رڼا اچوو. نوموړی د ویښتیاپړاو مشهور لیکوال، شاعر او مخکښ دی. د ویښ زلمیانو د خوځښت له بنسټګرو څخه دی.

شعر یې ساده، روان او د ولس په ژبه ویلی دی، د موضوع له مخې د ویښ زلمیانو د خوځښت موخې دي. د شعر تړون یې د کلمو د ترکیب له مخې ډېر نرم دی، خپل پیغام په ډېره نرمه ژبه ټولنې ته رسوي، انتقادي ژبه یې هم ډېره نرمه ده.

شعري موتیفونه یې خمر، ساقي، جام، میو انځور، پښتو، د پښتون بې کمالي، بې ځایه غرور، سیمبولونه کارول، تحول، د تاک لور، د تاک زومان، بړبرور ساقي، غلی شانته انقلاب، د هسک پېغله او نور جوړوي.

د شعر ځېلونه یې مشترک او هم د نوي دور غربي اغېز له مخې راوړل شوي دي، ( د لېونی ترانه). کې یې پر ټولنه به ډېره نرمه ژبه کړی دی او د خپل ولس حال د طنز په بیانوي:

زه یـــــــم لېـــــــونی غمجـــــــــن — لــوځې پښــې صــورت پمــن
نســـــــته د کمـــــــیس لمـــــــن — نــه مــې پــر خــولې چکــن
پورته کښته ځغلم همېشه دی دا روزګار زما — نســته پــه چــا کــار زمــا

نــــه مــــې زوړ کـــــالی دی ســــم — نــه مــې ســته د نــوي غــم
خپلــــه خپـــــل ګرېـــوان څـــیرم — کلــه یــې پــه بــل ګنــډم
خوښ د افلاتو تر فلسفې دی خپل ګفتار زما — نســته پــه چــا کــار زمــا

اورم منتونـــــــــــــــــــــــه زه — ګـــــــالم زحمتونـــــــه زه
څــــــېټ بانــــــدې زخمونـــــــه زه — ویـــــــنم ســـــــتمونه زه

هېڅ اثر پرې نسي لوی ځيگر دی باربردار زما    نسته پـه چـا کـار زمـا

گرځمه پـر لـر و بـر    نـه يـم پـه دنيـا خـبر
خوشـې وايـم پيـل و غـر    نسـته تـر مـا څـوک بـتر
ژوندمې د تقليد دی تل په بل پسې رفتار زما    نستـه بـه چـا کـار زمـا

ورک انسـانيت ويـنم    هـر چېـرې وحشـت ويـنم
ظلـم د قـوت ويـنم    ضـعف ملامـت ويـنم
هېڅ متاع مې نسته را نه څه غواړي اغيار زما    نسـته پـه چـا کـار زمـا

ځـان تـه پـه ښـکنځل يمـه    بـل تـه پـه سـتايل يمـه
ځـای د خنـدا تـل يمـه    خپـل کـور کـې د بـل يمـه
خوښه د لالا ده ما ور کړی دی اختيار زما    نسـته پـه چـا کـار زمـا

(بېنوا ، ۱۳۹۳ل، ۸۱او ۸۲).

بېنوا د افغانستان د ولس د پرمختگ قافله له نړيوالو سره يو برابر غواړي خو دغه ارمان يې زموږ د ناپوهی، بې اتفاقی، يو بل ته د کندو کنلو او له هېواد سره د نه مينې په سبب نه تر سترگو کېږي نو د خپل زړه خبر خپل ولس ته د (خدايږو د ژړا يمه). به نظم کې په روانه ژبه وړاندې کوي:

يو د خپل ځان نه يم نو چې گورې د هر چا يمه    خـدايږو د ژړا يمـه    خدايږو د ژړا يمـه
ځان ته درمل نـه سوم خـو د نـورو تـل دوا يمـه    خـدايږو د ژړا يمـه    خدايږو د ژړا يمـه

نـوې سـوه نغمـه د ژونـد    گرمه هنگامه د ژوند    تېزه قافلـه د ژونـد
يـو زه تنهـا پاتـه بـې جـرس و بـې صـدا يمـه    خـدايږو د ژړا يمـه    خدايږو د ژړا يمـه

بنـد بـه سـاحري د چـا    قيد کړم سامري د چا    وريت سوم په نغري د چا
سوځم نه پـوهېږم وريتېـدو تـه پـه خنـدا يمـه    خـدايږو د ژړا يمـه    خدايږو د ژړا يمـه

ځانتـه ويرانـه يمـه    بـل تـه خزانه يمـه    پټـه افسـانه يمـه
يو مجنون مې نه موند د جنون هغه بېـديا يمـه    خـدايږو د ژړا يمـه    خدايږو د ژړا يمـه

کـوه سـته دی کـوهکن نسـته    جوش شته دی جوش نسته    توره سته تورزن نسته
په ځان مې څه و نه کړه په تعريف د تېر ابا يمه    خـدايږو د ژړا يمـه    خدايږو د ژړا يمـه

(بېنوا، ۱۳۹۳ل،۸۵او ۸۶).

د هېواد د بېوزلانو پر حال ژړا او د وخت حاکم ته يې غبږ رسول او د طبقاتي ژوند سمون د ويښتيا پړاو له ارزښتمنو موخو څخه ده چې دلته زه به دغه تړاو د بېنوا ( ديتيم نغمه). نظم راوړم:

نه لرمه پلار او مور — خوار يتيم پر سر سرتور
تور لحد په شان مې كور — نه مې سته دېگدان كې اور
آخ له يخه مرمه زه — واخ څوک نه لرمه زه

رېږدی مې له يخه ځان — ورک مې سو له تنه توان
لوند مې په ژړا گرېوان — لېږې ځې له ما خپلوان
آخ له يخه مرمه زه — واخ څوک نه لرمه زه

خان صاحب چړچې كوي — خپلې تماشې كوي
هر طرف مېلې كوي — كور كې ښې لمبې كوي
آخ له يخه مرمه زه — واخ څوک نه لرمه زه

زوی د خان لری برستن — ټول په سندلۍ كې پلن
زه يم لوڅ لغړ پمن — نسته د كميس لمن
آخ له يخه مرمه زه — واخ څوک نه لرمه زه
(بېنوا، ۱۳۹۳ل، ۹۴او ۹۵).

د الفت په څېر نوموړی هم د ځينو ملگرو نومونه د (سپوږمۍ). په نظم كې راوړي دي:

د (مجروح مين). زړگی يې — سپوږمۍ ښكارې و جهان ته
د همزولو له ټوليه — (بېنوا). تللې اسمان ته
چې (الفت). دې پكې نه مونډ — سوې په قهر و انسان ته
يو (مخلص). دې بيا و نه مونډ — چې هر څو دې كش كړ ځان ته
ټول بې درده دردمن نسته — ټول بې واكه واكمن نسته
(بېنوا، ۱۳۹۳ل، ۱۱۵ او ۱۱٦).

د پښتونستان مسئله د ويښ زلمينانو د خوځښت موخه وه چې د ويښتيا پړاو سبكي توكی جوړوي، د عبدالروف بېنوا په يوه نظم (پښتني مينه). كې د مين او مينې له خولې راوړم:

مين

بيا دې ولې خوار مين ته نظر نسته ‎ ‎ ‎ ته وا زړه کې دې د مينې اثر نسته

مينه

د پښتون په وير اخته يم چې ژړېږم ‎ ‎ ‎ پښتونخوا کې نجونې پاته دي نر نسته
چې پوړنی را څه وړي ما ژړوينه ‎ ‎ ‎ د بېوزلو نجونو ورونه مګر نسته
څه ورځه دا لباسي مينه دې پرېږده ‎ ‎ ‎ زما له مينې دې هېڅ داغ پر ټټر نسته
تر هغو مې د مخ ديد پر تا حوام دی ‎ ‎ ‎ څو دې لاس سره د غليم په پرهر نسته
د پستې غېږې مې هېڅ هيله و نه کوې ‎ ‎ ‎ د چړو زخمونه ستا پر ځيګر نسته
ته هم زوی د پښتانه يې دا مه وايه ‎ ‎ ‎ چې اوس وخت کې (احمدشاه). يا (اکبر). نسته
سپينه خوله به په مورچه کې د تا جار کړم ‎ ‎ ‎ چاوې دا چې ژوندانه کې کوثر نسته
(بېنوا، ۱۳۹۳ز، ۱۱۷ ــ ۱۱۹).

د شرابو يا خمر په تړاو د توکو په لامل د بېنوا شعر له نورو سره توپير پيدا کړی دی، دلته يې يوه څلوريزه د (شراب‌نوشه). تر سرليک لاندې راوړم:

د اوبو پر غاړه کښېنه شراب فروشه ‎ ‎ ‎ د صحت د زړه د غم دی شراب نوشه
د ريا له زهده زړه به ميو مينځه ‎ ‎ ‎ ليرې ګرځه له مکاره خرقه پوشه
(بېنوا، ۱۳۹۳ز، ۱۳۴).

پر هېواد قرباني د دغه پړاو بل سبکي توکی دی، دلته دبېنوا له کلياتو څخه ( د استقلال د شهيد وينا ). لومړی بند راوړم:

چې واک مې خپل کی هغه نيازمن يم ‎ ‎ ‎ دروږ د مينې صادق مين يم
سر مې پرې سوی زخمي په تن يم ‎ ‎ ‎ په وينو لژند ګلګون کفن يم

شهيد پر خاوره د خپل وطن يم
(بېنوا، ۱۳۹۳ز، ۱۷۳).

د بېنوا د ټولنې د تحول نغمه هم ډېره په پسته ژبه د رباب په شرنګ کې منعکس شوې ده چې دلته يې بېلګه د نوموړي مشهور نظم (غلی شانته انقلاب). راوړم:

نسيم و وې د ګل غوږ کې بدل شو د يارانې رنګ ‎ ‎ ‎ غلی شانته انقلاب دی بدلوي د زمانې رنګ

ور سره نــــــوي رنګونـــــــه    رنګارنـــــــګ تحولونـــــــه    کـړی سمسـور بـه راغ رغونـه

موسم بل دی هم بل سوی د بلبل د ترانې رنـګ    غلی شانته انقـلاب دی بـدلوي د زمـانې رنـګ

دړې وړې زوړ زوړ ربـــــاب دی    زوړ مطـرب خانـه خـراب دی    زوړ آهنګ د روح عـذاب دی

نوی ساز تو آواز دی هم سو نوی د نغمې رنګ    غلی شانته انقـلاب دی بـدلوي د زمـانې رنـګ

نـــوی دام نـــوی صـــیاد دی    نـــوی چـــل نـــوی بېـداد دی    نـــوی آه نـــوی فریـــاد دی

هوښیاري صید لره بویه بدل سوی د دانې رنـګ    غلی شانته انقـلاب دی بـدلوي د زمـانې رنـګ

لـــــري نـــــوي محبســـــونه    نـه یــو سرای نــه یــوه خونـه    حبســـوي لـــوی هېوادونـــه

چې بندي پرې نه پوهېږي داسې سو د زولانې رنګ    غلی شانته انقـلاب دی بـدلوي د زمـانې رنـګ

طلایـــــي جـــام کـــې د دور    شراب زهـــــــــر دي د دور    نوشـېدل یــې غــواړي غــور

ای سرمست زلمیه پام کړه بل راز سو د میخانې رنـګ    غلی شانته انقـلاب دی بـدلوي د زمـانې رنـګ

سره واوښـــــــتل قومونـــــــه    وینې خـبر سـول لـه ژوندونـه    د ویــدو سـوه وران کورونـه

ګوره کله به سي نوی د پښتون د کاشـانې رنـګ    غلی شانته انقـلاب دی بـدلوي د زمـانې رنـګ
(بېنوا، ۱۳۹۳ز، ۷۳ او ۷۴).

په ټوله کې د بېنوا د شعر فکر د مظلوم غږ دی چې په ډېره نرمه ژبه یې دولس حاکمان او واکدار پرې پوهول. په دغه برخه کې یې مبارزه ډېره په پسته ژبه وړانـدې کړېـده. د نظـم ځېلونـه یـې تـر ډېـره بریـده (ترکیـب بنـد). تشکیلوي د دغه ځېل تر څنګ (غزل، ترجېح بند، څلوریزه او د ترانې ځانګړی ځېل). پالي او هم له غرب څخه راغلي فورمونه کاروي. خپل ځېلونه هم یو نیم راوړي لکه د (یا دا و کړه یا دا ). نظمي ځېل یې یادولای شو.

د منځپانګې له مخې يې فکر نوی دی، د ټولنې دردونه په خپلو شعرونو کې که هغه د مظلوم غبږ دی او یا که خمریه فکر دی را نغاړي.

دلته موږ مشت نمونه خروار د موضوع له مخې شعرونه د بېلګې په بڼه راوړل، لوستونکی کولای شي د عبدالروف بېنوا کلیاتو ته سر ور ښکاره کړي او د خپلې خوښې مرغلرې پکې را ټولې کړي.

**۴. ۳. ۳. ۳. قیام الدین خادم**

قیام ادلین خادم د ملا حسام الدین زوی د ملا ګل اخونزاده لمسی دی. پر (۱۳۲۵هـ) په کامه کې زېږېدلی دی. نوموړ به اصل کې د ښېوې ولسوالۍ د شګې سیمې اوسېدونکی او په قوم زاخېل دی. د نیکونو په سلسله کې یې شجره د څوکنو میا عمر ته رسېږي.

په لیکنو کې کله د (کاموي، زاخېلي او میاعمرزي) تخلصونه راغلي دي او د مور له خوا د نیکه نوم یې سید عبدالرحمن سیلانی دی نو ځکه یې کله له لیکنې سره (سیلانی) تخلص هم راغلی دی خو مشهور تخلص یې (خادم) دی او به دغه تخلص یې ډېری خلک پېژني.

لومړنۍ زده کړې یې له پلار څخه په کور کې تر سره کړي دي، لیک یې په خپل ذوق په خپله زده کړی او به دغه برخه کې د ځآن استاد دی حو د بوستان او ګلستان تر زده کړو وروسته یې یو څه لیک له ملاخېل څخه زده کړی دی. صرف میر اتلس بابه یې ولوستل او په همدې بهیر کې یې ډېری نو کتابونه هم ولوستل. د ژوند په دوران کې یې ډېرې رسمي دندې تر سره کړي دي او بېشمېره آثار یې ولیکل. (بېنوا، ۱۳۴۰ل، ۲۹۲ـ ۲۹۸).

د نوموړي په تړاو عبدالروف بېنوا لیکي: " ښاغلی قیام الدین خادم په اوسنیو پښتنو لیکوالو او شاعرانو کې د قدامت او مشرتوب حق لري او د افغاني پوهانو او ادیبانو په لومړۍ ډله کې درېږي. ښاغلی خادم د علمي شخصیت خاوند او د فلسفي افکارو څښتن دی، د ده د ژوند زیاته برخه په لوستلو او لیکلو کې تېره شوې ده او د ده د لوستلو او لیکلو مهم مقصد د پښتو ژبې خدمت کول او د خپل قوم را ویښول دي. "( بېنوا،۱۳۴۰ل،۲۹۱).

د مړینې په تړاو یې پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون لیکي: " د مانا دغه کوه طور په پښتنو باندې د الله (ج) د دغه لوړ کمر د (۱۳۵۸ل) کال د وږي په پنځمه د دوشنبې پر ورځ چې د (۱۳۹۹هـ) کال د شوال المکرم له پنځمې او د (۱۹۷۹ز) د اګست له یوویشتمې سره سمون خوري را و نړېد او د علي اباد په روغتون کې یې د ابدي ژوند جام پر سر راواړاوه خدای دې یې و بښي. دغه لویه هستي په سبا باندې په خپلې پلرنۍ هدیره (زرشوی، کامه) کې خاورو ته و سپارل شوه. پر ګور یې د ګوتو په شمار قلموال او د سیمې ولسي خلک را ټول شول، مړینه یې د یو فقیر انسان وه. "(خادم، ۱۳۹۱ل، ۴۰ او ۴۱).

نوموړی دویښ زلمیانو په ټولنیز حرکت کې چې ډېری پکې فرهنګیان وو، د یو مؤسس او ولایتي مسوول په توګه پاتې شوی دی. د شعر منځپانګه او موضوعي سبک یې د ویښ زلمیانو موخې تشکیلوي چې ملي یو والی، خپلواکي، د پوهې دودول، د ولس د ذهني او فکري کچې لوړول، قوم ته ریښتینی خدمت کول او او پاک

سیاست و. د بند په شپو ورخو کې یې د پوښتنو په ځواب کې ویل: " زه د دې وطن لیکوال او د خلکو خادم یم، زه هر چا ته تحقیق نشم ورکولای. "( خادم، ۱۳۹۱ل، ۴۰).

د هغو ویښو زلمیانو لپاره سلام ډالی کوي چې د دغه خوځښت په مرام پوه وي او کار ورته کوي:

هغو (ویښ زلمو). لره څوک چې په دې راز وي پوه — زه (خادم). په ډېر نیاز وایمه سلام
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۹۶).

ښاغلی پوهاند دوکتور بریالی باجوړی یې د سبک په تړاو لیکي: " قیام الدین خادم د ویښ زلمیانو له مؤسسینو څخه و او په شعر کې یې هم د ویښو زلمیانو د مرامنامې ټکي ځلیږي. د خادم د شعر محتوا په دغو ټکو کې خلاصه کولی شو، ملي فکر، یووالي، پرمختګ، سمون، هېوادپالنه، د پښتونستان د حق غوښتنه او نور ټولنیز اصلاحات چې دوی ورته ژمن وو. "(باجوړی، ۱۳۹۷ل، ۴۸ او ۴۹).

له پورته خبرې یې هم د شعر منځپانګه په ذهن کې راوستلای شو. اوس به یې د شعر په رڼا کې پر سبک خبرې وکړو. د خادم شعر د بحر په څېر روان او په خپله غېږه کې قیمتي مانیزې مرغلرې لري، دی په خپله وایي:

چې روان تر اوبو نه وي او ژور هم له دریابه — نه پوهېږم څه له وایي دا شعرونه خوشې خوشې
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۵۰).

خادم هم د انتقادي ریالېزم په سر کې دی او خپله خبره په څرګندو الفاظو مخاطب ته کوي، د هغو ځوانانو پر کړنه نیوکه کوي چې د بل ښانک ته یې سترګې نیولي وي:

ټول شوي په ښانک وو د حلوا په تمه باندې — ګوله چې په لاس ورغله خپاره غوندې ښکارېږي

(خادم، ۱۳۹۱ل، ۵۳).

په خپل تولید او لباس فخر کول یې په لاندې شعر کې و لولئ:

بې تاثیره چې ترې څوک خلاصېدی نه شي — یوه ژبه بل مکتب بل سینما ده
که پردی وي په پردي رنګ کې راغلي — دا څیزونه د یو قوم په سر بلا ده
خپل لباس او خپل اساس در ته په کار دی — که دې مینه له خپل قام سره رښتیا ده
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۵۳).

د خادم د شعري سبک د ځېل له مخې ډاکتر دوریانوف لیکي: " خادم صاحب په خپل سبک او اسلوب کې د پښتو لرغوني عنعنوي شفاهي ادبیاتو ولسي فولکلور له منابعو ډېره زیاته استفاده کړې ده او معاصر مسایل په ډېر قدرت د ولس په ژبه بیان کړي دي. د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پیروۍ یوه عصري نمونه ده چې د دې عصر یو ځلاند ممتاز سبک یې ګڼلی شو. "( خادم، ۱۳۹۱ل، ۵۹).

بیرغ او یووالی زموږ ملي ارزښتونه دي په دې تړاو وایي:

تل یې د قوم بیرغ اوچت کړ — دا یو افغان و چې همت کړ

نن دا ځه ټکه شوه را ښکته
چې هر یو کلي خپل ځان ملت کړ
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۷۰).

د جمهوریت په تړاو وایي:

جمهوریت و ارزو د خلکو
دا لوی نعمت و ارزو د خلکو
افغان به اوس شی سیال د قومو
ملي نهضت و ارزو د خلکو
جمهوریت دی اختیار د خلکو
چې پکې نه وي ازار د خلکو
چې خلک یې غواړي همغه کېږي
حکومت نه وي بادار د خلکو
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۷۱او ۷۲).

ښکېلاک ځپل د ویښ زلمیانو یو مرام و چې خادم یې په تړاو وایي:

استعمار غواړي چې پښتون مړ شي
له ځمکې ورک شي په خاورو خړ شي
دا کار د ژبې په مرګ کېدای شي
چې پښتو مړه شوه دښمن به وړ شي
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۷۵).

خادم بې واکه رژیمونه په خپلو شعرونو کې غندلیدي:

شاهي عذاب دی دیکتاتوري هم
انارشي غم دی بوروکراسي هم
د ملت مرګ ته ښه وسیله ده
د غیر له لاسه سوسیالستي هم
په هر عنوان کې چې واکوالي وي
مدعا دا ده چې واک ملي وي
چې بې ملته واکوال هر څوک وي
د خدای لعنت دی خپل که پردي وي
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۷۵او ۷۶).

خپلواکي او تحول ستایل یې ( داستقلال جشن). د نظم په لومړیو دوو بیتونو کې لولو:

بلبله د زړه پورته شه سهار راغلی دی
د سوز و د جذبې وخت د چغار راغلی دی
تر څو به دې تېرېږي په غفلت کې شپه و ورځ
چمن کې نوی جشن د بهار راغلی دی
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۱۰۴).

د ولس بیداري یې بنسټیز سبکي توکی دی، دلته یې په دوو بیتونو کې دغه نظر راوړم:

عمر مې تېر کړلو دا ستا د سپینې خولې په تمه
لکه مجنون چې ګرځېدلو د لیلې په تمه
یو ځال دې و نه ویل څنګه یې زما فقیره
ما کړه فدا خپله ځواني د دې جملې په تمه
که وطن ویښ شو ستا مرام به شي په خپله پوره
خادمه څله یې د خلکو د صلې په تمه
(خادم، ۱۳۹۱ل، ۱۱۲).

د ده د موضوعي سبک او تګلاره ( دشاعر مسلک). په نظم کې ښه کتلی شو:

سـهي لاره بـه ښـايم کـه وم کـه نـه وم نـه وم
رښتيا رښتيا به وايم که وم وم که نـه وم نـه وم

د حـق د پـيروۍ نـه مـې بـل څـه پـه زړه کـې نشته
چې څه يمه همدا يم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم

آزاد يـــم زړېـــدلی بنـــدگي کـــولی نشـــم
بنده د خپل مولا يم که وم وم که نه وم نـه وم

په ښو خوشامندو مې ځان خوښ نه دی چې غټ شم
که غټ يمه خو دا يم که وم وم کـه نـه وم نـه وم

چې څوک غواړي څه سپکه مې د قام له څه جهتـه
دښمن د هغه چا يم که وم وم که نه وم نـه وم

خـدمت د خپلـې ژبـې قـام وطـن زمـا مسلـک دی
په دې مينه به پايم که وم وم کـه نـه وم نـه وم

کـرم ښـکلي تخمونـه چـې گلـزار شي پښـتنو تـه
په دغـه تمنـا يـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم

په ماته کښتۍ ناسـت يـم توفانونـه دي پـه مـخ کـې
په دې لاره يې بيايم که وم وم که نه وم نه وم

د ناز په خوب ويـدې غـونچې ورو ورو را ويښـومه
خادم باد سبا يـم کـه وم وم کـه نـه وم نـه وم

(خادم، ۱۳۹۱ل، ۱۵۱).

### ۴. ۳. ۳. ۴. عبدالحی حبيبي

عبدالحی حبيبـي د عبـدالحق اخونـدزاده زوی پـر (۱۳۲۸هــ / ۱۲۸۹ل) کـال پـه کنـدهار ښـار کـې زېږېـدلی دينوموړی د مولوي حبيب الله مشهور په (حبو اخوندزاده). کورنۍ ته منسوب دی نو ځکه (حبيبي). تخلص يې ځان ته غوره کړی دی.

نوموړي په پښتو ژبې، ادب او تاريخ کې زياتې څېړنې کړي دي نو ځکه پـه خپـل وخـت کـې د دغـې برخـې د (لوی استاد) لقب يې ځان ته خپل کړ. په پښتو او فارسي ژبه يې په سلگونو آثار وليکل. نوموړي په سياست کې هم لوی لاس درلود. په رسمي دندو کې د لوم‌ړي معين تر درجې رسېدلی دی، دا چې نوموړي له علـم سره ډېـر شوق و نو د وخت دوديز علوم يې ټول لوستي وو اود رښتيني پوه پـه توگـه د پـراخ نظـر څښـتن و. نومـوړی پـر (۱۴۰۴هـ / ۱۳۶۳ل) کال له دې نړۍ سترگې پټې کړې. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۱۰۲ او ۱۰۳).

پر پښتو او فارسي سربېره په اردو، انگرېزي او عربي ژبو پوهېده او ليکنې يې پرې کولې. (بېنوا، ۱۳۴۰ل،۲۲۶).

نوموړی هم د ويښ زلميانو د خوځښت غړی و او د نوموړی خوځښت موخو ته ژمن پاتې شوی دی، د شعر ژبه يې ساده روانه او د خپل هېواد د ارمانونو د پوره کولو غږ دی. دلته يې څو شعرونه د بېلگې لپاره راوړم:
افغانان په ځانگړې توگه پښتانه د نوي پېر لپاره په علم او پوهه سمبالول يې د شعر موضوعي موتيف دی:

پــه اوس دنيـا کـې ژونـد پـه قـوت دی
قوت دی څه شی؟ علـم مـو صـنعت دی

علــم وســـله ده دفـــع آفـــت دی
بــې د وسـلې نـو ژونـد مـذلت دی

علــم ســـاتونکی د هـــر ملـــت دی
(حبيبي، ۱۳۹۳ل، ۴۰).

(تېر ارمان). د حبيبی صاحب يو موتيف دی چې د (ای هلمنده). په نظم کې يې په خپلو تېرو پرمختگونو چې اوس مو له لاسه و تلي دي ژاړي:

تـــل بهېـــرې نـــه وچېـــرې
ای ژونـــــدی بهانـــــده روده

غاړې غاړې ځک په خوله کې          ژوند دې ټوله تګ و پو ده
تل ښوریږي حرکت کړي          ته ډېر بد وړې له رکوده
راسه ستا سره خواله کړم          د غمجن زړه تشیده کړم

د زرنج مدارس وران سوه          علماء یې ټول خاموش دي
نه د بست دانشکده شته          طلبه یې ټول خاموش دي
مدنی ښارونه وران سول          له عدمه هم آغوش دی
یو وار وګوره هلمنده!          څنګه تشه ستا لمن ده
(حبیبي، ۱۳۹۳ل، ۴۹ او ۵۱).

(سپوږمۍ) د وینښتیا پړاو د شعر موتیف دی چې حبیبي صاحب هم په دغه سرلیک (سپوږمۍ ته) نظم ویلی دی او د زړه خواله ورسره کوي:

د آسمان سپینه سپوږمیه          مخ دې روڼ تندی دې وریـن دی
شا و خوا دې پلوشې ځي          په رڼا دې تور بڼ سپین دی
د ویرجنو خواله ګرې          راسه زړه مې ډېر غمګین دی
راسه زما ګرانې پی مخې          چې یو دم د زړه خواله کړو
سره کښېنو لاس تر غاړه          خوا به خوا سره پاله کړو
(حبیبي، ۱۳۹۳ل، ۵۱).

د ټولنې پر مظلومانو د زړه درد لړل یې په لاندې قطع کې ولولی:

دا دختو زړه زړه نه دی          زړه هغه چې څه دردمن وي
مینه سوی پکې پراته وي          لړد بل په غم غمجن وي
(حبیبي، ۱۳۹۳ل، ۹۲).

یو والي ته رابلل د وینښتیا پړاو بل موتیف دی چې حبیبي صاحب یې په تړاو لاندې شعر ویلی دی چې د (طلوع افغان) څورلسم کال (۱۳۱۶ل) په (۴۷مه). ګڼه کې ویل شوی دی:

چې ملګرییو د لارې یو ټاټوبی یو مو کور          نه به ته درومې له ما نه نه به زه درومم بل لور
ته زما یې زه خو ستا یم بیلتون چېرته در نه کړمه          د پښتون ښکلیه زلمیه یې زما د سترګو تور
د وینښتوب شپېلۍ چغېږي لاس په لاس را کړه دلبره          نن پر هسې لارې یون دی چې پرې تلې جوپې د غور
د دنیا دود و دستور دی څوک چې زیار کاږي لوړېږي          دا نړۍ د زیار انګړ دی پکې نسته سپین او تور
(حبیبي، ۱۳۹۳ل، ۶۲ او ۶۳).

د عبدالحی حبیبي د شعر ژبه روانه او ساده ده، خپل پیغام د شعر په ښه خپل ولس ته د ولس په ژبه رسوي.

**۴. ۳. ۳. ۵. موسی شفیق**

موسی شفیق د مولوی محمد ابراهیم کاموي زوی نوموړی پر (۱۳۴۸هـ / ۱۳۰۸ل) کال په کابل کې زیږېدلی دی خو ابایي ټاټوبی یې د ننگرهار کامې ولسوالي ده. لومړنۍ زده کړې یې په کامه او کابل کې کړې دي خو بیا د پلار په خوښه د ننگرهار ولایت په نجم المدارس کې دوه کاله زده کړې وکړې تر دې وروسته بیا د کابل ولایت په دارالعلوم کې خپلې زده کړې سر ته ورسولې، تردې وروسته په شاهي دارالتحریر کې په دنده و گمارل شو او بیا د پوهنې وزارت له خوا نورو زده کړو لپاره مصر ته لاړ او په عدلي چارو کې لیسانس او ماستري وکړه. له امریکا حخه یې په مقایسوي حقوقو کې د ماسترۍ بل سند واخیست. مصر او امریکا ته د سفر پر وخت د نوموړي په فکر کې نور تغییرات هم راغلل.

نوموړی پر (۱۳۸۳هـ / ۱۹۶۳ز) د عدلیې وزارت مرستیال و گمارل شو، د اساسي قانون د جوړېدو پر مهال د دغه کمیسیون فعال غړی و، پر (۱۳۸۶هـ / ۱۹۶۶ز) د بهرنیو چارو وزارت مشاور، بیا په قاهره کې سفیر او (۱۹۷۱ز) کال د بهرنیو چارو وزیر شو، یو کال وروسته صدراعظم و ټاکل شو. پر (۱۳۹۳هـ / ۱۹۷۳ز) کال د داوود خان د کودتا په شپه و نیول شو چې تر (۱۳۹۶هـ / ۱۹۷۶ز) کار پورې بندي و. کله چې خوشې شو بیا پر (۱۳۹۸هـ / ۱۳۵۷ل) کال د خلقیانو په کودتا کې ونیول شو او اعدام شو. (باجوړی، ۱۳۹۷ل، ۹۹ ــ ۱۰۱).

ښاغلی عبدالروف بېنوا د نوموړی د شعری ټوگې (پیغام، ۱۳۳۷ل) په سریزه کې لیکي: "یو وخت و چې شفیق د سپېڅلي طبیعت په غېږ کې د قدرت د مناظرو ننداره کوله او کله چې به دې ننداري د ده د شاعرانه احساساتو ببړۍ طفاني کړه نو خپل تأثرات به یې د شعر په الفاظو کې نغښتل او خپلو همزولو ته به یې د ییبعي پیغام په توگه وړاندې کول.

بل وخت چې شفیق له طبیعته جمعیت ته را کوز شو او په ټولنه کې یې قدم کښېښود، اجتماعي دردونو دردمن او له دردمنو زړو سره یې ملگری کړ نو د نورو حساسو او ویښو شاعرانو په څېر یې د ماحول اجتماعي دردونه پخپلو قومي ترانو کې خپل قوم ته د اجتماعي پیغام په شکل څرگند کړل.

بیا داسې وخت راغی چې شفیق د نوې دنیا او عصري ژوند سره اشنا شو، له ملیت نه یې بشریت ته سترگې وا وښتلې او د ده شاعرانه ملي پیغام د بشري پیغام رنگ و موند چې د ده اوسنی اثر د ده د حساسیت د ژوند مختلفو دورو د تأثراتو ښه نمایندگي کوي. "(شفیق، ۱۳۳۷ل، الف).

ښاغلی موسی شفیق بیا د خپلې دغې ټولگې په تړاو لیکي: " دا سندرې چې د یو مات زړه د بې سوره رباب د اوم غړو تارونوپه تال چې هغه د یو سرشار او تپېدونکي ذوق په تېره شاباز ترنگېدلي ویلی شوي دي، زما غوندې د یو ارزومند او ارمانجن شاعر اسرې، زما اوښکې، د ضمیر آواز او د خیال گلونه دي، لکه څنگه چې شعر ا شاعري د حسن او جمال او د قدرت د رنگین تکوین سره غاړه غړۍ ده نو ځکه شعر او ادب وچ په وچه یوازې خشکې فلسفې ته خاصول زما په خیال له ادب او شاعرۍ سره یوه لویه گناه ده. به همدې لحاظ په دې مجموعه کې د عصر حیات او محیط د القایي مضامینو یا د ملي او قومي احساساتو نه پرته د شعر او ادب د حقیقي

دوستانو او د حسن او جمال د هوا خواهانو د خوش طبعی لپاره د مینې او محبت یا په بل عبارت د عشقي او تغزلي اشعارو چاشنی هم تیاره شوط ده. "( شفیق، ۱۳۳۷ل، ۲).

ښاغلی پوهاند دکتور بریالی باجوړی یې د شعر په تړاو لیکي: " د شفیق د شعر او کیسې موضوع د پښتون اولس یو والی او د هېواد پرمختګ د خرافي دودونو غندل او د اولس اصلاح عمده ټکي دي. "( بریالی، ۱۳۹۷ل، ۱۰۱).

د موسی شفیق په شعر کې مینه او د ټولنیزو ناخوالو پر وړاندې مبارزه غبرګه شوې ده چې ښکلا خوښونکي او ریالستان دواړه پرې خپله تنده ماتولی شي. د سبک له مخې چون دی هم د ویښ زلمیانو د خوځښت غړی و نو د موضوع له مخې یې سبک څرګند دی، ژبه ساده کاروي.

د افغانانو یووالی د دغه پېر موتیف دی چې د موسی شفیق په لاندې قطع کې یې لولو:

کاشکې مړ وی چې مې هېڅ نه وی لیدلي / دا د ستا پـه مـرگ حساب ژونـدون افغانـه
نـه شرمېـږې ټـول قومونـه سره یـو شـول / تــه شــکېدلې تنــی ګرځــې پرېشــانه
(شفیق، ۱۳۳۷ل، ۱۷).

خپلواکي غوښتل

اور په ژوندون پورې کړه چې نه وي آزادي پکې / ورکه شاعري کړه چې مسلک ور سره نه وي
(شفیق، ۱۳۳۷ل، ۳۷).

حماسي شعر او قومیت پالنه

ما چې سر وهلی څو څو ځلې له هر چا سره / شته مې خاطرې د تورې اوس هم لا دنیا سره
تنګ که نارینتوب غواړي نو کان یې دی له ما سره / زه علاقــه منــد یمــه د قــوم لــه اعــتلا سره
فتحه مې نصیب ده قدرت تل یمه بر کړی زه / دې دنیا ته خدای یم د نا موس مثال ورکړی زه

کور مې د زړه تود دی په تو دو جذبو د قام د عشق / زه د قام پـه مینـه کـې ختلـی پـه بـام د عشـق
مینې دې پښتونه نښلولی یـم پـه دام د عشـق / غواړم په قومي عروج رڼا تیاره ماښام د عشـق
ګرځم سرګردانه لی په لی قـومي اخـتر پسـې / ځان سره چې راوړي سعادت هغه سحر پسې
(شفیق، ۱۳۳۷ل، ۵۰).

د ښاغلي موسی شفیق د شعر موخیز موتیفونه (د زلمو ترانه). کې ښه تر سترګو کولی شو:

لکه نسیم د باغ ګلونو تـه پیغـام دی زمـونږ / هدف د کار او د خدمت وطن او قام دی زمونږ

مونږه افغان ته یو قوي ملي وحدت جوړوو / د تفرقې د امتیـاز پـه کـور قیامـت جـوړوو

وراني ويجاړې د وطن په خپل همت جوړوو  عدل انصاف او مساوات روح د نظام دی زمونږ

مونږه په دين په مليت باندې خپل سر ورکوو  د جفا غشو له سنګر غوندې ټټر ورکوو
واړه افغان ته د نهضت نوی خبر ورکوو  عقيده پاکه پاک ايمان پاک يه پاک اسلام دی زمونږ

مونږه تعميم د معرف په خپل وطن کې غواړو  نوی آهنګ نوی ژوند به خپل چمن کې غواړو
دشمن د حق او حريت سر په کفن کې غواړو  خدمت د قام ته چې ولاړ وي پرې سلام دی زمونږ

وطننه بد بد رواجونه رسومات ورکوو  رنځونه ولړې بې علمي او خرافات ورکوو
د کار له منځ منځ نه بې ځايه سکنات ورکوو  بنا پر حسن اعتماد باندې مرام دی زمونږ

ظلم رشوت تملق دروغ او خيانت نه منو  غواړو په زړه کې درد او رحم قساوت نه منو
سره همدرد يو بې دردي په رسميت نه منو  ملا عالم مخلص خادم ته احترام دی زمونږ

مونږ په ايشيا کې يو مسعود افغانستان غواړو  په پښتونخوا کې يو آزاد پښتونستان غواړو
اباد به صلح و امنيت باندې جهان غواړو  ټينګ د سنجش فکر و تدبير په لاس زمام غواړو

ملي مفاد په شخصياتو مقدم دي مونږ ته  حکم د دين عالم او مشر محترم دي مونږ ته
دفع دظلم په بل ظلم هم ستم دی مونږ ته  د قوم خادم چې وي هغه زلمی امام دی زمونږ
(شفيق، ۱۳۳۷ل، ۵۲ او ۵۳).

**۴. ۳. ۳. ٦. سليمان لايق**

د سليمان لايق اصلي نوم غلام مجدد د خليفه عبدالغني زوی په ختيه سليمان خېل دی. نوموړی پر (۱۳۴۹هـ / ۱۳۰۹ل) کال د ميزان پر (۲۲مه). د کتواز په شرنه کې زېږېدلی دی، لايق د ويښتيا د پړاو ستر شاعر او د اوښتون پړاو د شاعرانو لارښوونکی مثال او مشال دی. د لايق ډېری شعرونه د ګوندي ايډيالوژۍ په خم کې رنګ شوی دي.(روهي، ۱۳۸۴ل، ۱۱٦).

د نوموړي د شعر منځپانګه هم د هېواد د ناخوالو کيسې لري او هغه ارمانونه چې د يوې ټولنې د پرمختګ سبب کرځي د ده به شعر کې را ټوکېدلي دي. د شعر په تړاو يې لطيف بهاند ليکي: " لايق چې د خبلې ژبې، خوږې اداګانې، تر ټولو عاطفي احساسات، د کليوالو نارو نازک خيالونه، د غرونو او درو د مستو شپنو د دروو نه تکرارېدونکې نغمې، د غرونو غرېدونکې چوبتيا، په دې غرونو کې د مېشتو ګېډړو، زمريانو، لېوانو او يا مستو نه

ابلېدونکو زلميانو اوازونه، د ويالو او دريابونو د سپېځلاوبو د مستو څپو د غېږ په غېږ کېدو مينې، د تورو، سپينو، سرو او خړو وريځو پای ته نه رسېدونکې منډې، ګواښونه، غضبونه، او يا بارانونه ټول او ټول په خپلو شعرونو، په خپلو نارو، په خپلو بيتونو، په خپلو هجوو، په خپلو غزلو او قصيدو کې را مروړلي دي، د خپل شعر ژبه يې داسې رنګينه کړې ده چې د رنګونو هم له هغه نه سترګې سوځي.

د نويو معناوو لټونه په ځانګړې توګه د پوهې وړ خو غوره او له نازکخيالۍ نه د ډکو تشبيهاتو، استعارو او کنايو کارونه، د مفاهيمو ساده بيان ، د ډېرو سوچه ولسي او آن ورکو کلمو يا اصطلاحاتو راوړل، په ځينې وختونو کې مبالغې، اغراق او غلو ته د دغو تشبيهاتو هنري رسول، د شعر په شاعرانه خوږوالي کې د فصاحت او بلاغت په مرستې د ترکيبونو، جملو او بيتونو خوږول، له همدې لغتونو او ترکيبونو شاعرانه امېل جوړول او د هغو اوبدل، د دغو يادوو شويو ټکو په پام کې نيولو سره د شعر ليکل د لايق د شعر او شاعرۍ يو څه ځانګړې ځانګړتياوې دي. "(لايق، ۱۳۸۵ل، ۲ او ۳).

د پورته شعري ځانګړنو په رڼا کې يې د شعر څو بېلګې راوړو؛ د نوموړي د شعر يوه ځانګړنه دا هم ده چې خپل شعر په مينې او مستو بيتونو پيلوي او بيا په پای کې خپل پيغام ټولنې ته وړاندې کوي. د لايق ( يادونه او دردونه) شعري ټولګې په (۴۸تم). مخ کې يو نظم (د رستم لار) تر سرليک لاندې دی چې د پيل بيتونه يې دا دي:

| | |
|---|---|
| نيمه شپه را وخته کوټې ته يوه نجلۍ | پاکه لکه ګل او رمنده لکه هوسۍ |
| ملا باندې يې ځوړنده د ځنو توره توره | شونډو نه يې سره بربښنا خوره د خونکارۍ |
| راغلله ورو ورو لکه دانه بېړۍ ساحل ته | تللې له خپل ځانه مستانه او لېونۍ |
| ورانه له خندا شوه وې يې ګوره لېونيه | نه به تل ځواني وي نه شراب او نه شپې |
| وتړه کتاب شيشه راواخله د شرابو | ځغلي زه يې وينم يو په بل پسې ګړۍ |
| نيسه مې به غېږ کې هسې نه چې خوب مې يوسي | وړی را نه واک دی د شرابو بېخودۍ |

او لايق صاحب ځواب ورکوي:

| | |
|---|---|
| ما په شرمېدلي اواز و ويل افسوس دی | نه لرم توفيق ستا د لبانو د ګرمۍ |
| زه د وچو دښتو لمر وهلی پوونده يمه | چېرې وچ اغزی چېرې د ګل تازه غوټۍ |
| شرم را ته برېښي چې چې دې خوله په شونډو کېږدم | څترې مې د ولس سترګې لا يوه ګوله ډوډۍ |
| زه لا روږدی نه يم په محفل د ښاپېريوکې | خبرې مې له زړه نه لا فرياد د غريبۍ |
| نه ښايي رستم ته چې روان شي د مجنون په لار | زه يو مجاهد يم چېرې زه چېرې شپې |
| | (لايق، ۱۳۸۵ل،۴ او ۵). |

د هېواد د وګړو د راويښولو هڅه يې د (وطن ته). په قطع کې لولو:

| | |
|---|---|
| زما زړه په چيغو چيغو لېونی شو | ولې نه وېښېږې ای ويده وطنه |
| د خوبونو په غفلت کې درنه غوڅ کړل | چا لاسونه چا پښې او چا لمنه |

(لايق، ۱۳۸۵ل،۷).

نوموړی د خپل زړه فریاد او خواله له چونغر سره کوي او د خپل شعر، رازونو او موخو په تړاو ورته وايي:

کـــه تـــه د تېـــرو خـــاطرو پـــلار یـــې یـا ستا پـه غېږه کـې زمـانې دي ویـدې
زمـــا د شـــعر پـــه ناپایـــه سـینـد کـــې د ژونـــد د فکـــر زلزلـــې دي ویـــدې

دا خـــاطرې دا زلزلـــې بـــه څـــه وي کـه نـوی سـوز او نـوی شـور نـه لـري
د ډیـوې تـش خـالي لـوګی څـه پـه کـار کـــه د پتنـــګ لپـــاره اور نـــه لـــري؟
(لایق، ۱۳۸۵ل،٦۷).

د بېوزلو به حال ژړل او تدبیر نیول یې بله موخه ده:

کـــه زمـــانې ســـتا سره لـــوبې کـــړي ســـتا لـــوږ کمرونـــه کـــه کلـــو ځـــپلي
زمـــا تنکـــي تنکـــي او نـــوي افکـــار د کونـــډو رنـــډو اوســـېلو ځـــپلي
(لایق، ۱۳۸۵ل،٦۹).

د پښتون په حال ژړل

څـه سـاده دی دا پښـتون چـې تربګنـي کـا زه د زړه وینـې پـې چښـم دی دښـمني کـا
ځلکو لاندې تر پښو ستوري سپوږمی کړل دی لا دوو مېږو ته ناست دی او شپني کـا
(لایق، ۱۳٦۳ل، ۳).

(دقرباني ضرورت). څلوریزه یې د زړه اواز دی:

سم به نـه شي څـو یـې مـات نشي هډونـه دا ظلمونـــــه دا فتنـــــې دا ګذارونـــــه
دا ټیټ شوی سر به جګ نه شي د خلکو څـو ورنـه کـړي قربـاني کـې خپـل سرونـه
(لایق، ۱۳٦۳ل، ۴).

**۴. ۳. ۳. ۷. عبدالله بختاني خدمتګار**

عبدالله بختاني د ملا آغاجان زوی د ننګر هار د سره رودولسوالۍ د بختـان کـلي اوسـېدونکی پـر (۱۳۴۵هــ / ۱۳۰۵ل) کال پیدا شوی دی. له اووه کلنۍ بیا تر شپاړلس کلنۍ پورې د ننګهار په مدرسو کې په پښـتو اوفـارسي ژبو ادبي، ټولنیزاو دیني متداوله علومو زده کړې تر سره کـړې. نومـوړي لـه واړه ماموریتـه بیـا د پښـتو ټـولنې پـه بېلابېلو خپرونو کې د مسوول په توګه دنده تر سره کړې ده. (بېنوا، ۱۳۴۰ل، ۱۱٦).

عبدالله بختاني خدمتګار په ځینو شعرونو کې (نصر افغان) تخلص راوړي چې په یـو نظـم کـې یـې د توشـېح بدیعي جوړښت یه ښه هم راوړی دی:

دا څنگه مسلمان یې چې قران نه پېژنې
په بنه د سړو یې خو انسان نه پېژنې

له ځانه خبر نه یې رقیبان در پورې خاندي
خبر به کړي یاران (نصر افغان). نه پېژنې
(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۲۰).

نوموړی د شعر په تړاو ښاغلی پوهاند دکتور بریالی باجوړی لیکي" په شعر کې یې د مظلوم ولس د ناخوالو انځورونه ډېر دي او د ویښتیا له مرامونو سربېره په راوروسته کې د مترقي مفکورې څرگندونه کوي. د غزل، مثنوي، قصیدې، او چاربیتې به فورمونو کې یې شعرونه ویلي دي. " (بریالی، ۱۳۹۷ل،: ۱۴۰).

نوموړی په عربي اوروسي ژبو هم پوهېده او ژباړې یې ترې کولې، په خپل ژوند کې یې په سلگونو آثار د څېړنې او پنځونې په برخه کې ولیکل او د عمر تر پایه یې ځان (ویښ زلمی). باله.

عبدالروف بېنوا یې پر تړاو لیکي: " ښاغلی بختاني په پښتو کې ښه روان نثر او ښې ادبي پارچې لیکي، شعر یې هم سلیس او له ښو بشري او ملي احساساتو ډک دی، د ده د مقالو زیاته برخه ادبي او اجتماعي رنگ لري خو په اشعارو کې یې اولسي او وطني رنگ زیات ښکاري په تېره بیا انتقادي او انتباهي خواته زیاته هڅه کوي. "(بېنوا، ۱۳۴۰ل، ۱۱۷).

د بختاني د شعر په تړاو ښاغلی گل پاچا الفت د(تقریظ). تر سرلیک لاندې لیکي: " د بختاني په شعر کې ساده گي، رواني او له ژوندانه سره ښه ارتباط شته، ځکه یې ښه گڼم او په ښه نظر ورته گورم.

زه په شعر کې جرأت او جسارت هم خوښوم او د اجتماع سترگو ته خلی ور وړل ستایم، په دغو اشعارو کې دغه صفت موجود دی او د وطن مینه، د ملت احساس، په خوار غریب باندې زړه سوی پکښې ډېره اغېزه لري. د دې اشعارو یو ښه اړخ دا دی چه اسلامي او پښتني رنگ پرې غالب دی او اصلاحي جنبه یې زوروره ده، که بختاني د چا په عقیده له گلونو نه ښکلې دسته د نمود او د نظر د خوشحالی لپاره نه وي جوړه کړې نو د دردمنو زړونو د علاج لپاره خو یې گل قند جوړ کړی دی. د بختاني اشعار ساده دي، مگر د ساده گانو له فکر او فهم نه لوړ دي. . "(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، الف).

بختانی د بدیعي جوړښتونو ځینې برخې په قصدي ډول په خپلو شعرونو کې راوړي دي نو په شعر کې یې ځای ځای بدیعي جوړښتونو خپله ښکلا را څرگنده کړې ده. د شعر د ځېلونو له مخې ولسي۔ گډ او له غرب څخه راغلي ځېلونه د خپل خیال د څرگندولو لپاره کاروي.

موږ مخکې و ویل چې بختانی د ویښ زلمیانو فعال غړی و او په دغه لاره کې یې د ژوند تر پایه ځان زلمی گاڼه نو د لاندې غزل (یاره). په بیتونو کې یې مینه او د قوم حالت په یو بیت کې سره غاړه کړي دي چې دا د ده د ځانگړي سبک یو توکی دی:

داغ مې په زړه کې پیدا شوی ستا له خاله ځنې
پکې داغونه نور هم شته د قام له حاله ځنې

که رنگ مې زیړ دی ستا د سرو شونډو شربت په تمه
نور هم زېړېږم د سرو سترگو له احواله ځنې

شمه پرېشان چه دا ستا زلفې شي پرېشانې په مخ لا ډېر پرېشان شم د پرېشانو له جنجاله ځنې

(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۱۵۶).

پښتو ژبې ته خدمت کول د نوموړي د سبک یوه بله سبکي ځانگړنه ده:

ژبه مې پښتو ده په پښتو باندې گړېږمه لوړه به پښتو کړم له پښتو ځنې ځارېږمه

(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۱۴۶).

د ټولنې د مظلومانو اواز پورته کول یې بل سبکي توکی دی، پته دې پاتې نه وي چې نوموړی د ویښ زلمیانو موخو ته ژمن دی او د شعر کعنوي سبکي توکي یې ډېری همدا دي:

د خـــوار یتــیم او د گـــدا پـــه خـــاطر د هـــر غریـــب او بېنـــوا پـــه خـــاطر

پـــه پرهـــرو یـــې ملهمونـــه کېـــږدی د زخمـــی زړه د تمنـــا پـــه خـــاطر

پـه بـې دردی ورپـورې مـه خانـده نـور د دردمنـــــــدانو د ژړا پـــــــه خـــــــاطر

(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۱۴۳).

د پښتونستان مسئله هم د ویښ زلمیانو د مرام یوه ماده وه او بختاني پرې د (گران پښتونستان زما) تر سر لیک لاندې نظم لیکلی دی:

یې وطنه جان زما ښکلی گلستان زما

زه در نـه ځارېږمـه گران پښتونستان زما

گران پښتونستان زما

یـې د ننگیـالو وطـن یـې د پتیـالو وطـن

څومره راته گران یې تـه یـې د زمریـالو وطـن

گران پښتونستان زما

(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۵۹).

خپل دریځ په (فتوا) نظم کې ټولنې ته وړاندې کوي، او د ټـولنې پـه ځینـو خلکـو نیوکـه کـوي چـې انتقـادي ریالېزم ورته ویلای شو:

رښـتیا رښـتیا بـه وایـو تېـر ابسـتل نـه دي روا پښـتون تـه لـه پښـتو نـه تېرېـدل نـه دی روا

چه دار ته ختی نه شي او په ځان یې زړه خوږېږي نـاري د انـاالحق ورتـه وهـل نـه دي روا

د لوبـو او د فکـر او عمـل ځایونـه بیـل دي د قـام پـه سرنوشـت لـوبې کـول نـه دي روا

دنیا کې ازادي ده خو په هېڅ دیـن و آییـن کـې انسـان تـه د انسـان سر ټیټېـدل نـه دي روا

پیسې چه نه شی سر نه سر ناموسه ځنې ځار د سر او د پیســو خوشــې ســاتل نــه دي روا

رشوت پسې روان که په رشوت باندې قـاضي شـو هغـه لـره قـاضي صـاحب ویـل نـه دي روا

د گټـې او تـاوان بـازار تـه ځـیر شـه سـوداگره ایمـان خـو پـه لـیلام کـې خرڅـول نـه دي روا

چه مست او نېشه گرځي او بېوزلو پـورې خانـدي پـه هـېڅ شـان لـه هغـو سره خنـدل نـه دي روا

پـه روح د محبـت چـې زنـدگي یـې نـه وي تېـره پـــر قـــبر د هغـــه ســـرې ژړل نـــه دي روا

ډاکـتر ویـل شرابـو کـې شـفا د کـم خـونی ده
مـا وې د غریبـانو وینـې څښـل نـه دي روا

گنـاهو تـه گنـاه ویـل چـې چېرتـه وي گنـاه
شـاعره! هسـې ځـای کـې چوپېـدل نـه دي روا

روا او نـاروا و کـې مـلا مسـئلې وکـړې
زه لنـډه گنـډه وایـم ځـورول نـه دي روا

ملگـري زر راویښ کـړه بختانیـه پـه نغـو
رښـا چـې اوس خـوره ده وېډېـدل نـه دي روا

(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۴۵ او ۴۶).

قوم پالنه یې د شعر سبکي توکی کېدای شي:

د قام مین که خوار و زار وي، وي دې کنه
که رقیبـان ورتـه پـه قـار وي، وي دې کنـه

(خدمتگار، ۱۳۴۲ل، ۳۳).

**۴. ۳. ۳. ۸. عبدالروف قتیل خوږیانی**

نوم یې عبدالروف، تخلص یې قتیل او په قام خوږیانی دی او له همدې کبله له خپل تخلص سره خوږیـانی یو ځاي لیکي. پلار یې محترم محمد سرور دی او په(۱۳۴۸هـ / ۱۳۰۸ ل) کال د خوږیانیو په کېره کې زیږیـدلی دی. لومړنی زده کړې یې د کېږې په لومړني ښوونځي او ثانوي او لـوړې زده کـړې یـې د پغـمان د شرعیـاتو ابـو حنیفه مدرسه او د شرعیاتو په پوهنځي کې ترسره کړې دي.

د خپل ماموریت لومړي لس کاله یې په معارف کې د ښوونکي، سرښوونکي او مفتش په توگه کـار کـړی او په (۱۳۸۳هـ / ۱۳٤۲ل) کال د پښتو ټولنې د زیرې د اوونیزې د مدیر او بیـا د پـوهنې وزارت د تـالیف او ترجمـې ریاست، د پوهنې د مجلې مدیر او چلوونکی ټاکل شوی دی. په(۱۳۸۴هـ / ۱۳٤۳ل) کال د اطلاعـاتو او کولتـور وزارت په وړاندیز هغه وزارت ته تبدیل او د هېواد ورځپاڼې د تدقیق او څېړنې د مدیر په توگـه یـې پـه کـار پیـل وکړ، د (۱۳۸۸هـ / ۱۳٤۷ل) کال د سنبلې په میاشت کې د ننگرهار ولایت د اطلاعاتو او کولتور د لوی مدیر او د ننگرهار ورځپاڼې د مسوول چلوونکي په حیث مقرر شو. په (۱۳۹۱هـ / ۱۳۵۰ل) کال کابل ته تبدیل او د اصلاح ورځپاڼې د پښتو څانگې د مدیر په حیث وټاکل شو. د (۱۳۹۲هـ / ۱۳۵۱ل) کال په وروستیو میاشتو کې د دوه یم ځل له پاره د ننگرهار د اطلاعاتو او کولتور د لوی مدیر او د ننگرهار ورځپاڼې د مسوول چلوونکي په توگه مقرر شو. په (۱۳۹۴هـ / ۱۳۵۳ل) کـال د فـراه ولایـت د اطلاعـاتو او کولتـور د مـدیر او د سیسـتان جریـدې مسـوول چلوونکی شو او د (۱۳۹۵هـ / ۱۳۵٤ل) کال د عقرب په میاشت کې د کنـدز د اطلاعـاتو او کولتـور د مـدیر او د کندز جریدې د مسوول چلوونکي په توگه وټاکل شو، چې دا دنده یې تر (۱۳۹۷هـ / ۱۳۵٦ل) کال پورې تر سره کړه. په همدغه کال د جمهوریت د اخبارد پښتو د تدقیق مدیراو وروسته د هیواد ورځپاڼې مرستیال او د (۱۴۰۰هـ / ۱۳۵۹ل) کال د سنبلې په میاشت کې د انیس ورځپـاڼې د مسـوول مرسـتیال پـه توگـه وټاکـل شـو. بیـا د هېـواد ورځپاڼې د ادب او فرهنگ د څانگې مسوول شو. په هیواد کې یې مافوق رتبې ته ترفیع وکړه او بیا په (۱۴۲۱هـ / ۱۳۷۹ ل).کال کې تقاعد ورکړ شو.

د قتیل صاحب شعر د ویښ زلمیانو خوځښت د تاسس (۱۳٦٦هـ / ۱۳۲٦ل) کال سره سم پیلېږیپه پیل کې یې روف بیا بې پروانه او ورپسې قتیل تخلص غوره کړ. پوهاند دکتـور بـاجوړي د نومـوړي د شـعر پـه تـړاو د ښنـوا صاحب لیکنه را اخلي: " ښاغلی قتیل د پښتو ژبې ښه لیکوال او پوخ شاعر دس او اشعار یې هم زیات اجتماعي

دي، د پښتونستان د آزادۍ په لاره کې يې هم په نظم او نثر ډېر څه ليکلي دي. "( بريالى، ۱۳۹۷ل، ۱۸۲ او ۱۸۳).

نوموړی د (۱۴۳۸هـ / ۱۳۹٦ل) کال د ليندۍ پردويمه نېټه د پنجشنبې په ورځ ماسپخين يوه بجه او لس دقيقې له دې فاني نړۍ سترگې پټې کړې دي او په نثر او نظم کې يې د ټولنې د سمون ډېرى آثار موږ ته په ميراث پرېښي دي. لومړی شعر يې د ننگرهار په ورځپاڼه کې پر (۱۳٦۸هـ / ۱۳۲۸ ل) کال خپور شوی چې مطلع يې لاندې راوړو:

د وطن خدمت کومه څومې ساه وي په بدن کې ورنه سر قربانومه څومې ساه وي په بدن کې

که څه هم د ده د شعرونو زياته برخه تغزلی ده خو د ويښ زلميانو د موخو لپاره يې ډېرى شعرونه پر ټولنه انتقادي او انتباهي خوا هم يې هم لري. د بېلگې لپاره يې لاندې شعرونه و لولئ:

که دې رشوت خوړلی نه و پرسېدې به ولې د بل په وينو خمنډکه ټنډېدې به ولې

يا

خلکو دنيا وخوړه مونږه دنيا وخوړو ځان نه خبر نه يو هيڅ چې څه او چا وخوړو

يا

دنيا چې د چا نه وي دنيا څه ورته په کار ده دنيــــــــا د دنيــــــــا دار ده

(زېور، ۱۳۸۷ل، ۲۸۸ او ۲۹۰).

## مخکې به ځو

قدم به په اغزوا وچتوو مخکې به ځو له ستونزو ډکه لار به لنډوو مخکې به ځو
له تورو شپو وتل په ځانځانۍ کې مهال ښکاري لاسونه به يو بل ته ورکوو مخکې به ځو
اغزونه ډکو دښتو کې مزل د قدم وياړدی په ځای به يې گلان زرغونوو مخکې به ځو
باك نشته که ځوانۍ د سروگلانو موخزان شي ژوندون له بيوزلۍ نه خلاصوو مخکې به ځو
شملو د لوپټو د پت په لاره کې سرايښې سرونه به په پت قربانوو مخکې به ځو
د نر ميړني هوډه وطن پت درځنې غواړي غرور د جابرانو ماتوو مخکې به ځو
شملو ته چې سپك گوري په ټيکرو سودا گري کا غوړونه د وختونو تاوه وو مخکې به ځو
په هوډ د شمله ورو مې سوگند دی پورته کړی "قتيله" خپل ارمان پوره کوو مخکې به ځو

## د ننگيالو هوډ

دغه مينه مينه خاوره دا غزل غزل جهان مې دغه وينه وينه زړه مې دغه تن مې دغه ځان مې
دا د ژوند شهيده هيله د بقا لار کې سرلوړې دا د بيټ نيکه سندره دا غورځنگ د پهلوان مې

د ظلمت توري لوخړې دي د تورې لمر څېرلي
د ملالې پاك پړونی د ټوپونو نرميدان مې
دا د نر مېړه سلگۍ مې چې خندا خندا کې لاړه
ترينه ځار ترينه لوگی شه دا هستي مې دا روان مې
هلته پاس د زور کوپړۍ کې د خالد بابا گوزار دی
دغه هوډ د ننگياليو دا غيرت مې دا ايمان مې
دا غيرت غيرت وطن مې هره لويشته يې همت دی
د "قتيل" د ژوند تاتو بی له مېړانې ډك داستان مې

(زېور، ۱۳۸۷ل، ۲۹۴ او ۲۹۵).

پر (۱۳۸۰هـ / ۱۳۳۹ل) کال يې د (جوړ نه يم) تر سرليک لاندې نظم د غزل په څېر کې ږړانـدې کړی دی چې د هغه وخت پر چالاک دوکه ورکوونکي دښمن يې نيوکه کړې ده:

ډېر و ځورېدمه ځورېدلو تـه نـور جوړ نـه يـم
ډېر وکړېدمه کړېـدلو تـه نـور جوړ نـه يـم
مه بلـوه اور راتـه هوښيار شومه ځان نـه سوزم
ډېر وشوزېدمه سوزېدلو ته نور جوړ نه يـم
عقل مې پوخ شوی د ښوېدو سنجش ښه کوم
ډېر و غولېدمه غولېدلو ته نور جوړ نـه يـم
خوشې په ځان ستړی کړي په لار کې کندې مه کنه
ډېر و غورځېدمه غورځېدلو ته نور جوړ نه يـم
بس دی اشنا بس دی چال فرېب کې څه فايده نشته
ډېـر و ربړېدمـه ربړېـدلو تـه جوړ نـه يـم
ټول کړه دام دې ټول کړه زه قتيل ځمکې تـه گورمه
ډېـر و تښـتېدمه تښـتېدلو تـه تيـار نـه يـم

(خوږيانی، ۱۳۷۹ل، ۱۱۴).

په (خلکو دنيا و خوړه مونږه دنيا و خوړو). تر سرليک لاندې نظم کې يې پـه ټولنـه نيوکـه کړې او هماغـه د وينښ زلميانو موخه پر مخ وړې، نوموړی نظم يې پر (۱۳۷۸هـ /۱۳۳۷ل) کال ليکلی دي:

خلکو دنيـا و خـوړه مـونږه دنيـا و خـوړو
ځان نه خبر نه يو هېڅ چې څه او چا وخوړو

خلـک جهـان نـه مخکـې
مـونږ لـه جهـان نـه پـاتې
نـورو گلشـن کـړو تيـار
مـونږ لـه خـزان نـه پـاتې
نـور دعـوه گـير د فضـا
مـونږ لـه انسـان نـه پـاتې
د حرکـت نـړۍ کـې
مونږ يـو لـه ځان نـه پـاتې

خلکو دنيـا و خـوړه مـونږه دنيـا و خـوړو
ځان نه خبر نه يو هېڅ چې څه او چا وخوړو

خلـک سـړو پسـې ځـي
مـونږ د خـرو شـاته روان
برقـي ډېـوې لـري نـور
عـالي قصرونه روښـان
زمـونږ پـه برخـه کـې دي
خـاورين څـراغ او تېليـان
خلـک جهـان جـوړوي
مـونږ د لژتـې مريـدان

حرص و هوس شو غالب خپل اشتها و خوړو
خلکـو دنيـا و خـوړه مـونږه دنيـا وخـوړو

مونږ د تربور په نامه        خپل عزیزان پېژنو
وراره ته وایو دښمن        دا بد گومان پېژنو
نه په وروری یو خبر        نه دا نشان پېژنو
دې جهالت لپاره        کله عرفان پېژنو

د انتها محصل یې په ابتدا وخوړو        خلکو دنیا و خوړه مونږه دنیا وخوړو

پولي پټې له غمه        د ورور د قتل وږي
ژرندې وټې له غمه        د تورو وینو تږي
ډېرې غوسې له لاسه        مونږ پړسولي سږي
مرگ د پښتون غریب ته        پښتون ورغوي مږي

دې جهالت یارانو شام و سبا و خوړو        خلکو دنیا و خوړه مونږه دنیا وخوړو

کچکول تر څنگ گرځوو        شوه ملنگان را نه جوړ
له حرکت لوېدلي        پاخه لټان را نه جوړ
مگر د مرگ لپاره        خاص سره لېوان را نه جوړ
طفیلي ژوند لرو مونږ        شوه تنبلان را نه جوړ

دغه یتیم ژوندانه مونږ بې صدا و خوړو        خلکو دنیا و خوړه مونږه دنیا وخوړو

نه مو ژوندون ژوندون شو        نه له هدفه خبر
په ځای پراته یو واړه        شو ورځ په ورځې بتر
یو هر محتاج ته محتاج        پراته پر خاک خاکستر
د تنبلۍ ښامار دی        زمونږ په ځان مقرر

تحریک درک نه لري لټی په دا وخوړو        خلکو دنیا و خوړه مونږه دنیا وخوړو

ورونو په راز شئ خبر        مدام ژوندون لپاره
وحدت لاسونه ورکړئ        د ژوند سمون لپاره
احساس ژوندی وساتئ        خپل پیوستون لپاره
قوم او ملت کړئ ودان        د ژوند مضمون لپاره

د قتيـل چيغـې واورئ جهـل وبـا وخـوړو خلکـو دنيـا و خـوړه مـونږه دنيـا وخـوړو
(خوږيانی، ۱۳۷۹ل، ۱۱۲).

د قتيل خوږيانۍ د خپل شعر ځېلونه ولسي، مشترک يا عروضي او له غرب څخه راغـلي ځېلونـه خـوښ کـړي دي او د خپل فکر مرغلرې يې خپل ولس ته په ولسي ژبـه وړانـدې کـړي دی. شـعر يـې روان او سـليس دی، د فصاحت په گاڼه يې ښه سنبال کړی دی.

**۴. ۳. ۳. ۹. محمد امين ملنگ جان**

د ويښتيا د پړاو مبتکر شاعر او د پښتونستان د گټلو بې جوړې بلبل د ولسی شاعرانو په استازولۍ دلته در پېژنو. د ويښتيا به پړاو کې په کليـو او بانـډو کـې ولسـي شـاعران هـم موجـود وو چـې د هغـو زيـات شـمېر نومونـه پـه (اوسنی‌شاعران) کې معرفي شوي دي، د ولسی شاعرانبه ډله کې ملنگ جان چې پر (۱۳۳۲هـ / ۱۲۹۳ل) يـې دې نړۍ ته سترگې غړولي دي او ي ځلانده ستوری دی. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۱۴۶).

د نوموړي اصلي نوم محمد امين، قلمي نوم يې ملنگ جان او د پـلار نـوم يـې عبدالشـکور دی، د بهسـودو د چميار کلي اوسېدونکی و. د ملک عبدالشکور جايداد د چاپېريال له ناوړو پېښو او گونديو قربـان شـوی و نـو د دوی کورنۍ د چميار له کلي نه د (پېروړ) کلي ته لاړه او هلته په خواری او مزدوری بوخته شوه، کلـه چـې امـين جان پنځلس کلن شو د کبانو په ښکار او نورو خواريو بوخت ش، بيا د کامې (داربنگ) کلي ته په کډه شـول. د غريبۍ او يتيمۍ دروند پېټی تر ډېره وخته د امين جان پر غاړه پروت و، تر دې چې دده د زړه غم، خفگان او ژړا په موزونو کلمو بدله شوه. نوموړي د خبلو شعرونو په کسر کې د (ملنگ جان) نوم راوړه او بيا په همدې نوم يـې په خلک کې شهرت پيدا کړ. تر شاعرۍ به يېلا شپې مياشتط نه کېدې چې بيرته خپل پلرني کلي (چميار) ته يـې کډه راغله او تر دې وروسته په ولس کې د (ملنگ جان) په نامه مشهور شو. شعر يې د هنرمندانو د وينا له مخـې په ولس کې مشهور شو.

لومړۍ ترانه يې د ښاغلي قيام الدين خادم په (اتحاد مشرقي) کې چاپ شو:

بــاغ دی د توتيــانو نــه پرېـــږدي زاغــان دی پښتون مااليار پکې وژني پرې خپل ځـان

پر (۱۳۶۴هـ / ۱۳۲۴ل) کال د محمد داود خان پام د نوموړي شعرونو ته اوړي او قدردانی يې کوي چې تردې وروسته يې د ملي ترانو په ويلو د ذوق له مخې لاس پورې کړ. د پاکستان تر جوړېـدو وروسـته د پوښتونسـتان د خپلواکۍ غوښتنې مطالبه ډېره توده شوه  چې ملنگ جان ورته بې شمېره ترانې و ويلې. په دغه وخت کـې زمـوږ په هېواد کې د ديموکراسی تازه وږمه چلېدله او د ويښ زلميانو هلو ځلو په افغاني شعر او ادب کـې نـوې لارې پرانسـتې وه.

نوموړی ملي شاعر هم د نورو شاعرانو غوندې د وخت ارزښتمن مسايل پـه خپلـو شـعرونو کـې ځرگنـد کـړ. نوموړي د خپل شعر مضمون د ملي وحدت غښـتلي کـول، د پښتونسـتان غوښـتنه، د علـم او معـارف پراختيـا او پرمختگ، د ظلم او رشوت سره مبارزه او د ناوړو دودونو  او گونديو اصلاح چې ملنگ جان د شـعر منځبـانگيز توکي دي.

نوموړی پر (۱۳۷٦هـ / ۱۳۳٦ل) کال د لړم میاشتې به لسمه د لته بند په سیمه کې د موټر د چپه کېدو په سبب د خپل زوی دواجان چې درنیم کلن و د شهادت جام نوش کړ او په بهسودو کې خاورو ته وسپارل شو.

### ۴. ۳. ۳. ۹. ۱. د ملنگ جان شاعري

د ارواښاد ملنگ جان ژوند له یتیمی څخه پیلېږي، بېوسي یې پالي او په بې کسی د پای ټکی اخلي. نوموړی د بې وسو او بزگرانو له پوړ څخه دی. د شعر پخلی یې پر داسې مهال تر سترگو کېږي چې د هېواد د روڼ اندو او زلمیانو ذهن را بیدار شوی او د رغاونې او خپلواکی لپاره هڅې کوي. په پیل کې د ملنگ جان شعرونه د ولس سندرغاړو په بېلابېلو موقعو له موسیقی سره زمزمه کاوه او ورو ورو یې د پېژندگلو برید ته ورساوه چې بیا د (ملي شاعر) په لقب و نمانځل شو.

### ۴. ۳. ۳. ۹. ۲. د ملنگ جان د شعر ژبنی خوا

نوموړی د بهسودو نالوستی شاعر و، د بهسودو په سیمه کې فارسي او پښتو خوا په خوا او یو بل ته ور غاړه وتي دي چې په دې سره د پښتو پر ژبه یې اغېز لیدل کېږي او له بلې خوا ځینې کلمې چې د عربي او دیني ژبې د اغېز له مخې افغان ولس ته را رسېدلي دي په هغه شان تلفظ یې چې به عربي کې یې غږ دی نه کېږي، بلکې د بېلگې له مخې (ص او ث). په (س) تلفظوي، (ظ او ذ). په (ز) تلفظوي او داسې نور، همدا ډول په پښتو ژبه کې د ښځینه او نارینه لپاره په نومځرو، ستاینومونو کې د گردان له مخې توپیر پېښېږي چې د ملنگ جان په ځینو بیتونو کې هم دغسې گډوډ ځان را څرگند کړی دی. د نوموړي په شعر کې (اعترض). کلمه د (اتراز). په بڼه له (ساز او باز) سره، (میراث) یې له (خاص او قیاس) سره همقافیه کړي دي. د بختاني صاحب به خبره کله کله دپښتو ژبې له گرامري اصولو څخه هم بهر کېده چې د اشعارو دغه برخه یې سمه شوې ده. د شعر ژبه یې ساده او د ولس ژبه ده، همدا لامل دی چې وگړي پرې ښه پوهېږي، ډېر یې اوري او خوند ترې اخلي.

### ۴. ۳. ۳. ۹. ۳. د ملنگ جان د شعر بدیعي وړتیا

په شعر کې عشق ځانگړی مضمون دی چې د تغزل په گانه لوړ پوړ ته رسېږي او هېواد، ملت او ټولنیز مسایل نور مضامین دي. دغه مضامین چې پکې هېوادپالنه، ملت پالنه او ټولیز مسایل مطرح وي په د ښکلا یا جمال په رنگ کې غوټه شوي وي چې ملنگ جان په دغه کار کې بریالی دی. نوموړی لېریک یا عشقي خوا له ټولنیزو مسایلو او حماسې سره غاړه غړی کوي چې دغه ځانگړنه په ډېرو لږو شاعرانو کې تر ستر گو کېږي. د بېلگې لپاره لاندې بیتونه یې راوړو:

| | |
|---|---|
| پتنـــگ د بلـــې شـــمعې یـــار دی | بلبـــــل د گلـــــو خریـــــدار دی |
| د لـــیلا دوه ســـترگې مجنـــون پېـــژني | د آزادی قـــــدر پښـــــتون پېـــــژني |

یا

تـورې نـرۍ وروځـې ولاړه يمـه         در څخه غواړم آزادي د بـاغ گلونـه         تـه کـه زمـا يـار يـې

ملنگ جان د حسن او جمال مينه، د معشوقو مينه او د هېواد او ملت مينه ښه سره يو ځای کـړي چـې بـه دغـه کار سره يې نوی عشق او نوی حسن پنځولی دی. د شعر موتيفونه يې د جنگ ميدا، ډول، په پگړۍ کې د گلانـو ټومبل، د مېړانې په بدل کې د معشوقو د تورو سترگو او سرو شونډو انتظار، د وحدت گلونهـو پـه ننـگ سـترگې تورولـــو پښتونســـتان، پښـــتون، راځـــئ پښـــتنو ورونـــو، خبلـــواکي، تـــوره، پښـــتونواله او نـــور دي.(ملنگ‌جان،۱۳۴۸ل،الف‌ـح).

## ۴. ۳. ۳. ۹. ۴. د ملنگ جان د شعر ځېلونه

نوموړی د خپل فکر د رسولو لپاره عام ولسي ځېلونه ( مقام، داستان، غزل يا بدل، چاربيته، لوبه او بگتۍ ). پـه کار وړي دي. د ملنگ جان د شعرونو ډېری برخه د لرغونو شاعرانو په دوديزو آهنگونـو ولاړه ده او کلـه کلـه د هندی فلمونو د سندرو په پل هم تلی دی، لکه:

زه خـــو عـــار نـــه گـــنم پېغـــور         خوښ يم د يار په نوکری، هو هو هـو.

.

په سندرو کې په ځانگړي ډول د غزلو او لوبو په برخه کې يې نوي وزنونه او آهنگونه هم را منځته کـړی دي. کېدای شي د ملی موسيقۍ وړ کسان او څېړونکی د نوموړي منځته راوړنې ښې و څېړي او حق يـې پـر ځـای کړي. لاندې يې څو بېلگې راوړو:

غزل

يا الهي تا چې زه جوړ د عشق نوکر کړمـه

لوبه

مينې دې ستي کړم راغلې پـه ايـرو         اوس مې به ايرو کې لاس وهه چې بـاد مـې وړينـه         ستا د مخ پتنگ يمـه

غزل

دا دی د عشـــــــــق قـــــــــانون

په دغه توګه ملنګ جان د لرغونو آهنګونو د ساتلو، پاللو، نوي کولو او د هغو په فني اساس د نويو آهنګونو د پنځولو پر مټ د پښتو ملي ادب او مليموسيقۍ ته د قدر وړ خدمت کړی دی.

**۴. ۳. ۳. ۹. ۵. د ملنګ جان د شعر مضمون**

هر شاعر د خپلې ټولنې له سياسي جوړښت، کلتور، تاريخ، هېواد، ملت، دودونو، اقتصادي او سياسي بدلونونو تر اغېز لاندې وي. څه چې يې په دغه برخه کې درک کړې وي او نوموړی ورسره حساس وي په خپلو شعرونو کې يې را نغاړي.

پورتنی اغېزمنتياوې يوازې د شاعر په ځېلونو کې نه، بلکې د منځپانګې، کلمو او ترکيبونو د راوړلو، همدا ډول د تشبيه، استعارې، سيمبولونو او کنايو کې هم ليدل کېږي او نوښتګر يا لوی شاعران يې د خپلو موتيفونو په بڼه ټولنې ته وړاندې کوي. د لر او برو شاعرانو په شعرونو کې يو جوت بېلتون هم دا دی چې په بره پښتونخوا کې سياسي کشمکشونه د تورو، ټوپکو او توپونو په ډزو کې د خپلواکۍ پوړ ته ځان رسوي او د نړۍ ډېری زبرځواکونه پکې په ګونډو شوی دي نو د دغې سيمې د شاعر په شعرونو کې به حماسي خوا ډېره غالبه وي او تشبيه ګانې او استعارې به يې هم د جنګي افزارو په بڼه ځان ښکاره کوي. د دې پر وړاندې بيا د لرې پښتونخوا د شاعرانو ژبه پسته او نرمه ده د دوی په شعرونو کې ډېر کم د جنګي افزارو نومونه راځي او هغه هم له افغانستان څخه په اغېزمتنيا يې کاروي. لامل يې دا دی چې د هغه ځای شاعر لا د خپلو ورنو، خويندوو ميندو او پلرونو زخمونه او لاشونه د دښمن له لاسه په وينو سره نه دی ليدلي، که و يې ليدل بيا به يې د شعر ژبه او روح په بشپړ ډول بدل شي. د دغو څرګندونو له مخې موږ هم د ښاغلي ملنګ جان شعر په څو کټګوريو وېشلای شو.

**۴. ۳. ۳. ۹. ۵. ۱. عشق يا مينه**

د ښاغلي بختاني په خبره چې ملنګ جان ورته کړې وه( د يتيمۍ، غريبۍ، بېوسۍ او خوارۍ څپېړو دی په چيغو را وستی دی. ). نه دا چې چېرته په سپين مخ عاشق دی، بلکې د د خوار او مظلوم ملت په سپېره رنګ او د ملت د ظالمانو له لاسه د مظلوم ولس په خوارو سترګو مين دی.

ښاغلی پختانی د ملنګ جان د عشقي شاعرۍ په تړاو ليکي: " د شاعر د عشق داستان يوازې د ولسي سمبولونو د بادام او بلۍ له عشقه، د ټيک او پېزوان له سينګاره او د اوربل او پلو له حسن څخه جوړ شوی دی او قهرمان يې د درد او غم، بلا او جفا په اور داغل شوی دی. په ځينو برخو کې يې د تشبيه او استعارې نوی والی هم ليدل کېږي. "( ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ی).

**۴. ۳. ۳. ۹. ۵. ۲. انتقادي او ټولنيز مسايل**

ملنګ جان د خپلې شاعرۍ په لومړيو کلونو کې عشقي، کيسه ييز او صوفيانه خوا ته پاملرنه کوله او د دې تر خوا به يې يوه نيمه هېوادنۍ او يا د پوهې په تړاو ترانې په نظم کولې، لکه:

باغ دی د توتيانو نه پرېږدي زاغان    دی پښتون ماليار پکې وژني پرې خپل ځان

په هېواد کې د وینا د آزادۍ سره یو ځای نوموړي د ټولنې په نیمګړتیاوو، ناوړه دودونو، ظلمونو، بې علمی، ګوندیو، د هېواد به وروسته پاتې کېدو څرګندې نیوکې پیل کړې. په دغه منځپانګه یې ډېرې چاربیتې او لوبې منظوم کړې. په دغه کار سره یې د ولس د فکر په روښولو کې ډېره مرسته وکړه. د نوموړي د شعرونو ارزښتمنه برخه همدا شعرونه دي او به ټولنه یې د ګرانښت بستیز توکی همدا دی.

د ملنګ جان په شاعرۍ کې ډېره برخه د پښتونستان د خپلواکۍ لپاره ځانګړې شوې ده او د نوموړي د شعر دغې برخې په ولس کې یو شور جوړ کړ او د مخالفینو ګرېوان یې څیرې کړ. هما لامل دی چې دی ( دپښتونستان د آزادۍ شاعر). په صفت و پېژندل شو.

د پښتونستان په تړاو یې د یوې چاربیتې څو بیتونه:

سر مې جار ستا له نامه پښتونستانه　　ستا نوم مې نقش شوی په ځیګر دی
پښتانه به ژوندي څه کړي بې له تا نه　　هر یو ایښی ستا په مینه مال و سر دی

په هر ځای کې چې اصیل پښتون زاده وي　　خاص الخاص پښتونستان له خدایه غواړي
هغه څوک چې بې غیرت حرامزاده وي　　ټیټې سترګې به د بل لور ته ولاړ وي
اولاده به یې پس له مرګه شرمنده وي　　دوګـــړو د پیغــور ځنــې بـــه ژاړي
خپل اولاد ته پیغور نه پرېږدي له ځانه　　هغه څوک چې د سوچه پښتون پسر وي
(ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ۵).

د یووالي په تړاو یې لاندې بیتونه لولو:

راځئ پښتنو ورونو چې ملي وحدت تیار کړو　　د زړه پـــه صـــــداقت
نیکونو نه را پاته دا وطن ګل و ګلزار کړو　　ښـــکاره کـــړو لیاقـــت
(ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ۷).

ویده پښتانه ویښول

د افســوس نــارې وهــم پــه زوره زوره　　پښـتانه پـه خـوب ویـده دي نـه بـاخبري
څوی د پلار په لاره نه ځی ورور د ورور　　هـر سـړی د ځـان پـه ګټـه خوشـالېږي
حقیقـت کـې یـو پیـدا لـه یـوې مـوره　　دا وطن دی زمونږ مور که څـوک پـوهېږي
د دې حق مونږ نه تلف خاورې ایرې شوې　　ځکـه لاس د محتـاجۍ نیسـو بـل چـا تـه
(ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ۳۵).

د مینې، هېوادپالنې ګډ انځور راوړل

نوی موسم مې د بهار دی سینې مې و سپړل گلونه
را نه جدا د مینې یار دی ځکه مې ځي په مخ رودونه

دا لبـــاسي زلمـــي بـــه څـــه کـــړم
چــې ډول یــې وي غــیرت یــې نــه وي

خپــل پیغلتــوب بــه پــرې ور نــه کــړم
چــې ډول یــې وي غــیرت یــې نــه وي

تن مې هغه زلمي نه جار دی چې کړی وطن ته خدمتونه
(ملنگ جان، ۱۳۴۸ل، ۷۶).

په یوه نظم کې مجنون د مستعار په ډول د هېواد د خپلواکۍ گټونکي او لیلا د هېواد لپاره استاره کوي:

پـــــاڅېږه مجنونـــــــــه
لیلـی زورگـیره ده سرې شـونډې سره لاسـونه

نن د لیلی په زلفو جنگ دی
مېړنو کړی دغه ننگ دی
ننگیالي گـورم کـړي هـر خـوا تـه غورځنگونـه
(ملنگ جان، ۱۳۴۸ل، ۱۰۱).

د افغانانو په ناپوهی، جهالت او وروسته پاتې والي د سوز ژړا یې په لاندې چاربیته کې ولولئ او د نومـوړي د هیلو شعري انځورونه یې و لولئ:

نــن مــې بیــا زړگــی نــری نــری خــوږېږي
درد مې بیامونده د خیال پـه ننـدارتون کـې

له افسوسه مې چشمان دي په خونبـار گـډ
کاشـکې نـه وای د دې دهـر پـه بـازار گـډ

محترمـــــو اورېــــدونکو عزیزانـــــو
عالیقـــــدر عزتمنـــــدو صـــــاحبانو

زه غمجــن د څــو خــبرو آرزومنــد یــم
آزرده نـه شـئ لـه مـا نـه زه دردمنـد یـم

عفوه غـواړم کـه وینـا کـې مـې تلخـي وي
د مریض په سخت ویل څه نا خوښـي وي

زه دردمنــد یمــه د درد ســندرې وایــم
خــو د زړه دردونـه اوس تاسـې تـه ښـایم

زمــونږ ســترگې لــه غفلتــه نــه غړېــږي
نــن مــې بیــا زړگــی نــری نــری خــوږېږي

تاسـې گـورئ دې دنیـا او دې جهـان تـه
دې کوشش او دې غیرت او دې وجـدان تـه

خیال لری چې په سپوږمۍ کـې ودانـي کـا
پـاس لـه ځمکـې پـه هـوا زنـدگاني کـا

مونږ تر اوسه لا پـه خـاورو کـې تـوغږېږو
د سود خـور و سـودخورۍ نـه نـه خلاصـېږو

ډک ســـیندونه د اوبـــو را تـــه روان دي
خـــو ډاگونـــه د اوبـــو لـــه کمـــي وران دي

خـدای را کـړي ښـه پاسـته پاسـته ډاگونـه
پــــه لکونــــو کروړونــــو جرېبونــــه

افسوس دا چې کمال نشته پـه پښـتون کـې
درد مـې بیامونـده د خیـال پـه ننـدارتون کـې

پښتانه که تول د علم خاوندان شي
په وطن به زمونږ څه لره کاختي وي
وجه دا ده چې کوشش او کمال نشته
هر سړی د ځان ځانې په لور روان دی
که ځانونه معارف سره اشنا کړو
نه به اوسو په احتياج او انتظار ګډ

او ډاګونه تمامي زمونږ ودان شي
د دانو به په مونږ ولې قيمتي وی
د ملت په دې خبرو څه خيال نشته
د مکتب نه او تعليم نه رو ګردان دی
د عرفان په ماميره سترګې بينا کړو
کاشکې نه وای د دهر په بازار ګډ

يو انګريز به بېسواده پاتې نه وي
مونږ په سلو کې پنځه نوي اميان يو
يو انګريز به چا نادان ليدلی نه وي
زمونږ ووړکي ډلي ډلي ناکامېږي
که رښتيا وايم پښتو او غيرت نشته
دا خو مرګ دی چې پښتون زوی ناکامېږي

په خپل علم به نامراده پاتې نه وي
تر دريېم کلي مېرزا پسې روان يو
له مکتب نه به ناکام وتلی نه وي
ناکامی په نوم مکتب نه خارجېږي
د ناکامو په پلرو کې همت نشته
نن مې بيا زړګی نری نری خوږېږي

تمدن اول له بلخه شروع شوی
مونږ نه مخکې خلک مخکې عالمان شول
څلور سوه کاله مخکې زما ګرانه
نن يې فکر اسمانونو ته ختلی
هی افسوس افسوس زمونږ په پښتونواله
يو عالم نه شو پيدا قوم د پښتون کې

جهان پوه نه و له مونږ ځنې پوه شوی
شاګردان د استادانو استادان شول
امريکا ده کشف شوې واوره مانه
تر مريخ او عطارده رسيدلی
نن تعليم له چې مونږ درو مو امريکا له
درد مې بيامونده د خيال په نندارتون کې

که يو توکی له خارج نه نوی راشي
دا خو نشته چې په خپله يې ځان ته جوړ کړو
خپل مالوچ او وړی مونږ لېږو جهان ته
ګز په سل او په نوي يې بيا اخلو
څه پيسې مونږ نه په چای او په سګرټ ځي
له ناکامه يم په شور او په چغار ګډ

اخيستو ته يې زمونږه ميل پيدا شي
په قوت د خپل زحمت سره ځان جوړ کړو
پاو په دوه يا درې خرڅېږي ځي جاپان ته
د بزاز په دکان وار نه وي پرې نښلو
د کال ګټه مو خارج ته په منټ ځي
کاشکې نه وای د دې دهر په بازار ګډ

ښه کانونه په وطن کې خدای را کړي
د پټرو لوښي چيني لرو کاله کې
علم پوهه زمونږ نشته چې يې د ځان کړو
د خارج تيلو نه کار اخلو تر کومه

مګر مونږ د بې علمی سېلاب يو وړي
دروغ نه وايم د ملک هره ناله کې
خپل ځانونه د هستيو خاوندان کړو
نه شر مېږم نه په دې خبره مرمه

ځو به شمېرمه هر شی واړه قیاس کړئ
په نفاق کې عاقبت سړی سپکېږي
خدای لپاره له نفاق نه پورته لاس کړئ
نن مې بیا زړګی نری نری خوږېږي

نور عالم کې رای ګیري چې چېرته کېږي
تر ځلېرویشتو ساعت کار یې تمامېږي
مونږ که نیسو یو وکیل ملي شورا ته
تر پنځو میاشتو جګړه مو نه پرې کېږي
چې زمونږ د بارسوخو دا روزګار دی
له دې غمه اور مې بل شي په لړمون کې
یو ریس یا یو واکمن چې غوره کېږي
په یو تن به قناعت د تمام قام وي
ته به ما ته غاړه نه ږدې زه به تاته
په ګوندۍ سره به پسونه حلالېږي
نور د عامو ځنې څه ګیله په کار دی
درد مې بیامونده د خیال په نندارتون کې

ای پښتونه ور شه کښېنه سینما ته
نورو خلکو له کارو نه ځان خبر کړه
په دنیا کې هسې رنګه ډاکتران دي
خو زمونږ ماته باجه دوکړه رباب دی
خان ملک زما په غم کې د رشوت دی
و مې نه لید په خدمت کې خدمتګار ګډ
چې وضعیت د نور عالم ښکاره شي تا ته
بیا دې خپل موجوده حال و ته نظر کړه
په هر فن کې دوی غښتلي ماهران دي
هغه هم کله موقوف کله آزاد دی
شیخ صاحب مې را ته وایي جوړ قیامت دی
کاشکې نه وای د دې دهر په بازار ګډ

که څه نه وایم له درده ټول پړسېږم
دا زمونږ د پښتنو ځینې خانان دي
کله کله تمانچه ور ته تر څنګ کا
نو د هغه خان به څه د خانۍ خوند وي
دې عمل او دې کارو ته چې نظر کړم
په قسمت کې چې څه وی هغه رسېږي
که څه وایمه خدای شته دی چې وېرېږم
شپه او ورځې د پی مخو ملنګان دي
دا لا بله په خپل ځان باندې ریشخند کا
چې په مینه د پی مخو کې دی بند وي
څه امید به له غریب او زورور کړم
نن مې بیا زړګی نری نری خوږېږي

بیا د ځینو حاکمانو به څه وایم
په شنو لښتو یې تمام کنډو کپر یم
حاضرینو نه حیا راځي شرمېږم
په اخلاص سره لاسونه کړئ را پورته
خدایه ته مو د حسد تبه سړه کړې
د تیارې له جهالت نه مو بېرون کې
خپه نه خیر دی زه ترېنه رضا یم
پاکه خدایه زه انسان یم که ډنګر یم
عفوه غواړم په همدې ځای به یې پرېږدم
په زارۍ په استغفار شئ د خدای لور ته
د دې ورږو خلکو ته ګېډه مړه کړې
درد مې بیامونده د خیال په نندارتون کې

د نفـاق مکـروب مـو و وژنـي رګـو کـې
خدایه ته په خپل کـرم سره مـونږ پـو کـړې

پښـتانه د کارخـانو ټـول خاونـدان کـړې
شاګردان مې د مکتب ټـول استادان کـړې

افغـاني سـاخت ماشـینونه را ښـکاره کـړې
ټـول جهـان مـې د کـمال پـه ننـداره کـړې

الهـــي ســـتا د حبیـــب لـــه برکتـــه
د پښـتون جنـډه دنیـا تـه نـه کـړې ښـکته

غــم زده د زمـــانې زه ملنـــګ جـــان یـــم
ترقـــي د پښـــتنو تـــه پـــه ارمـــان یـــم

دروېزګـر یـم پـه هـر در پـه هـر دیـار ګـډ
کاشـکې نـه وای د دې دهـر پـه بـازار ګـډ

(ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ۲۳۱ ــ ۲۳۵).

لنډه دا چې د ملنګ جـان شـاعري د فولکلوري سـندرو ډېـره وروسـتۍ او غـوره بېلګـه ده چـې د کلاسـیکو تحریري ادبیاتو څخه یې هم اغېزمن دی. په دې توګه د نوموړې شاعري د فورم او شکل له مخې د ډېرو لرغونو دودونو په زړه پورې بېلګه ده او د پرمختللو ارمانونو د هېواد د پرمختګ، د خلکو د پوهې او روڼ فکری د تبلیغ، له ظلم او ښکېلاک سره د مبارزې او د ملي خپلواکۍ د پیغـام د لـوړو عـالي معـاصرو مسـایلو د ترسـیمو تلقـین، تصویر او انعکاس ډېر ښه مثال ګڼلی شوو. (ملنګ جان، ۱۳۴۸ل، ل او م).

د ویښتیا پړاو د نورو درنو او ښاغلیو شاعرانو پوهاند صدیق الله رشتین، علامه پوهاند عبدالشکور رشـاد، سـید شمس‌الدین مجرح، عبدالرحمن پژواک، سید بهاءالدین مجروح، عبدالله غمخور، دوست شینواری، سـعدالدین شپون، محمد صدیق پسرلي، مجاور احمد زیار، نصرالله حـافظ، امـان اللـه سـیلاب سـاپي، حبیـب اللـه رفیـع او عبدالباري جهاني د شعرونو د سبک له مخې و څېړو.

## ۴. ۳. ۴. د ویښتیا پړاو د شعر جولیز او مانیز ځرنګوالی

د ویښتیا پړاو شاعرانو د خپل فکر او موخې د لېږ لپاره له غزل، نظم، قطعې، څلـوریزې، مثنـوي، آزاد نظـم او آزاد شعر څخه کار اخیستی دی. موږ مخکې و ویل چې د روښانتیا، ویښتیا او اوښـتون درو واړو پړاوونـو کـې د (غم جانان) پر ځای (غم دوران) په پام کې نیول شوی دی او د غزل پر نازک اندام د ټولنې ناخوالې انځور شوې دي. دوی ډېری شعري څېلونه هماغه د ګډو نظمونو یا عروضي څېلونه کاروي خو منځپانګه یې د ژوند مسـایلو ته ځانګړې کړې ده.

کله کله پکې ولسي څېلونه هم را مخې ته شوي دي او د ملنګ جان نظمونه خو ټول په ولسي څېلونـو کـې د هېواد درد موږ ته را لېږدوي.

دا چې د ویښتیاپړاو ډېری شاعران د ویښ زلمیانو په ګوند پورې تړاو لري نو د منځپـانګې لـه مخـې هماغـه د ویښ زلمیانو مرامونه او موخې په خپله لمنه کې، لکه (اداري فساد غندل، بیروکراتیزم، اختناق، فردي حکومـت، ارتجاع، ظلم، زېښناک او نور). را نغاړي او د له منځه تلو لپاره یـې مبـارزه کـوي. د دغـه پـړاو د شـاعرانو سـبک انتقادی ریالېزم دی چې په ټوله کې انتقادي میتود یا ښوونځی ورته ویلای شو.

د دغه پړاو د شاعرانو ژبه ساده او روانه ده. هر شاعر خپل فکر د ولس په ژبه ولس ته وړاندې کړای دی، ادبي فنون لکه تشبېه، استعاره، کنایه، سیمبول او بدیعي جوړښتونه پکې په ارادي ډول نه دی راوړل شوي. کـه ځینـې ځای راغلي دي بیا هم د ولس له پوهنیزې کچې لوړ نه دي.

## ۴. ۳. ۵. د ویښتیا پړاو ګڼې ژبنۍ سبکي ځانګړنې

د ویښتیا پړاو شاعران کوښښ کوي خپل فکر د شعر په ژبه په ساده ډول د ولس دپوهې په کچه وړاندې کړي خو بیا هم پکې ادبي تلازمات لاره پیدا کوي، پر بدیعي جوړښتونو سربېره نور بلاغي توکي هم پکې خپـل اغېـز ښندي او کله یوازې د پیغام رسولو ژبه شي چې په وزن او قافیه پای مومي او کله په ډېره نرمه خوږه ژبه ټولنه را ویښوي.

## ۴. ۳. ٦. د ویښتیا پړاو ګڼې موضوعي او ادبي سبکي ځانګړنې

د ویښتیا د پړاو ادبي سبک انتقـادي ریـالیزم دی چـې پـه عمـده توګـه د اداري فسـاد، بـیرو کراسي (انتصـابي حکومت، وخت ضایع کول، کاغذ پراني، سرګرداني)، اختناق، اتوکراسي لکه (مطلقه شاهي نظام چې د یو کـس حکومت وي)، ارتجاع، ظلم او زبېښاک پر ضد مبـارزه پکـې مـنعکس شـوې ده. همـدا ډول د دغـې دورې پـه ادبیاتو کې د پښتنو او بلوڅو د ملي خپلواکۍ ښونکي خوځښت، د ښځو د دیموکراتیکو حقونو، ټولنیزو سیاسي ریفورمونو (سمونو)، د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره مبارزه د یادونې وړ ده. د ویښتیا دورې په ادبیاتو کې کله ـ کله د سوسیالستي ریالېزم بېلګې هم لیدل کېږي خو د دغه وخت برلاسی ادبي میتود یا سبک انتقـادي ریـالېزم دی چې د شعر، لنډې کیسې، ادبي ټوټو، ډرامې، طنز او ادبي مقالو په بېلابېلو ژانرونو کې یې ځان ښودلی دی.

د ویښتیا په ادبیاتو کې د فورم له پلوه د روښانتیا په پرتله ډېر ښه والی راغلی دی خو سره له دې پیغام او ایـډیا ته د بدیعي ځانګړتیاوو په نسبت زیاته پاملرنه شوې ده، مفکوره ډېرى نېغ په نېغه راوړل کېږي او له ادب څخـه د تبلیغاتو د وسیلې په توګه کار اخیستل کېږي. په دغه وخت کې فورمالېزم او هنر د هنر لپاره مفکوره و غندل شوه. افغاني ټولنه د فکر، فرهنګ او اقتصاد له مخې ورسته پاتې وه، په دغه بنسټ فورمالېزم او هنر د هنر لپاره ادب یې چندان ښه نه ایسېده. په پای کې ویلای شو چې د پښتو معاصر ادب او بیا د ویښتیا پړاو بـې لـه ریـالېزم بـل ادبي ښوونځي ته ژمن نه وو او لامل یې ساده والی او د ټولنې ناخوالې په ګوته کول او له دغو ناخوالو څخـه د ټـولنې خلاصول وو. (روهي،۱۳۸۴ل، ۸۷ او ۸۸).

د ویښتیا پړاو په ادبي سبک کې د مظلومانو غږ پورته کول، د بزګر، کـارګر مظلومانـه غـږ و او تـر دې چـې پـه ټولنه کې د هغو ښځو غږ پورته کول او د هغوی له مجبوریته پرده پورته کول چې عام وګړي یې د (ډمې ) په نامه پېژني. بېلګې به یې د دغه پړاو د شاعرانو له شعري ټوګو څخه په خپل ځای راوړل شي. په ټوله کې ویـلای شـو چې د دغه پړاو سبکي توکي د موضوع له مخې هماغه دویښ زلمیاو موخې دي چې پورته راوړل شوې.

## ۴. ۴. د اوښتون پړاو منظوم ادبي سبک

په اوښتون پړاو کې درې ډلې شاعران په پښتو ادب کې را مخې ته کېږی چې یوه ډله یې د روسي ښکېلاک د اندونو په پلوۍ شعر وایي، بله ډله بیا له روسي ښکېلاک سره په ټکر کې شعرونو ته مخه کوي او بلـه ډلـه بیـا د سولې سبک پر مخ وړي.

### ۴. ۴. ۱. د اوښتون پړاو تاریخي شالید

د ویښتیا پړاو په ادبیاتو کې د کیڼ اړخ روڼ اندو ځینې داسې غوښتنې او ارمانونه هـم زمزمـه کـړي دي چـې د سمونې (ریفورمېزم) له برید څخه اوړي او د هغوی په گروهه یوازې د ملي دموکراتیک انقلاب په بریالیتوب سره یې تحقق موندلی شي. د انقلابي افکارو په وده چټکتیا کې کورنیـو او بهرنیـو لاملونـو لاس سره یـو کـړی و. پـه هېواد کې د ننه چارواکو د خپلو چارو د حالت د ساتنې لپاره کار کاوه او له بدلون څخه په وېره کې ول. د مـلي شورا د اتمې دورې (۱۳۷۱هـ / ۱۹۵۲ز) په ټاکنو کې د حکومت لاسوهنې دا و ښـوده چـې دوی د ریفورمسـتانو (سمونپالو) او لیبرل دموکراتانو فعالیتونه هم زغملی نشي. د لاریون کوونکـو د ټکولـو او د سیاسي سازمانونو د مشرانو د بندي کولو په پایله کې یو شمېر روڼ اندي پر دې گروهمن شول چې د ټولنې بنسټیزې ستونزې، لکـه ( بېوزلي، نالوستي او ټولنیز فساد) بې له بنسټیز او انقلابي بدلون څخه له منځه تلای نشي. له بلـې خـوا پـه همـدې وخت کې د افغانستان شمالي گاونډي د خپل سیاسي نظام د لوړ ښودلو لپاره په پراخـو ایـډیا لـوژیکي تبلیغونـو لاس پورې کړی و. په (۱۳۷۴هـ / ۱۹۵۵ز). کال کې د (افغان ـ شوروي) تړون هـم د افغانسـتان پـر اقتصـادي او فرهنگي ژوند کې د بدلون لپاره زمینه برابـره کـړه. د محمـد داوود د صـدارت پـه دوره کـې د پښـتنو او بلوڅـو د خپلواکۍ یا داخلي خپلواکۍ له خوځښت څخه د ملاتړ په پایله کې د افغاني حکومت اړیکـې لـه پاکسـتان او د هغه له پلویانو (امریکامتحده ایالتونو، ایران، ځینو عربي هېوادونو او لوېـدیزې اروپـا) سره پـه عـادي دپلوماتیکـه سطح کې تتې شوې وې او له شوروي اتحاد سره یې په اصطلاح دوستانه اړیکې ټینگې کړې. لـه همـدې وختـه افغانستان د شوروی اتحاد تر نفوذ لاندې شو.

پر (۱۳۸۶هـ / ۱۹۶۳ز، مارچ / ۱۳۴۱ل، کب) کال د محمد داوود خـان پـه اسـتعفاء سره یـو ځـل بیـا د بـدلون غوښتونکو لپاره د خپل غږ د پورته کولو لپاره زمینه برابـره شـوه. پـر (۱۳۸۸هــ / ۱۹۶۴ز / ۱۳۴۳ل) نـوی اساسي قانون نافذ شو چې د فکر او گروهې د بیانولو، د اعتصـاب او لاریونونـو د کولـو او سیاسي گونـدونو د جوړولـو اجازه یې ورکړه، په هېواد کې ځینې سیاسي سازمانونه جوړ شول. (۱۳۸۹هـ / ۱۹۶۵ز، جنوري، لـمړی / ۱۳۴۴ل، جدي، یوولسمه) د افغانستان د خلک دموکراتیک گونـد لـومړنۍ مؤسسـه کنگـره پـه کابـل کـې جـوړه شـوه. د افغانستان د خلک دموکراتیک گوند خپرنیـزو اورگـانونو د (خلـق او پـرچم) جریـدو پـه سیسـتماتیک ډول د (د اوښتون پړاو) د ادبیاتو په دودولو پیل وکړ او د انتقادي ریالېزم د ادبي میتود په ځنگ کې سوسیالستي ریالېزم هم خپل سر راپورته کړ.(روهي،۱۳۸۴ل، ۱۴۷ـ۱۴۹).

د اوښتون پړاو زړی لا پخوا کرل شوی و او د ځینو شاعرانو او لیکوالو په لیکنو کې، لکه د سلیمان لایق په نظمونو کې د بدلون فکر زمزمه کېده او له چونغر سره په ډېری نظمونو کې د همدې ارمان د پوره کېدو فکر منظومېده. دلته د (چونغر ته). یوویشتمه ترانه چې د (۱۳۹۰هـ / ۱۳۴۹ل) کال د مرغومي په لسمه نېټه یې په پلخمري کې لیکلې ده راوړم:

چونغره ستا په تېرو تېرو باندې — زموږ د اوښکو بارانونه اوري
خو دا د رحم اوبه نه دي گوره — په تا د خلکو غضبونه اوري

ستا په درو کې بیا دکار پرگنې — د حاکمانو شلاقونه گالي
د تا له څوکو تر لمنې پورې — د څو لېوانو یرغلونه گالي

د تا هر کانی د بزگرو د سر — د تا اغزی د هر بزگر د ځیگر
د تا هر اور د بې وسانو په کور — د تا هر سېل د مزدورانو د در

د تا لمن د بې لمنو لمن — د تا هستي د بې حاصلو هستي
د تا غوغا د نازولو غوغا — د تا مستي د مستبدو مستي

د تا ځوځان د بزگرانو برخه — د تا غنم د نازولو شومه
په هره لار کې دي ایښی تلک — په هره پوله کې دي لکه لومه

د تا خوراک د بزگرانو غوښې — د تا شراب د زیار ایۍتونکو وینه
د تا امېل د دوی د رغو پولۍ — خو د تا مینه د ظالمانو مینه

ای د ظالمو مستبدو کوره — آیا زنگونه د زمان درځي
موره یې وینو په رڼو سترگو — چې ستالمنې ته توپان درځي

ستا یې پې څه که للمي کاره بزگر — لرگي او بوټي د خپل سون نه لري
یا یې ماشوم څیرې گرېوان گرځي — مور یې گنډلو ته یو ستن نه لري

ستا یې پې څه که مسافر مزدوران — له کاره پاتې دي او کور نه لري

یـا هغـه مـزی بـې شـعوره سـود خـور / پـه چـا زړه سـوی نـه لـري ورور نـه لـري

سـتا یـې پـې څـه کـه د وطـن حـاکمان / خلکــو تــه گواښــي او بېگـــار چلــوي
پـه هغـو لارو چـې خـر نـه شي ختـای / پـــه انســـانانو بانـــدې بـــار چلـــوي

نـــن یـــا سـبا بـه سرې بجـونې وریځـې / ســـتا هـــرې پربښـــې تـــه پیغـــام راوړي
دغـــو بزگـــرو در بـــدرو تـــه بـــه / زیـــری د جنـــگ او انتقـــام راوړي

بـــاد د غضـــب بـــه پـــه دره دره کـــې / بـولې د ولـس د ویښـېدو خـوره کـې
دا د ظـــالمو د دوران نښـــې بــــه / واړه لـه بـېخ او لـه ریښـې چپـه کـې
(لایق، ۱۳۸۵ل، ۱۱۱ ــ ۱۱۳).

بل ځای (دانقلاب ناره، ۱۳۸۸هـ / ۱۳۴۷دوري ۱۷مه) تر سرلیک لاندې وایي:
د غیرت چیغه شوه پورته څومره ښه شوه / پـه وطـن د انقـلاب نـاره خـوره شـوه
دا نـاره د بـت شـکنو پـه گوگـل کـې / لا پیـاوړې شوله سره شوه سره لمبه شوه
(لایق، ۱۳۶۳ل، ۳).

## ۴. ۴. ۲. د اوښتون پړاو د منظوم ادب ځانگړي(انفرادي) سبکونه

د اوښتون پړاو د شاعرانو لست ښاغلي محمد صدیق روهـي د خپـل اثـر (د پښـتو ادبیـاتو تاریـه دویـم ټـوک، ۱۳۸۴ل، ۱۵۴ ــ ۱۵۸مخونه) کې راوړی دی، لوستونکي یې هلته کتلی شي. دلته د نومـوړي پـړاو د څـو نـامتو شاعرانو د شعر په رڼا کې په ټولیزه بڼه پر موضوعي سبک رڼا اچوو.

### ۴. ۴. ۲. ۱. صدیق کاوون

صدیق کاوون طوفاني پر (۱۳۷۳هـ / ۱۳۳۳ل) کال د لغمان ولایت په اخونزاده کلا کې زېږېدلی دی. لـومړنۍ او منځنۍ زده‌کړې یې په لغمان کې تر سره کړې. پـر (۱۳۹۸هــ / ۱۳۵۷ل) کـال یـې لـه کابـل پوهنتـون څخـه د حقوقو او سیاسي علومو په څانگه کې لیسانس واخیست. د (۱۳۰۷هـ / ۱۳٦٦ل) کال تر لومړیو ورځـو پـورې (د ثور انقلاب حقیقت) ورځپاڼې مسؤل چلونکی و. بیا د اطلاعاتو او کلتور وزارت معین شو.

څلور شعري ټولگې (سپرغۍ، د تیرو په ذهن کې، شگې او گلونه او وروستي ټکي) یـې خپـرې شـوې دي. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۱۵۹).

د صدیق کاوون په ختیه کې د شعر تومنه شته دی هغه شعرونه چې یې تر اوښتون مخکې یا د غویي تر کودتـا مخکې لیکلي شاعرانه تومنه یې یو څه پر ځای ده خو هغه شعرونه چط د غویي تر کودتا وروسته یې ویـلي دي ځینې وخت ترې شعاري شوي دي، د ببلگې لپاره یې د (د له شگې او گلونه). له شعري ټولگې څخـه د (توفـان هنگامه) تر سرلیک لاندې نظم چې د (۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) کال د لیندۍ پر (۲۱مه) یې منظوم کړی دی، را اخلم:

هنگامــــه ده د توفـــان د خوځېـــدلو — د ســـکوت د تـــور هيبـــت د ماتېـــدلو
د ســـتم د تـــورې شـــپې د ختمېـــدلو — پـــر وطـــن د سره ســـهار د راختلـــو
(کاوون، ١٣٦٦ل، ٢٢٣).

بل نظم يې د (زنداني ملگري ته). تر سرليک لاندې د (١٣٥٨ل). کال د لړم پر (٢٣مه). ليکلی چې دلته يې راوړم:

پـــه تـــورو شـــپو کـــې بنديوانـــه اشـــنا — زمـــا اتـــل او قهرمانـــه اشـــنا
تـــه د غـــيرت او شـــجاعت نښـــه يـــې — يـــه مېړنيـــه بـــا ايمـــان اشـــنا

تـه د زنـدان پـه گـوټ کـې شـپې تېـروې — زه دې پـــه درد بانـــدې دردېـــږم دلتـــه
تـه هلتـه اور يـې د دښـمن پـه زړه کـې — زه لـــه ســـتم سره جنگېـــږم دلتـــه

زمـــا او ســـتا لاره د خلکـــو لاره — زمـا او سـتا جهـان د خلکـو جهـان
زمـــا او ســـتا مينـــه د خلکـــو مينـــه — زمـا او سـتا ارمـان د خلکـو ارمـان

چـا د خيانـت پـه رسـۍ ځـان تړلـی — ځـوک د هـوس پـه ميـو ځـان مسـتوي
چا ځان خرڅ کړی چې آزاد(!) و گرځي — ځـوک د دښـمن مخـې تـه سر ټيټـوي

خـو سـتا پـه شـانتې غـيرتي ملگـري — ځـان سـوزوي خـو شرف نـه سـوزوي
سر ورکـــوي د خپـــل مـــرام لپـــاره — خـــو د رزمونـــو عـــزم نـــه مـــاتوي

دواړه بــه ځــو پــه يــوه لاره بــه ځــو — لاره اوږده ده خـــو ســـتومانه نـــه يـــو
دا د شرف او افتخـــــــــار لاره ده — ځـو بـه پـه وړانـدې پېښـېمانه نـه يـو

وار خطـا نـه شـې بنديوانـه اشـنا — د اســتبداد پــر کــور مــاتم راغلــی
زمـــوږ د خلکـــو د توفـــان لـــه وېـــرې — پـــه خاينـــانو بانـــدې غـــم را غلـــی

د انقـــلاب څپـــې وطـــن ښـــوروي — نـــوره يـــې مخـــه بندېـــدلای نـــه شي
د خلکـــو وينـــې شـــوې پـــه اور بـــدلې — نـــور پـــه پوکيـــو ســـړېدلای نـــه شي

وينـې بـه سرې شي سره اورونـه بـه شي — عقـدې بــه وچــوي توفانونــه بــه شي
د خوينـدو مينـدو ويـر ځپلـې اوښـکې — ســـترې څپـــې او ســـېلابونه بـــه شي

بيـا بـه نـو هـر ځـوک آزادي ولـري — نـه بـه زنځـير نـه بـه زنـدان پـاتې شي

نه به د چا له سترگو اوښکې څاڅي نه به وحشي ستمگران پاتې شي
(کاوون، ۱۳٦٦ل، ۲۱۹ ــ ۲۲۲).

**۴. ۴. ۲. ۲. اسحاق ننگیال**

اسحاق ننگیال پر (۱۳۷۵هـ / ۱۳۳۵ل) کال د لغمان ولایت د (بسرلم) په کلي کې سترگې دې نړۍ ته و غړولې، لومړنۍ او منځنۍ زده‌کړې یې د لغمان په روښان لېسه کې تر سره کړې، وروسته یې په کابل کې د څارندۍ اکاډمي ولوسته. نوموړی د (۱۴۱۹هـ / ۱۳۷۷ل) کال د غويي میاشتې پر (۸مه) نېټه له فاني نړۍ سترگې پټوي. (روهي، ۱۳۸۴ل، ۱٦۲ او ۱٦۳).

د نوموړي د شعر په تړاو ښاغلی زرین انځور لیکي: " د ننگیال شعر په افغانستان کې په ډېرو کړکېچنو، کړلېچنواو غمجنو شېبو کې اوج او شهرت ته ورسېد. سره له دې چې هغه د لمریز پنځوسمې لسیزې [دڅورلسمې شمسي پېړۍ د پنځمې لسیزې] له پیلامې څخه شاعري را پیل کړې ده خو د اوج کلونه یې د ثور له غمیزې او بیا د روسي سرو یرغلگرو له یرغل وروسته را رسېږي. دا هغه کلونه دي چې شروع کې یې د افغانستان په شاعرۍ کې د هنري ــ ادبي ارزښتونو پر ځای د نظمونو او شعارونو بازار ښه گرم دی او د دغو وچو شعارونو او نظمونو په وړاندې د هنر ــ شعري ارزښتونو لپاره هلې ځلې نه یوازې دا چې یوه لوړه هنري ادبي هڅه وه، بلکې د هغه وخت د حالاتو په رڼا کې په یو ډول سیاسي مبارزه هم بدله شوې وه. د سرو نظمونو او سرو شعارونو پلویان د گوندي او دولتي واکمنۍ د فرمانونو او دستورونو ناظمان وو او یوازې پر همدې اړخ یې ټینگار کاوه خو د دوی په وړاندې د هنري ــ ادبي ارزښتونو لپاره هلې ځلې نه یوازې دا چې د یو هنري تقدس لپاره ټینگار و، د گوندي ــ دولتي دستورونو او فرمانونو په وړاندې یې د یو ټولنیز ـــ سیاسي (ملي). تقدس په توگه هم ارزښت لاره. ننگیال سره له دې چې د شعري ژوند په څو لومړیو کلونو کې یې د شعارونو او نظمونو ځینې بېلگې هم وړاندې کړې دي خو له شعارونو او نظمونو څخه د شعري ــ هنري ښکلاوو پر لور د هغه د وریښمینې لارې سفر ډېر بېړنی او د پوره پاملرنې او ستاینې وړ دی. د دغې وریښمینې لارې له سفر وروسته که هغه د مینې شعر لیکلی که یې کومه عاطفي شېبه انځور کړې او که یې کوم بشپړ سیاسي شعر لیکلی، تر ډېره زیاته حده یې له هنري ــ ادبي ځانگړنو او ارزښتونو سره نغاړلي دي. "(ننگیال، ۱۳۷۷، ۲ او ۳).

دلته د اسحاق ننگیال (شپه) نظم چې د (۱۴۰۷هـ / ۱۳٦٦ل) کال د لړم میاشتې پر (۲۵مه) یې لیکلی دی راوړم:

تاسو پر کمځیو باندې تېره کړه موږه شپه اغزیو باندې تېره کړه
دا د ژوند مروړلې او ترخه کیسه تولـه مو سپرغیو باندې تېره کړه
یوه شېبه رودل به و د شپو له تي دا شپه مو پیریو باندې تېره کړه
تا خو په سرور ما د نشو ډولۍ تورو تربرمیو باندې تېره کړه
ډېرو ستمگرو مو د وخت توره څو ځلي مریو باندې تېره کړه

(ننگيال، ۱۳۷۷ل، ۳۴).

د اسحاق ننگيال د وروستيو شلو کالو غميزې په خپل شعر کې انځور کړې دي، نوموړی وايي:

زما د کور هغه وړه هغه بېباکه فضاء

زما د کور هغه زاړه هغه ختين بامونه

چې ډوبېدل به د ماشومو خنداګانو سين کې

زما د کور وړه باغچه کې د سپرلي ښاپېری

د سرو ګلانو د شنو پاڼو جنتي تخت نه يې

چې شنو موسکاوو کې ډک جام د بدمستۍ راکاوه

زما د کلي هغه لويې ها پراخې کوڅې

زما د کلي هغه شنه هغه سمسور باغونه

زموږ د نجونو حرم

زموږ د سپينږيرو دېرې

زموږ د سترو کروندګرو د غرمو څېرې

د مرګ پر ولو زانګې

اسمان د لويو خړو وريځو او باروتو لګی

ځمکه د وينو او د مړو له کوپړيو ډکه

انسانان د وير او د دردونو او مرګونو کوربه

کور مې د مړاوو بېګاناهو اميدو هدېره

دنيا مو ټوله نړوونکو توپانو نيولې

نوعقله!

نو عقله ای د توپانو د غلو په لاس تښتول شوط بېړۍ

وايه چې چېرته لاړ شم؟

او پر دې ځان څه وکړم؟

د ننګیال د شعر یو بل پرلپسې موتیف د عاطفې پالل دي، د خواخوږۍ بله د نوموړي د شعر پله ډېره درنه کړې ده او ښايي چې نوموړی ته (د عاطفې شاعر) و وايو:

ای ښکاري اشنا درته سلام کوم
پرېږده چې دا سپينه مرغۍ والوځي
لاړې شي جوړې جوړې ګلونه شي
ښکلې شي ښايسته شي امېلونه شي
واخلی په وزرو کې تنکي بچي
و موښي سينو کې ګلالي بچي
سپينې سرې مښوکې زرکني بچي
پام کوه
پام کوه ماشې له ګوتې مه ورووړه
يا هم (دا کلي مه ورانوئ!). نظم يې:
ګورئ چې هلته لکه زرکې زموږ د کلي نجونې
ګورئ چې هلته د بامو پر سر نورسې پېغلې
کتار کتار
د لمر تر وړانګو خپل پيکي جوړوي
او په مينو ژبو
د پېغلتوب غوږ کې د ځوان هوس سندرې بولي
دا کلی مه ورانوئ!
دا کلی مه ورانوئ!

ننګیال په خپلو شعرونو کې ډېری نويو شاعرانه ترکيبونو ته ځای ورکوي او به دغه لامل يې شعر نور هم د ولس تر منځ خپل ځای لوړوي، په لاندې بيتونو کې (دسلګو مزل، شرابي عقل، د خوب کوترې، د سترګو بامونه، د اغزيو لښکر، د بلاربو بوټيو له شيدو ډک تيونه او نور) بېلګه کولی شو:

| | |
|---|---|
| د سلګو مزل مې خدايه چې لنډ نه کړې | سترې سترې يې په هر ګام او قدم يم |
| چېـر تــه يوســم جــام د شرابي عقــل | ځـای د ميکـدو چـې مـې کعبـو ونيـو |
| بيا را نه غلې لېمو ته په پستو پستو وزرونو | زما د خوب کوترې ستا د سترګو له بامونو |

دا د سپرلي د شينکي باد وزرونه چا تړلي؟

چې د تیارو په جهنم کې د اغزیو لښکر

د بلاربو بوټو له شیدو نه ډک تیونه شکوي

او د نرگسو دا موسکۍ موسکۍ رنگینې سترگې

د لاس په نوکو باسي

رندي چې د کلاسیکې شاعرۍ یو موتیف دی، ننگیال هم کله کله په خپل شعر کې خپل دغه باغیتوب ته د کلمو او ترکیبونو ښکلې کشیده په واک کې ورکوي:

ملا څه مې د ورځې په دې ډکو کاسو ولې          د حورو لېونیه ماښامونه خو مې خپل دي

دا زه د توبو نه یم کـه توبـو کې اثـر نشـته          توبې مې زړه کې سوځي مه توبو ته مې زړه سوځي

ښــکل کړلــې زاهــدو د ســاقي گــوتې          مــاتې شــوې تــوبې پــه هــوا والــوتې
دې بحـر نوشـۍ خـو دې حـیران کړمـه          شــیخه زنگېــدې پـــه هـــوا والـــوتې
تـا چـې کـړې ښـکاره لـه لـوپټې سـترگې          خلکــو نــه شــملې پــه هــوا والــوتې
(انځور، ۱۳۹۴ل، ۱۶۵ ــ ۱۷۷).

**۴. ۴. ۲. ۳. عارف خزان**

عارف خزان د کرم خان زوی پر (۱۳۷۰هـ / ۱۳۳۰ل) کال د هرات په ښار کې زیږېدلی دی. لومړنۍ زده‌کړې یې په خصوصي توگه کړې دي. وروسته بیا د فراه ولایت د ابونصر فراهي په لېسه کې شامل شو او زده‌کړې یې تر یوه حده پورې وکړلې. (د سحر په غېږ کې) ټولگه یې په (۱۴۰۶هـ / ۱۳۶۵ل) کال کې خپره شوې ده. د شعر په تړاو یې لیکي: " خزان په رمزي ژبه د شعر پر زمینه باندې د خپل چاپېریال رنگینه منظره انځور کړې ده. دلته د پسرلي د ښکلا ننبه سترگکونه وهي. د دغه خزان په سرو پاڼو او طلایي جامه کې د یوه غوړېدلي گلستان پس منظر ښکاري د شاعر خزان د نهیلۍ او پسمیز له خزان او کلاسیک شعر لـه خـزان نـه جـلا شـوی دی او د خـړو وریځو له ټټر نه یې د وړانگین ژوند ځلانده مرغلرې راتوییږي.

د شاعر په دې مجموعه کې تور وختونه، سره وختونه او د سبا ورځې روښانه وختونه د واقعبینۍ په روحیه کې روښانه شوې دي:

تور که مې (پرون). و (نن). پـه وینـو سـور          خـــیر دې وي روښــانه مســـتقبل لـــیکم

"... د شهیدانو غونډۍ په تړاو وايي:

لکه غوټۍ په وینو سور یمه سبا خندوم　　　　د گل په سرو شونډو پرته اوده موسکا خندوم

... د ده په غمجنه خندا کې یو پټ راز هم شته خو ښايي چې د (یارانې ) په خاطر یې په گوگل کې ویده کړی وي.... "

چې امیدونه لوبومه د آرمان په ځیگر
وسوسې ټولې سوزومه د ایمان په ځیگر
د شک ببدیا کې چې یو گل د باور نه و چېرته
نن سره گلونه غوړوم د بیا بان په ځیگر
چې په پالنگ مې رقیبان د ناز خوبونه کوي
خواږه خوبونه هېرومه د جانان په ځیگر
چې زمانې وربانـدې ایښي دي ژور زخمونه
دا خپلې اوښکې تویومه د انسان په ځیگر
چې د مشرق یا دمغرب د مزدور خولې نه وڅي
هماغه چغې رسومه د جهاد په ځیگر
زما د فن او د قلم کمال ته وگوره نن
لمبې د شعر بلومه د دیوان په ځیگر
حالاتو غلي راته غوږ کې خلکو داسې وویل
نوي گلونه غوړومه د خزان په ځیگر
(روهي، ۱۳۸۴ل، ۱۶۵ ــ ۱۶۸).

د اوښتون پر مهال زموږ د هېواد ډېری شاعران په گاونډیو او یا هم غربي نړۍ کې مېشت شول او له هغه ځایه یې خپل قلمي جهاد پیل کړ چې په دغه ډله کې یو هم دروند استاد فضل ولي ناگار دی چې دلته یې دټولو په استازولۍ د هغه وخت او د ده پر ځانگړی سبک یو څه رڼا اچوم.

### ۴. ۴. ۲. ۴. فضل ولي ناگار

انقلابي او حماسي شاعر پوهاند فضل ولي ناگار د فضل قادر زوی او د مولوي عبدالرحیم لمسی دی، پر (۱۳۷۲هـ / ۱۳۳۲ یا ۱۳۳۳ل).کال یې د ننگرهار ولایت بټی کوټ ولسوالۍ په چهار دهي کلي کې سترگې دې نړۍ ته پرانستې. نوموړي لومړنۍ زده‌کړې په خپل کلي چهار دهي کې کړې دي، منځنۍ زده‌کړې او لېسه یې د مومندرې ولسوالۍ ایمل خان بابا په ښوونځي کې تر سره کړي دي.

پر (۱۳۹۴هـ / ۱۳۵۳ل) د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي په پښتو ژبې او ادب څانگې ته بریالی شو او پر (۱۳۹۵هـ / ۱۳۵۶ل) یې ترې د فراغت سند تر لاسه کړ. تر ډېرو دندو او کلونو استادۍ وروسته (۱۴۳۴هـ / ۱۳۹۲ل) کال د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو ماسترۍ په برنامه کې شامل او پر (۱۴۳۶هـ / ۱۳۹۴ل) کال یې ترې سند په بریالیتوب سره تر لاسه کړ.

د دندو په بهیر کې نوموړی لومړی د ایمل خان بابا په لېسه کې ښوونکی مقرر شو، د پخواني شوروي اتحاد پر ضد یې عملي جهاد پر ( ۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) پیل کړ، بیا په پېښور کې د حزب اسلامي د (ارشاد او فرهنگ) د لیکوالو شورا غړی شو، بیا د شهادت ورځپاڼې چلوونکی و، له (۱۴۱۸هـ / ۱۳۷۶ ـــ ۱۴۲۲هـ / ۱۳۸۰ل) کال پورې د ننگرهار ورځپاڼې مسوول و، د پیام آزادي راډیو تبصره لیکوال شو، بیا په ننگرهار کې د دولتي مطبعې ریس شو، دوه ځلي د ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د ریاست دنده تر سره کړې ده او اوس مهال د

ننگرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګې امر او ورسره د پښتوماسترۍ د برنامې غړی دی او د پوهاند په رتبه د استادۍ سپېڅلې دنده پر مخ وړي. (ناګار، ۱۳۸۹ل، ــ م).

ناګار د شعر تر څنګ څېړنیز آثار هم لري چې دلته یې د نومونو به یادونه بسنه کوو؛ ( داهغه بالاحصار دی، ۱۴۰۸هـ / ۱۳۶۷ل) شعري ټولګه، (سندریون، ۱۴۲۱هـ) شعري ټولګه، (شملې هسکې ولونه ولونه ) چې بیا دغه درې واړه ټولګې پر (۱۴۳۱هـ / ۱۳۸۹ل) کال ( دناګار شاعري ) تر نامه لاندې د نجیب نایل په زیار د کلیاتو په بڼه چاپ ته رسېدلی دی. د څېړنو به لړ کې یې (عرفان او دپښتو ادب په لرغونې دوره کې یې څرکونه)، ( د سرو زرو تنابونه، ۱۴۲۸هـ / ۱۳۸۶ل) د ناګار صاحب د مقالو ټولګه ده چې د عبدالعزیز غیرت په زیار چاپ شوې ده، (د بیان علم، ۱۴۳۷هـ / ۱۳۹۵ل) یې د پوهنوال علمي رتبې تالیفي اثر دی، (معاني، ۱۴۳۹هـ / ۱۳۹۷ل) یې د پوهاند علمي رتبې تالیفي اثر دی.

د ښاغلي پوهاند فضل ولي ناګار شاعري د خپل وخت د جهادي ولولو او شاعرانه انځورونو پراخه تابلو ده، نوموړي د سره ښکېلاک پر ضد د خپل شعر موخه نه ده تم کړې، بلکې د ټولې اسلامي نړۍ د خپلواکۍ رنګینه کشیده ده. د نوموړي کمال او امتیاز دای چې شعر یې د خپلې موضوع قرباني کړی نه دی، بلکې د شعر ملکه یې په خپل هر نظم کې پاللې ده او نړه شعار یې نه دی منظوم کړی، د جهاد ارمانونه یې د شعر په نازکه جامه او تغزل کې نغښتي دي.

د نوموړي شاعري چې د وخت د زبر ځواک ( روس ). پر وړاندې سپېڅلي جهاد ته ژمنه ده، د یو پاک او ریښتیني ارمان پر بنسټ ولاړه ده او د هیواد د خپلواکۍ لپاره له جهادي شور او ولولو څخه ډکه ده.
ښاغلی او درونډ استادپوهاندفضل‌ولي‌ناګار چې له پیله یې په ختې کې د شاعرۍ تومنه ورګډه شوې ده، د ( ۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) کال د ثور له (۷مې) نېټې څخه خپله شاعري یوې سپېڅلې موخې ته چې د هیواد د خپلواکۍ او په هیواد کې د ریښتیني اسلامي دولت او ورسره د مسلمان امت د یو والي را منځته کول و، په بڼه زور او قوت را څرګنده شوه.
د نوموړي شاعري په خپله غېږه کې د دغه هدف لپاره درې ډوله فکر او مفکوره رانغاړي:
د ده شاعري د (۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) را په دېخوا د روساتو تر ماتې د روسي ځواک پر وړاندې د سپېڅلي جهاد انځور دی، د مجاهدینو تشویق او ترغیب پکې په څپو دی او هره هغه حماسه یې په خپل کلام کې را نغښتې چې د روسانو پر وړاندې د هیواد ریښتینو مجاهدینو تر سره کړې ده چې څو بېلګې یې دلته راوړم:

سلام دی پر هغو چې انقلاب په مخه بیایي
قانون پلې کوي ام الکتاب په مخه بیایي
ور ګډ د اخوت په سمندر شو مسلمان
دا پوځ د حبل الله په لوی تناب په مخه بیایي
ناګاره چې دې فن انځور ګر نه وي د پاڅون
ژمن نه دی انقلاب ته چې بل باب به مخه بیایي
( ناګار س، ۱۳۸۹ ۱۰ او ۱۱).

یا

یو ځلې بیا ژوند د اسلام او مسلمان په نړۍ    ناگار خپل فن ته بس همدغه مکافات ایښی دی
( ناگار، ۱۳۸۲ل، ۲۷).

د مجاهدینو د تشویق او د جهاد د لاسته راوړنو په اړه د نوموړي په شاعرۍ کې ډېر څه تر سترگو کولای شو چې دلته یې د بېلگې په ډول لاندې بیتونه راوړو:

د افغان د سر خوراک یې خدای پلمه کړ    سر د خپلې فلسفې وحشي روسان خوري
(ناگار، ۱۳۸۲ل، ۱۲).

د احساس د تال سندره نه یم ویر یم    د روسانو د خوبونو تریخ تعبیر یم
(ناگار دا، ۱۳۸۹ل، ۳۰).

کاذب منار یې د طلسم د هنر پرېوځي    زمونږ سبا خېژي د روس د عروج لمر پرېوځي
چې یې دعوه وه فرعوني او خدای ته نه ټیټېده    نن د خړي افغان په پښو کې هغه سر پرېوځي
له پولو واوښته زما د انقلاب هنگامه    په هر خوځښت یې د خلاصون ژور اثر پرېوځي
(ناگار، ۱۳۸۲ل، ۱۱).

آزادي څه ده خو د وینو د څو څاڅکو سجده    د قربانۍ په ستر درشل یې تویومه ځمه
(ناگار دا، ۱۳۸۹ل، ٦۱).

ځلي د سرونو جوړوئ په پړاو مخکې ځئ    هلئ شاه زلمو داسې زخمي خاوره ټکور کړئ بیا
توره د غزل یې د شهید د وینو آب لري    خور د ننگ په کلي د ناگار د نغمو شور کړئ بیا
(ناگار دا، ۱۳۸۹ل، ٦۳او ٦۴).

په پورته ډول ډېرې بېلگې د نوموړي په شاعرۍ کې ترلاسه کولای شو.

کله چې روسان ماتې خوري او له افغانستان څخه په ماته ملا پر حیرتانو تېرېږي ځینې جهادي مشران او ورسره جهادي قوماندانان د غربي نړۍ په لمسون خپلو پاکو هیلو اوموخو ته شا اړوي، اسلام او مسلمان د کفارو پروړاندې مسخره کوي او هغه څه د دوی په اعمالو کې رابرسېره کېږي چې د جهاد او اسلام پرلمن تور داغ ورته ویلای شو نو په دغې موقع ناگار په خپلو شعرونو کې حسرتونه او نهیلۍ رانغاړي، نوموړی په خپله ژمنه ثابت پاتې کېږي او د حق له لارې څخه اوښتو ملگرو ته په خپله شاعرۍ کې لاندې پیغامونه زمزمه کوي:

مونږ ساده مسلمانانو پرې باور کړی دی    چې د حق غږ چا له حجرې یا له منبر کړی دی
اوس په فتوا د گنهگارې ماضي څوک راکوي    تا خو شیطان سره سوگند د لار په سر کړی دی
(ناگار ش، ۱۳۸۹ل، ۱۱).

ځولۍ دې تشته پاتې مه شه د سپرلو قاتله    تاته د چم د هر غاټول په خوله نفرین ښکاري
(ناگار ش، ۱۳۸۹ل، ۱۲).

بل ځای بیا د وطن غرونه او د واورو پگړۍ د خپلو مشرانو لپاره په سمبولیکه بڼه راوړي او د کښته کولو وړاندیز یې کوي:

څومره چې ترې ځار وم هماغومره ترې بېزار یم    څنگه نابلده په کوڅو کې د بازار یم

ای د وطن غرونو دا د واورو پګړی ښکته کړئ
ارزي که شکمن مو په شملو او پـه دسـتار یـم
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۴۴).

بل ځای وایي :
ما ویل خبر به مې له حال که زمونږ شیخ او مـلا
د عـربي ژبـې قـارون و، نـور څـه نـه و پکـې
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۷۹).

کله چې د ناګار په شاعرۍ کې لاندې خیال څرګند شو:
سکون وهلی حال ضربه د انقـلاب غـواړي
خـاین سـزا او مجاهـد ملـت حسـاب غـواړي
(ناګار س، ۱۳۸۹ل، ۵۶).

په دغه موقع د ناګار صاحب زاړه ملګري یو ځل بیا د نوموړي له قلم څخه د خپلو کارنامو ستاینه غـواړي نـو دی ورته وایي:

نه دې ستایم ای بې بویه ګله نور دې نه ستایم
پرې وتې د ښکلو لـه کاکلـه نـور دې نـه سـتایم

پت دې د بېسارې قربانۍ له پښو نه لاندې کـړ
خپل نه یې غیر غمازه یو او بله نور دې نه ستایم

ما څکه ستایلې چې د سره جارح قاتل وې تـه
تېر له دې معکوسـه تسلسـله نـور دې نـه سـتایم
(ناګار، ۱۳۸۲ل، ۸۳).

پــه عمــل د مســلمان یــې اســلام پــړ کــړ
چــې پلــورلی د نــاقوس پــه خرابــات یــم
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۸۶).

د ناګار صاحب په شعرونو کې ځینې وړاندوینې شوې دي چې زه یې یوه بېلګـه دلتـه راوړم، دی د اقصـی تـر جګړې وروسته کعبې شریفې ته د یهودو د لاس غزونې وړاندوینه کوي، نن سبا موږ د سعودي عربستان په قانون کې د ځینو ناجایزه کارونو جواز ورکول د دغې وړاندوینې د پلي کېدو ثبوت ګڼلی شو:

اقصی پسې دې خیر وي نیت یې نه وي د کعبې
اسـتازی د یهـودو مسـلمان تـه غـاړې وځـي
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۷۸).

یا داچې
مونږه چې پګړی د سرېتوب له سره ښکته کـړې
ستاسـو لوپټـه نرمـه تونـه ده زربـه څېـرې شي
(ناګار س، ۱۳۸۹ل، ۲۶).

ناګار خپل ولس او فن ته د ژمنتیا له مخې تنظیمي اړیکي پرېږدي او نه یې خوښېږي چې په دغه وران ویجاړ بازار کې نور قدم ووهي، هغه څوک چې اوس هم تنظیم د خپلو شومو موخو لپاره په کار وړي او دغه اړیکـي د ځاني ګټو لپاره ساتي، خپل پیغام ورته لاندې زمزمه کوي:

تنظـیم پرسـته حـق دې پـرې ښـو او وبـال وختـې
دې د توحیـد پـه زمانـه کـې لـوی بوتپـال وختـې

مـا ویـل تـاریخ بـه کارنـامې سـتا تـر ابـده سـاتي
خو ته تخریب کې هم په خپله خپل مثال وختـې

چې دې و کند د ابوذر اېل دې دیوان کړل د قاف
اوس د لویـدیځ د کارخـانو اوبـدلی شـال وختـې

د (بلالي اذان). تـاو څـه شـولو پـه چغـو کـې سـتا
ړنده جګړه ړونـد اسـتقلال، کـونې امتـزاج درېـواړه
اوس د بښـنې ځـاى دى کـوم دى لـه ملتـه سره

اى سـره مخـې! د نـاقوس د نغمـې تـال وختـې
دې شيطاني تثليث ته، ته د وخـت دجـال وختـې
چـې پـه هـلـوکو د محمـود او د ابـدال وختـې
(ناګار س، ۱۳۸۹ل، ٦١).

نن سبا د نوې ديموکراسۍ په پيل کې ځينو د اسلام شعار بيا زمزمه کړ او لاپې زمزمه کـوي چـې لـه حکومـت څخه ناوړه امتيازات او غوښتنې تر لاسه کړي، ناګار صاحب وايي افغان يو افغان دى، دا چې افغـان مسـلمان دى نو ټول افغانان مسلمانان دي د دوى ترمنځ توپير نشته خو په اوسمهال کې په نامه جهـادي مشرـانو پـه دغـه پلمـه دومره مادي امکانات ترلاسه کړل چې د باغونو، کورونو او تجارتونو يې شمېر نشته او هغـه ځوانـان يـا ماشـومان چې د ريښتني مجاهد ملت بچيان دي خوار او زار ګرځي نو په خپل يو شعر کې يې داسې رانغاړي:

چې د يو په کور کې وير وي ماتمونه وي ژړا وي
دوه بچيان د يوې خونې يو امير او بل ګدا وي
اســـــلامي نظـــــام کـــــه دا وي

د بـل کـور لـه ډېـره عيشـه د خوښـيو سـينما وي
يو ته هر حرام حلال وي بل ته هـر څـه نـاروا وي
مـــونږ يـــې نـــه غـــواړو لـــه خدايـــه
(ناګار ، ۱۳۸۹ل، ۱۱۳).

ښاغلى ناګار اوس هم د هيواد او نړۍ په کچه د مظلوم انسان پلوي دى او خپله دغه ژمنتيا يې نه ده هېره کړې، دى وايي:

که په کابل که په بغداد که فلسطين کې مرمه
ما د مظلوم د غم په خپـل نـوم قوالـه کـړې ده
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۵۸).

نوموړى انسان د (عاطفې). په صفت موصوف ګڼي او د مظلومانو په درد داسې ځوريږي:

د عـاطفې جهانـه ولـې دې ضـمير مـړ دى
اوس مدينه ځکه زمـا د زړګـي نـه لـړزوي

انسـانيته سـتا تعريـف او سـتا تعبيـر مـړ دى
د بـلال سـوز پـه زمزمـه کـې د تکبيـر مـړ دى
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۷۳).

ناګار صاحب په ډېرې ځيرکتيا او سوچ د هغو ملګرو ملګرتيا پرېږدي چې دين يې د دنيا پر لارکې د هيوادوالو د غولولو دام کړى وي، په جدي توګه خپل پريکون داسې بيانوي:

چـې يـې درد د پرګنـو نـه وي پـه زړه کـې
نـه مـې خپـل دى نـه ملګـرى نـه مـې ورور
(ناګار س، ۱۳۸۹ل، ۹۱).

چې يې هدف د شـهيدانو ارمانونـه نـه دي
دا مجرمان زمونږه خپل زمـونږه ورونـه نـه دي
(ناګار س، ۱۳۸۹ل، ۹۳).

عشق چې نوم د سر د ټيټېدو شو مـونږ نـه پـاتې شـو
کله شي ستايلى ناګار سپينې سترګې عـذر کـړي

حسن دې جانانه د کوڅو شو مـونږ نـه پـاتې شـو
وخت نور د ژمن فن د تېرېدو شو مـونږ نـه پـاتې شـو
(ناګار س، ۱۳۸۹ل، ٩٦).

بل ځاى د فن ملګري ته وايي:

زمـــا د فـــن ملګريـــه جګـــې جګـــې
نـــورې جنګـــي ســـندري نـــه ليکمـــه

دغـــو بـــې دردو دې بـــې قـــدرو لـــره مســـــتې يـــــاغي خـــبرې نـــه ليکمـــه
(ناګار، ۱۳۸۲ل، ۵۰).

ښاغلي پوهاند ناګار د خپلو ژمنتياو د پوره کولو لپاره يو عمر خواري وکړه خو چې د سفر ملګري يې بې لارې شول د ده هم ترې کرکه راغله، راشه درشه يې په خپل ژوند کې ډېره را کمه کړه، د ځان خوشحالول، چکر او په لوړه کچه خواړه يې پر ځان تر ډېره بريده نيولي دي چې د دې انځور تعبير يې لاندې بيت دی:

پـــر دوهـــې اوس اړولي ناګـــار ځکـــه د مزلـــه ملګـــري يـــې وخاتـــه خپلچـــاري
(ناګار ش، ۱۳۸۹ل، ۴۴).

دنوموړي په شعر کې تر ډېره بريده کوښښ شوی دی چې نوي شاعرانه ترکيبونه راوړي چې لـه دې سره يـې ځينو ترکيبونو او کلمو د موتيفونو بڼه خپل کړې ده. (سرې تيارې، شفق، انقلاب، تنـدريون، ګنهګـاره مـاضي، د سپرلو قاتل، د حجاب لړې، لمرمخې پلوشې، ماضي، د واورو پګړی، د اوښکو کاڼي، سمسام، د پاڅون شـپېلی، تغزل، حماسي، د انقلاب ليلا، د آزادۍ ډولۍ، د ارتقاليلا او داسې نور يې نوي شاعرنه ترکيبونه او موتيفونـه دي، په دغه برخه کې مورږ د مطلب څو بيتونه را وا خيستل، کفايت کوي. که څوک غـواړي چـې پـه دغـه برخـه کـې څېړنه وکړي ډېر څه به را پيدا کړي.

د پايلې په توګه ويلای شو ښاغلي پوهاندفضـل‌ولي‌ناګار د خپـل مظلـوم ولـس او همـدا ډول د نـړۍ مظلومـو مسلمانانو د ژغورنې لپاره خپل فن ژمن وګرځاوه، هيڅ کله يې هم په دغه موخه کې بدلون رانه غی او تر ننه پرې ټينګ ولاړ دی.

د جهاد ارمانونه يې د مانيو قرباني نه کړل، هر ځای په يوه او بل نامه مېنې جوړې شـوي خـو د ښـاغلي ناګـار پکې يوه جونګړه هم نشته.

د ده د څنګ ملګري پر لوړوو څوکيو ونازول شول خو دی په هماغې سپيڅلې دندې(استادی). تر نن ورځې پاتې شو.

اوس يې هم له هغو خلکو بد راځي چې د چوکۍ، پيسو او مانۍ لپاره يې ځان پټ يا ښکاره مسخره کـړی او لايې هم مسخره کوي.

## ۴. ۴. ۲. ۵. محمد صديق پسرلی

محمد صديق پسرلی داروانښاد رمضان خان زوی، پر (۱۳۴۷هـ / ۱۳۰۷ل) لمريز کال د وري په مياشت کـې د غزني د قره باغ په لويه کلا کې زېږېدلی او تر څلورم ټولګي پورې يې دکندز په خـان ابـاد کـې زده کـړې کـړې دي. پر (۱۳۷۵هـ / ۱۳۳۵) لمريز کال کې يې مطبوعاتو ته مخه کړې او پوره دوه کاله يـې رسـمي دنـدې تـرسره کړې دي، کال نيم يې د پښتون غږ په مجله کې کار وکړ، بيا يې د مطبوعاتو د مستقلې ادارې پـه داخـلي نشرـاتو کې دنده پيل کړه خو کال وروسته يې د دغې دندې په پرېښودو له رسمي دندې سره هم مخه ښه وکړه.

پسرلی صاحب ډېر ووړ و، چې د شعر او شاعرۍ ښاپیرۍ تر ګوتو ونیوه او کرار کرار یې د مینې سندربول کړ:
((که مطلب له شاعرۍ نه دا وي، چې په وزن او قافیه برابرې جملې وي دا خو زمانه یادېږي، چې درې کلن او که څلور کلن به وم، چې موزونې جملې مې له خولې وتلې خو که مطلب دا وي، چې مفهوم هم ولري اوبل چاته هم خوند ورکړي اوپه لیکلو وارزي نودا شاعري مې له شپاړلس کلنی یا پنځلس کلنی څخه شروع کړې ده))
لومړنی شعر یې چې دکاغذ پرمخ لیکلي دی، یوه څلوریزه ده:

لاله ښکاره شو په یو داغ باندې ... ما پټ ساتلی تر پردو لاندې
نسیمه راشه زړګی مې واکړه ... چې کړم داغونه خلکو ته وړاندې

تر اوسه د دغه نومیالي شاعر او لیکوال د شعرونو او کیسو څو ټولګې چاپ او خپرې شوې دي. لومړنۍ مجموعه یې د کوکچې په نامه پر (۱۳۷۰هـ / ۱۳۳۰ل) کال په بدخشان کې چاپ شوې او په همدغه کال یې د یوناني شاعرې بېلټس ترانې هم به نظم و ژباړلې، چې د چاپ په ګاڼه وپسولل شوې. څه کم دېرش کله وروسته، په (۱۴۰۳هـ / ۱۳۶۱ل) کې یې د (پاسني) په مستعار نامه د (وطن ویر) په نوم د حماسي او انتقادي شعرونو ټولګه چاپ شوه. کال وروسته یې د (لیونی باد) په نامه د طنزونو ټولګه خپره شوه. (داسې هم وو ) او ( سره غالۍ ) په نومونو د لنډو کیسو ټولګې یې د شپېتمو کلونو په اواسطو کې چاپ او خپرې شوې. بیا یې د (نن پرون او سبا) په نامه د څلورنیم سوه بیتونو په شمېر یوه قصیده چاپ شوه. د شپیتمو کلونو په اواخرو کې د ټاګور (ګیتانجلي) پښتو کړې منظومه ژباړه یې خپره شوه. په همدغو کلونو کې یې (زمري ) په نامه یوه شهکاره منظومه اوبیا د (پسته اور) په نامه دڅلوریزو ټولګه چاپ او خپره شوه. تردې وروسته استاد دګڼو لیکوالو او شاعرانو په غوښتنه د خپلو غزلونو په خپراوي لاس پورې کړ. لومړی یې (ماته شپېلۍ ) او بیا یې (د نی کوڅه ) چاپ کړه، تېرکال یې لومړی (د کوچي ملا ) په نامه ناول او ورپسې یې (د لمر کجاوه ). په نامه د نظمونو کتاب د چاپ په ګاڼه وپسولل شول.

استاد په (۱۴۰۰هـ / ۱۳۵۹ل) کې پېښور ته مهاجر شو او د شپیتموکلونو په اوایلو کې یې د (سپېدې) په نامه یوه مجله را وکښله، چې تر (۱۴۰۶هـ / ۱۳۶۴ل) لمریز پورې په منظم ډول چاپېده خو وروسته له چاپه پاتې شو او بیا یې په دویم ځل په (۱۴۰۸هـ / ۱۳۶۶ل) کې د دې مجلې په چاپ لاس پورې کړ او ورسره یې افغان کلتوري ټولنې بنسټ هم کېښود. تر دې څه موده وروسته یې د (افغان ادبي بهیر ) بنسټ کېښود او د هغه مشري یې ومنله. په (۱۴۱۹هـ / ۱۳۷۷ل) لمریز کې کډن کابل ته راغی او تر اوسه په خپل کور کې په ادبي هڅو بوخت دی. (بدر، ۱۳۸۹ل، ۱ او ۲)).

ښاغلی پسرلی د ډېرې کره‌کتونکو په اند د هندی سبک پیرو شاعر دی، د نوموړي په شعر کې د هندی سبک ټولې هغه ځانګړنې پیدا کېږي چې نوموړي ادعا پرې ثابتېدلای شي. د دې تر څنګ د شعر موضوع یې د هېواد ناورین ته هم ځانګړې ده چې موږ یې د جهادي شاعرۍ په سرلارو کې راوړلای شو. د محمد صدیق پسرلي شاعري له ګڼو ځانګړنو برخمنه ده، هم نازکخیالي پکې په څپو ده، هم حماسي ده، هم ژوند دی پکې او هم د لوړو فکرونو او خیالونو لېږدونکې ده.

ما د هندي سبک په تړاو پوره څېړنه او د هندی سبک پر ځانګړنو په خپل ځای کې بحث کړی دی، دلته زه د ارواښاد پسرلی صاحب له شعرونو څخه څو بېلګې د (مخکې مسره او برجسته مسره) په ځانګړنه کې چې د هندي سبک بنسټ جوړوی راوړم:

ژړا مـدام نـه وی پېشـه د ټیټـو اکثر له غرونو نه چینې را وځي
( الهام، ۱۳۹۷ل، ۲۱۴).

د پورته بیت لومړی مسره (ژړا مدام نه وی پېشه د ټیټو) مخکې مسره نومولی شو چې عـادي خبره ده چې د بیت په دویمه مسره چې دلته ورته برجسته وایو او د یو مثل په بڼه راغلې ده (اکثر لـه غرونـو نـه چینـې را وځـي) لومړی مسره شاعرانه شوې او ارزښت یې پیدا کړی دی. لاندې بیت هم د بورته بیت په بڼه در واخلئ:

تشه دعا چې عمل نه وي غولول دي د ځان د چینار پاڼو هم کاره کړل په دعـا لاسـونه
(الهام، ۱۳۹۷ ل،۲۱۳).

یا دا لاندې بیت چې لومړی مسره یې برجسته ده او دویمه یې مخکې مسره ده:

د دیوالونو په چولو کې ړدي توی شـوي ویښته زه هم په سمڅې کې بې دردې دنیا پرېښودمه
(الهام، ۱۳۹۷ ل،۲۱٦).

پسرلی صاحب د (مجاهد شاعر) تر سرلیک لاندې په خپل نظم کې لیکي:

چـې پـه خـبرو نېکمرغـي راولي چـې بـه سـندرو غـچ لـه غمـه اخـلي
چـې د الفـاظو لـه خـواږه ترکیبـه لشـه لـه مـار او لـه لړمـه اخـلي
څوک دی؟ شاعر دی مجاهد شاعر دی د تـوري کـار چـې لـه قلمـه اخـلي
(پسرلی، ۱۳۸۰ل، ۱۱ او ۱۲).

د سور ښکېلاک پر وړاندې د پسلي صاحب د مبارزې یو غزل راوړو چې د (۱۴۰٦هـ / ۱۳٦۵ل) کـال د وږي پر (۱۲مه) یې پنځولی دی:

ورک حواس د ورکو د ستم لـه زوره مـه پوښـته سوې ځالي ګوره نور یې حال له اوره مه پوښـته
مړ احساس انسان ته په پستي کې هم مستي بخښي خـلي او څګونـه د دریـا لـه شـوره مـه پوښـته
هر څه په کمزورو تپل کېږي ضعف جرم دی بله ده سیاهي وجه له سوي سکوره مـه پوښته
موږ هم یو ملګرو له خپل بحره لتېـدلي وره ډک زړه د وریځو له خپل کلي کوره مه پوښـته
زه هم بل خراغ کـړم د وطـن د شـهیدانو یـاد سترګو ته مې ګوره او له زړه مې ګوره مه پوښـته
زړه مې تر محشره خدایزده تش شي له آهونو نه ته مـې د غمونـو لـه اوږده او پسـوره مـه پوښـته
واک وطن چې نه و لري شپې یې پـه لحـد کـې وي ګور له مړي مه پوښته او مړ له ګـوره مـه پوښـته
وینې تویول ربېل ځـپل یـې د سرو وي کـار نور مې د خونکارو له سوټک او لوره مه پوښـته
(پسرلی، ۱۳۹۰ل، ۴۸۸).

پسرلی صاحب د او س مهال لوی شاعر دی، د کلمو غوراوی يې ساده دی، د کلمې په وضعي مانا کې کومه ستونزه نشته، د ولس هر وگړی پرې پوهېږي خو کله چې نوموړی شاعرانه ترکيبونه راوړي او بيا د کلمو اوډون د شعر په بڼه راوړي مانا يې د عوامو لـه پـوهنيزې کچې څخـه لـوړېږي او يـو ډول د پېچلتيـا پـه لـور درومـي. د نوموړي پېچلتيا هم هماغه د هندی سبک اغېز دی چې د نوموړي په شعر کې را دمخه شوی دی. د منځپانگې له مخې مينه، عاطفه، ټولنيزې ستونزې او د روسانو پروړاندې د مبارزې څرگندوی دي.

## ۴. ۴. ۲. ٦. پير محمد کاروان

پير محمد کاروان د نور محمد خان زوی پر (۱۳۷۹هـ / ۱۳۳۸ل) کال د خوست ولايت تڼيو به نريزې کلي کې سترگې نړۍ ته و غړولې. تر اووم ټولگي پورې زده‌کړې يې د د تڼيو په لومړني ښوونځي کې تر سره کړې، له اتم تر دولسمه زده‌کړې يې د خوست په غرغښت لېسه کې پای ته ورسولې او بيا د خوست له ميخانيکي لېسې څخه پر (۱۳۹۷هـ / ۱۳۵٦ل) فارغ شو. تر پېښور له را گرځېدو وروسته يې په کابل کې د دعوت پوهنتـون لـه شرعيـاتو پوهنځي څخه پر (۱۴۳۵هـ / ۱۳۹۳ل) کال د ليسانس سند تر لاسه کړ.

لومړی دنده يې د پلخمري په نساجۍ فابريکه کې پيل کړې بيا د کندهار نساجۍ فابريکې تـه تبـديل شـو. پـر (۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) کال کلي ته راغی او تر (۱۴۱۰هـ / ۱۳٦۹ل) کال پورې يـې د روی‌انو پـر وړانـدې وسـلوال جهاد وکړ. تر دې وروسته پېښور ته راغی او دلته د (آزادو ليکوالو ) د ټولنې غړی شو. د خپلواکۍ د مجلې غړی بيا د وفا اخبار مرستيال شو، پر (۱۴۱۵هـ / ۱۳۷۳ل) کار د بي بي سي راديـو د نـوي کـور نـوي ژونـد د ډرامـې د ليکوالو په ډله کې شامل شو.

له (۱۴۰۳هـ / ۱۳٦۲ل) کال را په دېخوا شعر ليکـي چـې تـر دې دمـه يـې (لـه ماښـامه تـر ماښـامه، ۱۴۱۳هــ / ۱۳۷۱ل)، (چنارخبرې‌کوي، ۱۴۱۸هـ / ۱۳۷٦ل)، (د ښاپېرۍ ورغوی، ۱۴۲۱هــ / ۱۳۷۹ل)، (يـو زرغـون د نغمـو شور، ۱۴۲۹هـ / ۱۳۸۷ل) شعري ټولگې خبرې کړې دي او په لنډو کيسو او راډيوي ډرامو يې هم خپل هېـواد را ويښ کړی دی. (اغېز، ۱۳۹۳ل، ۱ ــ ۵).

ښاغلی پير محمد کاروان د روسانو پر وړاندې د گرمو سنگرونو کارنده سپاهي د خپلې شعري اسرافيلي شپېلۍ پر غږ د خپل هېواد د خپلواکۍ لپاره تل نغمې غږولي دي، د جهاد د گرم سنگر غازيان يـې د خپلـواکۍ د بيرتـه گټلو لپاره هڅولی دي. د نوموړی دغه شاعرانه نغمې تل د هنر په جامه کې نغښتې هېوادوالـو تـه وړانـدې شـوی دي فکر يې يوازې شعاري بڼه نه لري، بلکې له يوې نړۍ عاطفې سره د شعر په گلبڼ کې قدم ږدي، د نغموشور، د گلو رنگ او د عطرو خشبويي ورکوي.

و گورئ کاروان ته له نغمو نه يې وږمې راغلې دا سړی شاعر نه دی عطـار د گلابونـو دی
(کاروان، ۱۳۷۹ل، ۱۹۴).

دی په خپله د (چنار خبرې کوي) اثر په سريزه کې ليکي: " زمـوږ د شـاتو مچيـو بـه لـه ټولـو نـه ښـه شـات د کوکنارو له گلونو جوړول. شاعر د شاتو د مچيو په شان له يوې لويې بدرنگۍ نه هم د ښملا ذرې راټولـولی شي. د کوکنارو په همدې يوه بوټي کې شات هم شته خو چې د شاتو مچيو په لاس ورشي. دوا همشته چې د يوه لوی

طبيب په لاس ورشي. همدا بوټي مرګونې شيبې هم لري چې د پېښور د چمنونو تر ونو لاندې ډېر پوډريان ور سره لاس او ګرېوان دي.

زه لا د ډېرو ناويل شويو شعرونو به هجوم کې را ګير يم، لکه ماشوم لاسونه پسې غځوم خو د برېښنا د پړک غوندې په لاس نه راځي. د رواني اړدې تراژيدۍ ډېرې شېبې، لکه افسانوي ښاپېرۍ د شعر په جامو کې راځي، غواړم چې په غېږ کې يې و نيسم خو نازونه او اداګانې يې ډېرې دي دسترګو په رپ کې را نه تري تمې شي او غېږه مې تشه پاتې شي.

کله ــ کله چې له ځان سره يوازې شم په ويښه مې خوب يوسي. اوږده شېبه وروسته له الوتکې نه پر توغندي د لګيدلي اوښ په سوې ناره د ويښې له دې خوب نه را ويښ شم، ځکه خو ويلی شم چې دې پېښو او دې اوږدې تراژېدۍ زما پر شعرونو سيوری کړی، کېدای شي زما ځينې شعرونه رواني بيماران وي، ګران لوستونکي دې ښه خبر وي او حيرانېږي دې نه. " (کاروان، ۱۳۷٦ل، الف او ب).

زرين انځور يې د شعر په تړاو ليکي: " کاروان د افغانستان په معاصر سعر کې د مقاومت د شاعرۍ ډېرې ښکلي نمونې ايجاد کړې او پښتو شاعرۍ ته يې بخښلي دي. د کاروان شاعري د افغانانو د ځوارلس کلونو را روانو غميزو (تراژيديو) ډېره صادقه، شاهده او انځوروونکې شاعري ده. د هغه په شعر کې د کليو باندو او غريزو کاروانونو صميميت او درنښت پروت دی. "(کاروان، ۱۳۷۷ل، د).

کاروان په خپله مني چې زما پر شعر د روسي ښکېلاک د اوږدې غميزې سيوری پروت دی او د خپل ارمان د لاسته راوړلو لپاره به ضرور داسې خبرې پکې وي.

هغه کلمې چې ښاغلی کاروان يې په خپلو شعرونو کې په تکرار راوړي او د شعري موتيفونو بڼه يې غوره کړې ده (چنار، باګرام، غزل، مينه، عشق، جرس، اوښ، سپوږمۍ، نښتر، غر او داسې نور د نوموړی د شعر موتيفونه دي. په دغه برخه کې ځوال ليکوال او څېړونکي د (کاروان او چنار، ۱۳۹۳ل) په نامه په زړه پورې اثر خپور کړی دی، د ډېرو شعرونو د لوستلو لپاره کولای شئ هلته مراجعه وکړئ.

راشه د رحمت بارانه ښار اخستی اور دی
ژوند لکه د کلي د چنار اخستی اور دی
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۲).

درې واړه به ما ګران دي اول يار زموږ د کلي
چنار زموږ د کلي او کوکنار زموږ د کلي
(اغيز، ۱۳۹۳ل، ۱۸۷).

ما له کابل نه لاله زار د پرهرونو راوړ
باګرامه! مالګې راکوې که مرهمي لاسونه؟
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۱۰۲).

ته مې شهنشاه د غزلونو يې
بې له تا غزل زما نيمګړی دی
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ٦۳).

ښکارېږي چې له لمر سره يې تار د مينې دی
را وخته کنډو ته له وعدو سره سپوږمۍ

(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۱۲۰).

مست دې کړم درود دې کړم سرود دې کړم
عشقه زه گونگی وم غزل بول دې کړم
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۷۳).

د زړه جرس د شین خالو کاروان ته و شرنگوه
چې د مایه له غړو تاو کړي اوښانه شالونه
( کاروان، ۱۳۷۷ل، ۱۱٦).

د اوښ د سترگو غوندې ښکلیو ځلېدونکو تورو
کاروانه ستا و دې ساده غزل ته رنگ ور کړ
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۲۵۴).

د ستورو پړق شو د سپوږمۍ غېږې ته و غځېدم
لکه چې ناوې ته اوړده شي د زلمي لاسونه
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۱۰۲).

گورئ پیزوان یې درمانگر شو د زېښلو زړونو
په ښکلو وړانگو کې زېږی د مازیگر ماتوي
(کاروان، ۱۳۷۷، ۱۰۴).

مارغان دې راشي زموږ لپو کې دې ځالې وکړي
غر مو نښتر نه لري کلي مو چنار نه لري
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۳۴).

ښاغلی کاروان د هغو شاعرانو په سرلارو کې دی چې د خپل شعر لپاره نوي ادبي ترکیبونه جوړوي، لکه: د خمارو سترگو انصار، د انگور اوښکې، د درد پښې، د هندارو کاروان، دلمر ښیښه، د سندرو اوبه، د طلايي ستورو فصلونه، د درد پېغلوټې نجونې، د اوښکو منگي او داسې نور.

د کاروان شعر د عاطفې، مینې او شاعرانه هنر په غېږ کې د هېواد هغه دردونه دی چې زموږ د ادبي تاریخ د پاڼو افغاني تاریخ به ژوندی ساتي، لاندې بیتونه یې د ډېری شاعرۍ منځپانگه موږ ته را لېږدوي:

نه دی غزل نه یو څو توري سره غېږ په غېږ دي
چېرته یو درد دی یاغي شوی له پرهاره وتی
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۳).

¤¤¤

که د تسکین د نرخ ځواني آن تر اسمانه رسي
زکات درد، د سکو ما ته له جانانه رسي(؟)
د زړه گودر مې د زخمونو مازدیگر مونډلی
چې ورته غشي د شغلو ستا له پیزوانه رسي
د بدرنگۍ دوه رنگي برگ پړانگان دې لار نیسي-
خو د ښکلا مسته هوسۍ به تر بیابانه رسي
ښې به تورمخې شي په تورو لوغړنو وینو
سپینې چړې چې د زخمونو تر گرېوانه رسي
د وطن پېغلې مې په غاړه وړي امېل د اوښکو
د پاریس پېغلو ته غمي له بدخشانه رسي
د گل په لپه کې به تږې دعا لولپه شي
چې د باروتو په سیلۍ کې تر بارانه رسي
د غزل توري لکه ژوبل د کابل ماشومان
وړې سلگۍ یې تر بابا عبدالرحمانه رسي

د زړه لاسونه يې سوري دي او که څه کيسه ده؟
د وينو لپه شي غزل چې تر کاروانه رسي
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۲۲).

¤¤¤

مونږ ته زخمونه د ځيګر د سترګو اوښکې پاتې
پاريس ته ځي د زمرودو د لاجوردو بېړۍ
(کاروان، ۱۳۷۹ل، ۱۹۲).

¤¤¤

لکه په خامه بهانه د نجونو اوښکې راځي
ورېمې په ورو څه له زخمي ګلونو اوښکې راځي
د پېغلو سترګو له سرو اوښکو نه تسبې جوړوي
د زاهد لاس کې پر اوږدو تارونو اوښکې راځي
څنګه يې څښو؟ څنګه خندېږو؟ را ته زهر دې شي
په اباسين کې د کابل د غرونو اوښکې را ځي
څوک پکې سترګې نښتې ځي لکه دانې د انګور
چې د ساقي له انګوري جامونو اوښکې راځي
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۹۳).

¤¤¤

يا خو د جنګونو دا بدرنګه بلا بوره کړې
يا ترېنه د امن جزيرې ته وطن يوسې
(کاروان، ۱۳۷٦ل، ۴۵).

¤¤¤

د جنګ چينجيو يې د سر ټولې پاڼې و خوړلې
په حافظه کې مو تاريخ د سولې باب نه لري
(کاروان، ۱۳۷۹ل، ۱۹۳).

¤¤¤

چې تر سولې سپينه خوله په خندا راکړې
په ژړا سترې له جنګه شته که نشته
(کاروان، ۱۳۷۹ل، ۱۸۳).

¤¤¤

وطن د اور په سيند کې لامبي زلمي جنګ خوړلي
د کابل جان د نجونو مړي هم نهنګ خوړلي
(کاروان، ۱۳۷۹ل، ۱۵۹).

د کاروان د شعر ژبه روانه او ساده ده، د ماناوو د ليږد لپاره کلمې او ترکيبونه داسې راوړي چې مخاطب تر د زړه مطلب په اسانه تر لاسه کړي، په شعر کې يې کلي والی رنګ ډېر دی، که څه هم چې دی د پېښور په ښار کې اوسېدلی دی او بيا کابل ته تللی دی خو د کلي چنار، ګودر، هوسی، راڼه ستوری او سپوږمی، نښتر، څېړۍ او پيزوان نه هېروي او لکه روح يې په شعر کې ګرځي را ګرځي.

نوموړی په شاعرانه ترکیبونو که دتشبیه، استعارې، سیمبول او یا کنایې په بڼه وي، ښه برلاسی دی همدا لامل دی چې د خپل ولس پر زړونو پاچاهي کوي هو (ملنگ بادشاه) کاروان د خپل ولس لپاره خپل کور، ارام او د کلي خواږه بنډارونه پرېښودل او د شعر د ملکې مَلَک شو.

### ۴. ۴. ۲. ۷. نورالحبیب نثار

نورالحبیب نثار د محمد انور زوی پر (۱۳۸۱هـ / ۱۳۴۰ل) کال د ننگرهار ولایت د خوږیانیو ولسوالۍ په بربهار کې زیږېدلیدی. لومړنۍ زده کړې یې په خوږیانیو کې تر سره کړي دي، بیا یې د (۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) کال د مرغومي پر (۱۷مه) پېښور ته هجرت کړی دی. لوړې زده کړې یې د دوکتورا تر کچې په پېښور پوهنتون کې تر سره کړي دي. نوموړی ښه لیکوال او شاعر دی، په پښتو ژبه یې د (ځانگې ځانگې ارغوان) تر نامه لاندې پر (۱۴۱۹هـ / ۱۳۷۷ل) کال چاپ شوی دی. د هجرت پر وخت تر گڼو دندو وروسته پر (۱۳۴۳هـ / ۱۴۰۰ل) کال په علومو اکاډمۍ کې مقر شوی دی.

نوموړی د هجرت د دیار شاعر دی او د خپلو شعرونو منځپانگه یې د پخوانی شوروي اتحاد پر افغانستان د یرغل پر وړاندې مبارزه ده. پیر محمد کاروان یې په تړاو لیکي: " نورالحبیب نثار د افغانستان د جهاد، مقاومت او حماسو اصیل شاعر او د ده د شعر د دې سترې حماسې اصیل بچی دی. ده د افسانوي شهزادگانو په شان په هوسیو او کبلیو پسې غشي لیندۍ را وا نه خیستل، بلکې د تنکي ځلمیتوب په شېبو کې یې د روسي اژدها پر ضد کمربند په ملا او ټوپک به اوږه کړ؛ شعر یې د شوبلو، الوتکو، توغندیو او ماشینگڼو له بوږنوونکو او تندریزو آوازونو سره جوخت د ژوند او هنر پر غونډۍ د ارغوانونو الواني لمبې ولنلې. دی د هغې قافلې لاروی دی چې د مرگ او شهادت کړلېچونه وهي او د ژوند ښار ته لار باسي. ځانگې ځانگې ارغوان که له یوې خوا روانې ارازیدۍ پرې سیوری کړی دی، له بلط خوا عاشقانه، رندانه او رومانتیکي ځانگې هم لري. پر دې سربېره ځانگې ځانگې ارغوان ظریفانه او طنزیه ښایست هم لري. "(نثار، ۱۳۷۷ل، ٦ ــ ۹).

مینه یا رومانتیکي شعر

| | |
|---|---|
| مینه لا څه چې مې د مینې هنگامه خوښه ده | رمان رمان یم رماني مې ډرامه خوښه ده |
| تورې بلبلې تر سکنۍ بڼې دې و گرځمه | ما ته کعبه را یادوي ستا مې جامه خوښه ده |

طنز

| | |
|---|---|
| تا که د زړه سره د یارۍ شېوه بدله کړه | ما هم درپسې نوره اوبو کې ډیوه بله کړه |
| هومره چې دې شیخه بدرنگي دوه رنگي خوښه ده | بیا خو دې دا بږیره هم یوې ډډې ته کله کړه |

(نثار، ۱۳۷۷ل، ٦۳).

د (نارې) په نامه یې بل نظم دی:

مرګ دې مېلمه شه دوه رنګي دلته څوک کله مني — د ننګ وطن دی بې ننګی دلته څوک کله مني
څه که وهې پر شومه دم راته نارې د قیام — بنګي چرګوړی کولنګی دلته څوک کله مني
لا چې پیالو کې یې سرور په غزونو کې دی — نثاره تا چرسي بنګي دلته څوک کله مني
(نثار، ۱۳۷۷ل، ۴۴).

موږ مخکې و ويل چې د نثار شعر د سور ښکېلاک پر وړاندې د پاڅون ولولې دي، نومړي د (ډاډ) تر سلیک لاندې پر (۱۴۰۳هـ / ۱۳٦۲ل) کال د غزل په څېل کې یو نظم ویلی دی:

لکه تندر چې پرېوتی دې به کور یم — بل څه نه یم د مظلوم د زړګي اور یم
چې مانۍ د استکبار کړمه نسکوره — د څښتن ډاډ را سره د ایمان زور یم
د احساس او درک خاوند یمه څورېږم — هسې نه چې د هوس په نیلي سپور یم
د توحید او د فلاح له عقیدې نه — د رینښتینې ژوند الهام یمه سمسور یم
که مې وینه تویه نه شي د حق لار کې — په عالم کې شرمنده هم به مختور یم
آزادي چې د وطن تر لاسه نه کړم — د آبا له هډه نه خدایرو چې نور یم
مستقل هویت لرم اوچت مې شان دی — زه غلیم د سره نشان، څڅک او لور یم
(نثار، ۱۳۷۷ل، ۱۵).

د نثار صاحب د جهاد پر مهال د خلا هېواد انځور (د سترګو خلي) په نظم کې راوړی دی:

ځای پر ځای ولاړ چې پکې څلي دي — یاره همدغه زمونږه کلي دي
ما یې صدقه له کاڼو بوټو کړې — ژړي مو دښمن ته پکې غلي دي
مونږه چې په خپلو وینو کښلي دي — خود مو د تاریخ بابونه ښکلي دي
فرق یې د خلقي ـ پرچمي څه پوښتې — دواړه له نرخونو نه وتلی دي
یو دوه خطا شوي له روسانو نه — څه به یې سپاره وي څه به پلي وي
کله په شا تللي سلامت له موږ — څوک چې په یرغل دلته راغلي دي
مونږه خو لا څه چې ماشومان زموږ — هم د سره غلیم د سترګو خلي دي
بل رنګ به په درسته معنی وا نخلي — هغه چې له ځایه سپین سپېڅلي دي
پښت به یې نشاره له (بهرامه). وي — څوک چې نن روسانو ته ښاغلي دي
(نثار، ۱۳۷۷ل، ٦٠).

(صدقه کېدل، له نرخه وتل، یو دوه خطا کول، سپاره او پلي، د سترګو خلي، ژامې ختل، سپینې ختل، پښې ایستل، زړه په ګل نه بدېدل، لېونیه، روغه کول، ګل غوندې ځواني، خاوره خځله، دسوال یاري، ). هغه ګړنې دي چې د نورالحبیب نثار شعر ته یې کلیوالي خوند ور بښلی دی. زه د دغو ګړنو یا محاورو له مخې نوموړي ته د (کلیوالومحاورو شاعر) ویلای شم.

د نثار په شعر کې دده یوه بله ځانګړنه د یوې کلمې دوه یا درې ځله تکرار راوړل دي چې په ډېره شاعرانه وړتیا یې راوړي او شعر ته یې ښکلا ورکوي.

نــن خــو روغــه میخانــه میخانــه کېــږي ړنگــه بنگــه مســتانه مســتانه کېــږي
تــه بــه وايــې چــې لــه سرې زرغـونې اوړي کــه يــې گــورې مردانــه مردانــه کېــږي
شرابي شـونډې يـې بيـا مـرۍ مـرۍ شـوې بيـا يـې درېغـه پيمانــه پيمانــه کېــږي
(نثار، ۱۳۷۷ل، ۱۰۳).

د ښاغلی نورالحبيب نثار د شعر ژبه ساده او روانه ده، خپل غږ يې ولس ته د ولس په پسته، اسانه او محاوره يي ژبه ور رسولی دی. داسې ترکيبونه او کلمې نه کاروي چې لوستونکی د شعر په مانا و نه پوهېږي.

**۴. ۴. ۲. ۸. عيسی محمد عصمت قانع**

عيسی محمد عصمت قانع پر (۱۳۸۱هـ / ۱۳۴۰ل/۱۹۶۱ز) کال د زابل ولايت د شاه جوی په ولسوالۍ کې زېږېدلی دی، پر ۱۳۹۸هـ / ۱۳۵۷ ل/۱۹۷۸ز) چې د اتم ټولگي زده‌کوونکی و د قلات او غزني په زندانونو کې زنداني شو. له بنده تر آزادېدو وروسته زاهدان ته لاړ او له مجاهدينو سره يې خپله ملگرتيا جاري وساتله. پر (۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل/۱۹۷۹ز) کال په زابل ولايت کې د مجاهدينو له اعلاميو سره و نيول شو او کندهار ولايت په هوايي ډگر کې بندي شو. تر خوشې کېدو وروسته په پېښور کې د جمعيت اسلامي له خوا (د اسلام برغ) جريدې مسوول مدير و ټاکل شو. نوموړي د مجاهدينو له نورو خپرونو سره هم قلمي همکاري درلوده. نوموړي (د وينو سوغات، د پلوشو ډالۍ، جرس او ساندې په نغموکې). په نومونو شعری ټولگې چاپ کړې دي. د دې تر څنگ د لنډو کيسو ټولگې هم لري. (تنوير، ۱۳۸۰ل، ۶۲۰).

قانع د انقلاب د جهادي سنگرونو شاعر دی، په نظمونو کې يې د روسي ښکېلاک پر وړاندې د مبارزې اورشيندې ژبه کارولې ده. د شعر ژبه يې روانه، د ولس له پوهنيزې کچې سره برابره ده. د قانع صاحب (د پلوشو ډالۍ) شعري ټولگې پر څلورمه پښتې شهرت ننگيال ليکي: "لکه چې د قانع صاحب د شعر پاروونکې محتوا او تگ لوري څخه په ډاگه ده، نوموړی خوږمن با احساسه او انقلابي شاعر دی. که څه هم لږ شعر وايي خو په تول پوره يې وايي. د هغه د شعر دغه ښهوالي او غوره توب کله نا کله له ځينو عادتي نقادانو سره څه شک هم را پيداکوي او د هغه اشعار د يو او بل شاعر له شعر څخه متأثر گڼي خو زه وايم چې د شعر له سبکې تأثر څخه يو شاعر هم خوندي نه دی پاتې. د دغه سبک په ايجاد کې د قانع صاحب له کم سن او څېرې سره د هغه د شعر تناسب او مقايسه هم څه نا څه دخيله گڼل کېږي او له نقادانو سره د څه شک په پيداکولو کې مرسته کوي. زه په خپله قانع صاحب تر ځان لوړ، غوره او د يوه اوچت او په زړه پورې سبک پيرو شاعر گڼم."

پخپله عصمت قانع د خپل شعر په تړاو ليکي: "د يتيم او بېوزله ژوند په اغزن او مارکونډنه لار کې، د بې وسۍ او مظلوميت په ځوروونکي او زړه بوږنوونکي ډگر کې، د نامرادو او ځوانيمرگوارمانونو په په ويرانه او کنډره هديره کې، د ظلم، ناروا، استبداد، ښکېلاک او زبېښاک په تور او لوغړن جهنم کې، د ارباب سالارۍ، خان سالارۍ آو ملاک سالارۍ په ويرجنه او غمجنه صحنه کې،د رهباني او خاقاني ښامارانو په چيچونکو دم او چف کې، د درباری شرابيانو د لېونيو خودسرو او ډراماتيکو لوبو په تراژيدي نندارتون کې، د وخت د بې سده سر دمدارانو، د کوتک، شلاخو او غمچينو ضربتي شور ماشور کې، بالاخره د لوی او شهيدروزونکي افغانستان په

میلیونو محرومو او بې برخو پرګنو کې، د لوږې، تندې. بې وزلۍ او بېچارګۍ د زړه بوږنوونکي حالت د دوام او استمراد په جریان کې زما دوې سترګې د سباوون له افق څخه د خلاصون لمر څرک ته لېواله شوې. . خو بیا هم دا زما د پلوشو ډالۍ ده. "(قانع، ۱۳۶۲ل، ۱ ـ ۵).

عصمت قانع په داسې وخت کې به شعر ویلو پیل کړی دی چې هېواد د سره ښکېلاک په خوله کې د خلاصون هلې ځلې کولې. له ښکېلاک څخه د خلاصون په دغو کرکترونو کې یوه هم عصمت قانع و. نوموړی په خپلو اورنیو شعرونو کې د خپلواکۍ د بیالاسته راوړلو نغمه په ډېرو ساده او روښانه کلمو، ترکیبونو او جملو کې هېوادوالو د پوهولو او راپارولو لپاره غږوالې ده. دلته یې (رڼا ته سلام). د نظم یوه برخه راوړو:

ای د ټوپــک د خـــولې پتمنــې رڼـــا ای د ســـنګر پـــه لمـــن پلنـــې رڼـــا
کــه تــه خاموشــه شــوې تیاره جـوړېږي ای پـــه آزاد ژونـــدون مینـــې رڼـــا
(قانع، ۱۳۶۲ل، ۱۷).

په (څړیکه) نظم کې د نوموړي د شعر موخه او تګ لوری په ښه شان څرګندېږي:

ما چې د دردونو څړیکې ګڼ به چورلکونـو کړي شـونډې مـې رپېـږي د دردونـو ترانـه وایـي
مـا چـې د بېوزلـو غلبلـې لـه خوبـه پـاڅوي زه د مسـتقبل سـاز تـه دردمنـده افسـانه وایـم
زه چې سپېرې شونډې د کوټلي ضمیر و وینم وینئ مې لېونتوب شي ډېـر رازونـه رندانـه وایـم
ښه شوه چې توده شوه زما څړیکه پـه رګونـو کـې اوس به شور پیدا کړي د جمود په محفلونو کې
زه هغـه شـاعر یـم چـې شعرونه مـې دردونـه دي زما د شعر نړۍ ټولـه انګـار ده سره سـکروته دي
کلـه چـې مـې زړه د اور پـه تېغنـه بانـدې واړوم هلـه و پـوهېږم چـې پـه برخـه زمـا ګټـه ده
زمـا د انګېرنـو جهـان رنـځ دی او دردونـه دي عشق مې لنډه کړې د رنځـو پـه بـاران ختـه ده
درد مـې شـو ملګـری د منـزل پـه پړاوونـو کـې ښه شوه چې توده شوه زما څړیکه په رګونو کې
زمـا شـعر مـداح د کونـډو رنـډو یتیمانـو دی زه مې په خپل شعر کې ببرسري لېونیـان سـتایم
ځکه مې نغمو کې خپل اصیل سوچه ارمان ستایم مـا نـه د غټـانو د توصـیف پوښـتنې مـه کـوئ
زه د رنځـور ژبـه یـم رنځـورو تـه درمـان سـتایم زه یـوه سـلګۍ یـم د رنځـورو پـه آهونـو کـې
ښه شوه چې توده شوه زما زما څړیکـه بـه رګونـو کـې دا درنځ شراب دي چې همېش مې مستانه ساتي
زه پـه بـل سـاقي بلـې پیـالې او مینـا څـه کـوم؟ سرې څنډې پرهر ځینې د سرو شونډانو خوند اخلم
زه د سرو شـونډانو جـادوګره مسـکا څـه کـوم؟ زه د بېوزلانـو پـه جـونګړو کـې لـوی شـوی یـم
قصـر د هـوس کـې د عیشـونو دنیـا څـه کـوم؟ زه د نور شـغله یـم پـه تیـارو تـورو ګوټونـو کـې

ښه شوه چې توده شوه زما څړیکه په رګونو کې
(قانع، ۱۳۶۲ل، ۲۳ او ۲۴).

لکه څنګه چې د غویي له کودتا سره د خلقیانو او پرچمیانو د شاعرانو شعر پر شعار بدل شو او ویل به یې:

که په دار باندې شم ځوړنـد لـه وېښـتو نـه خاینین مې مېز را کش کاندي لـه پښـو نـه
بیـا بـه هـم دغـه اقـرار پـه زوره وکـړم چـې د خلق وینـه مـې نـه وڅـې رګونـه

همدې ته ورته شعرونه ښاغلي عصمت قانع پر (۱۳۵۸ل) د سور ښکېلاک پر وړاندې لیکلي دي:

د سرو وینو په دریاب کې مې غوپې دي
نــه ډوبېــږم زه د قهــر لامبــوزن یــم
چې په خوږین ټټر تودې گولۍ سړې کړم
هله خوښ یم په لحد کې به پتمن یم
زمـا ژونـد د عقیـدې لپـاره مـرگ دی
هسې نه چې په سر ټیټې ژوندښادمن یم
چې هلوکي مې ولچک زولنې وخوري
بیا هم زه یم چې د خپل فکر خاوند یم
هغه وخت به د بـري په گـدۍ ناست یم
څو لت پت په وینو سور لژند بدن یم
د توزنـو پـه ځـانگو کې یم لـوی شـوی
د تورزنـو پـه ټـاټوبي کـې تـورزن یـم
(قانع، ۱۳٦۲ل، ۲۵ او ۲٦).

د (انقلاب) تر سرلیک لاندې لیکي:

پـه قیمـت د تـودو وینـو وړانـدې درومـې
دا د حـــق او د باطـــل مقابلـــه ده
د بســتر هــواداران یــې پــه کــار نــه دي
انقـــلاب خـــو د ککـــرو قصـــابه ده
(قانع، ۱۳٦۲ل، ۸۰).

د سپېڅلي جهاد پر وخت د جهادي شاعرانو په نظمونو کې هم ډېری شعرونه د شعار بڼه لري خو د دې تر څنگ داسې شاعران هم پکې را و ټوکېدل چې نظمونو یې د شعر تومنه لره او یا د غویه له کودتا څخه مخکې ښه شاعران و. دوی ډېری په خپل شعر کې د جهاد دسنگرونو د تودولو لپاره حماسي خوا ته ډېره مخه کړې ده او د حماسي شعرونو بله پکې درنه ده. د شعري څېلونو له مخې د ترانې، غزل، ترکیب بند، ترجیع بند لمنه درنه ده. شعري تلازمات هم ځای نا ځای په خپل سر د نوموړو په شعرونو کې را ټوکېدلي دي.

## ۴. ۴. ۳. په ټولیزه بڼه د اوښتون پړاو سبکي ځانگړنې

د اوښتون ادب چې د کارگرو طبقې او زیار ایستونکې د ایډیلوژۍ غبر پورته کوونکي وو د (۱۳۹۸هـ / ۱۳۵۷ل) کال د غویي میاشتې له اوومې نېټې را په دې خوا پـه رسـمي او دولتـي ادب بـدل شـو. د دغـه وخـت دشعرونو، کیسو، کره‌کتنو او ادبي څېړنو محوري مفکوره د ځمکواکي (فیوډالېزم) او ښکېلاک (امپریالېزم) پر ضد او د ټولنیز عدالت، پرمختگ، سولې او نړیوالتوب (انترناسینالېزم) لپاره مبارزه وه. د ادبي نوښتگرو د بیا روزنې په منظور د لیکوالو اتحادیه جوړه شوه. کومو روڼ اندو چې د بیاروزنې پر وړاندې مقاومت کاوه د هېواد په پرېښودلو اړ شول یا بندیان شول یا هم چوپه خوله پاتې شول او ځینو په نه زړه همکاري کوله. د (۱۳۹۹هـ / ۱۳۵۸ل) کال د جدي پر شپږمه نېټه د افغانستان پر خاوره د روسي سره لښکر تر تیرې وروسته په ادبي هستیو کې د سویټېزم (چپیتوب) په نامه گړنه هم دود شوې وه او د شوروي دوستۍ په تړاو لیکنې دود شوې.

د تجربو له مخې د هر ټولنيز بدلون په پيلامه کې د ادبياتو پيغام او مضمون له فورم او قالب څخه مخکې ځي او غالباً د فورم ښکلا ته چنداني پاملرنه نه کېږي. څه موده وروسته نوښتگر روڼ اندي د کليشه يي او د پرلپسې سوليدلي ادب د پای ته رسولو لپاره د نوښت لمنې ته لاس ور وړي او د پيغامونو لپاره مناسبه ژبه او ايماژونه (ذهني انځورونه). پيدا کوي.

د غويي له کودتا وروسته ډېری شعرونه د شعارونو بڼه خپلوي او انقلابي ترانې د شعر اصلي مضمون گرځي. د داستانونو منځپانگه هم له فيوډالېزم (خانخاني) سره مبارزې ته ځانگړې کېږي. د افغانستان په (دموکراتيک جمهوريت) کې د ليکوالو اتحاديې په جوړېدو سره د ادبي کره‌کتنې مجلسونه او سيمينارونه جوړ شول. په ادبي غونډو کې د شعر او داستان ليکنو اصول شرحه شول، نيمگړتياوو ته يې گوته و نيول شوه، په هنري او ښکلاييزو برخو باندې ټينگار وشو.

د (۱۴۰۶هـ / ۱۳۶۵ل) کال په وروستيو مياشتو کې د افغاني ټولنې په سياسي ژوند کې د يو څه بدلون نښې څرگندې شوې. په شوروي اتحاد کې نوی مشرتوب د (نوي تفکر، بياجوړونې او علنيت) تر شعارونو لاندې يوه نوې سياسي تگلاره پيل کړه. د همدغې نوې تگلارې او د افغانانو مقاومت په پايله کې بايد له افغانستان څخه د شوروي قواوې وتلې وای او د افغانستان دولت هم د جگړې په ځای د روغې جوړې تگلاره او نسبي دموکراسي منلې وای. د ملي روغې جوړې د تگلارې په غوره کولو سره فرهنگي پلورالېزم (فرهنگي ډېروالي) ته اجازه ورکړل شوه.

د فرهنگي ډېروالي په پايله کې د غزل ځېل په نوې بڼه ژوندی شو او د زمان روح پکې پوک وهل شو، ځلوريزه د نويو مفکورو لپاره په کار يوړل شوه، په مثنوي کې هم د منځپانگې له مخې بلا توپير راغی. د فرهنگي ډېروالي له پيلېدو سره د ديکتات، ړانده تقليد او تعبد (بنده گي کول) مرحله پای ته رسېږي.

د سره ښکېلاک په دغه ناورين کې د افغانانو ودانۍ، کروندې او ډېری گټنيزې شرچينې پر کنډواله وا وښتې، د کونډو او يتيمانو بازار تود شو او هېڅ کلی بې کونډو، بورو او يتيمانو پاتې نه شو. په دغه ناورين کې بيا هم د ادب په لمنه کې څوک د اتلانو حماسې انځوروي، څوک د شهيدانو کارنامې منظوموي، څوک د سولې نارې زمزمه کوي او څوک بيا خپل وران کلي او باندې د تېر ارمان په بڼه منظوموي، څوک د نهيلۍ او بې وسۍ نغمې وهي، څوک بيا د تورې شپې سبا ته په تمه خپل شعرونه ليکي.

د فرهنگي ډېروالي د وخت شعرونه او ادبي آثار د هنري ارزښت او همدارنگه د پيغام او منځپانگې له پلوه د اوښتون پړاو د لومړيو وختونو له آثارو سره جوخت توپير لري. د بېلگې په ډول په لومړيو وختونو کې طبقاتي مبارزه نه پخلا کېدونکې کښل کېده او له مخالفو جهادي ځواکونو سره د پخلاکېدو او مصالحې خبره خيانت بلل کېده خو د وخت د حکومت په اساسي قانون کې د بدلون له مخې د جگړې لپاره تبليغ منع شوی و او ملي مصالح يا سوله د دولت بنسټيزه تگلاره وه.

په همدې ترتیب په دغه وخت کې ملي، اسلامي او بشري ارزښتونو ته زیات درناوی کېده. د فرهنګي دېروالي د پالیسۍ په پایله کې په هېواد کې یو شمېر فرهنګي ټولنې هم جوړېږي چې په ګوندونو او حکومت پورې یې تړاو نه درلود. دغو ټولنو هم د فرهنګ د پرمختیا او پراختیا په لاره کې د یادونې وړ خدمتونه تر سره کړه.

د غويي تر کودتا وروسته د وخت د حکومت او د روسانو د عملي تیري په لامل ډېری افغانان له خپل هېواد څخه ګاونډيو او نورو اروپایي هېوادونو ته کډه شول. د وسله وال جهاد تر څنګ یې قلمي جهاد هم ښه په مېړانه پر مخ وړه. په دغو شعرونو کې بیا د غازیانو، شهیدانو ستاینې، د خپلواکۍ لاسته راوړل، جهاد ته د مجاهدینو هڅول یې منځپانګه جوړوي.

د اوښتون پړاو ډېری شاعران مخکې له دې چې شعر ولیکي د شعر پر موخه فکر کوي چې دغه کار یې د شعر خوا کمزورې کړه او شعر یې پر شعار واوښته. دوی مسایل په سطحي بڼه مطرح کوي، د ورځې مسئله په ورځنۍ ژبه بې له دې چې شعري نزاکتونو ته پکې پاملرنه وکړي د ولس په ساده ژبه په منظوم ډول راوړي.

## ۵. سوله‌ییز سبک

د اوښتون تر دور وروسته خپل منځي جګړو افغانان دومره وځپل چې د شعر سبک یې ور بدل کړ او د منځپانګې له مخې یې (سوله‌ییزسبک) منځته راوړ. هغو شاعرانو چې تل د دښمن پر وړاندې د جګړې ډګر ګرم ساتلی و اوس یې د خپل هېواد د وګړو لپاره د سولې پیغامونه په خپل شعر کې را ونغاړل، د هېواد د ابادۍ او پرمختګ نغمې یې وغږولې، له ټوپک او توري یې کرکه پیدا شوه چې دغه غږ بیا ورپسې شاعرانو هم ښه بدرګه کړ. زه یې د یو څو شاعرانو په شعرونو کې بېلګې راوړم او په یو څه بشپړه کچه به یې ځوان څېړونکی و څېړي:

نوراحبیب نثار

په پښو کې زولنې او پر سرونو ګوزارونه
تر څو به پر موږ کېږي د وختونو ګوزارونه
یو بل مو دومره و وېشتل په توپو توغندیو
چې بد مې شول تر پامه د ګلونو ګوزارونه
(نثار، ۱۳۷۷ل، ۱۰۷).

برکت الله کمین

**زما کابله!**

په تا کابله څه شړکونه راځي
د وحشتونو تور تمونه راځي
دښمن خو لاړو ورک شو دربغه چې اوس
د وړور د کور تالا ته ورونه راځي
اجل او ولېږې سره ګډې شپې دي
پکې د مرګ درانه خوبونه راځي
یوه ډوډۍ چې څوک تر کوره راوړي
ور پسې غاپي راکټونه راځي

پېغلــې لــه لــوړو غورځــوي ځانونــه
چــې پــرې د زور تجاوزونــه راځــي
د جگــړه مــارو چــې د نښــې مــخ تــه
ولي يــې کــور کــه بازارونــه راځــي
څوک چې د بل دعـا تـه ځـی خپله مـري
څـه بــدې پېښــې بـد وختونــه راځــي
چې سپي يې هم نه خوري تر څو د انسان
د ورســتو غوښــو بــه بويونــه راځــي
لــه ورکــې وژغــورې افغــان يــا ربــه
پــرې لــه هــر لــوري فشــارونه راځــي
نــوره کــړې ختمــه دا نــاولې جگــړه
چــې ترېنــه زړونــو تــه غمونــه راځــي
(کمين، ۱۳۷۷ل، ۱۹۱).

قسيم حسن آبرون

نن

نن بيا د لمر زرينې څنډې

تکې سرې ښکارې

لکه چې بيا

زموږ د گلشن د کوم پتنگ

ټټر

د جفا په غشو سوری شو

لکه چې بيا

د مينې پر کور د وير

ټغر و غوړېد

کله چې بيا

آهونو نه

فرياد

اوښکې فوارې

او گرېوانو ته رېښکې رېښکې شول

لکه چې بيا

زموږ پر مالت باندې

د چا. . یرغل راغی

او زموږ د مالت پتنګ یې په غشو و ویشت(ابرون،۱۳۸۳ل، ۹۶ او ۹۷).

غلام مصطفی سالک

منم چې ډېر لري خطر جنګونه — امن ته ښه دي د نظر جنګونه
سترګې د چا دې منځګړې نه شي — چې سترګې وکړي سر به سر جنګونه
د خوږ وطن شيرينه خود پاتې ده — چې ځای په ځای دي لکه غر جنګونه
خپلو کې ښه شوه رقيبان پرېوتل — لکه زرې کوي په لمر جنګونه
هلته به و منم چې امن راغی — که پېغلې وکړي په ګودر جنګونه
(سالک، ۱۳۷۷ل، ۴۶).

مختار لونګ

**رنځوره مینه**

اغيار لګيا دی سيم و زر جوړوي — ځان ته وطن په څه هنر جوړوي
پښتون د ورور وينو ته تږی ناست دی — د ورور وژلو ته لښکر جوړوي
خدايه دا څه غم د پښتون په کور شو — ودانې مېنې نه کنډر جوړوي
سيالان دې ګوره چې په دوو کې شمار شو — ډول سينګار کې خپل منظر جوړوي
پښتانه ورونه د يو پلار زامن دي — پکې اغيار دا لر و بر جوړوي
که مې رنځوره مينه جوړه شوله — لونګ به هغه ورځ اختر جوړوي
(لونګ، ۱۳۸۵ل،۸۲).

د کاروان (د ګلونو تر کاروانه) له نظم څخه څو بندونه:

مروري مستې زانې به بيا راشي — کتوري به له سندرو نه ډک راوړي
د ښکاري لاس به و چېري تر څنګلو — ورپسې که به لينده يا ټوپک راوړي
دغه تږي ماشومان ګلونه نه دي! — خدای به دوی ته هم د پرخې پتک راوړي
هوسۍ سترګې به وي بس غزل ويونه — بې له ترهې به کبلي روي تيونه
د کمر په هغه درز کې به ګل خاندي — چې پرون توغندي ويشتي و په تشي-
پروت په پرښه کې د بم زخم به جام شي — پکې شپون به پيوره وزه لوشي
هم هغه فولاد به نوکې د قلم شي — چې پرون ترې جوړېدې څوکې د غشو
لکه توري په کتاب کې به اوسېږو — د نغمو غونډې رباب کې به اوسېږو
(کاروان، ۱۳۷۶ل، ۱۳۶ او ۱۳۷).

افضل ټکور

د وطن خلک مې په خير او په شر نه پوهېږي
ياران مې ټول د حسن وږي دي د مينې وږي
چې زموږ کلی به يې مست وو په اواز د چمبې
خدای خبر ولې مې د خوار وطن تقدير داسې دی
هسې مې ځان ورته په چغو چغو ستړی کړلو
اوس د اوبو پر ځای راوړي سترګو کې اوښکې وينې
لږ يې خبر کړئ چې خندا او هوس وايي څه ته

په جنګ اخته دي په ماښام او سحر نه پوهېږي
خدايږو د خپل وجود په سود او ضرر نه پوهېږي
هاغه ليلا نور د چمبې په هنر نه پوهېږي
هر اوسېدونکی يې په دار او [په] در نه پوهېږي
هغوی تر اوسه په مانا د شاعر نه پوهېږي
د کلي پېغلې په منګې په ګودر نه پوهېږي
هاغه ټکور په دې خبره اکثر نه پوهېږي
(ټکور، ۱۳۹۲ل، ۱۱).

محمد ابداهيم همکار

۱۴۲۰هـ / ۱۹۹۹/ ۱۰ / ۲۱مه پېښور، تاج آباد، درملتون

## د سولې کښتۍ

ژر شه راوځه ای د سولې لمره
زما د زړه په وينو رنګ افسانه

لاره تياره ده خار و ګټې لري
ستا د زرينو وړانګو کوټې لري

هلته د غره په سر يو څوک غلی دی
شپونکی ويده دي شپېلۍ نه وهي اوس

زما د شپونکي بزې او ګډې شماري
لېوه يې سر ته پسه ميږې داړي

ژر شه را وځه ای د سولې لمره
په غوږ يې واوره که غيرت لرې لږ

د افغانانو د ژوند پاڼه لولم
د يتيمانو د ژوند خواله لولم

څومره نادان يمه هر چا ته خاندم
د ملالۍ ټپه مې خرڅه کړله

د کونډې لوخ سر ببر نه وينمه
د ورور سينه کې خنجر نه وينمه

ژر شه راوځه ای د سولې لمره
چاړه مې ايښې ده د ورور په ورمېږ

ما لاس رنګ کړی دی په خپلو وينو
رغړو پر ښکته يو د بل پر سينو

دا نه اسلام او نه پښتو کې وينم
وحشت حيران دی کارنامو ته د دوی

چې اور په خپله ځان ته واچوي څوک
چې اور ژوندي انسان ته واچوي څوک

ژر شه را ووځه ای د سولې لمره
همکاره بچ دې کړي مولا په فضل

زړګی مې وچاده له ډېره غمه
کښتۍ د سولې د خوناب له يمه

(همکار، ۱۳۹۳ل، ۱۷۸ او ۱۷۹).

ملا اسدالله حنفي

وطن مو يو رهبران ډېر دي دا به څه چل کوو
له دا يوې چوکۍ چارچېر دي دا به څه چل کوو
جنګ او جګړې دي په چوکۍ د خولې قلم او ژبې
خپل شهيدان ور څخه هېر دي دا به څه چل کوو
مسابقې دي د چوکۍ او د قدرت ملګرو
د شهيد وينې شوې پايمال په صراحت ملګرو
نفاق شقاق مو د نهضت متې را غوڅې کړلې
بېړۍ شوه ډوبه د يووالي او وحدت ملګرو
داسې کول کړي چې خفه شول شهيدان د وطن
وراړې او بورې کونډې رنډې يتيمان د وطن
اخر به دغه بې ضميره خلک هم ترې لاړ شي
مخ به ترې واړوي بې پته چاپلوسان د وطن
(حنفي، ۱۳۷۱ل، ۴۰۰).

گل اغا احمدي وردگ

## د فلک خولګۍ

د وصال نسيمه لاس را چې جانان مري
زما هيله زما ژوند زما ارمان مري
د رخسار په ښايستونو لو ګډ شوی
زما مينه زما روح او زما ځان مري
د سرو ګلو له چمنه وينې څاخي
زما ګل زما بلبل زما جهان مري
جنازې دي يوه پر بله پسې وځي
سپين سهار مري رڼايي مري چراغان مري
که قيامت نه دی نو څه شی ورته وايې؟
زما لمر زما سپوږمۍ زما اسمان مري
د رقيب د زړه کينه شوه تولـه تشه
زما خال مري غاړکۍ مري او پيزوان مري
دا دکوم غليم د تورې ښېرا ښکار شوم؟
دلته کور په کور ويرونه دي افغان مري
خدا بيا د فلک داسې خولګۍ غواړم
چې نه ژوند نه ښکلاګانې نه خوبان مري
(وردګ، ۱۳۸۷ل، ۹۱ او ۹۲).

بلقيس مکېز

۱۴۲۲هـ / ۱۳۸۰ل/ ۵/ ۲۴مه

## خوار افغان

يار چې ياران وژني له غليم نه به ګيله څه وي
تول چې سره بيل يو د کاروان به قافله څه وي
مزی د وحدت مو و ټينګ کړی په معنی باندې
وېش را باندې ګډ شو د پيسو به معامله څه وي؟
چېرې دی انسان چې د انسان له غمه وسوزي
ښار د بېدردۍ کې به د اوښکو سلسله څه وي
وخت دی دکښو ړندو چې اوسی په قصرونو کې
دوی ته به د خوارو افغانانو غلغله څه وي؟

بر مې شو د عمر په بهار باندې د منې باد | اوس به مې د عمر و عدم ته فاصله څه وي
وایه ای زاهده چې په کومه لاره لاړه شم | ورکه مې قبله شوه وایه ستا به فیصله څه وي
بزم د یارانو بیا را ټول کړه چې وطن ته ځو | دلته به د خوارو افغانانو مشغله څه وي

(مکېز، ۱۳۸۲ل، ۶۷ او ۶۸).

عبدالغفور لېوال

**ژړا اور مینه**

مینې د تل لپاره کډه کړې
زما تېر کلونه به بیا هېڅ کله را و نه گرځي
زه تښتېدلی له نېکمرغې ماضي
د کوم (سبا) د دېوال شا ته ناست یم
(راتلونکی) نه شم لیدی
او (اوس) مې هومره تریخ دی
لکه زقوم د دوزخ
ای د ماضي حسرته!
مگر د مرگ دعزرایل گوتې دعشق تر ستوني هم رسېږي!؟
زموږه مینه خو لا سترگو کې وه
چې د ښکلاوو د لور شرنگ پورته شو
او مینه وچه شوه
ایرې شوه
چېرته باد یووړه
دا وه د کومو تندرونو وېره
چې مې د سترگو شبول کې ورکه شوه رمه د اوښکو
اوستا د خال د شپونکي قتل په اوربل واو ښته

مینې د تل لپاره کډه وکړې
سرکال غنمو گل خنگې و نه کړل
ساسمني هار به دې غاړې ته لهځه شي جوړ کړم
شوې د لوگریو سترگې دومره وړې
چې له ستریو یې یوه دانه هم نه تویېږي
ای خوشه چینه اشنا!
ستا په نکریزو سرې منگلې به بیا جوړې نه کړي
د طلایي فصل د وږیو قودې

زلمي بزگر به سبر کال هېڅ تا ته در و نه گوري
او ستا له لپو نه به هېڅکله اوبه و نه څښي
هغه له تا څخه ځان داسې ساتي
لکه د اور له لمبو
تا ته کتل ور ته گناه ښکاري
او اخيستل ورته د مينې د نوم سوچ کفر دی
آه خدايه نه پوهېږم
چې د گناه
گناه
گناه له وېرې
(عمر) په (زوند) حساب دی!؟

مينې د تل لپاره کډه کړې
څه د ښايست د وچکاليو کال دی
بس زه يوازې او يوه کوډله
له خپل شاعر خوب سره
يوه جذام وهلې لويه ټاپو
پکې يو وچ ځنگل او سپينبواورې
له بې ښکو يو څو زانو سره
زه هومره ړونديم د کوډلې ور مې نه پېژانم
بس يوه لار د لمر خاته له خوا دوزخ ته تللې
يوازې ماتې پنجرې نه را ته ښکاري يوه وچه
دروېزگره ځانگه..
زه يې وړوند وينم کوم چا ته اوړد دی
د پاڼو شنه بنگړي ميراث دي ورنه
او نورې گوتې يې لا ښوري باد ته
کله يې مات رغوي کې پرېوځي يوه زېړه سکه
او زه پرې پوه شم چې لا لمر ژوندی دی
ای ما ته گرانې ټاپو!
زه تل ويده يم ستا وروستی سلگی په خوب کې وينم
کله چې غوږ و نيسم
د چا د ښپو غږونه اورم چې په واوره راځي
د ځمکې سپين څادر يې گام لاندې ځگيروي کوي

کنگل ماتېږي. .
او د کارغانو له کغ کغ سره د ځانگو متې هم رېږدوي
آ های زما سرگردانې اروا!
ستا وېروونکې سکالو اورم
مگر څه وکړم بې وسه یمه لاس نه لرم
زما د کوډلې ور لړ ورو ټکوه
ځو مې د ذهن د تاخچې ځاله کې
د خیال د شنو کوترو خوب مات نه کړې

مینې د تل لپاره کډه کړې
بېگاه مې بیا په خوب کې ولېدلې
د خپلې ټولې ښکلا حجم سره
چې د دمینې د سندرو پر ځای
را ته د (ویاړ). زړې بدلې ویلې
ای پر ما گرانې ښکلې
نور مې رگونه وچ دي
تنده مې هم ماته ده
نو را ته و وایه چې
دا ستا د (هېڅ). په نوم به څه بهوم!؟
ای قلندره اشنا!
اوښکې دې مه تویوه
دغه زیارت ستا پر ډوډۍ او زما پر وینو جوړ دی
زه هم راغلی یم خیرات غواړمه
ستا د کچکول د ماتېدلو خیرات(!)
زموږ د وران کلي پیتاوي کې بیا سیوري ښکاري
د زیارتونو تر څنگ
ځو ببر سرې پېغلې
ځو لېونۍ چیغې شلېدلې تنۍ
ځو لارې وینې په سپېرو خاورو کې
چې ما ته ښکاري پرې لیکلي یې دي:
آهای!
د بدمرغیو نسله!
ته پرې خبر یې کنه!؟

مينې د تل لپاره کډه کړي(لېوال، ۱۳۷۷ل، ۳۹ ــ ۴۲).

عبدالطيف منتبار

**د انسان قاتل ته!**

ما ته ټوپک مـه جـوړوه سپاره را تـه جـوړه کـا
جـغ او کرکـی دکـر لپـاره را تــه جـوړه کـا

ما ته ټوپک مه جوړوه کور کلي کې غـم کـري
دا پـه اجـتماع کـې مصـيبت کـري مـاتم کـري
روغـه جـوړه سـوله دوامـداره راتـه جـوړه کـا
جـغ او کرکـی دکـر لپـاره را تــه جـوړه کـا

دا راکټ دې واخله ترېنه ښکلې غونډې لور جوړ کـا
نوري ويني مه تويوه ژوند را ته سمسور جوړ کا
بېـل بېلچـه لـه دې نـه مزېـداره را تـه جـوړه کـا
جـغ او کرکـی دکـر لپـاره را تــه جـوړه کـا

پوهــه او قلــم زمــوږ د ورځــې ضرورت دی
تـا پـه دې بـارودو پيـدا کـړی مصـيبت دی
ټولونــه اول د مکتــب لاره را تــه جــوړه کــا
جـغ او کرکـی دکـر لپـاره را تــه جـوړه کـا

دې ظلـم نـه تېـر شـه مرسته وکـړه لـه بشر سره
وايـي منتبـار ژونـدون مـو گـوره لـه پرهـر سره
اوس نـو دا کوډلـه سردوبـاره را تـه جـوړه کـړه
جـغ او کرکـی دکـر لپـاره را تــه جـوړه کـا
(منتبار، ۱۳۷۸ل، ۳ او ۴).

پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون

گران يې والله را باندې گرانه جنگ ته نه درځمه
د ځوانی ورځې دې جانانه جنگ تـه نـه درځمـه
پــرون د لمــر پلوشــو ژمنــه را سره وکړلــه
را ټولوم دې پرې گرېوانـه جنـگ تـه نـه درځمـه
پر دغې ځمکې خـو د دې خبرې حق بـه لـرم
چې نوم د ژوندواخلم ارمانه جنگ ته نـه درځمـه
سـترې دې وختــه ملابنــد او گردنــی نــه يمــه
دغه سوغات دې واخله ما نه جنگ ته نه درځمـه
ما په همـدې ټوپـک د خپـل کالـه ځـراغ وژلـی
کړه مې ودانـه دنيـا ورانـه جنـگ تـه نـه درځمـه
ما د جگړې پـه زوږ پرهـر بانـدې کېنښـود ملهـم
ځکه خو گـران افغانسـتانه جنـگ تـه نـه درځمـه
(ازمون، ۱۳۹۹ل، ۱٦٧).

## ٦. په پښتو ادب کې د ادبي سبک او ادبي ښوونځي ربړه

زما د څېړنې په بهیر کې زه دې پایلې ته ورسېدم چې د پښتو ادبیاتو په لومړۍ دوره کې د کوم شاعر ځانګړی سبک نشو په نښه کولای، دلیل یې همدا دی چې د نوموړې دورې له هر شاعر څخه د ګوتو په شمېر نظمي ټوټې پاتې دي چې په دغه لامل موږ د دوی ځانګړی سبک نشو څرګندولای. د لومړۍ دورې سبک ته موږ په ټوله کې (دوره یي سبک یا د لومړۍ دورې سبک) ویلای شو.

د پښتو ادبیاتو په دویمه دوره کې بیا موږ د څلورو غوره شخصیتونو ( بایزید روښان، خوشحال خان خټک، عبدالرحمن بابا او عبدالحمید مومند) له ادبي سبک سره مخامخ کېږو چې بیا د دوی د پلیونو پواسطه نوموړي سبکونه په ادبي ښوونځیو اوښتي دي. روښاني ادبي ښوونځی، خوشحال خان خټک ادبي ښوونځی، عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی او عبدالحمید مومند ادبي ښوونځی. په دغو ادبي ښوونځیو کې یوازې د عبدالحمید مومند ادبي ښوونځی ته (پښتو هندي ادبي ښوونځی) ویلای شو چې نوموړی په ټوله کې د هندي سبک پلیونی دی.

د پښتو ادبیاتو په درېیمه ادبي دوره کې بیا هم ځانګړی سبکونه مخې ته راځي، دا چې د دغو سبکونو ځانګړي پلیوني وخت او نورې څېړنې ته اړتیا لري نو یوازې مو د (روښانتیا، ویښتیا او اوښتون) په ډله ییزو سبکونو و نوماوه.

د اوښتون پړاو په پای کې ټولنه له جنګ جګړو سترې شوې ده، شاعرانو د سولې ترانې او شعرونه په خپل هنر کې زمزمه کړل چې (سوله ییز سبک) یې را منځ ته کړ.

## ۷. پر پښتو ادب د لویدیځ ادبي ښوونځیو اغېز

د انګرېزانو د ښکېلاکي یرغلونو په لامل د پښتو شعر بې اغېزه پاتې نشو، د شعر پر منځپانګې سربېره یې نوي ځېلونه هم له ځانه سره راوړل. د (غم جانان) بدله په (غم دوران) واوښته. په شعر کې د ښکېلاکګرو پر وړاندې د پاڅونونو نغمې زمزمه شوې، د ټولنې د ناخوالو پر وړاندې مبارزه او قرباني رامخې ته شوې چې دغه اغېزمنتیاوې یوازې موږ د پښتو ادبیاتو په درېیمه دوره کې تر سترګو کولای شو او د غربي ادبي ښوونځي (ریالیزم) پله درنه شوه. دوې ادبي ګړنې ( ادب د ادب لپاره ) او ( ادب د ژوند) لپاره و کاربېدې چې د پښتو معاصر ادب شاعرانو (ادب د ادب لپاره) دومره و غانده چې (ښکلا) ستاینې ته یې هم زیان واړاوه او سوچه نېغ په نېغه وچې نیوکې را پیل شوې. ولې د دغې ډلې شاعرانو په منځ کې داسې شاعران هم وو چې د شعر ټول نزاکتونه یې په پام کې نیول او اصیل ادب یې په پښتو ژبه کې و زېږاوه.

# پایله

هغه څوک چې د ادبي سبکونو په تړاو قلم پورته کوي باید د سبک په اړه لومړی مطالعه ولري، په هغو توکو ځان پوه کړي چې د سبک په رامنځته کونه کې کارنده نقش لوبوي، که څوک په خپل سر بې له سبکي پوهې دغه کار کوي نو په خپل کار کې به ډېری ښویېدنې وکړي او لوستونکی او ځانګوال به په ناسمه لار ور روان کړي چې همدې موخې ته په رسېدو مې په خپل اثرکې د سبک په تړاو ډېری لارښوونې راوړې دي.

زما د دغې څېړنې له مخې د پښتو ادب په لرغونې یا لومړی دوره (۱۳۹ ــ ۹۵۰هـ) کې شخصي سبک نشته لامل یې دا دی چې په دغې دورې کې د شاعرانو لاسته راغلې منظومې بېلګې له دوو یا درو څخه تېرې نه کوي او ډېری شاعران یکې د یوې بېلګې څښتنان دي چې موږ یې په یو ه نظم کې د سبک څرګندول ناشوني ګڼو خو ما بیا هم د دغو شاعرانو د بېلګو ځانګړنې را برسېره کړي چې د سبک حکم پرې نشو کولای. د دغې دورې پر سبکي توکو مې رڼا اچولې ده او په ټوله کې یې دوره یې سبک ګڼلای شو.

د پښتو ادب په دویمه دوره (۹۵۰ــ ۱۳۲۸هـ / ۱۹۱۰ز) کې بیا موږ له څلورو بېلابېلو سبکونو (د روښاني سبک، د خوشحال خان سبک، د عبدالرحمن بابا سبک، او عبدالحمید مومند سبک چې هندي سبک هم ور ته وایي) سره مخامخ کېږو چې د پلیونو د را پیدا کېدو او پر دغو سبکونو د تلو له مخې ورته ادبي ښوونځي ویلای شو.

د روښاني ادبي ښوونځي چې ډېر تړاو یې له بایزید روښان سره دی او د نوموړی فکر پالي په منظم ډول د نظم له مخې له ارزاني څخه پیلېږي چې د بایزید روښان د مریدانو له خوا ښه پالل کېږي او بیا د اخوند درویزه پلویان هم دغه پلو ته مخه کوي. په دغه ادبي ښوونځي کې د وحدت الوجود فلسفه ډېره پالل شوې ده او په دغې تړاو ډېری ګړنې د شاعرانو په نظمونو کې راغلي دي چې ما د هر شاعر هغه خواوې چې په خپله د شاعر ځانګړی لوری ښیي هم را بیل کړي دي او په ټوله کې د دغه ادبي ښوونځي ځانګړنې مې هم په ګوته کړي دي.

د روښاني ادبي ښوونځي ټوله پله پر تصوف، عرفان، دیني تبلیغ او اخلاقي موضوعګانو ولاړه ده او هر شاعر یې کوښښ کړی چې همدغه خوا په خپل شعر کې و پالي په تصوف پورې اړوند مقامونه، ګړنې او ورسره هغه مقامونه چې بایزید روښان د خپلې فلسفې لپاره ټاکلي دي په خپل شعر کې راوړي دي.

په روښاني ادبي ښوونځي پسې د خوشحال خان خټک بابا ادبي ښوونځي پیلېږي. په نوموړي ادبي ښوونځي کې پښتوادب یو نوي پرمختیایي پړاو ته داخل شو چې پکې د نظم د ځېلونو له مخې ټول ختیزوال نظمي ځېلونه و پالل شول. د پښتو شعر د مضمون له مخې د بشپړېدا پر لور وغزېد او یا هم بشپړ شو، پر پخوانیو عشقي، عرفاني، تبلیغي او وعظیه اخلاقي موضوعګانو سربېره د ټولنیز ژوند بېلابېلې موضوعګانې په شعر کې راوړل شوې، تاریخي پېښې، پر ټولنه او حکومتي سیستم نیوکې، له هېواد سره د مینې احساسات، د پښتون او پوښتونولۍ د موضوعګانو بیان او نور یادولای شو. د نویو موضوعګانو تر څنګ زړې موضوعګانې، لکه

اخلاق، عرفان، پندونه او عشق په نوی رنګ کې بیان شوي دی. پښتني ټولنه په شعر کې را ښکاره شوې ده او ډېری انځورونه پکې په معنوي او فزیکي لحاظ منظوم شوي دي. په دغه ادبی ښوونځي کې د ادب تومنه په پراخه کچه ځان په شعر کې ښيي. په قصدي بڼه پښتو شعر ته کار شوی دی.

د بلاغي علومو په تړاو پښتو شعر لوړ پړاو ته رسېدلی دی، بیان، معاني او بدیع پکې ښه پالل شوی دی. زما د څېړنې له مخې خوشحال خان خټک داسې مضمون او تشبیه نه ده پرېښې چې شعر یې پکې نه وی ویلای.

د ګرامر له مخې ځینې وخت بېلابېل ګړدودونه، د نورو ژبو کلمې او محاورې د وزن او قافيې د سمون لپاره راوړي. د وزن د سمون لپاره ډېری وخت د کلمو په جوړښت کې هم لاسوهنه شوې ده.

پر نرینه احساساتو سربېره ښځینه احساسات هم پکې راوړل شوي دي، د ښځمنو پالنه هم پکې شوې ده.

په خوشحال ادبي ښوونځي پسې بیا د عبدالرحمن بابا ادبي ښوونځی سر را او چتوي، کومه ژبه او سادګي چې عبدالرحمن بابا د خپل شعر لپاره غوره کوي یوه ډله شاعران په شعوری او قصدي بڼه د عبدالرحمن بابا د شعر پلیوني پیلوي چې د نوموړی ادبي ښوونځي د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

د عبدالرحمن بابا سبک ابهام او پېچلتیا نه لري، په دغه سبک کې د شعر د کلمو په غوراوي کې زیار ایستل شوی دی؛ د شعر د خوند او رنګ لپاره یې ډېر ښکلي خو ساده او عام فهمه کلمې غوره کړې دي، د عبدالرحمن بابا سبک د واقعیتونو بیان ته زیاته پاملرنه لري. له انسان سره مینه په دغه سبک کې په ښکلي انداز بیان شوې ده، ډېره تعلي (ځان ستاینه). راوړل، د دنیا بد او ښه والی بیانول، په یوه نظم کې د کلمو او ترکیبونو پرلپسې داسې تکرار چې لوستونکی نه تنګوي، بلکې لا یې پسې لوستو ته هڅوي، سادګي، رواني، اساني، شایستګي او دلچسپي، سهل ممتنع، د پند پر وخت هم د مخاطب د ادب خیال ساتل پکې ښه پالل شوي دی، د موضوع له مخې د عبدالرحمن بابا دیوان څلور موضوعګانې (تصوف او عرفان، دیني مسایل، ټولنیزه پوهه او کلتور، مجازي او حقیقي مینه). مخکې وړي.

د عبدالرحمن بابا په ادبي ښوونځي پسې پښتو ادب ته د عبدالحمیدمومند پواسطه هندي ادبي ښوونځي مخه کوي. د نوموړي ادبي ښوونځي ارزښتمنې ځانګړنې ډېرې کنایې او استعارې کارول، دنویو او باریکو مضمونونو راوړل او ورسره خیالي انځورونه په خپل کلام کې ځای په ځای کول، د ډېرو ګړنو کارول، دارسال المثل کارول، تمثیل ته زیاته مخه کول، له ذهن څخه لرې کنایې او استعارې کارول، زیاته مبالغه، د تخیل ډېره ژورتیا، په قصدي ډول په هندي سبکه اشعارو کې بدیع او بیان ته توجه نه کول، د مضمون نوي والي ته ډېره پاملرنه کول، بازاري او عامیانه کلمې په خپل کلام کې راوړل، ایجاز یا لنډون ، د مصرو ترمنځ انډول او تناسب ساتل، د دې سبک غزلیزه شاعري زیاتره د مینې پر خوا او شا چورلیدل، د قافیو تکرار، له ژوند څخه ماتې کول او د ابهام او پیچلتیا ډېروالی یې لویې ځانګړنې دي چې د پښتو هندي ادبي ښوونځي شاعرانو په خپلو شعرونو کې پاللې دي.

په هندي ادبي ښوونځي کې دوه ډلې شاعران مخې ته راځي چې یوه ډله یې یو څه د اسانی پلوي دي او په خپل شعر کې پېچلتیا او ابهام ته ډېر ځای نه ورکوي چې په دغو کې د عبدالحمید مومند په ګډون کامګار خټک، محمدی صاحبزاده، علي خان او نور دي خو یوه ډله یې بیا په خپلو شعرونو کې ډېرې پېچلتیا ته مخه کړې ده چې شعر یې د ډېرې پېچلتیا خوا ته وړی دی او د لوستوالو د پوهې له سویې څخه خورا اوچت شوی دی چې په پښتنو هندي سبکه شاعرانو کې دغه خوا یوازې کاظم خان شیدا پاللې ده او په خپلو کړو یو څه پښېمان هم ښکاري. په هندي ادبي ښوونځي کې د لوی او واړه شاعر او همدا ډول د مخکې مسرې او برجسته مسرې موضوع هم مطرح ده.

د پښتوادب ددرېیمې دورې پیل په لره پښتونخوا کې د رایو په یو والي د (۱۹۱۰ز) کال خوا او شا د (افغان) جریدې په خپرېدو سره پیلېږي. په دغه جریده کې د پښتو ادب نوي ژانرونه دود شول او د سید راحت زاخیلي، فضل محمود مخفي او عبدالاکبر خان اکبر غونډې لیوالو د درېیمې دورې یا په اصطلاح د معاصر ادب زړی وکاره.

د درېیمې دورې د لومړي پړاو (روښانتیا) شعرونه چې ډېری ساده دي د ټولنې علمي کچه ټیټه وه او بل د طنز او مزاح په ژبه د نظمونو لیکل د وخت له قدرت څخه د ځان ژغورنې یوه وسیله وه نو شاعر اړ و چې په سیمبولیکه ژبه یا د طنز او مزاح له لارې د خپل ولس فکر بیدار کړي او د خپلواکۍ د لاسته راوړنې لپاره یې و هڅوي. ډېری شاعران بیا په ځرګند ډول له انګرېزانو څخه د خپلواکۍ د ګټلو عملي اتلان ول او ور سره یې د ولس په ژبه د ولس د فکري هڅونې لپاره د دښمن پروړاندې خپل شعرونه په ساده او ځرګند ډول منظومول او هیڅ ډول پېچلتیا، سیمبول کارونه یا کنایې یې نه راړلې. د شعر قالب یې یا ولسي دی او یا هم زړو کلاسیکو ګډو نظمونو څخه را خیستل شوي دي. د هندي سبک له پېچلتیا بیا د دې پېر سلیس والی او ساده والی یو بغاوت هم ښکاري. ساده کلمې، ترکیبونه او ادبي فنون په ډېرې عادی بڼه کارېدلي دي.

د ویښتیاپړاو ادبي سبک انتقادي ریالیزم دی چې په عمده توګه د اداري فساد، بیرو کراسي(انتصابي حکومت، وخت ضایع کول، کاغذ پراني، سرګرداني)، اختناق، اتوکراسي لکه (مطلقه شاهي نظام چې د یو کس حکومت وي)، ارتجاع، ظلم او زبېښاک پر ضد مبارزه پکې منعکس شوې ده. همدا ډول د دغې دورې په ادبیاتو کې د پښتنو او بلوڅو د ملي خپلواکۍ ښونکي خوځښت، د ښځو د دیموکراتیکو حقونو، ټولنیزو سیاسي سمونو، د اقتصادي حالت د ښه والي لپاره مبارزه د یادونې وړ ده. د ویښتیا دورې په ادبیاتو کې کله کله د سوسیالستي ریالېزم بېلګې هم لیدل کېږي خو د دغه وخت برلاسی ادبي میتود یا سبک انتقادي ریالېزم دی چې د شعر، لنډې کیسې، ادبي ټوټو، ډرامې، طنز او ادبي مقالو په بېلابېلو ژانرونو کې یې ځان ښودلی دی.

د ویښتیا په ادبیاتو کې د فورم له پلوه د روښانتیا په پرتله ډېر ښه والی راغلی دی خو سره له دې پیغام او ایډیا ته د بدیعي ځانګړتیاوو په نسبت زیاته پاملرنه شوې ده، مفکوره ډېری نېغ په نېغه راوړل کېږي او له ادب څخه د تبلیغاتو د وسیلې په توګه کار اخیستل کېږي. په دغه وخت کې فورمالېزم او هنر د هنر لپاره مفکوره و غندل شوه. افغاني ټولنه د فکر، فرهنګ او اقتصاد له مخې ورسته پاتې وه، په دغه بنسټ فورمالېزم او هنر د هنر لپاره ادب یې

چندان ښه نه ایسېده. په پای کې ویلای شو چې د پښتو معاصر ادب او بیا د ویښتیا پړاو بې لـه ریـالېزم بـل ادبي ښوونځي ته ژمن نه وو او لامل یې ساده والی او د ټولنې ناخوالې په ګوته کول او له دغو ناخوالو څخـه د ټـولنې خلاصول وو.

د اوښتون ادب چې د کـارګرو طبقـې او زیـار ایسـتونکې د ایـډیلوژۍ غبر پورتـه کـوونکي وو د (۱۳۹۸هــ / ۱۳۵۷ل) کال د غویي میاشتې له اوومې نېټې را په دې خـوا پـه رسـمي او دولتـي ادب بـدل شـو. د دغـه وخـت دشعرونو، کیسو، کره‌کتنو او ادبي څېړنو محوري مفکوره د ځمکـواکي (فیـوډالېزم ) او ښـکېلاک(امپریالېزم) پـر ضد او د ټولنیز عدالت، پرمختګ، سولې او انترناسینالېزم لپاره مبارزه وه.

د غویي له کودتا وروسته ډېری شعرونه د شعارونو بڼه خپلوي او انقلابي ترانې د شعر اصلي مضمون ګرځي. د داستانونو منځپانګه هم له فیوډالېزم (خانخاني) سره مبارزې ته ځانګړې کېږي. د فرهنګي پلورالېزم په پایله کې د غزل ځېل په نوې بڼه ژوندی شو او د زمان روح پکې پو کړل شو، څلوریزه د نویو مفکـورو لپـاره پـه کـار یـوړل شوه، په مثنوي کې هم د منځپانګې له مخې بلا توپیر راغی.

د اوښتون پړاو ډېری شاعران مخکې له دې چې شعر ولیکي د شعر پر موخه فکر کوي چې دغه کار یې د شعر خوا کمزورې کړه او شعر یې پر شعار واوښته. دوی مسایل په سطحي بڼه مطرح کوي، د ورځې مسئله په ورځنۍ ژبه بې له دې چې شعري نزاکتونو ته پکې پاملرنه وکړي د ولس په ساده ژبه په منظوم ډول راوړي.

د جهاد پر وخت د جهادي شاعرانو په نظمونو کې هم ډېری شعرونه د شعار بڼه لري خو د دې تر څنګ داسې شاعران هم پکې را و ټوکېدل چې نظمونو یې د شعر تومنه لرله او یا د غویي له کودتا څخه مخکې ښـه شـاعران و. دوی ډېری په خپل شعر کې د جهـاد د سـنګرونو د تودولـو لپـاره حـماسي خـوا تـه ډېـره مخـه کـړې ده او د حماسي شعرونو پله پکې درنه ده. د شعري ځېلونو له مخې د ترانې، غزل، ترکیب بند، ترجیع بنـد لمنـه درنـه ده. شعري تلازمات هم ځای نا ځای په خپل سر د نوموړو په شعرونو کې را ټوکېدلي دي.

د اوښتون تر دور وروسته خپل منځی جګړو افغانـان دومـره وځپـل چـې د شـعر سـبک یـې ور بـدل کـړ او د منځپانګې له مخې یې ( سوله‌ییزسبک ) منځته راوړ. هغو شاعرانو چې تل د دښمن پر وړاندې د جګړې ډګر ګرم ساتلی و اوس یې د خپل هېواد د وګړو لپاره د سولې پیغامونه په خپـل شـعر کـې را ونغـاړل، د هېـواد د ابـادۍ او پرمختګ نغمې یې وغږولې، له ټوپک او توري یې کرکه پیدا شوه چې دغه غږ بیا ورپسې نـورو پښـتنو شـاعرانو هم ښه بدرګه کړ.

په پښتو منظوم ادب کې ځانګړي سبکونه شته، کله چې د دغو ځانګړو اشخاصو د سبک پلیوني نورو وکړه نو پر ادبي ښوونځي بدل شو، لکه د روښان، خوشحال، عبدالرحمن بابا او عبدالحمید مومند منظوم ادبي ښوونځي.

د غربي ادبي ښوونځيو او پښتو ادبي ښوونځيو تر منځ هغسې تړون نشته، لکه څنګه چې په غرب کې را منځته شوي دي، د هرې ټولنې غوښتنې، اقتصادي وضعيت، کلتوري ارزښتونه او نور سره توپير کوي نو ځکه يې موږ هغسې نشو نومولی ولې د غربي ادبي ښوونځيو اغېزمتياوې په پښتو معاصره شاعرۍ کې شته.

## مناقشه

د سبک او پښتو ادبي سبک په تړاو په پښتو ژبه يو څه څېړنې شوې دی چې له خپل وخت سره يې په دغه برخه کې د ځانګوالو او لوستوالو ذوق خړوباوه، دا چې ټولنې وخت پر وخت پرمختګ کوي او د دغو پر پختګونو اغېز پر ادب هم وي نو له دې کبله هغو مخکينيو سبکي آثارو په نن وخت د پښتو منظوم د سبک په تړاوړ بشپړ ځواب نشو ويلای، همدا لامل او اړتيا وه چې ما د خپل دېزرتېشن موضوع (د پښتو منظوم ادبي سبک څېړنه) و ټاکله چې په دغه برخه کې مې ډېرې نوښتونه تر لاسه کړل، هغه آثار چې تر نوموړي اثر وړاندې چاپ شوي د لا ښې څرګندونې لپاره يې راوړل اړين بولم.

کانديد اکاډميسن محمد صديق روهي په (ادبي څېړنې،۱۳۶۰ل) اثر کې د سبک پرلغوي او اصطلاحي ماناوو يوڅه څرګندونې لري او د ګڼو ځانګړنو له مخې يې د سبک اووه ډولونه را پېژندلي دي خو په عملي بڼه پکې څه نه ليدل کېږي، پوهاند صديق الله رشتين (د پښتو ادبي مکتبونه، ۱۹۸۸ز) تر سرليک لاندې اثر کې په ډېره لنډه توګه نوموړې موضوع څېړلې چې د اثر ټولې پاڼې يې (۵۶) کېږي، محمد حکيم تنيوال (د پښتو شعر سبکونه، ۱۳۸۲ل) تر سرليک لاندې اثر کې نوموړې موضوع څېړلې چې د روهي څرګندونې يې را اخيستي او نوره موضوع يې د سبک پر ځای د شاعرانو په لنډه تذکره پای ته رسولې ده، اجمل ښکلي په خپل (سبکپوهنه، ۱۳۹۰ل) اثر کې د موضوع اړوند لارښوونې راوړې او د پښتو منظوم ادب په اړه پراخه عملي څېړنه پکې نه تر سترګو کېږي، د پوهنوال رفيق رفيق ( په افغانستان کې د پښتو معاصر شعر سبکونه، ۱۳۹۱ل) اثر کې يوازې د معاصرې دورې اړوند په خپله لمنه کې د سبک تر سرليک لاندې يو څه لري او له مخکينيو دورو سره څه پرتليز څرک پکې نشته چې د پښتو منظوم ادب د ودې بهير پکې راوړل شوی وي، همدا رنګه پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار (د پښتوسبکپوهنه، ۱۳۹۶ل) تر سرليک لاندې اثر خپور کړ چې د سبک په اړه ډېرې کمې لارښوونې لري او هغه هم ډېرې ژبنۍ سبک په خپل بر کې نيسي.

زما د دېزرتېشن موضوع د پورتنيو آثارو په پرتله ډېره پراخه ده، د پښتو ادب په ټولو دورو کې د نظم پر سبکي ځانګړنو د دلايلو په رڼا کې څېړنه شوې ده، په نوموړې دېزرتېشن کې د پښتو ادب نظم په فردي او دوره يې بڼه څېړل شوی دی او بيا د دويمې دورې د بېلابېلو سبکونو سرلارې او پليونې د ادبي ښوونځي تر نامه لاندې د شواهدو په رڼا کې ټاکل شوي دي چې په دغه ډول څېړنه په پښتو ادب کې لا تر اوسه چا نه ده تر سره کړې.

(د پښتو منظوم ادبي سبک څېړنه) کې لومړی د سبک پر تیوری پراخه رنا اچول شوې ده چې د دغې لارې د لاروي ښه لاسنیونه کولی شي، زه د خپلې څېړنې په تړاو ډېر څه نه وایم خو دومره ویلای شم چې د سیمې د ژبو د ادب په پرتله به ټولنې او پښتو ځانګوالو او لوستوالو ته ښه ترا څواب ویونکی وي.

## پایلنیونه

د پښتو منظوم ادب په لومړی ادبي دوره کې ځانګړي سبکونه نشته، بلکې په ټوله کې د دغې دورې سبکي توکي په نښه کولای شو. په پښتو دویمه ادبی دوره کې ځانګړی سبکونه را منځته شوي چې بیا په ادبي ښوونځیو اوښتي دي. د پښتو ادب په دریمه دوره کې بیا دغه سبکونه په درو پړاوونو (روښانتیا، ویښتیا او اوښتون) کې په ډله اییز او ځانګړي ډول را مخ ته کېږي چې د روسي ښکېلاک د دفاع، د روسي ښکېلاک پر ضد او سوله‌ییز سبکونه یې را منځته کړی دي.

## وړاندیزونه

۱. ما کوښښ وکړ چې د پښتنو شاعرانو د سبک او مکتب تر منځ د ښه توپیر لپاره ډېری بیتونه راوړم خو انسان کمزوری دی، هیله ده بل لیکوال یې د ډېرو بېلګو په راوړلو ښه وڅېړي.

۲. دا چې زما د ډېزرتېشن موضوع ډېره اوږدېده او وخت کم و، هیله مې ده چې د کوزې پښتونخوا د معاصرې دورې شاعرانو سبک ښه وڅېړل شي.

۳. دا چې د ځینو شاعرانو دیوانونه زموږ په لاس کې نه وو او یا هم چاپ شوي نه وو نو په راتلونکي کې به یې څوان څېړونکي پر سبکي توکو څېړنه وکړي.

# ماخذونه

القران الكريم . (۱۳۹۷ل) . القران الكريم و ترجمة معانيه الى لغتة البشتو ( الجزء الاول) . كابل: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت.

القران الكريم . (۱۳۹۷ل) . القران الكريم و ترجمة معانيه الى لغتة البشتو ( الجزء الثانى) . كابل: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت.

آبرون، قسيم حسن. (۱۳۸۳ل). گل د اسوېلو. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

اپريدی، قلندر. (۱۳۵٦ل). دقلندرديوان. كابل: پښتو ټولنه.

احمد شاه بابا . (۱۳۸۸ل). . احمد شاه بابا ديوان . كويټه: صحاف نشراتي موسسه.

اخون درويزه. (۱۹۸۷ز). مخزن. دويم چاپ. پېښور: پښتو اکېډيمي پېښ‌ر يونيورسټي.

اخون ميا داد. (۲۰۱۱ز). د اخون ميا داد ديوان. لاهور: اداره نشرالمعارف مختار احمد خان سواتی.

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۹ل). ورکه لاره. ننگرهار: کرښه اوونيزه.

اغېز، عبيدالله. (۱۳۹۳ل). کاروان او چنار. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

الپوري، حافظ معظم. (۱۹۹۸ز). ديوان حافظ الپوري. پېښور: اسلامي کتب خانه قصه خواني.

الفت، گل پاچا . (۱۳۸۷ل). . د استاد الفت نثري کليات . کابل: يون کولتوري ټولنه.

الفت، گل پاچا. (۱۳۷۵ل). د الفت مرغلرې. پېښور: دانش خبرندويه ټولنه.

الهام، محمد اغا. (۱۳۹۷ل). ادبي سبک پوهنه ( د مقالو ټولگه). ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

انځور، محمد زرين. (۱۳۹۴ل). پر معاصره پښتو شاعرۍ يادښتونه. جلال اباد: مومند خبرنديه ټولنه.

اند، اجمل، (۱۳۸۵ل) . هېنداري او چينې . پېښور: دانش خپرنديه ټولنه.

انصاري، ميرزا خان. (۱۳۵۴ل). د ميرزاخان انصاري ديوان. کابل: پښتوټولنه.

اياز، محمود . (۲۰۰٦ز) . پښتو (پرون، نن او سبا) . ټل: پښتو ادبي چمن.

باجوړی، بريالی. (۱۳۹۷ل). د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ د ويښتيا پړاو. کابل: جهان دانش خپرنديه ټولنه.

بارکزی، حاجي جمعه. (۱۳٦۰ل). د حاجي جمعه بارکزي دېوان. کابل : دافغانستان علومواکاډمي.

بارکزی، ميرزا حنان. (۱۳۸۸ل). د ميرزا حنان بارکزي ديوان. کويټه : صحاف نشراتي موسسه.

بدر، صديق الله. (۱۳۸۹ل). د لونگو دريځې ( ادبي بحثونه ). ننگرهار: د ختيزې سيمې ليکوالو او شاعرانو خپلواکه ټولنه.

برزين مهر،عبدالغني. (۱۳۸۲ل). کليات مسايل ادبي. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

بنگش، کريمداد. (۱۹٦۴ز). ديوان کريمداد. پېښور: پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي.

بهار، تقي. (۱۳۸۲ل). سبک شناسي بهار لومړی جلد ( نهم چاپ ). تهران: اميرکبير.

بهار، تقي. (۱۳۸۹ل). سبک شناسي بهار دربيم جلد ( لسم چاپ ). تهران: اميرکبير.

بهار، تقي. (۱۳۸۹ل). سبک شناسي بهار دويم جلد ( لسم چاپ ). تهران: اميرکبير.

بهاند، لطیف. (۱۳۶۴ل). د هجري منتخبات. کابل: د قومونو او قبایلو ریاست، د نشراتو او تبلیغاتو ریاست.
بېدل. (۱۹۵۷ع). دیوان بېدل. پېښور:شاهین برنی پرېس.
بېگ، مرزا خلیل احمد. (۲۰۰۴ز). تنقید اور اسلوبیاتي تنقد. علي ګهړ:علي ګهړیونیورستي.
بېنوا، عبدالرووف . (۱۳۹۷ل). نابغه خوشحال ( د بېلابېلو لیکوالو د مقالو ټولګه). کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
بېنوا، عبدالروف. (۱۳۴۰ل). اوسني لیکوال (لومړی ټوک). کابل: د مطبوعاتو مستقل ریاست د کورنیو خپرونو لوی مدیریت د جوایزو او کتاب چاپولو څانګه.
بېنوا، عبدالروف. (۱۳۹۳ل). د بېنوا شعري کلیات. کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
پرهر،بشیر احمد. (۱۳۸۵ل). ستا دمخ په آیینه کې. ننګرهار: د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالستانو خپلواکه ټولنه.
پسرلی، محمد صدیق. (۱۳۸۰ل). د وربښمو ګېډۍ. پېښور: افغان ادبي بهیر.
پسرلی، محمد صدیق. (۱۳۹۰ل). غزل بڼ. وردګ: د میدان وردګو ولایت.
پښتو ټولنه. (۱۳۴۵ل). ننګیالی پښتون. کابل: پښتو ټولنه.
تری، حبیب الله . (۱۳۹۷ل). نابغه خوشحال ( د بېلابېلو لیکوالو د مقالو ټولګه). کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
تنویر، محمد حلیم. (۱۳۸۰ل). د افغانستان تاریخ او خپرونې. ژباړن(محمد زبیر شفیقي او فدا محمد فایض). هالند: د افغانسان د څېړنو او بیا ودانولو انسیتیت.
توخي، خدایداد جدید. (۲۰۱۵ز). د جدید توخي دیوان. کوټه: پښتو اکېډمي بلوچستان.
ټکور، افضل. (۱۳۹۲ل). زما شعرونه یتیمان دي. لندن: د افغان لیکوالو فرهنګي ټولنه.
حبیب الله. (۱۳۶۰ل). د حبیب الله دیوان. کابل: د افغانستا د علو مو اکادیمي، د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز، پښتو ټولنه.
حبیبي. عبدالحی. (۱۳۸۴ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لمړی او دویم ټوک ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
حبیبي، عبدالحی او ملګري یې. (۱۳۹۱ل). پښتانه شعرا. (لومړی ټوک) . کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
حبیبي، عبدالحی. (۱۳۹۳ل). د حبیبي شعری کلیات. کندهار: علامه رشاد خبرندویه ټولنه.
حبیبی، عبدالحی . (۱۳۸۷ل) . د پښتو ادب لنډ تاریخ . کندهار: علامه رشاد خپرندویه ټولنه.
حسرت، زبیر. (۲۰۱۳ز). د رحمان بابا فکري مکتب. چارسده: د پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون.
حنیفي، ملا اسدالله. (۱۳۷۱ل). د ملا اسدالله حنیفي دیوان. پېښور: جمعیت طلبه حرکت انقلاب اسلامي افغانستان.
خادم، قیام الدین. (۱۳۹۱ل). خادم باد سبا یم ( د استاد قیام الدین خادم منظوم کلیات). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
خټک، افضل . (۲۰۰۶ز) . تاریخ مرصع . پېښور: یونیورسیټي بک ایجنسي.

خټک، اقبال نسیم. ( ۲۰۰۰ز ). دردانې. دویم چاپ. پېښور: حرم پرنټرز.

خټک، اقبال نسیم. (۱۹۹۱ز). رنګ او بو قافله. پېښور: اداره علم و ادب پاکستان صوبه سرحد پېښور.

خټک، پرېشان . (۱۳۹۷ل). نابغه خوشحال ( د بېلابېلو لیکوالو د مقالو ټولګه). کابل: د افغانستان علومو اکاډمۍ او د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

خټک، خوشحال خان . (۱۳۹۴ل). . دستار نامه . ننګرهار: میهن خپرندویه ټولنه.

خټک، خوشحال خان خټک. (۱۳۹۷ل). دستارنامه. کابل: د افغانستان علوموا‌کاډمي او کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی.

خټک، خوشحال خان س . (۱۳۵۸ل). سوات نامه. کابل: د افغانستان د علومو اکاډیمي د ژبو او ادبیاتوانستیتوت.

خټک، خوشحال خان ک . (۱۳۵۸ ل). د خوشحال خان خټک کلیات (لومړی جلد). کابل : افغانستان علومو اکاډمی.

خټک، خوشحال خان. ( چاپ کال نشته ). دیوان خوشحال خان خټک ( دویمه حصه ). پېښور : پښتو اکیډیمي پېښور یونېورسټي.

خټک، خوشحال خان. (۱۳۴۵ل). دستارنامه. کابل: پښتو ټولنه.

خټک، خوشحال خان. (۱۳۶۲ ل). بازنامه. کابل پښتو ټولنه.

خټک، خوشحال خان. (۱۳۸۴ل). د خوشال خان خټک کلیات. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

خټک، خوشحال خان. (۱۳۹۷ل). د خوشحال خان خټک دیوان. کابل: د امان کتاب خپرونو موسسه.

خټک، خوشحال خان. (۱۹۶۰ز). کلیات خوشحال خان. پېښور: اداره اشاعت سرحد پیشاور.

خټک، خوشحال خان. (۱۹۸۳ز). فراق نامه. پېښور: قامي مکتبه پېښور.

خټک، خوشحال خان. (۱۹۸۵ز). طب نامه. پېښور: پښتواکیډیمي پېښ،ر ي،نیورسټي.

خټک، خوشحال خان. (۲۰۰۱ز). ارمغان خوشحال. دویم چاپ. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

خټک، راج ولي شاه. (۱۹۸۹ز). د پښتو ادبي تحریکونه. پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

خټک، سکندرخان. (۱۹۶۲ز ). دېوان سکندرخان خټک. دویم چاپ. پېښور: اداره اشاعت سرحد.

خټک، عبدالقادر خان. (۱۹۶۶ز). حدیقه خټک. دویم چاپ. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

خټک، عبدالقادر خان. (۱۹۸۹ز). ګلدسته. دویم چاب. پېښور: پښتو اکیډیمي، پېښور یونیورسټي. لومړی چاپ (۱۹۸۱ز).

خټک، عبدالقادرخان. (۱۳۶۸ ل). عبدالقادر خټک دیوان. کابل : افغانستان علومو اکیډمي.

خټک، عبدالقادر . (۲۰۰۲ز ) . د عبدالقادر خټک دیوان . پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسیټي.

خټک، کامګار. (۱۹۵۵ز). دیوان کامګار خټک. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.

خټک، معاذالدین. (۱۳۹۲ل). د معاذالدین خټک دېوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

خټك، كامګار. (۱۳۵۸ل). دكامګارخټك ديوان. كابل: دافغانستان دعلومو اكاډمي د ژبو او ادبياتو انستيټيوټ.
خدمتګار ، عبدالله بختانی. (۱۳٦۱ل). د الفت ياد( نظر الفت). كابل: د قومونو او قبايلو وزارت د نشراتو رياست.
خدمتګار، عبدالله بختانی . (۱۳۹۱ل) . پښتانه شعرا (پنځم ټوک) . کندهار: علامه رشاد خپرندیه ټولنه.
خدمتګار، عبدالله. (۱۳۴۲ل). راز (دويمه شعرى ټولګه). كابل: پښتو ټولنه.
خليل، خانګل. (۱۳٦۰ل). د خان ګل خليل څو شعرونه (دزيري كالنى). كابل: دافغانستان دعلومو اكاډيمي دژبو او ادبياتو علمي او تحقيقي مركز.
خليل، همېش. (۱۹۹۳ز). پښتانه ليكوال(لومړى ټوک). دريم چاپ. لكي مروت: پښتو ادبي مركز سراى نورنګ. لومړى چاپ(۱۹۵۸).
خوږيانی، عبدالروف قتيل. (۱۳۷۹ل). آرماني رازون. پېښور: حليمي پرنټينګ ايجنسي.
خويشكى، ارزاني. (۲۰۰۵ز). د ارزاني ديوان. پېښور: يونيورسټي بک ايجنسي.
درانی، درویش . (۲۰۱۸ز). . ستوري په لمن کې . کويټه: صحاف نشراتي موسسه.
درد، رحمت الله. ( ۲۰۱۳). د درد کليات. پېښور: د دانش خپرندويه ټولنې تخنيکي څانګه.
رشتين، صديق الله او ملګري يې. (۱۳۹۱ل). پښتانه شعرا. دويم چاپ. کندهار: علامه رشاد خپرندويه ټولنه.
رضا، افضل . ( ۱۹۸۴ز) . پټ ستوري . پېښور: پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسيټي.
رضا، افضل. (۱۹۷۸ز). د پښتو غزل. پېښور: پښتواكيډيمي پېښور يونيورسټي.
رفيع، حبيب الله. (۱۳۵۹هـ ش ). ادبي ستوري دويم ټوک. كابل : داطلاعاتو او كلتور وزارت.
رفيع، حبيب الله. (۱۳۷۰ل). آواره شيدا. پېښور: د امان كتاب خپرولو مؤسسه.
رفيع، حبيب الله. (۱۳۸۷ل). رحماني خم. ننګرهار: ختيزې سيمې ليكوالو او ژورنالستانو خپلواكه ټولنه.
رفيق، محمد رفيق. (۱۳۹۱ل). په افغانستان كې د پښتو معاصر شعر سبكونه. كابل: انګار د خپرولو موسسه.
روښان، بايزيد . ( ۱۹۸۸ز ). . خيرالبيان . دويم چاپ . پېښور : پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي . لومړى چاپ(۱۹٦۷ز).
روښان، بايزيد. (۱۳٦۴ل). د علم رساله. كابل: د افغانستان علومو اكاډيمی د ژبو او ادبياتو مركز پښتو ټولنه.
روښاني، واصل. (۱۳٦۵ل). د واصل روښاني ديوان. كابل: د افغانستان د علومو اكاډيمي د ژبو او ادبياتو مركز پښتو ټولنه.
روهي، محمد صديق. (۱۳٦٦ل). د عبدالحميد مومند ياد (آيا حميد د هندي سبک پيرو وو؟). كابل: د پښتو څېړنو بين المللي مركز.
روهي، محمد صديق. (۱۳۸۴ل). د پښتو ادبياتو تاريه دويم ټوک. پېښور: دانش خبرندويه ټولنه.
روهي، محمدصديق. (۱۳٦۰ل). ادبي څېړنې. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون.
زېور، زېورالدين. (۱۳۸٦ل). د پښتو ادبياتو منځنۍ دوره. پېښور: د ساپي د پښتو څېړنو او پراختيا مركز.
زېور، زيورالدين. (۱۳۸۷ل). دپښتو ادبياتو تاريخ اوسنۍ دوره. پېښور: دساپي دپښتوڅېړنو او پراختيا مركز.
زيار، مجاور احمد. (۱۳۹٦ل). پښتو سبک پوهنه. جلال اباد: هاشمي خپرندويه ټولنه.

سالک، غلام مصطفی. (۱۳۷۷ل). د طاووس بڼګه. پېښور: د ناهید کتاب خپرولو مؤسسه.
سعید، طارق. (۱۹۹۰ز). اسلوب اور اسلوبیات. دهلي: ایجوکېشنل پبلشنګ هاوس.
شاهین، سلما. (۲۰۰۳ز). جدید نظم په پښتو کې. پېښور: جدون پرنټنګ پرېس.
شجیعي، پوران. (۱۳۴۰ل). سبک شعر فارسي در ادوار مختلف (بخش نخست). تهران: شېراز پوهنتون.
شفیق، موسی. (۱۳۳۷ل). پیغام. کابل: کابل رادیو.
شمیسا، سیروس. (۱۳۸۰ل). کلیات سبک شناسي (شپږم چاپ). تهران: انتشارات فردوس.
شمیسا، سیروس. (۱۳۸۲خ). سبك شناسي شعر (چاپ نهم). تهران: انتشارات فردوس.
شمیسا، سیروس. (۱۳۸۳خ). انواع ادبي (چاپ دهم). تهران: انتشارات فردوس.
شمیسا، سیروس. (۱۳۸۳خ). بیان ومعاني (چاپ هفتم). تهران: انتشارات فردوس.
شمیسا، سیروس. (۱۳۸٦ل). سبک شناسي نثر (لسم چاپ). تهران: میترا.
شیدا، کاظم خان (۱۳۸۴ل). د کاظم خان شیدا دیوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
شیدا، کاظم خان. (۱۹۹۱ع). دیوان کاظم خان. سوبه سرحد: دپښتو ادبي مرکز سرای نورنګ بنو.
شینواری، امیرحمزه. (۱۳۹۲). امیر حمزه شینواري کلیات. پېښور: جدون پرنټینګ پریس.
شینواری، امیرحمزه. (۱۳۸۷). د حمزه کلیات. کابل: اطلاعات او فرهنګ وزارت.
شینواری، امیرحمزه. (۱۹۵٦ع).. غزونې. پېښور: ادارهٔ اشاعت سرحد پشاورپاکستان.
شینواری، حبیب الله زړه سواند. (۱۳۸٦ل). ګل شو پاڼې پاڼې. پېښور: د افغانستان د کلتوري خدمتونو اداره.
شینواری، دوست. (۱۳۹۷ل). نابغه خوشحال (د بېلابېلو لیکوالو د مقالو ټولګه). کابل: د افغانستان علومو اکاډمی او د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځی.
ښکلي، اجمل (۱۳۹۰ل). سبکپوهنه. کابل: دانش خپرندویه ټولنه.
صاحبزاده. محمدي، (۱۹۸۵ع). دمحمدي صاحبزاده دیوان. پېښور: سمال انډسټریز اسټیټ کوهاټ روډ.
صاحبزاده، حمیدالله. (۱۹۹۰ز). د مرجانو لاړ. پښین: صاحبزاده کتاب کور.
طایر، نواز. ۱۹۸٦ز). روهي ادب. پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
عابد، سید علي. (۲۰۱۱ز). اسلوب. لاهور: سنګ میل پبلکېشنز.
عبادیان، محمود. (۱۳۷۲ل). درآمدی بر سبک شناسي در ادبیات. دویم چاپ. تهران: موسسه انتشارات آوای نور.
عبدالرحمن بابا. (۱۹۸۷ز). دیوان عبدالرحمن بابا. دوي چاپ. پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي. لومړی چاپ (۱۹٦۳ز).
عبدالرحمن. (۱۳۸۴ل). د رحمان بابا کلیات. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
عثماني، منور. (۲۰۱۷ز). مطالعه اسلوب کي تقاضې. لاهور: سانجهـ.
علي خان. (۱۹۸۸ز). دېوان علي خان (دویم چاپ). پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

غبار، میر غلام محمد. (۱۳۹۳ل). افغانستان د تـاریخ پـه تګلـوري کـې. ژبـاړن ( بشـیر دودیـال ). پېښـور: میونـد خپرندیه ټولنه.
غني خان. (۲۰۰۵ ز). لټون. پېښور: یونیورسټي بک ایجنسي.
فاروقي، محمد غني . (۱۴۰۰ل) . الجواهرالنبویة (۳۱۹احادیث) . ننګرهار: باور خپرندویه ټولنه.
فتوحي، محمود. (۱۳۹۵ل). سبک شناسي( درېیم چاپ ). تهران: سخن.
فردونک، بیتر. (۱۳۸۹ل). مباني سبک شناسي. ( مترجم محمد غفاري ). تهران: نی خپرندویه ټولنه.
قانع، عیسی محمد عصت. (۱۳۶۲ل). د پلوشو ډالۍ. کویټه: شاعر.
قویم، عبدالقیوم. ( ۱۳۸۹ل ). شعر چیست؟. کابل : انتشارات سعید.
کاروان، پیر محمد. (۱۳۷٦ل). چنار خبرې کوي. پېښور: ناهید خبرندویه ټولنه.
کاروان، پیر محمد. (۱۳۷۷ل). له ماښامه تر ماښامه (دویم چاپ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
کاروان، پیر محمد. (۱۳۷۹ل). د ښاپېرۍ ورغوی. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
کاکا خېل، سید تسنیم الحق. (۱۹۸۷ز). روح ادب. ( دویم چاپ ). پېښور: پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.
کاکاخېل، سید بهادر شاه ظفر. (۲۰۱۲ز). پښتانه د تاریخ په رڼـاکې. نهـم ځـل چـاپ. پېښـور: یونیورسـټي بـک ایجنسي. لومړی چاپ(۱۹۶۴ز).
کاکړ، پیرمحمد پ . ( ۱۳۸۵ل ). پیر محمد کاکړ دیوان. کابل: پښتو ټولنه.
کـاکړ، شـمس الـدین. ( ۱۳۸۵ل ). د شـمس الـدین کـاکړ د اشـعارو دیـوان. کابـل: پښـتو ټولنـه. لـومړی چـاپ (۱۳۲۵ل).
کاوون ، صدیق توفاني. (۱۳٦٦ل). شګې او ګلونه (د شعرونو مجموعه). کابل: د ا. ج. د چاپ او خپرونې دولتي کمېټه.
کمین، برکت الله. ( ۱۳۷۷ل ). لار د اور په ځنګ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
ګوهر، ګوهر رحمان . (۱۳۷٦ل). . ډیوټ . پېښور: ناهید خپرندویه ټولنه.
لایق، سلیمان. (۱۳٦۳ل). ساحل. کابل: د قومونو او قبایلو وزارت.
لایق، سلیمان. (۱۳۸۵ل). د چونغر ترانې. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
لټاړ. (۱۳٦۷ل). د ملا لټاړ دیوان. کابل: علومو اکاډمی.
لوانی، دولت. (۱۳۹۱ل). د دولت لواني دیوان. ( دویم چاپ). پېښـور: دانـش خپرندویـه ټولنـه. لـومړی چـاپ. (۱۳۵۳ل).
لونګ، مختار. (۱۳۸۵ل). د اوښکو امېل. پېښور: افغان ادبي بهیر.
لېوال، عبدالغفور. (۱۳۷۷ل). ژړا اور او مینه. پېښور: ودان افغانستان فرهنګي ټولنه.
ماکو، سلیمان. (۱۳٦۱ل). تذکره الاولیا د پوهاند عبدالحي حبیبي په سریزه او نښلونو، کابل: دافغانسـتان د علومـو اکاډیمي.

مخلص، علي محمد. (چاپ کال نلري). د علي محمد مخلص دیوان. سمونه او څېړنه د ډاکټر پروېز مهجور خویشکي. پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي.
مغموم خټک، یار محمد. (۲۰۱۱ز). روښانیان او پښتو ادب. پېښور: پښتو اکیډیمی پېښور یونیورستي.
مقدم، محمد علوی و اشرفزاده، رضا. (۱۳۸٤ ل ). معانی و بیان. چاپ ششم. تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت).
مکېز، بلقیس. (۱۳۸۲ل). مجموعه شعر بلقیس مکېز. پېښور: مرکز تعاون افغانستان.
ملنګ جان، محمد امین. (۱۳۴۸ل). خوږې نغمې. کابل: پښتو ټولنه.
منتبار، عبداللطیف. (۱۳۷۸ل). اور او لمبې. پېښور: صبور لېزر کمپوزنګ سنتر.
موسی‌خېل، محمد یونس. (۱۳۵٦ل) . د یونس دیوان . کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا امریت.
مومند، عبدالحمید در. (۱۳۸۳ل). د عبدالحمید مومند دیوان ( درمرجان). بنو : د پښتو ادبي مرکز.
مومند، عبدالحمید. (۱۳۸۳ل). د عبدالحمید مومند کلیات. پېښور : دانش خپروندیه ټولنه.
مومند، عبدالحمید. (۱۳۸٦ل). د عبدالحمید مومند کلیات (دویم چاپ). پېښور : دانش خپروندیه ټولنه. لومړی چاپ (۱۳۸۳ل).
مومند، معزالله خان. (۱۳۹۱ل). دیوان معزالله خان مومند. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
ناصر، نصرالله. (۱۳۸٦ل). د نواب محبت خان برېښې یاد. کابل: دافغانستان د سیمه ییزو مطالعاتو مرکز.
ناګار، فضل ولي دا. (۱۳۸۹ل). د ناګار شاعري (دا هغه بالاحصار دی). دویم چاپ. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.
ناګار، فضل ولي س. (۱۳۸۹ل). د ناګار شاعري (سندریون). دویم چاپ. ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.
ناګار، فضل ولي ش. (۱۳۸۹ل). د ناګار شاعري (شملې هسکې غرونه غرونه). ننګرهار: ناګار خپرندویه ټولنه.
ناګار، فضل ولي. (۱۳۸۲ل). دا هغه بالاحصار دی. پېښور: احسان خپرندویه ټولنه.
نثار، نورالحبیب. (۱۳۷۷ل). ځانګې ځانګې ارغوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
نجیب. (۱۹۷۲ز). دیوان نجیب. پېښور: پښتو اکېډمي پېښور یونیورستي.
نعیم، میا محمد نعیم ګل. (۱۹٦٤ز ). دیوان میا نعیم. پېښور : پښتو اکېډمي پېښور د یونیورستي.
ننګیال، اسحاق. (۱۳۷۷ل). سیندونه هم مري (دویم چاپ). جرمني: د افغانستان د کولتوري ودې ټولنه.
نوشین، غلام حسین رضا نژاد. (۱۳٦۷ ل). اصول علم بلاغت در زبان فارسي. تهران : الزهرا.
وردګ، ګل اغا احمدي. (۱۳۸۷ل). د سولې ګډه مشاعره. کابل: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت.
هاشمي، سید محی الدین. (۱۳۹۳ل). د ادبپوهنې ځانګې. پېښور: میهن خبرندویه ټولنه.
هجري، اشراف خان. (۲۰۰۱ز). دیوان اشرف خان هجري. پېښور: پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي.
همکار، محمد ابراهیم . (۱۳۹۲ل) . په پښتو منظوم هندي سبک کې د مجاز ډولونه . ننګرهار: ختیځ خپرندویه ټولنه.

همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۱ل). بیان ادبي فنون (دویم چاپ ). ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۳ل). څانگه. ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.
همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۵ل). ادبي کره‌کتنه دویم چاپ. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
همکار، محمد ابراهیم. (۱۳۹۷ل). د بدیع فن او پښتو شاعري (لسم چاپ). ننگرهار: همکار خپرندویه ټولنه.
هوتک، عبدالرحیم. (۱۳۹۱ل). د عبدالرحیم هوتک دیوان. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
هوتک، محمد. (۱۳۳۹ل). پټه خزانه. دویم چاپ. کابل: پوهنې وزارت.
هېواد مل ، زلمی. (۱۳۸۰ل ). ننگيالی د زمانې. جرمني : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.
هېوادمل، زلمی. (۱۳۶۱ل). د الفت یاد( دالفت ژوند لیک). کابل: د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو ریاست.
هیواد مل، زلمی. (۱۳۷۹ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دوره، لومړی ټوک ). پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.
یمین، محمد حسین . (۱۳۹۱ل) . سبک شناسي . کابل: انتشارات سعید.